تفسیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتو

تالیف

مفتي اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع

پښتو ترجمه کوونکی "ابوصدیق احمد" مولوی نصیر احمد حقانی

تصحیح او سمون: مولوی نصیر احمد حقاني او مولوی امین الله حقاني

مکتبہ حنفیہ
کاسی روڈ۔ کوئٹہ

Maktaba-Tul-Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

ددی کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفیۀ سره محفوظ دي

تفـــــسیر

معارف القرآن

په قندهاری پښتوکی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمة الله علیه

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیراحمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیراحمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

جلد پنځم پاره (۱۳) ..... (۱۴) ..... (۱۵)

خپرونکي

مکتبہ حنفیہ

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای .... لاهور

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	فهرست تفسیر معارف القرآن	مخ

مضمون	مخ
وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِي إِنَّ النَّفْسَ الخ (۵۳) تا (۵۷)	۶
خپله پاکی بیانول ښه نه دی مګر په خاصو حالاتو کی	۷
د انسانی نفس درې حالتونه	۸
د حکومت یو منصب په خپله غوښتل جائز نه دی مګر د څو شرطونو سره اجازت دی	۱۱
د حضرت یوسف ﷺ دعهدی طلب پرخاص حکمت باندی مبنی وو	۱۲
ایا د یو کافر حکومت عهده قبلول جائز دی	۱۲
وَجَاء اخوة یوسف الخ (۵۸) تا (۶۲)	۱۴
ملومات او مسئلی	۱۶
دحضرت یوسف ﷺ دخپلو حالاتو څخه پلارته اطلاع نه ورکول دخدای په حکم وو	۱۹
فَلَمارَجَعُوٓا الی ابیهم الخ (۶۳) تا ۶۶	۲۰
معلومات او مسئلی	۲۲
داولاد څخه چی ګناه او خطا وسی نو دتعلق قطع کولو پر ځای د دوی د اصلاح فکر کول په کار دی	۲۳
وَقَالَ یَا بَنِیَّ لَا تَدْخُلُوا مِنْ بَابٍ الخ (۶۷) تا (۶۹)	۲۵
دبد نظر اثر حق دی	۲۷
احکام او مسئلي	۲۹
فَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ الخ ۷۰ تا ۷۶	۳۰
معلومات او مسئلي	۳۲
قَالُوا إِنْ يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ الخ ۷۷ تا ۸۶	۳۶
احکام او مسئلي	۴۱
قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ الخ ۸۳ تا ۸۷	۴۲
دحضرت یعقوب ﷺ دیر محبت دحضرت یوسف ﷺ سره ولي وو؟	۴۵
احکام او مسئلي	۴۶
فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ قَالُوا الخ ۸۸ تا ۹۲	۴۷
احکام او مسئلي	۵۱
صبر او تقوی دهرمصیبت علاج دی	۵۲
اذْهَبُوا بِقَمِيصِي هَذَا الخ ۹۳ تا ۱۰۰	۵۲
احکام او مسئلي	۵۸

Maktaba Tul Ishaat.com

دحضرت یوسف علیه السلام دصبر اوشکرمقام	۶۰
رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ الخ ۱۰۱	۶۱
معلومات اومسئلې	۶۲
هدایتونه او احکام	۶۳
ذَلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ الخ ۱۰۲ تا ۱۰۹	۶۴
معلومات اومسئلې	۶۶
احکام او هدایتونه	۶۹
حَتَّى إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ الخ ۱۱۰ تا ۱۱۱	۷۰
معلومات اومسئلې	۷۲
(سورة الرعد)	۷۴
الـمر تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الخ ۱ تا ۴	۷۴
درسول احادیث هم دقرآن په شان وحی الهی دی	۷۶
آیادآسمان وجودپه سترګو سره په نظر باندې راځي ؟	۷۷
دهر شي تدبیر په حقیقت کې دالله ﷻ کار دی د انسان تدبیر تش په نامه دی	۷۸
وَإِنْ تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ الخ ۵ تا ۸	۸۰
معلومات اومسئلې	۸۲
دمرګ څخه وروسته دبیرته ژوندي کیدو ثبوت	۸۲
آیاپه هرقوم او هرملک کې نبی راتلل ضروري دی؟	۸۴
عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۹ تا ۱۵	۸۵
معلومات اومسئلې	۸۸
قُلْ مَنْ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ الخ ۱۶ تا ۱۷	۹۲
لِلَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمُ الخ ۱۸ تا ۲۴	۹۴
معلومات اومسئلې	۹۶
وَالَّذِينَ يَنْقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ الخ ۲۵ تا ۳۰	۹۹
احکام اوهدایتونه	۱۰۳
وَلَوْ أَنَّ قُرْآنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ الخ ۳۱ تا ۳۳	۱۰۵
معلومات اومسئلې	۱۰۸
لَهُمْ عَذَابٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا الخ ۳۴ تا ۳۷	۱۱۱
وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا الخ ۳۸ تا ۴۳	۱۱۳

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات او مسئلې	۱۱۶
(سورة ابراهیم)	۱۱۹
الٓر كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ الخ ۱ تا ۳	۱۱۹
معلومات او مسئلې: سورة او ددې مضامین	۱۲۰
هدایت صرف دخدای کار دی	۱۲۱
احکام او هدایتونه	۱۲۲
دقرآن کریم تلاوت هم مستقل مقصد دی	۱۲۲
دمطلب خلاصه	۱۲۴
دقرآن کریم په پوهه کې دځینو غلطیو نښاني	۱۲۴
احکام او مسئلې	
وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ الخ ۴	۱۲۴
معلومات او مسئلې	۱۲۵
قرآن کریم په عربي ژبه کې ولي دی	۱۲۶
دعربي ژبي خصوصیات	۱۲۷
وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ الخ ۵ تا ۸	۱۲۹
معلومات او مسئلې، یوه نکته	۱۳۱
ایام الله	۱۳۱
دشکر او ناشکرۍ نتیجې	۱۳۳
أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأُ الَّذِينَ الخ ۹ تا ۱۵	۱۳۴
مِن وَرَائِهِ جَهَنَّمُ الخ ۱۶ تا ۱۷	۱۳۸
مَّثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ ۱۸ تا ۲۲	۱۳۸
وَأُدْخِلَ الَّذِينَ آمَنُوا الخ ۲۳	۱۴۲
أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ الخ ۲۴ تا ۲۵	۱۴۲
وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ الخ ۲۶ تا ۲۹	۱۴۳
معلومات او مسئلې	۱۴۴
دکفارو مثال	۱۴۶
دایمان خاص اثر	۱۴۶
دقبر عذاب او ثواب دقرآن او حدیث څخه ثابت دی	۱۴۶
احکام او هدایتونه	۱۴۸

Maktaba Tul Ishaat.com

وَجَعَلُوا لِلّٰهِ اَنْدَادًا لِّيُضِلُّوا الخ ۳۰ تا ۳۴	۱۴۸
معلومات اومسئلې	۱۵۰
تفسير او تشريح	۱۵۰
احكام اوهدايتونه	۱۵۱
وَاِذْ قَالَ اِبْرَاهِيْمُ رَبِّ اجْعَلْ الخ ۳۵ تا ۴۱	۱۵۴
معلومات اومسئلې	۱۵۶
احكام او هدايتونه	۱۵۷
د ابراهيمي دعا رازونه او حكمتونه	۱۵۹
د ، اَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ ، تشريح	۱۶۱
د ، وَارْزُقْهُمْ مِّنَ الثَّمَرٰتِ ، تشريح	۱۶۱
احكام او هدايتونه	۱۶۳
وَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلًا الخ ۴۲ تا ۵۲	۱۶۳
معلومات اومسئلې	۱۶۶

دیارلسمه پاره ختمه سوه

تفسیر معارف القرآن د نصیر احمد احمدی نحوا سکین او

pdf سو. دوعاپه هیله احمدی اواتسلپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ

او زه پاك نه وايم خپل نفس ته بيشكه نفس خو امر كوي په بدى سره مگر په چا چي رحم وكړي

رَبِّيٓۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝٥٣ وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ ٱئۡتُونِي بِهِۦٓ أَسۡتَخۡلِصۡهُ

زمارب ، بيشكه زمارب بخښنى والادى مهربان ، او وويل باچا راولى دى ماته چي زه وساتم دى خالص

لِنَفۡسِيۖ فَلَمَّا كَلَّمَهُۥ قَالَ إِنَّكَ ٱلۡيَوۡمَ لَدَيۡنَا مَكِينٌ أَمِينٞ ۝٥٤ قَالَ

دخپل كار دپاره ، بيا چي كله يي خبرى وكړى دده سره وې ويل بيشكه تا نن ځاى بيا پيدا كى زما سره معتبر يوسف

ٱجۡعَلۡنِي عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلۡأَرۡضِۖ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٞ ۝٥٥ وَكَذَٰلِكَ

وويل ما مقرر كړه په خزانو دملك باندى ، زه حفاظت كوونكى يم ښه پوهه ، اودارنگه

مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَتَبَوَّأُ مِنۡهَا حَيۡثُ يَشَآءُۚ نُصِيبُ

قدرت وركى مونږ يوسف ته په مځكه كى ځاى به يي نيولو په دى كى كوم ځاى چي به يي غوښتى رسوو

بِرَحۡمَتِنَا مَن نَّشَآءُۖ وَلَا نُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ۝٥٦ وَلَأَجۡرُ

مونږ رحمت خپل چاته چي وغواړو اونه ضائع كوو مونږ بدله دنكى كوونكو ، اوثواب

ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ۝٥٧

دآخرت چي دى غوره دى هغو ته كوم چي ايمان راوړى اوكوى پرهيزگارى.

لنډتفسير: او زه خپل ځان ته (هم بالذات) برى (او پاك) نه وايم (ځكه چه) نفس خود (هرچا) بده خبره ښيي بغير دهغه (نفس) ځخه چي پرچازمارب رحم وكي (او دبدى ماده په كى كښيږدى لكه دانبياء ﷺ نفسونه چي وي مطئنه چي دحضرت يوسف ﷺ نفس هم په كى دا خل دى لنډ مطلب دا سو چي زما په پاكى او عصمت زما دنفس ذاتى كمال نه دى بلكه دالله ﷻ دعنايت او رحمت اثر دى ، په دى وجه زمانفس دبدى حكم نه كوى ورنه لكه ځنگه چي دنورونفسونه دى دغسى به زما دا هم واى) بيشكه زمارب لوى مغفرت والالوى رحمت والادى (يعنى لوړ چي كوم دنفس دوه قسمونه معلوم سول اماره اومطمئنه ځخه وروسته اماره كه توبه وكى نو دده مغفرت كيداى سى او په مرتبه دتوبه كى ده ته لوامه وايى اوكوم چي مطمئنه

دی کمال دده د ذات سره لازم نه دی بلکه دعنایت او رحمت اثر دی وروسته اماره چې لوامه سي په ده کی دصفت دغفور ظهور کيږي او په مطمئنه کی دصفت درحيم.

دا ټول مضمون سو دحضرت يوسف ؑ دتقرير باقي دا کار چی دپاکی ثابتول خو د آزادی ښخه وروسته هم ممکن وو، بيايي په ازادی د اولی مخکی کړه ؟ ددی وجه دا کيدای سي چې څومره يقين په دی ترتيب کی کيدای سي ددی په خلاف کی نه سی کيدای ، ځکه چی دليلونه ددلالت خو مشترک دی ليکن په دی منتخب سوی صورت کی دا کار زيات دی چی باچا او عزيز په دی پو هيدای سي چی کله بغير دبری کيدو ښخه دی آزادی نه غواړی ، حال دا دی چې په داسي حالت کی دقيدی د ازادی خواهش زيات وی ، نو معلوميږي چی دده په خپله پاکی او بری کيدو کامل يقين دی ، په دی وجه ددی دثابتيدو پوره اطمينان دی او ظاهره ده چی داسی کامل يقين دبری کيدای سی، نه چی دملوث، دا ټولی خبری باچا واوريدی) او (چی دا يی وا وريدل نو دی) باچاوويل چی دی ماته را ولئ زه دی خاص دخپل (کارد) پاره ساتم (اودعزيز ښخه به دی واخلم چی دهغه ماتحت به نه وی ، نو خلقو دی باچاته را وستی) نوباچا (ده ته) وروسته هرکله چی باچادده سره خبری وکړي (اوپه خبرو کی ورته دده زيات فضل اوکمال ښکاره سو) نوباچا(ده ته) ووېل چی ته زماپه نزد دنن (ښخه) لوی معزز اومعتبر سوی (ددی ښخه وروسته ددغه خوب ذکر راغی او باچاوويل چی دومره لوی قحطي انتظام کول خو ډير ګران کار دی ، دا انتظام بايدچاته وسپارل سي) يوسف ؑ وفرمايل چی ماد ملک پرخزانو ماموره کړه زه (د دوی) حفاظت (هم) کولای سم او (د امد او خرچ انتظام او ددی دحساب اوکتاب په طريقو هم) ښه پوه يم (چنانچه پرځای ددی چی ده ته يی يوخاص منصب ورکړی وی ، په مثل خپل يی پوره اختيارات هرقسم ورکړل ګوياپه حقيقت کی باچادی سو، که څه هم چی برای نام هغه باچا وو او دی دعزيز په عهدی سره مشهور سو هم دارنګع ارشاد دی) اومونږ په داسی (عجيبه) طور سره يوسف ؑ په ملک (مصر) کی با اختيار جوړکی چی په دی کی کوم ځای غواړی اوسی (لکه چې باچايانو ته آزادی وی ، ياهغه وخت وو چی په ځاه کی قيد وو بيا دعزيز په ماتحتی کی قيد وو او ورته نن دا خود مختاری او ازادی ورکړل سوه خبره دا ده چی) مونږ چی پرچا غواړو خپل عنايت ورته متوجه کړو اومونږ دنيکی کوونکو اجرنه ضائع کوو (يعنی په دنيا کی هم دنيکی اجر(ثواب) رسيږي چی پاک ژوند ورته ورکړل سي برابره خبره ده که مالدار جوړ سی ، لکه دحضرت يوسف ؑ دپاره وو او برابره خبره ده که بغير دمالداری ښخه قناعت او رضا ورته ورکړل سي چی ژوند يی په خوند ورسي ، دا خو نن په دنيا کی سو) او د اخرت اجر ډير زيات دی د ايماندارو او متقيانو دپاره.

(معلومات او مسئلي)

(خپله پاکي بيانول ښه نه دی مګر په خاصو حالاتو کي)

ددي ښخه په مخکی آيت کی دحضرت يوسف ؑ دا قول ذکر وو چی کوم الزام پر ما عائد سوی وو ددی دصفايی اومکمل تحقيق ښخه مخکی زه دقيدښخه ازادی ځکه نه خوښوم چی دعزيز اوباچا دمصرته پوره يقين راسي چی ما څه خيانت نه دی کړی ، بلکه الزام سرا سر دروا غ وو په دی کی دخپل بری او

Maktaba Tul Ishaat.com

پاکۍ ذکر چونکه په یو ناچاره ضرورت سره کیدی ، کوم چی په ظاهره دخپل ځان د پاکولو بیان او اظهار دی او دا دالله ﷻ په نزد ناخوښه دی لکه چی په قرآن کریم کی ارشاد دی ، اَلَمْ تَرَاِلَی الَّذِیْنَ یُزَکُّوْنَ اَنْفُسَهُمْ بَلِ اللّٰهُ یُزَکِّیْ مَنْ یَّشَاءُ : یعنی ایاته نه گوری هغو خلقوته کوم چی خپل ځان ته پاکیزه وایی بلکه دالله ﷻ حق دی چی هغه چا ته غواړی پاک یی گرځوی.

اوپه سورت نجم کی هم ددی مضمون یو آیت دی ، فَلَاتُزَکُّوْا اَنْفُسَکُمْ هُوَاَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰی: یعنی تاسو دخپلوځانونو دپاکو الی دعوه مه کوی الله ﷻ ښه پیژنی چی څوک په واقعه کی پرهیز کوی اومتقی دی.

په دی وجه په ذکر سوی آیت کی حضرت یوسف علیه السلام دخپل بری کیدو د اظهار سره ددی حقیقت هم اظهار وکی چی زما دا وینا دخپلی تقوا او پاکبازی ثابتول نه دی ، بلکه حقیقت دا دی چی دهر انسان نفس دکوم خمیر چی دخلورو عنصرو اور، اوبو، خاورو او هوا څخه جوړ دی ، دغه په خپل فطرت سره هرسړی دبدو کارونو طرف ته مائله کوی ، بغیر دهغه څخه پرچاچه زمارب خپل رحمت وفرمایی او دده نفس دبدو تقاضاوو څخه پاک کړی ، لکه چی د انبیا علیهم السلام نفسونه وی او داسی نفسونو ته په قرآن کی نفس مطمئنه وایی، لنډه دا چه د داسی لوی آزمائش په وخت کی زما دگناه څخه ساتل کیدل دا څه زما ذاتی کمال نه وو بلکه دالله درحمت او دستگیری نتیجه وه که هغه زمادنفس څخه رذیل خواهشونه نه وای ایستلی نو زه به هم داسی وم لکه عام انسان چی وی چی دنفسانی خواهشاتو څخه مغلوبه کیږي ، په ځینو روایتونو کی دی چی حضرت یوسف علیه السلام دا جمله ځکه وفرمایله چی یوقسم خیال خو ده په زړه کی هم په هرحال پیدا سوی وو که څه هم دغه دغیر اختیاری وسوسو ترحده پوری وو مگر دنبوت دشان په مخکې د غه هم یولغزش اوبرائی وه په دی وجه ددی اظهاریی وفرمایی چی زه هم خپل نفس بالکل بری اوپاک نه گڼم

(د انساني نفس دري حالتونه)

په دي آیت کي دا مسئله غور طلب ده چی په دی کی هرنفس انسانی ته (اَمَّارَةٌ بِالسُّوْءِ) یعنی دبدو کارونو حکم کوونکی فرمایلی دی لکه په یوحدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ دصحابه کرامو رضی الله عنهم څخه یوه پوښتنه وکړه چی د داسی ملگری په باره کی تاسو وایاست چی دهغه حال دا وی چی که تاسو دده عزت او اکرام کوی خوراک ورکوی جامی ورته اغوندوی ، نو دی تاسی په بلا اومصیبت کی غورځوی ، اوکه ستاسی دده بی عزتی کوی اوږی اولغږ یې ساتی نو تاسو سره صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکی چی یارسول الله دده څخه زیات بېکاره خو په دنیا کې یوملگری هم نه سی کیدای نوحضور ﷺ وفرمایل چی قسم دی په هغه پاک ذات دچاپه قبضه کی چی زماروح دی چی ستاسو نفس کوم چی ستاسو په خوا کی دی هغه دغسی ملگری دی (قرطبی)

اوپه یوحدیث کي دی چی ستاسو دټولو څخه لوی دښمن په خپله ستاسو نفس دی کوم چی تاسی په بدو کارونو کی اخته کوی ذلیل او خوار مو گرځوی او په قسم قسم مصیبتونو کی مو هم گرفتار وی.

په هر حال د ذکر سوی آیت او د حدیثونو ددی روایتونو څخه معلومه شوه چی د انسان نفس دبدو

Maktaba Tul Ishaat.com

کارونو تقاضا کوی لیکن په سورة قیامه کې دی نفس انسانی ته لوامه ویلی دی ، ده ته یې دا اعزاز ورکړی دی چې رب العزت په ده قسم خوړلی دی لاَ اُقْسِمُ بِیَوْمِ الْقِیَامَةِ وَلاَ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ : او په سورة الفجر کې یې دی نفس انسانی ته دنفس مطمئنه لقب ورکړی دی او دجنت خوشخبری یې ورکړې ده ، یَاَیَّتُهَاالنَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّه ارْجِعِي اِلَى رَبِّکِ : دغه ډول نفس انسانی ته یوځای ، اَمَّارَةُ بِالسُّوْء ، ویل سوي دی ، بل ځای ، لَوَّامَه او دریم ځای ، مُطْمَئِنَّه .

وضاحت ددی دا دی چې هرنفس انسانی په خپل ذات کې خو ، اَمَّارَةُ بِالسُّوْء، دی، یعنی د بدوکارونو خواهش کوونکی لیکن هرکله چې انسان د خدای او د ورځې د آخرت د بیری څخه دده تقاضی پوره نه کې نو دده نفس ، لَوَّامَه ، جوړشي ، یعنی پر بدو کارونو ملامتی کوونکی او ددی څخه توبه کوونکی ، لکه د عامو صالحانو د امت نفسونه چې دی اوکله چې یو انسان دخپل نفس خلاف مجاهده کوی اوخپل نفس دی حالت ته ورسوی چې دبدو کارونو تقاضا په کی پاته نه سی نو دغه نفس مطمئنه سی ، دامّت صالحانو ته دا حال په مجاهده او ریاضت سره حاصلیدای سی ، او بیاهم پر دی حالت همیشه پاته کیدل یقینی نه وي ، او انبیاء علیهم السلام ته په خدایی بخشش سره خود بخوده داسی نفس مطمئنه بغیر دځه تیری مجاهدی څخه نصیب کیږي او دوی همیشه پر دی حالت باندی یی وی دغه ډول دنفس د درو حالتونو په اعتبار سره دری قسمه کارونه دده طرف ته منسوب سوی دی .

اِنَّ رَبِّی غَفُوْرٌ رَّحِیْم : دآیت په اخر کی فرمایی چې زمارب لوی مغفرت کوونکی اورحمت کوونکی دی په لفظ دغفورکی دی طرف ته اشاره ده چی نفس ، اَمَّارَةُ بِالسُّوْء، کله چی پرخپله خطاء پښیمانه سی توبه وکی اونفس لوامه جوړ سي نو دالله ﷻ مغفرت لوی دی هغه یی معاف کوی اوپه لفظ درحیم کی دی طرف ته اشاره ده چی کوم سړی ته نفس مطمئنه نصیب سي دا هم دالله ﷻ د رحمت نتیجه ده .

وَقَالَ الْمَلِکُ ائْتُوْنِی : یعنی دمصر باچاچی هرکله دحضرت یوسف ؈ دفرمایلومطابق دښځوڅخه دواقعی تحقیق وکی او زلیخا او نورو ټولو ښځو د واقع د حقیقت اقرار وکی نو باچا حکم وکی چه حضرت یوسف ؈ ماته راولئ چی زه دی خپل خاص مشیر جوړکړم دحکم مطابق حضرت یوسف ؈ دصلاحیتونو پوره اندازه ورته وسوه نو باچا وویل چی ته نن زما په نزد لوی عزت مند او معتمد یې .

امام بغوی رح نقل کړی دی چی کله دباچاقاصدپه جیل کی حضرت یوسف ؈ ته دوباره ورسیدی او دباچا دعوت یی ورته ورسوی نو حضرت یوسف ؈ دټولو بندیانو دپاره دعاوکړه او غسل یی وکی او نوی جامی یی واغوستی کله چی شاهی دربار ته ورسیدی نو دا دعایې وکړه ، حَسْبِیْ رَبِّیْ مِنْ دُنْیَایَ وَحَسْبِیْ رَبِّی مِنْ خَلْقِه عَزَّ جَارُهٗ وَجَلَّ ثَنَاؤُهٗ وَلاَ اِلٰهَ غَیْرُهٗ : یعنی زمادددنیا دپاره زما رب ماته کافی دی خوک چی دده په پناه کی راغی هغه بالکل محفوظ دی دهغه څخه ماسوا بل معبود نسته .

هرکله چی دربارته ورسیدی نو بیایی دالله ﷻ طرفته رجوع وکړه دغه ډول دعایی وکړه اوپه عربی ژبه کی یی سلام وکی ، السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته : اودباچادپاره یی دعا په عبرانی ژبه کی وکړه

Maktaba Tul Ishaat.com

باچاکه څه هم په ډیرو ژبو پوهیدی مګر دعبرانی او عربی ژبو څخه خبر نه وو حضرت یوسف ﷺ ورته وویل چی سلام خومی په عربی ژبه کی کړی دی اودعاپه عبرانی کی ، په دی روایت کی داهم دی چی باچادحضرت یوسف ﷺ سره په مختلفو ژبو خبری وکړی حضرت یوسف ﷺ ده ته هم په هغو ژبوکی جواب ورکی او دعربی او عبرانی دوې ژبی یی زیاتی ورته واورولی چی ددی څخه باچا خبر نه وو ، دی واقعی دباچا په زړه کی دحضرت یوسف ﷺ غیرعادی وقعت قائم کی ، بیادمصر باچاوویل چی زه غوارم چی ستاڅخه دخپل خوب تعبیر مخامخ واورم حضرت یوسف ﷺ اول دده دخوب داسی تفصیلات وښوول کوم چی تر اوسه پوری باچا هم چاته نه وه ذکر کړی بیایی تعبیر ورته وښووی.

دمصر باچا وویل چی زه دتعبیرڅخه زیات دی ته حیران یم چی دا تفصیلات تاته چاوښوول ددی څخه وروسته دمصر باچا مشوره طلب کړه چی اوس ماته څه کول په کار دی ، نوحضرت یوسف ﷺ مشوره ورکړه چی په اولنیو اووکلوکی په کوموکی چی به ښه بارانونه کیږي په دی کی تا ته د زیاتی غلی کولو انتظام کول په کار دی او چی ټولو خلقو ته هدایت وکړی چی په خپلو خپلو مځکو کی د زیاتو څخه زیاته کرونده وکړی او څومره غله چی حاصله سی ددی څخه پنځمه برخه دخان سره ذخیره کړی ، دغه ډول دمصر دخلقو سره به دقطحی د اوو کالو دپاره هم ذخیره جمع سي اوته به ددوی څخه بی فکره سي حکومت ته چی څومره قدرغله دسرکاری محصولاتو څخه یاسرکاری مځکو څخه حاصله سی دا دبهر دخلقو دپاره جمع کړی ، ځکه چی دا قحطی به تر لیری لیری پوری خپره سي دبهرخلق به دغه وخت ستاسو محتاجه وی دغه وخت به ته غله ورکوی دخدای مخلوق امداد به کوی او عادی قیمت به هم ورڅخه اخلی نو په سرکاری خزانه کی به دومره مال جمع سی کوم چی به ددی څخه مخکی کله هم نه وی جمع سوی باچاپه دی مشوره بی حده خوشحاله اومطمئن سو مګر وی ویل چی ددی عظیمی منصوبی انتظام به څنګه کیږي او څوک به یی کوی په دی باندی یی حضرت یوسف ﷺ وفرمایل ، اجْعَلْنِیْ عَلٰی خَزَآئِنِ الْاَرْضِ اِنِّیْ حَفِیْظٌ عَلِیْمٌ : یعنی دملک خزانی چی په دی کی دمځکی پیداوار هم شامل دی ته ماته وسپاره زه ددی حفاظت هم پوره کولای سم او دخرڅ دمقدار څخه پوره خبر یم (قرطبی ومظهری)

په دی دوو لفظونو کی حضرت یوسف ﷺ هغه ټول صفتونه جمع کړل کوم چی دیوې خزانی په وزیرکی په کار وی و ځکه چی اول ضرورت خو دخزانچی دپاره دا دی چی دی سرکاری مالونه ضائع نه کړی بلکه پوره حفاظت سره یې جمع کړی بیاپرغیرو مستحقو خلقو اوغلط قسم مصرفونوکی یی خرچ نه کړی او دویم ضرورت دمقدار څخه زیات خرڅ کوی ، لفظ د (حفیظ) د اولنی ضرورت دپاره پوره ضمانت دی اولفظ دعلیم د دویم ضرورت دپاره.

دمصر باچاکه څه هم دحضرت یوسف ﷺ دکمالاتو عاشق او دده ددیانت اوکامل عقل پوره معتقد سوی وو مګر فوراً یی د خزانی د وزارت منصب ته ونه سپاری بلکه تر یو کاله پوری یې دیو معزز میلمه په شان وساتی دکال څخه وروسته یی نه صرف دخزانی وزارت بلکه دحکومت ټول کارونه ده ته وسپارل شاید مقصد یی دا وو چی ترڅو پوری په کور کی په ساتلو سره دده دخویونو او عادتونو پوره تجربه

Maktaba Tul Ishaat.com

ونه سي دومرلوى منصب ده ته سپارل مناسب نه دى لكه سعدى شيرازى رحمة الله عليه فرمايي.

چو يوسف كسى در صلاح وتميز بيک سال بايد كه گردد عزيز

يعنى په شان دحضرت يوسف ﷺ په صلاح اوتميزكي په كار دى چي په يو كال كي عزيز جوړسي ځيني تفسير ليكونكي ليكي چي په دى زمانه كي د زليخا دخاوند قطفير انتقال وسو نو دمصر باچا دحضرت يوسف ﷺ سره ددى نكاح وكړه دغه وخت حضرت يوسف ﷺ دى ته وفرمايل چي ايا دا صورت ددى څخه غوره نه دى كوم چي تاغوښتى زليخا دقصور د اقرار سره خپل عذر بيان كى.

الله ﷻ په لوى عزت او شان سره ددى مراد پوره كى او په عيش او خوشحالي يي ژوند تيروى دتاريخي روايتونو مطابق دوه هلكان يي هم پيداسول چي ديو نوم افرائيم او دبل منشا وو په ځيني روايتونو كي دي چي الله ﷻ د واده څخه وروسته دحضرت يوسف ﷺ په زړه كي دزليخا محبت دهغه څخه زيات پيداكى څومره چي زليخادحضرت يوسف ﷺ سره وو ترډى پوري چي يو وخت حضرت يوسف ﷺ دى ته شكايت وكى چي ددى څه وجه ده چي ته زما سره اوس دومره محبت نه ساتي څومره چي دى مخكي وو زليخاعرض وكى چي ستاپه وسيله سره ماته دالله ﷻ محبت حاصل سو ددى په وړاندى نور ټول تعليقات اوخيالات ورک سول دا واقعه د ځينو تفصيلاتو سره په تفسير قرطبي او مظهري كي بيان سوي ده.

دحضرت يوسف ﷺ دقصى په ضمن كي چي دعاموانسانانودصلاح اوفلاح دپاره ډيرهدايتونه او تعليمات راغلى دى دهغو ذكر څه مخكي سوى دى په ذكر سوو آيتونوكي نوري مسئلي اوهدايتونه دا درج ذيل دى.

اوله مسئله: دحضرت يوسف ﷺ په قول، وَمَآ اُبَرِّئُ نَفۡسِيۡ: كي دنيكو او پرهيزگارو بندگانو دپاره دا هدايت دى چي كله دوى ته د يوې گناه څخه دخلاصيدو توفيق وركړل سي. نو په دى ناز نه كوى او ددي په مقابله كي گناهگاران سپک نه گڼي بلكه دحضرت يوسف ﷺ د ارشادمطابق دا خبره په زړه كي ځاى كړي چي دا زما څه ذاتي كمال نه دى بلكه دالله ﷻ فضل دى چي هغه نفس اماره پر مونږ غالب كيدو ته پري نه ښو وى كنه نو دهر انسان نفس دى په طبعي طور سره دبدو كارونو طرفه ته را كشوى.

(د حكومت يو منصب په خپله غوښتل جائز نه دى مگر د څو شرطونو سره جائز دى)

دويم مسئله: اجۡعَلۡنِيۡ عَلٰى خَزَآئِنِ الۡاَرۡضِ: څخه دا معلومه سوه چي ديوه سركارى عهدى يامنصب غوښتل په خاصو صورتونوكي جائزدى لكه حضرت يوسف ﷺ چي دمځكو دخزانو انتظام او ذمه واري طلب كړه،

مگر په دى كي دا تفصيل دى چي كله ديوې خاص عُهدى متعلق دا معلومه وى چي بل سړى به ددى ښه انتظام ونه كړل سي او دخپل ځان په باره كي يي دا اندازه وى چي دعُهدى كار به په ښه شان سره سرته ورسوى اوپه څه گناه كي دمبتلا كيدو بيره نه وى په داسي حالت كي دعهدى په خپله طلب هم جائز دى په دى شرط چي دجاه ومال محبت ددى سبب نه وى بلكه دالله ﷻ دمخلوق صحيح خدمت اوپه انصاف سره د دوى حقونه پيژندل مقصود وى، لكه دحضرت يوسف ﷺ په وړاندى صرف دا مقصد وو، اوكوم

Maktaba Tul Ishaat.com

ځای چې دا صورت نه وي نو په حدیث کې نبي کریم ﷺ دحکومت دڅه عهدي په خپله دطلب کولو څخه منع فرمایلې ده او چاچې به په خپله دڅه عُهدي درخواست وکې هغه ته یې عهده نه ده ورکړې.

دصحیح مسلم په یوحدیث کې دي چې نبي کریم ﷺ حضرت عبدالرحمٰن بن سمره رض ته وفرمایل چې هیڅکله دڅه امارت طلب مه کوه ځکه چې که ته په خپله سوال وکړې دامارت عهده حاصله هم کړې خو د الله تعالی تائید به درسره نه وي ، دکوم په ذریعه چې دلغزشونو او خطاګانو څخه محفوظ سې اوکه بغیر د درخواست اوطلب څخه ته څه عهده ملاو سوه نو دالله ﷻ دطرفه څخه تائید اومدد ستا سره وي چې ددي په وجه به ته ددي عهدي پوره حقونه ادا کړل سې.

دغه ډول دصحیح مسلم په یوبل حدیث کې دي چې یوسړي نبي کریم ﷺ ته دیوې عهدي درخواست وکې نو دوی صلی الله علیه وسلم وفرمایل ، ان لن نستعمل علی عملنا من اراده : یعنې مونږ خپله عهده یو داسې سړي ته نه ورکوو کوم چې په خپله ددي طلب وکړي.

(دحضرت یوسف ؑ دعُهدي طلب پرخاص حکمت باندي مبني وو)

مګر دحضرت یوسف ؑ معامله ددي څخه مختلفه ده ځکه چې هغه پوهیدی چه باچا دمصر کافر دی دده عمله هم داسې ده او پر ملک یو طوفاني قحط راتلونکی دی هغه وخت به خو دغرضه خلق دالله ﷻ پرعامو خلقو رحم نه کوي اوپه لکونو خلق به دلوږي څخه مړه کیږي بل داسې یو سړی موجود نه وو کوم چې دغریبانو په حقونو کې انصاف وکړي په دي وجه یې په خپله دعهدي درخواست وکې ددي دپاره چې باچا مطمئن سي او عهده ده ته وسپاري.

نن هم سه یو سړي داسې محسوسه کړي چې دحکومت څه عهده داسې ده چې دهغې دفرائضو په صحیح طور سره د ادا کولو دپاره سړی موجود نه دی نو دده دپاره جائز بلکه واجب دي چې ددي عهدي په خپله درخواست وکړي مګر دخپل جاه اومال دپاره نه بلکه دخلقو دخدمت دپاره چې ددي تعلق د زړه دنیت او ارادي سره دی کوم چې الله ﷻ ښه په خبر دی (قرطبي)

دخلفاء راشدینو حضراتو دخلافت ذمه واري پورته کول په دي وجه سره وو چه دوی پوهیدل چې دا وخت بل څوک داذمه واري په صحیح طورسره نه سي پوره کولای دصحابه کرامو صلی الله علیه وسلم حضرت علي رض حضرت معاویه رض اوحضرت حسین رض اوحضرت عبدالله ابن زبیر رض وغیره چې کوم اختلافات مخ ته راغلي دي دغه ټول پردي مبني وه چې په دوی کې هر یوه دا خیال کوی چه دا وخت دخلافت فرائض زه دخپل مقابل څخه زیات په ښه ډول سره پوره کولای سم دجاه اومال طلب دهیچا اصلي مقصد نه وو.

(ایا دیو کافر حکومت عهده قبلول جائز دی)

دریمه مسئله : دا ده چې حضرت یوسف ؑ دمصر دباچاملازمت قبول کې حال دا دی چې دی کافر وو ددي څخه معلومه سوه چې دکافر یافاسق حکمران دحکومت عهده قبلول په خاصو حالاتو کې جائز دي. لیکن امام جصاص رحمه الله تر آیت کریمه ، فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ : لاندي لیکلي دي چې ددي آیت په وجه سره دظالمانو کافرانو اعانت کول جائز نه دي او ظاهره ده چې د دوی د حکومت عهده قبلول د دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

په عمل کی شریکیدل او اعانت کول دی او داسی اعانت کول دقرآن کریم په ډیرو آیتونو حرام ګرځول سوی دی ، حضرت یوسف ﷺ چه دا ملازمت نه صرف قبول وفرمایی بلکه درخواست یی وکی او په آیت کی ددی خاص وجه دتفسیر امام مجاهد دا ګرځولی ده چی دمصر باچا دغه وخت مسلمان سوی وو مګر چونکه په قرآن اوحدیث کی ددی څه دلیل نسته په دی وجه عام تفسیر لیکوونکی ددی وجه دا ګرځوی چی حضرت یوسف ﷺ دمصر دباچا دمعاملی څخه دامعلومه کړی وه چی دی به دده په کارکی دخل نه کوی او په یوخلاف شرع قانون جاری کولو به دی نه مجبوره کوی بلکه ده ته به مکمل اختیارات ورکړی چی ددی په ذریعه به دی په خپله رایه او حق قانون عمل کولای سی دداسی مکمل اختیار سره چی په یوخلاف شرع قانون باندی مجبور نه وی که څوک د کافر یا ظالم ملازمت اختیار کړی نوکه څه هم ددی ظالم سره دتعاون ناکاروالی بیا هم موجود دی مګر په کومو حالاتو کی چی دده د اقتدار څخه لیری کول په قدرت کی نه وی او دده دعهدی نه قبلولو په صورت کی الله ﷻ دمخلوق دحقونو ضائع کیدو یا دظلم او زیاتی قوی بیره وی نوپه مجبوری سره د دومره تعاون ګنجائش دحضرت یوسف ﷺ د عمل څخه ثابتیږي چی په دی کی په خپله دی دشریعت څخه خلاف دڅه کار نه سی مرتکب کیدای ، څکه چی دابه په حقیقت کی دده په ګناه کی اعانت نه وی ، که څه هم چی دلیری سبب په طور ده ته هم ددي اعانت فائده حاصله سی ، د اعانت دداسی لیری اسبابو په باره کی په ذکر سوو حالاتو کی شرعی ګنجائش سته ددی تفصیل حضراتو بیان کړی دی ، دتیرو نیکانو صالحانو صحابه وو رضی الله عنهم او تابعینو څخه د ډیرو حضراتو په داسی حالاتو کی د ظالمانو جابرانو حکمرانانو عهده قبلول ثابت دی (قرطبی ومظهری)

علامه ماوردی ؒ دسیاست شرعیه متعلق په خپل کتاب کی نقل کړی دی چی ځینو حضراتو دحضرت یوسف ﷺ ددی عمل پر بنا دکافرانو اوظالمانوحکمرانانو عهده قبلول په دی شرط سره جائز کړی دی چی پخپله دی دخلاف شرع په کار کولو باندی مجبوره نه وی او ځینو حضراتو ددی شرط سره هم څکه جائز نه دی ګڼلی چی په دی کی هم د ظالمانو او فاجرانو تائید دی دا حضرات دحضرت یوسف ﷺ ذات او دهغه دشریعت سره مخصوص وو اوس دنورو دپاره جائز نه دی مګر جمهورو عالمانو اوفقهاؤ اولنی قول اختیار کړی اوجائز یی ګرځولی دی (قرطبی)

په تفسیر بحر محیط کی دی چی کوم ځای دا معلومه وی چی که عالمان او صالحان دا عهده قبول نه کړی نو دخلقو حقونه به ضائع سی او انصاف به ونه سی نوهلته داسی عهده قبلول جائز بلکه ثواب دی په دی شرط چی په دی عهده کی دی په خپله په خلاف شرع کارونو کولو مجبوره کول کیږي نه .

څلورمه مسئله: دحضرت یوسف ﷺ دقول ، انی حفیظ علیم : څخه دا ثابته سوه چی دضرورت په موقع دخپل څه کمال یا فضیلت ذکرکول په خپله پاکبازی ثابتولوکی دا خل نه دی کوم چی په قرآن کریم کی ممانعت راغلی دی په دی شرط چی د دی ذکر کول دکبر غرورو فخر او لویی په وجه سره نه وی .

وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَاءُ نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَنْ نَشَاءُ وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ (۵۶)

یعنی څنګه چی موږ یوسف لره دباچا دمصر په دربار کی عزت او منزلت ورکړی دغه شان موږ ده لره پر

Maktaba Tul Ishaat.com

تول مصر پوره کامل اقتدار ورکی چه په دې مځکه کې څنګه غواړې احکام جاري کړې مونږ چې چا لره په خپل رحمت سره يې دغسې پالنه کوو او مونږ د نیکانو اجر هیڅکله نه ضائع کوو.
تفصیل ددې دا دی چې دمصر باچا د یو کال دتجربې کولو څخه وروسته په دربار کې یو جشن جوړ کې چه تول کار کوونکي او معززين دحکومت يې جمع کړل او دحضرت يوسف ﷺ پر سر يې تاج کښېښوى او دې مجلس ته يې راوستی اوصرف دخزانې ذمه واري نه بلکه تول کارونه دحکومت يې عملاً ده ته وسپارل او په خپله ګوشه نشين سو (قرطبي ومظهري)
حضرت يوسف ﷺ دحکومت کارونه داسې سنبال کړل چې چاته هيڅ شکايت باقي پاته نه سو تول اوسېدونکي پرده عاشقان سول اوپه تول ملک کې امن اوخوشحالي عامه سوه په خپله حضرت يوسف ﷺ ته هم دحکومت په دې تولو ذمه واري کې څه ګران والى يا تکليف پيښ نه سو.
دتفسير امام مجاهد فرمائي چې دحضرت يوسف ﷺ په وړاندې چونکه په دې تولو جاه اوجلال کې صرف د الله ﷻ د احکامو رائج کول او دهغه ددين قايمول وو په دې وجه دې يو وخت هم ددې څخه غافله نه سو چه دمصر باچا ته د اسلام او ايمان دعوت ورکړى تردې چې دپرله پسې دعوت اوکوشش دا نتيجه ظاهره سوه چې باچا دمصر هم مسلمان سو.
ولأجر الآخرة خير للذين آمنوا وكانوا يتقون (۵۷) يعني او د اخرت اجر او ثواب ددې دنيا دنعمت څخه په ډيرو درجو زيات دې دهغو خلقو دپاره کوم چې مومنان سول اوچاچې تقوا او پرهيزګاري اختيار کړ.
مطلب دا دی چې ددنيا دولت سلطنت او مثالي حکومت خو ورته ورکړل سو او ددې سره د اخرت لويې درجې هم دده دپاره تياري دي ددې سره يې دا هم وښوده چې دا درجې ددنيا دپاره کوم چې ايمان تقوى او پرهيزګاري اختيار کړي.
حضرت يوسف ﷺ په خپل دور کې دعوامو د راحت د رسولو دپاره هغه کارونه وکړل چې مثل يې نه سي موندل کيداى کله چې دخوب دتعبير مطابق اووه ۷ کاله دخوشحالي تيرسول اوقحط شروع سو نو حضرت يوسف ﷺ په ډک نس خوراک پرېښوى خلقو ورته وويل چې دمصر دملک تولې خزانې ستا په قبضه کې دي او تاسې وږى اوسې؟ نو وى فرمايل چې زه داسې ځکه کوم چې دعامو خلقو دلوږې احساس زماد زړه څخه ونه وزي او شاهي باورچيانو ته يې هم حکم ورکى چې په ورځ کې به صرف يو وار دغرمې خوراک پخوي چې دشاهي محل تول خلق هم دعوامو سره په لوږه کې برخه واخلي.

وَجَاءَ إِخْوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُوا عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ لَهُ مُنكِرُونَ ﴿۵۸﴾ وَلَمَّا

او راغلل ورونه د يوسف ﷺ بيا داخل سول ده ته نو ده وپيژندل دوى او دوى دى نه وپيژندى. اوهر کله

جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُونِي بِأَخٍ لَّكُم مِّنْ أَبِيكُمْ أَلَا

چې تيار کړل دوى ته سامان ددوى وي ويل چې راولئ ماته يو ورور چې ستاسې دپلار دطرف نه دى، تاسې

تَرَوْنَ اَنِّیْٓ اُوْفِی الْکَیْلَ وَاَنَا خَیْرُ الْمُنْزِلِیْنَ ﴿۵۹﴾ فَاِنْ لَّمْ تَاْتُوْنِیْ

نه گوری چی زه پوره ورکوم پیمانه او بنه خدمت کوم دمیلمنو . بیاکه دی رانه ولی

بِهٖ فَلَا کَیْلَ لَکُمْ عِنْدِیْ وَلَا تَقْرَبُوْنِ ﴿۶۰﴾ قَالُوْا سَنُرَاوِدُ عَنْهُ

ماته تاسی دپاره به پیمانه نه وی زماسره او ماته به نه راځی ، وی ویل مونږ به خواهش ظاهر کړو دده

اَبَاهُ وَاِنَّا لَفٰعِلُوْنَ ﴿۶۱﴾ وَقَالَ لِفِتْیٰنِهِ اجْعَلُوْا بِضَاعَتَهُمْ فِیْ

پلارته اومونږ به خامخا داکا وکړو ، او وې ویل خپلو خدمت گارانو ته کیږدی د دوی پنګه د دوی

رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ یَعْرِفُوْنَهَآ اِذَا انْقَلَبُوْٓا اِلٰٓی اَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ

په اسبابو کی شاید چی دوی یی وپیژنی هرکله چی بیرته راسی دوی خپلو کورونو ته شاید چی دوی

یَرْجِعُوْنَ ﴿۶۲﴾

بیا راسی

لنډتفسیر : غرض دا چی حضرت یوسف ﵇ چی با اختیاره سو غله کرل اوجمع کول یی شروع کړل او اووه کاله وروسته قطح شروع سو تردی چی ترلیری لیری پوری دا خبر ورسیدی چی دمصر دحکومت دطرف ځخه غله خرخیږی دلی دلی خلق را تل شروع سوه، او (په کنعان کی هم قحط سو) دحضرت یوسف ﵇ ورونه (هم بغیر دبنیامین ځخه دغلي اخیستو دپاره مصرته) را غلل بیادیوسف ﵇ خواته ورسیدل وروستنه یوسف ﵇ خو دوی وپیژندل او دوی یوسف ﵇ ونه پیژندی (ځکه چی په دی کی لږ بدلون را غلی وو او دارنگه دیوسف ﵇ د دوی د راتلو خیال اوقوی احتمال هم وو، بیا د راتلونکو ځخه یی پوښتنه هم کولای سو چی تاسوڅوک یاست دکوم ځای ځخه را غلی یاست ، او اشناخلک خو په لږ پته سره پیژندل کیږي هم ، په خلاف دیوسف ﵇ ځخه چی په ده کی (چونکه دجدایی په وخت کی ډیرکم عمره وو) بدلون هم زیات را غلی وو او د دوی دا گمان هم نه راتلی چی دا به یوسف ﵇ وی اوبیادحاکمانو ځخه څوک پوښتنه نه سی کولای چی ته څوک یی دیوسف ﵇ معمول وو چی په هر سړی به یی غله په قدر دحاجت خرڅوله نو دوی ته هم کله چی دیو یوتن په سر یو یو بار غله د اوښ ورکول سوه ، نو دوی وویل زمونږ یو پلار راوړی ورور بل هم دی ، هغه پلار په دی وجه چی دده یو زوی ورک سوی وو دخپلی تسلی دپاره دځان سره پاته کړی دی ، دهغه برخه غله دی هم یو اوښ را کړل سی یوسف

﵇ وویل چی دا دقانون څخه خلاف ده که دهغه برخه په کاروی نوهغه دی راسی چی وایی خلی ، غرض
دا چی د دوی برخه غله یی دوی ته ورکړه) اوهرکله چی یوسف ﵇ د دوی سامان (دغلی) تیارکی نو
(دتلو په وخت کی) یی ورته وویل چی (که داغله خرڅه سی او بیرته د را تللو اراده وکړی نو) دخپل پلار
راوړی ورور هم (دځان سره) را ولی (چی دهغه برخه هم درکړل سی) تاسو نه ګوری چی زه پوره ناپ
ورکوم اوزه دتولوڅخه زیات میلمه دوست یم (وروسته که ستاسوهغه ورور راغی هغه ته به هم پوره
برخه ورکړم اودهغه به ښه خاطر داری وکړم لکه چی می ستاسو وکي ، غرض دا چی په راتلوکی خویی
سراسرنفعه ده) اوکه تاسی (بیرته راغلاست او)هغه مودځان سره را نه وستی نو (زه به وګنم چی تاسی
ماته دوکه را کوله اوغله مو زیاته حاصلوله نو ددی په سزا کی به) نه زماسره ستاسی دنوم غله وی اونه
به تاسی ماته راځی (وروسته دده په نه را وستوکی به دا نقصان وی چی ستاسی برخه غله به هم وسوزی)
دوی وویل (ګوره) مونږ په (دخپل ممکنه حده پوری) خوهغه دپلار څخه وغواړو اومونږبه دا کار (یعنی
کوشش اوخواست) خامخاکوو(مخ ته دپلار اختیاردی) آو(هرکله چی ددغه ځای څخه روانیدل نو)
یوسف ﵇ خپلو نوکرانو ته وویل چی د دوی جمع پانګه (دکومی په عوض کی چی دوی غله اخستی ده)
د دوی په اسباب کی (پټه) کښیږدی ، ددی دپاره چی هرکله دوی خپل کورته ولاړ سی نو دا(چی د
اسباب څخه را ووزی) وبه یی پیژنی شاید چی (دا احسان اوکرم ووینی) بیادوباره راسی (چونکه یوسف
﵇ ته د دوی دوباره راتلل او د ورور را وستل منظور وه په دی وجه یی په یو ډول سره ددی تدبیر وکی
اول یی ورسره وعده وکړه چی که دی را ولی نو دده برخه غله به هم درته ورسیږي ، دویمه یی ورته سزا
واو روله چی که دی رانه ولی نوخپله برخه به هم بیانه کړی پیدا ، دریم دغلی قیمت چی دنقدو څخه
علاوه یوبل شی وو . وروسته یی کی ، په دوه خیالونو سره یو دا چی دا احسان اوکرم ووینی دوباره به
راسی بل دا چی شاید د دوی سره نور قیمت نه وی او بیا را نه سی اوچی دا قیمت ورسره وی نو بیرته را
تلای سی)

(معلومات او مسئلی)

په تیرو ایتونوکی حضرت یوسف ﵇ ته دمصر دکامل اقتدار دالله ﷻ په فضل سره د رسیدو ذکر وو.
په دی ذکر سوو آیتونوکی د ورونو دیوسف ﵇ دغلی دپاره مصرته را تلل بیان سوی دی او دا په کی
هم ضمنا راغله چی لس ورونه مصرته را غلی وه خو دحضرت یوسف ﵇ حقیقی کشر ورور ورسره نه وو.
د درمیانی قصی تفصیل قرآن کریم ځکه نه دی بیان کړی چی دتیرو واقعاتو څخه دغه خودبخوده
معلومیدای سی.
ابن کثیر دتفسیر د امامانو سدی ﵀ او محمدبن اسحاق ﵀ په حواله سره چی کوم تفصیل بیان کړی
دی دغه که د تاریخ او اسرائیلی روایتو څخه هم را اخیستل سوی وی نوهم څه ناڅه قابل قبول دی چی
دقرآن کریم په بیان کی په خپله دی طرفته اشاره موجوده ده.
دا حضرات فرمایی چی حضرت یوسف ﵇ ته دمصر دملک د وزارت حاصلیدو څخه وروسته اولنی
اووه ۷ کاله دخوب دتعبیرمطابق په پوره ملک کی خوشحالی او ابادی راغله ښه پیداوار وسو او د

Maktaba Tul Ishaat.com

زیات څخه زیات حاصلولو اوجمع کولو کوشش یې وکې ددې څخه وروسته ددې خوب دویم جزء مخ ته را غلې چې سخت قحط راغی کوم چې تر اووه ۷ کالو پورې جارې وو دا وخت حضرت یوسف ﷺ چونکه مخکي خبردار وو چې دا قحط به اووه ۷ کاله پرلپسې وي په دې وجه دقحط په اولنې کال کې یې دملک موجوده ذخیره په ډیر احتیاط سره جمع کړه اوښه په پوره احتیاط سره یې کښیښوده.

دمصر دخلقو سره یې د دوی دضرورت مطابق د اول څخه جمع کړه اوس قحط عام سو او دشاوخوا څخه خلق مصرته را تلل شروع سوه نوحضرت یوسف ﷺ په یوخاص انداز سره غله خرڅول شروع کړل ، چې یو سړي ته به یې دیوه اوښ دبار څخه زیاته غله نه ورکوله چې ددې مقدار قرطبي یو وسق یعنې شپیته اوړې لیکلې دی کوم چې زمونږ ددې وزن په اعتبار سره دوه سوه لس ۲۱۰ سیره یعنې دپنځو ۵ منو څخه څه زیات وي.

او ددې کار دومره اهتمام وکې چې دغلې خرڅ یې په خپله نګرانۍ کې په خپله کوی ، دا قحط صرف دمصر په ملک کې نه وو بلکه ترلیرې لیرې علاقو پورې خپور سوی وو ، کنعان کوم چې دفلسطین یوه برخه ده او دحضرت یعقوب ﷺ وطن دی اونن هم ددې ښار په نوم دخلیل دیو ښاسته ښارپه صورت کې موجود دی ، دلته دحضرت ابراهیم او اسحاق اویعقوب علیهم السلام قبرونه مشهور دی ، دا مځکه هم ددې قحط د زد څخه محفوظه نه سوه او دحضرت یعقوب ﷺ په خاندان کې هم بې ارامي پیداسوه او ددې سره سره دمصر دا شهرت خپور سو چې هلته غله په قیمت سره پیداکیږي حضرت یعقوب ﷺ ته هم دا خبر ورسیدی چې دمصر باچایوصالح رحمدل سړی دی ، هغه دخدای ټول مخلوق ته غله ورکوی ، نوخپلو زامنو ته یې وویل چې تاسو هم ولاړ سئ دمصرڅخه غله را وړئ.

او چونکه دا هم معلومه سوې وه چې یو سړي ته دیوه اوښ دبارڅخه زیاته غله نه ورکوی ، په دې وجه یې د ټولو زامنو دلیږلو مشوره وکړه ، مګر دټولو څخه کشر ورور بنیامین کوم چې دحضرت یوسف ﷺ حقیقي ورور وو او دحضرت یوسف ﷺ د ورکیدو څخه وروسته دحضرت یعقوب ﷺ محبت اوشفقت دده سره زیات پیوست سوی وو ، دی یې دخپل ځان سره دخپلې تسلۍ اوخبر ګیرۍ دپاره پاته کې.

لسو (۱۰) ورونو دکنعان څخه سفر وکې اومصرته ورسیدل نوحضرت یوسف ﷺ په شاهي لباس کې دشاهانه تخت اوتاج دمالک کیدو په حیثیت سره مخ ته را غلې او ورونو دې ورکي داوو کالو په عمرکې برقافلې والاوو خرڅ کړی وو چې دې دا وخت دحضرت عبدالله ابن عباس ؓ د روایت مطابق دڅلویښتو کالو سوی وه (قرطبی مظهری)

سکاره خبره ده چې په دومره زمانه کې د انسان شکل دڅه څخه څه جوړ سي او د دوی دا وهم او خیال هم نه راتلی چې کوم بچی دوی غلام جوړ کړی او خرڅ کړی وو هغه دیوملک وزیر یا باچا هم کیدای سي.

په دې وجه ورونو حضرت یوسف ﷺ ونه پیژندی ، مګرحضرت یوسف ﷺ دوی وپیژندل ، په ذکرسوی آیت کې د «فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ لَهُ مُنْكِرُوْنَ» په عربي ژبه کې دا معنی ده ، د انکار اصلي معنی دنا آشنا ګڼلو راځي ، په دې وجه د (منکرون) معنی دنا آشنا اونه پیژندونکو سوه.

دحضرت یوسف ﷺ دپیژندلو متعلق ابن کثیرپه حواله دسُدي ؒ دا هم بیان کړي ده چې هرکله دا لس

ورونه دربارته ورسيدل نو حضرت يوسف ﷺ د زيات اطمينان دپاره د دوی څخه داسی پوښتنی وکړی لکه د مشتبه خلقو څخه چی کول کيږی ، ددی دپاره چی دوی پوره حقيقت ښکاره کړی اول يی د دوی څخه پوښتنه وکړه چی تاسو خو دمصر اوسيدونکی نه ياست ستاسو ژبه هم عبرانی ده ، نو بيادلته څنګه را ورسيد است دوی عرض وکی چی زمونږ په ملک کی عظيم قحط دی اومونږ ستاصفت اوريدلی دی په دی وجه دغلی حاصلولو دپاره را غلی يو، حضرت يوسف ﷺ بياپوښتنه ورڅخه وکړه چی زمابه څنګه اطمينان راسی چی تاسی رښتيا واياست اوتاسو ددښمن جاسوسان نه ياست ، نو دی تولوعرض وکی چی پناه په خدای ﷻ مونږ داسی هرګز نه سو کيدای ، مونږ خو دالله ﷻ درسول حضرت يعقوب ﷺ زامن يو کوم چی په کنعان کی اوسيږی .

دحضرت يوسف ﷺ ددی سوالونوڅخه مقصدداوو چی دوی لړپه ښکاره واقعات بيان کړی ، نوبيا ورڅخه حضرت يوسف ﷺ پوښتنه وکړه چی ستاسو دپلار نور اولاد هم ستاسو څخه ماسوا سته نو دوی ووېل چی مونږ دولس ورونه وو چی يو را څخه په کوچنيوالی کی په ځنګل کی ورک سو او زمونږ دپلار دټولوڅخه زيات دهغه سره محبت وو ، ددی څخه وروسته دده دکوچنی ورور سره يی زيات محبت شروع کی او په دی وجه دا وخت يی هم هغه زمونږ سره په سفر ونه ليږی چی په هغه خپله تسلی کوی .

حضرت يوسف ﷺ دا ټولی خبری واو ريدی اوحکم يی وکی چی دوی دشاهی ميلمنوپه حيثيت سره وساتی او دقاعدی مطابق غله ورکړی دغلی په تقسيم کی دحضرت يوسف ﷺ دکار ضابطه دا وه چی په يو وار به يی يوسړی ته ديو اوښ دباره څخه زياته غله نه ورکوله مګرکله چی دحساب مطابق به هغه ختمه سوه نو بيابه دوباره ورکوله ، د ورونو څخه دټولو تفصيلاتو معلومولو څخه وروسته دده په زړه کی دا خيال را تلل يوطبعی امر وو چی دوی بيادوباره هم راسی ، ددی دپاره يی يو انتظام خو په ظاهره دا وکی چی په خپله يی دی ورونو ته وويل .

ائْتُونِي بِأَخٍ لَّكُم مِّنْ أَبِيكُمْ ۚ أَلَا تَرَوْنَ أَنِّي أُوفِي الْكَيْلَ وَأَنَا خَيْرُ الْمُنزِلِينَ (۵۹) يعنی هرکله چی تاسو دوباره راځی نوخپله ميزی ورور چی ستاسو دپلار څخه دی دځان سره راولئ تاسو وينی چی زه څنګه پوره پوره غله ورکوم او څنګه ميلمستيا کوم .

اوبيايی ورته يو اخطار هم واو روی ، فَإِن لَّمْ تَأْتُونِي بِهِ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِندِي وَلَا تَقْرَبُونِ (۲۰) يعنی که تاسو دغه ورور دځان سره را نه وستی نو بيابه زه تاسی ته غله هم درنه کړم (ځکه چی زه به پوه سم چی تاسی ماته درواغ ويلی دی) دغه ډول به تاسی بيا ماته نه را نژدی کيږي .

دوهم انتظام يی په پټه دا وکی چی کوم نقد يا کالی وغيره چی دی ورونو دغلی دقيمت په طور باندی ادا کړی وه ، ددی متعلق يی خپلو نوکرانو ته حکم وکی چی دا پټ د دوی په سامان کی داسی وتړی چی دوی ته دا وخت پته ونه لګيږی چی کله کورته ورسيږی سامان خلاص کړی اوخپل نقد اوکالی دوی ته بيرته ورسيږی ، نو دوی به دوباره دغلی اخستو دپاره راسی .

ابن کثير دحضرت يوسف ﷺ په دی عمل کی څو احتمالونه بيان کړی دی يو دا چی حضرت يوسف ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com

ته دا خیال راغی چې شاید د دوی سره ددی نقد او کالو وغیره څخه ماسوا نور څه موجود نه وی ، نو بیرته به دغلی اخستو دپاره رانه سی ، دویم دا هم احتمال دی چې دخپل پلار او ورونو څخه یې دغلی قیمت اخستل خوښ نه کړل ، په دی وجه په شاهی خزانه کی یی دخپل طرف څخه قیمت جمع کی او د دوی رقم یې دوی ته بیرته ورکی ، او یو احتمال دا هم دی چې دی پوهیدی چې هرکله د دوی سامان دوی ته بیرته ورسیږي او والد صاحب ته پته ولګیږی نو هغه دالله ﷺ رسول دی ، دا واپس سوی سامان به زما دخزانی امانت وګني ، او خامخابه یی را واپس کړی ، په دی وجه به د ورونو بیرته را تلل ضروری او یقینی سی ، په هرحال حضرت یوسف ﷺ دا ټول انتظامات څکه وکړل چې آئنده هم د ورونو د راتلو سلسله جاری پاته سی او دخپل کشر حقیقی وړور سره به یې ملاقات هم وسی .

(مسئلې او فائدې)

دحضرت یوسف ﷺ ددی واقعی څخه ددی خبری جوازمعلوم سو چې هرکله دیوملک اقتصادی حالت داسی خراب سی چې که حکومت انتظام ونه کړی ، نو ډیرخلق به دخپل ژوند دضرورتونو څخه محروم سی نوحکومت داسی شیان په خپل انتظام اوکنترول کی اخستلای سی ، او دغلی مناسب قیمت مقرر ولای سی ، فقهاؤ حضراتو ددی وضاحت فرمایلی دی .

(دحضرت یوسف ﷺ دخپلو حالاتو څخه پلارته اطلاع نه ورکول دخدای په حکم وو)

دحضرت یوسف ﷺ په دی واقعه کی یوه خبره ډیره حیرانوونکی ده چې یوطرفه ته دده والدماجد دخدای پیغمبر حضرت یعقوب ﷺ دده په جدایی دومره متاثره سو چې په ژړا ژړا یی سترګی ړندی سوی ، او بل طرفه ته حضرت یوسف ﷺ چې په خپله هم نبی او رسول دی ، دپلار سره دفطری اوطبعی محبت څخه علاوه دده دحقونو څخه هم په ښه ډول سره خبردار دی ، لیکن دځلوینښت کاله په اوږده زمانه کی یو وار هم یوځای دا خیال را نغی چې زما پلار زما پرجدایی بې آرامه دی چې دخپل خیریت خبر په یوه ذریعه سره ده ته ورسوی ، خبر رسول خو په دی حالت کی هم څه ګران نه وو ، کله چې دی دغلامی په صورت کی مصرته را ورسیدی ، بیادعزیزمصرپه کور کی خودهرقسم ازادی او ارام سامان هم وو ، دغه وخت په څه ذریعه سره کورته خط یاخبر رسول څه ګران نه وو ، دغه ډول دبند په ژوند کی دنیاته معلومه ده چې ټول خبرونه یو خوابل خوا ته رسیږی ، خاص بیاکله چې الله ﷻ په عزت سره دبند څخه ازاد کي اومصر اقتدار یی لاس ته ورغی ، دغه وخت خو په خپله تلل دوالد صاحب په خدمت کی حاضریدل دټولو څخه اولنی کارپه کار وو اوکه داسی دځه مصلحت په وجه سره خلاف وی نوکم څخه کم قاصد لیږل اوپلار مطمین کول خوعادی خبره وه ، لیکن دخدای پیغمبریوسف ﷺ څخه دا هیڅ ځای نقل نه دی چې ددي اراده یی هم کړی وی اوپه خپله اراده کول خو لاڅه کوی کله چې وروڼه دغلی اخستو دپاره را غلل نو دوی یی هم د اصل واقعی دخبرولو څخه بغیر رخصت کړل .

دا ټول حالت خو دیو ادنی انسان څخه هم په تصورکی نه سی را تلای دالله ﷻ دغوره سوی رسول څخه دا صورت څنګه برداشت سو .

ددی حیرانوونکی خاموشی همیشه دا جواب په زړه کی را تلی چې غالبا الله ﷻ ترخپل حکمت بالغه

Maktaba Tul Ishaat.com

لاندې حضرت یوسف علیه السلام دخپل اظهار څخه منع کړی وي، په تفسیر قرطبي کی ددی وضاحت پیدا سو چی الله تعالی په ذریعه دوحی حضرت یوسف علیه السلام منع کړی وو چی خپل کورته دځان متعلق خبر ونه لیږي، دالله تعالی په حکمتو صرف هغه پوهیږي، انسان ددی احاطه نه سی کولای، که څه هم یو ځای یو شي دچا په خیال کی هم راسي، دلته په ظاهره ددی اصل حکمت دهغه امتحان پوره کول وو، کوم چی دحضرت یعقوب علیه السلام څخه واخستل سو او دا وجه وه چی ددی واقعی د اول څخه کله چی حضرت یعقوب علیه السلام ته دا اندازه وسوه چی حضرت یوسف علیه السلام شرمښ نه دی خوړلی بلکه د ورونو څه شرارت دی نو دده دپاره په کار وه چی دغه وخت هغه ځای ته تللی وای او تحقیق یې کړی وای، مګر الله تعالی یې دی طرف ته خیال بونه تلی او بیا ډیرموده وروسته یې زامنو ته وویل چی ولاړسی دیوسف او دده د ورور طلب وکی هرکله چی الله تعالی یو کار کول غواړي نو ددی ټول اسباب دغه ډول جمع کړي.

فَلَمَّا رَجَعُوٓا إِلَىٰٓ أَبِيهِمْ قَالُوا يَٰٓأَبَانَا مُنِعَ مِنَّا ٱلْكَيْلُ

بیا هرکله چی ورسیدل خپل پلارته وې ویل ای پلاره منع کړی یې دی زمونږ څخه بار

فَأَرْسِلْ مَعَنَآ أَخَانَا نَكْتَلْ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿٦٣﴾ قَالَ هَلْ

نو ولیږه مونږ سره زمونږ ورور چی بار راوړو او مونږ دده حفاظت کوونکی یو، وې ویل زه به څه

ءَامَنُكُمْ عَلَيْهِ إِلَّا كَمَآ أَمِنتُكُمْ عَلَىٰٓ أَخِيهِ مِن قَبْلُ ۖ فَٱللَّهُ

اعتبار وکړم ستاسی په دی مګر هغه لکه چی اعتبار می کړی وو دده په ورور ددې څخه مخکې، نو الله دی

خَيْرٌ حَٰفِظًا ۖ وَهُوَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٦٤﴾ وَلَمَّا فَتَحُوا مَتَٰعَهُمْ

غوره نګهبان، او هغه دی دټولو مهربانو څخه زیات مهربان، او هرکله چی بې خلاص خپل سامان

وَجَدُوا بِضَٰعَتَهُمْ رُدَّتْ إِلَيْهِمْ ۖ قَالُوا يَٰٓأَبَانَا مَا نَبْغِى ۖ هَٰذِهِۦ

ساېې بیدا کړه حبله پنګه چی واپس سوی وه دوی ته، وې ویل ای پلاره نور مونږ څه غواړو، دا

بِضَٰعَتُنَا رُدَّتْ إِلَيْنَا ۖ وَنَمِيرُ أَهْلَنَا وَنَحْفَظُ أَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ

زمونږ پنګه مونږ ته واپس سوی ده چی اوس ولاړ سو خرځ به راوړو خپل اهل له او حفاظت به کوو دخپل ورور او زیات به راوړو بار.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَعِيْرٍ ذٰلِكَ كَيْلٌ يَّسِيْرٌ ﴿٦٥﴾ قَالَ لَنْ اُرْسِلَهٗ مَعَكُمْ حَتّٰى تُؤْتُوْنِ

د اوښ دا اسان بار دی ، وې ويل دی هيڅکله نه ليږم تاسی سره تردی چی ماته راکړی

مَوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ لَتَاْتُنَّنِيْ بِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يُّحَاطَ بِكُمْ ۚ فَلَمَّآ اٰتَوْهُ

عهد دخدای ﷻ چی خامخا به دی راولی ماته مگر دا چی گیر سی تول ، بيا چی کله ورکړو ده

مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ﴿٦٦﴾

ته تولو عهد وې ويل چی الله ﷻ زمونږ په خبرو نگهبان دی.

لنډ تفسير : غرض هرکله چي واپس سول خپل پلار (يعقوب ﷺ) ته ورسيدل وی ويل ای پلاره (زمونږ ډير خاطرسوی دی او غله هم راکول سوه ، مگر دبنيامين حصه رانه کول سوه بلکه که اننده هم مونږ بغير دبنيامين څخه ولاړو) زمونږ دپاره (مطلقاً) دغلی بندش سوی دی وروسته (په دی صورت کی ضروری ده چی) ته زمونږ ورور (بنيامين) زمونږ سره ولیږه ددی دپاره چی (د دوباره غلی را وړلو څخه کوم کارمانع دی هغه ليری سی او) مونږ (بيا) غله راوړو او (که چيری دده په ليږلو کی تاته څه فکرمانع وی نو ددې متعلق دا عرض دی ، چی مونږ به دده پوره حفاظت کوو يعقوب ﷺ وفرمايل چی بس (پريږدی) زه دده په باره کی هم په تاسو هغه ډول اعتبارکوم څنگه چی می ددی څخه مخکې دده د ورور (يوسف) په باره کی په تاسو اعتبارکړی وو (يعنی زړه زماخو شاهدی نه کوی مگرتاسو واياست چی بغير دده دتللو څخه به اننده غله حاصله نه سی او عادتاً د ژوند دار او مدار پر غله باندی دی او د ژوند محفوظ کول فرض دی) پس (خيرکه يی بياياست نو) الله ﷻ (ته می سپارلی دی هغه) دتولو څخه لوی نگهبان دی (زمانگهبانی هيڅ نه جوړيږي) او هغه دتولو مهربانانو څخه مهربان دی (او زمامحبت اوشفقت سره څه کيدای سی) او (ددې خبر څخه وروسته) کله چی دوی خپل اسباب خلاص کړه نو (په دی کی) د دوی تولو پانگه (هم) پيدا سوه چی دوی ته واپس سوی وه وی ويل چی ای پلاره (وگوره) مونږ نور څه غواړو دا زمونږ جمع کرده پانگه خو هم مونږ ته واپس سوی ده (داسی کريم باچا دی او ددی څخه زيات دنوری څه مهربانی انتظاريه کوو دا مهربانی بس ده چی دداسی کريم باچا خواته بيا ولاړ سو او دا تلل زمونږ بغير د ورور دبيولو څخه بی فايدی دی په دی وجه اجازه راکړه چی دی دځان سره بوزو) او دخپل کور والاوو دپاره (نور) رسد راوړو او دخپل ورور به ښه حفاظت کوو اوديو اوښ بارغله به نوره زياته راوړو (څکه چی دا وخت مونږ خومره راوړی ده) دا خو لږ غله ده (زر به ختمه سی بيابه نورضرورت وی او ددی پيداکيدل بغير دده دتللو څخه نه سی کيدای) يعقوب ﷺ وفرمايل چی (خير په دی حالت کی دليږلو څخه انکارنه کوم ليکن) ترهغه وخته پوری به دی هيڅکله ستاسی سره ونه ليږم ترڅو چی دالله ﷻ قسم ونه خوری

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپوخ قول را نه کی چی تاسی به دی ضرور راولی البته که چیری گیر سواست نو مجبوری ده (چنانچه تولو پردی قسم وکی) پس هرکله چی دوی قسم وکی خپل پلارته یی قول ورکی نو دوی وفرمایل چی مونږ کومی خبری اتری کوو دا تولی دالله ﷻ په حواله دی (یعنی هغه زمونږ دقول او اقرار شاهد دی چی هغه یی اوری اوهغه دا قول پوره کولای سی نوپه دی ویناسره دوه عرضونه وسول اول دوی ته دخپل قول دخیال ساتلوترغیب اوخبرداری چی دحاضراو ناظر الله ﷻ په مخکې داخبره کیږی اودویم ددی تدبیر انجام تقدیرته سپارل چی دتوکل خلاصه ده او ددی څخه وروسته یی بنیامین ته دتلو اجازه ورکړه غرض دا چی دمصرسفر دپاره بیرته سره دبنیامن تیار سول)

(معلومات او مسئلې)

په دی ذکر سوو آیاتونوکی پاته قصه داسی بیان سوي ده چی هرکله دحضرت یوسف ﷺ ورونودمصرغله واخیسته اوکورته ورسیدل نو دمصر دمعاملی ذکر یی پلارته وکی دایی ورته هم وښوله چی عزیز دمصر ائنده دغلی را کولو دپاره دا شرط لګولی دی چي که خپل کشر ورور مو دځان سره را وستی نوغله به درکړل سی کنی نو نه ، نو په دی وجه ته ائنده زمونږ بنیامین ولیږه چی مونږ ته غله را کړل سی ، او مونږ به ددی وروړ پوره حفاظت کوو ده ته به دهیڅ قسمه تکلیف نه وي .

پلار صاحب یی وفرمایل چی آیادده په باره کی په تاسی داسی اطمینان وکړم ، لکه چی ددی څخه مخکې دده د ورور په باره کی می کړی وو مطلب ښکاره دی یعنی اوس ستاسی په خبره څه اعتبار دی یو وار می په تاسی اطمینان کړی دی نو په موصیبت کی گیرسوی یم دا الفاظ دحفاظت تاسی هغه وخت هم ویلی وه ،

دا خو د دوی دخبری جواب وو مگربیادخاندان دضرورت په مخکې بیایي پیغمبرانه توکل او دا حقیقت بنیاد وگرځوی چی هیڅ نفع اونقصان دچا بنده په لاس کی نسته ، ترڅو چی دالله ﷻ رضا او اراده نه وی او هرکله چی دهغه اراده وسی نوبیایی څوک منع کولای نه سی ، په دی وجه په مخلوق باور هم غلطه ده ، او د دوی پرشکایتونو باندی دمعاملی مدار ایښوول هم نامناسب دی په دی وجه یی وفرمایل ، فَاللّٰهُ خَیْرٌ حٰفِظًا یعني ستاسی دحفاظت نتیجه خو می مخکې لیدلی ده اوس زه دالله ﷻ په حفاظت باندی باورکوم ، وَهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ : اوهغه دتولو څخه زیات رحم کوونکی دی دهغه څخه می امید دی چی هغه به زماپر ضعیفی اوموجوده غم اوخفګان نظر وکی پرمابه غبرگ تکلیفونه نه اچوی .

لنډه دا ده چی حضرت یعقوب ﷺ په ظاهری حالاتو اودخپل اولاد پر وعدو باندی باور ونه کړی ، مگر دالله ﷻ په باور دکشر زوی د دوی سره په لیږلو تیار سو .

وَلَمَّا فَتَحُوْا مَتَاعَهُمْ وَجَدُوْا بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ اِلَیْهِمْ قَالُوْا یٰۤاَبَانَا مَا نَبْغِیْ هٰذِهٖ بِضَاعَتُنَا رُدَّتْ اِلَیْنَا وَنَمِیْرُ اَهْلَنَا وَنَحْفَظُ اَخَانَا وَنَزْدَادُ كَیْلَ بَعِیْرٍ ذٰلِكَ كَیْلٌ یَّسِیْرٌ .

یعنی تردی ځای پوری خو دحضرت یوسف ﷺ د ورونو دا ابتدائی خبری دسفر دحالاتو بیانولو په دوران کی کیدی ، تر اوسه یی لا سامان خلاص کړی نه وو ، ددی څخه وروسته چی هرکله یی سامان

Maktaba Tul Ishaat.com

خلاص کی او وی لیدل چی د دوی هغه پانگه کومه چی یی دغلی دقیمت ادا کولو دپاره ورکړې وه ، هغه هم په سامان کی موجوده ده نو دغه وخت دوی په دی خبره باندی پوهه سول چی داکارپه هیره نه دی سوی بلکه قصداً زمونږ پانگه مونږ ته واپس سوی ده په دی وجه یی ، رُدتْ اِلینَا : وویل یعنی دا پانگه مونږ ته واپس کړل سوه اوبیایی پلارمحترم ته وویل (مَانبغی) یعنی مونږ ته نورڅه په کار دی چی غله هم را غله او ددی قیمت واپس حاصل سو اوس خو مونږ ته خامخا دوباره دخپل ورور سره په اطمینان باندی تلل په کاردی ، ځکه چی ددی معاملی څخه معلومه سوه چی عزیز دمصر پرمونږ ډیرمهربان دی ، په دی وجه څه بیره نسته مونږ به دخپل خاندان دپاره غله را وړو او ورور به هم په حفاظت سره ساتو او د ورور برخه غله به زیاته را ورسیږي ، ځکه چی دا مونږ چی څه را وړی دی دا زمونږ دخرڅ په مقابله کی ډیر کم دی په څو ورځو کی به ختم سی .

دحضرت یوسف ﷺ ورونو چی کومه دا جمله (مَانبغی) وویله ددی یومطلب خودغه دی کوم چی اوس وښودل سو چی مونږ ته ددی څه زیات څه په کار دی ، او په دی جمله کی چی حرف د(ما) دنفی په معنی کی واخستل سی ، نو دا مطلب هم کیدای سی چی دحضرت یعقوب ﷺ اولاد خپل پلار ته عرض وکی چی اوس خو زمونږ سره دغلی را وړلو دپاره قیمت موجود دی مونږ ستاڅخه څه نه غواړو ته صرف ورور زمونږ سره ولیږه . پلار صاحب چی دا ټولی خبری واوریدی نو جواب یی ورکی .

قَالَ لَنْ أُرْسِلَهُ مَعَكُمْ حَتَّى تُؤْتُونِ مَوْثِقًا مِّنَ اللَّهِ لَتَأْتُنَّنِي بِهِ : یعنی زه بنیامین ستاسو سره ترهغه وخته پوری نه لیږم ترڅو چی تاسی پرالله ﷻ قسم او دا عهد او پیمان ما ته را نه کړی چی تاسی به دی خامخا دځان سره بیرته را ولئ ، مګر چونکه دا حقیقت خو هر وخت ښکاره دی چی که انسان عاجز هر څومره ظاهری قدرت اوطاقت لری خوبیاهم په هرشي کي مجبوره اودحق جل شانه دقدرت په مخکي عاجزه دی ، دی دیو سړی په حفاظت سره د را وستلو عهد او پیمان څنګه کولای سی ، ځکه چی دی په دی باندی مکمل قدرت نه لری ، په دی وجه یی ددی عهد او پیمان سره یوه استثناء ولګوله (الا أنْ یحَاطَ بِکُمْ) یعنی بغیر ددی صورت څخه چی تاسی ټول ګیرسي ، دتفسیرامام مجاهد رح ددې مطلب دا بیان کړی دی چی تاسی ټول هلاک سی اوقتاده فرمایي مطلب دا دی چی تاسی بالکل عاجزه او مغلوب سی .

فَلَمَّا آتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللَّهُ عَلَى مَا نَقُولُ وَكِيلٌ : یعنی هرکله چی زامنو په غوښتل سوی طریقه باندی عهد اوپیمان وکی یعنی ټولوقسمونه وخوړل اوپلار دمطمئن کولو دپاره یی ډیرپه سختی سره قسم وکی ، نو حضرت یعقوب ﷺ وفرمایل چی دبنیامین دحفاظت دپاره چی کوم دقسمونو کار مونږ کوو ، ددی ټولی معاملی باور پرالله ﷻ باندی دی دده په توفیق سره څوک دچاحفاظت کولای سی اوخپل عهد پوره کولای سی که نه وی نو انسان بی وسه دی دده په ذاتی قبضه او قدرت کی هیڅ نسته .

(هدایتونه او مسئلي)

په ذکر سوو آیتونو کی دانسان دپاره ډیر هدایتونه او احکام دی دا یادول په کار دی .

(د اولاد څخه چي ګناه او خطا وسي نو د تعلق قطع کولو پر ځای د دوی د اصلاح فکر کول په کار دی)

اولني هدایت : دحضرت یوسف ﷺ د ورونو څخه چی کومه خطاء ددی څخه وراندی سوی وه هغه پر

Maktaba Tul Ishaat.com

ډیره لویه اوسخته ګناه باندی مشتمله وه ، مثلاً اول دا چی درواغ یی وویل اوپلار یی دی ته تیارکی چی حضرت یوسف ﷺ د دوی سره دسیل دپاره ولیږی ، دویم دپلار سره عهد کول او دهغه خلاف ورزی ، دریم د وړوکی او معصوم ورور سره بی رحمی اوسختی کول ، څلورم دضعیف پلار د انتهایی زړه ازارولو پروا نه کول ، پنځم دیوبی ګناه انسان دقتلولو منصوبه جوړول ، شپږم یو ازاد انسان جبراً قهراً او ظلماً خرڅول. دا داسی انتهایی سخت جرمونه وه چی هرکله حضرت یعقوب ﷺ ته دا واضحه سوه چی دوی دروغ ویلی دی او قصداً یی حضرت یوسف ﷺ ضایع کړی دی ، نو ددې خبری تقاضاخو په ظاهره دا وه چی ده ددې زامنو سره قطع تعلق کړی وی یایې دوی دکوره ایستلی وی مګرحضرت یعقوب ﷺ داسی ونه کړل ، بلکه دوی پرمخ هم دپلار په خدمت کی پاته سول تردی چی دوی یی مصر ته دغلی را وړلو دپاره ولیږل اوپه دی سر بیره دا چی دوباره بیاودوی ته دکشر ورور متعلق پلار ته دعرض معروض کولو موقع پیدا سوه او اخر چی د دوی خبره یی ومنله او کشر زوی یې هم دوی ته حواله کی.
ددی څخه معلومه سوه چی د اولاد څخه څه خطا او ګناه وسی نو پلار ته په کار دی چی په تربیت کولو سره د دوی د اصلاح فکرکوی او ترڅو پوری چی د اصلاح امید وی قطع تعلق دی نه ورڅخه کوی لکه چی حضرت یعقوب ﷺ داسی وکړل او اخر چی دوی تول په خپلو خطاګانو باندی ستومانه او دګناهونو څخه توبه ګارسول ، ها! که د اصلاح څخه مایوسه سی او د دوی سره په تعلق ساتلوکی د نورو ددین ضرر محسوس سی نو بیا ورڅخه قطع تعلق کول زیات مناسب دی.

دوهم هدایت : ددې نبی معاملی او ښه خوی دی کوم چی دلته دحضرت یعقوب ﷺ څخه ظاهر سو چی د زامنو د دومره سختو جرمونو باوجود د دوی معامله داسی پاته سوه چی دوباره دکشر ورور دځان سره د بیولو د درخواست کولو جرات یی وکړل سو.

دریم هدایت : دا هم دی چی په داسی صورت کی په غرض د اصلاح خطا کار ته وریادول هم مناسب دی چی ستا دمعاملی تقاضا خو دا وه چی ستا خبره نه میل کیدی ، مګر مونږ دغه معاف کوو چی دی د انده دپاره شرمنده سی ، ددې څخه به په کُلی طور سره توبه وباسی لکه چی حضرت یعقوب ﷺ اول وریاده کړه چی ایا دبنیامین په معامله کی هم په تاسو داسی اطمینان وکړم لکه چی دحضرت یوسف ﷺ په باره کی می کړی وو ، مګر د وریادولو څخه وروسته یی دغالبو حالاتو څخه د دوی توبه ګارکیدل معلوم کړل پرالله ﷻ یی توکل وکی او کشر زوی یی دوی ته حواله کی.

څلورم هدایت:دا دی چی دیو انسان په وعده اوحفاظت په حقیقی طور سره باور کول غلطی ده اصل باور صرف پرالله ﷻ په کار دی ، هغه حقیقی کار جوړونکی اومسبب الاسباب دی ،اسباب برابرول اوبیاپه دوی کی تاثیر اچول تول دهغه په قدرت کی دی ، په دی وجه حضرت یعقوب ﷺ وفرمایل (فَاللّٰهُ خَیۡرٌ حَافِظًا)
دکعب اَحبار قول دی چی دا وار چونکه حضرت یعقوب ﷺ صرف د اولاد په وینا باور ونه کي ، بلکه معامله یی الله ﷻ ته وسپارله ، په دی وجه الله ﷻ وفرمایل چی قسم دی زما په عزت اوجلال چی اوس به زه ستا دواړه زامن تاته بیرته را ولیږم.

Maktaba Tul Ishaat.com

پنځمه مسئله : په دی کی دا ده چی که دبل سړی مال یایوشي په خپل سامان کی را ووزی اوقوی قرینی پردی شاهدی کوی چی هغه قصداً زمونږ ته د راکولو دپاره زمونږ په سامان کی ترلی دی نو دغه دخپل ځان سره ساتل اوپه تصرف کی یی را وستل جائزدی ، لکه دا پانګه چی دحضرت یوسف ﷺ د ورونو په سامان کی را ووتله اوقوی قرینی پردی شاهد وی چی په هیره سره داسی نه دی سوی ، بلکه قصداً یی دا را وپس کړي دی ، په دی وجه حضرت یعقوب ﷺ ددې رقم د واپس کولو هدایت ونه فرمایی ، لیکن کوم ځای چی دا بیره موجوده وه چی شاید په هیره سره دا زمونږ سره را غلی وی ، هلته دمالک څخه دتحقیق او معلومولو څخه بغیر ددی استعمال جائز نه دی .

شپږمه مسئله : په دی کی دا ده چی یو سړی ته داسی قسم ورکول نه دی په کار دکوم پوره کول چی بالکل دده په قبضه کی نه وی لکه حضرت یعقوب ﷺ چی بنیامین دصحیح سالم را وستلو قسم ورکی نو په دی کی یی دا حالت مستثنی کی چه کله دوی بالکل عاجزه او مجبوره سی یاپه خپله هم تولہ په هلاکت کی ولویږي .

په دی وجه رسول الله ﷺ چی هرکله دصحابه کرامو څخه دخپل اطاعت عهد اخیستی نو په خپله یی په دی کي داستطاعت قید ولګوی یعنی ترڅوپوری چی زمونږ قدرت اوطاقت رسیږي ستاپوره اطاعت به کوو .

اوومه مسئله : په دی کی دا ده چی دحضرت یوسف ﷺ د ورونو څخه عهد اوپیمان اخستل چی دوی به بنیامین بیرته را ولی ، ددی څخه معلومیږی چی کفالت بالنفس جائزدی ، یعنی په یوه مقدمه کی دنیول سوی انسان دمقدمی تاریخ ته دحاضرولو ضمانت کول صحیح دی ، په دی مسئله کی د امام مالک رحمه‌الله اختلاف دی ، هغه صرف مالی ضمانت جائز کوی ، د انسانی نفس ضمانت نه جائز کوی .

وَقَالَ يٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُوا مِنْۢ بَابٍ وَّاحِدٍ وَّادْخُلُوا مِنْ اَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ؕ

او وې ویل ای زامنو ! مه داخلیږي په یوه دروازه سره او داخل سی په جلا جلا دروازو باندی

وَمَآ اُغْنِيْ عَنْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ عَلَيْهِ

او زه نه سم محفوظ کولی تاسی دالله ﷻ دڅه خبری څخه ، حکم دهیچا نسته ماسوا دالله ﷻ څخه په هغه

تَوَكَّلْتُ ۚ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَلَمَّا دَخَلُوْا مِنْ حَيْثُ

زماتوکل دی ، او په هغه توکل په کار دی ، توکل کوونکو لره ، اوهرکله چی داخل سول په هغه شان

اَمَرَهُمْ اَبُوْهُمْ ؕ مَا كَانَ يُغْنِيْ عَنْهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ اِلَّا حَاجَةً

چی ویلی وو د دوی پلار هیڅ یی نه سو محفوظ کولی دوی لره ، دالله دڅه خبری څخه مګر یو خواهش وو .

Maktaba Tul Ishaat.com

فِیْ نَفْسِ یَعْقُوْبَ قَضٰىهَا ؕ وَاِنَّهٗ لَذُوْ عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنٰهُ وَلٰكِنَّ

دیعقوب ﷺ په زړه کې نو پوره سو ، اوهغه خبردار وو په هغه څه چې مونږ ښوولی وو ده ته اولیکن

اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٦٨﴾ وَلَمَّا دَخَلُوْا عَلٰى يُوْسُفَ اٰوٰٓى

دیر خلق نه پوهیږي ، اوهرکله چې داخل سول یوسف ﷺ ته په خپله خوا کې

اِلَيْهِ اَخَاهُ قَالَ اِنِّيْٓ اَنَا اَخُوْكَ فَلَا تَبْتَىِٕسْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٦٩﴾

یې وساتلو خپل ورور لره وې ویل ، بیشکه زه ستا وروریم نوغم مه کوه ، په هغو کارونوکوم چې دوی کړي دي

لنډتفسیر: او (دتللو په وخت) یعقوب ﷺ دوی ته وفرمایل ای زمازامنو (هرکله چې مصرته ورسیږی نو) ټول په یوه دروازه مه ورځی بلکه په جلا جلا دروازه ورسی او (دا محض یوظاهری تدبیردی دخینو بدو خبرو مثلاً بدنظر وغیره څخه محفوظ کیدو باقی) دخدای حکم زه ستاسی څخه نسم منع کولای ، حکم بس دالله ﷻ (چلیدونکی) دی (سره ددی ظاهری تدبیره په زړه سره) په هغه باور لرم اوپه هغه باندی بارو لرونکو ته باور ساتل په کار دی (یعنی تاسو هم په هغه باور ساتی پر تدبیر نظر مه کوی غرض دا چې ټول رخصت سول ولاړل) اوهرکله چې (مصرته ورسیدل) څنګه چې د دوی پلار ویلی وه (هغه ډول ښارته دننه دا خل سول نو دپلار ارمان پوره سو (باقي) د دوی دپلار (په دی تدبیر ښوولو) د دوی څخه دخدای حکم ګرځول مقصود نه وو (ددی دپاره چې په دوی دغه قسم اعتراض یاددی تدبیر په نفع نه ورکولو سره په دوی شبه لازمه سی چنانچه په خپله دوی فرمایلی وه ، مَا أُغْنِیْ عَنْكُمْ الخ) لیکن دیعقوب (ﷺ) په زړه کی (په درجه دتدبیرکی) یو ارمان (را غلی) ووکوم چې دوی ظاهرکی او دی بیشکه لوی عالم وو په دی وجه چې مونږ ده ته علم ورکړی وو (ده دعلم خلاف تدبیر په عقیده کی حقیقي اثر کوونکي کله ګڼلي سوای صرف د دوی ددی وینا وجه عملاًدغه دیو تدبیرکول وو کوم چې جائز اوغوره دی) لیکن اکثر خلق ددی علم نه لری (بلکه په ناپوهي سره تدبیرحقیقي اثرکوونکی ګڼی په عقیده کی) اوهرکله چې دا خلق (یعني یوسف ﷺ ورونه) یوسف ﷺ ته ورسیدل (او بنیامین یې ورته پیش کی ، وی ویل چې مونږ ستادحکم موافق دی را وستی) هغه خپل ورور خپل ځان ته را وبلی (او یوازی یی ده ته) وویل چې زه ستا ورور (یوسف) یم پس دی خلقو چې څه (بدسلوکی) کړی ده ددی غم مه کوه (ځکه چې اوس مونږ الله ﷻ یوځای کړو اوس ټول غم هیرول په کار دی ، دحضرت یوسف ﷺ سره (بدسلوکی خوظاهره اومشهوره ده پاته سوه دبنیامن سره ، نو یاخو ده ته به یی هم څه تکلیف رسولی وی کنه نو دحضرت یوسف ﷺ جدایی څه دده په حق کی کم تکلیف وو ، بیا دواړو ورونو مشوره وکړه چې یو داسی صورت په کاردی چې بنیامین دحضرت یوسف ﷺ سره پاته سی . ځکه چې که دغسی بی وجهی پاته

Maktaba Tul Ishaat.com

کیږي نو ورونو دپلار سره قسم کړی دی چی دوی به یی نه پاته کوی اوناحقه جنګه به جوړه سی اوبیا که وجه هم ظاهره سی نو راز به ښکاره سی اوکه راز پټ پاته سی نو د حضرت یعقوب ﷺ غم به زیات سی چی بی دڅه وجهی څخه ولی پاته کړل سوحضرت یوسف ﷺ وفرمایل چی تدبیر خو سته مګر لږ ستا بدنامی ده بنیامین وویل چی هیڅ پروا نسته ، غرض دا چی په دوی کی دا خبره مقرره سوه اوبل خوا تولو ته یی غله ورکړه د دوی د رخصتولو سامان یی ور برابر کی،

(معلومات او مسئلې)

په ذکر سوو ایتونو کی دحضرت یوسف ﷺ د ورونو دکشر ورور سره دمصرپه سفر بیرته مصرته دتلو ذکر دی ، دا وخت حضرت یعقوب ﷺ دوی ته دمصرپه ښارکی د داخلیدو دپاره یو خاص وصیت دا وکی چی اوس تاسو یوولس ورونه هلته ځی نو دښار پر یوه دروازه ټول مه دا خلیږی ، بلکه چی ښارته ورسی نو جلا جلا ورسی او دښار په مختلفو دروازو دا خل سی ، ددی وصیت سبب دا بیره وه چی دا ټول ځوانان اوماشاء الله صحتمند ، جګ، لوړ، ښائسته اودجاه اوجلال خاوندان دی هسی نه چی خلقو ته دامعلومه سی چی داټول دیوه پلار اولاد اویو ورونه دی نودیو چا بد نظر پر ونه لګیږی اوپه دی سره دوی ته څه تکلیف ونه رسیږی یاپه جمع دا خلیدو سره ورسره څوک حسدوکی او تکلیف ورته ورسوی .

حضرت یعقوب ﷺ دوی ته دا وصیت اول وار نه وو کړی ددی دویم سفر په موقع یی ورته وکی ددی وجه غالباً دا ده چی اول وار خو دا خلق مصرته دمسافرانو اوبدحالو په صورت کی دا خل سوی وه ، نه چادوی پیژندل اونه ورته دچاد زیات توجه بیره وه ، مګر په اول سفرکی دمصر باچا د دوی غیرعادی عزت وکی چی په دی سره دوی دحکومت په ارکانو او دښار په خلقوکی مشهور سول ، نو اوس دا خطره قوی سوه چی دچا بد نظر پرونه لګیږی یا ورسره څوک حسد ونه کړی ، دا رنګه دا پیره دبنیامین کشر زوی د دوی سره کیدل هم دپلار دپاره دنور زیات توجه ورکولو سبب سو .

(دبد نظر اثر حق دی)

ددې څخه معلومه سوه چی د انسان نظر لګیدل اوپه دی سره یوبل انسان یاحیوان وغیره ته تکلیف رسیدل حق دی محض جاهلانه وهم اوخیال نه دی په دی وجه دحضرت یعقوب ﷺ سره ددی فکر سو.

رسول ﷺ هم ددې تصدیق فرمایلی دی په یوحدیث کي دی چی بدنظر یو انسان قبر ته او اوښ کټوی ته رسوی په دی وجه رسول الله ﷺ دکومو شیانو څخه چی پناه غوښتی ده او امت ته یی دپناه غوښتو تلقین کړی دی ، په دی کي ، مِنْ کُلِّ عَیْنٍ لَامَّةٍ : هم ذکر دی ، یعنی زه پناغواړم دبدنظرڅخه (قرطبی)

په صحابه کراموکی د ابو سهیل بن حنیف واقعه مشهوره ده چی ده په یوه ځای کی دغسل کولو دپاره کالی وکښل نو دده پر سفین رنګه تندرست بدن باندی دعامربن ربیعه نظر ولګیدی او دده د ژبی څخه ووتل ماخو ترننه پوری دومره ښایسته بدن دهیچانه دی لیدلی ددی ویناسره فوراً پر اسهل بن حنیف تبه راغله نبی کریم ﷺ چی ددی څخه خبر سو نو دا علاج یی منتخب کی چی عامر بن ربیعه ته یی حکم وکی چی دی دي اودس وکړی او د او دوس اوبه دی په لوښی کي تولی کړی اودغه اوبه دې دسهل بن حنیف پربدن واچول سی داسی یی وکړل نو فوراً وغوریده او دی بالکل تندرست سو اوپه کوم مهم چی دنبی

کریم ﷺ سره تلی په هغه روان سو، په دی واقعه کی دوی عامر بن ربیعه ته دا خبرداری هم وفرمایل.
عَلاَمَ یَقْتُلُ اَحَدُکُمْ اَخَاهُ هَلاَّبَرَّکْتَ اِنَّ الْعَیْنَ حَقٌ: یو سړی خپل ورور قتل کوی تا داسی ولی ونه کړل چی کله دده بدن تا ته په نظر ښه درغلی نو چی دبرکت دعادی کړی وای دنظر اثر کیدل حق دی.
ددې حدیث څخه معلومه سوه چی هرکله یوچاته دچاپه تن بدن یامال وغیره کې څه ښه والی په نظر ورسی نو ده ته په کار دي چې دهغه دپاره دا دعاوکړي چی الله ﷻ دی په کی برکت واچوي په ځینې روایتونوکی دي چې (ماشاء الله لاقوة الابالله) دی ووایي، په دی سره به دبد نظر اثر ولاړسی او دا هم معلومه سوه چی دچا بدنظر چاته ولګیږي نو دی دنظري بنده دلاس اوپښو او مخ مینځلو اوبه دی پر هغه واچوي نو دبد نظر اثر به لیري سی.
قرطبی فرمایی دامت دټولو عالمانو اهل سنت والجماعت په دی اتفاق دی چی بدنظرلګیدل اوپه دی سره نقصان رسیدل حق دی.
حضرت یعقوب ؑ یوطرف ته خو دبدنظر یادحسد دبیري څخه اولاد ته دا وصیت وفرمایي چی ټول یوځای په یوه دروازه ښار ته مه دا خلیږي بل طرف ته یی دیوه حقیقت اظهار هم ضروري وګڼي، دکوم څخه چی دغفلت په وجه په داسی معاملوکی ډیرعوام دجاهلانه خیالاتو او وهمونو ښکارکیږي هغه دا چی دبدنظر تاثیر دیو انسان په جان اومال کی یو قسم مسمریزم دی اوهغه داسی دی لکه مُضره دوا یا خوراک چی انسان مریض کوي دګرمي او یخ د اثر څخه مریضی پیدا کیږي، دغه ډول دبدنظریامسمریزم تصرفات هم ددې اسبابو عادیه وو څخه دي چی دنظر یاخیال په قوت سره ددې اثار ظاهریږي، په دی کی په خپله څه حقیقي تاثیر نه وي بلکه دعالم ټول اسباب دحق جل شانه دکامل قدرت او رضا او ارادي تابع دي، دخدای دتقدیر په مقابله کی نه څه فائده مند تدبیر فائده ورکولای سی، نه مضر تدبیر ضرر رسولای سی په دی وجه ارشاد فرمایي.

وَمَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ: یعنې دبد نظرڅخه دمحفوظ کیدو چی کوم تدبیرونه ماښوولي دي زه پوهیږم چی دغه دالله ﷻ رضا او اراده نه سی منع کولای حکم خو صرف دالله ﷻ چلیږي، البته انسان ته دظاهري تدبیرکولوحکم دی، په دی وجه دا وصیت یی وکی مګر زما باور پردی تدبیر باندی نه دی بلکه پرالله ﷻ می اعتماد دی اوهرسړی ته دا لازمه ده چی پرده اعتماد او بروسه کوي او پرظاهري او مادي تدبیرونو باور نه کوي.
حضرت یعقوب ؑ چی دکوم حقیقت اظهار وفرمایي اتفاقاً وسوه هم څه داسی چی په دی سفرکی هم بنیامین په حفاظت سره دبیرته را وستو دټولو تدبیرونو کولو باوجودټول شیان ناکامه سول اوبنیامین په مصرکی پاته کړل سو چی ددې په نتیجه کی حضرت یعقوب ؑ ته یوه بله سخته صدمه ورسیده، د دوی دتدبیر دناکامه کیدو کوم چی په راتلونکی ایت کی دی ددې مقصد دا دی چی د اصل مقصدپه لحاظ سره تدبیرناکامه سو، که څه هم دبدنظره یاحسدوغیره څخه دمحفوظ کیدو تدبیرکامیاب سو ځکه چی په دی سفرکی څه داسی واقعه پیښه نه سوه مګرپه تقدیرالهی سره چی کومه واقعه پیښیدونکی وه، دغه طرف ته دحضرت یعقوب ؑ نظر نه ولاړ او نه یی دهغه دپاره څه تدبیر وکی

مگر ددې ظاهري ناکامي باوجود دده دتوکل په برکت سره دا دوهمه صدمه د اولی صدمې هم علاج ثابت سو، او ډیرعافیت اوعزت سره یې اخرکار دحضرت یوسف ﷺ اوبنیامین دواړو سره ملاقات نصیب سو

ددې مضمون بیان ددې ځخه په وروسته آیت کی داسی راغی چې زامنودپلارحکم ومني دښارپه مختلفو دروازو مصرته دا خل سول، نو دپلار ارمان پوره سو د دوی دی تدبیر دالله ﷻ ځه حکم نه سوای منع کولای مگر دحضرت یعقوب ﷺ دپلار والی دشفقت تقاضاوه، کومه چې دوی پوره کړه.

ددې آیت په آخرکی دحضرت یعقوب ﷺ مدح په دې الفاظو کی سوی ده، اِنَّهُ لَذُو عِلْمٍ لِمَاعَلَّمْنَاهُ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَايَعْلَمُونَ : یعنی حضرت یعقوب ﷺ لوی علم والا وو، ځکه چې ده ته مونږ علم ورکړی وو، مطلب دا دی چې دعاموخلقو په ډول دده علم کتابي اوپه کسب حاصل سوی نه وو، بلکه بې له ځه واسطې ځخه دخدای ﷻ ورکړه وه په دی وجه د دوی ظاهري تدبیرکوم چه شرعاًروا اوښه ووهغه یې خو وکی مگرپه دی یې باورونه کی مگرډیرخلق ددې خبري په حقیقت نه پوهیږي اوپه ناپوهی سره دحضرت یعقوب ﷺ په باره کی په داسی شبهاتوکی اخته کیږي چې دا تدبیرونه دپیغمبر دشان سره مناسب نه وه.

ځینی تفسیر لیکوونکي فرمایی چې د اولني لفظ دعلم ځخه مراد دعلم په مقتضاعمل کول دي اومطلب دا دی چې مونږ کوم علم ده ته ورکړی دی په هغه عمل کوونکی او پابند وو، په دی وجه پرظاهري تدبیرونو یې باور ونه کړی، بلکه اعتماد او باور یې صرف پرالله ﷻ باندی وفرمایي.

وَلَمَّادَخَلُواعَلَى يُوسُفَ آوَى إِلَيْهِ أَخَاهُ قَالَ إِنِّي أَنَاأَخُوكَ فَلَاتَبْتَئِسْ بِمَاكَانُوايَعْمَلُونَ : یعنی هرکله چې دمصرښارته درسیدو ځخه وروسته دا ټول وروڼه دحضرت یوسف ﷺ په دربارکی حاضر سول اوهغه ولیدل چې دوی دوعدې مطابق دده حقیقي ورور هم دځان سره را وستلی دی، نوحضرت یوسف ﷺ خپل حقیقي ورور بنیامین خاص دځان سره پاته کی، دتفسیر امام قتاده فرمایې چې ددې ټولو ورونو د اوسیدو حضرت یوسف ﷺ داسي انتظام کړی وو چې په دوه تنه یې ورته یوه یوه کمره ورکړی وه، نو بنیامین یوازې پاته سو نو دی یې دځان سره پاته کی، هرکله چې دوی دواړه یوازې سول نوحضرت یوسف ﷺ خپل حقیقي ورور ته راز ښکاره کړی او وې ویل چې زه ستاحقیقي ورور یوسف یم اوس ته هیڅ فکرمه کوه اوځه چې دی ورونو تر اوسه پوری کړي دي په هغه مه پریشانه کیږه.

احکام اومسئلې : د ذکر سوو دوو آیتونو ځخه څو مسئلې او احکام معلوم سول.

اول : دا چې بدنظرلګیدل حق دی ددې ځخه دمحفوظ کیدو تدبیر کول داسی جائز اوغوره دی لکه ځنګه چې دضرر رسوونکو خوراکونو اوکارونو ځخه دمحفوظ کیدو تدبیرکیږي.

دوهم : دا چې دخلقو دحسد ځخه دمحفوظ کیدو دپاره دخپلو خاصو نعمتونو اوصفتونو دخلقوځخه پټول صحیح دي.

دریم: دا چې دضرر رسوونکو شیانو ځخه دمحفوظ کیدو دپاره ظاهري اومادي تدبیرونه کول دتوکل او دانبیاء علیهم السلام دشان ځخه خلاف نه دی.

ځلورم: دا هرکله چې یوسړي ته دبل سړي یوکمال یانعمت تعجب ناک معلوم سی اوخطره پیداسی چې

Maktaba Tul Ishaat.com

ده ته به بدنظر ولګیږي ، نو پرده واجب دی چې په لیدو سره یې (بَارَکَ اللّٰهُ) یامَاشَاءَ اللّٰهُ ووایي چې بل ته څه تکلیف ونه رسیږي.

پنځم : دا چې هرکله یوسړي دبل سړي په باره کی دڅه تکلیف رسیدو بیره وي نو غوره دا ده چې هغه خبر کړي او دبیري څخه دمحفوظ کیدو ممکن تدبیر ورته وښیي لکه حضرت یعقوب ﷺ چې وکړل.

شپږم : دا چې دنظر څخه دمحفوظ کیدو دپاره هرممکن تدبیرکول جائزدی ، په دی کی یو دا هم دی چې په څه دعا اوتعویذ وغیره سره علاج وکړل سی لکه نبي کریم ﷺ چې دحضرت جعفر بن ابي طالب دوه زامن کمزوري ولیدل نو ددې اجازه یې ورکړه چې په تعویز وغیره سره د دوی علاج وکړي.

اوم : دا چې دهوښیار مسلمان کار دا دی چې په هر یوه کار کی اصل باور خو پرالله ﷻ ساتي مګر ظاهري او مادي اسباب هم دپامه نه غورځوي چې جائز اسباب دخپل مقصد دحاصلولو دپاره دده په اختیارکی وي دهغوی په کار را وستلوکی کوتاهي نه کوي لکه حضرت یعقوب ﷺ چې وکړل او نبی کریم ﷺ هم ددې تعلیم فرمایلي دي. مولانا روم فرمایلي دي.

بر توکل زانوئی اشتر به بند

یعنی د اوښ زنګون وتړه نو بیایی توکل ته وسپاره

دا دپیغمبرانو توکل او د رسول سنت دی.

اتم : دا چې دلته یو سوال دا پیداکیږي چې حضرت یوسف ﷺ خو دخپل کشر ورور را وستو دپاره هم کوشش او تاکید وکی اوبیاهرکله چې دی راغلی نو راز یې ورته هم ښکاره کی مګر دپلار د رابللو یې نه څه فکر وکی اونه یې دخپل خیریت څخه دخبرولو څه قدم پورته کي ، ددې وجه هغه ده کومه چې مخکې بیان سوي ده چې په دی پوره خلویښت کاله کی ډیري موقعی وې چې ده پلار دخپل حال اوخیریت څخه خبر کړي وای لیکن دا څه چې وسوه په حکم دتقریر او دوحي په اشارو وسوه تر اوسه دالله ﷻ دطرفه څخه ددې اجازه نه وه شوی چې دی خپل پلار دخپلو حالاتو څخه خبردارکړي ، ځکه چې اوس لاهم یوبل امتحان دبنیامین دجدایی په ذریعه کیدونکی ووهغه دپوره کولو دپاره دا ټول صورتونه پیداکړل سوه.

فَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ السِّقَايَةَ فِي رَحْلِ أَخِيهِ ثُمَّ أَذَّنَ

نو هرکله چې تیاري یې کی د دوی دپاره اسباب د دوی کښیښوده یې پیاله دابو په اسباب دخپل ورورکی بیا اواز

مُؤَذِّنٌ أَيَّتُهَا الْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ ﴿٧٠﴾ قَالُوا وَأَقْبَلُوا عَلَيْهِمْ مَاذَا

وکی اوازکونکی ای دقافلی خلقو ! تاسی خامخا غله یاست ، وې ویل او مخ یې کی دوی ته ستاسی څه

تَفْقِدُونَ ﴿٧١﴾ قَالُوا نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ وَلِمَنْ جَاءَ بِهِ حِمْلُ بَعِيرٍ

شی ورك سوی دی ، وې ویل مونږ نه مومو دباچا پیمانه نو هغه ته به یو بار د اوښ ورسیږي

وَأَنَا بِهِ زَعِيمٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوا تَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُمْ مَا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِي الْأَرْضِ

اوزه ددې ضامن يم ، وې ويل قسم دی په الله چې تاسی ته معلومه ده چې مونږ فساد کولولره نه يوراغلی په مځکه

وَمَا كُنَّا سَارِقِينَ ﴿٧٣﴾ قَالُوا فَمَا جَزَاؤُهُ إِنْ كُنْتُمْ كَاذِبِينَ ﴿٧٤﴾ قَالُوا

کی اونه مونږ هيڅکله غله يو ، وې ويل بيا څه سزا ده هغه که تاسی وختلاست درواغجن ، وې ويل

جَزَاؤُهُ مَنْ وُجِدَ فِي رَحْلِهِ فَهُوَ جَزَاؤُهُ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِي

سزا يی دا ده چی دچاپه اسباب کی بيا پيدا سی هغه به يی په بدله کی څی ، مونږ داسی سزاورکوو

الظَّالِمِينَ ﴿٧٥﴾ فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَاءِ أَخِيهِ ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا

ظالمانوته ،نوشروع يی وکړه د دوی په سامان کتلومخکې دسامان د ورور خپل څخه بيا يی اخرهغه راويستی

مِنْ وِعَاءِ أَخِيهِ ۚ كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ ۖ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي

دسامان د ورور خپل څخه ، دارنګه چم وښوو ی مونږ يوسف ﷺ ته ده هرگز نه سو اخستی خپل ورور په

دِينِ الْمَلِكِ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ ۚ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَنْ نَشَاءُ ۗ

دين ددې باچاکی مگر که څه وغواړی الله ﷻ ، مونږ درجی ورلوړوو چاته چی وغواړی.

وَفَوْقَ كُلِّ ذِي عِلْمٍ عَلِيمٌ ﴿٧٦﴾

او دهر پوه سربيره دی يو پوه.

لنډتفسير: بياهرکله چی يوسف ﷺ د دوی سامان (غله وغيره) تيارکړل نو (په خپله ياپه يو معتمد سړی)
د اوبو څښلو لوښی (چی دغه دغلي ورکولو پيمانه هم وه) دخپل ورور په اسبابوکی کښيښوده بيا(چی
دوی بارونه بارکړل روان سول نو دحضرت يوسف ﷺ په حکم د وروسته څخه) يو اواز کوونکی اواز
وکي چې ای دقافلي خلقو تاسو خامخاغله ياست دوی د دوی (تلاش کوونکو) طرف ته مخ کی وی ويل
چی ستاسی څه شی ورک سوی دی (چی دغلا مو پرمونږ باندی شک وسو) دوی وويل چی مونږ ته
دباچا پيمانه نه معلوميږي (هغه ورکه ده) اوکوم سړی چی دا (را وړي) حاضره يی کی هغه ته به يو بارغله
د اوښ (په طور د انعام) ورکړل سی (اويادا مطلب به وي چی که غل په خپله ماں راکړي نو دعفوي څخه

وروسته به انعام پیداکړي) او زه ددې (د ورکولو) ذمه واريم (غالباً دا اواز او دا وعده د انعام دحضرت یوسف ﷺ په حکم وه) دی خلقو وویل چې په خدای قسم تاسی ته ښه معلومه ده چې مونږ په ملک کی دفسادخورولو دپاره (چې غلاپه کی داخله ده) نه یو را غلی او مونږ خلق غلا کوونکی نه یو (یعنی زمونږ سره دانه ښایي) دی (لټوونکو) خلقو وویل ښه که تاسو دروغجن سواست (اوپه تاسوکی پرچاغلا ثابته سوه) نو ددې (غل) څه سزا ده دوی (دحضرت یعقوب ﷺ دشریعت موافق یی جواب ورکي چې) سزایی دا ده چې دغه دکوم سړي په اسباب کی پیدا سي ، وروسته هغه یي په خپله سزا ده (یعنی دغلا په عوض کی دي دمال خاوند دی خپل غلام جوړ کړي) مونږ خلق ظالمانو (یعنی غلوته) داسی سزا ورکوو (یعنی زمونږ په شریعت کی دا مسئله اوعمل دی ، غرض دا چې ددې خبرو په خپل مینځ کی دمقررولو څخه وروسته یی بارونه کښته کړل) بیا (دتلاشی په وخت کې) یوسف (ﷺ په خپله یاپه یومعتمدباندی) دخپل ورور د (اسبابو د) تیلی څخه مخکې دتلاشي شروع اول دنورو ورونو د (اسبابو د) تیلیوڅخه وکړه بیا (په آخرکی) دا (لوښی) یی دخپل ورور (داسبابو) دتیلی څخه را ویستی مونږ دیوسف ﷺ دخاطر دپاره دارنګه (دبنیامین دپاته کولو) تدبیر وفرمایي (وجه ددې تدبیر دا سوه چې) یوسف خپل ورور ددې باچا (دمصر) دقانون په رُو سره نه سو اخستی (ځکه چې دده په قانون کی څه وهل اوجرمانه وه ، روایت کړی دی دا طبراني دمعمرڅخه او اول په روح المعاني کی دی) مګر دا ده چې الله تعالی ته منظوره وه (په دی وجه دحضرت یوسف ﷺ په زړه کی دا تدبیر برابر سو او چونکه دا په حقیقت کی غلام جوړول نه وو بلکه دبنیامین په رضامندي سره یی دا صورت دغلامي اختیارکړی وو په دی وجه د ازاد دغلام جوړولو شبهه نه لازمیږي اوکه څه هم حضرت یوسف ﷺ لوی عالم اوعاقل وو مګربیاهم زمونږ دتدبیر ښوولو محتاج وو بلکه) مونږ چې چاته وغواړو (په علم کی) ترخاصو درجو پوری لوړوو او دټولو علم والاوو څخه زیات یولوی علم والا دی (یعنی الله ﷻ هرکله چې دمخلوق علم ناقص سو اوعلم دخالق کامل نوخامخابه هرمخلوق په خپل علم او تدبیرکی محتاج وي دخالق ، په دی وجه . کدنا ، او. الا اَنْ یَشَآءَ الله ، وویل سو ، لنډه دا ده چې هرکله دده د اسبابو څخه دغه لوښی بر آمد سو او بنیامین راوګرځول سو نو دوی ډیر شرمنده سول)

(معلومات او مسئلي)

په دی ذکر سوو آیتونوکی ددې بیان دی چې حضرت یوسف ﷺ دخپل حقیقي ورور دپاته کولو دپاره دا حیله اوتدبیر اختیار کي چې هرکله ټولو ورونو ته دقاعدي موافق غله ورکړل سوه نو دهر وروړغله پر یوه جدا جدا اوښ نوم په نوم بار کړل سوه ، دبنیامین دپاره چې کومه غله پر اوښ باره سوه په دی کی یو لوښی پټ کښیښودل سو، دی لوښي ته قرآن کریم یوځای ، سقایه، اوبل ځای ، صُواع الملک ، ویلي دي ، دسقایه معنی د اوبو لوښی او صواع هم دغه ډول لوښی ته وایي ددې دباچاطرف ته په نسبت کولو سره دومره خبره نوره معلومه سوه چې دی لوښی څه خاص قیمت اوحیثیت درلودی په ځینو روایتونوکی دی چې دا لوښی د زبرجدو جوړ وو ، ځینو دسرو اوځینو دسپینو ویلي دي، په هرحال دا لوښی کوم چې د بنیامین په اسبابوکی ایښوول سوی وو دخاص قیمتي کیدو څخه علاوه دمصر

Maktaba Tul Ishaat.com

دحکومت سره خاص اختصاص درلودی برابره خبره ده که دا چه په خپله باچا دا استعمالوي یا دا چې باچا په خپل حکم سره دا دغلې د ناپ کولو پیمانه جوړه کړې وه.

ثُمَّ اَذَّنَ مُؤَذِّنٌ اَيَّتُهَا الْعِيْرُ اِنَّكُمْ لَسٰرِقُوْنَ : یعنی څه وخت وروسته یو اواز کوونکی اواز وکي چې ای دقافلي خلقو تاسي غله یاست ، دلته دلفظ د: ثُمَّ څخه معلومیږي چې دا اواز فوراً نه وو سوی بلکه څه وخت وروسته کله چې قافله روا نه سوه نو ددې څخه وروسته دا اواز وسو ددې دپاره چې دچا گمان را نه سي چې زمونږ سره دوکه کیږي پرهرحال دی اواز کوونکی دحضرت یوسف ﷺ د ورورنو قافله غله وگرځوله.

قَالُوْا وَاَقْبَلُوْا عَلَيْهِمْ مَّاذَا تَفْقِدُوْنَ : یعنی ورونو دیوسف ﷺ د اواز کوونکو طرف ته مخ کی وې ویل چې تاسي مونږ غله گرځوي نو ووایاست چې ستاسي څه شي ورک سوی دی.

قَالُوْا نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ حِمْلُ بَعِيْرٍ وَّاَنَا بِهٖ زَعِيْمٌ : یعنی اوازکوونکوویل چې دباچالوښی ورک سوی دی اوکوم سړی چې دا راوړی هغه ته به دیوه اوښ بارغله په انعام کی ورکړل سي او زه ددی ذمه واریم؟

دلته یوسوال خو دا پیداکیږي چې حضرت یوسف ﷺ دبنیامین دخان سره دپاته کولو دپاره دا حیله ولی وکړه ، هرکله چې ده ته معلومه وه چې په پلار باندی دده دجدایی صدمه دبرداشت قابله نه وه اوس د دویم ورور دپاته کولو دویمه صدمه ورته رسول څنگه خوښوي؟

دویم سوال ددی څخه زیات مهم دا دی چې پر بی گناه ورونو دغلا الزام لگول او ددې دپاره دا دوکه کول چې د دوی په سامان کی په پټه یو شی ایږدي اوبیاپه داگه د دوی رسوایی ظاهر وي دا ټول کارونه ناجائزه دي دالله ﷺ نبی حضرت یوسف ﷺ دا څنگه خوښ کړل.

ځینی تفسیر لیکوونکي قرطبي وغیره بیان کوي چې هرکله بنیامین حضرت یوسف ﷺ وپیژندی او دی مطمئن سو نو ورور ته یې درخواست وکی چې اوس ته ماددې ورونو سره بیرته مه لیږه بلکه مادخان سره پاته کړه حضرت یوسف ﷺ اول دا عذر وکي چې که ته دلته پاته سي نو پلار ته به زیاته صدمه ورسیږي دویم ستا دخان دپاته کولو ددې څخه ما سوا بل صورت نسته چې زه پرتادغلا الزام ولگوم اوپه دی الزام کی دي گرفتارکړم او دخان سره دي پاته کړم ، بنیامین ددې ورونو دملگرتیاڅخه څه داسی زړه تنگي سوی وو چې دی ټولو خبرو ته تیار سو.

لیکن دا واقعه که صحیح هم وي خو دپلار زړه ازارول او دټولو رسوایي او دوی ته غله ویل صرف د بنیامین په راضي کیدو سره نه سي جائز کیدای او دځینو حضراتو دا توجیه چې د اواز کوونکی دوی ته غله ویل دحضرت یوسف ﷺ په علم او اجازه نه وه ، یوه بې دلیله دعوی او د واقعي دصورت په لحاظ سره بی مناسبته خبره ده دغه ډول دا تاویل چې دی ورونو حضرت یوسف ﷺ دپلارڅخه پټ کی اوخرج کړی وو په دی وجه دوی ته غله وویل سوه ، دا هم یوتاویل دی په دی وجه ددې ټولو سوالونو صحیح جواب هغه دی کوم چه قرطبي او مظهري وغیره کړي دي چې په دې واقعه کی چې څه سوي دي او ویل

Maktaba Tul Ishaat.com

سوي دي دا نه دبنيامين دخواهش نتيجه وه او نه دحضرت يوسف ﷺ دخپل تجويز بلكه دا ټول كار دالله ﷻ په حكم دهغه دبالغ حكمت ظهور وو چې په دې كې دحضرت يعقوب ﷺ ازمايش او امتحان پوره كول وو ددې جواب طرف ته په خپله دقرآن كريم په دې ايت كې اشاره موجوده ده (كذلك كدناليوسف) يعنې مونږ داسې تدبير وكې دحضرت يوسف ﷺ دپاره دخپل ورور پاته كولو.

په دې آيت كې په واضح طور سره دا حيله او تدبير الله ﷻ دخپل ځان طرف ته منسوب كړې دې ، چې دا ټول كارهركله چې دخداى ﷻ په امر سره وسو نو دې ته دناجائز ويلو هيڅ معنى پاته نه سوه ددې مثال داسې دې لكه دحضرت موسى او دحضرت خضرعليهم السلام په واقعه كې دكښتې سورى كول دهلك قتلول وغيره كوم چې په ظاهره ګناه وه په دې وجه حضرت موسى ﷺ بد وګڼل مګر خضر ﷺ دا ټول كارونه په اذن دخداى ﷻ تر خاصو مصلحتونو لاندې كول په دې وجه دده څه ګناه نه وه.

قَالُوا تَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُمْ مَا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِي الْأَرْضِ وَمَا كُنَّا سَارِقِينَ :يعنې هركله چې سركاري اوازكوونكى پر ورونو دحضرت يوسف ﷺ دغلا الزام ولګوي ، نو دوى وويل چې دحكومت اركان هم زمونږ دحالاتوڅخه خبر دي چې مونږ ديو فساد كولو دپاره دلته نه يو راغلى او نه مونږ غله يُو.

قَالُوا فَمَا جَزَاؤُهُ إِنْ كُنْتُمْ كَاذِبِينَ : يعني شاهي نوكرانو وويل چې كه تاسو دروغجن ثابت سي نو واياست چې دغله سزا څه ده ؟

قَالُوا جَزَاؤُهُ مَنْ وُجِدَ فِي رَحْلِهِ فَهُوَ جَزَاؤُهُ كَذَلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ : يعني ديوسف ﷺ ورونو وويل چې دچا په سامان كي دغلامال پيداسى هغه سړى په خپله ددې جزا ده ، مونږ غلو ته داسې سزا وركوو.

مطلب دا دې چې دحضرت يعقوب ﷺ په شريعت كي دغله سزا دا ده چې دكوم سړي مال غلا سوي دى دغه سړى دې غل خپل غلام جوړكړي ، سركاري نوكرانو دغه ډول دحضرت يوسف ﷺ د ورونو څخه د غلا سزا دحضرت يعقوب ﷺ دشريعت مطابق معلومه كړه دوى يې ددې پابندكړل چې كه دبنيامين په سامان كي دغلا مال پيداسي نو دوى به دخپلي فيصلي مطابق بنيامين حضرت يوسف ﷺ ته په سپارلو مجبوره سي.

فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَاءِ أَخِيهِ : يعنى سركاري لټون كوونكو پر اصلي سازش باندې دپردې اچولو دپاره اول دټولو ورونو دسامان تلاشي واخسته اول يې دبنيامين سامان ونه لټوى چې ددوى شك پيدا نه سي.

ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا مِنْ وِعَاءِ أَخِيهِ : يعنى په آخركې يې دبنيامين سامان خلاص كي نو ددې څخه يې دباچا لوښى را ويستى ، دغه وخت دټولو ورونو څټونه دشرم څخه كښته سول اوبنيامين ته يې سختي بدي ردي وويلي چې تا زمونږ مخ تور كي.

كَذَلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ الْمَلِكِ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ : يعنى دغه ډول مونږ تدبير وكي ديوسف ﷺ دپاره ، ده خپل ورور دمصر دباچاترقانون لاندې نه سو ګرفتارولاى ، ځكه چې دمصرقانون دغله متعلق دا وو چې غل ته دوهلو سزا وركي اوغلا كړي مال دوه چنده ورڅخه وصول كي او پرېښودل سي ، مګر دوى دلته دحضرت يوسف ﷺ د ورونو څخه دغل حكم ديعقوب ﷺ دشريعت مطابق معلوم

Maktaba Tul Ishaat.com

کړي وو. ددې په رو سره دبنیامین دځان سره پاته کول صحیح سوه دغه ډول دالله ﷻ دحکمت او رضامطابق دحضرت یوسف ﷺ مراد هم پوره سو.

نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَنْ نَشَاءُ وَفَوْقَ كُلِّ ذِي عِلْمٍ عَلِيمٌ : یعني مونږ چې دچاغواړو درجې لوړ وو لکه په دی واقعه کی چی دحضرت یوسف ﷺ درجې ده د ورونو په مقابله کی مونږ لوړي کړي ، او پر هرعلم والا سربیره ده څخه زیات علم والا موجود دی.

مطلب دا دی چی په مخلوق کی مونږ دعلم په اعتبار سره ځینو ته پرځینو لوړوالی ورکړی دی ، دلوی څخه دلوی عالم په مقابله کی یوڅوک ده څخه زیات علم لرونکی وي ، اوکه یو سړی وي چی په ټول مخلوقاتو کی څوک ده څخه زیات علم نه لري نو بیا درب العزت ﷻ علم خو دټولو څخه لوړ دی.

(احکام او مسئلي)

ددې ذکر سوو آیتونو څخه څو احکام او مسئلې حاصلی سوی چی دا لاندی دي.

اول : د آیت «وَلِمَنْ جَاءَ بِهِ حِمْلُ بَعِيرٍ» څخه ثابته سوه چی په یومعین کارکولوباندی څه اجرت یا انعام مقررول عام اعلان کول چی کوم سړی دا کار وکي هغه ته به دومره انعام یا اجرت ورکړل سي ، لکه د اشتهاري مجرمانو په گرفتارولو یا د ورک سوو شیانو په بیرته راوړلو دغه شیان د انعامي اعلانونو په عام طور سره رواج دی ، که څه هم دمعاملي پردي صورت باندی دفقهي د اجاري تعریف نه راځي مگر ددې آیت په رو سره ددې هم جواز ثابت سو (قرطبي)

دویم: د «أَنَا بِهِ زَعِيمٌ» څخه معلومه سوه چی یوسړی دبل سړی دطرف څخه دمالي حق ضامن کیدای سی او ددی صورت حکم دجمهورو فقهاؤ د امت په نزد دا دی چی دحق خاوندته اختیار وي چی دی خپل مال د اصل قرضداري څخه یا ضامن څخه دهر یوه څخه چی غواړي وصولولای سی ، البته که دضامن څخه وصول سي نوضامن حق لري چی څومره مال ده څخه اخستل سوی دی هغه د اصل قرضدار څخه وصول کړي (قرطبي خلاف دی په کی امام مالک رحمه الله لره)

دریم : «كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ» څخه معلومه سوه چی دیوشرعي مصلحت پربناباندی دمعاملی په صورت کی یو داسی تبدیلي اختیارول چی احکام په بدل سی کوم ته چی دفقهاؤ په اصطلاح کی شرعي حیله ویل کیږي دا شرعاًجائزدی . شرط دا دی چی په دی سره دشرعي احکام باطلوالی لازم نه راځي ، کنه نو داسی حیلي په اتفاق دفقهاؤ حرامي دي لکه د زکوة څخه دخلاصیدو دپاره څه حلیه کول یادرمضان څخه مخکي یوغیر ضروري سفر صرف په دی وجه اختیارول چی د روژي نه نیول گنجائش راووزي دا په اتفاق سره حرام دی په داسی حلیه کولو سره پرځینو قومونو دخدای ﷻ عذاب را غلی دی اونبی کریم ﷺ دداسی حیلو څخه منع فرمایلی ده اوپه اتفاق د امت حرامي دي ، په داسی کولوسره یو کارجائز کیږي نه ، بلکه دوه چنده گناه لازمیږي یو د اصل ناجائزکار دویم ددې ناجائزي حیلي کومه چی په یوحیثیت دالله ﷻ اودهغه درسول سره چل بازي کول دي ددغه ډول حیلو ناجائزوالی امام بخاري رحمه الله په کتاب الحیل کي ثابت کړي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالُوٓا۟ إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُۥ مِن قَبْلُ ۚ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِى نَفْسِهِۦ

وې ويل كه ده غلا وكړه نو غلا كړې وه ده ورور هم ددې څخه مخكې ، نو په پټه وويل يوسف عليه السلام په خپل زړه كې

وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ۚ قَالَ أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۖ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ﴿٧٧﴾ قَالُوا۟ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْعَزِيزُ إِنَّ

اودوى ته يې ښكاره نه كړه وې ويل تاسې بد ترياست په درجه كې او الله ښه پيژني كوم چې تاسې بيانوى وې ويل

لَهُۥٓ أَبًا شَيْخًا كَبِيرًا فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُۥٓ ۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٧٨﴾

چې اې عزيزه ! دده يو پلار دى ډير بوډا د زيات عمر، نو ونيسه يو تن زمونږ څخه دده په ځاى مونږ وينو تا
احسان كونكى

قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ أَن نَّأْخُذَ إِلَّا مَن وَجَدْنَا مَتَٰعَنَا عِندَهُۥٓ إِنَّآ

وې ويل په الله پناه چې مونږ ونيسو مگر دچا سره چې موندلى دى مونږ خپل شى ، نو مونږ

إِذًا لَّظَٰلِمُونَ ﴿٧٩﴾ فَلَمَّا ٱسْتَيْـَٔسُوا۟ مِنْهُ خَلَصُوا۟ نَجِيًّا ۖ قَالَ كَبِيرُهُمْ

به خامخابى انصافه سو، بيا چې هركله نا اميده سول دده څخه يوازې كښينستل مشورې ته وې ويل د دوى مشر

أَلَمْ تَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ أَبَاكُمْ قَدْ أَخَذَ عَلَيْكُم مَّوْثِقًا مِّنَ ٱللَّهِ وَمِن

ايا تاسې ته معلومه نه ده چې ستاسې پلار اخستى دى تاسې څخه عهد دالله او ددې

قَبْلُ مَا فَرَّطتُمْ فِى يُوسُفَ ۖ فَلَنْ أَبْرَحَ ٱلْأَرْضَ حَتَّىٰ يَأْذَنَ لِىٓ

څخه مخكې چې كوم قصوركړى دى تاسې ديوسف په حق كې نوزه هرگزنه ځم ددې ملك څخه ترڅو چې حكم وكي

أَبِىٓ أَوْ يَحْكُمَ ٱللَّهُ لِى ۖ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿٨٠﴾ ٱرْجِعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَبِيكُمْ

ما ته زما پلار يا فيصله وكړي الله زما په حق كې او هغه دټولو څخه ښه فيصله كونكى دى بيرته ولاړسى خپل
پلار ته .

فَقُولُوا۟ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّ ٱبْنَكَ سَرَقَ وَمَا شَهِدْنَآ إِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَمَا

او وواياست چې اې پلاره زمونږه ستازوى غلا وكړه ، او مونږ هغه ويلي وو كوم چې مونږ ته علم وو او مونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

كُنَّا لِلْغَيْبِ حٰفِظِيْنَ ﴿٨١﴾ وَسْئَلِ الْقَرْيَةَ الَّتِيْ كُنَّا فِيْهَا وَالْعِيْرَ

دغیبو خبره نه سوه معلومولی ، اوپوښتنه وکړه دهغه کلی ښخه چی مونږ په کی وو ، او دهغه قافلی

الَّتِيْٓ اَقْبَلْنَا فِيْهَا ۭ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿٨٢﴾

ښخه په کومه کی چی مونږ را غلو او مونږ بیشکه رښتیا وایو .

لنډتفسیر: وي ویل چی (صاحبه) که ده غلاوکړه نو (تعجب نه دی ځکه چی) دده یو ورور (وو هغه) هم دغه ډول ددې ښخه مخکې غلاکړی وه (چی قصه یی په دُرمنثورکی داسی لیکلی ده چی دحضرت یوسف ﷺ تربیت دده عمه کوي ، هرکله چی هوښیار سو نوحضرت یعقوب ﷺ یی بوتلل وغوښتل دعمه سره یی مینه ډیره وه ، غوښتل یی چی دی پاته سي په دی وجه دی دده دملا ښخه جامولاندی یو پټکی وتړي او مشهوره یی کړه چی پټکی ورک سو او دټولو تلاشي یی واخسته ، نو دده سره پیداسو او ددې شریعت دقانون مطابق دي دعمه سره پاته سو ترهغه پوری چی عمه یی وفات سوه بیاهلته حضرت یعقوب ﷺ را وستی اوممکنه ده چی دا دغلام کولو صورت هم دحضرت یوسف ﷺ په رضامندی سره سوی وي ، په دی وجه دلته هم د ازاد غلام جوړول لازم نه سو اوکه هرڅومره په قرینو اودحضرت یوسف ﷺ په اخلاقوکی دلږ فکرکولو ښخه دده برائت ددې کارښخه یقیناًمعلوم وو مګربنیامین ته چی وړونه غصه وه په دی کی یی دا خبره هم وکړه) وروسته یوسف ﷺ دا خبره (کومه چی مخ ته راغلې) په خپل زړه کی پټه کړه او دا یی د دوی په مخکې (په ژبه سره) ظاهره نه کړه یعنی (په زړه کی یی) داسی وویل چی (دغلا) په (دی) درجه کی تاسی نورهم زیات ناکاره یاست (یعنی مونږ دواړو ورونو په حقیقت کی غلانه ده کړی اوتاسو دومره لوی کار کړی دی چی خلق مال غانبوی تاسی بنی آدم غانب کی چی زه مو دپلار ښخه جلا کړم اوظاهره ده چی دبنی آدم غلاکول دمال دغلاښخه زیات سخت جرم دی) اوڅه چی تاسی بیانوی (چی مونږ ته غله وایاست) ددې (دحقیقت) الله ﷻ ته ښه علم دی (چی زمونږ دواړو ورونو متعلق) مونږغله نه یو ، هرکله چی ورونو ولیدل چی ده بنیامین ونیوی اوقابض سو پر، نو په زاریو سره یی وویل ای عزیزه دده (بنیامین) یو ډیر بوډا پلار دی (او دده سره یی ډیره مینه ده په دی غم کی به یی خدای ﷻ خبرښه حال وي ، او زمونږ سره یی دومره محبت نسته) وروسته ته (داسی وکړه چی) دده پرځای زمونږ سره یوپاته کړه (اوخپل غلام یی جوړکړه) مونږ تانیک خویه ګڼو (امید دی چی دا درخواست به منظور کړې) یوسف ﷺ وویل دداسی (بی انصافی د) خبرې ښخه دی خدای ﷻ امان را کړې چی دچاسره مونږ خپل شی پیداکړی دی دهغه ښخه ماسوا بل څوک ونیسو (که مونږ داسی وکړو نو) په دی حالت کی به خو مونږ ډیر بی انصافه سو (دیو آزاد سړی ښخه غلام جوړول او دغلامانو په شان معامله ورسره کول دده په رضامندی سره هم حرام دی) بیا چی هرکله د دوی دیوسف ﷺ ښخه (دده دصفاجواب په سبب) بالکل امیدپاته نه سو (چی بنیامین به راکړې) نو (ددې ځای ښخه) جلا سول

Maktaba Tul Ishaat.com

مشوره یې وکړه (چې څه کول په کار دي؟ بیادزیاتو رایه دا سوه چې مجبوري ده تولو ته بیرته تلل په کار دي ، مګر) په دې تولوکې چې کوم مشر وو هغه وویل چې (تاسې تول چې دبیرته تلو صلاح کوې نو) آیاتاسې ته معلومه نه ده چې ستاسې پلارستاسې څخه په خدای قسم او پوخ قول اخستی دی (چې تاسې به دې دځان سره را ولې لیکن که تول ګیر سواست نومجبوري ده پس مونږ خوتول ګیر سوی نه یو چې دتدبیر ګنجائش نه دی پاته په دې وجه ترممکنه حده پورې څه تدبیر کول په کار دي) او تردې مخکې دیوسف ﷺ په باره کې څومره کوتاهي تاسو کړې ده (چې دده سره کوم سلوک سوی دی په دې سره دپلار حقونه بالکل ضائع سول پس دغه پخوانی شرمندګی څه کمه ده چې یوه نوي شرمندګي جوړ وي) پس زه خو ددې مخکې څخه نه جلاکیږم تر څو پورې چې زماپلار ماته (دحاضریدو) اجازه ونه کړه یا الله ﷻ دا مشکل حل کړي اوهغه ښه حل کوونکی دی (یعنی په یوتدبیره سره بنیامین ازاد سي ، غرض دا چې زه به یادي بیایم یابه په بلنه باندې څم پس مادلته پریږدی او) تاسې بیرته خپل پلار ته ولاړ سی او (چې ولاړ سی هغه ته ، ووایاست ای پلار ستا زوی (بنیامین) غلا وکړه (په دې وجه ګرفتار سو) او مونږ خوهغه بیان کوو کوم چې مونږ ته (په مشاهده سره) معلوم سوی دی او مونږ (دقول او اقرار په وخت کې) دغیبو دخبرو څخه خبر نه وو (چې دی به غلاکوي که خبروای نومونږ به هیڅکله قول نه وای درکړی) اوکه (که زمونږ په وینادې یقین نه وي نو) ددې کلي (یعنې مصر) دخلقو څخه (دیومعتمد په معرفت سره) پوښتنه وکړه کوم ځای چې مونږ (دا وخت) موجود وو (هرکله چې غلا برآمد سوي ده) او ددې قافلې دخلکو څخه پوښتنه وکړه په کومه کې چې مونږ (دلته) را غلي یو (معلومیږي چې نورخلق هم دکنعان یادخوا او شا څخه دغلې اخستو دپاره تللی وه) اویقین وکړه چې مونږ بالکل رښتیا وایو (چنانچه تولو مشران هلته پاته کړل او په خپله راغلل تولو واقعه یې بیان کړه)

(معلومات اومسئلي)

ددې څخه په مخکې آیتونوکې ذکر وو چې په مصرکې دحضرت یوسف ﷺ دحقیقي ورور بنیامین په سامان کې دیوشاهي لوښي کښېښودل سو او بیا دده دسامان څخه په تدبیر سره را ویستل سو او پرده یې دغلا جرم لګولی وو .

ددې ذکر سوو آیتونو څخه په اول آیت کې دا دی چې هرکله دحضرت یوسف ﷺ د ورونو په مخکې دبنیامین دسامان څخه دغلامال را ویستل سو او دشرم څخه د دوی سترګي کښته سوی نو د ډېري غصي څخه یي وویل (اِنْ یَّسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ اَخٌ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ) یعنی که ده غلاوکړه نو څه زیات تعجب نه دی ده یو ورور وو هغه هم دغه شان ددې څخه مخکې غلا کړې وه مطلب دا وو چې دا زمونږ حقیقي ورور نه دی دپلار دطرف څخه دی ده یو حقیقي ورور وو هغه هم غلا کړې وه .

دحضرت یوسف ﷺ ورونو دغه وخت پرحضرت یوسف ﷺ هم دغلا الزام ولګوی ، په دې کی دیوې واقعي طرف ته اشاره ده کومه چې حضرت یوسف ﷺ ته په کوچنیوالي کی پیښه سوې وه خاص هم دغه شان لکه څنګه چې دلته پر بنیامین دغلا دالزام لګولو سازش وسو ، دغسي پرحضرت یوسف ﷺ په بې خبري کی سازش سوی وو، ا و دا تولو ورونو ته په ښه شان معلومه وه چې حضرت یوسف ﷺ ددې

الزام څخه بالکل بري دی ، مګر دغه وخت پر بنیامین یی دغصي په وجه دغه واقعه څه وه په دی کی روایتونه مختلف دي ابن کثیر په حواله دمحمد بن اسحاق دتفسیر د امام څخه نقل کړی دی چی دحضرت یوسف ؑ دپیدائش څخه لږ موده وروسته بنیامین پیدا سو نو دا پیدائش دمور دمرګ سبب جوړ سو، حضرت یوسف ؑ او بنیامین دواړه وړونه بی موره پاته سول نو د دوی پرورش اوساتنه دعمه په غیږکی وسوه الله ﷻ حضرت یوسف ؑ ته دکوچنیوالی څخه یو داسی شان ورکړی وو چی چابه لیدی بی حده به پر مئین کیدی دعمه یی هم دا حال وو چی یو وخت یی هم دا دځان څخه جلا کولو ته جوړه نه وه ، بل طرف ته یی دپلار بزرګوار حضرت یعقوب ؑ هم څه داسی حال وو ، مګر ډیر کوچنی وو نو ضرورت ددې خبري وو چی دیوې ښځې په نګراني کی وساتل سي په دی وجه یی عمه ته حواله کړی وو اوس چی هرکله دی د ګرځیدو قابل سو نوحضرت یعقوب ؑ اراده وکړه چی حضرت یوسف ؑ دځان سره وساتي دده عمه ته یی وویل نوهغې عذر وکي بیاپه ډیر اصرار سره چی مجبوره سوه نو حضرت یوسف ؑ یی پلار ته خو حواله کي مګر یو تدبیر یی دده دبیرته را وستلو دپاره دا کړی وو چی دعمه سره یو پټکی ووکوم چی دحضرت اسحاق ؑ دطرف څخه دی ته رسیدلی وو او دهغه ډیرقدر اوقیمت کیدای سو، دا پټکی عمه ترجامولاندی دحضرت یوسف ؑ پرملا تاو کی.

دحضرت یوسف ؑ دتلو څخه وروسته یی دا مشهوره کړه چی زما پټکی ورک سو نو تلاشي یی شروع کړه اوحضرت یوسف ؑ څخه را ویستل سو دحضرت یعقوب ؑ دشریعت دحکم مطابق اوس عمه ته دا حق پیدا سو چی دحضرت یوسف ؑ څخه خپل غلام جوړ کي ، او دځان سره یی وساتي حضرت یعقوب ؑ چی دا ولیدل چی دشرعي حکم په اعتبار سره عمه دحضرت یوسف ؑ مالکه سوه ، نو دی ته یی حواله کی اوترڅو پوری چی عمه ژوندی وه حضرت یوسف ؑ دعمه سره وو ، دا واقعه وه په کومه کی چی دغلا الزام په حضرت یوسف ؑ باندی ولګیدی او بیاهرسړی ته حقیقت دحال معلوم سو چی حضرت یوسف ؑ دغلا د ادنی شبهی څخه هم بري دی دعمه محبت ده ته په دی جال کی مبتلولی وو، وړونو ته هم دا حقیقت معلوم وو په دی بناباندی په هیڅ شان لائقه نه وه چی ده ته دغلا نسبت کولای ، مګر دده سره چی وړونو کوم زیاتوب او ناجائز توب کوی دا هم ددې یوه اخري برخه وه.

فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفْسِهِ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ: یعنی حضرت یوسف ؑ د وړونو دا خبره واوریده او په زړه کی یی وساتله چی دا خلق تر اوسه په ماپسی دی چی دغلا الزام لګوي ، مګر ددی اظهار یی پر وړونو ونه کي چی حضرت یوسف ؑ د دوی دا خبره اوریدلي ده اوڅه اثر یی ورڅخه اخستی دی.

قَالَ أَنْتُمْ شَرٌّ مَكَانًا وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ: حضرت یوسف ؑ (په خپل زړه کی) وویل چی تاسو خلق په ناکاره درجه اوبدحال کی یاست چی په ورور باندی قصداً دغلا تهمت لګوی او وي فرمایل چی الله ﷻ زیات پوه دی ، چی تاسو څه وایاست دا صحیح دی اوکه غلط اوله جمله یې په زړه کی ویلی ده ، دا دوهمه جمله ممکنه وه چی د وړونو په جواب کی یی په داګه ویلې وای.

قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ إِنَّ لَهُ أَبًا شَيْخًا كَبِيرًا فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ: دحضرت یوسف ؑ وړونوچی هر کله ولیدل چی خبره په هیڅ ډول نه جوړیږي اودبنیامین دلته دپاته کولو څخه ماسوا چاره نسته نو

Maktaba Tul Ishaat.com

دعزیز مصر خوشحاله کول یې شروع کړل او دا درخواست یې وکې چې دده پلار ډیر بوډا دی او ضعیف دی (دده جدائي به هغه برداشت نه کړل سي) په دې وجه ته دده په بدله کې زمونږ څخه بل یو ونیسه دا درخواست مونږ تاته په دې امید سره کوو چې مونږ وینو چې ته ډیر احسان کوونکی یې یا دا چې تاددې څخه مخکې هم زمونږ سره د احسان سلوک کړی دی.

قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ اَنْ نَّاْخُذَ اِلَّا مَنْ وَّجَدْنَا مَتَاعَنَا عِنْدَهٗۤ اِنَّاۤ اِذًا لَّظٰلِمُوْنَ: حضرت یوسف ﷺ دخپلو ورونو د درخواست جواب دضابطې مطابق دا وکې چې دا خبره خو زمونږ په اختیارکې نه ده چې هرڅوک غواړي ونیسو بلکه دچاسره چې دغلامال را ایستل سوی دی که دهغه څخه ماسوا بل ونیسو نومونږ به ستاسو دفتوی اوفیصلې مطابق ظالمان سو، ځکه چې تاسو ویلي دي چې دچاسره دغلامال را ویستل سي هغه ددی جزا ده.

فَلَمَّا اسْتَیْـَٔسُوْا مِنْهُ خَلَصُوْا نَجِیًّا: یعنې هرکله چې دحضرت یوسف ﷺ ورونه دبنیامین د ازادی څخه مایوسه سول، نو دمشورې دپاره په جلا ځای کې جمع سول، قَالَ كَبِیْرُهُمْ: د دوی مشر ورور وویل چې تاسو ته معلومه نه ده چې ستاسې پلارستاسې څخه دبنیامین دبیرته را وستلو پخه وعده اخیستې ده، او دا چې تاسو وړاندې هم دحضرت یوسف ﷺ په معامله کې یوه کوتاهي اوغلطي کړې ده په دې وجه زه خو اوس دمصرمځکه ترهغه وخته پورې نه پرېږدم ترڅو چې زماپلارماته په خپله ددې ځای څخه دبیرته را تلو حکم وکې یا دالله ﷻ دطرف څخه په ذریعه دوحې ما ته ددې ځای څخه دوتلوحکم ونه کړي، اوالله ﷻ غوره حکم کوونکی دی.

دا مشر ورور دکوم خبره چې بیان سوه ځینې فرمایي چې یهود دي، اودی که څه هم په عمرکې دټولو څخه لوی نه دی مگر په علم اوفضل کې لوي وو اوځینې فرمایي چې روبیل دی، کوم چې په عمرکې دټولو څخه لوی دی اودحضرت یوسف ﷺ دنه قتلولو مشوره ده ورکړې وه اوځینې وایي چې دا مشر ورور شمعون دی، کوم چې په جاه او مرتبه کې دټولو ورونو څخه مشر گڼل کیدی.

اِرْجِعُوْا اِلٰۤى اَبِیْكُمْ: یعنې مشر ورور وویل چې زه خو به دلته یم تاسې ټول خپل پلار ته بیرته ولاړ سی اوهغه ته ووایاست چې ستازوی غلا وکړه او مونږ چې څه وایو دا مونږ په سترگو لیدلي دي چې مال دده دسامان څخه زمونږ په مخکې را ویستل سو.

وَمَا كُنَّا لِلْغَیْبِ حٰفِظِیْنَ: یعنې مونږ چې کومه ستاسره وعده کړې وه چې مونږ به خامخا بنیامین بیرته را ولو دا وعده دظاهري حالتو په اعتبار سره وه دغیبو حال مونږ ته معلوم نه وو چې دی به غلا کوي گرفتاریږي به اومونږ به مجبوره کیږو، او ددې جملې دا معنی هم کیدای سي چې مونږ دخپل ورور بنیامین ښه حفاظت وکړو، چې څه داسې کار دده څخه ونه سي چې دهغه په وجه دی په تکلیف کې راسي مگر دا کوشش زمونږ تر ظاهري حالاتو پورې کیدای سی زمونږ دنظرونو څخه پناه په لاعلمی کې که دده څخه دا کار وسی مونږ ته ددی علم نه وو.

چونکه دحضرت یوسف ﷺ ورونو ددې څخه مخکې یو فریب پلار ته ورکړی وو اوپه دی باندی پوه وه

چې زمونږ په دې بيان به دېلارهيڅکله اطمينان ونه سي او دی به زمونږ په خبره يقين ونه کړي په دی وجه د زيات تاکيد دپاره يې وويل چې که ستا زمونږ په خبره يقين نه راځي نو ددغه ښار دخلکوڅخه تحقيق وکړه په کوم کی چې مونږ وو، يعنی دمصر ښار اوته دهغه قافلی څخه هم تحقيق کولای سی کومه چې زمونږ سره دمصر څخه کنعان ته راغلی ده او مونږ په دی خبره کی بالکل رښتينی يو.

په تفسير مظهري کی دلته دا سوال بيابيرته سوی دی چې حضرت يوسف ﷺ دپلارسره دومره دبي رحمی معامله څنګه خوښه کړه په خپله دخپلو حالاتو يې هم خبر ورنه کي بيايی کښر وړور هم پاته کي حال دا دی چې بار بار دا وروڼه مصرته را تلل ، نه يې ورته خپل راز ښکاره کی او نه يې پلار ته اطلاع وليږله ، ددي ټولو خبرو جواب تفسير مظهري دا ورکړی دی ، انه عَمِلَ ذالِکَ بِاَمْرِاللهِ تعالی لِيَزِيْدَفِیْ بَلاءِ يَعْقُوْبَ : يعنی حضرت يوسف ﷺ دا ټول کار دالله ﷻ په حکم سره وکي چې منشاء يي دا وه چې دحضرت يعقوب ﷺ امتحان او ازمائش پوره سي.

﴿احکام او مسئلي﴾

د ،وَمَاشَهِدْنَاالاِبِمَاعَلِمْنَا: څخه معلومه سوه چې انسان هرکله دچاسره چې معامله يامعاهده کوي نودغه په ظاهري حالاتوباندی حمل وي په داسی شيانوباندی نه حاوي کيږي کوم چې دچاپه علم کی نه وي دحضرت يوسف ﷺ وروڼو چې دپلار سره کومه وعده د وړور دحفاظت کړی وه هغه دخپلو اختياري کارونو متعلق وه او دا معامله چې پرده دغلا الزام را غلی او په دی کی ونيول سو په دی سره په معاهده څه اثر نه لويږي.

دويمه مسئله په تفسيرقرطبي کی ددی آيت څخه دا را ايستل سوی ده چې ددی جملي څخه ثابته سوه چې دشهادت مدار پرعلم دی ، علم خواه پر هره طريقه چې حاصل وي ، دهغه مطابق شهادت ورکول کيږي ، په دی وجه ديوي واقعی شهادت څنګه چې دخپلو سترګو په ليدو سره ورکول کيږي دغه شان دچامعتبر اوثقه سړي څخه په اوريدو سره هم ورکولای سی ، شرط دا دی چې اصل معامله پټوی نه ، بيان يی کړی چې دا واقعه مي په خپله نه ده ليدلی ، دفلاني ثقه سړی څخه مي او ريدلی ده ددی اصولو په بنا سره مالکي فقهاؤ د روند شهادت هم جائز کړی دی.

مسئله : د ذکر سوو آيتونو څخه دا هم ثابته سوه چې که يو سړی په حقه باندی وي مګر موقع داسی وه چې ليدونکو ته دناحق يا ګناه شبه کيدای سي نو ده ته په کار دي چې دا اشتباه ليري کړي چې ليدونکی د بدګمانی په ګناه کی اخته نه سي، لکه دبنيامين په دی واقعه کی چې دحضرت يوسف ﷺ دتيري واقعی په بنا باندی دتهمت اوشک موقع پيدا سوی وه په دی وجه ددی دصفايي دپاره دکلي دخلقو شاهدي او دقافلي دخلقو شاهدي پيش کړل سوه.

نبی کريم ﷺ په خپل عمل سره هم ددی تاکيد فرمايلي دي هرکله چې دوی صلی الله عليه وسلم دحضرت ام المؤمنين صفيه رضی الله تعالی عنهاسره دجمات څخه يوي کوځي ته تشريف وړي نو ددی کوځي په سر کی يي دوه سړي وليدل نبی کريم ﷺ دليري څخه وفرمايل چې زماسره صفيه لور ده دی دواړو حضراتو عرض وکي يارسول الله ﷺ ولي ستاسی په باره کی هم دچابد ګماني کيدای سی؟ نووي فرمايل

Maktaba Tul Ishaat.com

چي ها! شیطان دانسان په رگ رگ کي چلیږي کیدای سي چي دچاپه زړه کي شک واچوي (بخاري اومسلم، (قرطبي)

قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا فَصَبْرٌ جَمِيلٌ عَسَى اللَّهُ أَن

وي ويل داسي نه ده بلکه جوړه کړی ده ستاسي زړه يوه خبره اوس صبر غوره دی شاید چي الله راولی

يَأْتِيَنِي بِهِمْ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ﴿٨٣﴾ وَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا أَسَفَىٰ

مات دوی ټول ، هغه دی خبردار حکمتونو والا، او واپس سو ددوی څخه اووي ویل ای افسوس

عَلَىٰ يُوسُفَ وَابْيَضَّتْ عَيْنَاهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٨٤﴾

دی په یوسف اوسپیني سوی سترګی دده دغم څخه نو ده غم څښی

قَالُوا تَاللَّهِ تَفْتَأُ تَذْكُرُ يُوسُفَ حَتَّىٰ تَكُونَ حَرَضًا أَوْ

وي ویل قسم دی په الله ته نه پرېږدی یا دول دیوسف ترڅو پوري چي سی ویلی او

تَكُونَ مِنَ الْهَالِكِينَ ﴿٨٥﴾ قَالَ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي

یا سی هلاک ، وي ویل چي زه شکایت کوم دپریشانی اوغم خپل

إِلَى اللَّهِ وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨٦﴾ يَا بَنِيَّ اذْهَبُوا فَتَحَسَّسُوا

دالله په مخکي او پیژنم دالله دطرف څخه هغه چي تاسي یې نه پیژنی ، ای زامنو! ولاړ سی پس تلاش کوی

مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَيْأَسُوا مِن رَّوْحِ اللَّهِ إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ

دیوسف او دده د ورور او مه ناامیده کیږي دالله درحمت څخه ، بیشکه نه ناامیده کیږي

مِن رَّوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ ﴿٨٧﴾

دالله درحمت څخه مګر هغه خلق کوم چي کافران دي.

تفسیر: یعقوب ﷺ (دحضرت یوسف ﷺ په معامله کي ددی تولو څخه غیرمطمئن سوی وونو پر تیر بي قیاس وکي) وي فرمایل (چي بنیامین په غلا کي نه دی نیول سوی) بلکه دا تاسي په زړه کي یوه خبره

جوړه کړي ده پس (دتیر په شان) هم صبر به کوم چې دشکایت په کې نوم لاهم نه وي (زما) دالله ﷻ څخه امید دی چې دا ټول به (یعني یوسف او بنیامین اوکوم چې مشر ورور اوس په مصرکې پاته سوی دی دا دري سره به) تر ما پوری راورسوي (ځکه چې) هغه (دحال دحقیقت څخه) ښه خبر دی (په دی وجه ده ته دټولو خبر دی چې کوم کوم ځای او په څه څه حال کې دی او هغه) لوي حکمت والا دی (هرکله چې یوځای کیدل وغواړي نو په زرهاوو اسباب او تدبیرونه به برابر کړي) او (دا جواب یې ورکی په دی وجه چې د دوی څخه ورته غم رسیدلی وو) د دوی څخه یې بل طرف ته مخ کی او (په وجه ددی چې په دی نوي غم سره یې هغه زوړ غم نور تازه سو یوسف ﷺ یې یاد کی) وي ویل های ! افسوس یوسف ! او دغم څخه (په ژړا ژړا) دده سترګي سپیني سوی (ځکه چې په ډیره ژړا سره دسترګو توروالی کمیږي او سترګي بی رونقه یا بالکل بی نوره سي) او ده (غم په زړه زړه کی) خوړي (ځکه چې د ډیر غم سره چې هرکله زیات ضبط وي لکه چې دصابرینو شان دی نو دکظم کیفیت پیداکیږي) زامنو یې وویل په خدای چې (معلومیږي) ته همیشه همیشه چې دیوسف یاد کوي تردی چې ددی غم څخه مړ سي او روح دي غاړی ته راسي یا دا چې بالکل مړ سي (نو ددی غم څخه فائده څه ده؟) یعقوب ﷺ وفرمایل چې (تاسی زما په ژړا څه کوی) زه خو دخپل رنځ اوغم صرف الله ته شکایت کوم (تاسی ته خوهیڅ نه وایم) او د الله ﷻ خبري چې خومره زه پیژنم تاسی یې نه پیژنئ (دخبرو څخه مراد یاخو لطف اوکرم او رحمت تام دی یا مراد الهام دی ددی ټولو دیوځای کیدو کوم چې بلا واسطه وي یاپه واسطه دخوب دیوسف ﷺ چې تعبیر یې لا تر اوسه نه وو واقع سوی او واقع کیدل یې ضروري دی) ای زما زامنو (دغم اظهار خو صرف الله ﷻ ته کوم مسبب الاسباب هغه دی لیکن ظاهري تدبیر تاسی هم وکی چې یو واري بیا په سفر) ولاړ سي او دیوسف ﷺ او دهغه د ورور تلاش وکي (یعنی ددی فکر او تدبیر لټون وکئ چې په دی سره دیوسف پته معلومه سي او بنیامین ازاد سي) او دالله ﷻ د رحمت څخه نا امیده کیږي مه بیشکه دالله ﷻ درحمت څخه هغه خلک نا امیده کیږي کوم چې کافران دي .

(معلومات او مسئلې)

دحضرت یعقوب ﷺ دکشر زوی بیامین په مصرکې دنیولوڅخه وروسته دده ورونه وطن ته بیرته را غلل اوحضرت یعقوب ﷺ ته یې دا ټول حالات بیان کړل او یقین یې ورکوي چې مونږ په دی واقعه کی بالکل رښتیني یو ، ته ددی خبري تصدیق دمصر دخلقوڅخه هم کولای سي اوکومه قافله چې زمونږ سره دمصر څخه کنعان ته را غلی ده ددی څخه یې هم معلومولای سي چې بنیامین په غلا کی نیول سوی ، په دی وجه هغه ونیول سو حضرت یعقوب ﷺ ته چونکه دحضرت یوسف ﷺ په معامله کی د دوی درواغ معلوم سوی وه په دی وجه دا وار یې هم یقین رانه غی ، که څه هم په واقع کی دا وخت دوی څه درواغ نه وه ویلي په دی وجه پردي موقع یې هم هغه کلمي وفرمایلي کومي چې یې دحضرت یوسف ﷺ د ورکیدو په وخت کي فرمایلي وي ، بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنْفُسُكُمْ أَمْرًا فَصَبْرٌ جَمِيلٌ : یعنی دا خبره چې تاسي کوی صحیح نه ده تاسی په خپله خبره جوړه کړی ده ، مګر زه اوس هم صبرکوم دغه زماد پاره غوره دی .

قرطبي ددی څخه دا نتیجه ایستلی ده چې مجتهد کومه خبره په اجتهادسره وایي په دی کی غلطه هم

Maktaba Tul Ishaat.com

کیدای سي ، تر دی چې پیغمبر هم کومه خبره په خپل اجتهاد سره ووایي په دی کی غلطي کیدل ممکن دی لکه په دی معامله کی چې وسوه چې د زامنو رشتیا خبره یی دروغ وګرځوله مګر د انبیاؤ خصوصیت دا دی چې دوی دالله ﷻ دطرف څخه په غلطي خبرول کیږي اوډغلطي څخه اړول کیږي او آخرکار دوی حق پیدا کوي .

دلته دا هم ممکنه ده چې دحضرت یعقوب ﷺ په ذهن کی دخبري جوړولوڅخه مراد هغه خبره جوړول وي کومه چې په مصرکی جوړه سوه چې تر یوخاص غرض لاندی جعلي غلا وښوول سوه اوبنیامین ګرفتار کړل سو چې انجام یی په آئنده کی په غوره صورت کی ښکاره کیدونکي وو ددی آیت په راتلونکي جمله کی دی طرف ته اشاره هم کیدای سی چې په دی کی فرمایي ، عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاتِيَنِیْ بِهِمْ جَمِيْعًا : یعنی نژدي ده چې الله ﷻ دا ټول زماسره یوځای کړي .

لنډه دا ده چې حضرت یعقوب ﷺ خو دا وار د زامنو خبره ونه منله ددی حاصل دا وو چې په حقیقت کی نه څه غلاسوی وه اونه بنیامین ګرفتار سوی دی ، خبره یوه بله ده ، دا پر خپل ځای صحیح وه مګر زامنو چې دخپلو معلوماتو مطابق څه ویلي وه هغه هم غلطه نه وه .

وَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰۤاَسَفٰى عَلٰى يُوْسُفَ وَابْيَضَّتْ عَيْنٰهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيْمٌ : یعنی حضرت یعقوب ﷺ ددی دویمي صدمي څخه وروسته د زامنو سره په دی معامله کی خبري پریښوولي خپل رب ته یی فریاد شروع کي و او وي فرمایل چې زماسره سخت خفګان اوغم دی پر یوسف ﷺ او په دی خفګان اوغم کی یې په ژړا ژړا سترګي سپیني سوی یعنی نظر یې ختم سو یادیرکمزوری سو . دتفسیر امام مقاتل فرمایي چې دا کیفیت پرحضرت یعقوب ﷺ شپږکاله وو چې نظر یې تقریباًختم سوی وو ، فَهُوَ كَظِيْمٌ : یعنی بیا دی خاموش سو ، چاته یې خپل درد نه وایه ،کظیم : دکظم څخه جوړدی چې معنی یې بندیدل اوډکیدل دی مراد دا دی چې دغم اوخفګان څخه دده زړه ډک سو او ژبه یې بنده سوه چې چاته به یې دخپل غم او تکلیف بیان نه کوي .

په وجه د ،کظم : معنی غصه چینبل راځي ، چې دغصي څخه یې زړه ډک وي اوبیاهم په ژبه یالاسونو سره څه شي دغصي په مقتضی دده څخه واقع نه سي ، په حدیث کی دی (وَمَنْ يَّكْظِمِ) یعنی سړی چې خپل غصه وچښي او دغصي په مقتضی سره دقدرت څخه عمل ونه کړی الله ﷻ به ده ته لوی اجر ورکړي په یوحدیث کی دي چې دمحشر په ورځ به الله ﷻ داسی خلق دعام مخلوق په مخکې را ولی او دجنت په نعمتونوکی به ورته اختیار ورکي چې څه غواړي وایې خلي .

امام جریر دلته یوحدیث نقل کړی دی چې دمصیبت په وخت کی د ، اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ : ویلوتلقین ددی امت دخصوصیاتو څخه دی او دا کلمه انسان ته په غم او تکلیف کی په نجات ورکولوکی لوی اثر کوي د امت محمدیه ﷺ خصوصیت ددی څخه معلومیږي چې ددی سخت غم اوصدمي په وخت کی حضرت یعقوب ﷺ ددی کلمي پرځای (یآسفٰی علی یوسف) وفرمایل بیهقي په شعب الایمان کی هم دا حدیث د ابن عباس ﷺ په روایت سره نقل کړی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دحضرت يعقوب ﷺ ډيرمحبت دحضرت يوسف ﷺ سره ولي وو؟)

په دې مقام باندې دحضرت يعقوب ﷺ دحضرت يوسف ﷺ سره غيرمعمولي محبت او دده په ورکيدو دومره اثر چې دده په جدايۍ کې تووله موده چې دځينو روايتونو پربنا څلويښت کاله او دځينو پربنا آتيا ۸۰ کاله پرله پسې ژړل تردې چې نظر يې ختم سو، په ظاهره ددې پيغمبرانه شان سره لايقه نه ده چې د اولاد سره دومره محبت کوي، هرکله چې يې په قرآن کريم کې اولاد ته فتنه ويلي ده ارشاد دی، اَنَّمَا اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ: يعني ستاسې مال او اولاد فتنه او ازمايش دی، او د انبياء عليهم السلام شان قرآن شريف دا ښودلی دی چې، اِنَّا اَخْلَصْنَاهُمْ بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ: يعني مونږ انبياء عليهم السلام په يوه خاص صفت سره مخصوص کړي دي هغه صفت دی د آخرت دکور يادول. مالک بن دينار رحمه الله ددې معنی دا فرمايي چې مونږ د دوی د زړونو څخه ددنيامحبت ايستلی دی اوصرف د آخرت محبت مو د دوی په زړونو کې اچولی دی د دوی په نظرکې دڅه شي په اخستو ياپرېښوولو کې صرف آخرت دی.

ددې ټولو خبرو څخه دا اشکال قوي کيږي چې دحضرت يعقوب ﷺ د اولادپه محبت کې داسې مشغوليدل څنګه صحيح سو.

حضرت قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله په تفسير مظهري کې دا اشکال ذکر کړي دي او دحضرت مجدد الف ثاني يوخاص تحقيق يې نقل فرمايلي دي چې دهغه خلاصه دا ده، چې بيشکه ددنيا او ددنيـادسامان محبت بدګڼل سوی دی، په قرآن کريم اوحديث کې ددې بې شميره شواهد سته، مګر په دنياکې چې کوم شيان دآخرت متعلق دي د دوی سره محبت په حقيقت کې د آخرت سره محبت دی دحضرت يوسف ﷺ کمالات صرف دبدن ښائست نه دی، بلکه پيغمبرانه پاکدامني او ښۀ سيرت هم دی ددې ټولو خبرو په وجه سره دده محبت څه د دُنياوي سامان محبت نه وو، بلکه په حقيقت کې د آخرت محبت وو. انتهیٰ.

دلته دا خبره هم دغورقابله ده چې دا محبت که څه هم چې په حقيقت کې ددنيامحبت نه وو مګر په هرحال په دې کې يوحيثيت دنيوي هم وو، په دې وجه سره دا محبت دحضرت يعقوب ﷺ د امتحان او ازمايښت ذريعه جوړه سوه او دڅلويښتو کالو دجدايي ناقابل برداشت صدمه يې تيره کړه او ددې واقعي اجزاء او اول څخه تر اخره پورې پردې شاهد دی چې دالله ﷻ دطرف څخه څه داسې صورتونه جوړېدل چې دا صدمه په اوږديده کنه نو دا واقعي په شروع کې د دومره سخت محبت کوونکی پلارڅخه دا ممکنه نه وه چې دی د زامنو خبره واوري اوپه کورکې دي کښيني بلکه هغه ځای ته به تللی وای تفتيش او تلاش به يې کړی وای نو درک به يې لګيدلی وای، مګر دالله ﷻ دطرف څخه داسې صورتونه جوړسوه چې دغه وخت يې دې طرف ته خيال رانغی، بياحضرت يوسف ﷺ دوحي په ذريعه ددې څخه منع کړل سو چې دی دخپل حال خبرخپل پلار ته ولېږي، تردې چې دمصر دحکومت او اقتدار رسيدو څخه وروسته هم ده څه داسې قدم پورته نه کی او ددې څخه زيات صبر ازما هغه واقعات وه کوم چې بار بار دده د ورونو مصرته د راتلو متعلق پيښندل دغه وخت يې نه ورونو ته خبره ښکاره کړه اونه يې

Maktaba Tul Ishaat.com

پلارته دخبر ليږلوکوشش وکي بلکه بل ورور يې هم دځان سره ديو تدبيرپه ذريعه پاته کي اودپلارغم يې دوه چنده کي ، دا ټول شيان دحضرت يوسف ﷺ په شان ديو برګزيده پيغمبرڅخه ترهغه وخته پورې ممکن نه دي ترڅو پورې چې په ذريعه دوحی ددی څخه منع سوی نه وي په دې وجه قرطبي وغيره تفسير ليکونکی دحضرت يوسف ﷺ دا ټول عمل وحی الهی ګڼي اوپه ، کَذٰلِکَ کِدْنَالِيُوسُفَ : قرآنی ارشاد کې هم دې طرف ته اشاره موجوده ده . والله سبحانه وتعالی اعلم .

قَالُوْاتَاللّٰهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُيُوسُفَ : يعنی زامنو دپلار دا سخت غم اوخفګان اوپردی دا صبرجميل يې وليدی ، نو وي ويل چې په خدای چې ته يوسف هميشه ياد وی ، تردی چې ته مريض سي اوپه هلاکيدونکو کې دا خل سی (اخر دهر يو غم او خفګان څه انتهاوی چې دوخت په تيريدوسره يې بنده هير وي ، مګر ته د دومره اوږد وخت تيريدو څخه وروسته هم د اولی ورځې په شان يې او غم دې هغه شان تازه دی)

حضرت يعقوب ﷺ چې د زامنو خبره واوريده نو وي فرمايل ، اِنَّمَاۤ اَشْكُوْا بَثِّیْ وَحُزْنِیْۤ اِلَی اللّٰهِ : يعنی زه دخپل غم اوخفګان اظهار تاسی ته يابل چاته نه کوم بلکه دالله ﷻ شانه پاک ذات ته يې کوم په دی وجه ما زماپه حال پريږدئ او ددی سره يې دا هم ظاهره کړه چې زما دا يادول به خالي نه ځي ، زه دخپل الله ﷻ دطرفه هغه څه پيژنم کوم چې تاسي نه پيژنئ يعنی الله ﷻ زماسره وعده کړی ده چې هغه به بياماددی ټولو سره يوځای کړي .

يٰبَنِیَّ اذْهَبُوْا فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوسُفَ وَاَخِيْهِ : يعنی ای زما زامنو ولاړسی يوسف ﷺ اودهغه وروړتلاش کړئ او دالله ﷻ درحمت څخه مه مايوسه کيږئ ، ځکه چې دهغه درحمت څخه بغير دکافرانوڅخه نورڅوک نه مايوسه کيږي ، حضرت يعقوب ﷺ د دومره زماني تيريدو څخه وروسته زامنو ته دا حکم ورکي چې ولاړ سی ، يوسف ﷺ او دهغه ورور تلاش کړئ او د دوی دپيداکيدو څخه مه مايوسه کيږئ ددی څخه مخکی هيځکله داسی حکم ده نه وو ورکړی دا ټول شيان دتقديرِ الهي تابع وه ددی څخه مخکی حاصليدل په تقديرکی نه وه په دی وجه داسې څه کار ونه سو او اوس دملاقات وخت راغلی وو په دی وجه الله ﷻ ددی مناسب تدبير ورته په زړه کی واچوی .

او د دواړو دتلاش مخ يې مصرته مقررکي کوم چې دبنيامين په حق کی خومعلوم اومتعين وو مګر دحضرت يوسف ﷺ په مصرکی دتلاش کولو دظاهرِحال په اعتبار سره هيڅ وجه نه وه ، ليکن الله ﷻ چې هرکله ديوکار اراده وفرمايي نو مناسب اسباب يې جمع کړی، په دی وجه دا وار دتلاش اوتفتيش دپاره يې بيا زامنو ته دمصر دتللو هدايت وفرمايي ، ځينې حضرات فرمايي چې حضرت يعقوب ﷺ ته په اول وار دمصر دعزيز ددی معاملی څخه چې د دوی پانګه يې هم د دوی په سامان کی واپس کړه ، دی طرف ته خيال سوی وو چې دا عزيز يو څوک ډير شريف او کريم دی شايد چې دی يوسف وي .

(احکام او مسئلي)

امام قرطبي ﷫ فرمايي چې دحضرت يعقوب ﷺ دواقعی څخه ثابته سوه چې پرهرمسلمان باندی واجب دي چې کله ده ته ديوتکليف دخپل ځان يا اولاديامال په باره کی ورپيښ سي نو ددی علاج صبرِ جميل اودالله ﷻ په قضاء راضي کيدل دي چې دحضرت يعقوب ﷺ او نوروپيغمبرانو ﷺ اقتداء وکړي

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت حسن بصري رحمه الله چې د الله تعالی په نزد چې انسان غړپونه چيښي په دې ټولو کې دوه غړپونه زيات محبوب دي يو پر مصيبت صبر، دوم دغُصی چيښل.
او په حديث کې په روايت د ابو هريره رضي الله عنه دنبي کريم ﷺ دا ارشاد دی، مَنْ بَثَّ لَمْ يَصْبِرْ : اوحضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چې الله جل جلاله حضرت يعقوب عليه السلام ته پردی صبرباندی دشهيدانو ثواب ورکي او په دی امت کی هم چې کوم سړی پر مصيبت صبر کوي هغه ته به داسې اجر رسيږي.
امام قرطبي رحمه الله دحضرت يعقوب عليه السلام ددی سخت امتحان او ازمائش يوه وجه دا بيان کړی ده چې په څينو روايتونو کی را غلی دی چې يوه ورځ حضرت يعقوب عليه السلام دتهجدلمونځ کوي اوحضرت يوسف عليه السلام دده په مخکی بيده وو ناڅاپه حضرت يوسف عليه السلام په خوب کی خرهاړی وکي ، نو دده توجه دحضرت يوسف عليه السلام طرف ته ولاړه ، بيا په دويم او دريم وار داسې وسوه نو الله جل جلاله خپلو فرښتو ته وويل وګوری دا زما دوست او مقبول بنده ماته دخطاب اوعرض دمعروض په مينځ کی زماڅخه دغير طرف ته توجه کوي قسم دی زما په عزت اولويي چې زه به دده دا دواړي سترګي وباسم په کومو چې يې زما څخه دغيرطرف ته توجه کړی ده دی به دده څخه ډيره موده جلا کړم.
په دی وجه دبخاري په حديث کی په روايت دحضرت عائشه رضي الله عنها را غلی دی چې دی دنبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې په لمانځه کی بل طرف ته کتل څنګه دی نو دوی وفرمايل چې ددی په ذريعه شيطان د بنده لمونځ تښتوی (الله جل جلاله دې مونږ ته امان او پناه را کړي)

فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ قَالُوا يَٰٓأَيُّهَا الْعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهْلَنَا الضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُّزْجَىٰةٍ

بيا چې هرکله داخل سو ده ته وې ويل چې ای عزيزه ! پريوته په مونږ اوزمونږ په کورسختي اوراوړي ده مونږ پنګه

فَأَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا ۖ إِنَّ اللَّهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِينَ ﴿٨٨﴾

ناقصه ، نو پوره راکړه مونږ ته پيمانه اوخيرات وکړه په مونږ ، الله بدله ورکوی خيرات کوونکو ته.

قَالَ هَلْ عَلِمْتُم مَّا فَعَلْتُم بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذْ أَنتُمْ جَٰهِلُونَ ﴿٨٩﴾

وې ويل ايا تاسی څه خبر سته چې څه وکړل تاسی ديوسف عليه السلام سره اودده د وروړ سره کله چې وی تاسی ناپوه

قَالُوٓا أَءِنَّكَ لَأَنتَ يُوسُفُ ۖ قَالَ أَنَا۠ يُوسُفُ وَهَٰذَآ أَخِي ۖ قَدْ

وې ويل دا رښتيا ده چې خامخا ته يوسف يې ، وې ويل زه يوسف يم او دا زما وروړ دی ، الله

مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَآ ۖ إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ

احسان وکی په مونږ ، خامخا څوک چې بيريږي اوصبر کوی نو الله نه ضائع کوی حق

Maktaba Tul Ishaat.com

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٩٠﴾ قَالُوْا تَاللّٰهِ لَقَدْ اٰثَرَكَ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَاِنْ كُنَّا

دنيكي كوونكو ، وي ويل قسم دى په الله خامخا غوره كړو تا لره الله زمونږ څخه او مونږ وو

لَخٰطِئِيْنَ ﴿٩١﴾ قَالَ لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكُمْ وَهُوَ

خطا كاران ، وې ويل هيڅ الزام نسته په تاسې نن ورځ ، او دى بخښي الله تاسې لره او هغه

اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿٩٢﴾

دټولو مهربانانو څخه زيات مهربانه دى

تفسير: بيا (دحضرت يعقوب ﷺ دحكم موافق چې ده فرمايلي وه ، فَتَحَسَّسُوا مِنْ يُّوْسُفَ وَاَخِيْهِ : مصرته ولاړل څکه چې بنيامين يې په مصر کې پاته کړی وو ، دا خيال به يې کړی وي چې دکوم نخښنه معلومه ده اول دهغه د را وستلو تدبير په کار دی چې دباچاڅخه يې وغواړو بيابه دحضرت يوسف ﷺ نخښنه لټور غرض دا چې مصرته ورسيدل) هرکله چې حضرت يوسف ﷺ ته (کوم چې يې عزيزګڼي) ورسيدل (او دغلي هم حاجت وو نو دا خيال يې وکړي چې دغلي په بهانه به عزيز ته ورسو او دغلي اخيستلو په ضمن کې به د خوشحالۍ خبري وکړي چې هرکله دده په طبيعت کې نرمي ووينو اومزاج يې خوشحاله پيدا کو نو دبنيامين درخواست به وکړو په دی وجه اول يې دغلي متعلق خبري شروع کړي او) وې ويل اې عزيزه مونږ ته او زمونږ کوروالاوو ته (دقحط په وجه) لوی تکليف رسيدلی دی او (چونکه مونږ غريبي راګير کړي يو په دی وجه دغلي اخيستو دپاره راسره کره قيمت هم نسته) مونږ دا څه بې کاره شيان راوړي دي پس ته (ددی بې کاروالي ته مه ګوره) پوره غله راکړه (او ددی د ناکاروالي په مقدار کې کمی مه کوه) او (زمونږ څه حق نسته خو) ته يې مونږ ته خيرات (وګڼړه) راکړه ، بيشکه الله ﷻ خيرات ورکوونکو ته (خواه که په حقيقت کې خيرات ورکوي اوکه هسې رعايت کوي هغه هم په مثل دخيرات دی) جزا (نيکه) ورکوي (که مومن وي نو په آخرت کې هم کنه نو په دنيا کې) حضرت يوسف ﷺ چې د دوی څخه دغريبي خبري واوريدي نو صبر ورڅخه ونه سو او بې اختياره يې وغوښتله چې اوس دوی ته ځان ښکاره کړي او دا هم عجبه نه ده چې د زړه په نور سره ورته معلومه سوی وي چې دا وار اوس دوی دده لټون هم کوي او دا هم ورته شکاره سوی وي چې اوس دجدايي دور ختم سو پس دتعارف دتمهيد په طوريې) وفرمايل (ووايا ست) چې هغه هم تاسې ته ياده ده څه چې تاسې دحضرت يوسف ﷺ او دده د ورور سره (سلوک کړی وو کله چې ستاسې دجهالت زمانه وه (اوښه اوبد سوچ درسره نه وو ، چې دايې واوريدل نو اول خو يې پری سر وګرځيدي چې دمصر دعزيز دحضرت يوسف ﷺ دقصې سره څه واسطه ده ، بلې خواته د اولي زمانې دخوب څخه دا احتمال وو چې شايد يوسف ﷺ چيري لوی مرتبې ته ورسيږي چې مونږ توله

Maktaba Tul Ishaat.com

به بيا ورته سرونه كښته كوو، په دې وجه ددې خبرې څخه يې شک پيدا سو او فكر يې وكي نو څه لږ لږ يې وپيژندې او د زيات تحقيق دپاره يې) وويل چې په رښتيا ته يوسف يې ده وفرمايل (ها،) زه يوسف يم او دې (بنيامين) زما (حقيقي) ورور دى (دا يې په دې وجه زياته كړه چې دده ديوسف كيدو زيات تاكيد وسي يا د دوى دلتون دكاميابي زيرى دې چې دچا دلټولو دپاره چې تاسى را وتلى ياست مونږ دواړه يوځاى جمع يو) پر مونږ الله ﷻ احسان وكي (چې مونږ دواړو ته يې اول توفيق دصبر اوتقوى راكړه، بيا يې ددې په بركت سره زمونږ تكليف په راحت سره، او جدايي په يوځاى كيدو سره او كموالى دمال او مرتبې په ډيروالى دمال اومرتبې سره بدل كي) واقعي كوم سړى چې دګناهونو څخه ځان ساتي او (پر مصيبتونو) صبر كوي نو الله دداسې نيكي كوونكو اجر نه ضائع كوي، دوى (تولي تيري قصى يادي كړي، پښيمانه سول او دمعذرت په ډول يې) وويل چې په خداى! هيڅ شک نسته تا ته الله تعالى پر مونږ باندې غوره والى دركړى (او ته ددې لائق وې) او (مونږ چې څه كړي دي) بيشكه مونږ (په دې كې) خطا كاره وو (دخداى دپاره مونږ معاف كړه) يوسف ﷺ وفرمايل چې نسته نن پر تاسى (زما د طرفه) څه الزام (بې فكره اوسئ زما زړه صفا سو) الله ﷻ دې ستاسې قصور معاف كي او هغه ترټولو مهربانو زيات مهربان دى (دتوبه كوونكى قصور معاف كوي، ددې دعا څخه دا هم معلومه سوه چې ماهم معاف كړي)

(معلومات او مسئلې)

په دې ذكر سوو آيتونوكى دحضرت يوسف ﷺ او دده د ورونو باقي قصه ذكر ده چې د دوى پلار حضرت يعقوب ﷺ دوى ته دا حكم وكي چې ولاړ سى حضرت يوسف ﷺ او دده ورور تلاش كړئ نو دوى په دريم وار دمصر په سفر ولاړل، ځكه چې دا خو معلومه وه چې بنيامين هلته دى، اول دده دخلاصئ كوشش كول وو او دحضرت يوسف ﷺ وجود كه څه هم چې په مصركى معلوم نه وو مګر هركله چې دڅه كار وخت راسي نو د انسان تدبيرونه بيا دځانه برابرېږي، لكه چې په يوحديث كى دي چې هركله الله ﷻ دڅه كار اراده وفرمايي نو ددې اسباب خودبخوده جمع كوي په دې وجه دحضرت يوسف ﷺ دتلاش دپاره هم په غيرِ شعوري طور سره دمصر سفر مناسب وو او دغلي ضرورت هم وو، او دا خبره هم وه چې دغلي په بهانه به دمصر دعزيز سره ملاقات وسي او ده ته به دخپل ورور بنيامين په باره كى دخلاصي درخواست وكي.

فَلَمَّادَخَلُواعَلَيْهِ قَالُوا الايه : يعنى هركله چې ورونه دحضرت يوسف ﷺ دپلار دحكم مطابق مصر ته ورسيدل اودمصر دعزيزسره يوځاى سول نو دخوشامندى خبري يې شروع كړي دخپلي بيكسي اومحتاجى اظهار يې وكي چې اى عزيزه مونږ ته او زمونږ كور والاوو ته دقحطى په وجه سخت تكليف رسيږي تر دى چې اوس زمونږ سره دغلي اخيستو دپاره هم څه مناسب قيمت موجود نسته، مونږ دمجبورى څخه څه بې كاره شيان دغلي اخيستو دپاره راوړي دي اوس ته په خپلو كريمانه اخلاقو سره دا بې كاره شيان قبول كړه او ددې په بدله كى غله هم دومره پوره راكړه خومره چې دښه قيمتي شيانو په بدله كى دركول كيږي دا ظاهره ده چې زمونږ څه استحقاق نسته، ته يې مونږ ته دخيرات په ډول را كړه، بيشكه الله ﷻ خيرات وركوونكو ته نيكه جزا وركوي.

دا خراب شیان څه وه په قرآن کریم اوحدیث کی ددی هیڅ وضاحت نسته دتفسیرلیکونکو خبري په دی کی مختلفي دي ځینی وایي چی کوټه درهمونه وه کوم چی په بازارکی نه چلیدل ځینی وایی چی دکور د استعمال څه سامان وو دا دلفظ د (مزجة) ترجمه ده ددی اصل معنی دداسی شي ده کوم چی په خپله نه چلیږي بلکه په زور یی چلوي ، حضرت یوسف ﷺ چی هرکله د وروڼو دا دغریبي الفاظ واوریدل او د دوی بدحالي یی ولیده نو په طبعي طور سره اوس دحال په حقیقت ښکاره کولو مجبوره سو او د واقعاتو د رفتار انداز دهغې دخاتمي وخت هم راغلی وو اوپه تفسیر قرطبي اومظهري کی په روایت د ابن عباس ﷺ نقل کړی دی چی په دی موقع حضرت یعقوب ﷺ دمصر دعزیز په نوم یو لیکلی خط ورکړی وو چی مضمون یې دا وو .

دطرفه دحضرت یعقوب صفی الله بن اسحاق ذبیح الله ابن ابراهیم خلیل الله په خدمت کی دمصر دعزیز، پس زماپوره خاندان په بلاګانو او ازمیښتونوکی مشهور دی زمادنیکه ابراهیم خلیل الله دنمرود په اور سره ازمائش وسو، بیازمادپلار اسحٰق سخت امتحان واخیستل سو، بیازمادیو زوی په ذریعه زما امتحان واخیستل سوکوم چی ماته زیات محبوب ووتردی چی دده په جدایی کی زمانظرختم سوددی څخه وروسته دده یو کشر ورور زماغم وهلی دتسلی سامان وو کوم چی تادغلا په الزام کی ګرفتار کړی او زه تاته دابښیم چی مونږ دپیغمبرانو اولاد یُو نه مونږکله غلاکړی ده اونه په مونږ کی غل پیداسوی دی والسلام.

حضرت یوسف ﷺ چی هرکله دا خط ولوستی نو ورپیدی او بی اختیاره یی وژړل اوخپل راز یې ظاهر کي اودتعارف اوتمهیدپه طور یی د وروڼو څخه دا پوښتنه وکړه چی تاسی ته څه دا هم یاد دي چی تاسی دحضرت یوسف ﷺ او دده د ورور سره څه سلوک کړی وو کله چی ستاسی دجهالت زمانه وه چی دښه او بد دسوچ او انجام دفکر څخه غافله وي ؟

دحضرت یوسف ﷺ وروڼو چی دا سوال واوریدی نو چکر پر راغی چی دمصر دعزیز دحضرت یوسف ﷺ دقصی سره څه واسطه ده بیا یی اخوا دیخوا ته هم خیال ولاړی چی یوسف په کوچنیوالی کی خوب لیدلی وو ددې تعبیر دا وو چی ده ته به څه لویه مرتبه حاصلیږي چی مونږ ټول به ده ته کښته کیږو هسی نه چی دا عزیز دمصر په خپله دغه حضرت یوسف نه وي بیا چی کله یې نور غور او فکر وکي نو په څه نښانو سره یې وپیژندی او د زیات تحقیق دپاره یی ده ته وویل .

ءَ اِنَّکَ لَاَ نْتَ یُوْسُفَ : آیاته په رښتیاسره چی ته یوسف یی ، نوحضرت یوسف ﷺ وفرمایل چی هاٰ زه یوسف یم او دا بنیامین زما حقیقي ورور دی ، د ورور ذکر یې ځکه زیات کي چی د دوی ښه یقین راسی ، دا رنګ ددی دپاره هم چی دوی ته دا وخت دخپل مقصد مکمله کامیابي واضحه سی چی دکومو دوو تنو په تلاش کی تاسی راوتلی واست هغه داوړه په یوه ځای تاسی ته ورسیدل بیا فرمایي .

قَدْمَنَّ اللّٰهُ عَلَیْنَا اِنَّهٗ مَنْ یَّتَّقِ وَیَصْبِرْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا یُضِیْعُ اَجْرَالْمُحْسِنِیْنَ : یعنی الله ﷻ پرمونږ احسان اوکرم وفرمایي چی اول یی مونږ دواړو ته دصبر اوتقوا دوه صفتونه راکړل کوم چی دکامیابي کیلي اوپه هرمصیبت کی امان دی بیایی زمونږ تکلیف په راحت سره، جدایې په یو ځای کیدو سره، دمال او

Maktaba Tul Ishaat.com

مرتبې کموالی یې ددی تولو په ډیروالی سره بدل کی بیشکه کوم سړی چې دګناهونو څخه ځان ساتي او پر مصیبتونو صبر کوي نو الله ﷻ دداسې نیک کار کوونکو اجر نه ضائع کوي.
اوس خو دحضرت یوسف ﷺ د ورونو سره بغیر دجرم اوخطا د اقرار څخه او دحضرت یوسف ﷺ دفضل اوکمال د اقرار څخه بله چاره نه وه ټولو په جمع سره وویل ،.قَالُوا تَاللّٰهِ لَقَدْ اٰثَرَكَ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَاِنْ كُنَّا لَخٰطِئِيْنَ : په خدای چې الله ﷻ تاته پر مونږ ټولو فضیلت او برتري درکړه او ته ددی مستحق وي او مونږ چې څه وکړل بیشکه مونږ په دی کی خطا کار وو، د خدای دپاره معافي وکړئ ، حضرت یوسف ﷺ په جواب کی دخپل پیغمبرانه شان مطابق وفرمایل ، لاتثریب علیکم: یعنی زه ستاسي څخه ستاسي د ظلمونو بدله اخیستل خو لا پرېږده چې نن پر تاسي هیڅ ملامتیا هم نه کوم دا خو ورته خدای ﷻ دخپل طرف څخه دمعافي خوشخبري واورله بیایي دالله ﷻ څخه دعاوکړه ، يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكُمْ وَهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ : یعنی الله ﷻ دی ستاسی خطاګاني ماف کړي هغه دټولو مهربانانو څخه زيات مهربان دی.
بیافرمایي ، اِذْهَبُوْا بِقَمِيْصِيْ هٰذَا فَاَلْقُوْهُ عَلٰى وَجْهِ اَبِيْ يَاْتِ بَصِيْرًا وَاْتُوْنِيْ بِاَهْلِكُمْ اَجْمَعِيْنَ : یعنی زمادا قمیص یو سئ او دا زما دپلار پرمخ واچوئ په دی سره به دهغه سترګي روښانه سي چې دلته به بیاتشریف را وړل سي او دخپل باقي کور والا هم ټول ماته دلته را ولئ چې ټول یوځای سو اوخوشحاله سو او د الله ﷻ د را کړو نعمتونو څخه فائده واخلو او شکر یې ادا کړو.

(احکام او مسئلي)

د ذکر سوو آیتونو څخه ډیر احکام او مسئلي او د انسان د ژوند دپاره مهم هدایتونه حاصل سول.
اول دلفظ د (تصدق علینا) څخه دا سوال پیداکیږي چې دحضرت یوسف ﷺ ورونه دپیغمبرانو اولاد دي د دوی دپاره صدقه اوخیرات څنګه حلال وو، دویم که صدقه حلاله هم وي نو سوال کول څنګه جایز وو دحضرت یوسف ﷺ ورونه که انبیاء هم نه وي ،نو هم حضرت یوسف ﷺ خو پیغمبر وو دوی یې په دی غلطي ولي پوه نه کړل ؟
ددی یو واضح جواب خو دا دی چې دلته دلفظ دصدقی څخه حقیقي صدقه مراد نه ده بلکه په معامله کی رعایت کولو ته یې صدقه ویلي ده څکه چې بالکل مفت غله خو دوی هم نه ده غوښتلی بلکه څه بې کاره شیان یې پیش کړی وه او د درخواست خلاصه یې دا وه چې دا کوم قیمته شیان (رعایت وکړي) قبول کړي ددی څخه علاوه دا هم کیدای سی چې دپیغمبرانو د اولاد دپاره دصدقي او خیرات حراموالی د امت محمدي سره مخصوص وي لکه چې د تفسیر په امامانو کی د مجاهد دا قول دی (بیان القرآن)
اِنَّ اللّٰهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِيْنَ : ددی څخه معلومه سوه چې الله ﷻ صدقه او خیرات کوونکو ته غوره جزا ورکوي مګر په دی کی تفصیل دا دی چې دصدقي او خیرات یوه جزا خو عامه ده چې هر مومن او کافر ته په دنیا کی حاصلیږي هغه ده دبلاګانو ردول او مصیبتونه دفع کول او یوه جزا د آخرت سره مخصوصه ده یعنی جنت هغه صرف د ایماندارو برخه ده دلته چونکه مخاطب عزیز دمصر دی او ورونو دیوسف ته لا تر اوسه دا معلومه نه وه چې دی مومن دی او که نه دی په دی وجه داسی عامه جمله یې

اختیار کړه چي په دې کې د دنیا او آخرت دواړو جزا شامله ده (بیان القرآن)
ددې څخه علاوه په ظاهره دلته خو موقع ددې وه چي چونکه خطاب عزیز دمصرته وو په دې وجه په دې جمله کې هم دمخاطب په صیغه سره یې داسې ویلي وای چي تا ته به الله ﷻ غوره جزا درکړي لیکن چونکه دده مومن کیدل معلوم نه وو په دې وجه یې عام عنوان اختیار کې او په خاص طور سره یې ده ته دجزا حاصلیدلو ذکر ونه کې (قرطبي)

د ، قَدْمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا: څخه ثابته سوه چي هرکله انسان په څه تکلیف او مصیبت کې گرفتار وي اوبیا الله ﷻ ده ته نجات ورکړي په خپل نعمت سره یې ونمانځي نو اوس ده ته دتیرو مصیبتونو ذکر کولو پرځای دالله ﷻ دهغه نعمتو او احسان ذکر کول په کار دي کوم چي ورته اوس حاصل سوي دي دمصیبت څخه د خلاصون او دالله ﷻ د انعام دحاصلیدو څخه وروسته هم پر تیر تکلیف او مصیبت باندې ژړل ناشکري ده داسې ناشکره ته په قرآن کریم کې (کنود) ویل سوي دي (ان الانسان لربه لکنود) وایي هغه سړی ته کوم چي احسانات نه یادوي صرف تکلیفونه او مصیبتونه یادوي ، په دې وجه حضرت یوسف ﷺ ته چې د ورونو دعمل څخه تر اوږدې زمانې پورې دکومو مصیبتونو سره سابقه راغلې وه دغه وخت یې دهغو ذکر ونه کې بلکه د الله ﷻ د انعاماتو ذکر یې وکې .

(صبر او تقوی دهر مصیبت علاج دی)

د (انه مَنْ یتق وَیَصبِرْ) څخه معلومه سوه چي تقوی یعني دګناهونو څخه ځان ساتل او پر تکلیفونو صبر کول او ثابت قدم کیدل دا دوه صفتونه داسې دي کوم چي انسان دهرې بلا او مصیبت څخه باسي قرآن کریم په ډیرومواقعوباندې پردې دوو صفتونو د انسان دفلاح اوکامیابۍ مدار اینبي دي ارشاد دی ،وَاِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا: یعنی که تاسې صبر اوتقوی اختیار کړئ ، نو ددښمنانو مخالفانه تدبیرونه به تاسې ته هیڅ ضرر اونقصان ونه رسوي .

دلته په ظاهره دا دعوه معلومیږي چي حضرت یوسف ﷺ دخپل متقي اوصابرکیدو دعوه وکړه چي زمونږ دصبر اوتقوی په وجه سره مونږ ته دمشکلاتو څخه نجات اولوی درجې نصیب سوې، مګر دچاپه خپله دخپلې تقوی دعوه کول په نص دقرآن کریم سره منع ده ، فَلَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَى : یعنی دخپلې پاکې ستاینه مه کوئ الله ﷻ ښه پیژني چي څوک متقي دی، مګر دلته په حقیقت کې دعوه نه ده بلکه دنعمتونو یادول او دالله ﷻ د احساناتو ذکر دی چي هغه مونږ ته اول دصبر اوتقوی توفیق راکې بیایې ددې په ذریعه ټول نعمتونه راکړل .

لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ : یعنی نن پر تاسې څه ملامتیا نسته دا دکریمانه اخلاقو اعلی مقام دی چي ظالم یې معاف نه کي بلکه دا یې ورته هم ښکاره کړه چي اوس پر تاسې هیڅ ملامتیا هم نسته .

اِذْهَبُوْا بِقَمِيْصِيْ هٰذَا فَاَلْقُوْهُ عَلٰى وَجْهِ

پرمخ	او واچوی یې	زما قمیص	دا	یوسې

Maktaba Tul Ishaat.com

اَبِیۡ یَاۡتِ بَصِیۡرًا ۚ وَاۡتُوۡنِیۡ بِاَهۡلِکُمۡ اَجۡمَعِیۡنَ ﴿٩٣﴾ وَلَمَّا فَصَلَتِ

زما د پلار باندی چی راسی په ستر گو لیدونکی او را ولی ماته اهل دکور خپل تول ، او کله چی جلا سوه

الۡعِیۡرُ قَالَ اَبُوۡهُمۡ اِنِّیۡ لَاَجِدُ رِیۡحَ یُوۡسُفَ لَوۡلَاۤ اَنۡ تُفَنِّدُوۡنِ ﴿٩٤﴾

قافله وویل د دوی پلار زه محسوسوم بوی دیوسف ؑ که نه وایاست ماته بودا غلیدی

قَالُوۡا تَاللّٰهِ اِنَّکَ لَفِیۡ ضَلٰلِکَ الۡقَدِیۡمِ ﴿٩٥﴾ فَلَمَّاۤ اَنۡ جَآءَ الۡبَشِیۡرُ

خلقوو ویل قسم دی په الله چی ته خو په خپله پخوانی غلطی کي یی، بیاچی کله ورسیدی خوشخبری راوړونکی

اَلۡقٰىهُ عَلٰی وَجۡهِهٖ فَارۡتَدَّ بَصِیۡرًا ۚ قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ لَّکُمۡ ۚۙ اِنِّیۡۤ اَعۡلَمُ

ویې غورځوی دغه قمیص دده په مخ نو بیا سو لیدونکی وې ویل چی ما نه وو ویلی تاسی ته ، چی زه پیژنم

مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿٩٦﴾ قَالُوۡا یٰۤاَبَانَا اسۡتَغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوۡبَنَاۤ

دالله دطرف څخه کوم چی تاسی نه پیژنی ، وې ویل ای پلاره ! بخښنه وغواړه زمونږ دګناهونو

اِنَّا کُنَّا خٰطِـِٕیۡنَ ﴿٩٧﴾ قَالَ سَوۡفَ اَسۡتَغۡفِرُ لَکُمۡ رَبِّیۡ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الۡغَفُوۡرُ

بیشکه مونږ وو خطاکار، وې ویل ژر ده چی بخښنه به وغواړم ستاسی دپاره دخپل رب څخه هغه دی بخښنی والا

الرَّحِیۡمُ ﴿٩٨﴾ فَلَمَّا دَخَلُوۡا عَلٰی یُوۡسُفَ اٰوٰۤی اِلَیۡهِ اَبَوَیۡهِ وَقَالَ

مهربان ، بیا چی هرکله داخل سول یوسف ؑ ته ځای یی ورکی پخپله خواکی مور وپلار خپل له او

ادۡخُلُوۡا مِصۡرَ اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِیۡنَ ﴿٩٩﴾ ؕ وَرَفَعَ اَبَوَیۡهِ عَلَی

وې ویل چی داخل سی مصر ته که الله وغواړی په زړه جمعی سره ، او لوړ یی کښینول خپل پلار مور په

الۡعَرۡشِ وَخَرُّوۡا لَهٗ سُجَّدًا ۚ وَقَالَ یٰۤاَبَتِ هٰذَا تَاۡوِیۡلُ رُءۡیَایَ

تخت باندی او ټول پریوتل ده ته په سجده او وې ویل ای پلاره ! دا تعبیر دی زما دهغه پخوانی

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ قَبْلُ ۡ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّیْ حَقًّا ؕ وَقَدْ اَحْسَنَ بِیْۤ اِذْ اَخْرَجَنِیْ

خوب زمارب ده ته رښتیا کی ، او هغه انعام وکی په ما باندی چی زه یی را وویستم

مِنَ السِّجْنِ وَجَآءَ بِکُمْ مِّنَ الْبَدْوِ مِنْۢ بَعْدِ اَنْ نَّزَغَ الشَّیْطٰنُ

دقید خانی څخه او تاسی ته یی را وستلاست دکلی څخه وروسته دهغه چی جګړه غورزولی وه شیطان

بَیْنِیْ وَبَیْنَ اِخْوَتِیْ ؕ اِنَّ رَبِّیْ لَطِیْفٌ لِّمَا یَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِیْمُ الْحَکِیْمُ ﴿۱۰۰﴾

په ما او زما د ورونو په مینځ کی ، زمارب تدبیر کوی دخه چی غواړی ، بیشکه هغه دی خبردار حکمت والا

تفسیر: اوس تاسی (زماپلارته ولاړسي خوشخبري ورکی اودخوشخبري سره) زماداقمیص (هم) یوسی او دا زمادپلار پرمخ واچوئ (په دی به) دده سترګي روښانه سي (اودلته به تشریف را وړل سي) اوخپل (باقي) کوروالا (هم) ټول زماخواته را ولی (چی ټول یوځای سو اوخوشحاله سوځکه چی په موجوده حالاتوکی زماتلل مشکل دی په دی وجه دکورخلق دی راسي) اوهرکله چی (دحضرت یوسف ﵇ سره خبري وسوی او دده دحکم موافق قمیص یی واخستی روان سول او) قافله (دمصر دښارڅخه) روا نه سوه (چی په دی کی دا خلق هم وه) نو د دوی پلار (دخپلي خوا خلقو ته وویل) چی که تاسی ما داسی نه ګڼئ چی دي زوړ سوی دی دناپوهی خبري کوي نو یوه خبره درته کوم چی پرمادیوسف ﵇ خوشبولګیږي (معجزه په اختیارکي نه وي په دی وجه تردی مخکي په دی نه پوهیدی) هغو (کوم چی ورسره ناست وه) وویل چی په خدای قسم دی ته هم هغسي په خپل پخواني غلط خیال کی یی (چی یوسف ژوندی دی او پیدا به سي ددی خیال دغلبي څخه درته اوس وهم دخوشبویي وسو ، اوپه واقع کی نه خوشبو سته نه څه نور څه سته حضرت یعقوب ﵇ خاموش سو) وروسته هرکله چی (دیوسف ﵇ دصحیح سلامت خوشخبري را وړونکی (سره دقمیصه دلته) را وسیدی نو (درا تلو سره یی) دغه قمیص دده پرمخ واچوئ پس (دسترګو سره لګیدل اودماغوته دخوشبو رسیدل وه چی) فوراً دده سترګي ورغړیدي (او هغوی ټول حالات دوي ته بیان کړل) ده (زامنوته) وفرمایل چې ولی ماتاسوته ویلي نه وه چی دالله ﷻ خبري چی زه پیژنم تاسی یی نه پیژنی (اوپه دی وجه ماتاسی دیوسف ﵇ دلټون دپاره لیږلی واست وګورئ اخر الله ﷻ زما امید برابر را وستی دده دا وینا تردی په لوړه رکوع کی را غلی ده دغه وخت) ټولو زامنو وویل چی ای زمونږ پلاره زمونږ دپاره (دخدای ﷻ څخه) زمونږ دګناهونو دبخښني سوال وکړه (مونږ چی تاته څومره تکلیف دیوسف ﵇ په معامله کی درکړی دی) مونږ بیشکه خطا کار وو (مطلب دا دی چی ته هم معافي وکړه ځکه چی عادتاً دچادپاره استغفارهغه کوي کوم چی په خپله هم مؤاخذه کول نه غواړي) یعقوب ﵇ وفرمایل ډیر ژر به ستاسی دپاره دخپل رب څخه دبخښني دعا وغواړم بیشکه هغه بخښونکی مهربانه دی (اوپه دی سره د دوی معاف کول هم معلوم سوه، او د نژدي مطلب دا دی چی

Maktaba Tul Ishaat.com

دتهجد وخت ته صبر وکړ چې ددعاءقبلیدوساعت دی لکه په در منسورکی چې مرفوعاً دی غرض دا
چې ټول تیار سول او مصرته روان سول اوحضرت یوسف علیه السلام ته خبر ورسیدی استقبال ته را ووتی
دمصرڅخه یې بهر تشریف را وړی او دباندې یې دملاقات دپاره سامان تیار کی) بیاچې کله ټول یوسف
علیه السلام ته ورسیدل نو هغوی (ټول سره یوځای سول) خپل مور او پلار ته یې دخپل ځان سره (تعظیماً) ځای
ورکی او (دخبرو اترو څخه چې فارغ سو) وې ویل ټول مصرته ځئ (او) انشاء الله تعالی هلته به په امن
او راحت سره اوسی (دجدایي غم او دقحط سختي ټولي ختمي سوی غرض دا چې ټول مصرته ورسیدل)
او (هلته په رسیدو یې تعظیماً) خپل مور او پلار پر (شاهي) تخت باندې پورته کښینول او (دا وخت
دټولو پر زړونو باندې دحضرت یوسف علیه السلام داسې لویي غالبه سوه چې) ټول دده په مخکې پر سجده
پریوتل او(چې دا حالت یې ولیدی) هغه وویل ای پلاره دا دی زما دخوب تعبیرکوم چې په وړاندې
زمانه کې مالیدلی وو (چې لمر، سپوږمی او یوولس ستوري ماته سجده کوي) زما رب دا (خوب) رښتیا
کي (یعنی رښتیوالی یې ورته ښکاره کي) او (ددی شرافت څخه علاوه زمارب پر مانور انعامات هم
فرمایلي دي چنانچې) زماسره یې (یو) هغه وخت احسان وکي څه وخت چې یې زه دقید څخه را ویستم
(او دحکومت دي مرتبې ته یې را ورسولم) او (دویم یې دا انعام وفرمایي چې) ورروسته تردی چې شیطان
زما او زما د وروڼو په مینځ کې فساد اچولي وو (چې ددی مقتضا دا وه چې ټول عمر یوځای سوی او
جمع سوی نه وای و مګر دالله ﷻ مهرباني ده چې هغه) تاسې ټوله (چې زما وروڼه هم په کې دی) دبهر
څخه (دلته را وستلاست (اوټول یې یوځای کړو) بیشکه زمارب چې څه غواړي دهغه ډېرلطیف
تدبیرکوي بیشکه هغه لوی علم والا اوحکمت والا دی (په خپل علم اوحکمت سره دټولو کارونو تدبیر
برابر وي)

(معلومات او مسئلې)

دحضرت یوسف علیه السلام دقصې متعلق په تیرو آیتونوکی دا معلومه سوی ده چې هرکله دخدای ﷻ په حکم
ددې وخت راغی چې حضرت یوسف علیه السلام خپل راز وروڼو ته ښکاره کي ، نو دوی حقیقت ظاهرکی ورونو
معافي وغوښتله ده نه یوازي دا چې معاف یې کړل ، بلکه پر تیرو واقعاتو باندې یې څه ملامت هم نه
کړل د دوی دپاره یې دالله ﷻ څخه دعا وغوښتله او اوس یې دپلار سره دملاقات فکر سو ، دحالاتو په
لحاظ سره یې داسې مناسبه وګڼله چې پلار دې سره دخاندان څخه دلته تشریف راوړي مګرمعلومه
سوی وه چې ددې جدایي په وجه د دوی نظر ختم سوی دی په دې وجه دټولو څخه اول یې دا فکر سو او
وروڼو ته یې وویل ، اذْهَبُوا بِقَمِيصِي هَذَا فَأَلْقُوهُ عَلَى وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيرًا: یعني تاسې زما دا قمیص یو سئ
او زمادپلار پرمخ یې واچوئ نو دهغه نظربه بیرته جوړ سي و دا ظاهره خبره ده چې دچاقمیص پرمخ
باندې اچول دنظر دبیرته جوړیدو څه مادي سبب نه سي کیدای ، بلکه دا یوه معجزه وه دحضرت یوسف
علیه السلام چې ده ته په اذن دخدای ﷻ معلومه سوه چې کله دده قمیص دپلار پرمخ واچول سي نو الله ﷻ به دده
نظر جوړکړي .

اوضحاک رحمه الله او مجاهد رحمه الله وغیره دتفسیر امامان فرمایي چې دا ددې قمیص خصوصیت وو خکه چې

Maktaba Tul Ishaat.com

دا د عامو کالو په ډول نه وو ، بلکه دحضرت ابراهیم ﷺ دپاره هغه وخت راوړل سوي وو ، کله چې دی یې لغړکی او دنمرود اور ته یې یې اچولی وو ، بیا دا دجنت جامه دحضرت ابراهیم ﷺ سره محفوظ وو او دده دوفات څخه وروسته دحضرت اسحق ﷺ سره وه ، بیا دده وفات څخه وروسته حضرت یعقوب ﷺ ته ورسیدی ، دوی دیو ډیر برکت والا شي په حیثیت سره په یوه نلکه کی بند کی او دحضرت یوسف ﷺ په غاړه کی یی په طور د تعویذ اچولی وو ، چی دبد نظر څخه محفوظ وي دحضرت یوسف ﷺ ورونو چی کله دده څخه قمیص دپلار د دوکه کولو دپاره ویستی ، او دی یی لغړ کي او څاه ته یی واچوی نو جبریل امین تشریف را وړی او د غاړی څخه یي ورته نلکه را خلاصه کړه قمیص بي ورڅخه را ویستی او په حضرت یوسف ﷺ یي واغوستی اوبیادا دده سره محفوظ وو ، دغه وخت هم جبریل امین حضرت یوسف ﷺ ته دا مشوره ورکړه چې دا دجنت جامه ده ددی خاصیت دا دی چی د ړوند پرمخ یي واچوئ نوبینابه سي او وي فرمایل چی دا خپل پلار ته ولیږه نوهغه به بینا سي .

اوحضرت مجددالف ثاني رحمه الله تحقیق دا دی چی دحضرت یوسف ﷺ حسن اوجمال او د دوی وجود په خپله دجنت یو شی وو ، په دی وجه دده دجسم سره به پیوست سوی هرقمیص کی دا خاصیت کیدای سي ، (مظهري)

وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ : یعنی تاسی ټول ورونه خپل ټول اهل اوعیال زماخوا ته مصرته را ولئ ، اصل مقصد خودپلارصاحب راغوښتل وو ، مګردلته یې په وضاحت سره دپلارپرځای دخاندان راوستو ذکر وکي شاید داځکه چی دپلاردلته د رابللودپاره ویناکول یې د ادب څخه خلاف وګڼله اودایې یقین ووچی هرکله دپلار بینایي بیرته پرځای سي اودلته د را تلو څه عذر پاته نه سي ، نو هغه به په خپله خامخا تشریف را وړي .

قرطبي رحمه الله یو روایت نقل کړی دی ، چی هرکله دحضرت یوسف ﷺ په ورونوکی یهود وویل چی دا قمیص به زه ورم ، ځکه چی دده پرقمیص چی د دروغو وینه لګول سوی وه هم ما وړی وو ، چی په هغه سره پلار ته صدمه رسیدلی وه اوس دهغه مکافات هم زما په لاس په کار دی چي وسي .

وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ : یعنی هرکله چی قافله دښارڅخه ووتله، نوحضرت یعقوب ﷺ د دوی سره ناستو خلقوته وفرمایل چې که تاسی ماته بې وقوفه نه وایاست نو زه به تاسی ته ووایم چی ماته دیوسف ﷺ خوشبویي راځي دمصرڅخه ترکنعان پوري د ابن عباس رحمه الله د روایت مطابق د اتو ورځو دمزل لار ده اوحضرت حسن رحمه الله فرمایي چی اتیا فرسخه یعنی تقریباً دوه نیم سوه میله فاصله وه الله ﷻ د دومره لیري څخه دیوسف ﷺ دقمیص په ذریعه دحضرت یعقوب ﷺ خوشبویي دحضرت یعقوب ﷺ دماغ ته ورسوله او دا عجیبه ده چی هرکله حضرت یوسف ﷺ دخپل وطن کنعان په یوه ځای کی دري ورځي پروت وو نو دغه وخت دا خوشبویي نه محسوس کیده ، ددی څخه معلومیږي چی هیڅ یوه معجزه دپیغمبر په اختیار نه وی بلکه په حقیقت کي معجزه دپیغمبرخپل کار اوعمل هم نه وي دا سیده په سیده دالله ﷻ کار وي ، هرکله چی الله ﷻ اراده وفرمایی نومعجزه ظاهره کي اوکله چی دخدای ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com

اجازه نه وي نو نژدې هم ليرې وي.
قَالُوا تَاللّٰهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَالِكَ الْقَدِيمِ: يعنی په مجلس کی حاضرو خلقو چی دحضرت یعقوب ﷺ خبره واوریده نو وي ویل په خدای قسم چی ته په خپل هغه پخواني غلط خیال کی یی چی یوسف ﷺ ژوندی دي او هغه به بیا راسی.
فَلَمَّا أَنْ جَاءَ الْبَشِيرُ: يعنی هرکله چی دا زیری ورکوونکی کنعان ته را ورسیدی، او دحضرت یوسف ﷺ قمیص یی دحضرت یعقوب ﷺ پرمخ باندی واچوئ نو فوراً دهغه نظر بیرته راغی، زیری ورکوونکی دحضرت یوسف ﷺ ورور یهود وو، چی دده قمیص یی دمصر څخه را وړی.
قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ: يعنی آیا مانه وویل چی ماته دالله ﷻ دطرف څخه هغه علم حاصل دی دکوم چی تاسی خلقوته خبرنسته چی یوسف ﷺ ژوندی دی او هغه به بیا پیداسي.
قَالُوا يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ: اوس هرکله چی حقیقت دحال ښکاره سو نو دحضرت یوسف ﷺ ورونو دپلارڅخه دخپلو خطاګانو معافي په دی دول سره وغوښتله چی پلارته یی درخواست وکي چی زمونږ دپاره دالله ﷻ څخه بخښنه وغواړه او دا ښکاره خبره ده چی کوم سړی دالله ﷻ څخه د دوی د خطا معاف کولو دُعا کوي هغه به پخپله هم د دوی خطا معاف کوي.
قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي: يعنی حضرت یعقوب ﷺ وفرمایل چی زه به ډیر ژرستاسی دپاره دالله ﷻ څخه دمعافي دعاوکړم.
دلته حضرت یعقوب ﷺ فوراً د دُعاکولو پرځای وعده وکړه چی ډیر ژربه دُعاوکړم، ددی وجه عامو مفسرینو دا لیکلی ده چی مقصود ددی څخه دا وو چی په اهتمام سره به دشپې په آخرکی دُعاوکړم، ځکه چی ددغه وخت دُعاپه خصوصیت سره قبلیدای سي، لکه چی دصحیح بخاري اومسلم په حدیث کی دی چی الله ﷻ دهري شپې په آخري برخه کی مخکي ته نژدی آسمان ته نزولِ اجلال فرمایي او دا اعلان کوي چی څوک دی چې زماڅخه سوال کوي، نو زه به قبلوم څوک دی چی زماڅخه مغفرت غواړي او زه یې مغفرت وکړم.
فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ: په ځینو روایتونوکی دی چی حضرت یوسف ﷺ دا وار دخپلو ورونو سره پر دوه سوه اوښانو بار ډیر سامان دجامو او نورو ضرورتونو لیږلی وو، چی ټول خاندان مصرته د را تلوو دپاره غوره تیاري وکړل سي، ددی مطابق حضرت یعقوب ﷺ او دده اولاد او ټول متعلقین دمصر دتللو دپاره تیار سول ووتل نو په یو روایت کی د دوی شمیر دو ۷۲ اویا او په بل کی اووه کم سل ۹۳ سړی او ښځي بیان سوی دي، بل طرف ته هرکله چی مصر د رسیدو وخت نژدی سو نو حضرت یوسف ﷺ اودمصرخلق د استقبال دپاره دښارڅخه دباندی را ووتل او څلور زره سپاهیان د دوی سره دسلامي ورکولو دپاره را ووتله، هرکله چی دا حضرت په مصرکی دحضرت یوسف ﷺ په مکان کی داخل سول نو ده خپل مور او پلار دځان سره پاته کړل.
دلته ذکر دمور اوپلار دی حال دا دی چی دحضرت یوسف ﷺ دمور وفات دده په کوچنیوالی کی سوی

Maktaba Tul Ishaat.com

وو. مگر ددی ځنځه وروسته حضرت یعقوب علیه السلام ددی مرحومي دخورلیاسره نکاح کړی وه ، کومه چې دحضرت یوسف علیه السلام دخاله والي په حیثیت سره هم په مثل دمور وه او دپلار دنکاح په حیثیت سره هم د مور ویلو مستحقه وه (دا توجیه ددې روایت مطابق ده په کوم کې چې ویل سوي دي چې دحضرت یوسف علیه السلام مور دبنیامین دکیدو په وخت کې وفات سوې وه . په دی بنادلته دحضرت مصنف رحمه الله داعبارت دص ۱۷ او ص ۱۸ ج ۵ دعبارت ځنځه متضاد معلومیږي چې په دی کی یې دحضرت یوسف علیه السلام مور راحیل مقرر کړی ده . لیکن په اصل کې په دی معامله کې څه مستند روایت خوسته نه . اسرائیل روایات دی اوپه دوی کې هم دیوبل سره ټکراؤ دی په خپله صاحب دروح المعانی لیکلی دی چې یهودیان دحضرت یوسف علیه السلام دمور دبنیامین دپیداکیدو په وخت کې دوفات قائل نه دی . که دا روایت واخستل سي نوهیڅ اشکال نه پاته کیږي . په دی صورت کې به په «رَفَعَ اَبَوَيْهِ » کې دحضرت یوسف علیه السلام حقیقی مور مراد وی . ابن جریر رح او ابن کثیر رحمه الله دی ته را جح ویلی دی . هم دارنګه ابن کثیر په دی بحث کوی اوفرمایي . قال ابن جریر ولَمْ يَقُمْ دَلِيْل على موْت امه (ای ام یوسف علیه السلام) وظاهرالقرآن یدل علی حیاتها. محمد تقی عثمانی رحمه الله)

وَقَالَ ادْخُلُوا مِصْرَ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ آمِنِيْنَ: حضرت یوسف علیه السلام دټول خاندان خلقوته وویل چې تاسی ټول دخدای ﷻ په اذن سره مصرته بی بیرې اوبی خطرې بغیر دځه پابندي ځنځه دا خل سی ، مطلب دا وو چې بل ملک ته پر داخلیدونکو مسافرانو باندی چې کومی پابندي عادةً وي تاسی ددغو ټولو پابندیو ځنځه آزاد یاست .

وَرَفَعَ اَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ: یعنی حضرت یوسف علیه السلام خپل مور اوپلار پرخپل شاهي تخت باندی کښېنول .

وَخَرُّوْا لَهٗ سُجَّدًا: یعنی مور اوپلار اوټولو ورونو دحضرت یوسف علیه السلام په مخکې سجده وکړه ، حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنه فرمایي ، چې دا سجده دشکر دالله ﷻ دپاره سوی وه ، حضرت یوسف علیه السلام ته نه وه اوځینی حضرات فرمایي چې دعبادت سجده خو دهر پیغمبرپه شریعت کی غیرالله ته حْرامه وه ، لیکن د تعظیم سجده دتیرو پیغمبرانو په شریعتونوکی جائزه وه کومه چې په اسلامي شریعت کی دشرک د ذریعي دکیدو په وجه منع سوی ده لکه چې دصحیحینوپه حدیث کی ذکردي چې چاغیرالله ته سجده حلاله نه ده .

وَقَالَ يَا اَبَتِ هٰذَا تَاْوِيْلُ رُؤْيَايَ: دحضرت یوسف علیه السلام په مخکې چې هرکله دواړو مور اوپلار اویولسو ورونو په یو وخت سجده وکړه نو ده ته خپل دهغه کوچنیوالي خوب وریاد سو او وي فرمایل چې پلاره دا زما دهغه خوب تعبیردی کوم چې ما په کوچنیوالي لیدلی وو چې لمر، سپوږمی او یوولس ستوري ماته سجده کوي دالله ﷻ شکر دی چې هغه را ته دخوب رښتیني کیدل په سترګو وښوول .

(احکام او مسئلې)

(۱) حضرت یعقوب علیه السلام چې د زامنو دمعافي په درخواست دا وفرمایل چې ډیر ژر به ستاسی دپاره دُعا وغواړم او فوراً یې دعاونه کړه .

ددې تاخير يوه وجه ځنې حضراتو دابيان کړې ده چې منظوره دا وه چې دحضرت يوسف ﷺ سره يوځاى سي اول دا تحقيق وسو چې هغه د دوى خطا معاف کړې ده اوکه نه ، ځکه چې ترڅو پورى مظلوم معافي ونه کي ، دالله ﷻ په نزد هم هغه معافي نسته ، په داسې حالت کې دمغفرت دُعاهم مناسب نه وه .

داخبره پرځپل ځاى بالکل صحيح او اصولي ده چې دحقوق العبادڅخه توبه بغير ددى څخه نه سي کيداى ، چې دحق خاوند خپل حق وصول کړى يايي معاف کړي ، محضې دژبې توبه او استغفار کافي نه دى .

(۲) دحضرت سفيان ثورى رحمه الله څخه روايت دى چې هرکله يهودا دحضرت يوسف ﷺ قميص را وړى او دحضرت يعقوب ﷺ پرمخ يې واچوئ پوښتنه يې ورڅخه وکړه چې يوسف ﷺ څنګه دى ؟ ده وويل چې هغه دمصر باچادى ، حضرت يعقوب ﷺ وفرمايل چې زه ددى پوښتنه نه کوم چې باچادى اوکه فقير ، پوښتنه دا ده چې دعمل او ايمان په اعتبارسره يې څه حال دى نو هغه دحضرت يوسف ﷺ دتقوى اوپاکي حالات بيان کړل ، دا دى دانبياء عليهم السلام محبت اوتعلق چې د اولاد دجسماني راحت څخه زيات د دوى د روحاني حالت فکر کوي ، هر مسلمان ته ددى تابعداري په کار ده .

(۳) دحضرت حسن رحمه الله څخه روايت دى چې هرکله خوشخبري ورکوونکى قميص را وړه ، نوحضرت يعقوب ﷺ غوښتل چې ده ته څه انعام ورکي ، مګر حالات برابر نه وو ، په دى چې يي عذر وکي چې د اوو ورځو څخه زمونږ په کورکې دوډۍ نه ده پخه سوې په دى وجه زه څه مادي انعام خو نه سم درکولاى ، مګر دا دعاکوم چې الله ﷻ دي پرتادمرګ سختي آسانه کي ، قرطبي فرمايي چې دا دعادهغه دپاره د ټولو څخه غوره انعام وو .

(۴) ددې واقعي څخه دا هم معلومه سوه چې خوشخبري ورکوونکى ته انعام ورکول دپيغمبرانو سنت دى په صحابه کرامو کې دحضرت کعب بن مالک ؓ واقعه مشهوره ده چې دتبوک په غزاکې دشرکت نه کولو په وجه پرده عتاب وسو اوبيا يي توبه قبوله سوه . نوکوم سړى چې دتوبي قبليدوخوشخبري راوړى وه خپلي جامي يي ويستلي او په هغه يي واغوستلي .

دارنګه ددى څخه دا هم ثابته سوه چې دخوشحالۍ پرموقع دخوشحالۍ ظاهرولو دپاره دوستانو وغيره ته دخوراک دعوت ورکول هم سنت دى ، حضرت فاروق اعظم ؓ چې هرکله سورة بقره ووايه اوختم يي کي نو په خوشحالۍ کې يې يو اوښ ذبح کي او په خلقو باندى يې وخوړى .

(۵) دحضرت يعقوب ﷺ زامنو د واقعي دحقيقت ظاهريدلوڅخه وروسته دخپل پلار او وروړڅخه معافي وغوښته ، ددى څخه معلومه سوه چې دکوم سړي دلاس يا ژبې څخه چا ته آزار ورسيږي يايي څه حق دده پرذمه پاته سي ، نو فوراً دي دغه حق ادا کي ، يادي معافي ورڅخه وغواړي ، په صحيح بخاري کې په روايت د ابو هريره ؓ نقل دى چې نبى کريم ﷺ فرمايي دکوم سړي په ذمه چې دچابل څه مالي حق واجب وي يايي چاته څه آزار په لاس ياژبه رسولى وي ده ته په کار دي چې هم نن هغه اداکړي ياورڅخه معافي وغواړي اوخپله غاړه آزاده کړي مخکې تردې چې دقيامت هغه ورځ راسي کوم ځاى چې به دچا سره دڅه مالي حق اداکولو دپاره څه مال نه وي په دى وجه به دده نيک عملونه مظلوم ته ورکول کيږي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

دي به خالي پاته سي اوكه دده نيک عملونه هم نه وي نوبل چي څه گناه کړي وي هغه به دده پرسر واچول سي (الله ﷻ دي زمونږ امان په نصيت کړي . آمين)

(دحضرت يوسف ﷺ دصبر اوشكرمقام)

ددی څخه وروسته حضرت يوسف ﷺ دمور اوپلارپه مخکې خپل سرگذشت بيانول شروع کړل ، دلته يو منټ غور وکړئ که نن پر چا دومره مصيبتونه تير سي ، څومره چې په حضرت يوسف ﷺ تيرسول او دمور اوپلارسره د دومره اوږدمفارقت څخه وروسته يوځای سي ، نو دی به دمور اوپلارپه مخکې څومره قصي بيانوي څومره به ژاړي اوڅومره شپې او ورځي به دمصيبتونو په قصو بيانولوکی تيري کړي ، مگر دلته دواړه طرف ته داالله ﷻ رسولان اوپيغمبران دي د دوی کار وگورئ ، دحضرت يعقوب ﷺ څخه ورک سوی محبوب زوی د زرگونو مصيبتونو د دور دتريدو څخه وروسته کله چې دپلارسره يوځای کيږي ، نوڅه فرمايي .

وَقَدْ أَحْسَنَ بِي إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ السِّجْنِ وَجَاءَ بِكُمْ مِنَ الْبَدْوِ مِنْ بَعْدِ أَنْ نَزَغَ الشَّيْطَانُ بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِي : يعنی الله ﷻ په مااحسان وکي کله چې زه دبندی خاني څخه را ويستم اوتاسي يي دبهرڅخه دلته را وستلاست وروسته تر هغه چې شيطان زما او زما د ورونو په مينځ کی فساد اچولی وو .

دحضرت يوسف ﷺ مصيبتونه په ترتيب سره په دروبابونوکی تقسيميږي ، اول د ورونو ظلم او زياتوب دويم دمور اوپلارڅخه اوږده جدايي دريم دقيد خاني تکليفونه . دخدای دی پيغمبر په خپل بيان کي اول خو ترتيب بدل کی دقيدخاني څخه يي خبره شروع کړه او په دی کی يی په قيدخانه کی د داخليا ـ اوهلته دتکليفونو نوم وانه خستی ، بلکه دقيدخاني څخه دوتلو ذکر يی دخدای ﷻ دشکرسره بيان کي ، دقيد خاني څخه دخلاصيدو او پر دی داالله ﷻ دشکر په ضمن کی يی دا هم وښوولی چې زه څه وخت په قيدخانه کی هم پاته سوی يم .

دلته دا خبره هم دغور قابله ده چې حضرت يوسف ﷺ دجيل خاني څخه دوتلو ذکر وکي ، ورونو چې کوم څاه ته اچولی وو ددی يی داسی ذکر هم ونه کي ، چې الله ﷻ زه ددغه څاه څخه راويستم وجه دا ده چې د ورونو خطايي مخکی معاف کړی وو اوفرمايلي يي وه چې ، لاتثريب عليکم اليوم : په دی وجه يی مناسب ونه گڼله چې اوس ددی څاه ذکر په يو ډول سره هم راسي چې ورونه شرمنده نه سی (قرطبي)

ددی څخه وروسته دمور اوپلار د اوږدي اوصبر آزما جدايي ذکر او ددی د اثراتو بيانول وو نو دا ټولي خبري يی پريښودي ددی آخري آخري انجام او دمور اوپلار سره دملاقات ذکر يي دشکرسره وکي ، چې تاسي يې دکلوڅخه دمصرښارته راوستلاست ، په دی کی ددی نعمت طرف ته هم اشاره ده چې دحضرت يعقوب ﷺ وطن په کلوکی وو کوم ځای چې دژوند دسامان آساني کمي وي الله ﷻ ښارته دشاهي عزتونو سره را وستی .

اوس اوله خبره پاته سوی وه د ورونو دظلم او زياتوب څخه وروسته دغه يي هم دشيطان په حواله کړه او داسی بيان کړه چې زما ورونه داسی نه وه چې دا کار يې کړی وای شيطان دوی دوکه کړل او دا فساد يې وکي .

دا دی دنبوت شان چې پرمصيبتونو بوازې صبرنه کوي بلکه هرځای دشکرطرف راباسي په دی وجه د دوی بوحال هم داسی نه وي چې په هغه کی دوی دالله ﷻ شکر گذارنه وي په خلاف دعامو انسانانوڅخه چې د دوی دا حال وي چې دالله ﷻ په زرگونو نعمتونه پر اوريږي ، خوبياهم ديوه ذکرنه کوي اوکه څه وخت بوځای په يومصيبت کي راسي نوټول عمربيارغيږي په قرآن کريم کي يې ددی شکايت کړی دی، إِنَّ الْإِنسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ: يعنی انسان دخپل رب ډير ناشکره دی .

حضرت يوسف ﷺ دمصيبتونو داستان په درو لفظونوکی دلنډ بيانولوڅخه وروسته فرمايي ، إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِّمَا يَشَاءُ إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ : يعنی زما پروردگار چی څه غواړي دهغه لطيف تدبيرکوي بيشکه هغه لوی علم والا حکمت والا دی .

رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِن تَأْوِيلِ

ای ربه! تا راکی ما ته څه حکومت او وښووی تا ما ته څه تعبير

الْأَحَادِيثِ ۚ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَنتَ وَلِيِّي فِي الدُّنْيَا

دخبرو ای پيدا کوونکيه! داسمانو او دمځکو ته زما کارسازيی په دنيا

وَالْآخِرَةِ ۖ تَوَفَّنِي مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ ﴿١٠١﴾

او په آخرت کی مرګ راکړی وما ته په اسلام او يوځای کړه ما دنيک بختو سره

لنډتفسير: (تردی وروسته ټول په خندا اوخوشحالی اوسيدل تردی چې دحضرت يعقوب ﷺ عمر ختميدو ته ورسيدی او دوفات څخه وروسته د دوی د وصيت مطابق دشام ملک ته يو وړل سو اودخپلو بزرگانو په خوا کی دفن کړل سو، بيا دحضرت يوسف ﷺ هم د آخرت شوق پيداسو او دعايي وکړه چې) ای زما پروردگاره تاماته (هرقسم نعمتونه راکړه ظاهري هم باطني هم ظاهري دا چی مثلاً) دحکومت لويه حصه دی راکړه او (باطني دا چی مثلاً) ماته دي دخوبونو تعبير ورکول وښودل (کوم چې عظيم علم دی خصوصاً هرکله چی دا يقيني وي کوم چی موقوف دي پر وحی باندی پس ددی وجود لازمونکی دی عطاء دنبوت لره) ای خالقه د آسمانونو او دمځکي ته زماکار ساز يي په دنياکی هم اوپه آخرت کی هم (پس څنګه چې دي په دنيا کی زماټول کارونه برابر کړل چې حکومت دي راکي علم دي راکي دغه شان د آخرت کارمي هم جوړکی چې) ما دفرمانبرداری په حالت کی د دُنيا څخه پورته کړي اوخاص په نيکو بندګانوکی مي شامل کړي (يعنی زما بزرګانوته کوم چې لوی لوی انبياء دي دوی ته ماهم ورسوي)

Maktaba Tul Ishaat.com

(معلومات او مسئلې)

په تيرو آيتونوکې يې دپلارصاحب سره خبرې اترې وې ددې څخه وروسته هرکله چې دمور اوپلار او د ورونو په ملاقات سره يو مهم مقصد حاصل سو اوسکون حاصل سو نو سيده په سيده دالله ﷻ په حمد، وثنا اودُعاکې مشغول سو فرمايي.

رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَنْتَ وَلِيِّي فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ تَوَفَّنِي مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ : يعنې اى زماپرور دګاره تاماته دحکومت لويه برخه راکړه اوماته دې دخوبونو تعبيرورکول را وښوول و اى د آسمانونو او مځکو خالقه ته په دُنيا او آخرت کې زما کارساز يې ، مادپوره فرمانبردارۍ په حالت کې ددنياڅخه پورته کړې اوماپه کاملونيکوبندګانوکې شامل کې ، کامل نيک بندګان انبياء عليهم السلام کيداى سي کوم چې دهرې ګناه څخه معصوم وي (مظهري)

په دې دعاکې دحسن خاتمې دُعاپه خاص طورسره دنظرقابله ده چې دالله ﷻ دمقبولوبندګانو رنګ دا وي ، چې هرڅومره لوړې درجې ددنيا او آخرت دوى ته نصيب وي اوڅومره مرتبې اومنصبونه چې د دوى په قدمونو کې وي دوى په هيڅ حالت کې په دې نه مغروره کيږي بلکه هروخت ورسره ددې غم وي چې هسې نه دا دحالت ليرې اوکم نه سي ، او ددې دُعاګانې غواړي چې دالله ﷻ ورکړې ظاهري اوباطني نعمتونه تر مرګه پورې بر قرار پاته سي ، بلکه اضافه په کې کيږي.

تردې ځاى پورې دحضرت يوسف ﷺ عجيبه اونا آشناقصه او ددې په ضمن کې د راغلو هدايتونوسلسله کومه چې په قرآن کريم کې ذکرده پوره سوه ، ددې څخه وروسته قصه په قرآن کريم يامرفوع حديث کې ذکرنه ده ، اکثرو دتفسير د اسرائيلي روايتونو څخه نقل کړې ده.

په تفسيرابن کثيرکې يې دحضرت حسن رحمه الله په روايت سره نقل کړې دې چې حضرت يوسف ﷺ څه وخت ورونوڅاه ته اچولى وو نودده عمراووه۷ کاله وو بياتيا ۸۰ کاله دپلارڅخه غائب وو اودمور او پلار دملاقات څخه وروسته درويشت ۲۳ کاله ژوندى وو اوديوسل او شلو ۱۲۰ کالوپه عمرکې وفات سو اومحمدبن اسحاق فرمايي چې داهل کتابو په روايتونوکې دي چې دحضرت يوسف ﷺ اوحضرت يعقوب ﷺ دجدايي زمانه څلويښت کاله وه بيادحضرت يعقوب ﷺ مصرته دتشريف راوړوڅخه وروسته دحضرت يوسف ﷺ سره اوولس ۱۷ کاله ژوندى وو ، ددې څخه وروسته دى وفات سو.

په تفسيرقرطبي کې دتاريخ دانانوپه حواله سرهٔ ذکردى چې په مصرکې دڅلوريښتو کالو د ژوند تيرولو څخه وروسته حضرت يعقوب ﷺ وفات سو او دوفات څخه مخکې يې حضرت يوسف ﷺ ته وصيت وفرمايي چې زما لاش زماوطن ته وليږه او زمادپلارحضرت اسحق ﷺ سره مې دفن (ښخ) کړه.

سعيدبن جبير رحمه الله فرمايي چې حضرت يعقوب ﷺ يې دسال دلرګي په تابوت کې کښيښووى ، بيت المقدس ته يې يو وړى ، په دې وجه په عامو يهودوکې دا رسم شروع سو چې خپل مړى دليرې ليرې څخه بيت المقدس ته وړي اودفن کوي يې ، دحضرت يعقوب ﷺ عمر دوفات په وخت کې يوسل اووه څلويښت ۱۴۷ کاله وو.

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي هرکله چې حضرت يعقوب ﷺ سره دخپل اولاد مصرته داخل سو

Maktaba Tul Ishaat.com

، نو د دوی شمیر پر اووه (۹۳) کم سلو ښځو او نرو باندی مشتمل وو او کله چی دا اولاد دیعقوب ﷺ یعنی بني اسرائیل حضرت موسی ﷺ سره دمصرڅخه ووتل نو د دوی شمیرشپږ لکه اویا زره ۲۷۰۰۰۰ وو (قرطبي او ابن کثیر)

داذکر اول سوی دی چی دمخکني عزیز مصر دوفات څخه وروسته دمصر باچا دحضرت یوسف ﷺ واده دزلیخاسره کړی وو، دتورات اواهلِ کتابوپه تاریخ کی دی چی ددی چی دحضرت یوسف ﷺ دوه هلکان افرائیم اومنشااویوه لور رحمت بنت یوسف پیدا سوی وه، درحمت نکاح دحضرت ایوب ﷺ سره وسوه او د افرائیم په اولادکی یوشع بن نون پیدا سو کوم چی دحضرت موسی ﷺ ملګری وو. (مظهري)

دحضرت یوسف ﷺ انتقال دیوسل اوشلو ۱۲۰ کالوپه عمرکی وسو اوددریای نیل پرغاړه دفن کړل سو.

ابن اسحاق دحضرت عُروه ابن زبیر رحمه الله په روایت سره بیان کړی دی چی کله حضرت موسی ﷺ ته حکم وسو چی بني اسرائیل روان کړه دمصرڅخه یي وباسه نو دوحی په ذریعه ده ته حکم وسوچی دحضرت یوسف ﷺ لاش په مصرکی مه پرېږده دی دځان سره شام ته یوسه او ده دپلارنیکه په خواکی یي دفن کړه ددی حکم مطابق حضرت موسی ﷺ تلاش شروع کي، دده قبریې پیدا کي، چی دسنګ مرمرو په تابوت کی وو دی یي دځان سره کنعان فلسطین ته یو وړی اودحضرت اسحاق اویعقوب ﷺ په خوا کی یي دفن کي (مظهري)

دحضرت یوسف ﷺ څخه وروسته دعمالیق قوم فراعنه پرمصرمسلط سو اوبني اسرائیل د دوی په حکومت کی اوسیدل دحضرت یوسف ﷺ پر دین قائم وو مګر دوی یي غیر ملکي ګڼل په دی وجه به یي ورته قسم قسم تکلیفونه رسول تردی چي دحضرت موسی ﷺ په ذریعه الله ﷻ دوی ددی عذاب څخه خلاص کړل (مظهري)

(هدایتونه او احکام)

په ذکر سوو آیتونوکی یوه مسئله خو دا معلومه سوه چی دمور اوپلارتعظیم اوتکریم واجب دی لکه چی دحضرت یوسف ﷺ د واقعي څخه ثابته سوه.

دویمه مسئله ورڅخه دامعلومه سوه چی دحضرت یوسف ﷺ په شریعت کی دتعظیم سجده جائزه وه، په دی وجه موراوپلاراوورونویي سجده وکړه، مګرپه شریعت محمدی ﷺ کی سجده دخاص عبادت نښانه ګرځول سوی ده دغیرالله دپاره حرامه سوی ده، په قرآن مجید کی فرمایي، لَاتَسْجُدُوالِلشَّمْسِ وَلَالِلْقَمَرِ او په حدیث کی دی چی حضرت معاذ ﷺ هرکله شام ته ولاړی اوهلته یي ولیدل چی نصاری خپلو بزرګانو ته سجدي کوي نوچی بیرته راغی دنبی کریم ﷺ په مخکي سجده وکړه حضور ﷺ منع کي او ورته یی و فرمایل چی کله ماچاته سجده کول جائز ګڼلای، نو ښځو ته به می ویلای چی خپل خاوند ته سجده کوي. دغه ډول حضرت سلمان فارسي ﷺ ده صلی الله علیه وسلم ته سجده کول وغوښتل نو دوی وفرمایل «لاَ تَسْجُدْ لِیْ یَاسَلْمَانُ وَاسْجُدْ لِلْحَیِ الذِیْ لاَ یَمُوْتُ: یعنی ای سلمانه ماته سجده مه کوه، بلکه سجده صرف هغه ذات ته کوه کوم چی حی قیوم دی چی هیڅکله ورته فنا نسته (ابن کثیر)

ددی څخه معلومه سوه چی هرکله نبی کریم ﷺ ته دتظیم سجده جائزنه ده نوبل بزرګ یاپیر ته څنګه جائزه

کيدای سي د ،هٰذَا تَاْوِيْلُ رُءْيَايَ : څخه معلومه سوه چي دخوب تعبيرځيني وخت ډيره زمانه وروسته ظاهريږي لکه په دي واقعه کي چي څلويت (۴۰) يا اتيا(۸۰) کاله وروسته ښکاره سو(ابن جرير، ابن کثير)
د، قَدْ اَحْسَنَ بِیْ : څخه ثابته سوه چي کوم سړی په څه مرض يامصيبت کي اخته سي بيا ددی څخه نجات پيدا کوي نو پيغمبري سنت دا دی چي په نجات دي شکر ادا کړی او دمرض اومصيبت ذکر هير کړي .
د ،اِنَّ رَبِّیْ لَطِيْفٌ لِّمَا يَشَآءُ : څخه معلومه سوه چي الله ﷻ دکوم کار اراده وفرمايي دده دپاره داسی باريک اوپټ تدبيرونه اوسامان جوړکړی چي دچاپه وهم اوګمان کي هم نه راځي .
په ، تَوَفَّنِیْ مُسْلِمًا : کي حضرت يوسف ؑ په ايمان او اسلام باندی دمرګ دعاغوښتی ده ، ددې څخه معلومه سوه چي په خاصو حالاتوکي دمرګ دعاغوښتل منع نه دی ، اوپه صحيح احاديثوکي چي يې کومه دمرګ آرزو منع فرمايلي ده ددی حاصل دا دی چي ددنيادتکليفونو څخه وبيريږي اوپه بي صبري سره مرګ غواړي دا جائز نه دی نبی کريم ﷺ فرمايي چي يو سړی دي دڅه مصيبت په وجه دمرګ آرزو نه کوي که غواړي نو داسی دي ووايي چې يا الله ﷻ ماته ترڅو پوري چي ژوند غوره وي ترهغه وخته پوری مي ژوندی وساتي اوکله چي زمادپاره مرګ غوره وي نو ماته بياهغه وخت مرګ را کړي .

ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ اَجْمَعُوْٓا
دا خبرونه دغيب دي چي ليږو يي مونږ تا ته او ته نه وې د دوی سره کله چي دوی مقرر کی

اَمْرَهُمْ وَهُمْ يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ وَمَآ اَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ
خپل کار اوفريب يي کوی ، او اکثر خلق نه دی يقين کوونکی

بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۳﴾ وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ
که څه هم ته خومره غواړی ، او ته نه غواړی د دوی څخه په دی څه بدله ، نه دی دا مګر نصيحت دی

لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۴﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ اٰيَةٍ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يَمُرُّوْنَ
تول عالم ته ، او ډيری نخښی دی په اسمانونو او په مځکو کی چي دوی تيريږي

عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ
په هغوی او دوی په کی فکر نه کوی ، او نه دی ايمان راوړونکی ډير خلق په الله

اِلَّا وَهُمْ مُّشْرِكُوْنَ ﴿۱۰۶﴾ اَفَاَمِنُوْٓا اَنْ تَاْتِيَهُمْ غَاشِيَةٌ مِّنْ
مګر شرک ورسره هم کوی ، ايا بی بيری سول ددې څخه چي راسی دوی ته يوپټونکی افت

Maktaba Tul Ishaat.com

عَذَابِ اللّٰهِ اَوْ تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۰۷﴾

د عذاب دالله　یا راسی　دوی ته قیامت　ناڅاپه او دوی　خبر نه وی.

قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْۤ اَدْعُوْۤا اِلَى اللّٰهِ ۚ عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ

ووایه　دا زما لار ده　بلم خلق　دالله طرف ته　ښه په پوهه سره　زه او څوک چی

اتَّبَعَنِيْ ؕ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَاۤ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ وَمَاۤ

ما سره دی　او الله پاک دی　او زه نه یم　دشرك جوړونكوڅخه　اوڅومره

اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْۤ اِلَيْهِمْ مِّنْ اَهْلِ الْقُرٰى ؕ

چی لیږلی دی　مونږ تاڅخه مخکی دغه تول سړی وو چی وحی لیږلی وه　مونږ دوی ته دکلووسیدونکی وو

اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ

نو آیا　دا خلق نه دی تلی　په ملك كی　چی لیدلی یې وی چی څنګه سو انجام دهغو خلقو کوم چی

مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ اتَّقَوْا ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۹﴾

د دوی څخه مخکی وو او داخرت کور خو ښه دی ،　دپرهیز کوونکو دپاره ،　آیا پس اوس هم نه پوهیږي.

تفسیر: دا قصه (کومه چی لوړه بیان سوه ستاپه اعتبارسره) دخبرونو دغیبو څخه ده (ځکه چی ستاسره څه ظاهري ذریعه ددی دپوهیدو نه وه صرف) مونږ دوحی په ذریعه سره تاته دا قصه ښیو او (دا ظاهره ده چی) ته د دوی (ورونو دیوسف ؑ) سره هغه وخت موجود نه وې کله چی دوی خپله اراده (دیوسف ؑ څاه ته دغورځولو) پخه کړی وه او هغو (ددی متعلق) تدبیرونه کول (تاته یې ویل چی دې داسی بیایو او داسی ورسره کوو وغیره اودغه شان دا خبره یقیني ده چی تادچاڅخه دا قصه اوریدلی هم نه ده پس دا صفادلیل دی دنبوت او ددې چی تاته وحی کیږي) او (سره ددی چی ستاپرنبوت دلیلونه قائم دي) اکثره خلق ایمان نه راوړي که څه هم چی هر څومره ستازړه غواړي او (د دوی په ایمان نه راوړو سره ستاڅه نقصان نسته ځکه چی) ته د دوی څخه پردی (قرآن) څه معاوضه خو نه غواړي (چی دا احتمال په کی دوی قرآن قبول نه کړی نوستامعاوضه به فوت سی ، دا (قرآن) خوصرف دټولی دنیادخلقو دپاره یونصیحت دی (چی څوک یې نه مني نو نقصان به دهغه خپل وي) او (لکه څنګه چی دا خلق دنبوت څخه منکردي ، دغه شان سره ددلیلونو دتوحید څخه هم منکر دي چنانچی) ډیري ښښاني دي (پرتوحید دلالت کوونکی)

Maktaba Tul Ishaat.com

په آسمانونو کی (لکه ستوري وغيره) او په مځکه کی (لکه عناصر وغيره) چی دوی پر تيريږي (يعني ويني يې) او هغوي ددی طرف ته (يوه ذره) توجه نه کوي (يعني دليل نه په نيسي) او اکثره خلک کوم چی خدای ﷻ مني نو داسی چی شرک هم کوي (پس بغير دتوحيد څخه دخدای ﷻ منل په مثل دنه منلو دي پس دا خلق دالله ﷻ سره هم کفر کوی اودنبوت سره هم کفر کوی) پس ايا (دالله ﷻ او درسول څخه د انکار سره) بياهم ددی خبري څخه مطمئن سوی دی چی پر دوی دخدای ﷻ دعذاب يو داسی آفت راسي چی دوی په کی ګير سي ياپر دوی ناڅاپه قيامت راسي او دوی (دمځکی څخه) په خبرهم نه وي (مطلب دا دی چی مقتضادکفرعذاب دی برابره خبره ده که په دنيا کی نازل سي يادقيامت په ورځ واقع کيدونکی وي، دوی ته بيرېدل اوکفر پرېښوول په کار دی) ته ووايه چی زه دخدای ﷻ طرف ته په داسی طورباندی بلنه ورکوم چی زه (دتوحيد اودخپل رسالت) په دليل باندی قائم يم زه هم اوزماملګري هم (يعني زماسره هم دتوحيد او رسالت دليل دی اوزماملګروهم په دليل سره په ما ايمان راوړی دی زه دبې دليله خبري طرف ته څوک نه را بولم دليل واوري او پوه سی، پس خلاصه دطريقي دا سوه چی خدای ﷻ يو دی او زه رسول يم) او الله ﷻ (دشرک څخه) پاک دی او زه (دا طريقه قبلوم او) دمشرکانو څخه نه يم او (دوی چی پرنبوت کومه شُبه کوي چی نبي فرشته په کار ده محض مهمله خبره ده ځکه چی) مونږ ستاڅخه مخکي مختلفو کلوته چی څومره (رسولان) ليږلي دي ټول انسانان وه چی دوی ته مونږ وحي ليږله (يوه هم په کی ملائکه نه وه کوم چی دوی ونه منل اوهم دغسې مهملي شبهې يې کولی دوی ته سزاګاني ورکړل سوی دغه شان به دوی ته هم سزا ورکړل سي که په دُنياکی وي اوکه په آخرت کي وي اودا خلق چی کوم بې فکره دي) نو آيا دا خلک په ملک کی (يوځای) تللی او ګرځيدلی نه دي چی (په خپلو سترګو سره) يې ليدلی وای چی ددغوخلکوڅه (بد) انجام سو کوم چی د دوی څخه مخکی (کافران تيرسوی دي او) (يادساتئ چی دکومي دُنياپه محبت کی تاسی بې هوښه سوی ياست اوکفر مو اختيارکړی دی دا دُنيافاني اوبې کاره ده) البته آخرت دهغوخلکودپاره ډيرغورشي دی کوم چی (دشرک وغيره څخه) ځان ساتي (اوتوحيد اوفرمانبرداري اختياروي) نو آيا تاسی دومره هم نه پوهيږئ (چی فاني اوبې حقيقته شی ښه دی او که باقی او پائيدار)

(معلومات او مسئلي)

په دی آيتونو کی دحضرت يوسف ؑ دپوره قصي بيانولوڅخه وروسته اول نبی کريم ﷺ ته خطاب دی.
ذَٰلِكَ مِنْ أَنبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ: يعنی دا قصه دغيبو دهغوخبرونو څخه ده کوم چی مونږ په ذريعه د وحی تاته ښيو ته دحضرت يوسف ؑ د ورونو سره موجود نه وي.، کله چی هغوي دحضرت يوسف ؑ ځاه ته اچول مقررکړل او ددی دپاره يې تدبيرونه کول، ددي اظهارڅخه مقصد دا دی چی دحضرت يوسف ؑ دا قصه په پوره تفصيل سره صحيح صحيح بيانول ستادنبوت او وحی واضح دليل دی ځکه چې دا قصه ستا دزماني څخه په زرګونو کاله مخکی ده نه ته هلته موجود وي چی تا ليدلی وای او بيانوي يې اونه تا دچا څخه تعليم حاصل کړی دی، چی دتاريخ کتابونه ګوري يايې دچاڅخه آوري بيانوي يې په دی وجه بغير دوحی څخه بله لار ددی دعلم نسته.

Maktaba Tul Ishaat.com

قرآن کریم دلته صرف پر دومره خبره بس والی وکي چې ته هلته موجود نه وي ، دبل سړي څخه یاکتاب څخه ددې دعلم نه حاصلیدو ذکر یې څکه ضروري نه دی ګڼلی چې ټول عرب پوهیدل چې نبی کریم ﷺ أمي دی ده دچاڅخه لیکل اولوستل نه دي حاصل کړي او دا هم ټولوته معلومه وه چې ده ټول عمرپه مکه مکرمه کی تیرکړی دی ، دشام دملک یوسفر یې دخپل اکا ابوطالب سره کړی وو ، چې په هغه کی یې د لاري څخه بیرته تشریف راوړی ، دریم سفر یې دتجارت دپاره وکي چې یو څو ورځي کار یې وکي ، اوبیا واپس سو په دی سفرکی یې هم دچاعالم سره ملاقات نه دی سوی اونه یې دځه علمي اداري سره تعلق پاته سوی دی په دی وجه یې دلته ددی د ذکر کولو ضرورت ونه ګڼی او په قرآن کریم کی یې بل ځای ددی هم ذکر فرمایلي دي ، مَاكُنتَ تَعۡلَمُهَآ أَنتَ وَلَا قَوۡمُكَ مِن قَبۡلِ هَٰذَا : یعنی دقرآن دنزول څخه مخکې دا واقعات نه تاپیژندل اونه ستاقوم .

امام بغوي رحمه الله فرمایی چې یهودو او قریشو په جمع د آزمائش دپاره د نبی کریم ﷺ څخه دا سوال کړی وو چې که ته په خپله دعوه دنبوت کی رښتیني یې نودحضرت یوسف عليه السلام واقعه وښیه چې څه وه اوڅه رنګه وه ؟ هرکله چې دوی صلی الله علیه وسلم ورته دالله ﷻ په وحی سره دا هرڅه بیان کړل او دوی بیاهم پرخپل کفر او انکار پاته سول نو نبی کریم ﷺ ته صدمه ورسیده پردی باندی په راتلونکي آیت کی یې وفرمایل چې ستادنبوت او رسالت ددلیلونو واضحه کیدو باوجود ډیر خلق ایمان را وړونکی نه دي که ته هر خومره کوشش وکي مطلب دا دی چې ستا کار تبلیغ او د اصلاح کوشش دی ددی کامیاب جوړول نه ستاپه اختیارکی دی نه ستاپرذمه دی نه تا ته پردی باندی خفګان په کار دی ددی څخه وروسته فرمایي .

وَمَا تَسۡـَٔلُهُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ، یعنی ته چې څه دوی ته دتبلیغ کولو اوپرصحیح لاره باندی د راوستلو کوشش کوي پردی ددی خلقوڅخه څه معاوضه خونه غواړي چې ددی په وجه سره دوی ته په آوریدو یامنلوکی څه دسواري وي ، بلکه ستاکلام خوخالصه خیرخواهي اونصیحت دی ددنیاد ټولوخلقو دپاره، په دی کی دي طرف ته هم اشاره کیدای سي، چې هرکله په دی کوشش سره ستامقصدڅه دُنیوي نفع نه ده بلکه د آخرت ثواب او دقوم خیر خواهي ده ، نو دغه مقصد ستاحاصل سو بیاته ولی غمګین کیږي .

وَكَأَيِّن مِّنۡ ءَايَةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ يَمُرُّونَ عَلَيۡهَا وَهُمۡ عَنۡهَا مُعۡرِضُونَ : یعنی دا خلق صرف دا نه ده چې دیو ناصح نصیحت په ضد اوعناد سره نه آوري بلکه د دوی خو دا حال دی چې دالله ﷻ دکامل قدرت چې کومی ښکاره نښاني په آسمانونو اومځکه کی هر وخت لیدل کیږي پردی باندی هم دوی په غفلت اومخ اړولو سره تیریږي ، ګرسره فکر ورته نه کوي چې دا دچادقدرت اولویي نښاني دي په آسمان اومځکه کی دحق تعالی دخدایي اوحکمت اوقدرت بې شمیره نښاني دي ، په دی کی دا هم دی چې پرتیرو قومونوکوم عذاب را غلی دی او د دوی چپه سوی او برباد سوی کلي دوی په سترګوویني مګر ددی څخه هم څه عبرت نه اخلي .

Maktaba Tul Ishaat.com

دا بيان خو دداسې خلقو وو کوم چې دخداى ﷻ دوجود او دده دحکمت اوقدرت قائل نه دى ، مخکې د هغو بيان دى کوم چې دالله ﷻ دوجود خوقائل دى مګر دده سره په خدايى کې نور شريکوي فرمايي ،

وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُمْ بِاللَّهِ إِلَّا وَهُمْ مُشْرِكُونَ : يعنى په دوى کې چې کوم خلق پرالله ﷻ ايمان هم راوړي نودغه هم د شرک سره يعنى دالله ﷻ په علم ارقدرت وغيره صفتونوکې نورشريکوي کوم چې سراسرظلم اوجهل دى .

ابن کثير رحمه الله فرمايي چې ددى آيت په معنى کې هغه مسلمانان هم دا خل دي کوم چې د ايمان باوجودپه مختلف قسم شرک کې اخته دي په مسند احمدکې دي چې نبى کريم ﷺ فرمايي چې زماپرتاسې دځه شي بيره ده په هغه کې دټولوځنه زيات خطرناک شرک اصغر دى صحابه ؤ رضى الله عنهم پوښتنه وکړه نو وي فرمايل چې رياشرک اصغر دى دغه شان په يوحديث کې يې په غيرالله قسم اخيستلوته شرک فرمايلي دي (ابن کثير دترمذى ځنه) دالله ﷻ ځنه ماسوا دبل چا نذرمنل هم دفقهاء په اتفاق سره په دى کې شامل دى .

ددى وروسته د دوى پرغفلت اوجهالت باندې د افسوس اظهاردى چې دا خلق دخپل انکار اوسرکښې باوجود ددى خبرې ځنه ځنګه بې فکره سول چې پر دوى دالله ﷻ دطرف ځنه څه حادثه دعذاب راځي يا ناځاپه پر دوى قيامت راسي او دوى ددى دپاره تيار نه وي .

قُلْ هَٰذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ : يعنى ته خلقو ته ووايه چې (تاسې يې منى اوکه يې نه منى) زماخو دا طريقه اومسلک دى چې خلقوته په پوهه اويقين سره دالله ﷻ طرف ته دعوت ورکوم زه هم اوهغه خلق هم کوم چې زماتابعداري کوونکى دي ، مطلب دا دى چې زمادا دعوت پرځه سرسري نظرسره مبنى نه دى بلکه دپوره پوهې اوعقل اوحکمت ثمره ده په دى دعوت اوبصيرت(پوهه) کې نبى کريم ﷺ خپل تابعداران اوپيروکارهم شامل کړى دي ، حضرت ابن عباس رحمه الله فرمايي چې ددى ځنه مراد صحابه کرام رضى الله عنهم دي کوم چې درسالت دعلمونو خزانې اودالله ﷻ سپايان دي ، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې دنبى کريم ﷺ صحابه ددى تول امت غوره خلق دي دکومو زړونه چې پاک اوعلم يې ژور دى ، دتکليف په دوى کې نوم نسته ، الله ﷻ دوى دخپل رسول د مجلس اوخدمت دپاره منتخب کړي دي ، تاسې د دوى اخلاق عادتونه اوطريقه ازده کړئ ، ځکه چې دوى پرسيده لاره باندې دي .

او دا معنى يې هم کيداى سي چې (من اتبعني) عام وي دهرهغه سړي دپاره کوم چې ترقيامته پورې درسول ددعوت امت ته درسولو په خدمت کې مشغوله وي، کلبي او ابن زيد فرمايي چې ددى آيت ځنه دا هم معلومه سوه چې کوم سړى دنبى کريم ﷺ دتابعداري دعوه کوي پرده لازم دى چې دده صلى الله عليه وسلم دعوت په خلقو کې خپور کي او دقرآن تعليم عام کړي (مظهري)

وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ: يعنى دشرک ځنه پاک دى الله ﷻ او زه په شرک کوونکو کې نه يم ، لوړ چونکه دا ذکر را غلى دى ، چې اکثره خلق کله چې پرالله ﷻ ايمان هم راوړي نو ددې سره شرک جلي

يا خفي هم يوځاى كوي په دى وجه يې ددعوت مطلب دا نه دى چې زه خلق خپل بندګان جوړ كړم ، بلكه زه په خپله هم د الله ﷻ بنده يم او خلقوته هم ددى بندګي طرف ته دعوت وركوم البته په حيثيت دداعي په ما ايمان راوړل فرض دى پردى چې دمكي مشركانو كومه دا شُبه پيش كوله چې دالله ﷻ رسول او قاصد خو انسان نه بلكه ملائكه په كار ده ددې جواب په راتلونكى آيت كى داسى فرمايي .

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوحِيْٓ اِلَيْهِمْ مِّنْ اَهْلِ الْقُرٰى : يعنى د دوى دا خيال بې بنياد اولغوه دى چې دالله ﷻ رسول اوپيغمبر ملائكه په كار ده انسان نه سي كيداى ، بلكه معامله برعكس ده چې د انسانانو دپاره دالله ﷻ رسول هميشه انسان راغلى دي ، البته دعامو انسانانو څخه د دوى دا فرق وي چې دوى ته سيده په سيده دحق تعالى وحى اوپيغام راځي او دا دچا دكوشش اوعمل نتيجه نه وي الله ﷻ په خپله دخپلو بندګانو څخه څوک چې مناسب ګڼي ددى كار دپاره يې منتخب كوي او دا انتخاب دداسې خاصو كمالي صفتونو پر بنا باندى وي كوم چې په عامو انسانانو كى نه وي .

مخ ته دغو خلقو ته خبردارى دى كوم چې دالله ﷻ طرف ته دبلونكى او درسول دهدايتونو خلاف ورزي كوي هغوي دالله ﷻ عذاب ته دعوت وركوي فرمايي .

اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ اتَّقَوْا اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ: يعنى آيا دا خلق په مځكه كى نه ګرځي چې دوى ته دتيرو قومونو حالات معلوم سي چې درسولانو څخه انكار دوى كوم بد انجام ته ورسول؟ ليكن دا خلق ددنيا په ظاهري راحت او ښائست كى مست سوى دي آخرت يې هيركړى دى حال دا دى چې دپرهيزګارانو دپاره آخرت ددى دنيا څخه زيات غوره دى آيا ددى خلقو دومره عقل هم نسته چې ددنيا دا څو ورځي راحت د آخرت په دائمي اومكملو نعمتونو او راحتونو باندى غوره كوي .

(احكام او هدايتونه)

(دغيب په خبرونو اوعلم غيب كى فرق)

مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ : دا ټول هرڅه دغيب دخبرونو څخه دى كوم چې مونږ تاته دوحى په ذريعه ښيو دا مضمون تقريباً په دى الفاظو سره په سورت آلِ عمران كى په آيت ۴۴ ، كى دحضرت مريم ؑ په قصه كى راغلى دى ، ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ: اوپه سورة هود آيت ۴۸ ، كى دحضرت نوح ؑ دواقعى متعلق راغلى دى ، تِلْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَآ اِلَيْكَ .

په دى آيتونوكى يوه خبره خو دا معلومه سوه چې الله ﷻ خپلو انبياء عليهم السلام ته ډير دغيب دخبرونه دوحي په ذريعه ښيي، خاصكر زمونږ نبى كريم ﷺ ته ددى غيبو دخبرونو خاصه حصه وركړل سوى ده كومه چې دټولو تيرو پيغمبرانو څخه زياته ده، دا وجه ده چې نبى كريم ﷺ امت ته ترقيامته پورى دكيدونكو ډيرو واقعاتو دتفصيل يا اجمال سره معلومات وركړى دى ، دحديثو په كتابونوكى دكتاب الفتن ټول حديثونه ددى څخه ډک دي .

عام خلق چونكه علم غيب صرف دا ګڼي چې يو سړى دغيبو دخبرونو څخه په يو ډول سره خبر سي او دا

Maktaba Tul Ishaat.com

صفت په نبی کریم ﷺ کی په کامله درجه موجود دی ، په دی وجه خیال کوي چې نبی کریم ﷺ عالم غیب وو. مگر قرآن کریم په صفالفظونو کی اعلان فرمایلي دي ، لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللّٰهُ : ددی څخه معلومیږي چی عالم غیب ماسوا دخدای ﷻ څخه بل هیڅوک نه سي کیدای ، علم غیب دالله ﷻ خاص صفت دی ، په دی کی یو رسول یاملائکه شریک گڼل دوی دالله ﷻ سره دبرابرولو مترادف او د عیسایانو عمل دی ، کوم چې رسول ته دخدای زوی اوپه خدایی کی شریک وایي ، دقرآن کریم ددی ذکر سوو آیتونو څخه دمعاملي پوره حقیقت واضح سو چی علم غیب خوصرف دالله ﷻ خاص صفت دی اوعالم الغیب صرف الله ﷻ دی البته دغیبو ډیر خبرونه الله ﷻ خپلو رسولانو ته په ذریعه دوحی ښیي ، دی ته دقرآن په اصطلاح کی علم غیب نه سي ویل کیدای . اوعوام چونکه په دی بارک فرق نه پوهیږي په دی وجه دغیبو خبرونو ته علم غیب وایي ، اوهرکله چی دقرآني اصطلاح مطابق دغیرالله څخه دعلم غیب دنفي ذکر کول کیږي نو ددی څخه اختلاف کوي چی حقیقت یی تردی څخه زیات نسته چی .

اختلاف خلق از نام اوفتاد چون بمعنی رفت آرام اوفتاد

یعنی په نوم سره دخلقو اختلاف راغی خو هرکله چی یې پرمعنی باندی غور وسو نو ټول په ارام سول .

وَمَآ أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِيٓ إِلَيْهِم مِّنْ أَهْلِ الْقُرَىٰ: په دی آیت کی دالله ﷻ درسولانو متعلق دلفظ درجالاً څخه معلومه سوه چی رسول همیشه سړي وي ښځه نبي نه شي کیدای .

امام ابن کثیر رحمه الله دجمهورو علماؤ دا قول نقل کړی دی چی الله ﷻ یوښځه نبی نه ده جوړه کړي ، ځینی عالمانو دیوڅوښځو متعلق دنبي کیدو اقرار کړی دی مثلاً دحضرت ابراهیم علیه السلام دبي بي ساری او دحضرت موسی علیه السلام دمور اوحضرت مریم علیها السلام مور دحضرت عیسی علیه السلام ځکه چی ددی درو سره بیبیانو متعلق په قرآن کریم کی داسی الفاظ موجود دي چی دهغو څخه معلومیږي چې دخدای ﷻ په حکم سره ملائکو د دوی سره خبري کړي دي او خوشخبري یې ورته اورولی دی یاپه خپله دوی ته په وحی الهي سره څه خبره معلومه سوی ده ، مگر دجمهورو علماؤ په نزد ددې درو سره بیبیانو بزرگي اودالله ﷻ په نزد د دوی لویه درجه خوثابتیږي مگر دوی فرمایي چی صرف دا الفاظ د دوی دنبوت او رسالت دپاره کافي ثبوت نه دی .

او په دی آیت کی دلفظ د(أَهْلِ الْقُرَىٰ) څخه معلومه سوه چی الله ﷻ خپل رسولان په عام طور سره د شارونو او کلو د اوسیدونکو څخه لیږی دصحراؤ او ځنگل د اوسیدونکو څخه رسولان نه وي ، ځکه چی دصحراؤ او ځنگلو او سیدونکی په عام طور سره سخت مزاجه او په عقل اوپوه کی کامل نه وي ، (ابن کثیراوقرطبي وغیره)

حَتَّىٰٓ إِذَا اسْتَيْـَٔسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوٓا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوا

تردی چی هرکله نا امیده سول ، رسولان اوخیال یی وکی چی دوی ته درواغ ویل سوی وو

Maktaba Tul Ishaat.com

جَآءَهُمْ نَصْرُنَا ۙ فَنُجِّيَ مَنْ نَّشَآءُ ؕ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ

اورسيدى دوى ته مدد زمونږ، بيا محفوظ كړل كوم چې چې مونږ غوښتل ، اونه واپس كيږي عذاب زمونږ دقوم

الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۱۰﴾ لَقَدْ كَانَ فِيْ قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ ؕ

گناهگار څخه ، البته د دوى په حالاتو باندى خپل حالات قياس كول دى عقل والا وو لره ،

مَا كَانَ حَدِيْثًا يُّفْتَرٰى وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ

څه جوړه سوى خبره نه ده او ليكن موافق دى دهغه كلام كوم چې دده څخه مخكې دى

وَتَفْصِيْلَ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱۱﴾

او بيان دى دهر يو شى او هدايت او رحمت دهغو خلقو دپاره كوم چې ايمان راوړى

لنډتفسير: (كه ستاسو په كفارو باندى دتاخير دعذاب په وجه دا شک وي چې عذاب نه راځي نو دا ستاسى غلطي ده په دى وجه چې دتيرو امتونوكفاروته هم لوى لوى مُهلتونه وركړل سوى وه) تردى پورى چې (دمهلت دمودى د اوږدوالي په وجه) پيغمبر (ددى خبري څخه) مايوسه سو (چې مونږ دالله ﷻ دطرف څخه پركفارو دعذاب راتلو دوعدي چې كوم وخت په خپل قياس او اندازي مقرركړى وو چې په دغه وخت به پركفارو عذاب راسي زمونږ غلبه اوحقوالي به واضح سي) او د دوى (پيغمبرانو) به گمان غالب سو چې (دالله ﷻ د وعدي په وخت مقرررولو كې) زمونږ پوهي غلطي وكړه (چې بغير دنص څخه محض په قرينو سره يادالله ﷻ دمدد د ژر راتلو په خواهش سره مونږ دا وخت مقرركى حال دا دى چې وعده مطلقه ده ، د داسي مايوسى په حالت كې) دوى ته زمونږ مدد ورسيدى (هغه مدد داسى چې پركفارو عذاب راغى) يا (ددغه عذاب څخه) مونږ څوک چې غوښتل هغوى مو محفوظ كړل (مراد ددى څخه مؤمنان دي) او (په دى عذاب سره كفارهلاک كړل سول څكه چې) زمونږ عذاب دمجرمانو څخه نه په څنگ كيږي (بلكه په دوى خامخاواقع كيږي ، كه څه هم وروسته وي ، نو دا دمكي كفار دي په دى نه دوكه كيږي) په دى (د انبياء عليهم السلام اوتيرو امتونو په) قصوكى دپوهه خلقو دپاره (لوى) عبرت دى (كوم چې ددى څخه عبرت حاصلوي چې دحكم منلو دا انجام دى او دنافرماني دا انجام دى) دا قرآن (په كوم كى چې دا قصي دي) څه دخانه جوړه سوى خبره خو نه ده (چې عبرت نه ورڅخه حاصليږي) بلكه ددى څخه مخكې چې كوم آسماني كتابونه (نازل) سوى دي دا دهغو تصديق كوونكى دى او دهرې (ضروري) خبري تفصيل كوونكى دى او د ايماندارو دپاره ذريعه دهدايت اورحمت دى (نو په داسى كتاب كى چې دعبرت مضامين په كى وي عبرت ورڅخه حاصلول په كار دي)

Maktaba Tul Ishaat.com

(معلومات او مسئلې)

په تیرو آیاتونوکې د انبیاء علیهم السلام دلیږلو اودحق ددعوت ورکولو ذکر او انبیاء علیهم السلام متعلق دڅه شبهاتو جواب ورکړل سوی وو په دې ذکر سوو آیتونوکې په اولنی آیت کې پردې خبرداری ورکړل سوی دی چې داخلق د انبیاء علیهم السلام دمخالفت پربد انجام باندې نظرنه کوي ، که دوی لږڅه غور فکر او دخپل ګیرچاپیرو ښارونو اوځایونو پرتاریخ نظر واچوئ ، نو دوی ته به معلومه سي چې د انبیاء علیهم السلام دمخالفت کوونکو بد انجام په دې دُنیا کې څومره سخت سوی دی ، دحضرت لوط ﷺ دقوم کلی سرچپه کړل سو ، قوم عاد اوثمود په قسم قسم عذابونو نیست اونابود کړل سو ، او د آخرت عذاب ددې څخه زیات سخت دی، په دویم آیت کې هدایت سوی دی چې ددنیاتکلیف او راحت خو په هرحال یوځو ورځې دی اصل فکر د آخرت په کار دی کوم ځای چې قیام همیشه او رنځ او راحت هم همیشه دی او وي فرمایل چې د آخرت برابریدل په تقوی باندې دی چې معنی یې دټولو شرعي احکامو پابندي کول دي.

په دې آیت کې دتیرو رسولانو او د دوی د امتونو دحالاتو څخه موجوده خلق خبرول وو، په دې وجه په راتلونکي آیت کې یې د دوی یو شک لیرې کي ، هغه دا چې اکثرو خلقو دنبی کریم ﷺ څخه دالله ﷻ دعذاب څخه دبیرولو ذکر دزماني څخه اوریدی اوڅه عذاب راتلل یې نه لیدی ، په دې سره د دوی همتونه زیاتیدل چې که څه عذاب راتلی نو تر اوسه به راغلی وای په دې وجه فرمایي چې الله ﷻ په خپل رحمت اوحکمت بالغه سره ډیر واره مجرمانو ته مهلت ورکوي او دا مهلت ډیرکله ډیر اوږد هم سي چې ددې په وجه سره دمجرمانو زړه ورتیا زیاتیږي او پیغمبرانو ته یوقسم پریشاني پیښیږي ارشاد فرمایي:
حَتّٰىٓ اِذَا اسْتَيْـَٔسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوْا جَاۗءَهُمْ نَصْرُنَا فَنُجِّيَ مَنْ نَّشَاۗءُ وَلَا يُرَدُّ بَاْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِيْنَ :
یعنی د تیرو امتونو نافرمانوته لوی لوی مُهلتونه ورکړل سوی وه تردې چې تر ډیري مودې پوري پر دوی دعذاب په نه راتلو سره به پیغمبر دا خیال وکي مایوسه به سو چې دالله ﷻ د اجمالي وعدې دعذاب چې کوم وخت مونږ په خپله اندازه سره په خپلو ذهنونوکې مقرر کړی وو په دې وخت کې به پر کافرانو عذاب رانه سي اودحق غلبه به ظاهره نه سي اودهغې پیغمبرانوغالب ګمان سو چې دالله ﷻ دوعدې په خپله اندازه په وخت مقررولو کې زمونږ ذهنونو غلطي کړي ده ، چې الله ﷻ خوڅه معین کړی وخت ښودلی نه وو مونږ په خاصو قرینو سره یوه موده متعینه کړې وه ددې مایوسۍ په حالت کې دوی ته زمونږ مدد ورسیدی هغه دا چې دوعدې مطابق پرکفارو عذاب راغی ، بیا ددې عذاب څخه چې څوک مونږ غوښتل محفوظ مو کړل ، مراد ددې څخه دا دي چې دانبیاء علیهم السلام منونکي مومنان محفوظ کړل سول اوکفار هلاک سول، ځکه چې زمونږ عذاب دمجرمانو خلقو څخه نه لیري کیږي ، بلکه خامخا پر راځي په دې وجه دمکي کفارو ته په کار دي چې په عذاب کې په وخت تیریدو سره نه دوکه کیږي.

په دې آیت کې لفظ دکُذِبُوا دمشهور قرآئت مطابق لوستل سوی دی او ددې کوم تفسیرچې مونږ اختیار کړی دی دا دټولوڅخه زیات منل سوی اوبې غباره دی چې دلفظ دکُذِبُوا مطلب دخپلې اندازې اوخیال

Maktaba Tul Ishaat.com

غلطیدل دي کوم چې یوقسم اجتهادي غلطي کیدای سي ، البته په انبیاء علیهم السلام اوپه نورو مجتهدانو کی دا فرق دی چې د انبیاء علیهم السلام څخه چې کله څه اجتهادي غلطي وسي نو الله ﷻ دوی پردی غلطي باندی قائم نه پاته کوي بلکه خبروي یې اوحقیقت ورته ښکاره کوي و دنورو مجتهدانو دا مقام نه دی ، دنبی کریم ﷺ واقعه دصلح حدیبیي ددی مضمون دپاره کافي شاهدی ده ، څکه چې په قرآن کریم کی ذکردی چې ددی واقعي بنیاد دنبی کریم ﷺ خوب دی کوم چې دوی ولیدي چې دوی صلی الله علیه وسلم سره دصحابه کرامو دبیت الله شریفي طواف کوي د انبیاء علیهم السلام خوب هم په مثل دوحی وي په دی وجه ددی واقعي کیدل یقیني سوه مګرپه خوب کی ددی څه خاص وخت او موده نه وه ښوول سوی ، نبی کریم ﷺ په خپله اندازه سره خیال وفرمایي چې په دی کال کی به داسی وسي په دی وجه په صحابه کرامو رضوان الله علیهم کی یې ددی اعلان وکي اوپه خاص شمیر سره یې صحابه کرام رضی الله عنهم دځان سره دعمری دپاره مکي مکرمي ته روان کړل لیکن دقریشو په مزاحمت سره دغه وخت دطواف اوعمري نوبت رانغی بلکه ددی مکمل ظهور دوه کاله وروسته په سنه اته ۸ هجري کی دمکي دفتح په صورت کی وسو او ددی واقعي څخه معلومه سوه چې کوم خوب دوی لیدلی وو هغه حق او یقیني وو مګر ددی وخت کوم چې په قرینو او اندازی سره نبی کریم ﷺ مقررکړی وو په دی کی غلطي وسوه مګر ددی غلطي ازاله دغه وخت وسوه.

دغه ډول په ذکرسوی آیت کی د ,قَدْ کُذِبوا: هم دا مطلب دی چې پرکفارو په عذاب راتلوکی وخت وارول سو اوکوم وخت چې په اندازه سره انبیاء په خپل ذهن کی مقررکړی وو ، په دغه وخت عذاب رانغی ، نو د دوی دا ګمان وسو چې مونږ په وخت مقرر کولو کی غلطي کړی ده دا تفسیر دحضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما څخه نقل دی اوعلامه طیبی رحمه الله وایي چې دا روایت صحیح دی ، څکه چې په صحیح بخاري کی ذکر دی (مظهري)

اوپه څینو قرائتونوکی دا لفظ په شد د ذال سره (قد کذبوا) هم راغلی دی کوم چې دتکذیب مصدرڅخه جوړ دی په دی صورت کی به معنی داسی چې پیغمبرانو په کومه اندازه سره دعذاب وخت مقرر کړی وو په دغه وخت کی دعذاب په نه راتلو سره د دوي سره دا خطره پیداسوه چې اوس کوم مسلمانان دي هسی نه چې هغوي هم زمونږ تکذیب ونه کړي چې څه مونږ ویلي وه هغه پوره نه سوه په داسی حالت کی الله ﷻ خپله وعده پوره کړه پر منکرانو عذاب راغی او مومنانو ته نجات ورڅخه حاصل سو دغه ډول د دوي غلبه ظاهره سوه.

لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ : یعنی ددې حضراتو په قصوکی دعقل دخاوندانو دپاره لوی عبرت دی ، ددی څخه مراد دټولو انبیاء علیهم السلام قصي کومي چې په قرآن کریم کی ذکردی و دغه هم کیدای سي اوخاص دحضرت یوسف علیه السلام قصه کومه چې په دی سورة کی بیان سوی ده دا هم څکه چې په دی واقعه کی دا خبره په پوره ډول سره ښکاره سوه چې دالله ﷻ دفرمانبردارو په څه څه شان سره تائید او مدد کیدای سي چې دڅاه څخه یې راوباسي پرتخت دباچاهي باندی اودبدنامي څخه یې راوباسي دنیک نامي انتهاء ته یې ورسوي او دمکر اوفریب کوونکو انجام ذلت او رسوایي وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

مَاكَانَ حَدِيْثًا يُّفْتَرٰى وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ : يعنى نه ده دا قصه څه جوړه سوى خبره بلكه تصديق دى دهغو كتابونو كوم چې دده څخه مخكي نازل سوى دي ، ځكه چې په تورات او انجيل كې هم دا قصه دحضرت يوسف ﷺ ذكر ده اوحضرت وهب بن منبه رحمه الله فرمايي دقصي څخه يو هم خالي نه دى (مظهري)

وَتَفْصِيْلَ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ : يعنى داقرآن تفصيل دى دهر شى ، مراد دا دى چې په قرآن كريم كې دهر هغه شي تفصيل موجود دى دكوم چې په دين كې انسان ته ضرورت وي عبادات معاملات اخلاق د ژوند تيرولو طرز اوطريقي حكومت سياست وغيره ، د انساني ژوند دهر انفرادي او اجتماعي حالّ متعلق احكام اوهدايتونه په دى كې موجود دى اوفرمايي چې دا قرآن هدايت او رحمت دى د ايماندارو دپاره ، په دى كې د ايماندارو تخصيص ځكه وسو چې ددى نفع ايماندارو ته رسيداى سي ، د كافرانو دپاره هم كه څه هم قرآن كريم رحمت او هدايت دى مگر د دوى دخپلي بدعملي اونافرماني په سبب دا رحمت او هدايت د دوى دپاره عذاب جوړ سو .

شيخ ابو منصور رحمه الله فرمايي چې په ټول سورة يوسف اوپه دى كې دحضرت يوسف ﷺ په ليكل سوى قصي سره نبى كريم ﷺ ته تسلى وركول مقصود دى ، چې تاته كوم تكليفونه دخپل قوم دلاسه رسيږي تيرو پيغمبرانو ته هم رسيدلي دى ، ليكن آخر كار الله ﷻ خپل پيغمبران غالب كړي دى ستامعامله هم داسى كيدونكى ده .

(سورة يوسف ختم سو. والحمدلله رب العلمين آمين ثم آمين ثم آمين)

(سورة الرعد)

سُوْرَةُ الرَّعْدِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثٌ وَّاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا سِتُّ رُكُوْعَاتٍ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الرعد په مكه كې نازل سو اوپه دى كې دري څلويښت ۴۳ آيتونه دى اوشپږ ۶ ركوع ګاني دى

شروع كوم دالله ﷻ په نوم سره چې بى حده مهربان نهايت رحم والا دى

الٓمّٓرٰ قف تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ ؕ وَالَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ

خداى عالم دى په معنىٰ ددى :دا آيتونه دى دكتاب ، اوڅه چې نازل سو په تاباندى ستا درب څخه پس حق دى

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ① اَللّٰهُ الَّذِيْ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ

ليكن ډيرخلق نه منى ، الله هغه دى چې پورته يې جوړ كړل اسمانونه ،

بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ

بغير دستنو څخه وينى تاسى دوى بيا قائم سو پرعرش باندى او په كاريى ولګوى لمر

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالْقَمَرَ ۚ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ

اوسپوږمی هر یو ځي په وخت مقرر باندې ، تدبیر کوي دکار ، ظاهروي نښانی

لَعَلَّكُمْ بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوْقِنُوْنَ ۝۲ وَهُوَ الَّذِيْ مَدَّ الْاَرْضَ

چې شاید تاسي دخپل رب سره په ملاقات یقین وکړي ، او هغه دی چاچي خوره کړه مځکه

وَجَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْهٰرًا ۭ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ جَعَلَ فِيْهَا

اوجوړ یې کړل په دې کې غرونه اونهرونه ، او دهر قسمه میوو څخه په دې کې پیدا کړي

زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ يُغْشِي الَّيْلَ النَّهَارَ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ

جوړې دوه دوه قسمه راخوروي شپې پرورځې باندې په دې کې نښانې دي دهغو دپاره

يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝۳ وَفِي الْاَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجٰوِرٰتٌ وَّجَنّٰتٌ مِّنْ

چې فکر کوي ، او په مځکه کې ټوټې مختلف دیوبل سره متصل اوباغونه دي

اَعْنَابٍ وَّزَرْعٌ وَّنَخِيْلٌ صِنْوَانٌ وَّغَيْرُ صِنْوَانٍ يُّسْقٰى بِمَآءٍ

دانګورو اوفصلونه اوخرماوې دیوې زیلې دبلې سره موښتي اوځنې نه دي پیوست اوبه کول کیږي په اوبو

وَّاحِدٍ ۣ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلٰي بَعْضٍ فِي الْاُكُلِ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

یو ډول اوموږ زیاتوو په دوی ځیني په ځینو په میوو کې ، په دې شیانو کې

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝۴

نښانې دي دهغو دپاره چې غور کوي .

لنډتفسیر: المر (ددې معنی خو الله ته معلومه ده) دا (کوم چې ته اوري) آیتونه دلوی کتاب (یعنی قرآن) اوڅه چې پرتاباندې ستادرب دطرف څخه نازلیږي دا بالکل حق دي او (ددې مقتضا دا وه چې ټولو ایمان راوړی وای) لیکن ډیر خلق ایمان نه راوړي

(ربط . لوړ دقرآن دحقیقت مضمون وو مخ ته دتوحید مضمون دی کوم چې دقرآن دلویو مقصدونو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

دي، الله داسی (قادر) دي چې ده آسمانونه بغير دستنو څخه پورته درولي دي چنانچې تاسي دا آسمانونه داسي، وينې بيا پر عرش (کوم چې مشابه دي دتخت دحکومت سره داسي) قائم (اوجلوه فرما) سو (کوم چې دده دشان سره لائق وي) اولمر او سپوږمۍ يې په کارکې ولګول (په دې دواړوکي) هر يو (په خپل مدار کي) په يو وخت مقررکي چليږي (هم دارنګه لمر خپل مدارپه کال کي قطع کوي اوسپوږمي په مياشت کي) هغه (الله) دهريوکار (کوم چې په عالم کي واقع کيږي) تدبيرکوي (او) دليلونه (تکوني اوتشريعي) صفاصفا بيانوي چې تاسي دخپل رب خواته دتلو (يعني قيامت) يقين وکي (ددې د امکان خو داسي چې هرکله الله ﷻ داسي عظيمو شيانو پر پيداکولو قادر دى نو دمړي پر ژوندي کولو به ولي قادر نه وي او ددې د واقع کيدو يقين داسي چې رښتيني خبر ورکوونکي ديوممکن کار دواقع کيدو خبر ورکړی دی ، نو خامخا دا رښتيا او صحيح دي) اوهغه داسي دي چې هغه مځکه خپره کړه اوپه دې (مځکه) کي يې غرونه او نهرونه پيداکړل اوپه دې کي يې دهر قسم ميوو څخه دوه دوه قسمه پيداکړل (مثلاً تروي او خوږې ياکوچنۍ اولويي څيني يې ديو رنګ اوځيني دبل رنګ اود) شپې (په تياری) سره (دې) د ورځي (رڼا) پټوي (يعني دشپې په تياري سره د ورځي رڼاپټه اوليري سي) په دې کارونو (ذکر سوو) کي دسوچ کوونکو (دپوهې دخاوندانو) دپاره (پرتوحيد) دليلونه (موجود) دي (چې تقرير يې د دوهمې پاري دځلورمي رکوع په شروع کي تير سوی دی) او (دغه ډول نور هم دليلونه دي دتوحيد چنانچې) په مځکه کي ديو بل سره لګيدلي (اوبيا) مختلفي ټوټي دي (چې سره دپيوست والي يې اثرونه مختلف کيدل عجيبه خبره ده) او د انګورو باغونه دي او (مختلف) فصلونه دي او دخرماوو (درختې) دي چې ځيني خو په کي داسي دي چې لاندی يوه تنه وي او لوړ بيا دوې تنې سوی دي اودځينو دوې تنې نه وي (بلکه د زيلو څخه تر ښاخونو پورې يوه تنه تللی وی او) ټولو ته يوقسم اوبه ورکول کيږي او (سره ددې بياهم) مونږ يوې ته دبلې پر ميوې باندې لوړوالي ورکړی دی په دې (ذکر سوو) کارونو کي (هم) دپوهه لرونکو (دپوهې) دپاره (دتوحيد) دليلونه (موجود) دي .

(معلومات او مسئلې)

دا سورة مکي دی او ددې ټول آيتونه دروځلويښت دي په دې سورة کي دقرآن مجيد دحق کلام کيدو او د توحيد او رسالت بيان او دشُبهاتو جوابونه ذکر دي .

الٓمٓر: دا حرف مقطعه دی چې په معنی يې الله ﷻ پوهيږي امت ته ددې معنی نه ده ښودل سوی عام امت ته ددې په تحقيق کي لګيدل مناسب نه دي .

(د رسول احاديث هم دقرآن په شان وحي الهي دي)

په اولنی آيت کي دقرآن کريم دکلام الٰهي اوحقوالي بيان دی دکتاب څخه مراد قرآن دی او د، وَالَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ: څخه هم کيدای سي چې قرآن مراد وي ليکن واوحرف عاطفه په ظاهره داغواړي چې کتاب او، الَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيْكَ : ددې دوو شيان جلا جلا وي ، په دې صورت کي دکتاب څخه مرادقرآن اود، الَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيْكَ: څخه مراد هغه وحي وی کومه چې دقرآن څخه علاوه راغلی ده ، ځکه چې په دې کي

خو هیڅ کلام نه سي کیدای چې پرنبی کریم ﷺ باندې راتلونکې وحی صرف په قرآن کریم کې منحصره نه ده ، په خپله په قرآن کې دی ، وَمَايَنطِقُ عَنِ الْهَوَى ، إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى : یعنی نبی کریم ﷺ چې څه وایي ، دې دخپل ځان څخه نه وایي بلکه یوه وحی ده کومه چې دالله ﷻ دطرف څخه ده ته لیږل کیږي ، ددې څخه ثابته سوه چې نبی کریم ﷺ دقرآن څخه علاوه چې کوم نور احکام ورکوي دغه هم دالله ﷻ دطرف څخه نازل سوی دي فرق صرف دا دی چې دقران تلاوت کیدای سي ، او ددغه تلاوت نه سي کیدای . او ددې فرق وجه دا ده چې دقرآن معاني که څه هم دالله ﷻ دطرف څخه نازلې سوی دي مګر الفاظ دواړه دالله ﷻ دطرف څخه دي اودقرآن څخه علاوه په حدیثوکې چې کوم احکام دوی صلی الله علیه وسلم ورکوي ددې هم معاني که څه هم دالله ﷻ دطرف څخه نازلې سوی دي مګر الفاظ دالله ﷻ دطرف څخه نه دي نازل سوی په دې وجه په لمانځه کې ددې تلاوت نه سي کیدای . د آیت معنی دا سوه چې دا قرآن اوکوم احکام چې په تاباندې نازلیږي دغه ټول حق دي چې دڅه شک اوشبهې ګنجائش په کې نسته . لیکن اکثره خلق د غور اوفکر نه کولو په وجه سره په دې ایمان نه راوړي .

په دویم آیت کې دالله ﷻ دوجود او دده دیو والي دلیلونه ذکر دي چې دده مخلوقاتو او جوړو سوو شیانو ته لږ په غور سره وګوري نو دا یقین به وکي چې ددې جوړونکی یو داسې هستي ده کوم چې قادرمطلق دی اوټول مخلوقات اوکائنات دده په قبضه کې دي ارشاد فرمایي .

اللَّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا : یعنی الله ﷻ داسې دی چاچې د آسمانونو دومره لویې اوغټې قبې (ګنبدې) بغیر دڅه ستنو څخه دروليي دي لکه چې تاسې یې په دې حالت کې وینئ .

(آیادآسمان وجودپه سترګو سره په نظر باندې راځي)

په عام طور سره داسې ویل کیږي چې دا شین رنګ کوم چې مونږ ته په نظر راځي دآسمان رنګ دی مګر فلاسفه وایي چې دا رنګ درڼا اوتیارې دخلط څخه په نظر راځي ، ځکه چې لاندې دستورو رڼا اوسربیره تیاره ده ، نو دباندې څخه یې رنګ شین معلومیږي ، لکه په ژورو اوبو باندې چې رڼاولویږي ، نو دا شنې په نظر راځي . دقران کریم څو ایتونه داسې دي چې په دې کې دآسمان دلیدو ذکر دی لکه چې په دې آیت کې د(ترونها) الفاظ دي اوپه بل آیت کې ، وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ : الفاظ دي ، دفلاسفه وو دا تحقیق اول خو ددې منافي نه دی ، ځکه چې داسې ممکنه ده چې دآسمان رنګ هم شین وي یاڅه بل رنګ وي مګر د درمیاني رڼا اوتیارې دخلط څخه شین په نظر راځي ددې څخه د انکارهیڅ دلیل نسته ، چې ددې فضاپه رنګ کې دآسمان رنګ هم شامل دی ، او دا هم ممکنه ده چې په قرآن کریم کې کوم ځای د آسمان دلیدو ذکر دی هغه حکمي اومجازي وي چې دآسمان وجود په داسې یقیني دلیلونو سره ثابت دی چې ګویا تاسې لیدلی دی (روح المعاني)

ددې څخه وروسته فرمایي ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ : یعنی بیاپرعرش کوم چې دحکومت دتخت سره مشابه دی ، قائم او داسې جلوه فرماسو کوم چې دده دشان سره لائق دی ددې دقائم کیدو اندازه هیچاته نه سي معلومیدای ، دومره عقیده لرل کافي دی چې څنګه قایم کیدل دالله ﷻ دشان سره لائق وي هغه مراد دی .

وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُّسَمًّى : يعنی الله ﷻ لمر او سپوږمۍ مسخر او دحکم تابع کړی دی ، په دی کی هريوپه يومعين رفتارسره ځي ، دمسخرکولوڅخه مراد دا دی چی دواړه يې په کوم کوم کاربانديٰ لګولی دي ، په هغه برابرليګدلی دی ، په زرګونو کلونه تير سوي دي ليکن نه د دوی په رفتارکی يوځای کمی يا زياتوب نه دی راغلی ، نه سترړی سوی دی نه يوځای دخپل مقرره کارڅخه خلاف په يو بل ګار کی اخته کيږي ، او دمعيني مودي تللو دا معنی هم کيدای سي چی دټول عالم دنياډپاره چی کومه آخري موده دقيامت متعينه ده ټول دهغه طرف ته روان دي دغه منزل ته په رسيدو به د دوی دا ټول نظام ختم سي ، او دا معنی هم کيدای سي چی حق سبحانه ﷻ دهري يوي سياري دپاره يو خاص رفتار او خاص مقدار مقرر کړی دی دغه هميشه په خپل مدارکی په خپل مقرره رفتار سره چليږي ، سپوږمۍ خپل مدار په يوه مياشت کی پوره کوي اولمر يي په ټوله کال کی پوره کوي .

ددی سيّارو دا عظيم الشان وجود بياپريوخاص مدار دخاص رفتارسره په زرګونو کلونه په يو ډول انداز کی داسی چليدل چې نه يوځای ددی مشين سُوليږي نه ماتيږي نه دګريسنګ ضرورت ورته راځي په انساني مصنوعاتوکی دسائنس ددی انتهايي ترقي څخه وروسته هم ددی مثل خو څه چی زرمه حصه يې هم پيداکيدل ناممکن دی، داقدرتي نظام په لوړآوازسره بيان کوي چی ددی چلوونکی اوددی جوړونکی يو داسی ذات خامخا سته کوم چی د انسان د ادراک اوشعور څخه بالاتر دی .

﴿دهر شي تدبير په حقيقت کي دالله ﷻ کار دی د انسان تدبير تش په نامه دی﴾

يُدَبِّرُ الْأَمْرَ: يعنی دهرکارتدبيرکوي ، انسان کوم چې په خپلو تدبيرونو باندی نازکوي که لږسترګي خلاصي کړي او وګوري نومعلومه به سی چی دده تدبير نه څه شي پيداکولای سی ، نه يي جوړولای سی ، دده دټولو تدبيرونوخلاصه ددی څخه زياته ده چی دالله ﷻ دپيداکړل سوو شيانو استعمال ايزده کی ، د ټول عالم دنيادشيانو د استعمال نظام هم دده دقدرت څخه بهر دی ، ځکه چی انسان په خپل هريوکارکی دنورو زرګونو انسانانو حيواناتو اونورو مخلوقاتو محتاجه دی کوم چی دی په خپل تدبير سره په خپل کارکی نه سي لګولای ، خدايی قدرت دهر شي کړی دبل شي سره داسی پيوست کړي ده ، چی خودبخوده هر شی راکش کړل سوی راځي تاته دکور جوړولو ضرورت پيښيږي ، نو دنقشه جوړونکی څخه واخله تر رنګ او روغن کوونکی پوری په سوونو انسانان دخپلو ځانونو اوخپلو هنرونو سره ستاپه خدمت کی تيارپه نظر راځي ، دتعميرسامان کوم چی په مختلفو دکانونوکی خپور وور وي ، دا ټول تاته تيار حاصليږي ايا دا ستاپه قدرت کی وه چی دخپل مال ياتدبير په زورسره دا ټول شيان تيار اوټول انسانان دخپل خدمت دپاره حاضرکي ، ته خو لاڅه کوي چی دلوي څخه لوي حکومت هم دقانون په زور سره دا نظام نه سی قائمولای ، بيشکه دا تدبير او دنظام عالم قيام صرف دحی وقيوم کار دی ، انسان که دی ته خپل تدبير ووايي نو دجهالت څخه ماسوا نور هيڅ نه دی .

﴿يفصل الايات﴾ يعنی هغه خپل آيتونه په تفصيل سره بيانوي ددی څخه مراد دقرآن ايتونه هم کيدای سی کوم چی الله ﷻ په تفصيل سره نازل کړی دی ، بيادنبی کريم ﷺ په ذريعه ددی بيان اوتفسير فرمايې ، او د آيتونوڅخه مراد دقدرت آيتونه يعنی دالله ﷻ دکامل قدرت نخښې کومې چې په آسمان او مځکې

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپه خپله د انسان په وجودکی موجودي دي ، دغه هم کیدای سی ، کومي چی ډیري په تفصیل سره هروخت هرځای د انسان دنظر په مخکې دی .

لَعَلَّكُمْ بِلِقَاءِ رَبِّكُمْ تُوقِنُونَ: یعنی دا ټول کائنات او ددی عجیبه او نا آشنا نظام او تدبیر په دی وجه الله ﷻ قائم کړی دی چی تاسی په دی کی غور وکړئ نوستاسی به په آخرت اوقیامت یقین راسي ، ځکه چی په دی عجیبه نظام اوپه پیدائش دعالم باندی دنظر کولو څخه وروسته دا اشکال خو پاته کیدای نه سی چی په آخرت کی د انسان دوباره پیدا کول دالله ﷻ دقدرت څخه دباندی وګڼي اوهرکله چی په قدرت کی دا خل اوممکن والی یې معلوم سو او داسی یوي هستي یې خبر ورکړی دی دچاژبه چی په ټول عمرکی هیڅکله په درواغو نه ده چلیدلی ، نو ددی په واقع کیدو او ثابت کیدو کی څه شک پاته کیدای سي ؟

وَهُوَ الَّذِي مَدَّ الْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْهَارًا : اوهغه ذات دی چی مځکه یې خپره کړه اوپه دی کی یې درانه غرونه اونهرونه جوړ کړل ، دمځکی خپرول ددی دګړي اوګول کیدو منافي نه دی ، ځکه چی ګول شي هر کله چی ډیرلوی وي نو ددی هره حصه جلاجلاخپره سوی سطح په نظر راځي او دقرآن کریم خطاب عامو خلقو ته د دوی دنظرونو مطابق وي په ظاهره لیدونکی دا یوه خپره سطح ویني په دی وجه یې ددی څخه تعبیر په خپرولو سره وکي ، بیایې ددی دتوازن قائم ساتلو دپاره دا رنګه د ډیرو نورو فائدو دپاره پردی جګ جګ او درانه غرونه قائم کړل کومو چی یوطرف دمځکی توازن قائم ساتلی دی بل طرف ته ټول مخلقوته د اوبو رسولو انتظام کوي د اوبو ډیره لویه ذخیره د دوی پرسرونوباندی دبحرمنجمد «واوري» په شکل کی ایښودل کیږي چی ددی دپاره نه څه حوض سته اونه دټینګی جوړولو ضرورت سته اونه دپلیتیدو څه احتمال سته ، او نه دخرابیدو امکان دی بیایې دا تر مځکی لاندی ډیو قدرتي پائپ لائن په ذریعه ټولي دنیا ته خپري کړي دي ددی څخه خو یو ځای په ډاګه ولي او نهرونه روان سوی دي او یوځای ترمځکي لاندی دڅاهانو په ذریعه ددی پائپ لائن پته لګول کیږي او اوبه ورڅخه حاصلیږي .

وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ : یعنی بیاددی مځکي څخه قسم قسم میوي راباسي اوهره یوه میوه یې دوه دوه قسمه پیدا کړی ده ، وړه لویه سره سپینه تروه خوږه بلکه ډیر اقسام مراد وي چی شمیر یې دکم څخه کم دوه وي په دی وجه یې ورڅخه تعبیر په زوجین اثنین سره وکي ، اوځه لیري خبره هم نه ده چی د زوجین څخه مراد نر او ښځه وي لکه د ډیرو درختو متعلق خو په تجربه سره ثابته سوی ده چی نر او ښځه په کی وي لکه خرما ، پپته وغیره ، په نورو درختو کي هم ددی امکان سته که څه هم لاتر اوسه تحقیقات دی ته نه دي رسیدلی .

يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ : یعنی الله ﷻ را خپروي شپه پر ورځ باندی مراد دا دی چی د ورځي درڼاڅخه وروسته شپه را ولي لکه یو روښانه شي چې په پرده کی پټ کړل شي .

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ : بیشکه ددی ټول کائنات په پیدائش او ددی په تدبیر اونظام کی دغور اوفکر کوونکو دپاره دالله ﷻ دکامل قدرت ډیري نخښي موجودي دي .

وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُتَجَاوِرَاتٌ وَجَنَّاتٌ مِنْ أَعْنَابٍ وَزَرْعٌ وَنَخِيلٌ صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ يُسْقَىٰ بِمَاءٍ وَاحِدٍ وَنُفَضِّلُ

Maktaba Tul Ishaat.com

بَعْضَهَا عَلٰى بَعْضٍ فِي الْأُكُلِ : يعنى بياپه مځکه کی ډيرې ټوټی ديوبل سره ديوځای والی باوجود په مزاج اوخاصيت کې مختلفې دي ، ځينې مځکې ښې دي ځينې خرابې ځينې نرمې ځينې سختې ځينې دفصل قابلې ځينې دباغ قابلې ، او په دی ټوټوکی باغونه دي د انګورو اوفصلونه دي او دخرماوو درختې دي چی په دی کی ځينی داسی دي چی ديوې تنې لوړ دوې تنې جوړې سوی وي لکه عامې درختې او ځينې يوه تنه وي لکه خرما وغيره، او دا ټولې ميوې که څه هم ديوې مځکې څخه پيداکيږي په يو شان اوبو باندی اوبه کيږي او دلمر اوسپوږمی شغلې اومختلف قسم هواګانې هم دی ټولوته يوشان رسيږي مګر بياهم د دوی رنګ او خوند مختلف او دکوچنې اولوی ښکاره فرق وي۔

سره دمتصل والی څخه بياهم داقسم قسم اختلافات ددی خبرې ښکاره دليل دی چی داټول کاروبار ديوحکيم او تدبيرکوونکی دفرمان تابع چليږي محض دمادې خاصيترنه نه دي که دمادې خاصيتونه وای نودټولو مادو د مشترکوالی په سبب به دااختلاف ولې وای ديوې مځکې څخه يوه ميوه په يوه موسم کی پيداکيږي اوبل قسم په بل موسم کی ديوې درختې په يوښاخ کی مختلف قسم کوچنې اولوی اومختلف قسم خوند والاميوې پيداکيږي۔

إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ: په دی کی بيشکه دالله ﷻ دقدرت اولويې او دده په ربووالی دلالت کوونکی ډيرې نخښې دي دعقل دخاوندانو دپاره ، په دی کی اشاره ده چی کوم خلق په دی شيانوکی غور نه کوې هغه عقل والا نه دي که څه هم په دنياکی ده ته هرڅومره عقل مند ويل کيږي۔

وَاِنْ تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا ءَاِنَّا لَفِيْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ۬ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ ۚ

او که ته دتعجب خبره غواړې نو عجيبه ده د دوی خبره چی ايا هرکله مونږ سوخاورې ايادنوی سره څخه به جوړکړل سو؟دغه دی چی منکر سول دخپل رب څخه

وَاُولٰٓئِكَ الْاَغْلٰلُ فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ

اودغه دی چی طوقونه به وي د دوی په ختونو کی او دغه دی خاوندان د دوږخ دوی

فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝۵ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ وَقَدْ

به په دی کی هميشه اوسيږي ، او ژر غواړی تا څخه بدی مخکې دنيکی څخه او

خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمُ الْمَثُلٰتُ ؕ وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ

تيرسوی دی د دوی څخه مخکې ډير عذابونه ، اوستا رب معافی هم کوی خلقو ته

عَلٰى ظُلْمِهِمْ ۚ وَاِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝۶ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ

سره د دوی دظلم اوستا درب عذاب هم سخت دی ، او وايی کافران

كَفَرُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرٌ وَّ

او بيره أورول دي كارخو ستا ولې نه نازليږي په ده څه نخښه ده درب څخه؟

لِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ﴿۷﴾ اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى وَمَا تَغِيْضُ

د هرقوم دپاره سوی دی لاربنوونکی ، الله ﷻ پیژنی څه چی په نس کی ساتی هره ماده او کومه چی وچیږي

الْاَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ؕ وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهٗ بِمِقْدَارٍ ﴿۸﴾

نس او زیاتیږي ، او دهر یو شی دده سره اندازه ده.

لنډتفسیر: او (ای محمد ﷺ) که تاته (ددی خلقو دقیامت څخه په انکارسر) تعجب وي نو (واقعي) د دوی دا خبره دتعجب لائقه ده چی کله مونږ (مړه) خاوري سو آیا (دخاوري کیدو څخه وروسته به) بیامونږ (په قیامت کی) دنوي سره پیداسو؟ (دتعجب لائق ځکه چی کوم ذات دداسی شیانو چی ذکر یې مخکې وسو په پیداکولو اول وار قادر دی. هغه ته دوباره پیدا کول څه مشکل دی او په دی سره جواب وسو دبیا پورته کیدو دمحال ګڼلو او دنبوت څخه د انکارهم چی مبنی یې دغه بیا پورته کیدل محال ګڼل وو، دیوه جواب سره دبل جواب وسو. مخ ته د دوی دپاره دعذاب وعده ده چی) دا هغه خلق دی چی هغوی دخپل رب سره کفر وکي (ځکه چی دبیاپورته کیدوڅخه په انکارسره یې دده دقدرت څخه انکار وکي اودقیامت څخه په انکار سره انکار دنبوت لازمیږي) او د داسی خلګو په څټونوکی به (په دوزخ کی) طوقونه واچول سي اوداسی خلق دوزخیان دي (او) دوی به په کي همیشه اوسیږي. او دا خلق دعافیت (دمیعاد ختمیدو) څخه مخکی ستاڅخه دمصیبت (نازلیدو) تقاضاکوي (چی که ته نبیی یې نو ورسه عذاب را وغواړه چی ددی څخه معلومیږي چی دوی دعذاب واقع کیدل محال ګڼي) حال دا دی چی تر دوی وړاندي (پر نورو کفارو) دعذاب واقعات تیر سوی دي (نو پر دوی یې راتلل څه محال دی) او (دالله ﷻ په غفور او رحیم او ریدو دی دا خلګ نه مغروره کیږي چی اوس به مونږ نه په عذابیږو ځکه چی هغه صرف غفور او رحیم نه دی اوبیادتولو دپاره غفور او رحیم نه دی بلکه دواړي خبري پرخپله خپله موقع ظاهریږي یعنی) دا خبره هم یقیني ده چی ستارب دخلګو خطاګاني سره د دوی (دیوي خاصي درجي) دبې ځایه حرکتونو معاف کوي او دا خبره هم یقیني ده چی ستارب سزا سخته ورکوي (یعنی په ده کی دواړه صفتونه دي اودهریوه د ظهور شرطونه او اسباب دي نو دوی بې دسبب څخه خپل ځانونه درحمت اومغفرت مستحق څنګه وګڼل بلکه دکفر په وجه سره خو د دوی دپاره دالله ﷻ سخت عذاب دی) او داکفار (دنبوت څخه د انکارپه غرض سره) داسی (هم) وایي چی پرده خاصه معجزه (کومه چی مونږ غواړو) ولې نازله نه کړل سوه (او دا اعتراض محض حماقت دی ځکه چی ته دمعجزو مالک نه یې بلکه)

Maktaba Tul Ishaat.com

ته صرف (دخدای ﷻ دعذاب ځخه دکافرانو) بیرونکی (یعني نبی) یې (اودنبي دپاره مطلق دمعجزي ضرورت دی کومه چې ظاهره سوی ده نه دځه خاصي معجزي) (اوته څه ناولده نبی نه یي راغلی بلکه دهرقوم دپاره (په تیرو امتونوکی) هادیان راغلي دي (په دوی کی هم دا قاعده راغلی ده چې دنبوت ددعوي دپاره مطلق دلیل کافي وګڼل سو دخاص دلیل التزام نه دی سوی) الله ﷻ دهرڅه ځخه خبردی څه چې یوې ښځي ته حمل وي اوڅه چې په رحم کی کمی او زیاتوب کیږي او هر شی دالله ﷻ په نزد په یوخاص انداز سره دی.

(معلومات او مسئلي)

ددی ذکر سوو آیتونوپه اولنیو درو آیتونوکی دکفارو دشُبهاتو جواب دی کوم چې دنبوت متعلق وي او ددی سره دمنکرانو دپاره دعذاب وعدي دي ، د دوی دا شبهي درې وي یوه دا چې دخلقو دمرګ ځخه وروسته دوباره ژوند او دمحشر حساب اوکتاب به یې محال او دعقل ځخه خلاف ګڼي په دی وجه به یې د آخرت خبر ورکوونکي انبیآء علیهم السلام درواغجن کول او د دوی دنبوت ځخه به یې انکار کوي لکه چې قرآن کریم د دوی ددی شبهي بیان په دی آیت کی فرمایلي دي ، هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَى رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ : په دی کی په پیغمبرانو پوری دمسخرو کولو دپاره وایي چې راسی ، مونږ تاسی ته یو داسی سړی وښیو چې تاسی داوایاست چې کله تاسی دمرګ ځخه وروسته ذره ذره سی او ستاسی دخاورو ذري هم په ټول جهان کی خپري سي ، نوتاسی به دغه وخت بیادوباره ژوندی کړل سی ؟

(دمرګ ځخه وروسته د بیرته ژوندی کیدو ثبوت)

د ذکرسوو آیتونو ځخه په اول آیت کی د دوی ددی شبهي جواب ورکړل سو ، وَإِنْ تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ أَئِذَا كُنَّا تُرَابًا أَئِنَّا لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ : په دی کی نبی کریم ﷺ ته خطاب دی چې که تاته پردی تعجب وي چې داکفار ستا دپاره دښکاره معجزو اوستاپرنبوت دالله ﷻ دښکاره نخښو لیدلو باوجود ستادنبوت ځخه انکار کوي اومني یې، نو داسی بې روحه ګټو مني په کوموکی چې نه حسن سته او نه شعور په خپله پرخپلي نفع او نقصان باندی هم قادر نه دي نو نوروته به څه نفع ورسول سی ؟ لیکن ددی ځخه زیات دتعجب خبره دا ده چې دوی وایې چې آیا داسی کیدای سی ، چې هرکله مونږ مړه سو اوخاوري سو نو مونږ به دوهم واري پیداکړل سو؟ قرآن ددی تعجب وجه په وضاحت سره بیان نه کړه ځکه چې په تیرو آیتونوکی یې دالله ﷻ دکامل قدرت عجیبه عجیبه مظاهربیان کړل او دا یې ثابته کړي ده ، چې هغه داسی قادر مطلق دی چاچې ټول مخلوق دعدم ځخه وجودته راوستی اوبیایې دهر شي په وجودکی ځنګه ځنګه حکمتونه کښیښول چې انسان یې ادراک او احاطه هم نه سي کولی ، او دا ظاهره ده چې کوم ذات په اول وار باندی بالکل دعدم ځخه یو شي موجود کولای سي ، هغه ته یې دوهم واري موجود کول څه مشکل دی انسان هم هرکله چې یو نوی شی جوړول غواړي نو په اول وار ده ته مشکلات مخ ته راځي او چې دوهم واري جوړول غواړي نو بیا آسان وي ، نو دعجب خبره دا ده چې دا خلق خو ددی قائل دی چې

Maktaba Tul Ishaat.com

په اول وار ټول كائنات دې شميره حكمتونوسره هغه پيداكړي دي بيادوهم واري پيداكول يې څنګه
محال اودعقل څخه خلاف ګڼي ؟
شايد ددې منكرانو په نزد لوی اشكال دا دي چې دمړكيدو او خاوري كيدو څخه وروسته د انسان اجزاء
او ذری په ټوله دنياكې خپرې سي ، هواګاني يې دكوم ځاى څخه كوم ځاى ته يوسي او په نورو اسبابو
او ذريعو سره هم دا ذري په ټول جهان كې خپرې سي بيادقيامت په ورځ به دا ټولي ذري څنګه جمع كړل
سي اوبياچې جمع يې كړي نو دوهم وار به يې څنګه ژوندى كوي؟ مګر دوی نه ګوري چې دا وخت كوم
وجود دوی ته حاصل دی آياپه دی كې دټول جهان ذري نه دي جمع ؟ ددنيادمشرق اودمغرب شيان اوبه
هوا او د دوی راوړي ذري د انسان په خوراک کې شاملي سي ، دده دبدن جزء جوړيږي دا مسكين خو
ډېر واره خبر هم نه وي چې يوه ګوله كومه چې خُلي ته ورل كيږي په دې كې څومره ذري دا فريقي څومره
د امريكي او څومره دمشرقي ملكونو دي نو كوم ذات چې په خپل بالغ حكمت او دكارونو دتدبير په
ذريعه دا وخت د يوه يوه انسان اوحيوان په وجودكې دټول جهان خپري ذری راجمع كړي دی او دی يې
دروِلی دی ، صبا به ده ته دا څه مشكله وی چې دی ټولی ذری جمع كړی هركله چې ددنياټول طاقتونه
هوا اوبه او نور ټول قوتونه دده حكم تابع اومسخر دي ، دده په اشاره هوا خپلي، اوبه خپلي، فضاء
خپلي، ټولي دننه ذري را جمع كړي په دې كې څه اشكال دي، حقيقت دا دی چې دوی دالله ﷻ قدرت
اوقدر نه دی پيژندلی دهغه قدرت پرخپل قدرت قياس كوي حال دا دی چې دآسمان اومځكی او د دوی
په مينځ كې ټول شيان په خپل خپل حيثيت شعور او ادراک لري اودالله ﷻ دحكم تابع چليږي

خاک وباد وآب وآتش زنده اند — بامن وتو مرده باحق زنده اند

يعنی خاوري باد اوبه او اور ژوندی دي زما او ستا په نزد مړه دي خو دخدای ﷻ په نزد ژوندی دي
لنډه دا ده چې دښكاره نخښو ليدو باوجودلكه څنګه چې دده ﷺدنبوت څخه انكار د تعجب قابل دي
ددې څخه زيات په قيامت كې ددوباره ژوندی كيدو اودحشر د ورځي څخه انكار د تعجب شی دی
ددې څخه وروسته يې ددی عناد كوونكو منكرانو دسزا ذكر كړی دی چې دا خلق صرف ستاڅخه انكار
نه كوي ، بلكه په حقيقت كې دخپل رب څخه انكاركوي ، د دوی سزا به دا وي چې د دوی په څټونو كی
به طوقونه واچول سي او دوی به هميشه په دوزخ كی وي
دويمه شُبه دمنكرانو دا وه چې كه په واقع كی ته دالله ﷻ نبی او رسول يې نو دنبي پرمخالفت چې كوم د
عذاب وعده ته اوروي دغه عذاب راځي ولي نه ؟ ددې جواب په دويم آيت كی دا وركړل سو چې .

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ وَقَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمُ الْمَثُلَاتُ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِلنَّاسِ عَلَى ظُلْمِهِمْ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ الْعِقَابِ : يعنی دا خلق هميشه دعافيت دميعاد دختميدوڅخه مخكی ستاڅخه دمصيبت
نازليدو تقاضاكوي ، چې كه ته نبی يې نو فوراً عذاب را وغواړه ددی څخه معلوميږي چې دا خلق
دعذاب راتلوته ډېر لري يانامكن ګڼي ، حال دا دی چې د دوی څخه مخكې پر نورو كافرانو باندی ډېر
واقعات دعذاب تير سوی دي چې ډيرو خلګو ليدلی دی نو پر دوی عذاب راتلل څه لري خبره نه ده،
دلته لفظ د (مثلت) دمثلة جمع ده چې معنی يې داسی سزا ده چې انسان دټولوخلګو په مخكې رسوا

Maktaba Tul Ishaat.com

کړي او نورو ته دعبرت ذریعه جوړه سي ، بیافرمایي چې بیشکه ستارب دخلقو دګناهونو اونافرمانیو باوجود لوی مغفرت او رحمت والا هم دی اوکوم خلق چې ددی مغفرت او رحمت څخه فائده نه پورته کړي او په خپله سرکښي او نافرماني باندی ټینګ پاته سي د دوی دپاره سخت عذاب ورکوونکی هم دی ، په دی وجه دالله ﷻ غفور اورحیم کیدوپه وجه دي څوک په غلط فهمي کی نه راځي چې پرمونږ عذاب راتلای نه سی .

دریمه شبهه ددی کفارو دا وه چې که څه هم دنبی کریم ﷺ ډیري معجزي مونږ لیدلی دی لیکن دکومو خاصو خاصو معجزو چې مونږ مطالبه کړي ده هغه ولي نه ظاهروي ؟ ددی جواب په دریم آیت کی دا ورکړل سوی دی .

وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا أُنزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ ۗ إِنَّمَا أَنتَ مُنذِرٌ ۖ وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ: یعنی داکفارستاپرنبوت د اعتراض کولو دپاره دا وایي چې پرده خاصه معجزه کومه چې ورڅخه طلب کوی ، ولی نازل نه کړل سوه ؟ نو ددی جواب واضح دی چې معجزه ظاهرول دپیغمبر اونبی په اختیارکی نه وي بلکه دا سیده په سیده د الله ﷻ کار وي هغه یې په خپل حکمت سره څه وخت او څنګه معجزه چې ظاهرول غواړي دا ظاهروي ، هغه دچادمطالبي اوخواهش پابندنه دی په دی وجه یې وفرمایل ، اِنَّمَا اَنْتَ مُنْذِرٌ: یعنی ته کافرانو ته دخدای ﷻ دعذاب څخه بیرونکی یې ، معجزی ظاهرول ستارکار نه دی .

وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ: یعنی دهریوقوم دپاره په تیرو امتونوکی هادي راغلی دی ته څه ناولده نبی نه یې دټولو انبیاؤ وظیفه دا وه چې دوی قوم ته هدایت وکي اودالله ﷻ دعذاب څخه یې وبیروي ، معجزي ظاهرول یې دهیچاپه اختیارکی نه دی ورکړی الله ﷻ چې کله اوڅنګه معجزه ښکاره کول خوښوي ظاهروي یې .

(آیاپه هرقوم او هرملک کي نبي راتلل ضروري دی؟)

په دی آیت کی چې کوم دا ارشاد دی چې دهرقوم دپاره یو هادي سته ددی څخه ثابته سوه چې یو قوم او یوه حصه دمځکی دالله ﷻ دطرف څخه ددعوت ورکوونکی اوهدایت کوونکی څخه خالي نه سي کیدای برابره خبره ده که هغه څوک نبی وي یادنبی قائمقام دنبی دعوت خپروونکی وي ، لکه چې په سورة یس کی دنبی دطرف څخه اول یو قوم ته دوه سړي ددعوت اوهدایت دپاره دلیږلو ذکر دی چې په خپله نبیان نه وه او بیا د دریم سړي د دوی دتائید او مدد دپاره دلیږلو ذکر دی .

په دی وجه ددی آیت څخه دا نه لازمیږي چې په هندوستان کی هم څوک نبی او رسول پیدا سوی وي ، البته د رسول ددعوت رسولو او خپرولو دپاره دعالمانو په کثرت سره دلته راتلل هم ثابت دی او بیادلته دبې شمیره داسی هادیانو پیدا کیدل هم هر سړي ته معلوم دی .

تردی ځای پوری په درو آیتونوکی دنبوت د انکارکوونکو دشبهو جواب وو ، په څلورم آیت کی بیا اصل مضمون دتوحید ذکر دی دکوم ذکر چې ددی سورت د اول سرڅخه را روان دی ارشاد دی .

اللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ۖ وَكُلُّ شَيْءٍ عِندَهُ بِمِقْدَارٍ : یعنی الله ﷻ په هرڅه خبر دی څه چې دښځې په حمل کی وي هلک وي او که انجلۍ ، ښائسته دی او که بدشکله نیک دی اوکه بد دی

Maktaba Tul Ishaat.com

او څه چې ددې ښځې په رحم کې کمې یا زیاتوب کیږي ، چې هرکله یو بچی پیداکیږي کله زیات او کله ژر پیداکیږي او کله وروسته .
په دې آیت کې دالله ﷻ دیو خاص صفت بیان دی چې هغه په غیبو عالم دټولو کائناتو او مخلوقاتو د ذرې ذرې څخه خبر دی او دهرې ذرې دبدلیدونکو حالاتوڅخه هم خبر دی ددی سره د انسان دپیدائش دهر دور اوهر بدلون اوهر صفت څخه دپوره خبرداری ذکر دی چې دحمل یقیني اوصحیح علم صرف هغه ته وي ، چې هلک دی اوکه انجلۍ اوکه دواړه دي اویاهیڅ نسته صرف اوبه یا هوا ده په قرینو اوپه اندازه سره یوحکیم یا ډاکټر چې په دې معامله کې څه رایه ورکوي ددی حیثیت دیو ګمان او اندازې څخه زیات نه وي ډیر واره واقعه ددی څخه خلاف راووزي د ایکسرې نوي آله هم دا حقیقت نه سي په ډاګه کولای ددی حقیقي اویقیني علم صرف الله ﷻ ته دی ، ددی بیان په یو بل آیت کې دی(وَيَعْلَمُ مَافِي الْأَرْحَامِ) یعنی الله ﷻ ته معلوم دی څه چې په رحمونو کې دی .
لفظ د(تغیض) په عربي ژبه کې دکمیدو او وچیدو په معنی باندی راځي ، په ذکر سوی آیت کې ددی په مقابله کې د (تزدا د) لفظ دا متعینه کړه چې دلته معنی دکمیدو ده مطلب دا دی چې دمور په رحم کې څه کمی یازیاتوب کیږي ددی صحیح علم هم صرف الله ﷻ ته دی ددی کمی یازیاتوب څخه مراد دا هم کیدای سی چې دپیداکیدونکی بچی په شمیر کې کمی یا زیاتی وي چې په حمل کې صرف یو بچی دی او که زیات دی او دا هم کیدای سی چې دپیدائش په زمانه کې کمی یا زیاتی مراد وي ، چې دا حمل به په څومره میاشتو ، څومره ورځو اوڅومره ګنټو کې پیداسي او یو انسان ته به ظاهري وجود ورکي ، ددی یقیني علم هم بغیر دالله ﷻ څخه بل چاته نه سي کیدای .
دتفسیر امام مجاهد رحمه الله فرمايي چې دحمل په زمانه کې چې کومه وینه دښځې څخه راځي دغه دحمل په جسامت اوصحت کې دکمي باعث کیږي د (تغیض الارحام) څخه مراد دا کمی دی او حقیقت دا دی چې د کمی څومره قسمونه دي ، ټول ددی آیت څخه مراد کیدای سي ، په دې وجه هیڅ اختلاف نسته .
كُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِمِقْدَارٍ : یعنی دالله ﷻ په نزد دهر شي یوخاص اندازه اوپیمانه مقرر ده ، نه په دې کې کمی کیدای سي او نه زیاتوب دبچي ټول حالات هم په دې کې داخل دی ، چې دده هر شی دالله ﷻ په نزد متعین دی چې څومره ورځې به په حمل کې وي ، بیابه څومره زمانه په دنیا کې ژوندی وي اوڅومره رزق به ده ته حاصل وي دالله ﷻ دا بې مثاله علم دده دیو والی ښکاره دلیل دی .

عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيرُ الْمُتَعَالِ ﴿٩﴾ سَوَاءٌ مِّنْكُمْ مَّنْ أَسَرَّ

پوهیدونکی په پټو او په ښکاره دټولو څخه لوی برتر ، برابر دی په تاسی کې کوم چې پټه

الْقَوْلَ وَمَنْ جَهَرَ بِهِ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ بِاللَّيْلِ وَسَارِبٌ

خبره کوی او څوک چې په زوره کوی او څوک چې پټیږی په شپه کې اوڅوک چې په کوڅو کوکی

Maktaba Tul Ishaat.com

بِالنَّهَارِ ﴿١٠﴾ لَهٗ مُعَقِّبٰتٌ مِّنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ يَحْفَظُوْنَهٗ

گرځي دورځي ، دده پهره داران دي دبنده څخه مخکې اودشا څخه دده حفاظت کوي

مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا

دالله ﷻ په حکم سره الله ﷻ نه بدلوي ديو قوم حالت ترڅو چي دوی بدل نه کړی هغه چي

بِاَنْفُسِهِمْ ؕ وَاِذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ سُوْٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ ۚ وَمَا لَهُمْ

په نفسونو د دوی کی دی ، اوکله الله ﷻ اراده وکړی پر قوم دآفت بيا نه ورڅخه واپس کيږي ، اونشته دوی ته

مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّالٍ ﴿١١﴾ هُوَ الَّذِيْ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّ

دهغه څخه ماسوا څوك مددګار ، هغه دی چي تاسی ته ښيي بجلی دبيری او

طَمَعًا وَّيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ ﴿١٢﴾ ۚ وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ

اميد سره سره او پورته کوی وريخ درنه ، او تالانده تسبيح وايي دده په ثنا سره

وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهٖ ۚ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيْبُ بِهَا

او ملائکی تولی دهغه دبيری څخه ، اوليږي کړپيدونکی تندرونه بيايي غورځوی په چا چي يې

مَنْ يَّشَآءُ وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِي اللّٰهِ ۚ وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ ﴿١٣﴾ ؕ لَهٗ

وغواړی ، او دا خلق جګړه کوی دالله ﷻ په خبره کی ، او دهغه نيول سخت دی ، دهغه

دَعْوَةُ الْحَقِّ ؕ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ

بلنه رښتيا ده ، او کوم خلق چي بولی دالله ﷻ څخه ماسوا هغه په کار نه ورځي دوی ته

بِشَيْءٍ اِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ اِلَى الْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهٖ ؕ وَ

هيڅ هم مګر داسی لکه چي اوږده کړی وی چالاسونه خپل اوبوته چي ورسيږي دده خلی ته او دغه هيڅکله

نه رسيږي ده ته

Maktaba Tul Ishaat.com

مَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۱۴﴾ وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ

او څومره بلنې چې کوي کافران تولـه گمراهي ده ، او الله ﷻ ته سجده کوي څوك چې دي په اسمانونو

وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّظِلٰلُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ﴿۱۵﴾ السجدة

کی او په مځکوکی په خوښی او په زور سره او د دوی سایه سهار او ماښام

لنډتفسیر: هغه ټول پټ او ښکاره شیان پیژني دټولوڅخه لوی (او) عالي شان دی په تاسی کی چی کوم
سړی څه خبره په پټه کوي اوکه په ښکاره یی کوي اوکوم سړی چی په شپه کی یوځای پټ سي اوکوم
شی اوکوم چی د ورځي ګرځي راځي دا ټول (دخدای ﷻ په علم کی) برابر دی (یعنی دټولوڅخه یوشان
خبر دی اولکه څنګه چی په تاسی کی دهرسړي څخه خبر دی دغه شان دهر یوحفاظت هم کوي ، چنانچی
په تاسی کی) دهرسړي (دحفاظت) دپاره څه ملائکي (مقرر) دی چی د دوی بدلي کیږي ځیني دده څخه
مخکي او ځیني دده څخه وروسته چی هغوی دخدای ﷻ په حکم (د ډیرو بلاګانو څخه) د دوی حفاظت
کوي (اوپه دی سره دی څوک داسی نه ګنی چی هرکله ملائکی زمونږ حفاظت کوی) نو بیاچی څه غواړو
کوو به ، ګناه وي اوکه کفر عذاب نه سی نازلیدای ، دا ګڼل بالکل غلط دی ځکه چی واقعي الله ﷻ (اول
خو چاته عذاب نه ورکوي ، چنانچی دهغه عادت دی چې هغه) دیو قوم (ښه) حالت نه بدلوي ترڅو پوري
چی دغه خلق خپل (دصلاحیت) حالت بدل نه کړي (مګر ددی سره دا هم ده چی هرکله دوی په خپل
صلاحیت کی خلل اچوونکی سي ، نو بیاالله ﷻ دطرف څخه پر دوي مصیبت او عذاب لیږل منتخب
کیږي) اوهرکله چی الله ﷻ پر یو قوم باندی مصیبت لیږي تجویز کړي نو بیا ددی د واپس کیدو هیڅ
صورت نه وي (هغه واقع کیږي) او (په داسی وخت کی) هیڅوک دخدای ﷻ څخه ماسوا (دګومو په باره
کی چی د دوی دا ګمان وی چی زمونږ حفاظت به کوي) د دوی مددګاري نه سي کولای (تردی چی
ملائکي هم دده حفاظت نه کوي اوکه کوي یې هم نودغه حفاظت د دوی په کار نه سي ورتلی) هغه داسی
(عظیم الشان)دی چی تاسی ته (دباران په وخت کی) بجلي (بریښدونکی) ښیی چی ددی څخه (تندر
رالویدو) بیره هم وي او (ددی څخه دباران) امید هم وي اوهغه وریځ (هم) لوړ وي کومي چې د اوبو څخه
ډکي وي او رعد (ملائکه) دهغه په تسبیح سره دهغه پاکي بیانوي او (نوري) ملائکي هم دده دبیري څخه
(دده حمد او ثنا کوي) اوهغه (دمځکي طرف ته) تندرونه لیږي بیاچی پر چا غواړي راغورځوي یې او
دغه خلق دالله ﷻ په باره کی (یعنی دده په توحیدکی سره دده دومره عظیم الشان کیدو) جګړي کوي
حال دا دی چی هغه ډیر لوی قوت والادی (چی بیریدل ورڅخه په کار دي مګر دا خلق پیریږي نه او دده
سره شریک جوړوي او هغه د[illegible] دعاګاني قبلوونکی دی) چی رښتیني بلل دهغه دپاره خاص دی (ځکه
چی هغه یې پر قبلولو قادر دی) او دخدای ﷻ څخه ماسوا کوم چی دا خلق (په خپلو حاجتونو
اومصیبتونوکی) را بولي هغه (په وجه دنه قدرت) د دوی درخواست ددی څخه ماسوا نه سي منظور وی

Maktaba Tul Ishaat.com

، کوم چې خپل دواړه لاسونه د اوبو طرف ته غزولي وي (او په اشاره سره يې خپل طرف ته را بلي) چې دغه (اوبه دده خلې ته راوالوړي) راسي اوهغه (دخانه) دده خلې ته (په هيڅ ډول) راتلونکې نه وي (نولکه څنګه چې دغه اوبه دده د درخواست قبلولوڅخه عاجزه دي دغه شان د دوی معبودان عاجزه دي په دې وجه) دکافرانو (د دوی څخه) درخواست کول محض بې اثره دي او الله ﷻ (داسې قادر مطلق دی چې دهغه) په مخ کې ټول سرونه کښته کړي دي چې په آسمانونو کې دي او څومره چې په مځکه کې دي (ځينې) په خوښي سره او (ځينې) په مجبوري سره (په خوښۍ سره داسې چې په خپل اختيار سره عبادت کوي ، او دمجبورۍ دا معنی ده چې الله ﷻ په خپل مخلوق کې چې څنګه تصرف کول غواړي هغه يې مخالفت نه سي کولای) او ددغو (مځکو والا وو) سايو هم (سرونه يې کښته کړی دی) دسهار اوماښام په وختونو کې (يعنی سايې څومره چې غواړي اوږدوي او څومره چې غواړي لنډوي او دسهار او ماښام په وخت کې چونکه د اوږديدو او لنډيدو زيات ښکاره کيدل وي ، په دې وجه يې ددې تخصيص وکې کنه نو سايه خو په دې معنی سره په هر ډول تابعداره ده)

(معلومات او مسئلې)

د ذکر سوو آيتونو څخه مخکې دالله ﷻ دخاصو صفتونو دکمال سلسله را روانه ده ، کوم چې په حقيقت کې دتوحيد دليلونه دي ، په دې آيت کې فرمايي.

عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيرُ الْمُتَعَالِ : دغيب څخه مراد هغه شيان دي کوم چې دحواسو څخه غائب وي يعنی نه په سترګو سره ليدل کيږي نه په غوږونو سره اوريدل کيږي ، نه په پزه سره بوی کيدای سي نه په ژبه سره څکل کيږي ، نه په لاسو سره مسح کيږي.

شَهَادَتْ . ددې په مقابله کې هغه شيان دي کوم چې انسان دذکر سوو حواسو په ذريعه معلومولای سي ، معنی دا ده چې دالله ﷻ دکمال خاص صفت دا دی چې هغه هرغيب داسې پيژني لکه څنګه چې حاضر او موجود پيژني.

د الکبير معنی لوی او د متعال معنی پورته اولوړ ، مراد ددې دواړو لفظونو څخه دا دی چې هغه د مخلوقاتو دصفتونو څخه لوړ اوپورته دی اولوی دی ، کفار اومشرکان دالله ﷻ دپاره په اجمالي طور باندې ذلويې او برايي خو اقرارکوي مګر دخپلې پوهې دقصورپه وجه الله ﷻ هم پرعامو انسانانو قياس کوي ، دالله ﷻ دپاره به يې داسې صفتونه ثابتول کوم چې دده دشان څخه ډير ليري دي ، لکه يهودو او نصاراوو چې دالله ﷻ دپاره زوی ثابت کی ، ځينو دالله ﷻ دپاره د انسان په شان جسم او اندامونه ثابت کړل ځينو ورته جهت اوطرف ثابت کي حال دا چې هغه ددې ټولو حالاتو اوصفتونوڅخه پورته او بالا او منزه دی ، قرآن کريم د دوی دبيان کړو صفتونوڅخه د براءت دپاره بار بار فرمايي (سُبْحَانَ اللهِ عَمَّا يَصِفُوْنَ) يعنی پاک دی الله ﷻ دهغو صفتونو څخه کوم چې دا خلق بيانوي.

په اوله جمله (عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ) کې دارنګه ددې څخه په مخکې آيت (اَللهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى) کې دالله ﷻ دکمال علمي بيان وو په دې دويمې جملې (اَلْكَبِيْرُ الْمُتَعَالِ) کې دکمال قدرت اولويي ذکر دی ، چې دده طاقت او قدرت د انساني تصوراتو څخه بالاتر دی ، دې څخه په وروستي آيت کې هم ددې

Maktaba Tul Ishaat.com

کمال علمي او کمال قدرت په يو خاص اندازه سره بيان فرمايي.

سَوَاءٌ مِنْكُمْ مَنْ أَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَنْ جَهَرَ بِهِ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ بِاللَّيْلِ وَسَارِبٌ بِالنَّهَارِ (أَسَرَّ الْقَوْلَ) د اسرار څخه جوړ دی چې معنی يې پټه خبره او دجهر معنی په ډاګه خبره ده کومه خبره چې انسان بل انسان ته د اوررولو دپاره کوي ، هغې ته جهر وايي او کومه چې خپل ځان ته د اوررولو دپاره کوي هغې ته سر وايي د مُسْتَخْفٍ معنی ده پټيدونکی ، دسَارِب معنی ده په آزادی او بی فکری سره پر لار تلونکی.

معنی د آيت دا ده چې دالله ﷻ دعلم محيط په وجه سره دده په نزد پټه خبره کوونکی او په زوره خبره کوونکی دواړه برابر دی ، هغه د دواړو خبره يوشان آوري او پوهيږي په دغه شان چې کوم سړی دشپې په تياره کی پټ وي او کوم چې د ورځی په رڼاکی پربنکاره لاره ځي دا دواړه دهغه دعلم اوقدرت په اعتبار سره برابر دي ، چې د دواړو دننه او دباندی ټول حالات ده ته يو شان معلوم دي او پر دواړو باندی دده قدرت يو شان حاوي دی ، څوک دده دقدرت دلاس څخه دباندی نه دی ، ددی زيات بيان په راتلونکی ايت کي داسی دی.

لَهُ مُعَقِّبَاتٌ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ يَحْفَظُونَهُ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ (دمُعقبات . دمعقبة) جمع ده هغه جماعت ته وايي کوم چې په بل جماعت پسې متصل وروسته راسي ، دی ته معقبه يامتعقبه ويل کيږي ، د: مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ لفظی معنی ده د دواړو لاسونو په مينځ کی ، مراد ورڅخه د انسان مخ او مخکي طرف دی (وَمِنْ خَلْفِهِ شا جانب په : من امرالله .کی (مِن) په معنی د(با) دسببيت دپاره دی د(بامرالله) په معنی راغلی ، په خينو قرائتونوکی دا لفظ (بامرالله) هم نقل دی (روح)

معنی د آيت دا ده چې هر سړی خپله خبره که پټوي ياظاهروي دغه شان خپل تلل دشپې په تياره کی پټ ساتي ياپه ډاګه پرسړکونو ګرځي ، ددی ټولو انسانانو دپاره دالله ﷻ دطرف څخه دملائکوجماعتونه مقرردي چې دوی يې دمخکې او وروسته څخه راګير کړي دي چې د دوی خدمت او وظيفه بدليږي او په يوبل پسې راځي ددوی پر ذمه داکارسپارل سوی دی چې دوی دخدای په حکم دانسانانو حفاظت کوي.

دصحيح بخاري په حديث کی دی چې دملائکو دوه جماعتونه دحفاظت دپاره مقرر دی يو دشپي دپاره بل د ورځي دپاره او دا دواړه جماعتونه دسهار اوماخيګر په لمونځونوکی يوځای کيږي ، دسهار دلمانځه څخه وروسته دشپي محافظان رخصت سي ، د ورځي محافظان خپل کارسنبال کړي ، او دماخيګر دلمانځه څخه وروسته دوی رخصت سي ، او دشپي ملائکي پر وظيفه سي ، د ابو داود په يو حديث کی په روايت دحضرت علي مرتضی ذکردی چې دهريوه انسان سره څه حفاظت کوونکی ملائکي مقرر دی کومي چې دده حفاظت کوي چې پرده باندی يو ديوال وغيره را ونه لويږي او يوې ژورې ته ارتاو نه سی يايو حيوان يا انسان ده ته تکليف ونه رسوی البته هرکله چې دالله ﷻ حکم ديو انسان په بلاء او مصيبت کی د اخته کولو دپاره نافذ سي ، نو محافظي ملائکي دهغه ځای څخه وګرځي (روح)

د ابن جرير په يوحديث کی په روايت دحضرت عثمان غني ؓ دا هم معلوميږي چې ددې محافظو فرښتو کارصرف ددنياوي مصيبتونو اوتکليفونوڅخه حفاظت نه دی ، بلکه دوی انسان دګناهونوڅخه

Maktaba Tul Ishaat.com

دمحفوظ کولو اومحفوظ ساتلوهم کوشش کوي د انسان په زړه کی دنیکي اودخدای ﷻ دبیرۍ داعیه بیداروي چی ددې په ذریعه دی دگناه څخه محفوظ سی اوکه بیاهم ددغو فرښتو دالهام څخه غفلت وکړی او په گناه کي اخته سي نو دوی ددې دعا اوکوشش کوی چی دی ژر توبه وکړي او دگناه څخه پاک سی ، بیا که دی په هیڅ شان سره هم واپس نه سی نو دوی یې په عملنامه کی گناه ولیکي .

لنډه دا ده چی دا محافظي ملائکي ددین او دنیا دواړو دمصیبتونو او آفتونو څخه د انسان په ویښه او په خوب کی حفاظت کوي ، حضرت کعب احبار رحمه الله فرمایي چی که د انسان څخه دا حفاظتي خدایي پهره لیري کړل سي نو پیریان به دده ژوند وبال جوړکړی ، لیکن د اټولي حفاظتي پهري ترهغه وخته پوري کار کوي ترڅو چی تقدیر الهي د دوی دحفاظت اجازه ورکوي اوهرکله چی الله ﷻ دیو بنده مبتلا کول غواړي نو داحفاظتي پهره لیري کړل سي .

ددی بیان په راتلونکی آیت کی داسی سوی دی .

إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِقَوْمٍ سُوءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَالٍ

یعنی الله ﷻ دیوقوم د امن اوعافیت حالت په آفت اومصیبت کی ترهغه وخته پوری نه بدلوي ترڅو پوری چی دغه قوم په خپله خپل عملونه اوحالات په بدي اوفسادکي بدل نه کړي اوکله چی دی خپلو حالاتو ته په سرکشی اونافرمانی کي بد لوی نو الله ﷻ هم خپل طرز بدلوی او دا ظاهره ده چی هرکله الله ﷻ دچابده وغواړي اوعذاب ورکول وغواړي نونه بیادغه څوک منع کولای سی اونه څوک دالله ﷻ د حکم خلاف دده مدد کولای سی .

لنډه دا ده چی دالله ﷻ دطرف څخه د انسانانو دحفاظت دپاره دملائکو پهره لگیدلی وي ، لیکن کله چی یو قوم دالله ﷻ دنعمتونو شکر اودهغه فرمانبرداري پریږدي اوبدعملي اوسرکشي اختیارکړي ، نو الله ﷻ هم خپله حفاظتي پهره ورڅخه لوره کړي بیادالله ﷻ قهر اوعذاب پردوی ولویږي چی ددې څخه دمحفوظ کیدو بیاهیڅ صورت پاته نه سی .

ددی تشریح څخه معلومه سوه چی په ذکر سوی آیت کی دحالت بدلیدوڅخه مراد دا دی چی هرکله یوقوم فرمانبرداري اوشکر گذاري پریږدي او په خپلو حالاتو کی بده تبدیلي پیداکي نو الله ﷻ هم خپل طرز د رحمت اوحفاظت بدل کړي .

ددی آیت چی کوم په عام توگه سره دا مطلب بیان ولکیږي چی په یو قوم کی ښه انقلاب ترهغه وخته پوری نه سی را تلای ترڅو چی دوی پخپله ددی ښه انقلاب دپاره خپل حالات برابر نه کړي په دی معنی کی دا شعر مشهور دی .

خدا نی آج تک اس قوم کی حالت نهی بدلی نه هو جس کو خیال آپ اپنی حالت کی بدلنی کی

یعنی الله ﷻ تر ننه پوری دهغه قوم حالت نه دی بدل کړی دکوم سره چی په خپله دخپل حالت دبدلولو خیال نه وي پیدا سوی .

دا خبره که څه هم تر یو حده پوری صحیح ده مگر د ذکرسوی آیت دا مطلب نه دی او ددی صحیح والی هم د یوعام قانون په حیثیت سره دی چی کوم سری په خپله دخپلو حالاتو د اصلاح اراده نه کوي، دالله

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷻ دطرف هم دده د امداد اونصرت وعده نه وي . بلکه دا وعده په دې حالت کې ده کله چې څوک په خپله هم د اصلاح فکر وکي لکه چې دآيت کريمه ﴿وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا﴾ څخه معلوميږي چې دالله ﷻ دطرف څخه هم دهدايت لارې هلته خلاص سيږي کله چې په خپله دهدايت طلب موجود وي ، ليکن انعامات الهيه ددې قانو پابند نه دي ډير وارونه ددې څخه بغير هم ورکول کيږي .

دا دحق را قابليت شرط نيست بلکه شرط قابليت دا دهست

دالله ﷻ ورکړي لره دا شرط نه دي چې په ده کې يې قابليت وي بلکه پرچا چې الله ﷻ فضل کوي په خپله يې ددې قابل کړي .

په خپله زمونږ وجود او په دې کې بې شميره نعمتونه ، نه زمونږ دکوشش نتيجه ده اونه مونږ هيڅکله ددې دپاره دعاغوښتې وه چې مونږته دې داسې وجود راکړل سي چې سترګې ، پزه ، غوږونه اوټول قوتونه او اندامونه يې برابروي دا ټول نعمتونه بې غوښتلو حاصل سوي دي .

مانه بوديم وتقاضا ما نه بود لطف تو ناګفتۀ مامی شنود

نه مونږ وو اونه زمونږ تقاضا وه (چې مونږ داسې پيدا کړه) ستامهربانيو زمونږ ناويلي سوالونه قبول کې دي البته دخداي ﷻ د انعاماتو مستحق کيدل او وعده بغير دخپل کوشش څخه نه سي خاصليداي او ديو قوم بغير دکوشش اوعمل څخه د انعاماتو په انتظار کې اوسيدل ځان غولول دي .

هُوَ الَّذِي يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ : يعنى دالله ﷻ پاک ذات دی چې تاسی ته برق او بجلي ښيي کومه چې دانسان دپاره بيره هم جوريداي سي چې په کوم ځاي ولويږي ، هغه ټول ايره کړي او طمع هم کيداي سي چې دبجلي دبريښيدو څخه وروسته راځي کوم چې دانسان اوحيوان د ژوند غوښتنه ده اوهغه پاک ذات دی چې لويي درني وريځي دسمندر څخه پورته کړي اوبيا دا د اوبو څخه ډکي وريځي په فضاکې په ډيره تيزي سره ديوځاي څخه بل ځاي ته رسوي او دخپل حکم اوتقدير مطابق چې يې پرکومه مځکه غواړي ورروي يې .

وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ وَالْمَلَائِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِ : يعنى تسبيح وايي رعد دالله ﷻ دحمد او دشکر سره اوتسبيح وايي ملائکي دهغه دبيري څخه ، رعدپه عرف اومحاوره کې د وريځي آواز ته ويل کيږي کوم چې د وريځو ديوبل سره دټکراو څخه پيداکيږي ، ددې دتسبيح ويلو څخه مراد هغه تسبيح ده دکوم متعلق چې دقرآن کريم په يوبل آيت کې راغلي دي چې په مځکه او آسمان کې يو شي داسې نسته کوم چې دالله ﷻ تسبيح نه کوي . ليکن دا تسبيح عام خلګ نه سي آوريداي ، او په ځينو روايتونو دحديث کې دي چې رعد دهغه ملائکي نوم کوم چې پر باران اورولو باندې مسلطه اومامورده ده ددې معنى په اعتبار سره تسبيح ويل ظاهر دي .

وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَنْ يَشَاءُ : صواعق دصاعقة جمع ده پرمځکه لويدونکې تندرته صاعقه وايي مطلب دآيت دا دی چې الله ﷻ دا تندر پرمځکه را اچوي چې ددې په ذريعه څوک وغواړي سوزي يې .

وَهُمْ يُجَادِلُونَ فِي اللَّهِ وَهُوَ شَدِيدُ الْمِحَالِ : لفظ دمحال په زير دميم سره حيلې اوتدبير ته وايي اودعذاب په

Maktaba Tul Ishaat.com

معنی هم راځي او دقدرت په معنی هم ، دآیت معنی دا ده چې دا خلق دالله ﷻ دتوحید په معامله کی دیوبل سره په جنګ او مجادلو کی اخته دی ، حال دا دی چې الله ﷻ لوی اوقوي تدبیرکوونکی دی چې دهغه په مخکې دهیچاچم نه سی چلیدای .

قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ قُلِ اللّٰهُ ؕ قُلْ اَفَاتَّخَذْتُمْ مِّنْ

پوښتنه وکړه چې څوک دی رب داسمانو او دمځکو ، ووایه چې الله ﷻ ، ووایه چې بیا تاسی نیولی دی د

دُوْنِهٖۤ اَوْلِیَآءَ لَا یَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا ؕ قُلْ هَلْ

هغه څخه ماسوا داسی مددګاران چې مالکان نه دی دخپل ځان دپاره دنفع او نه نقصان ، ووایه آیا

یَسْتَوِی الْاَعْمٰی وَالْبَصِیْرُ ۙ۬ اَمْ هَلْ تَسْتَوِی الظُّلُمٰتُ وَالنُّوْرُ ۚ۬

برابري دی روند اولیدونکی ، یا آیا برابره ده تیاره او رڼا

اَمْ جَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوْا كَخَلْقِهٖ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَیْهِمْ ؕ

آیاجوړکړی دی دوی دالله ﷻ دپاره شریکان چې هغوی څه پیداکړی دی لکه چې پیداکړی دی الله پس مشتبه سو پیدائش د دوی په نظر کی .

قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَیْءٍ وَّهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۱۶﴾ اَنْزَلَ مِنَ

ووایه الله ﷻ پیدا کوونکی دی دهرشی او هغه دی یو زبردست ، نازلی کړی هغه

السَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ اَوْدِیَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَاحْتَمَلَ السَّیْلُ زَبَدًا

داسمان څخه اوبه بیا وبهیدی نالی په خپل خپل مقدار بیا په سر راوړی دغی نالی زګ

رَّابِیًا ؕ وَمِمَّا یُوْقِدُوْنَ عَلَیْهِ فِی النَّارِ ابْتِغَآءَ حِلْیَةٍ اَوْ مَتَاعٍ

پرسیدلی او کوم شی چې ګرموی په اور کی ، دپاره دګالو یادا اسباب په دی ،

زَبَدٌ مِّثْلُهٗ ؕ كَذٰلِكَ یَضْرِبُ اللّٰهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ ۬ؕ فَاَمَّا الزَّبَدُ

کی هم زګ دی دغسی ، داسی بیانوی الله ﷻ حق او باطل پس هغه زګ

فَيَذْهَبُ جُفَآءً ۚ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ ۚ

خو ولاړسي وچ سي او هغه کوم چي په کار ورځي دخلقو پس باقي پاته سي په مځکه کي

كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ ﴿١٧﴾

دا سي بيانوي الله ﷻ مثالونه

لنډتفسير: ته (دوی ته داسي) ووایه چي د آسمانونو اودمځکو پروردګار (يعني ايجادکوونکي او باقي پاته کوونکي يعني خالق اوحفاظت کوونکي) څوک دی (چونکه ددی جواب خومعلوم دی ﷺ دی وجه جواب هم) ته ووایه چي الله ﷻ دی (بيا) ته دا ووایه چي آیا (دا دليلونه دتوحيد اوري) بياهم تاسي دخدای څخه ماسوا نور مددګاران (يعني معبودان) مقرر کوئ کوم چي (په وجه د ډيري ناچاری) په خپله دځان دنفع اونقصان هم اختيارنه لري (اوبيادشرک دباطليدو اوتوحيد دحق کيدوڅخه وروسته دموحدينو او مشرکانو اوپه خپله دتوحيد اوشرک په مينځ کي دفرق ظاهرولو دپاره) ته دا (هم) ووایه چي آیا ړوند او ليدونکي برابريدای سي (دا مثال دی دشرک اوموحد) یایوځای تياره او رڼا برابريدای سي (دا مثال دی دشرک او دتوحيد) یا دوی الله ﷻ ته داسي شريکان مقررکړي دي چي دوی هم (يوشی) پيداکړی وي لکه چي خدای (د دوی د اقرار موافق هم) پيداکوي بيا (په دی وجه سره) دوی ته (د دواړو) پيداکول يو شان معلوم سوی وي (او په دی سره يې دليل نيولی وي چي هرکله دواړه يوشان خالقان دي نو دواړه يوشان معبودان به هم وي ددی متعلق هم) ته ووایه چي خاص الله ﷻ دهر شئ خالق دی اوهغه (په خپل ذات او صفتونو دکمال کي) يو دی (او پر ټولو مخلوقاتو) غالب دی الله ﷻ دآسمان څخه اوبه نازلوي بيا (ددی اوبو څخه) نالی (ډکي) دخپل مقدارموافق رواني سی (يعني په وړه نالی کي لږ اوبه او په غټه نالی کي ډيري اوبه) بيادغه سيلاب (اوبه) خاشي اوخاشاک وبهوی کوم چي ددی (اوبو) پر سر سربيره رواني وي (يو خړي خاشي يعني زګ خو دا دی) اوکوم شيان چي په اورکی (ايږدي) دکالو يا اسباب (لوښو وغيره) جوړولو په غرض سره يې ګرموي په دی کی هم داسي ښيري (زګ پورته) راسی (نوپه دی دوو مثالونو کی دوه شيان دي يودکار شی چي اصل اوبه او اصل مال دی او يو ببکاره شی چي خاوري خاشاک او ښيری دی غرض) الله ﷻ دحق (يعني توحيد او ايمان وغيره) اودباطل (يعني کفر اوشرک وغيره) دغسې مثالونه بيانوي (چي تکميل يې په راتلونکي مضمون سره کيدای سي) پس (په دی دواړه ذکر سوو مثالونوکی) کوم چي ښيری او زګ وو هغه خو غورځول کيږي اوکوم شی چي دخلقو په کار ورځي هغه په دنياکی (دنفع رسولو سره) باقي پاته وي (اولکه څنګه چي دحق او باطل مثال بيان سو) الله ﷻ دغه شان (په هر يو ضروري مضمون کی) مثالونه بيانوي.

(معلومات او مسئلي)

د دواړو مثالونو خلاصه دا ده چي لکه څنګه چي په دی مثالونو کی ښيری او زګ ترڅه وخته پوری پر

اصلي شی سربیره په نظر راخي ، لیکن آخرهغه غورخول کیږي او اصلي شی پاته کیږي دغه شان باطل
که څه هم یو څو ورځي پرحق سربیره غالب په نظر راځي لیکن آخرت باطل محوه اومغلوب سی اوحق
باقي او ثابت پاته سی (لکه چی داسی په جلا لین کی دی)

لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنٰىؔ ۚ وَالَّذِيْنَ لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهٗ لَوْ اَنَّ

چاچی ومنی دخپل رب حکم دهغوی دپاره نیکی ده ، او چاچی دده حکم ونه منی که د دوی

لَهُمْ مَّا فِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ لَافْتَدَوْا بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْحِسَابِ ۙ۬

سره وی څه چی په مځکه کی دی ټول او دومره ددی سره نور پس ټول ورکړی په خپله بدله کی، ددغه خلقو دپاره دی

وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ۝١٨ اَفَمَنْ يَّعْلَمُ اَنَّمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ

بدحساب ، اوځای ددوی دوږخ دی او دغه بدځای دارام دی، ایا کوم سړی چی پوهیږي چی څه نازل سو په تا

رَّبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ اَعْمٰى ؕ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝١٩ ۙ الَّذِيْنَ

ستا درب څخه حق دی برابرید سی درړوندو سره ، پوهیږي هغه کوم چی دعقل خاوندان دی ، هغه خلق

يُوْفُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَلَا يَنْقُضُوْنَ الْمِيْثَاقَ ۝٢٠ ۙ وَالَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ

چی پوره کوی دالله ﷻ وعده دا عهد او نه ماتوی او هغه خلق چی خپلولی ساتی

مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُوْنَ سُوْٓءَ

هغه چی الله ﷻ یی حکم کړی دی چی صله رحمی کوی او وبیریږي دخپل رب څخه او بیریږي دبد

الْحِسَابِ ۝٢١ ؕ وَالَّذِيْنَ صَبَرُوا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ

حساب څخه ، او هغه خلق چی صبر یی وکی ، دپاره دخوشحالولو دخپل رب او قائم یی کی لمونځ

وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً وَّيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ

اوخرڅ یی کړی زموږ د ورکړو څخه په پټه او په ښکاره او کوی دبدی په مقابله کی

السَّيِّئَةَ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ۝٢٢ ۙ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا

ښکی ددې خلقو دپاره دآخرت کور دی ، باغونه دی دوسیدو داخلیږي به په دی کی

وَمَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَالْمَلٰٓئِكَةُ

او کوم چي نیکان وی د دوی د پلار نیکه څخه او د ښځو د دوی څخه اودا اولاد د دوی څخه او ملائکی به

يَدْخُلُوْنَ عَلَيْهِمْ مِّنْ كُلِّ بَابٍ ﴿۲۳﴾ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ

راځي دوی ته دهری دروازی څخه ، وايي به سلامتیا ده په تاسی په بدله کی دهغه چی تاسی

فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ﴿۲۴﴾

صبر وکی پس غوره درکول سو دآخرت کور

لنډتفسير: کومو خلقو چی دخپل رب وینا ومنله (او توحید او اطاعت يې اختیار کي) د دوی دپاره ښه بدل (یعنی جنت مقرر) دی او کومو خلقو چی دهغه وینا ونه منله (او پر کفر او نافرمانی باندی پاته سول) د دوی سره (دقیامت په ورځ) که دټولي دنیا شیان (موجود) وي او (بلکه) ددی سره ددی برابر نور هم (مال او دولت) وي نو ټول دخپل خلاصون دپاره ورکړي ، ددې خلقو به سخت حساب وی (کوم ته چی يې په بل آیت کي حساب عسیر فرمایلی دی) او د دوی ځای (دهمیشه دپاره) دوزخ دی او دغه ډیر بد د اوسیدو ځای دی کوم سړی چی دا یقین لري چی څه ستا درب دطرف څخه پر تا نازل سوی دی هغه ټول حق دی آیا داسی سړی دهغه په شان کیدای سی کوم چی (ددی علم څخه محض) ړوند وي (یعنی کافر او مومن برابر نه دي) پس نصیحت خو پوهه خلق قبلوي (او) دا (پوهه) خلق داسی دي چی دالله ﷻ سره يې څه عهد کړی دی، هغه پوره کوي او (دغه) عهدماتوي نه او دوی داسی دي چی الله ﷻ دکومو خپلولو دقائم ساتلو حکم کړی دی هغه قائم ساتي او دخپل رب څخه بیریږي اودسخت عذاب څخه بیره کوي (کوم چی به دکفارو سره خاص وي په دی وجه دکفر څخه ځان ساتي) اودغه خلق داسی دي چی دخپل رب درضا حاصلولو دپاره (پرحق دین) مضبوط اوسي او دلمانځه پابندي ساتي اوڅه چی مونږ دوی ته رزق ورکړی دی دهغه څخه په پټه هم او په ظاهره هم (څنګه چی موقع وي) خرڅ کوي او (دخلقو) دبدی (کوم چی د دوی سره کوي) په ښه سلوک سره بدله ورکوي (یعنی چی څوک ورسره بدي وکړي نو دوی يې څه پروا نه ساتي بلکه دهغو سره ښه سلوک کوي) په هغه جهان کی (یعنی په آخرت کی) نیک انجام دهغو خلقو دپاره دی یعنی دهمیشه اوسیدو په جنت کی به دغه خلق هم داخل سی او د دوی په مور او پلار او بیبیانو او اولاد کی چی کوم (دجنت) لائق (یعنی مومنان) وي (که څه هم د دوی د درجي نه وي) دغه به هم (په جنت کی د دوی په برکت سره د دوی په درجو کی) داخل سی او فرشتي به دوی ته دهر (طرف) د دروازي څخه راځي (او دا به وايي) چی تاسی (دهر آفت او خطري څخه) صحیح سلامت اوسی ، په برکت دهغه چی تاسی (په حق دین) مضبوط پاته سوئ واست وروسته په دی جهان کی ستاسی انجام ډیر ښه دی

Maktaba Tul Ishaat.com

(معلومات او مسئلي)

په تیرو آیتونوکی دحق اوباطل وضاحت په مثالونوسره وسو، په دی ذکرسوو آیتونوکی دحق دخاوندانو او دباطل دخاوندانو نخښې اوصفتونه او د دوی دښو اوبدو عملونو او دجزا اوسزا بیان دی.

په اولنی آیت کی دالله ﷻ په حکمونو دعمل کوونکو دپاره دښو بدله او دنافرمانیو کوونکو دپاره د سختی سزا بیان دی.

په دویم آیت کی یې ددې دواړو مثال دلیدونکی او ړوند سره ورکړی دی او ددی په آخرکی فرمایي.

إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا الْأَلْبَابِ: یعنی که څه هم خبره واضحه ده، مګر په دی هغه سړی پوهیږي کوم چی عقل والا وي او دکومو عقلونه چی غفلت اونافرمانیو بې کاره کړی دی هغه په دی دومره لوی فرق هم نه پوهیږي.

د دریم آیت څخه ددی دواړو فریقو دخاصو خاصو عملونو او نخښو بیان سوی دی اول دالله ﷻ د حکمونو دمنونکو صفتونه داسی بیانوي چی.

الَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ: یعنی دا هغه خلق دي کوم چی دالله ﷻ سره سوی وعده پوره کوي، مراد ددی څخه ټول عهدونه او لوظونه دي کوم چی الله ﷻ دخپلو بندګانو څخه اخیستی دی چی په دی کی دټولو څخه اولنی هغه عهد درب والی دی کوم چی په ازل کی دټولو ارواحانو څخه اخیستل سوی وو (الست بربکم) یعنی آیا زه ستاسی رب نه یم؟ چی په جواب کی یې ټولو په جمع ویلي وو، بلی، یعنی ولي نه یې خامخا زمونږرب یې دغه شان دالله ﷻ دټولوحکمونودمنلو، دټولو فرضو د ادا کولو، اودناجائزوشیانو څخه دځان ساتلو، دالله ﷻ دطرف څخه وصیت او دبندګانو دطرف څخه ددی اقرار په مختلفو آیتونو کی ذکر دی.

دویم صفت، وَلَا يَنقُضُونَ الْمِيثَاقَ: دی یعنی دوی دیوعهد او لوظ خلاف ورزي نه کوي په دی کی هغه عهد اولوظونه هم دا خل دي کوم چی دبنده او دالله ﷻ په مینځ کی دی چی ذکر یې اوس دعهد الله، په الفاظو سره وسو او هغه عهد هم کوم چی د امت خلقو دخپل نبی او رسول سره کوي اوهغه معاهدي هم کومي چی یو انسان دبل انسان سره کوي.

ابو داؤد په روایت دعوف بن مالک ﷺ دا حدیث نقل کړی دی چی نبی کریم ﷺ دصحابه کرامو رضی الله عنهم څخه پردی عهد اوبیعت واخیستی چی دالله ﷻ سره به څوک نه شریکوئ، پنځه وخته لمونځ به په پابندی سره کوئ او دخپلو امیرانو حکم به منئ او دیو انسان څخه به دڅه شي سوال نه کوئ.

که ء خلق حه، په دی بیعت کی شریک وه دهغوی حال دعهد په پابندي کی دا وو چی که پر آس باندی به دسپرلي په وخت ئی د دوی درس چابک [illegible] به یې دا نه ویل چی دا چابک راپورته کړه بلکه په خپله به دسپرلي څخه کښته کیدی او را پورته کوي به یي، دا دصحابه کرامو رضی الله عنهم په زړونو کی دنبي کریم ﷺ دمحبت عظمت او دفرمانبرداري دجذبي اثر وو، کنه نو دا خو ظاهره ده چی دداسی قسم سوال کولو څخه منع فرمایل مقصود نه وو، لکه حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ یو واري جماعت ته داخلیدی، چی ګوري چی نبی کریم ﷺ خطبه ورکوی او اتفاقًا دده جماعت ته دداخلیدو په وخت دوی ﷺ په ژبه مبارکه دا کلمه راغله چی، کښېنه، عبدالله بن مسعود ﷺ پوهیدی

Maktaba Tul Ishaat.com

چې ددې دا مطلب نه دی چې پرسرک یا بې موقعې چې ته کوم ځای ته هلته کښېنه مگر دفرمانبرداري جذبې دې مخکې تلوته پرې نه ښودي او د دروازې څخه دباندې کوم ځای چې یې دا آواز آوریدلی وو هم هلته کښېنستې.

دریم صفت دالله ﷻ دفرمانبردارو بندگانو دا ښوول سوی دی ، وَالَّذِينَ يَصِلُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ: یعنی دا خلق داسی دي چې الله ﷻ دکومو تعلقاتو دقائم ساتلو حکم کړی دی هغه قائم ساتي ددې مشهور تفسیر خو دا دی چې دقرابت داري دتعلقاتو دقائم ساتلو او ددې په تقاضاوو دعمل کولو چې الله ﷻ کوم حکم کړی دی دا خلق دا تعلقات قائم ساتي ، ځینې تفسیر لیکونکي حضرات فرمایي چې ددې څخه مراد دا دی چې د ایمان سره نیک عمل یا په نبی کریم ﷺ اوقرآن کریم باندې د ایمان سره په تیرو انبیاؤ علیهم السلام او د دوی په کتابونو ایمان شریکوي.

څلورم صفت یې دا بیان فرمایي ، وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ : یعنی دا خلق دخپل رب څخه بیریږي دلته دلفظ ، خوف پرځای د(خشية) په لفظ استعمالولو کی دی طرف ته اشاره ده چې دالله ﷻ څخه د دوی بیره داسی نه ده لکه د درنده حیوان یا دموذي انسان څخه چې طبعاً بیره وي ، بلکه داسی بیره ده ، لکه اولاد چې دمور اوپلار، شاگرد د استاد څخه عادتاً بیره کوي چې ددې منشاء د آزار رسولو بیره نه وي ، بلکه دلویې او محبت په وجه سره ددې بیره وي چې هسې نه زما څخه یو داسې کار وسی چې الله ﷻ په خفه سی په دې وجه دصفت په ځای کی چې کوم ځای دالله ﷻ دبیرې ذکر دی په عام طور سره هلته دا لفظ د(خشيت) استعمال سوی دی ، ځکه چې (خشيت) هغه بیرې ته ویل کیږي کومه چې دعظمت اومحبت په وجه سره پیدا کیږي په دې وجه په راتلونکې جمله کی کوم ځای چې دحساب دسختې بیره بیان سوې ده ، هلته د(خشيت) لفظ نه دی بلکه د(خوف) لفظ استعمال سوی دی ، ارشاد فرمایي.

وَيَخَافُونَ سُوءَ الْحِسَابِ : یعنی دا خلق دبدحساب څخه بیریږي ، دبدحساب څخه مراد په حساب کی سختي او د ذرې ذرې پوښتنه ده ، حضرت صدیقه عائشه ﷺ فرمایي چې دانسان نجات خو په رحمت دالله ﷻ سره کیدای سی ، چې دعملونو دحساب په وخت کی دسرسري اوعقوي اودرگذر څخه کار واخلي ، کنه نو دکوم سړي سره چې د ذرې ذرې اوپوره حساب کول کیږي دده دعذاب څخه محفوظ کیدل ممکن نه دی ، ځکه چې داسی څوک دی چې څه گناه اوخطاء به نه وي ورڅخه سوې ، دا دحساب دسختې بیره دنیکو او فرمانبردارو خلقو پنځم صفت دی.

شپږم صفت یې دا بیان فرمایي ، وَالَّذِينَ صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ : یعنی دغه خلق کوم چې خالص دالله ﷻ درضا دپاره صبر کوي ، دصبر معنی په عربي ژبه کی ددې معنی څخه زیاته عامه ده کومه چې په اردو ژبه کی گڼل کیږي ، چې پر یو مصیبت اوتکلیف باندې صبر وکي ، ځکه چې ددې اصلي معنی په خلاف طبع شیانو نه پرېشانه کیدل دي بلکه په ثابت قدمي سره په خپل کار کی اخته اوسیدل دي ، په دې وجه ددې دوه قسمونه بیانیږي یو صبر پرطاعت یعنی دالله ﷻ داحکامو پرمنلو ثابت قدم اوسیدل اوبل دگناه څخه ، یعنی دگناهونو څخه پرځان ساتلو ثابت قدم پاته کیدل.

دصبرسره د، ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ : قيد دا وښوولو چي مطلق صبرڅه دفضيلت شی نه دی څکه چی کله ناکله خو بي صبره انسان ته هم آخر تر يوي مُدی وروسته صبر راسي ، کوم صبرچی غير اختياري وي ، دهغه يو خاص فضيلت نسته ، نه دداسی غير اختياري کيفيت الله ﷻ چاته حکم کوي په دی وجه په حديث کی نبی کريم ﷺ فرمايي ، الصبرعندالصدمة الاولی : يعنی اصلی اومعتبرصبرخوهغه دی کوم چی دصدمي په اولني وخت کی اختيارکړل سی ، کنه نو وروسته خوکله ناکله په جبري طورسره انسان ته صبر راسی بلکه دصفت قابل هغه صبر دی کوم چی په خپل اختيار سره پرخلاف طبع کار برداشت کولو سره وکي خواه دغه دفرضو يا واجبو ادا کول وي يادحرامو او مکروهو څخه محفوظ کيدل وي .

په دی وجه که يوسړی دغلاپه نيت سره په يو کورکی داخل سی مگر هلته دغلا موقع پيدا نه سوه اوصبر يې وکي بيرته راغی نو دا غير اختياري صبر دڅه ثنا او صفت شي نه دی ثواب هلته دی چی دگناه څخه دمحفوظ کيدو سبب دخدای بيره او دده رضا حاصلول وي .

اووم صفت ، وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ : د اقامت صلوة معنی لمونځ دده دپوره ادبونو اوشرطونو اوخشوع سره ادا کول دي ، محض لمونځ کول نه دی په دی وجه په قرآن شريف کی په عام توگه سره دلمانځه حکم د اقامت صلوة په الفاظو سره ورکړل سوي دی .

اتم صفت ، وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً : دی يعنی هغه خلق کوم چی دالله ﷻ په ورکړی رزق کی څه دالله ﷻ په نزدهم خرڅ کوي په دی کی اشاره وسوه چی ستاسی څخه دکوم مال د زکوة وغيره مطالبه الله ﷻ کوي هغه ستاسي څخه نه غواړي ، بلکه دخپل درکړي رزق څخه حصه هغه هم صرف دوه نيم فيصده په څه لږ مقدارکی ستاسی څخه غوښتل کيږي چی ددی په ورکولوکی طبعاًتاسی ته څه پس اوپيش کول نه دي په کار

دالله ﷻ په لاره کی دمال خرڅ کولو سره دپټ اوښکاره په قيدسره معلومه سوه چی په صدقه اوخيرات کی هرځای پټ ورکول سنت نه دی بلکه ځيني وخت ددی اظهارهم سم او صحيح وي په دی وجه علماء فرمايي چی دزکوة او واجبوصدقو اظهار اواعلان غوره دی ددی پټ ورکول مناسب نه دی چی نوروخلقو ته هم تلقين اوترغيب سی ، البته نفلي صدقي پټي ورکول غوره دی په کوموحديثون کی چی دصدقوپه پټه ور کولو غوره والی او فضيلت راغلی دی هغه دنفلي صدقو متعلق دی .

نهم صفت ، وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ : يعنی دا خلق بدي په نيکی سره، دشمني په دوستی، ظلم په عفو او درگذر سره دفع کوي دبدي په جواب کی بدي نه کوي او ځيني حضرات ددی دا معنی فرمايي چی گناه په نيکي سره دفع کوي ، يعنی که يو وخت ورڅخه گناه اوخطاء وسی نو ددی څخه وروسته اطاعت او عبادت دومره ډير کوي چی په دی سره دغه تيره گناه ختمه سی .

په حديث کی دی چی نبی کريم ﷺ حضرت معاذ ؓ ته وصيّت وکي ، چی دبدي وروسته نيکي کوه ، نو دغه بدي به ختمه سی ، مراد دا دی چی هرکله پردی گناه اوبدي پښيمانه سی توبه وکاږی ، او ددی څخه وروسته نيک عمل وکي نو دا نيک عمل تيره گناه ختمه کي ، بغير دستومانه کيدو او توبي څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

دګناه څخه وروسته هيڅ يوه نيکي دګناه دمعاف کولو دپاره کافي نه وي دالله ﷻ دفرمانبردارو ددې نهو
۹ صفتونو بيانولو څخه وروسته د دوی جزا دا فرمايي ، أُولَٰئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ : د دار څخه مراد د آخرت
کور دی يعنی ددې خلقو دپاره د آخرت دکور فلاح ده او ځينی حضرات فرمايي چې دلته د دار څخه مراد
ددنيا کور دی او مراد دا دی چې نيکو خلقو ته که څه هم په دې دنياکی تکليفونه هم ورپيښيږي ، مګر
آخر په دنيا کی هم فلاح او کاميابي د دوی حصه وي .
مخ ته د (عقبی الدار) يعنی دآخرت دکور دفلاح بيان دی چې دغه به (جَنَّتُ عَدْنٍ) وي چې دوی به په کی
داخليږي ، دعدن معنی قيام اوقرآن او قرار دی مراد دا دی چې ددې جنتونو څخه به هيڅ وخت هم دوی
نه ايستل کيږي ، بلکه په دې کی به د دوی قيام او قرار هميشه وي او ځينی حضرات فرمايي چې (عَدْن)
دجنت دمينځ نوم کوم چې دجنت په مقامونو کی هم اعلی مقام دی .
ددې وروسته ددې حضراتو دپاره ديو بل انعام دا ذکر فرمايي چې دا انعام رباني صرف ددې خلقو تر
ذاته پورې به محدود نه وي ، بلکه د دوی پلارانو اونيکونو، ښځو او اولاد ته به هم په دې کی حصه
ورکول کيږي شرط دا دی چې دوی صالحان وي چې ادنی درجه يې دا ده چې مسلمانان وي او مراد دا
دی چې ددې خلقو دپلارانو، نيکونو، بيبيانو او اولاد خپل عملونه که څه هم دې مقام ته د رسيدو قابل
نه وي ، مګر دالله ﷻ دمقبولو بندګانو په رعايت اوبرکت سره به دوی هم دې مقام ته ورسول سی . ددې
څخه وروسته د آخرت په کورکی د دوی دفلاح اوکاميابي زيات بيان دا دی چې ملائکې به دهرې
دروازې څخه دوی ته سلام کوونکی دا خليږي ، او وايي به چې ستاسی دصبر په وجه سره دټولو
تکليفونو څخه سلامتي ده او دا څومره ښه انجام دی د آخرت دکور .

وَالَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِن بَعْدِ مِيثَاقِهِ

او کوم خلق چې | ماتوي | عهد دالله ﷻ | دمضبوطولو | څخه وروسته

وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَن يُوصَلَ وَ

او پريکوي | هغه شی کوم ته چې الله ﷻ فرمايلی دی | وصل کول

يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ أُولَٰئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ ﴿٢٥﴾

او فساد کوي | په ملک کی | د دوی دپاره دی | لعنت | او د دوی دپاره دی بدکور

اللَّهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ وَيَقْدِرُ وَفَرِحُوا بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا

الله | فراخه کوی رزق | چا ته چې وغواړي | او تنګوي | اوخوشحاليږي | ددنيا | په ژوند

Maktaba Tul Ishaat.com

وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ ﴿٢٦﴾ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

او د آخرت په مقابله کی ددنیا ژوند هیڅ نه دی ، مګر سامان دی بی کاره ، او وایی کافران

لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۭ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ

ولی نه نازلیږي په ده څه نښانه دده درب څخه ووایه الله ﷻ ګمراه کوی چاته چی

يَّشَاۗءُ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ اَنَابَ ﴿٢٧﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَطْمَىِٕنُّ

چی وغواړی اوښیی لار خپل طرف ته هغه چاته چی رجوع کوی ، هغه خلق کوم چی ایمان راوړی او مطمئن سی

قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ ۭ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَىِٕنُّ الْقُلُوْبُ ﴿٢٨﴾ اَلَّذِيْنَ

زړونه د دوی دالله ﷻ په یاد سره خبردار دالله ﷻ په یادوسره مطمئن کیږي زړونه ، کوم خلق چی

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ طُوْبٰى لَهُمْ وَحُسْنُ مَاٰبٍ ﴿٢٩﴾ كَذٰلِكَ

ایمان راوړی اونیک عملونه کوی خوشحالی ده د دوی پاره او ښه داوسیدو ځای ، دارنګه

اَرْسَلْنٰكَ فِيْٓ اُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَآ اُمَمٌ لِّتَتْلُوَا۟ عَلَيْهِمُ

لیږلی دی مونږ تا ته په یو امت کی چی تیر سوی دی ددې څخه مخکې ډیر امتونه چی واوروی ته دوی ته

الَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُوْنَ بِالرَّحْمٰنِ ۭ قُلْ هُوَ رَبِّيْ

کوم حکم چی لیږلی دی مونږ تاته او دوی انکار کوی درحمٰن څخه ته ووایه چی هغه رب زما دی

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ مَتَابِ ﴿٣٠﴾

دچا بندګی نسته دهغه څخه ما سوا ، په هغه ما بروسه کړی ده او هغه ته رجوع کوم .

لنډتفسير: اوځوک چی دخدای معاهدی ددی دپخولو څخه وروسته ماتوي اوخدای ﷻ چی دکومو تعلقاتو دقائم ساتلو حکم کړی دی هغه پریکوي اوپه دنیاکی فساد کوي ، په داسی خلقو باندی به لعنت وي ، او د دوی دپاره به په دی دنیاکی خرابي وي (یعنی ظاهري دولت اومالداری په لیدو یې نه دی دوکه کیدل په کار چی ګوندی په دی خلقو رحمت دی ځکه چی درزق خو دا کیفیت دی چی) الله ﷻ چاته

چې غواړي زيات رزق ورکوي (اوچاته چې غواړي) تنگوي يې (دا درحمت) او (غضب معيار نه دی) او دا (کفار) خلق په دنيوي ژوند (او ددې په عيش اوعشرت) خوشحاليږي او (د دوی دا خوشحالي بالکل فضول اوغلطي ده ځکه چې) دا ددنيا ژوند (او ددې عيش اوعشرت) د آخرت په مقابله کې بغير ديو لږ سامان څخه نورهيڅ نسته او داکافران خلق (ستادنبوت دبدو ويلو او دا اعتراض کولو دپاره داسې) وايي چې پرده (پيغمبر) يو معجزه (زمونږ دفرمايش دمعجزو څخه) دده د رب دطرف څخه ولې نازله نه سوه؟ ته ووايه چې واقعي (ستاسی ددې بې ځايه فرمائشونو څخه داسې صفامعلوميږي چې) الله ﷻ چې څوک وغواړي گمراه کوي (دمعلوميدو وجه ظاهره ده چې سره دکافي معجزو چې په دوی کې دټولو څخه لوی قرآن کريم دی، بياهم فضول خبري کوي ددې څخه معلوميږي چې په قسمت کې گمراهي ليکلې ده) او (لکه څنگه چې دی عناد گرو ته قرآن کريم چې دلويو معجزو څخه دی دهدايت دپاره کافي نه سو او گمراهي د دوی نصيب سوه دغه شان) کوم سړي چې دهغه طرف ته متوجه کيږي (اودحقې لاري طلب کوي چې مصداق يې مخ ته راځي اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ تَطْمَئِنُّ الخ) دوی ته خپل طرف ته (د رسيدو) هدايت کوي (او دگمراهی څخه يې محفوظ کوي) مراد ددې څخه هغه خلق دي کرم چې ايمان راوړی او دالله ﷻ په ذکر سره (چې لوی فرد په کې قرآن کريم دی) د دوی زړونو ته اطمينان راځي (چې ددی لوی فرد ايمان دی يعنی دوی دقران کريم معجزي دنبوت دپاره کافي گڼي اوبې فائدې فرمائشونه نه کوي، بيادخدای په يادو او اطاعت کې د دوی داسې رغبت وي چې ددنيا د ژوند په سامان باندې دکفارو په شان د دوی رغبت اومينه اوخوشحالي نه وي او) ښه پوهه سی چې الله ﷻ دذکر (داسې خاصيت دی چې په دې) سره زړه ته اطمينان راځي (يعنی چې دخدای کومی مرتبي ذکر وي ددغه مرتبو اطمينان وي چنانچې په قرآن کريم سره ايمان او په نيکو عملونو سره دطاعت سخته توجه اوتعلق دالله ﷻ حاصليږي غرض) کوم خلق چې ايمان راوړي اونيک عمل کوي (دکومو ذکر چې لوړ وسو) د دوی دپاره (په دنياکې) خوشحالي ده او (په آخرت کې) نيک انجام دی (چې دا يې په بل آيت کې په فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ: سره تعبير کړی دی دغه ډول) مونږ په يو داسې امت کې رسول جوړ کړی ليږلی دی چې ددې امت) څخه مخکې نور ډير امتونه تير سوي دي (اوته موځکه دوی ته رسول جوړ کړی ليږلی يې) چې دوی ته هغه کتاب واوروي کوم چې مونږ تاته دوحی په ذريعه درليږلی دی او (دوی ته په کار وه چې ددې لوی نعمت قدر يې کړی وای اوپه دې کتاب چې دا معجزه هم ده ايمان يې په راوړی وای مگر) دغه خلق د داسې لوی رحمت والا ناشکري کوي (اوپه قرآن کريم ايمان نه راوړي) ته ووايه چې (ستا په ايمان نه راوړلو سره زماڅه ضرر نسته، ځکه چې تاسې به د زيات څخه زيات زمامخالفت کوئ، نو په دې سره زما ځکه څه بيره نسته چې) هغه زماپالونکی (اوساتونکی دی) دهغه څخه ماسوا څوک دعبادت لائق نسته (نوځامخابه هغه د کاملو صفتونو مالک وي او دحفاظت دپاره به کافي وي په دې وجه) ماپه هغه باور کړی دی اوهغه ته زمابيرته تلل دی (لنډه دا چې زما دحفاظت دپاره خو الله ﷻ کافي دی تاسی که مخالفت کوي نو زماهيڅ نه سی خرابولای. البته ستاسی دپاره نقصان دی)

Maktaba Tul Ishaat.com

(معلومات او مسئلې)

د رکوع په شروع کې یې ټول انسانان دوې ډلې کړي ښودلې وو، چې په دوی کې څه خلق دالله ﷻ فرمانبردار دي، څه نافرمانه بیایې د فرمانبردارو څه صفتونه او نخښې بیان کړي او په آخرت کې یې د دوی د پاره د غوره جزا ذکر وکي.

اوس د دویم قسم خلقو نخښې او صفتونه او د دوی د سزا بیان په دې آیتونو کې دې په دې کې یې د دغو رکشانو او نافرمانو بندګانو یو خصلت خو دا وښووی.

اَلَّذِیۡنَ یَنۡقُضُوۡنَ عَہۡدَ اللّٰہِ مِنۡۢ بَعۡدِ مِیۡثَاقِہٖ: یعنی دا خلق دالله ﷻ عهد د پخولو څخه وروسته ماتوي دالله ﷻ په عهد کې هغه عهدهم داخل دی کوم چې په ازل کې دالله ﷻ په مخکې دهغه د ربوالی او دیووالی متعلق د ټولو پیدا کیدونکو روحونو څخه اخیستل سوی وو، کوم چې کفارو او مشرکانو په دنیا کې مات کې او دالله ﷻ سره یې په سوونو او زرګونو ربونه او معبودان جوړکړل.

او هغه ټول عهدونه هم په کې داخل دي د کومو پابندي چې د، لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰه: په ضمن کې پر انسان لازمیږي څکه چې کلمه طیبه، لا اله الا الله محمد رسول الله: دیوې عظیمې معاهدی عنوان دی چې تردې لاندې د الله ﷻ او ده د رسول ﷺ د ښوول سوو ټولو احکامو پابندي، او د کومو څخه چې منع سوې ده ددې څخه دځان ساتلو عهد هم راځي په دې وجه چې هرکله یو انسان دخدای ﷻ او رسول ﷺ دیو حکم څخه مخ اړوي نو دغه عهد ماتوي.

دویم خصلت یې د دغو نافرمانو بندګانو دا ښوولی دی، وَیَقۡطَعُوۡنَ مَاۤ اَمَرَ اللّٰہُ بِہٖۤ اَنۡ یُّوۡصَلَ: یعنی دا خلق هغه تعلقات پریکوي دکومو دقائم ساتلو چې الله ﷻ حکم کړی وو، په دې کې دانسان هغه تعلق هم شامل دی کوم چې دده دالله ﷻ او دهغه د رسول ﷺ سره دی، ددې تعلق قطع کول دا دي چې د دوی د احکامو خلاف ورزي وسي او د قرابت هغه تعلقات هم په دې کې شامل دي د کومو دقائم ساتلو او دهغه دحقوقو ادا کولو چې په قران کریم کې ځای په ځای هدایت سوی دی.

دالله ﷻ نافرماني کوونکی دا حقونه او تعلیقات هم قطع کوي مثلاً دمور او پلار خور ورور همسایه ګان او نور تعلقدارانو چې کوم حقوق الله او دهغه رسول پر انسان اچولی دی دا خلق هغه نه ادا کوي.

دریم خصلت یې دا ښوولی دی، وَیُفۡسِدُوۡنَ فِی الۡاَرۡضِ: یعنی دا خلق په مځکه کې فساد خپروي او دا دریم خصلت په حقیقت کې د اولو دوو خصلتونو نتیجه ده چې کوم خلق دالله ﷻ او دبندګانو دعهد پرواه نه کوي هغه دنور چا دحقونو او تعلیقاتو رعایت نه کوي، ظاهره ده چې د دوی عملونه او کارونه د نورو خلقو د پاره دضرر او آزار سبب جوړیږي، دجنګ جګړو او قتلونو او ژوبلو بازار به ګرم وي دا دمځکې د ټولو څخه لوی فساد دی.

د سرکښو او نافرمانو بندګانو ددې درو خصلتونو ښوولو څخه وروسته یې د دوی دا سزا ښوولې ده.

اُولٰٓئِکَ لَہُمُ اللَّعۡنَۃُ وَلَہُمۡ سُوۡٓءُ الدَّارِ: یعنی د دوی د پاره لعنت دی او بدځای د اوسیدو دی، دلعنت معنی دالله ﷻ د رحمت څخه لیرې کیدل او محروم کیدل دي او ظاهره ده چې دده د رحمت څخه لیرې کیدل

Maktaba Tul Ishaat.com

اومحروم کیدل دي او ظاهره ده چې دده د رحمت څخه لیري کیدل دټولو عذابونو څخه لوی عذاب او دټولو مصیبتونو څخه لوی مصیبت دی.

(احکام او هدایتونه)

په ذکر سوو ایتونوکې دانسان د ژوند دمختلفو اړخونو متعلق خاص خاص احکام اوهدایتونه راغلي دي ځیني په وضاحت سره او ځیني په اشارو سره مثلاً.

(۱) اَلَّذِيْنَ يُوْفُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَلَايَنْقُضُوْنَ الْمِيْثَاقَ: څخه ثابته سوه چې کومه معاهده دچاسره وکړل سي. ددې پابندي فرض اوخلاف ورزي یې حرامه ده خواه که دغه معاهده دالله ﷻ او درسول سره وي لکه د ایمان عهد یاپه مخلوق کې دچاسره وي. خواه دمسلمان سره وي یادکافرسره عهدماتول په هر حال حرام دی.

(۲) وَالَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ مَااَمَرَاللّٰهُ بِه اَنْ يُّوْصَلَ: څخه معلومه سوه چې د اسلام تعلیم په راهبانه انداز سره دتعلقاتو پرېښوول نه دي بلکه ضروري تعلقات قائم ساتل او د دوی حقونه ادا کول یې ضروري ګرځولې دی، دمور اوپلارحقونه د اولاد او ښځي حقونه، او دنورو همسایه ګانو اوخپلوانو حقونه الله ﷻ پر هر انسان لازم کړی دی ددی نظر انداز کول اوپه څه نفلي عبادت کې یاپه څه دیني خدمت کې لګیا کیدل هم جائز نه دي. نو په نورو کارونوکې مشغوله کیدل او دا هیرول به څنګه جائز سي.

قرابت او دصله رحمي تعلقات قائم ساتل او د دوی خبرګیري او دحقونو ادا کولو تاکید دقرآن کریم په بې شمیره آیتونو کې ذکر دی.

دبخاري اومسلم په حدیث کې په روایت دحضرت انس ؓ ذکر دی چې نبی کریم ﷺ فرمایي چې کوم سړی دا غواړي چې الله ﷻ دده رزق فراخه کړي او په کارونوکې یې برکت واچوي نو ده ته په کار دي چې صله رحمي ساتي دصله رحمي معنی دا ده چې دکوموخلقو سره دقرابت خاص تعلقات دي دهغوی خبر ګیري او په قدر دګنجائش یې امداد او اعانت کوي.

اوحضرت ابو ایوب انصاری ؓ فرمایي چې یوکلیوال صحرایي دنبی کریم ﷺ کورته حاضر سو اوسوال یې وکړ چې ماته دا وښیاست چې هغه کوم عمل دی چې ماجنت ته نژدې او دجهنم څخه لیري کړي، دوی صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې دالله ﷻ عبادت کوه او دهغه سره څوک مه شریکوه اولمونځ قائم ساته زکوة ادا کوه اوصله رحمي کوه (بغوی)

اوپه صحیح بخاري کې په روایت دحضرت عبد الله بن عمر ؓ ذکر دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې صله رحمي د دومره خبري نوم نه دی چې تاسی دبل عزیز د احسان بدله ادا کړئ او چې هغه پرتاسی څه احسان کړي وي نو تاسی پرده احسان وکئ، بلکه اصل صله رحمي دا ده چې ستاسي قریب اوعزیز ستاسي په حقونوکې کوتاهي کوي، ستاسي سره تعلق نه ساتي اوتاسي بیاهم محض دالله ﷻ دپاره دده سره تعلق قائموئ او احسان پر کوي.

دخپلوانو دحقونو اداکول او د دوی سره دتعلقاتو دساتلو دپاره نبی کریم ﷺ فرمایي چې خپلي نسب نامي محفوظي ساتي چې په دی سره به تاسی خپل قرابتونه محفوظ وساتلای سی اوحقونه به یې اداکړل سی بیاارشادفرمایي چې دصله رحمي فائدي دادي چې په دی سره په خپل مینځ کې محبت پیداکیږي اوپه

مال کې برکت او زیاتوب وي او په عمر کې برکت پیداکیږي (دا حدیث ترمذي روایت کړی دی)
او د صحیح مسلم په یو حدیث کې دي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې لویه صله رحمي دا ده چې سړی
د خپل پلار د مرګ څخه وروسته د ده د دوستانو سره هغه تعلقات قائم ساتي کوم چې د پلار په مخکې وه.
(۳) وَالَّذِينَ صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ : څخه معلومه سوه چې د صبر کوم فضیلتونه په قرآن شریف او حدیث
کې را غلي دي چې صبر کوونکو ته د الله ﷻ ملګرتیا او مدد حاصل وي او بې حسابه اجر او ثواب ور ته
رسیږي . دا ټول هغه وخت دی . هر کله چې د الله ﷻ د رضا حاصلولو د پاره صبر اختیار کړي . کنه نو هسې
خو هر سړی ته کله نا کله صبر اختیارول راځي .
د صبر اصلي معنی خپل نفس په قبضه کې ساتل او د ثابت قدم پاته کېدلو ده . چې د دی مختلف
صورتونه دي یو په مصیبت او تکلیف باندی صبر چې بیریږي نه او مایوسه کیږي نه او پر الله ﷻ
نظر ساتي او امیدوار اوسي ، دوهم پر اطاعت باندی صبر چې د الله ﷻ د حکمونو پابندي که څه هم نفس
ته ګرانه معلومیږي خو دی پر قائم وي . دریم د نافرمانیو او بدیو څخه صبر که څه هم د نفس تقاضا د بدی
طرف ته د تلو وي لیکن د خدای د بیري څخه دی طرف ته نه ځي .
(۴) وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً : څخه معلومه سوه چې د الله ﷻ په لاره کې خرڅ کول په پټه او ښکاره
دواړه ږوله صحیح دي البته غوره دا ده چې واجب صدقې زکوة او د کوچني اختر سرسایه وغیره په
ښکاره اداکړي چې نورو مسلمانانو ته هم د ادا کولو ترغیب وسی او نفل صدقې کومې چې واجب نه دي
په پټه ادا کړي چې د ریا او نوم نمائش د شک څخه خلاص سی .
(۵) وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ : څخه معلومه سوه چې د هرې بدي دفع کول کومه چې عقلي او طبعي تقاضا
ده . په اسلام کې د دی طریقه دا نه ده چې د بدی جواب په بدی سره ورکړي ، او دفع یې کړي ، بلکه
اسلامي تعلیم دا دی چې بدی په نیکي سره دفع کوي ، چاچې پر تاسی ظلم کړی دی تاسی د هغه سره
د انصاف معامله کوئ څوک چې ستاسی د تعلق حق نه ادا کوي تاسی د هغه حق ادا کوئ څوک چې تاسی
ته غصه کوي تاسی یې جواب په صبر او بردباري سره ورکوئ چې د دی لازمي نتیجه به دا وي چې دښمن
به هم دوست سی او شرارت کوونکی به هم ستاسی په مخکې نیک جوړ سی .
او د دې جملې یوه معنی دا هم ده چې د ګناه بدله په طاعت سره اداکوئ چې که چیري څه ګناه در څخه وسی
نو فوراً توبه وکړئ او د الله ﷻ په عبادت کې اخته سی نو په دی سره ستاسی تیره ګناه هم معاف سی .
حضرت ابو ذر غفاري ﷺ فرمایي چې د نبي کریم ﷺ ارشاد دی چې کله په تاسی کې د چا څخه بدي یا څه
ګناه وسی ، نو د دی څخه وروسته تاسی نیک عمل کوئ په دی سره به د غه ګناه ختمه سی (روایت یې
کړی دی احمد په صحیح سند سره ، مظهري) د دی نیکي شرط دا دی چې د تیري ګناه څخه توبه وکړئ
او نیک عمل اختیار کړئ .

جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ : د دی څخه مراد دا دی چې د الله ﷻ مقبولو او
نیکو بندګانو ته به په خپله هم په جنت کې مقام حاصل سی او د دوی د لحاظ څخه به د دوی مور او پلار

ښځي او اولاد ته هم، شرط دا دی چې دا خلق صالحان يعنی مؤمنان اومسلمانان وي كافران نه وي، كه څه هم په نيكو عملونوكی دخپل ديني مشر سره برابر نه وي مگر الله ﷻ به ددی بزرگ په بركت سره داخلق هم دجنت دغه مقام ته ورسوي كوم چې ددی بزرگ مقام دی لكه چې په بل آيت كی دی ،

وَاَلۡحَقۡنَابِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ : يعنی دخپلو نيكو بندگانو اولاد به هم د دوی سره يوځای كړي.

ددی څخه معلومه سوه چې دبزرگانو سره تعلق خواه كه دنسب او يا دخپلولی وي اوكه د دوستي څو دغه په آخرت كی هم په شرط د ايمان نفع وركوي .

سَلَامٌ عَلَيۡكُمۡ بِمَا صَبَرۡتُمۡ فَنِعۡمَ عُقۡبَى الدَّارِ : څخه معلومه سوه چې د آخرت نجات اولوړي درجی ټولي ددی نتيجه وي چې انسان په دنياكی دصبرڅخه كار واخلي ، دالله ﷻ او دبندگانو په حقونو اداكولو او دهغه دنافرمانيو څخه پرځان ساتلوخپل نفس مجبوره كوي .

اُولٰٓئِكَ لَهُمُ اللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوۡٓءُ الدَّارِ: څنگه چې په اولنيو آيتونوكی دالله ﷻ دفرمانبردارو بندگانو جزا دا ذكر سوه چې د دوی مقام به په جنت كی وي ملائكي به دوی ته سلام كوي او وايي ورته چې دا دجنت دائمي نعمتونه ټول ستاسی دصبراوثابت قدمي اوفرمان برداري نتيجه ده دغه شان په دی آيت كی دنافرمانو او سركښانوخلقوبدانجام دابنوول سوی دی چې په دوی به دالله ﷻ لعنت وي يعنی درحمت څخه به ليري وي اوددوی دپاره جهنم داوسيدو دپاره مقرر دی ددی څخه معلومه سوه چې عهد شكني اودخپلوانو او عزيزانو سره صله رحمي پريكول دلعنت اوجهنم سبب دی (الله ﷻ دی مونږ ورڅخه په امان كړي . آمين)

وَلَوۡ اَنَّ قُرۡاٰنًا سُيِّرَتۡ بِهِ الۡجِبَالُ اَوۡ قُطِّعَتۡ بِهِ الۡاَرۡضُ اَوۡ كُلِّمَ بِهِ الۡمَوۡتٰى

اوكه چيري يوقرآن وی چې روانيدی په ده سره غرونه ياټوټی كيدی په ده سره مځكه ياخبری كولی په ده سره مړو

بَلۡ لِّلّٰهِ الۡاَمۡرُ جَمِيۡعًا ؕ اَفَلَمۡ يَايۡــَٔسِ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَنۡ لَّوۡ يَشَآءُ اللّٰهُ

نوڅه به سوی وای؟بلكه ټول كارخودالله ﷻ په لاس كی دی پس ايازړه جمع نه سو دمؤمنانوپه دی چې كه وغواړي

لَهَدَى النَّاسَ جَمِيۡعًا ؕ وَلَا يَزَالُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا تُصِيۡبُهُمۡ

د دوی په

الله نو په لاره به راولی ټولو خلقو ته ، اوبرابر سی منكرانو ته

بِمَا صَنَعُوۡا قَارِعَةٌ اَوۡ تَحُلُّ قَرِيۡبًا مِّنۡ دَارِهِمۡ حَتّٰى يَاۡتِىَ

دكورونو په خواكی ، تردی چې اورسيږي

شرار تونو عذاب يانازل سی د دوی

وَعۡدُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخۡلِفُ الۡمِيۡعَادَ ﴿۳۱﴾ ع وَلَقَدِ اسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٍ

او مسخری سوی دی په خومره رسولانو

وعده دالله ﷻ ، بيشكه الله خلاف نه كوی دخپلی وعدی څخه ،

Maktaba Tul Ishaat.com

مِّنْ قَبْلِكَ فَأَمْلَيْتُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ فَكَيْفَ

پوری تا څخه مخکې پس مهلت ورکی مونږ منکرانو ته بیا مو هغوی ونیول پس څنګه

كَانَ عِقَابِ ﴿٣٢﴾ أَفَمَنْ هُوَ قَائِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ

وو زما عذاب ، ایا پس هغه څوك چی ولاړ وی دهرچا په سر چی څه ده کړی وی

وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ قُلْ سَمُّوهُمْ أَمْ تُنَبِّئُونَهُ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي

او مقرر وی دالله دپاره شریکان ، ووایه نوم یی واخلی یا الله ته خبیی څه چی هغه ته نه دی معلوم په

الْأَرْضِ أَم بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا

مځکه کی یا کوی سر سری خبری ، داسی نه ده ، بلکه ښائسته سوی دی منکرانو ته

مَكْرُهُمْ وَصُدُّوا عَنِ السَّبِيلِ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ

د دوی فریب او دوی منع کړل سوی دی دلاری څخه ، او څوك چی ګمراه کړی الله پس نسته ده

مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾

ته څوك لارښوونکی.

لنډتفسیر: او (ای پیغمبره صلی الله علیه وسلم او ای مومنانو! ددغه کافرانو دعناد دا حال دی چی دقران کریم کوم موجوده حالت دی چی دده معجزه کیدل غور اوفکر غواړي . پرځای ددی) که یوقران کریم داسي وي چی دده په ذریعه غر (دخپل ځای څخه) ښوریدای سوای یادده په ذریعه مځکی ژر ژرقطع کولای سوای . یادده په ذریعه دمړو سره خبري کیدی سوای (یعنی مړی په ژوندی کیدای اوچابه خبري ورسره کولای سوای او دا هغه معجزي دي دکومو فرمایش چی به اکثرو کفارو کوي ځینې مطلقاً . ځینی داسی چی قران په مجوده حالت کی خومونږ یې معجزه کیدل نه منو البته که په قرآن سره دا خوراق ظاهرسی مونږ به یې معجزی کیدل ومنو مطلب دا دی چی دقرآن څخه د داسی داسی معجزو ظهورهم وي چی په دی سره د دواړه قسمه خلقو فرمایش پوره کیدی یعنی کوموچی نفس دذکرسوی خوارق غوښتل اوکومو چی ددی ظهور دقران څخه غوښتی) بیاهم دا خلق ایمان راوړنکی نه دي (ځکه چی دا اسباب حقیقي اثرکوونکی نه دی) بلکه ټول اختیار الله ﷻ ته دي (هغه چی چاته توفیق ورکوي هغه ایمان راوړي او دهغه عادت دا دی چی مطلب کوونکی ته توفیق ورکوي اوعنادکوونکی محروم ساتي

اوچونکه دځینو مسلمانانو زړه غوښتل چي ددی معجزو ظهور وسی نو شاید چي دوی ایمان راوړی په دی وجه مخکي د دوی جواب دی چي)آیا(دا واورئ چي دا عنادکوونکی ایمان نه راوړي او دا چي ټول اختیار خدای ته دی او دا چي حقیقي اثرکوونکی ا سباب نه دی آیا ددی آوریدو باوجود) بیاهم ایماندارو ته په دی خبره زړه نه جمع کیږي چي که خدای غوښتلای نو ټولو (ددنیا) خلقوته به یې هدایت کړی وای (مگر دځینو حکمتونو په وجه سره یې دا رضانه سوه . نو ټول ایمان نه راوړی چي ددی لویه وجه عناد دی . نو بیاددی عنادکوونکو د ایمان راوړلو په فکر کی ولي یې) او (هرکله چي ثابته سوه چي دا خلق ایمان نه راوړي نو ددی خبري خیال راتلای سی چي بیادوی ته سزا ولي نه ورکول کیږي ، ددی متعلق ارشاد دی چي) دا (مکي) کافران خو همیشه (روزانه) په دی حالت کی وي چي د دوی د (بدو) عملونو په سبب پر دوی څه ناڅه حادثه راځي (کله قتل کله قید کله هزیمت اوشکست) یا (ځیني حادثې که پر دوی واقع هم نه سی مگر) د دوی دکلي په خوا کی نازلیږي (مثلاً په یوقوم آفت راسی او د دوی سره بیره پیداسی چي هسي نه پر مونږ هم بلا راسی) تردی چي (په دی حالت کی) دالله وعده راسی (یعني د آخرت دعذاب سره دمخامخ سی کوم چي دمرگ څخه وروسته به شروع سی او) یقیناًالله وعده خلافي نه کوي (نو دعذاب واقع کیدل پر دوی یقیني دي که څه هم یو وخت په کی تیرسی) او (ددی خلقو دا د درواغجن کولو او مسخرو کولو معامله څه ستاسره خاص نه ده او دغه شان د دوی په عذاب کی څه وخت راتلل د دوی سره خاص نه دی ، بلکه دمخکي رسولانو او د دوی د امتونوسره هم داسی سوی دی چنانچي) د ډیرو پیغمبرانوسره کوم چي ستاڅخه مخکي تیرسوی دی (دکفارو دطرف څخه) مسخري سوی دي بیا مادغو کافرانوته مهلت ورکي ، بیامادغه کافران راگیرکړل (دپوهیدو خبره ده چي) زماسزا څه رنگه وه (یعني ډیره سخته وه ، هرکله چي دالله ﷻ شان معلوم سو چي هغه دهرڅه اختیار لري نو ددی معلومیدو او ثابتیدو څخه وروسته) بیا(هم) آیاکوم (خدای) چي دهرسړي په عملونو خبر وي او ددی خلقو شریکان برابریدای سی او(سره ددی) دي خلقو خدای ته شریکان جوړکړي دي . ته ورایه چي ددی (شریکانو) نومونه خو واخلي (چي زه یې هم واورم چي څوک دي اوڅنگه دي) آیا (تاسی په حقیقت کی دوی شریکان گڼي نو بیاخو دا لازمیږي چي) تاسی الله ﷻ ته دداسې خبري خبر ورکوئ چي په (ټوله) دنیاکی ددی (وجود) خبر الله ﷻ ته نه وي (ځکه چي الله ﷻ خوهغه موجود گڼی کوم چي په واقع کی موجود وي او معدوم موجود نه گڼی چي په دی سره دعلم غلطوالی لازمیږي ، که څه هم په ښکاره کیدوکی دواړه یوشان دی ، غرض دوی ته په حقیقي شریکانو ویلو سره دا محال کار لازمیږي ، نو د دوی شریکان کیدل هم محال دی) یا (دا چي دوی ته حقیقي شریکان نه وایي بلکه) محض دظاهري لفظ په اعتبار سره دوی ته شریکان وایي (اومصداق ددی په واقع کی هیڅ نسته ، نوکه خبره داسی وي بیاخویې نه شریکوالی تاسی په خپله تسلیموي بس دشرک باطلیدل چي په دواړو شقونو ثابت سوه په اول شق کی په دلیل سره په دویم شق کی ستاسی په تسلیم سره او دا تقریر که څه هم په اعلی درجه سره کافی دی مگر دا خلق یې نه مني) بلکه دی کافرانو ته دا خپلی دغلطی خبري (چي دلیل په نیسي اوپه شرک کی اخته کیږي) ښی معلومیږي او(په دی وجه سره) دا خلق د(حقي) لاري څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

محروم پاته سوي دي او(اصل خبره دغه ده کومه چي لوړه په ،بل الله الامرجميعاً سره معلومه سوي ده يعني) څوک چي خدای ﷻ په گمراهي کي ساتي . ده ته هيڅوک پر لاره راوستونکی نسته (البته هغه دی گمراه ساتي کوم چي سره د واضح کيدو دحق عناد کوي)

(معلومات او مسئلي)

دمکي دمشرکانو په مخکي داسلام دحقوالي واضح دليلونه او دنبي کريم ﷺ درښتونی رسول کيدو ښکاره نښاني د دوی د ژوند دهر اړخ څخه اوبيا په حيرانوونکی معجزو سره په پوره شان سره واضح سوي وو او د دوی سردار ابو جهل دا ويلی وه چي دبنوهاشمو سره زمونږ خانداني مقابله ده مونږ به د دوی دا برتري څنگه ومنو چي دخدای رسول په دوی کی راغی ، په دی وجه که دی هرڅه وايي اوهر څومره نښاني ښيي خومونږ په هيڅ حال کی په ده ايمان راوړونکی نه يو په دی وجه به ده پرهره موقع ددی ضد اوعناد مظاهره په عبث قسم سوالونو او فرمائشونو سره کوله . دا ذکر سوی آيتونه هم د ابو جهل او دده دملگرو ديو سوال په جواب کی نازل سوی دي .

په تفسير بغوي کی دی چي دمکي مشرکانو چي په دوی کی ابوجهل بن هاشم اوعبدالله بن اميه په خصوصيت سره دذکر قابل دي يوه ورځ دبيت الله شاته کښيناستل اوعبدالله بن اميه يې په نبی کريم ﷺ پسي وليږی ، ده ورته وويل چی که ته دا غواړي چي ستاقوم اومونږ ټول تا رسول ومنو اوستاتابعداري وکړو نو زمونږ يو څو مطالبې دي دخپل قرآن کريم په ذريعه دا پوره کړه نو مونږ به ټول اسلام قبول کړو ، په مطالبو کی يوه خو دا وه چي دمکي مخکه ډيره تنگه ده هرطرف ته په غرونو کی گيره مخکه ده . چي نه په ـَ ـي دکروندي اوفصل گنجائش ستته . نه دباغونو او نورو ضرورتونو . ته دمعجزې په ذريعه دا غرونه ليري يوسه چي دمکي مخکه فراخه سی آخرستادوينامطابق دحضرت داود ﷺ دپاره غرونه مسخرسوي وه . هر کله چي به هغه تسبيح کوله نو غرونه به ورسره هم تسبيح کوله ته دخپلي وينامطابق دالله ﷻ په نزد د داؤد ﷺ څخه څه کم خو نه يې .

دريمه مطالبه يې دا وه لکه څنگه چي دحضرت سليمان ﷺ دپاره ستادوينامطابق الله ﷻ هوا مسخر کړی وه اوږدي اوږدي فاصلی يې ورته لنډي کړي وي ته هم زمونږ دپاره داسې وکړه چي مونږ ته دشام او يمن وغيره سفر آسان سی .

دريمه مطالبه يې دا وه چي لکه څنگه به حضرت عيسی ﷺ مړی ژوندی کول ، ته هم دهغه څخه څه کم خو نه يې ته هم زمونږ دپاره نيکه قُصی ژوندی کړه چي مونږ دهغه څخه پوښتنه وکړو چي ستا دا دين رښتينی دی اوکه نه دی (مظهري په حواله دبغوي او ابن ابي حاتم او ابن مردويه)

په ذکر سوو آيتونوکی د دوی ددی عنادي مطالبو داسی جواب ورکړل سو .

وَلَوْ اَنَّ قُرْاٰنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ اَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ اَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰى بَلْ لِّلّٰهِ الْاَمْرُ جَمِيْعًا.

په دی کی . دتسيير جبال . څخه مراد دغرونو دخپل ځای څخه ليري کيدل او د(قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ) څخه په لږ وخت کي اوږد مسافت قطع کول او د(كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰى) څخه مراد دمړو ژوندی کول اوخبري ورسره کول دي

Maktaba Tul Ishaat.com

او د(لو)حرف شرط جواب په قرينه دمقام محذوف دی يعنی (لماامنوا) لکه چی په قرآن کريم کی يوبل ځای داسی مضمون او ددی دا جواب ذکر دی ، وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَا إِلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتَىٰ وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا مَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا: اومعنی دا ده چی که چيری دقرآن کريم په ذريعه په طور دمعجزي د دوی دا مطالبي پوره کړل سی خوبياهم دوی ايمان راوړونکي نه دي ځکه چی دوی ددی مطالبوڅخه مخکي داسی معجزي ليدلي دي چی هغه د دوی ددی مطلوبه معجزوڅخه ډيري زياتي لوی دي ، دنبی کريم ﷺ په اشاره سره دسپوږمۍ دوه ټوټی کيدل ، دغرونو دځپل ځای څخه دليري کيدو او دهوا دمسخرکيدو څخه ډيره زياته لويه معجزه ده اودغه شان دبې روحه ډبرو د دوی صلی الله عليه وسلم په لاس مبارک کی خبري کول اوتسبيح ويل دمړو دبيرته ژوندي کيدو اوخبرو کولو څخه زياته لويه معجزه ده دمعراج په شپه مسجد اقصی ته اوبيادهغه ځای څخه د آسمانونو سفر او ډير لږ وخت کی راتلل دهوا دمسخر کيدو اوتخت سليماني دمعجزي څخه خومره زياته عظيمه معجزه ده . مگر دی ظالمانو ددی هر څه ليدو څخه وروسته هم هرکله چی ايمان را نه وړي نو اوس د دوی ددی مطالبو څخه هم د دوی دنيت څخه معلومه ده چی دوی هسي وخت تيروي څه مني اوکوی نه . دمشرکانو ددی مطالبومقصدچونکه دا وو چی زمونږ مطالبي پوره نه کړل سی نو مونږ به وايو چی معاذ الله دالله ﷻ پردی کارونو قدرت نسته .

اويابيا دا چی دنبی کريم ﷺ خبره نه الله ﷻ مني اونه يې قبلوي چی په دی سره دا معلوميږي چی دي دالله ﷻ رسول نه دی په دی وجه ددی څخه وروسته ارشادفرمايي (بَل لِّلَّهِ الْأَمْرُ جَمِيعًا) يعنی ټول اختيار دالله ﷻ دی . مطلب دا دی چی ددغو مطلوبه مطالبو نه پوره کيدل په دی وجه سره نه دي چی دغه دالله ﷻ دقدرت څخه خارج دي بلکه حقيقت دا دی چی دعالم مصلحتونه هغه ته معلوم دي هغه په خپل حکمت سره ددی مطالبو پوره کول مناسب ونه ګڼل . ځکه چی دمطالبه کوونکوعناد اوبدنيت هغه ته معلوم دی . هغه پوهيږي چی که دا ټولي مطالبي پوره کړل سی خو بيا دوی ايمان نه راوړي .

أَفَلَمْ يَيْأَسِ الَّذِينَ آمَنُوا أَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ لَهَدَى النَّاسَ جَمِيعًا : امام بغوي رحمه الله نقل کړی دی چی هرکله صحابه کرامو رضوان الله عليهم دمکي دمشرکانو دا مطالبي واوريدي نو دا آرزو يې وکړه چی په طور دمعجزي که دا مطالبي پوره سی نوغوره ده . دمکي ټول خلق به مسلمانان سی او اسلام ته به لوی قوت حاصل سی پردی دا آيت نازل سو چی معنی يې دا ده چی آيا دا مومنان ددی مشرکانو دحيلو لټولو اوعنادي بحثونو باوجود تر اوسه د دوی د ايمان راوړلو څخه نه دی مايوسه سوی چی داسی آرزوګاني کوي هرکله چی دوی په دی هم پوهه دي چی که الله ﷻ غوښتلای نو ټولو انسانانو ته به يې داسي هدايت کړی وای چی دوی به بغير دمسلمانيدو څخه نه سوای پاته کيدای . مگر دحکمت تقاضا دا نه وه چی ټول په اسلام او ايمان باندی مجبور کړل سی . بلکه حکمت داوو چی دهرسړي خپل اختيار باقي پاته سی په خپل اختيار سره ايمان قبلوي اوکه کفر.

وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُوا قَارِعَةٌ أَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا مِّن دَارِهِمْ : حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمايي چی دقارعه معنی مصيبت او آفت دی معنی د آيت دا ده چی ددی مشرکانو مطالبي خو په دی وجه منظوري

Maktaba Tul Ishaat.com

نه سوي چې د دوی بد نیتي او عناد معلوم وو، چې په پوره کیدو یې هم دوی ایمان راوړونکی نه دي. دوی خو دالله ﷻ په نزد ددی مستحق دي چې پر دوی په دنیاکی هم آفتونه اومصیبتونه راسی لکه چې دمکي پرخلقوکله دقحطي مصیبت راغی. کله په اسلامي غزاګانو بدر او أحد وغیره کي پر دوی دقتل اوقید آفت نازل سو پر ځینو تندر را ولویده. ځیني په بله څه بلاکی اخته سول، أَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا مِّن دَارِهِمْ: یعنی کله داسی هم وسی چې مصیبت سیده پرسیده پر دوی را نه سی. بلکه د دوی په خوا کی پرکلیو راسي. چې دوی عبرت ورڅخه واخلي اوخپل بد انجام ورته ښکاره سی.

حَتَّىٰ يَأْتِيَ وَعْدُ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ: یعنی ددی آفتونو او مصیبتونو دا سلسله روانه ده، ترهغه چې دالله ﷻ وعده نه وي پوره سوی. ځکه چې دالله ﷻ وعده هیڅکله واپس کیږي نه، مراد ددی وعدي څخه دمکي دفتحي وعده ده. مطلب دا دی چې پردی خلقو به مختلف قسم آفتونه راځي تردی چې په آخر کی به مکه فتح سی او دا ټول خلق به مغلوب اومقهور سی.

په ذکر سوی آیت کی د، أَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا مِّن دَارِهِمْ: څخه معلومه سوه چې دکوم قوم اوکلي په خوا کی چې څه عذاب یا آفت اومصیبت راځي نو په دی کی دالله ﷻ داحکمت هم پټ وی چې دخوا اوشا کلي خلق په پوهه سی او دوی دنورو څخه عبرت حاصل کړي اوخپل عملونه برابرکړي نو دا دنورو عذاب د دوی دپاره رحمت جوړ سی کنه نو بیایوه ورځ د دوی هم دغه انجام سی کوم چې یې دنورو لیدلی وي.

نن زمونږ په شاوخواکی هره ورځ پرڅه خلقو اوکلیومختلف قسم آفتونه راځي، چیري تباه کوونکی سیلابونه، کله دهوا طوفان، کله د زلزلې عذاب، کله یو بل آفت دقرآن کریم ددی ارشاد مطابق دا صرف ددغو قومونو اوکلیو سزا نه وي. بلکه دشاوخوا خلق هم پوهوي په تیره زمانه کی که څه هم دعلم اوفن دومره زور او شور نه وو مګر دخلقو په زړونوکی دخدای بیره وه په یوځای کی چې به داسی څه حادثه پیښه سوه نو په خپله دغه خلق هم او دشاوخوا خلق به هم وبیریدل. الله ﷻ ته به یې رجوع کوله دخپلو ګناهونو څخه به یې توبه کوله او استغفار صدقي او خیراتونه به یې دنجات ذریعه ګڼله. اوپه سترګو به لیدل کیده چې د دوی مصیبتونه به ډیرپه آسانی سره واپس کیدل. نن زمونږ دغفلت حال دا دی چې دمصیبت په وخت کی هم خدای نه راته یادیږي. او نور هرڅه یادیږي ددنیا دعامو غیرمسلموپه شان زمونږ نظرونه هم صرف پر مادي اسبابو باندي وي. دمسبب الاسباب طرف ته توجه هم د ډیرو کموخلقو نصیب کیږي. ددی نتیجه دغه شان پرلپسې حادثي دي دکومو سره چې همیشه ددنیاخلق مخامخ دي.

حَتَّىٰ يَأْتِيَ وَعْدُ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ: یعنی پردي کفارو اومشرکانوپه دنیاکی هم دمختلفو عذابونو او آفتونو دا سلسله روانه وي تر دی پوري چې دالله ﷻ وعده راسی. ځکه چې الله ﷻ دخپلي وعدي څخه هیڅکله مخالفت نه کوي.

دوعدی څخه مراد دلته فتح مکه ده. چې وعده یې الله ﷻ دنبی کریم ﷺ سره کړی وه اومطلب ددی آیت دا سو چې په آخرکی خومکه فتح کیدل ا و ددی ټولو مشرکانو زیر او زور مغلوب اومقهور کیدل دي ددې څخه مخکې هم د دوی دجرمونو ځیني ځیني سزاګاني دوی ته ورکول کیږي او دا هم کیدای سي

Maktaba Tul Ishaat.com

چي د (وَعْدُ اللهِ) څخه مراد دلته د قيامت ورځ وي. چي وعده يې د ټولو پيغمبرانو سره سوې ده او د هميشه څخه سوې ده په دغه ورځ خو به هر کافر مجرم د خپلو عملونو سزا وويني.

په دې ذکر سوې واقعه کې د مشرکانو د عنادي سوالونو او د دوی د عناد څخه نبي کريم ﷺ ته دغم او تکليف رسيدو بيره په دې وجه په راتلونکي آيت کې د دوی ﷺ د تسلي د پاره فرمايي، وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِنْ قَبْلِكَ فَأَمْلَيْتُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ: دا حالات کوم چي تاته در پيښ دي دا څه يوازي تاته نه دي پيښ سوي. ستا څخه وړاندي پيغمبرانو هم هم دغسي حالات پيښ سوي دي چي مجرمان او منکران د دوی پر جرم فوراً نه دي نيول سوي او دوی به د پيغمبرانو سره خنداګاني او مسخري کولې. کله چي به دوی انتهاء ته ورسيدل نو بيا به دوی د الله ﷻ عذاب ونيول او داسي به يې نيول چي د چابه د مقابلې طاقت پاته نه سو.

اَفَمَنْ هُوَ قَائِمٌ عَلٰى كُلِّ نَفْسٍ: په دې آيت کې يې د مشرکانو جهالت او بې عقلي داسې واضحه کړې ده. چي دوی څومره بې وقوفه دي چي بې جانه او بې شعوره بتان د هغه پاک ذات سره برابروي کوم چي پر هر نفس نګران او د ده د عملونو او کارونو حساب کوونکی دی. بيا فرمايي چي اصلي سبب د دې دا دی چي شيطان د دوی دا جهالت د دوی په نظر کې ښائسته کړې دی او د دوی د دغه لوی کمال او کاميابي ګڼي.

لَهُمْ عَذَابٌ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ

د دوی د پاره عذاب دی په ژوند د دنيا کې او د آخرت عذاب خو

اَشَقُّ ۚ وَمَا لَهُمْ مِّنَ اللهِ مِنْ وَّاقٍ ﴿۳۴﴾ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ

ډير سخت دی او نسته دوی ته څوک د الله ﷻ ماسوا محفوظ کوونکی حال د جنت چي وعده يې ده

الْمُتَّقُوْنَ ۭ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۭ اُكُلُهَا دَآئِمٌ وَّظِلُّهَا ۭ تِلْكَ

د پرهيزګارانو سره، بهيږي د دغه لاندي نهرونه ميوه د دې هميشه ده او سايه هم دا

عُقْبَى الَّذِيْنَ اتَّقَوْا ڰ وَّعُقْبَى الْكٰفِرِيْنَ النَّارُ ﴿۳۵﴾ وَالَّذِيْنَ

بدله ده د هغو چي بيرېږي او بدله د منکرانو اور دی، او هغه خلق

اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَفْرَحُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمِنَ الْاَحْزَابِ

کوم ته چي موږ ورکړې دی کتاب خوشحاليږي په دې سره چي په تا نازليږي او ځيني فريقې

Maktaba Tul Ishaat.com

مَنْ يُّنْكِرُ بَعْضَهٗ ۭ قُلْ اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ وَلَآ اُشْرِكَ

نه منی ددې ځينې خبره، ووايه ما ته دا حکم سوی دی چې بندګی کوم دالله ﷻ او نه شريکوم

بِهٖ ۭ اِلَيْهِ اَدْعُوْا وَاِلَيْهِ مَاٰبِ ۝۳۶ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ حُكْمًا

دهغه سره دهغه طرف ته رابلم او هغه ته زما ورتلل دی، او دغه شان نازل کړی دی موږ دا کلام حکم

عَرَبِيًّا ۭ وَلَىِٕنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَاۗءَهُمْ بَعْدَ مَا جَاۗءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ

په عربی ژبه، او که ته ولاړسې د دوی دخواهش مطابق، وروسته دهغه علم چې تا ته راغلی،

مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا وَاقٍ ۝۳۷ۧ

هيڅوک به نه وی ستا دالله څخه حمايت کوونکی او نه محفوظ کوونکی.

لنډتفسير: ددی کافرانو دپاره ددنيا په ژوندکی (هم) عذاب دی (چې هغه قتل، قيد، مرض ذلت او مصيبتونه دي) اودآخرت عذاب ددی څخه په ډيرو درجو زيات سخت دی (ځکه چې سخت هم دی او دائمي هم دی) او دالله (دعذاب) څخه به دوی ته څوک محفوظ کوونکی نه وي (او) دکوم جنت چې دمتقيانو سره (يعني دکفر اوشرک څخه دځان ساتونکو سره) وعده سوی ده ددی حال دا دی چې ددی (تر آباديو او درختو) لاندی به نهرونه جاري وي او ددی ميوه او ددی سايه به هميشه وي دا خوبه انجام وي دمتقيانو. او دکافرانو انجام به دوزخ وي او کومو خلقو ته چې موږ (آسماني) کتاب (يعني تورات او انجيل) ورکړی دی او (او دوی هغه په پوره طور سره مني) هغوي په دی (کتاب) سره سره خوشحاله سوی دي کوم چې پرتانازل سوی دي (ځکه چې ددی خبرپه خپل کتاب کیويني اوخوشحالیږي مني يې او ايمان راوړي لکه په يهودکی عبدالله بن سلام ﷺ او دده ملګري او په نصارا وو کی نجاشی ﷺ او دده استاذی چې ذکر يې په نورو آيتونو کی هم دي) او د دوی په ټولګيوکی ځينې داسی دي چې ددې (کتاب) دځينې حصي څخه (چې په دی کی د دوی دکتاب خلاف حکمونه وي) انکارکوي (اوکفر کوي) ته (دوی ته) ؤفرمايه چې (احکام پر دوه قسمه دي اصول او فروع که تاسی په اصولوکی مخالف یاست پس دغه په ټولو شريعتونوکی مشترک دی چنانچې) ما ته (دتوحيدمتعلق) صرف دا حکم سوی دی چې زه دالله ﷻ عبادت وکړم اوڅوک دهغه سره شريک جوړنه کړم (او دنبوت متلق دا خبره ده چې) زه (خلق) دالله طرف ته راوبولم (يعني دنبوت خلاصه دا ده چې زه الله ﷻ ته بلونکی يم) او (دميعادمتعلق زماعقيده دا ده چې) دهغه طرف ته زما (ددنيا څخه بيرته) تلل دي (يعني اصول دا دري دي نو په دی کی يوه خبره هم د انکار قابله نه ده. چنانچې توحيد دټولو په نزدمنل سوی دی لکه چې دا مضمون په بل

Maktaba Tul Ishaat.com

ایت کی دی ، تَعَالَوْا اِلٰی كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ : اوپه نبوت کی دځان دپاره مال اوجاه نه غوارم چی د
انکار ګنجائش په کی پیداسی . محض دالله ﷻ طرف ته بلنه کوم پس داسی خلق زما څخه وراندې هم
راغلي دي کوم چی تاسي مني لکه چی دا مضمون بل ځای هم دی ، مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُؤْتِيَهُ اللّٰهُ الْكِتَابَ :
دغه شان دمیعاد عقیده مشترکه اومنل سوی او ناقابل انکار ده اوکه په فروعوکی مخالفت وي نو
دهغه جواب الله ﷻ داسی ورکوي لکه څنګه چی مونږ نورو سوالونو ته په خاصو خاصو ژبوکی خاص
احکام ورکړی دی، دغه شان مونږ دا (قرآن) په دي طور سره نازل کړی چی دغه خاص حکم دی په عربي
ژبه کی (دعربي په وضاحت سره اشاره وسوه دنورو پیغمبرانو دنورو ژبو طرف ته . او د ژبو په اختلاف
سره اشاره وسوه اختلاف دامتونو ته . نوخلاصه دجواب دا سوه چی په فروعوکی اختلاف په سبب د
اختلاف د امتونوسو . څکه چی دامتونو مصلحتونه په هره زمانه کی جدا دی پس دشریعتونو د
اختلاف مقتضا خدايي اختلاف نه دی لکه چی ستاسی په منل سوو شریعتونوکی هم داسی اختلاف
دفروعو سوی دی . نوبیاستاسی دمخالفت او انکارڅه ګنجائش دی) او (ای محمده ﷺ) که ته (په فرض
محال د دوی دنفساني خیالاتو (یعنی دمنسوخواحکامواوتحریف سوو احکامو) تابعداري وکړې
وروسته تردي چی تاته (دمقصودي حکمونو) علم (صحیح) رسیدلی دی نو دالله ﷻ په مقابله کی به نه
ستاڅوک مدد ګار وي اونه څوک محفوظ کوونکی (اوکله چی نبی کریم ﷺ ته داسی خطاب کیدای سی
نو خلق چی انکار وکړي چیری به ځي نو په دی کی کنایه ده اهل کتابو ته نو په دوارو شقونو دمنکرینو
اومخالفینو جواب وسو.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ اَزْوَاجًا وَّذُرِّيَّةً ؕ وَمَا كَانَ

اولیږلی دی مونږ څومره رسولان تاڅخه مخکې اومونږ ورکړی وی دوی ته بیبیانی اولاد او نه دی سوی

لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ لِكُلِّ اَجَلٍ كِتَابٌ ﴿۳۸﴾ يَمْحُوا اللّٰهُ

یو رسول ته چی راوړی یوه نښانه ، مګر دالله ﷻ په اذن سره هره یوه وعده ده لیکل سوی ، ورانوی

مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ ۚ وَعِنْدَهٗۤ اُمُّ الْكِتٰبِ ﴿۳۹﴾ وَاِنْ مَّا نُرِيَنَّكَ

الله ﷻ څه چی وغواړی اوباقی ساتی اودهغه سره دی اصل کتاب ، او که وښیو مونږ تا ته

بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ

څه وعده چی مونږ کړی ده د دوی سره یا پورته کړو تا ، پس ستا په ذمه خو رسول دی

وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ ﴿۴۰﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَاْتِي الْاَرْضَ نَنْقُصُهَا

او زمونږ په ذمه دی حساب اخیستل ، ایا دوی نه ګوری چی مونږ راولو مځکی په کمیدو

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ ۚ وَهُوَ سَرِيعُ

داطرافو ددی څخه ، او الله ﷻ حکم کوی ، نسته څوک شاته وغورځوی دده حکم ، او هغه ډیر ژر اخلی

الْحِسَابِ ﴿٤١﴾ وَقَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلِلَّهِ الْمَكْرُ جَمِيعًا ۖ

حساب ، او فریب کړی دی هغو چی د دوی څخه مخکی وو ، پس دالله ﷻ په لاس کی دی ټول فریب

يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ ۗ وَسَيَعْلَمُ الْكُفَّارُ لِمَنْ عُقْبَى

پوهیږي په څه چی کوی هر یو نفس ، او ژر ده چی معلومه به کړی کافران چی دچا دپاره دی

الدَّارِ ﴿٤٢﴾ وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَسْتَ مُرْسَلًا ۚ قُلْ كَفَىٰ بِاللَّهِ

دآخرت کور ، او وایی کافران نه یی ته پیغمبر راغلی ، ووایه کافی دی الله

شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِنْدَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ ﴿٤٣﴾

شاهد زما او ستاسی په مینځ کی ، او چاته چی خبر دی دکتاب .

تفسیر: او (په اهل کتابو کی چی ځینی پر نبوت دا طعن لګوي چی دده سره ډیري بيبياني دي نو ددی جواب دا دی چی) مونږ یقیناً ستا څخه وړاندي ډیر رسولان لیږلی دي او مونږ دوی ته بيبياني اوبچي هم ورکړي دي (دا څه رسالت سره منافي کار دی؟ داسی مضمون په بل آیت کی دی ، أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَىٰ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ : او (چونکه دشریعتونو د اختلاف شبه دنورو شبهو څخه زیاته مشهوره او لوړ محض په اجمال سره ذکر وه . په دی وجه دا مخکې مکرر او په تفصیل سره ارشاد فرمایي چی کوم سړی پرنبی باندی دشریعت د اختلاف شبه کوي دي په پرده کی نبی د احکامو مالک ګني حال دا دی چی) دیڅ پیغمبر په اختیارکی دا کار نسته چی یو آیت (یعني یو حکم) بغیر دخدای دحکم څخه (دخپل طرف څخه) راوړل سی (بلکه د احکامو مقررول په اذن او اختیار دخدای سره موقوف دی او دالله ﷻ دحکمت او مصلحت په اعتبار سره دا معمول مقرر دی چی) دهري زماني مناسب خاص خاص احکام وي (بیاپه بله زمانه کی په ځینو کارونو کی نور احکام راځي او اولني احکام موقف سی او ځیني پر خپل حال باقي پاته سي نو) الله ﷻ چی کوم حکم غواړي موقوف کوی یې او کوم حکم چی غواړی قائم یې ساتي او اصل کتاب (یعنی لوح محفوظ) دهغه سره وي (او دا ټول احکام ناسخ او منسوخ او پرخپل ځای پاته سوی په دی کی لیکلی دي هغه دټولو جامع او میزان دټولو دی ، یعنی دکوم ځای څخه چی دا احکام راځي هغه دالله ﷻ په قبضه کی دی نو دتیرو احکامو سره موافق یا دهغو څخه بدل د احکامو راوړلو دهیچا سره

Maktaba Tul Ishaat.com

گنجانش اوطاقت نه سی کیدای) او (دا خلق کوم چی په دی وجه دنبوت څخه انکار کوي چی که ته نبی یې نو دنبوت پر انکار چی دکوم عذاب وعده کیږي دغه عذاب ولي نه نازلیږي ددی متعلق واوړئ چی) کومي خبري (یعنی عذاب) مونږ د دوی سره (دنبوت پرانکار) وعده کوو په دی کی ځینې واقعي که مونږ تاته وښیو (یعنی ستاپه ژوندکی څه عذاب پر دوي نازل سي) خواه که (مخکي دنزول ددی عذاب څخه) مونږ تاوفات کړو (او بیا وروسته دغه عذاب نازل سي اوکه په دنیاکی یاپه آخرت کی نازل سي ، په دواړوحالتونوکی ته فکر او اهتمام مه کوه ځکه چی) بس ستاپرذمه خوصرف (د احکامو) رسول دي او د دوي نیول خو زمونږ کار دی (ته ولي ددی فکر کوي چی که واقع سي نوغوره ده شایدچی ایمان راوړي اوپه دغوخلقوهم تعجب دی چی پرکفر باندی دعذاب واقع کیدوڅخه څنګه یکسر انکار کوي) ایا (دمقدمو دعذاب څخه) دا کار دوی نه ویني چی مونږ (داسلام دفتح په ذریعه سره د دوی) مخکه دهرخلورطرف څخه برابر پرمخ کموو (یعنی د دوي عملداري په سبب د ډیرو فتحو د اسلام ورځ په ورځ کمیږي . نو دا هم یوقسم عذاب دی کومه چی مقدمه ده د اصلي عذاب لکه چی په بل آیت کی دی ، وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَى دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ) اوالله ﷻ چی څه غواړي حکم کوي دده دحکم څوک منع کوونکی نسته (پس عذاب ادنی یاعذاب اکبرو برابره خبره ده هر یو چی وي دا هیڅوک د دوی شریکان یاغیر شریکان نه سی ردولای) او (که دوی ته څه مهلت ورکول سی نو څه وسوه) هغه ډیر ژر حساب اخستونکی دی (دوخت انتظار دی بیا به فوراً وعده سوی عذاب شروع سي) او (دا خلق چی رسول ته په ازار رسولو یاداسلام په ناقص کولوکی قسم قسم تدبیرونه کوي نو په دی سره هیڅ نه کیږي چنانچی) د دوي څخه وړاندي چی کوم (کافران) خلق تیرسوی دي هغوی (هم ددی غرضونو دپاره لوی لوی) تدبیرونه کړی وو پس (هیڅ پرنه دی سوی ځکه چی) اصل تدبیر خو دخدای دی (دده په مخکي دهیچانه چلیږي . پس الله ﷻ د دوی دغه تدبیرونه چلیدو ته پري نه ښوول او) دي دهرڅه څخه خبر دی کوم سړي چی هرڅه هم کوي (نودوی ته به پروخت باندي سزا ورکړی) او (دغه شان) ددی کفارو (دعملونوخبري هم ورته سته پس دوی) ته به (هم) اوس معلومه سی چی پردغه جهان نیک انجام دچاپه حصه کی دی (چی د دوی دی اوکه دمسلمانانو یعنی ډیر ژر به دوي ته دخپلي بد انجامي اوعملونو سزا معلومه سی) او داکافران خلق (داسزاګاني هیروي) داسی وایي چی (نعوذ بالله) ته پیغمبرنه یې ته ووایه چی (ستاپردی بې معنی انکار څه کیدای سی) زمااوستاسی په مینځ کی (زماپرنبوت) الله ﷻ اوهغه سړی دچاسره چی د(آسماني) کتاب علم دی (چی په دی کی زمادنبوت تصدیق دی) کافي شاهدان دي (مراد ددی څخه د اهل کتابو عالمان دي کوم چی انصاف کوونکي وه او دنبوت پیش ګویي یې لیدلی وي . ایمان یې راوړي وو مطلب دا سو چی زمادنبوات دوه دلیلونه دي عقلي اونقلي عقلي خو دا چی الله ﷻ ماته معجزي راکړي دي کومي چی دنبوت دلیلونه دي اودالله ﷻ دشاهد کیدو هم دا معنی ده . اونقلي دا دی چی په تیرو آسماني کتابونوکی ددی خبرموجود دی که یقین نه کوئ نو دانصاف کوونکو عالمانو څخه پوښتنه وکړئ هغوی به یې درته ښکاره کړي پس دعقلي او نقلي دلیلونو په موجودګی کی دنبوت څخه انکارکول بغیر دبدبختی څخه نورڅه دي هیڅ هوښیارته هم په دی کي شک اوشُبه کول نه دي په کار)

Maktaba Tul Ishaat.com

(معلومات اومسئلي)

دکفارو اومشرکانو درسول اونبي متعلق یوعام خیال دا وو چې دي دجنس بشر اوانسان څخه علاوه یو بل مخلوق لکه ملائکي په کار دی چې ددی په وجه دعامو انسانانوڅخه د دوی برتري واضحه سی. قران کریم د دوی ددی فاسدخیال جواب په ډیرو آیتونوکی ورکړی دی چې تاسی دنبوت او رسالت په حقیقت او حکمت پوهه نه یاست په دی وجه په داسی خیالاتو پسي سواست. ځکه چې الله ﷻ رسول یوه نمونه جوړوي او را لیږی یې چې د امت ټول خلق دده پیروي وکړي. دده په شان اخلاق اوعملونه ایزده کړي او دا ظاهره ده چې یو انسان دخپل هم جنس انسان پیروي اوتابعداري کوی کوم چې دده دجنس څخه نه وي، دهغه پیروي دانسان څخه ناممکنه ده. مثلاًفرښته نه وږي کیږي نه تږي کیږي نه يې دنفساني خواهشاتو سره څه واسطه وي نه خوب ورته راځي نه ستړی کیږي او س که انسانانوته د دوی دپیروي او تابعداري حکم وي نو دا به د دوی دپاره پر دوی دطاقت زیات تکلیف وای. دلته هم دمشرکانو دا اعتراض پیش سو خاصکر دنبي کریم ﷺ د ښځو پر ډیروالي د دوی دا شبه نوره زیاته سوه. ددی جواب د اولني آیت په اولو جملوکی دا ورکړل سو چې دیوې یادزیاتو نکاحونو کولو او دښځو او بچیانو مالک کیدل تاسي په کوم دلیل سره دنبوت او رسالت څخه خلاف ګني. دالله ﷻ خو د ابتداء دپیدائښ دمخلوق څخه دا سنت راغلی دی چې هغه پیغمبران داهل اوعیال مالکان جوړوي څومره پیغمبران علیهم السلام چې مخکي تیرسوی دي اوچې په دوی کی دځینو دنبوت تاسو هم قائل یاست. دغو ټولو ډیري ښځي درلودي اوصاحب اولاد وو، دا دنبوت اورسالت یابزرګي اوولایت خلاف ګڼل ناپوهي ده. په صحیح بخاري اومسلم کی دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې زه روژه هم نیسم اوماتوم یې هم (یعنی داسی نه ده چې همیشه روژي نیسم) اوفرمایلي یې دي چې زه دشپې بیده کیږم هم اودلمانځه دپاره پورته کیږي هم (یعني داسی نه ده چې ټوله شپه عبادت کوم) اوغوښه هم خورم دښځو سره نکاح هم کوم کوم سړی چې زمادا سنت د اعتراض ځای وګڼي هغه مسلمان نه دی. ﴿وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَنْ يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ﴾ یعنی رسول ته اختیار نسته چې هغه یوآیت هم بغیر دالله ﷻ دحکم څخه په خپله راوړی.

کفارو اومشرکانو چې کوم دعناد سوالونه همیشه دپیغمبرانو علیهم السلام په مخکي پیش کړی دی او دنبی کریم ﷺ په وړاندي هم ددغه زماني مشرکانو پیش کړل. په دی کی دوه سوالونه ډیرعام دي. یو دا چې دالله ﷻ په کتاب کی زمونږ دخواهش مطابق احکام دي نازلیږي لکه چې په سورة یونس کی د دوی دا درخواست ذکر دی چې ﴿ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَٰذَا أَوْ بَدِّلْهُ﴾ یعنی یاخوته ددی موجوده قران کریم پرځای بالکل یوبل قران کریم راوړه چې زمونږ دبتانو عبادت په کی نه وي منع سوی یابیائته په خپله په دی راوړو حکمونوکی بدلون وکړه دعذاب پرځای رحمت او دحرامو پرځای حلال کړه.

دویم سوال د انبیاء علیهم السلام د واضحو معجزو لیدو باوجود دنورو نورو معجزو مطالبه کول چې فلاني قسم معجزه وښیه نو مونږ به ایمان راوړو دقرآن کریم په دی جمله کی دلفظ (آیة) څخه دواړه شیان

Maktaba Tul Ishaat.com

مراد کیدای سی. ځکه چې دقران په اصطلاح کې قراني آیتونو ته هم آیة ویل کیږي او معجزي ته هم په دي وجه ددی آیت په تفسیر کی دمفسرینو حضراتو څخه ځینو دقرآن آیتونه مراد اخیستي دي او دا مطلب یې بیان کړی دي چې دیو پیغمبر دا اختیار نه وي چې دخپل طرف څخه په خپل کتاب کی څه آیتونه جوړ کړي او ځینو ورڅخه معجزي اخیستي دي او دا معنی یې کړی ده چې یو رسول او نبي ته الله دا اختیار نه دی ورکړی چې څه وخت غواړي او څنګه غواړي معجزه ظاهره کړي. په تفسیر روح المعاني کی فرمایي چې دعموم مجاز په قاعده باندی دلته دادواړي معاني مراد کیدای سی او دواړه تفسیرونه صحیح کیدی سی.

په دی لحاظ سره دآیت دمضمون خلاصه دا شوه چې زمونږ درسول څخه دقرآني آیتونو دبدلولو مطالبه یې خایه او غلطه ده مونږ دا سی اختیار یو رسول ته هم نه دی ورکړی. دغه شان دا مطالبه چې فلاني قسم معجزه و ښیه دا هم دنبوت حقیقت څخه دناپوهی دلیل دی ځکه چې دیو نبي او رسول په اختیار کی دا نه وي چې دخلقو خواهش مطابق څه چې دوي غواړي معجزه ظاهره کړي.

لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ : د اجلُ معنی معینه موده او میعاد راځي او کتاب دلته په معنی دمصدر دی یعنی تحریر معنی دا ده چې دهر شي میعاد او مقدار دالله ﷻ سره لیکلی دی په ازل کی لیکلی دی چې فلاني شری به په فلاني وخت کی پیدا کیږي دومره ورځي به ژوندی وي کوم کوم ځای ته به ځي څه څه کارونه به کوي څه وخت او کوم ځای به مړ کیږي.

دغه شان دا هم لیکل شوی دي چې په فلاني زمانه کی به پر فلاني پیغمبر کومه وحی او احکام نازلیږي ځکه چې د احکامو دهری زمانې او هر قوم دحال مناسب رانلل دعقل او انصاف تقاضا ده او دا هم لیکل شوی دي چې دفلاني پیغمبر څخه به په فلاني وخت کی څه څه معجزه ظاهره سی.

په دی وجه دنبي کریم ﷺ څخه دا مطالبه چې فلانی قسم احکام په قرآن کریم کی بدل کړ دیا دا مطالبه چې خاص قسم معجزه و ښیه یوه عنادي او غلطه مطالبه ده کومه چې درسالت او نبوت دحقیقت څخه پر بي خبری باندی مبني ده.

يَمْحُو اللَّهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ وَعِنْدَهُ أُمُّ الْكِتَابِ : د أُمُّ الْكِتَابِ لفظي معنی اصل کتاب دی مراد ددی څخه هغه لوح محفوظ دی په کوم کی چې څه رد او بدل نه سی کیدای.

معنی دآیت دا ده چې الله ﷻ په خپل کامل قدرت او بالغ حکمت سره چې کوم شی غواړي خرابوي او کوم شی چې غواړي باقي او ثابت یې ساتي او ددی خرابولو او ثابت پاته کولو څخه وروسته چې څه واقع کیږي د هغه دالله ﷻ سره محفوظ دي چې نه دچا څه وس په رسیږي او نه په دی کی څه کمی یا زیاتوب کیدای سی.

دتفسیر په امامانو کی حضرت سعید بن جبیر رضی الله عنه او قتاده رحمه الله وغیره دا آیت هم د احکامو او شریعتونو دمحوه او اثبات یعنی دنسخ دمسئلي متعلق ګرځولی دی او د آیت مطلب دا بیان فرمایي چې الله ﷻ دهري زمانې او هر قوم دپاره دمختلفو رسولانو په ذریعه خپل کتابونه لیږي چې په کی دشریعت د احکامو او فرضو بیان وي، د ا ضروري نه ده چې دا ټول حکمونه دي همیشه وي او همیشه دي باقي وي

بلکه دقومونو دحالاتو اودزماني دبدلیدو په مناسبت سره دخپل حکمت په ذریعه چې کوم حکم غواړي خرابوي اوکوم چې غواړي باقي او ثابت يې پاته کوي او اصل کتاب پر هرحال دهغه سره محفوظ دی چې په هغه کې دمخکې څخه دا لیکل سوی دي چې فلاني حکم کوم چې دفلاني قوم دپاره نازل سوی دی داثر یو خاص میعاده پورې یادخاصو حالاتو پر بنا باندی دی کله چې دغه میعاد تیر سی یادغه حالات بدل سی نو دا حکم به هم بدل سی په دغه ام الکتاب کې ددی میعاد اومقرر وخت هم په پوره تعین سره درج دی او دا هم چې دا حکم بدل سی نو کوم حکم به راوړل سی.

په دی سره دا شُبه هم ختمه سوه چې دالله ﷻ حکمونه هیڅکله نه منسوخ کیږي. څکه چې دیوه حکم دجاري کولوڅخه وروسته دهغه منسوخ کیدل نه دي په کار، څکه چې دیوه حکم دجاري کولوڅخه وروسته دهغه منسوخ کول ددی علامه ده چې ددی حکم جاري کوونکی ته دحالاتو اندازه نه وه معلومه په دی وجه دحالاتو دلیدوڅخه وروسته يې منسوخ کول پیښ سول او ظاهره ده چې الله ﷻ ددی څخه لوړ او بالا دی چې یوشی دی دده دعلم څخه بهر وي. حکه چې دذکرسوی تقریرڅخه معلومه سوه چې کوم حکم منسوخ کیږي دغه دالله ﷻ په علم کې دمخکې څخه وي چې دا حکم صرف د دومره مودی دپاره جاري کړل سوی دی ددی څخه وروسته به بدلیږي ددی مثال داسی وي لکه دیومریض حال چې ووینی، یوحکیم یاداکتر یوه دوا ددغه وخت مناسب منتخب کوي اوهغه پوهیږي چې ددی دوا دا اثر وي ددی څخه وروسته به دا دوا بدلیږي فلاني بله دوا به ورکول کیږي. لنده دا ده چې ددی تفسیر مطابق په دی آیت کې دمحو او اثبات څخه مراد د احکامو منسوخ کیدل او باقي پاته کیدل دي.

او دتفسیر د امامانو یوجماعت سفیان ثوري وکیع وغیره دحضرت ابن عباس ﷺ څخه ددی آیت دوهم تفسیرنقل کړي دی چې په دی کې يې دآیت مضمون دتقدیر دلیکلو متعلق گرڅولی دی. اودآیت معنی يې دا بیان کړی ده چې دقرآن کریم او دحدیثونو دوضاحتونو مطابق دمخلوقاتو تقریرونه اودهرسړي په عمر او ژوندکی دپیداکیدونکی رزق او دراتلونکو خوشحالیو یا راحتونو یامصیبتونو او ددی ټولو شیانو مقدارونه الله ﷻ په ازل کې دمخلوقاتو دپیدائش څخه هم مخکې لیکلی دی، بیادبچي دپیدائش په وخت کې يې په ملائکو باندی هم لیکی. اوهرکال په شب قدر په دی کال کې دپیښیدونکو معاملو ریکارډ ملائکو ته حواله کیږي.

لنډه داچې دمخلوق دهر یوفردعمر، رزق، حرکاتوسکنات، ټول متعین دي اولیکل سوی دي مگرالله ﷻ دتقدیرپه دی لیکلوکی کوم چې غواړي باقي ساتي وعنده ام الکتاب: یعني اصل کتاب دکوم مطابق چې دمحو او اثبات څخه وروسته آخرعمل کول ذي دغه دالله ﷻ سره دی په دی کې هیڅ رد اوبدل نه سی کیدای تشریح ددی دا ده چې د ډیرو صحیحو احادیثو څخه معلومیږي چې په ځینو عملونو سره د انسان عمر او رزق زیاتیږي په ځینو کمیږي. په صحیح بخاري کې دی چې صله رحمي په عمرکی دزیاتوب سبب جوړیږي. او دمسنداحمد په روایت کې دی چې ځیني وخت سړی یوه داسی گناه کوي چې دهغه په سبب درزق څخه محروم کیږي اودمور او پلار په خدمت او اطاعت سره عمر زیاتیږی او دالله ﷻ تقدیر هیڅ شی بغیر ددعا څخه نه سی واپس کولی.

ددی تولو روایتونو څخه معلومیږي چې الله ﷻ کوم عمر یا رزق وغیره دچاپه تقدیرکی لیکلی وي . هغه دځینو عملونو په وجه سره کمیدی یا زیاتیدای سی او ددعاپه وجه سره هم تقدیر بدلیدای سی .

په دی آیت کی ددی مضمون بیان داسی سوی دی چې دتقدیرپه کتاب کی په لیکلی عمر یارزق یامصیبت یاراحت وغیره کی چې کوم رد او بدل دیوعمل یادُعاپه وجه سره کیږي ددی څخه مراد دتقدیر دهغه کتاب دی کوم چې دملائکو په لاس کی یا د دوی په علم کی دی په دی کی ځیني وخت یوحکم دیو خاص شرط په وجه معلق وي . هرکله چې دغه شرط پیدا نه سی نو دا حکم هم پاته نه سی اوبیاداشرط ځیني وخت خوپه تحریرکی لیکلی دملائکو په علم کی وي . ځیني وخت لیکلی نه وي صرف دالله ﷻ په علم کی وي . هرکله چې دغه حکم بدل سی نو تول حیران پاته سی ، دغه شان هغه تقریرته معلق وایي په کوم کی چې ددی آیت دوضاحت مطابق محوه اواثبات کیدای سی . لیکن د آیت آخري جملی ، وعنده ام الکتاب : وښوولې . چې ددی تقدیرمعلق سربیره یوتقدیر مبرم دی کوم چې په ام الکتاب کی لیکل سوی دالله ﷻ سره دی ، دغه یوازي دعلم الهی دپاره مخصوص دی په دی کی هغه احکام لیکل کیږي کوم چې دعملونو دشرطونو یا د دُعاڅخه وروسته دآخري نتیجي په طور باندی وي په دی وجه دغه دمحو او اثبات او کموالی او زیاتوالی څخه بالکل بری دی (ابن کثیر)

وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ : په دی آیت کی نبی کریم ﷺ ته دتسلي ورکولو اومطمئن کولو دپاره ارشاد فرمایي چې الله ﷻ کومي وعدي ستاسره کړي دي چې اسلام به مکمله فتح پیداکوي اوکفر او کافران به خوار او ذلیل سی . دا به خامخاکیږي مگرته ددی فکرمه کوه چې دا مکمله فتح به کله وي . ممکنه ده چې ستاپه ژوندکی وسی او دا هم ممکنه ده چې دوفات څخه وروسته وسی اوستا د اطمینان دپاره خو دا هم کافي ده چې ته پرمخ وینې چې مونږ دکفارو مځکي د اطرافو څخه راکموو یعنی دا اطراف دمسلمانانو په قبضه کی راځي . دغه شان د دوی مقبوضه مځکي کمیږي او دمسلمانانو دپاره فراخي راځي دغه شان به یوه ورځ ددی فتح تکمیل هم وسی . حکم دالله ﷻ په لاس کی دی . دده دحکم څوک منع کوونکی نسته . هغه ډیر ژرحساب اخستونکی دی .

سورة الرعد ختم سو ، والحمد لله رب العالمین

(سورة ابراهیم)

سُوْرَةُ اِبْرٰهِيْمَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اِثْنَتَانِ وَخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة ابراهیم په مکه کی نازل سوی دی او په دی کی دوپنځوس (۵۲) ایتونه دی . او اووه (۷) رکوع ګانی دی

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چې بی حده مهربان نهایت رحم والا دی .

الٓرٰ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى

خدای پوهیږي پرمعنی ددی . دا یو کتاب دی چې مونږ نازل کړی دی تاته چې ته اوباسی خلق د تیارو څخه د

Maktaba Tul Ishaat.com

النُّوْرِ ۙ بِاِذْنِ رَبِّهِمْ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ۙ﴿۱﴾ اللّٰهِ الَّذِيْ

رڼا طرف ته د دوی درب په حکم سره لاری دزبردست ستایل سوی ته ، دالله ﷻ هغه چی

لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَوَيْلٌ لِّلْكٰفِرِيْنَ مِنْ

هغه لره دي هغه څه چي په اسمانونو کی او هغه څه چي په مځکه کی دی او مصيبت دی کافرانو ته

عَذَابٍ شَدِيْدِ ۙ﴿۲﴾ الَّذِيْنَ يَسْتَحِبُّوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ

ديو سخت عذاب څخه کوم چي خوښوی ژوند ددنيا دآخرت څخه

وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ؕ اُولٰٓئِكَ فِيْ

او منع کوی (خلق) دالله ﷻ دلاری څخه اولټوی په دی کی کوږوالی دغه په

ضَلٰلٍ بَعِيْدٍ ﴿۳﴾

ډير ليری ګمراهی کی لويدلی دی

لنډتفسير: آلر (ددي معنى خو الله ﷻ ته معلومه ده) دا (قرآن) يو كتاب دي كوم چي مونږ پرتانازل كړي دي چي ته (ددي په ذريعه سره) ټول خلق د دوی دپرور دګار په حكم سره (دتبليغ په مرتبه كي دكفر) دتيارو څخه راوباسي (د ايمان اوهدايت د) رڼاطرف ته يعني دهغه ذات چي غالب اوستايل سوي دي دلاري طرف ته يې راولي (رڼاته د راوستو مطلب دا دي چي هغه لار ورته ونښيي) كوم چي داسي خداى دي چي دهغه په ملكيت كی دی څه چي په آسمانونوكي دي اوڅه چي په مځكه كي دی او (هركله چي دا كتاب دخداى لار ښيي نو) لويه خرابي يعني لوی سخت عذاب دی هغوكافرانو ته كوم چي (دا لاره نه په خپله قبلوي بلكه) دنيوي ژوند ته پر آخرت باندي ترجيح وركوي (په دي وجه ددين لټون نه كوي) او (نه نور خلق دي لاري اختيارولوته پرېږدي بلكه) دالله ﷻ د (دي) لاري څخه يی منع كوي اوپه دی كی كوږوالی يعنی شبهات لټوي (چي ددي په ذريعه سره نور ګمراه كړي) داسی خلق په ډيره ليري ګمراهي كی پراته دي (يعنی دغه ګمراهي دحق څخه ډيره ليري ده)

(معلومات اومسئلي)

(سورة او ددى مضامين)

دا دقرآن كريم څوارلسم سورة سورة ابراهيم شروع كيږي دا سورة مكي دي دهجرت څخه مخكي نازل سوی دی بغير دڅو آيتونو څخه چي دكومو په باره كی اختلاف دی چي مدنی دي او كه مكي

Maktaba Tul Ishaat.com

ددي سورة په شروع کي درسالت اونبوت او ددي دځينو خاصيتونو بيان دی ، بيادتوحيدمضمون اوددی دشواهدو بيان دی په دی سلسله کی دحضرت ابراهيم ﷺ قصه ذکر سوی ده . او ددی په مناسبت سره دسورة نوم سورة ابراهيم اينبودل سوی دی .

الٓرٰ كِتَابٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِ رَبِّهِمْ: الٓر: دادحروفو مقطعاتوڅخه دی چې ددی متعلق باربارذکرسوی دی چې په دی کي مثل سوی اوبې غباره خبره دسلف صالحينو ده چې په دی ايمان او يقين ساتي چې څه ددی مراددی هغه ذی ليکن ددی دمعانيوي په تحقيق اوتلاش پسي کيدل نه دي په کار

كِتَابٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ : کی دنحوی ترکيب په لحاظ سره زياته واضحه اوصفا خبره دا ده چې دا دلفظ (هذا) محذوف خبر مقرر کړل سي . او دجملې معنی دا وي چې . دا هغه کتاب دی کوم چې مونږ هغه ستاطرف ته نازل کړی دی . په دی کی دنازلولو نسبت دالله ﷻ طرف ته او دخطاب نسبت رسول الله ﷺ طرف ته په کولوکی د دوو شيانوطرف ته اشاره کول کيږي يو دا چې دا کتاب د ډيري غټې مرتبي والا دی چې دا حق تعالی په خپله نازل فرمايلی دی . دويم دنبي کريم ﷺ لوی مترتبي طرف ته اشاره ده چې دوی يې ددی اولني مخاطب جوړکړی دی .

لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِ رَبِّهِمْ : لفظ دناس عامو انسانانو ته ويل کيږي . ددې څخه مراد دټول عالم موجوده او راتلونکي انسانان دي (ظلمات) دظلمة جمع ده چې معنی يې تياري مشهوري او معلومي دي . دلته د(ظلمات) څخه مراد دشرک اوکفر اوبدو عملونو تياری دی او دنورڅخه مراد د ايمان رڼا ده . په دی وجه لفظ دظلمات په صيغه دجمع راوړل سو. ځکه چې دکفر اوشرک ډير انواع او اقسام دي . دغه شان بدعملونه هم بې شميره دي اولفظ دنور په صيغه دمفرد راوړل سو. ځکه چې ايمان اوحق يودی معنی دآيت دا ده چې دا کتاب په دی وجه مونږ تاته نازل کړی دی چې ته ددی په ذريعه دټول عالم انسانان دکفراوشرک اوبدوعملونودتيارو څخه راوباسي د ايمان اوحق رڼاته يې راولی د دوی درب په اجازه سره . دلته په لفظ درب راوړوکی دی طرف ته شاره کول کيږي چې دالله ﷻ پرعامو انسانانو باندی دانعام چې دخپل کتاب اوپيغمبرپه ذريعه دوی دتيارو څخه را وباسي ددی سبب اومنشاء بغير ددی لطف اوکرم څخه نور هيڅ نسته کوم چې دتمامو انسانانو خالق اومالک دخپل شان درب والي څخه پر دوی باندی ډيرښا کړی دی . کنه نو دالله ﷻ پر ذمه نه دچاڅه حق لازم دی نه دچا زور پرده چليږي .

(هدايت صرف دخدای کار دی)

په دی آيت کی دتياری څخه رڼا ته را ويستل يې دنبي کريم ﷺ کار ګرځولی دی . حال دا دی چې هدايت کول په حقيقت کی دالله ﷻ کار دی لکه چې په يوبل آيت کی ارشاد دی ، اِنَّكَ لَا تَهْدِيْ مَنْ اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ : يعنی ته په خپل اختيار چاته هدايت نه سی کولای . بلکه الله ﷻ چې چاته غواړي هدايت کوي . په دي وجه يې په دی آيت کی د(باذن ربهم) لفظ زيات کی او دا شُبه يې ختمه کړه . ځکه چې معنی دآيت داسوه چې دادکفراوشرک دتيارو څخه را ايستل دايمان اونيک عمل رڼاته يې راوړل که څه هم داصل حقيقت په وجه سره ستاپه لاس کی نه دی مګر دالله ﷻ په حکم او اجازه سره ته کولی سی

Maktaba Tul Ishaat.com

(احکام اوهدایتونه)

ددی آیت څخه معلومه سوه چی دټولو انسانانو او انساني نوع دبدو عملونو دتیارو څخه درا ایستلو او رڼاته د را وستو واحده ذریعه .او انسان او انسانیت لره ددنیا او آخرت دبربادي اوهلاکت څخه نجات ورکونکی واحده لار قرآن کریم دی ځومره ځومره چی خلق دی ته نژدي راځي په دغه اندازه سره به دوی ته په دنیاکی هم امن او امان اوعافیت اواطمینان نصیب وي اوپه آخرت کی به هم فلاح اوکامیابي حاصله وي اوځومره چی ددی څخه لیري وي دومره به د دواړوجهانو دخرابیو او بربادیو مصیبتونو او پریشانیو په غار کی لویږي .

دآیت په الفاظوکی یې دا نه ده ښکاره کړی چی نبی کریم ﷺ به څنګه خلق دقران کریم په ذریعه دتیارو څخه خلاصوی او رڼا ته به یې را وباسي .لیکن دومره خبره ظاهره ده چی دیوکتاب په ذریعه دیو قوم دبرابرولو طریقه دا وي چی ددی کتاب تعلیمات اوهدایات په دی قوم کی خپاره کړل سی او دوی ددې پابند کړل سی .

(دقرآن کریم تلاوت هم مستقل مقصد دی)

مګردقرآن کریم یو زیات خصوصیت دا هم دی چی ددی تلاوت اوبغیر دپوهیدو دده دالفاظو ویل هم په خاص طور سره دانسان پرنفس اثر اچوي او دده دبدیو څخه په محفوظ کولوکی مدد کوي . دکم څخه کم دکفر اوشرک که هرځومره خوبصورت جال وي دقران کریم ویونکی•که څه هم بغیر دپوهې څخه دده تلاوت کوي ددی په دام کی نه سی راتلای ، دهندوانو دشُدهی سنګتهن تحریکونو په زمانه کی دا لیدل سوي دي چی د دوی په دام کی صرف هغه خلق راغلل کوم چی دقرآن کریم دتلاوت څخه هم بیګانه وه، نن عیسائي مشینریاني دمسلمانانو په هره حطه کی قسم قسم شنه باغونه اوسنهري جالونه خپروي، لیکن ددی که څه اثر لویږي یوازي پرهغه کورونو کوم چی دقرآن کریم دتلاوت څخه هم غافله وي خواه دجهالت په وجه وي، یا دنوي تعلیم د اثر په وجه .

شاید دی معنوي اثر ته د اشاري کولو دپاره په قرآن کریم کی چی کوم ځای دنبی کریم ﷺ د رالیږلو مقصد ښوول سوی دی .

يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ : یعنی نبی کریم ﷺ یې د دروکارونو دپاره رالیږلی دی ، اولنی کار دقرآن کریم تلاوت دی اوظاهره ده چی دتلاوت تعلق دالفاظو سره دی ، معاني ایزده کول کیږي، ددی تلاوت نه سی کیدای ، دویم کارخلق دبدیو څخه پاکول ، او دریم کار دقران کریم اوحکمت یعنی درسول دسنتو تعلیم ورکول دي .

لنډه دا ده چی قرآن کریم یو داسی هدایت نامه ده چی ددی معنی ایزده کول اوعمل په کول خو اصل مقصد دی او ددی د انسان د ژوندپه اصلاح کی اثرکول خو واضحه خبره ده . ددی سره ددی دالفاظو تلاوت کول هم په غیر شعوري طور سره دانسان دنفس په اصلاح کی ښکاره اثر لري .

په دی آیت کی دخدای په اذن دتیاروڅخه د را ایستلو او رڼا ته د را وستو نسبت نبی کریم ﷺ ته په کولو کی دا ښودل سوی ده چی که څه هم دهدایت پیداکول په حقیقت دالله ﷻ کار دی . مګر دنبی کریم ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com

دواسطي څخه بغیر دا نه سی حاصلیدای . دقرآن کریم معنی اومطلب هم هغه معتبردی کوم چی نبی کریم ﷺ په خپل قول یاعمل سره ښوولی وي ددی څخه خلاف هیڅ تعبیر معتبر نه دی .

إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ، اللَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ : ددی آیت په شروع کی چی کوم دتیارې اونور ذکر راغلی دی ظاهره ده چی دا هغه تیاره او رڼا نه ده . کومه چی په عاموسترګو سره لیدل کیږي . په دی وجه ددی دواضح کولودپاره په دی جمله کی ارشادفرمایي چی دغه رڼا دالله ﷻ لار ده چی پردی باندی تلونکي دتیاري دتلونکي په شان نه یوځای بې لاري کیدای سی . نه ورته لغزش ورځي او نه مقصدته په رسیدوکی ناکامه کیږي . دالله ﷻ دلاري څخه مرادهغه لارده چی پر دی تلونکی انسان خدای ته رسیږي او دده رضاحاصلوي . دلته یې لفظ دالله وروسته راوړی ، ددی څخه مخکي یې دده دوه صفتونه عزیز اوحمید ذکرکړي دي دعزیز معنی دعربي لغت په اعتبار سره دقوي اوغالب ده . اوحمید معنی هغه ذات کوم چی دحمد مستحق وي . ددی دوو صفتونو دحق د اصلي نوم څخه په مخکې راوړلو کی دی طرف ته اشاره ده چی دا لار دکوم پاک ذات طرف ته بوتلونکی ده هغه قوي اوغالب هم دی او دهر حمدمستحق هم دی . په دی وجه پردی لارتلونکی نه یوځای ټکره خوري اونه به دده کوشش عبث سی بلکه دده منزل مقصود ته رسیدل یقیني دی . خو شرط دا دی چی دا لار پاته نه کي دالله ﷻ ددی دووصفتونو اول بیانولوڅخه وروسته فرمایي ، اَللّٰهُ الَّذِیْ لَهٗ مَافِی السَّمٰوٰتِ وَمَافِی الْاَرْضِ : یعنی دا هغه ذات دی چی څه په آسمانونو اوپه مځکوکی دی دغه ټول هغه پیداکړي دي ، اودهغه خاص ملکیت دی چی هیڅوک په کې ورسره شریک نسته .

وَوَيْلٌ لِّلْكَافِرِينَ مِنْ عَذَابٍ شَدِيدٍ : لفظ د(ویل) دسخت عذاب اوهلاکت په معنی کی راځي معنی دا ده چی کوم خلق ددی قرآن کریم دنعمت څخه منکردي او دکفر اوشرک په تیاره کی پاته کیدل خوښوي د دوی دپاره لویه بربادي اوهلاکت دی دهغه سخت عذاب څخه کوم چی پر دوی راتلونکی دی .

دمطلب خلاصه :دآیت خلاصه دا ده چی قرآن کریم ددی دپاره نازل سوی دی چی ټول انسانان دتیارو څخه را وباسي دالله ﷻ دلاري رڼا ته یې راولي . مګرکوم بدنصیبه چی دقرآن کریم څخه منکرسی نو دوی په خپلولاسو ځانونه عذاب ته ور آچوي ، کوم خلق چی ددی څخه منکر دي چی قرآن کریم دالله ﷻ کتاب دی نو دعذاب دوعدی څخه مراد دغه خلق دي . مګر کوم چی په عقیده کی منکرنه دي خوعملاً یې قرآن پاته کړی دی . نه یې دتلاوت سره څه واسطه سته او نه یېورباندی دځان پوهولو اوعمل کولو طرف ته نظر سته دغه بد نصیبه سره دمسلماني ددی وعید څخه بالکل بري نه دی .

الَّذِينَ يَسْتَحِبُّونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا عَلَى الْآخِرَةِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا أُولَٰئِكَ فِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ : په دی آیت کی یې دقرآن کریم څخه دمنکرانوکافرانو دري حالتونه ښوولی دي . یو دا چی دوی ددنیاژوند دآخرت په نسبت زیات خوښوي اوترجیح ورلره ورکوي . په دی وجه ددنیا دنفع یا آرام په خاطر دآخرت نقصان برداشت کوي په دی کی د دوی دمرض پیژندو طرف ته اشاره ده، چی دا خلق دقرآن کریم دواضحو معجزو لیدوباوجود ددی څخه منکرولي دي؟وجه داده چی دوی ددنیادموجوده ژوند محبت دآخرت

دمعاملو څخه رانده کړي دي په دې وجه د دوی خپلې تیارې خوښي دي، د رڼا طرف ته د راتلو يې هيڅ خواهش نسته.

دويم خصلت يې د دوی دا بيان کړی دی چې دوی په خپله خو تيارې خوښوي خو پردی سربيره ظلم دا دی چې دوی په خپله غلطۍ د پردي اچولو د پاره نور هم د الله ﷻ دلارې څخه منع کوي

(دقرآن کريم په پوهه کې دخينو غلطيو نښاني)

دريم خصلت په ﴿وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا﴾ کې بيان سوی دی ددې دوې معنی کيدای سی. يوه دا چې دا خلق دخپلې بد باطنۍ اوبدعملۍ په سبب په دې فکرکې لګيدلي وي چې د الله ﷻ په روښانه اوسيده لاره کې څه کوږوالي اوخرابي په نظر راسي او دوی ته دا اعتراض او طعن موقع په لاس راسي. ابن کثير رحمه الله يې دا معنی بيان کړې ده.

او ددې جملې دا معنی هم کيدای سی چې دا خلق په دې فکرکې وي چې د الله ﷻ په لاره يعني قرآن کريم اوسنت کې يو شي د دوی دخيالاتو او خواهشاتو موافق پيداسی. نو چې دغه دخپل حقوالي په دليل کې پيش کړي. په تفسيرقرطبي کې يې دا معنی اختيار کړي ده. لکه چې نن صبايې بې شميره دعلم خاوندان په دې کې اخته دي چې په خپل زړه کې يو خيال کله دخپلې غلطۍ څخه کله ديوبل قوم څخه دمتاثره کيدو په وجه جوړ کړي، بيا په قرآن کريم اوحديث کې ددې تائيدونه تلاش کوي اوکله چې يو لفظ دده دخيال موافق په نظر راسي نو دا په خپل حق کې قرآني دليل ګڼي حال دا دی چې داسی کول اصولاً غلط دي. ځکه چې دمومن کار دا دی چې دخپلو خيالاتو اوخواهشاتو څخه ذهن خالي کړي کتاب اوسنت ته ګوري اوڅه چې ددې څخه په واضح طور سره ثابت سي دغه خپل مسلک وګرځوي.

﴿أُولَئِكَ فِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ﴾: په دې جمله کې دهغو کفارو دبد انجام بيان سوی دی دکوم چې درې صفتونه لوړ بيان سوي دي اوخلاصه ددې دا ده چې دغه خلق په خپله ګمراهۍ کې ډير ليرې رسيدلي دي چې اوس د دوی پر لاره راوستل مشکل دي.

(احکام اومسئلې)

په تفسيرقرطبي کې دي چې که څه هم په دې آيت کې دا درې خصلتونه په صراحت سره دکفارو بيان سوي دي اودهغوی دا انجام ذکر سوی دی چې دغه په ګمراهۍ کې ليرې لويدلي دي، ليکن د اصولو په اعتبار سره چې په کوم يو مسلمان کې هم دا درې خصلتونه موجود وي هغه هم دعذاب ددې وعدې مستحق دی ددې دريو خصلتونو خلاصه دا ده

١. چې ددنيا محبت په آخرت غالب کړي، تردې چې ددين رڼا ته را نه سي

٢. نور هم دخان سره دشريکولو دپاره د الله ﷻ دلارې څخه منع کوي

٣. په قرآن اوسنت کې چون او چرا کوي په خپلو خيالاتو يې دتپلو کوشش کوي. نعوذ بالله تعالیٰ منه.

وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ

او نه دی ليږلی موږ يو رسول مګر په ژبه دخپل قوم باندې

لِيُبَيِّنَ لَهُمْ ۖ فَيُضِلُّ اللَّهُ مَنْ يَّشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَّشَاءُ ۚ

چې بیان وکړي دوی ته ، بیا بې لارې کوي الله ﷻ چاله چې وغواړي او لارښیي چا ته چې وغواړي

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٤﴾

او هغه دی زبردست حکمتونو والا.

تفسیر: او (ددې کتاب دالله ﷻ دطرف څخه په نازلیدو کې چې کوم ځینې کفارو دا شبه کوي چې دا عربي ولې دی چې په دی سره دا احتمال کیدای سي چې په خپله نبی کریم ﷺ تصنیف کړی وي په عجمي ژبه کی ولې نه دی چې دا احتمال په کي نه وای او دقرآن کریم به دنورو آسماني کتابونو سره په عجمي والی کی موافق هم وای نو دا شبه هم محض لغوه ده ځکه چې) موږ تول (مخکني) پیغمبران (هم) د دوی دقوم په ژبه کی پیغمبران کړي لیږلي دي ددی دپاره چې (د دوی په ژبه کی) دوی ته (دالله ﷻ احکام) بیان کړي (چې اصل مقصود واضح بیان دی . نو دټولو کتابونو په یوه ژبه کی کیدل څه مقصد نه دی) بیا دبیانولو څخه وروسته چا لره چې الله ﷻ غواړي گمراه کوي (چې دوی دغه حکمونه قبول نه کړي) او چا لره چې غواړي هدایت ورته کوي (چې دوی دغه احکام قبول کړي) او هغه (پر ټولو کارونو) غالب دی (او) حکمت والا دی (پس دغالب والي په سبب یې ټولو هدایت کولی سوه مگر د ډیرو حکمتونو مقتضي دا نه سوه)

(معلومات اومسئلي)

په اول آیت کی دالله ﷻ ددی نعمت او سهولت ذکر سوی دی چې الله ﷻ کله هم یو رسول دیو قوم طرف ته لیږلی دی نو ددغه قوم په ژبه یې لیږلی دی چې دی دالله ﷻ حکمونه د دوی په محاورو کی دوی ته وښیي او دوی ته په دی پوهیدل آسان وي که د رسول ژبه د دوی د ژبې څخه مختلفه وي نو ظاهره ده چې ددی په پوه کیدو کی به امت ته د ترجمه کولو مشقت لویدی او بیا به د احکامو په صحیح پوهیدو کی شک وای په دی وجه عبراني ژبه ویونکو ته رسول په عبراني ژبه کی ولیږل سو دفارسیانو رسول په فارسي کی دبربریانو رسول په بربري ژبه کی مقرر سو برابره خبره ده که په دی صورت سره وي چې کوم سړی یې رسول لیږي هغه به خپله ددی قوم فرد او مورنی ژبه به یې ددی قوم ژبه وه یا دا چې دده پیدائش او مورنی ژبه که څه هم بله وي مگر الله ﷻ داسی اسباب پیدا کړي دي چې ده ددغه قوم ژبه ایزده کړی ده لکه حضرت لوط ؑ چې اصل او سیدونکی دعراق وو د کوم ځای چې فارسي وه ، مگر دشام طرف ته دهجرت کولو څخه وروسته په دغو خلقو کی واده وکي او دشامیانو ژبه ذده ژبه سوه بیا الله ﷻ دی دشام دیوې حصي نبی جوړ کی

او زموږ نبی کریم ﷺ دکوم رالیږل چې دمکان او مقام په اعتبار دټولي دنیا دپاره او دزماني په اعتبار تر قیامته پوری عام دی ددنیا قوم دیو یو ملک او سیدونکی دیوې ژبه ویونکی دده درسالت او نبوت

Maktaba Tul Ishaat.com

دداځي څخه بهر نه دی اوترقیامته پورې ټولو قومونو او ژبو چې نوې پیدا کیږي هغه هم تول دنبي کریم ﷺ امت او په دعوت کی داخل دي . لکه چې په قرآن کریم کی ارشاد دی ، یاایها الناس انی رسول الله الیکم جمیعًا : یعنی ای خلقو زه دالله ﷺ رسول یم ستاسی ټول طرف ته .

اوپه صحیح بخاري اومسلم کی په روایت دجابر ذکر دي چې نبی کریم ﷺ دټولو انبیاء علیهم السلام په مینځ کی دخپلو پنځو امتیازي خصوصیاتو ذکرکوي او وي فرمایل چې زما څخه مخکې هر یو رسول او نبی به خاص دخپل قوم او برادرئ دپاره رالیږل کیدی . الله ﷻ زه دټولو قومونو د انسانانو دپاره رالیږلی یم .

الله ﷻ په دی دنیاکی انساني آبادي ذحضرت آدم ﷺ څخه شروع کړی ده او دی یې د انسانانو دپاره دټولو څخه اول نبی اوپیغمبر جوړکی . بیا انساني آبادي چې څومره بنوریده اوترقي یې کوله نوپه دغه مناسبت سره درُشد اوهدایت انتظامونه هم دالله ﷻ دطرف څخه دمختلفو رسولانو اوپیغمبرانو په ذریعه کیدل . دزماني دهر دور او هر قوم دحال مناسب احکام اوشریعتونه نازلیدل . تردی چې د انساني مخلوق نشو اونماسَنْ دکمال ته ورسیده . نوالله ﷺ سردار د اولینو او آخرینو امام د انبیاء محمد مصطفی ﷺ ددی ټولي دنیا دپاره رسول جوړکی را ولیږی اوکوم کتاب چې یې دوی ته ورکړی هغه یې دټول عالم اوترقیامته پورې دپوره زماني دپاره کامل اومکمل کي . او وربې کي او ارشاد یې وفرمایی ، اَلْیَوْمَ اَکْمَلْتُ لَکُمْ دِیْنَکُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَیْکُمْ نِعْمَتِیْ : یعنی مانن ستاسی دپاره دین مکمل کي اوخپل نعمتونه مې ستاسی دپاره پوره کړل

دتیرو انبیاء علیهم السلام شریعتونه هم دخپل وخت او دخپل ځای په اعتبارسره کامل اومکمل وو دوی ته هم ناقص نه سی ویل کیدای . لیکن دشریعت محمدی علی صاحبها الصلوة والسلام کمال دیو خاص وخت اوخاصی مخکي سره مخصوص نه دی . دا کامل علی الاطلاق دی په دی حیثیت سره ددین تکمیل ددی شریعت سره مخصوص دی اوپه دی وجه یې پرنبی کریم ﷺ باندی سلسله دنبوت ختمه کړه

(قرآن کریم په عربي ژبه کي ولي دی)

دلته یو سوال دا پیداکیږي لکه څنګه چې دتیرو امتونو رسولان د دوی په ژبه ولیږل سوه او دوی ته دترجمي کولو دمحنت ضرورت پاته نه سو . نبی کریم ﷺ صرف په عربو کی په عربي ژبه کی ولي راولیږل سو او د دوی کتاب قرآن کریم هم خاص په عربي کی ولي نازل سو؟

خو که دغور اوفکر څخه کار واخیستل سی نوجواب صفا دی هر سړی په پوهیدی سی چی کله دنبی کریم ﷺ بُعثت اودعوت دټولو قومونو دپاره عام سو په کوم کی چې په سوو ژبي رائج دی نو ددی ټولو دهدایت دپاره دوه صورتونه ممکن وه یو دا چې قرآن کریم دهر قوم په ژبه کی جُدا جُدا نازل سوی وای او دنبي کریم ﷺ تعلیمات اوهدایات هم دهر قوم په ژبه کی جُدا جُدا وای دالله ﷻ دکامل قدرت په مخکې ددی انتظام څه ګران نه وو لیکن دټول عالم دپاره دیو رسول یو کتاب یو شریعت دلیږلو چې کوم عظیم مقصد په دی ټولو قومونو دعالم کی د زرګونو قسمه اختلافاتو باوجود دیني اخلاق معاشرتي یووالی او یک جهتي پیداکول وو . دغه په دی یوه صورت سره نه سوای حاصلیدای .

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی څخه علاوه هرکله چې دهرقوم اوملک قرآن اوحدیث په جُدا ژبو کی وای . نو په دی کی به دقرآن دتحریف دپاره بې شمیره لارې خلاصې سوی وای او دقرآن کریم محفوظ کلام کیدل کوم چې دده داسی خصوصیت دی چې اغیار اودقرآن کریم منکرین هم دده دمنلوڅخه دډ نه سی کولای دا معجزانه خصوصیت به بې باقې نه وای پاته سوی چې دیو دین یوکتاب کیدو باوجودبه ددی دمنونکو دوی مختلفې لارې جوړې سوی وای چې دیووالی یوه نقطه به هم باقی نه وای پاته سوی . ددی اندازه ددی څخه کیدای سی چې دقرآن کریم په یوه عربې ژبه دنازلیدو باوجود ددی په تعبیر اوتفسیرکی څومره اختلافات په جائزو حدونوکی پیښ سول اوپه ناجائزو او باطلو طریقو سره خو د اختلافاتو ګرسره څه حد نسته لیکن ددی ټولو باوجود دمسلمانانو قوې یووالی اوممتاز تشخص په دی ټولوخلقوکی موجود دی کوم چې په قرآن کریم باندی په یوه درجه کی هم عمل کوونکی دی .

لهذه دا چې دنبی کریم ﷺ رسالت اوبعثت دټولو قومونو ددنیادپاره دعام والې په صورت کی ددی ټولو دتعلیم اوهدایت دا صورت چې قرآن دهرقوم په ژبه کی جلا جلا وای نو دا خو به دیو ادنی پوه سړی هم صحیح نه سوای ګڼلی په دی وجه ضرورې سوه چې قرآن دې په یوه ژبه کی راسی . او درسول ژبه دې هم دغه دقرآن ژبه وې بیادې په نوروملکې اوعلاقائې ژبوکی ددی ترجمې ورسول سی او خپرې دې کړل سی اودنبی کریم ﷺ نائبان عالمان دې په هرملک اوقوم کی د دوی هدایات دخپل خپل قوم اوملک په ژبه کی وښیی اوشائع دې کړي . په دی وجه الله ﷻ دټولې دنیاپه ژبه کی عربې ژبه غوره کړه چې ددی ډیرې وجهې دې .

(دعربي ژبې خصوصیات)

اول دا چې عربې ژبه د آسمان دفترې ژبه ده، دملائکو ژبه عربې ده دلوح محفوظ ژبه عربې ده لکه چې دقرآن دآیت ، بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَجِيدٌ فِي لَوْحٍ مَحْفُوظٍ : څخه معلومیږي اوجنت چې د انسانانواصلی وطن دی اوکوم ته چې به دوی بیرته ځي . دهغه ژبه هم عربې ده په طبراني مستدرک دحاکم شعب الایمان دبیهقې کی په روایت دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ نقل دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلې دي ، احبُوا العرب لثلاث لانی عربی والقرآن عربی وکلام اهل الجنة عربی : دی روایت ته حاکم په مستدرک کی صحیح ویلی . په جامع صغیرکی یې هم دا دصحیح نخښه ښوولی ده . ځینې محدثینو دې ته ضعیف اومجروح ویلی دي دحدیثونو حافظ ابن تیمیه رحمه الله ویلي دي چې ددی حدیث مضمون حدیث ثابت دی دحسن تر درجې کم نه دی (فیض القدیر شرح جامع الصغیر ص ۱۷۹ ج۱)

دحدیث معنی دا ده چې تاسی خلق په درو وجهو دعربو سره محبت کوئ یو دا چې زه عربې یم دویم دا چې قرآن عربې دی دریم دا چې دجنتیانو ژبه عربې ده .

په تفسیرقرطبې وغیره کی دا روایت هم نقل دی چې دحضرت آدم ﷺ ژبه په جنت کی عربې وه پرمخکه دنازلیدو او دتوبې دقبلیدوڅخه وروسته په عربې ژبه کی یې څه رد اوبدل وسو اوسریانې ژبه پیدا سوه ددی څخه دهغو روایتونو هم تائید اوتوقیت پیدا کیږي کوم چې دحضرت عبدالله وغیره څخه نقل دی چې الله څومره کتابونه پرانبیاء علیهم السلام باندی نازل کړي دي د دوی اصل ژبه عربې وه جبرائیل

Maktaba Tul Ishaat.com

امین په قومي ژبه کی ترجمه کړی پیغمبرانو ته ښوولی دی اوهغوی بیا په خپله قومي ژبه کی امتونو ته رسولی دی. دا روایتونه علامه سیوطي رحمه الله په الاتقان کی او اکثرو تفسیرو لیکونکو تر ذکر سوی آیت لاندی نقل کړی دی.

ددی خلاصه دا ده چی دټولو آسماني کتابونو اصلي ژبه عربي ده مګر دقرآن کریم څخه ماسوا نورکتابونه په ملکي اوقومي ژبوکی ترجمه سوي ورکړل سوي دي. په دی وجه ددغو معانیوي خو ټولي دالله ﷻ دطرف څخه دي مګرالفاظ يې بدل سوي دي دا صرف دقرآن کریم خصوصیت دی چی دده دمعنی په شان الفاظ هم دحق ﷻ دطرف څخه راغلي دي. اوشاید دا وجه ده چی قرآن کریم دا دعوی وکړه چی دټول جهان پیریان او انسانان که جمع سی هم دقرآن دیوکوچنی سورة بلکه دیوآیت مثل نه سی جوړولای. ځکه چی دی په معنوي اولفظي حیثیت سره دالله ﷻ کلام او دالله ﷻ یوصفت دی چی نقل يې څوک نه سی کولی. په معنوي حیثیت سره خو نور آسماني کتابونه هم دالله ﷻ دکلامو څخه دي. مګر په دوی کی شاید چی داصلي عربي الفاظو پرځای دترجمي کیدو په وجه سره دا دعوی یو بل آسماني کتاب نه ده کړی ګنی دقرآن په شان دالله ﷻ دکلام والی په حیثیت سره دهریوکتاب بې مثل والی یقیني وو دعربي ژبي دانتخاب یوه وجه په خپله ددی ژبي ذاتي صلاحیتونه هم دي چی دیومطلب د ادا کولو دپاره په دی کی بې شمیره صورتونه او طریقي دي.

او یوه وجه دا هم ده چی مسلمان ته الله ﷻ په فطري طور باندی دعربي ژبي سره یومناسبت ورکړی دی چی ددی په وجه سره هرسړی په آسانی سره عربي ژبه په قدر دضرورت ایزده کولای سی. دا وجه ده چی صحابه کرام رضی الله عنهم چی کوم ملک ته ورسیدل نو په لږه زمانه کی به بغیر دڅه جبراوزورڅخه په ټول ملک کی ژبه عربي سوه په مصر او شام او عراق کی دیو ملک ژبه هم نه وه کوم چی نن ورته عربي ملکونه وایي.

یوه دا وجه هم ده چی دعربو خلق که څه هم داسلام څخه مخکي په سختو بدو عملونوکی اخته وه، مګر ددی قوم صلاحیتونه اوملکات اوجذبات په دغو حالتونوکی هم بې مثله وه دغه وجه ده چی حق ﷻ خپل دټولوڅخه لوي او آخري نبي ﷺ په دوي کی پیداکي او د دوی ژبه يې دقرآن دپاره اختیاره کړه اونبي کریم ﷺ ته يې دټولوڅخه اول د دوی دهدایت اوتعلیم حکم ورکي، وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ او دټولو څخه اول يې ددی قوم داسی افراد دخپل رسول خواته جمع کړل کومو چی پرنبي کریم ﷺ خپل ځانونه مالونه او اولاد هرڅه قربان کړل او د دوی تعلیمات يې دخپلو نفسونو څخه زیات عزیز وګڼل اودغه شان پر دوي دنبي کریم ﷺ دصحبت اوتعلیم هغه ژور رنګ وختی چی په ټوله دنیاکي یوه داسی مثالي معاشره پیداسوه چی ددی مثال ددی څخه مخکي آسمان اومځکی نه وو لیدلی نبي کریم ﷺ دا بې مثله جماعت دقرآني تعلیماتو دخپرولو اوشایع کولو دپاره ودروی او وي فرمایل.

بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً یعنی زماڅخه اوروول سوي هره خبره امت ته ورسوی. دی جان نثارو صحابه وو دا هدایت ددنیا کونج کونج ته ورسوي. اوقرآن او ددي تعلیمات يې په دنیاکی خپاره کړل. دنبي کریم ﷺ پر وفات باندی پنځه ویشت کاله نه وو تیر سوي چی دقرآن آواز ترمشرق اومغرب پوری ورسیدی.

Maktaba Tul Ishaat.com

بل طرف ته الله ﷻ په تقدیري اوتکویني توګه سره دنبی کریم ﷺ پر امت دعوت چې په دوی کې ددنیا مشرکان او اهل کتاب یهود اونصارا ټول داخل دي . په دوی کې یوه خاصه ملکه او دتعلیم اوتعلم تصنیف اوتالیف او اشاعت یوه داسې جذبه پیدا کړه چې ددې مثل ددنیا په تیر تاریخ کې نه پیدا کیږي . ددې په نتیجه کې په عجمي قومونو کې نه صرف دقرآن اوسنت دعلومو حاصلولو قوې جذبه پیدا سوه . بلکه دعربي ژبې په حاصلولو اوددې په رواج کولو اوخپرولو کې دعجمیانو قدم دعربو څخه وروسته نه سو دا یو حیرانوونکې حقیقت دی چې دا وخت په عربي لغت اومحاورو او ددې په قواعدو صرف او نحو (ګرامر) چې څومره کتابونه په دنیا کې موجود دي دغه اکثر دعجمیانولیکل سوي دي . دقرآن اوسنت په جمع کولو او تدوین بیا په تفسیر او تشریح کې هم د دوی حصه دعربي څخه نه ده کمه سوې .
دغه شان دنبی کریم ﷺ ژبه او د دوی کتاب دعربي کیدو باوجود پرټول عالم باندې محیط سو. او ددعوت اوتبلیغ ترحده پورې دعربو اوعجمو فرق ورک سو. دهرملک اوقوم او دهرعجمي ژبه په خلقو کې داسې علماء پیدا سول کومو چې دقرآن اوسنت تعلیمات په خپلو قومي ژبو کې ډیر په آسانۍ سره ورسول او د رسول دقوم په ژبه کې چې دلیږلو کوم حکمت وو هغه حاصل سو .
دآیت په آخر کې فرمايي چې مونږ دخلقو دآسانۍ دپاره خپل رسولان د دوی په ژبه کې څکه ولیږل چې زمونږ احکام دوی ته ښه ایزده کړي اوښه یې په پوه کړي . لیکن هدایت اوګمراهي بیاهم دچا په وس کې نه ده دالله ﷻ په قدرت کې ده ، هغه چاته وغواړي په ګمراهۍ کې ساتي اوچاته چې وغواړي هدایت ورته کوي هغه لوی قوت او حکمت والا دی .

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اَنْ اَخْرِجْ

او لیږلی وو مونږ موسیٰ ؑ دخپلو نخښو سره چې وباسه

قَوْمَكَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۙ وَذَكِّرْهُمْ بِاَيّٰىمِ

خپل قوم دتیارو څخه رڼا طرف ته ، اویادې کړه دوی ته ورځې

اللّٰهِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ۝۵ وَاِذْ قَالَ

دالله ، خامخا په دې کې نښانې دي هغه لره کوم چې صبر کوونکې شکر ګذار دی ، اوکله چې وویل

مُوْسٰى لِقَوْمِهِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ اَنْجٰىكُمْ مِّنْ

موسیٰ ؑ خپل قوم ته یاد کړې دالله ﷻ احسان په خپل ځان کله چې يې خلاص کړاست تاسې .

Maktaba Tul Ishaat.com

اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ وَيُذَبِّحُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ

دفرعون دقوم څخه چې رسولو به يې تاسې ته بد عذاب او ذبح کول به يې ستاسې زامن

وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ۭ وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَاۗءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ۝۶

او ژوندې به يې پريښوول ستاسې لوڼې او په دې کې مدد وسو ستاسې درب دطرف څخه لوی.

وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكُمْ لَىِٕنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ وَلَىِٕنْ كَفَرْتُمْ

او هرکله چې واورو له ستاسې رب که احسان ومنئ نو زيات به درکړم تاسې ته او که ناشکرې وکړئ

اِنَّ عَذَابِيْ لَشَدِيْدٌ ۝۷ وَقَالَ مُوْسٰٓى اِنْ تَكْفُرُوْٓا اَنْتُمْ وَمَنْ

نو خامخا زما عذاب سخت دی، او وويل موسیٰ ؑ که چيرې کفر وکړئ تاسې او کوم خلق چې

فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ حَمِيْدٌ ۝۸

په مځکه کې دي ټول نو بيشکه الله بې پرواه دی ستايل سوی.

تفسير: اومونږ موسیٰ ؑ دخپلو نخښنو سره وليږئ چې خپل قوم (دکفر اوګناهونو دتيارو څخه) را وباسه د ايمان اوطاعت) درڼاطرف ته يې راوله او دوی ته دالله ﷻ معاملې (دنعمت اوعذاب) وريادې کړه بيشکه په دې معاملوکې عبرتونه دي دهر صابر شاکر دپاره (څکه چې نعمت يادکړي شکر وکړي اوبيا دنعمت ليرې کيدل او زوال چې يادکړي نو په آئنده احادثو په صبر وکړي) اوهغه وخت يادکړه کله چې (زمونږ ددې لوړ ارشاد موافق) موسیٰ ؑ خپل قوم ته وفرمايل چې تاسې دالله ﷻ انعام پرخپل ځان باندې يادکړئ کله چې يې تاسې ته دفرعونيانو څخه نجات درکړی کوموچې تاسې ته سخت تکليفونه رسول او ستاسې زامن به يې ذبح کول اوستاسې ښځې يې (يعنې انجونې کومې چې به لوئيدې اوښځې کيدې به) ژوندي پريښودې (چې کار اوخدمت ورڅخه واخلې نو دا هم په مثل دذبحې يو عذاب وو) اوپه دې (مصيبت اونجات دواړو) کې ستاسې درب دطرف څخه يولوی امتحان دی (يعنې په مصيبت کې بلا وه او په نجات کې نعمت وو اوبلاء او نعمت دواړه دبنده دپاره امتحان دی. نو په دې کې حضرت موسیٰ ؑ د أيام الله يعنې دنعمت او زوال تذکير وفرمايې) اوموسیٰ ؑ دا هم) وفرمايل چې (ای زماقومه) هغه وخت يادکړئ کله چې ستاسې رب (زماپه ذريعه تاسې ته خبر درکی چې که (زمانعمتونه واورئ) تاسې شکر وکي نوتاسې ته به (ياپه دنياکې هم ياپه آخرت کې خوخامخا) زيات نعمت درکړم اوکه تاسې (دا نعمتونه واورئ) او ناشکرې وکړئ. نو (پوهه سئ چې) زماعذاب ډيرسخت

Maktaba Tul Ishaat.com

دئ (په ناشکرئ کې ددې احتمال دی) اوموسی ﷺ دا هم وفرمايل چې که تاسې او دټولې دنياخلق ټول په جمع ناشکري وکړئ نو الله ﷻ (ته هيڅ نقصان نسته ځکه چې هغه) بالکل بې حاجته (اوپه خپل ذات کې) دستايل سوو صفتونو مالک دی (بل ته د احتياج هلته ځه احتمال نسته په دې وجه دالله ﷻ دضرر هم ځه احتمال نسته اوتاسې خپل ضرر آوريدلی دی ، اِنَّ عَذَابِیْ لَشَدِيْد : په دې وجه شکر کوئ ناشکري مه کوئ)

(معلومات اومسئلې)

په اولنی آيت کې ذکر دي چې مونږ حضرت موسی ﷺ ته خپل آيتونه ورکړل ومولېږې چې دې خپل قوم دکفر اوګناهونو دتيارو ځخه د ايمان او اطاعت رڼا ته راولی .
دلفظ دآيتونو ځخه دتورات آيتونه هم مراد کيدای سی چې د دوی دنازلولو مقصد دحق رڼاخپرول وو او دآيتونو نوري معنی معجزي هم راځي ، هغه هم دلته مرادکيدای سی ، چې حضرت موسی ﷺ ته الله ﷻ نهه (۹) معجزي ورکړي وي ، په دې کې دهمساځخه مارجوړيدل او دلاس روښانه کيدل ځوځايه په قرآن کريم کې ذکر دي چې دآيتونوځخه معجزې مراد واخيستل سی . نومطلب به دا وي چې حضرت موسی ﷺ ته داسې ښکاره معجزي ورکړل سوي اوليږل سوي وي چې ددې دليدو ځخه وروسته يو شريف اوپوه انسان په خپله نافرماني او انکار قائم نه سی پاته کيدای .
يوه نکته : په دې آيت کې لفظ دقوم راغلی دی چې خپل قوم دتيارو ځخه رڼاته راوله . ليکن دا مضمون ددې سورة په اول آيت کې نبی کريم ﷺ ته په خطاب کولوکې بيان سوی دی . نوهلته دقوم پرځای لفظ دناس استعمال سوی دی ، لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ اِلَی النُّوْرِ : په دې آيت کې اشاره ده چې دحضرت موسٰی ﷺ نبوت اورسالت صرف دخپل قوم بنی اسرائيل اومصري قومونو طرف وو او دنبی کريم ﷺ رسالت اونبوت دټولې دنيا دانسانانو دپاره دی . بيا ارشادفرمايي ، وَذَكِّرْهُمْ بِاَيّٰمِ اللّٰهِ : يعنی حق تعالی ﷻ حضرت موسٰي ﷺ ته حکم وکي چې خپل قوم ته ايام الله وریاد کړه .
ايام الله : ايام: ديوم جمع ده چې مشهوره معنی يې ورځ ده لفظ د (ايام الله) د دوو معانيو دپاره ويل کيږي او دواړي دلته مراد کيدای سی اول هغه خاص ورځ په کوموکې چې جنګ يا انقلاب راغلي وي . لکه دبدر، اُحد ، احزاب اوحُنين وغيره جهادونو واقعات ياپرتيرو امتونو دعذاب نازليدو واقعات دي چې په دې کې لوی لوی قومونه نيست او نابود سول . په دې صورت کې د ايام الله يادولو ځخه ددې قومونو دکفر دبد انجام ځخه بيرول او خبردارول به وي .
دوهمه معنی د ايام الله دالله ﷻ دنعمتونو او احسانونو هم راځي . نو ددې ديادولو مقصد به دا وي چې شريف انسان ته کله ديومحسن احسان وریادکړل سی نو هغه دده دمخالفت اونافرماني ځخه وشرميږي .
دقرآن مجيد داصلاح طريقه په عام طور سره دا ده چې کله يوحکم ورکوي نو ددې سره په دې حکم دعمل اسانولو تدبيرونه هم ښودل کيږي . دلته په اوله جمله کې حضرت موسی ﷺ ته دا حکم ورکړل سوی دی چې دالله ﷻ آيتونه واوروه يامعجزي ورښيه اوخپل قوم دکفر دتياروځخه راوباسه او د ايمان رڼاته يې راوله ددې تدبير يې په دې جمله کې دا ارشاد وفرمايي چې دنافرمانو پر سيده لار د را وستو

Maktaba Tul Ishaat.com

دوه تدبيرونه دي يو دسزا څخه بيرول دويم دنعمتونو او احساناتو وريادول او دفرمانبرداري طرف ته بي رابلل په جمله (ذَكِّرْهُمْ بِأَيَّامِ الله) کي دا دواړه شيان مراد کيداى سي چي دتيرو امتونو دنافرمانيو بد انجا پر دوى راتلونکي عذاب اوپه جهاد کي د دوى قتليدل يا ذليل او خوار کيدل دوى ته وریاد کړه چي دوى عبرت حاصل کي او ځان ورڅخه وساتي دغه شان پردى قوم چي کوم دالله ﷻ نعمتونه شپه او ورځ وربېږي اوکوم مخصوص نعمتونه چي پرهره موقع د دوى دپاره نازل سوي دي مثلاً په بيابان دتيه کي د دوى پر سرونو د ورځي سايه دخوراک دپاره دمَنّ او سلوى نازليدل ، د اوبو ضرورت سو نو د ډبري څخه دچينو وغيره راوتل دوى يادکړه دخداى ﷻ دفرمانبرداري اوتوحيد طرف ته يې راوبله .

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ : په دى کي دآيتونو څخه مراد نخښي او دليلونه دي اوصَبّار دصبر څخه دمبالغى صيغه ده چي معنى يې ده ډير صبرکوونکى اوشکور دشکر دمبالغي صيغه ده چي معنى يې ده ډير شکر ګذار. دجملى معنى دا ده چي ايام الله ﷻ يعنى تري واقعي برابره خبره ده که هغه کوم چي دمنکرانو دسزا اوعذاب متعلق وي يا دالله ﷻ دکامل قدرت اوبالغ حکمت لوى نخښي او دليلونه دي دهغه چا دپاره چي ډير صبر کوونکى او ډير شکر کوونکى وي .

مطلب دا دى چي دا ښکاره نخښي او دليلونه که څه هم دهر يوه غورکوونکى دهدايت دپاره دى . مګر بدنصيبه کفارپه دى کي غور اوفکر ګرسره نه کوي ددى څخه هيڅ فائده نه سى پورته کولاى ، فائده صرف هغه خلق ورڅخه پورته کولاى سى کوم چي صبر اوشکر دواړه کوي . مراد ددى څخه مومنان دي ځکه چي بيهقي په روايت دحضرت انس ﷺ نقل کړى دى چي نبى کريم ﷺ فرمايي چي د ايمان دوې برخي دي نيم صبر او نيم شکر دى (مظهرى)

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايي چي صبرنيم ايمان دى اوپه صحيح مسلم اومسندِاحمدکي په روايت دحضرت صهيب ﷺ ذکر دى چي نبى کريم ﷺ فرمايلي دي چي دمومن هرحال خير او خير او نيکي او نيکي ده ، او دا خبره ماسوا دمؤمن څخه دبل چانصيب نه ده . ځکه چي مومن ته که يو راحت نعمت يا عزت ورکول کيږي . نو دى پردى باندى دالله ﷻ شکر ګذار وي کوم چي دده دپاره په دين او دُنياکي دخير اوګټى سامان وي (په دنياکى خو دالله ﷻ دوعدى مطابق نور زياتيږي اوقائم پاته کيږي اوپه آخرت کي دده دشکر لوى اجر ده ته ورکول کيږي . اوکه مومن ته څه تکليف يامصيبت وررپيښ سى نودى پردى صبرکوي ددى صبر په وجه سره دغه مصيبت هم دده دپاره دنعمت او راحت سبب سى (په دنياکى داسى چي صبرکوونکو ته دالله ﷻ ملګرتيانصيب کيږي دقرآن ارشاد دى ، إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ او الله ﷻ چي دچاسره وي آخر دده مصيبت راحت سره بدل سى اوپه آخرت کي داسى چي دصبر لوى اجر دالله ﷻ په نزد بې حسابه دى . لکه چي دقرآن شريف ارشاد دى ، إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ لنډه دا ده چي دمومن يوحال هم بد نه وي ښه خو يي هم ښه وي ، ليکن په غورځيدوکى هم دي ښه پورته کيږي او په روانيدو کى جوړيږي .

نه شوخى چل سکى باد صبا کى بگړنى مين بهى زلف اُس کى بنا کى

Maktaba Tul Ishaat.com

بادصباشوخي كوله چي دمحبوب زلفي خراب كړي ليكن ده چي څومره خرابى كړى هغومره هغه زياتى
ښائسته ښكاره سوى .
ايمان هغه دولت دى كوم چي مصيبت اوتكليف هم په راحت اونعمت بدلوى . حضرت ابو درداء ﷺ
فرمايي چي ما دنبى كريم ﷺ څخه او ريدلي دي چي الله ﷻ حضرت موسى ﷺ ته وفرمايل چي زه ستا څخه
وروسته يو داسى امت پيداكوم چي كه د دوى د زړه مراد پوره سى او د منشاء مطابق يې كار وسى نو
شكر به ادا كوي اوكه د دوى دخواهش اومرضي څخه خلاف ناخوښه او نارضا صورتِ حال ورپيښ سى
نو دا به دثواب په ذريعه وګڼي صبر به كوي او دا هوښيار تيار او بردبادري به د دوى دخپل ذاتي عقل
اوحل نتيجه نه وي بلكه مونږ به دوى دخپل علم اوحلم يوه حصه ورعطا كړو (مظهري)
دشكر دحقيقت خلاصه دا ده چي دالله ﷻ وركړي نعمتونه دهغه په نافرماني اوحراموكارونوكى خرڅ نه
كړي اوپه ژبه سره هم دالله ﷻ شكراداكوي اوخپل عملونه اوكارونه هم دهغه دمرضى مطابق جوړكړي .
او دصبرخلاصه دا ده چي پرخلاف طبع كارونو باندى پريشانه نه وي اوپه خپلو خبرو اوكارونوكى
دناشكرى څخه ځان وساتي او دالله ﷻ درحمت په دنياكى هم اميدوار وي اوپه آخرت كى دصبر دلوى
اجر يقين ساتي .
په دوهم آيت كى دتير مضمون زيات تفصيل دى چي حضرت موسى ﷺ ته حكم وركړل سو چي دى خپل
قوم بنى اسرائيلوته دالله ﷻ دا خاص نعمت وريادكړي چي دحضرت موسى ﷺ څخه مخكى فرعون
دوى په ناجائز طور سره غلامان جوړكړى وه اوبيا ددى غلامانو سره هم د انسانيت سلوك نه وو. د دوى
هلكان به يې دپيداكيدو سره قتلول اوصرف انجونى به يې دخپل خدمت دپاره پريښودي دحضرت
موسى ﷺ د راتلو څخه وروسته دوى ته الله ﷻ دفرعون ددى عذاب څخه نجات وركي .

(دشكر اوناشكرى نتيجي)

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ : لفظ دتاذن د اذن اطلاع وركولو او اعلان
كولو په معنى كى دى ، مطلب دآيت دا دى چي دا خبره ديادولو ده چي الله ﷻ دا عام اعلان فرمايلى دى
چي كه تاسى زما دنعمتونو شكر ادا كي چي دغه تاسى زما په نافرمانيو اوناجائزو كارونو كى خرڅ نه
كي او دخپلو عملونو اوكارونو مو زما درضا مطابق د جوړولو كوشش وكي نو زه به دغه نعمتونه نور
زيات كړم دا زياتوالى دنعمتونو په مقداركى هم كيداى سى او ددى په باقي اوهميشه پاته كيدوكى هم
، نبى كريم ﷺ فرمايلي دي چي دكوم سړي دشكر اداكولوتوفيق وسو ، دى به هيڅكله په نعمتونوكى
دبركت او زياتوب څخه محرومه نه سى (روايت كړى دى ابن مردويه د ابن عباس ؓ څخه . مظهرى)
او فرمايي چي كه تاسى زمادنعمتونو ناشكري وكي نو زماعذاب هم سخت دى دناشكرى مطلب دا دى
چي دالله جل جلاله نعمتونه دهغه په نافرماني او ناجائزو كارونوكى خرڅ كي يا دده په فرضو او واجبو
كى سُستي وكي او دنعمت دناشكري سخت عذاب په دنياكى هم كيداى سى . چي دا نعمت ورڅخه
ليرې سى ياپه داسى مصيبت كى ګرفتار سى چي دنعمت څخه فائده وانخستل سى او په آخرت كى به
هم په عذاب كى ګرفتار وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته داخبره دیادولو قابله ده چی په دی آیت کی حق سبحانه وتعالی دشکرگذارو دپاره خو داجر اوثواب او دنعمت دزیاتوالی وعده اوهغه یی هم په لفظ دتاکید سره فرمایلي ده (لازیدنکم) لیکن ددی په مقابله کی دناشکري کوونکو دپاره یی داونه فرمایل چی (لاعذبنکم) یعنی چی زه به تاسی ته خامخاعذاب درکرم بلکه صرف په دومره فرمایلو یی وبیرول چی زماعذاب هم چی چاته ورسیږي هغه ډیر سخت دی په دی خاص تعبیر کی اشاره ده چی دهریوناشکره په عذاب کی گرفتاریدل څه ضروري نه دی دمعافی هم امکان سته.

وَقَالَ مُوسٰی اِنْ تَكْفُرُوا اَنْتُمْ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ جَمِيعًا فَاِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ : یعنی حضرت موسٰی ﷺ خپل قوم ته وفرمایل چی که تاسی اوڅومره خلق چی په مځکه کی دی دغه ټول په جمع سره دالله ﷻ دنعمتونو ناشکري شروع کي. نوتاسی یادساتئ چی په دی کی دالله ﷻ هیڅ نقصان نسته. هغه دټولو دحمد اوثنا اوشکر او ناشکری څخه بې حاجته او بالاتر دی او هغه په خپل ذات کی حمید یعنی مستحق د حمد دی، دده حمد که تاسی ونه کي. نو دالله ﷻ ټولي ملائکي او دکائناتو ذره ذره یې کوي.

دشکر فائده چی څه ده هغه ستاسی دپاره ده په دی وجه دشکر گذاری تاکید دالله ﷻ دطرف څخه څه دخپلي فائدی دپاره نه دی بلکه د رحمت په سبب سره یې تاسی ته دفائدي رسولو دپاره کړی دی.

اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ ۛ وَالَّذِيْنَ مِنْ

ایا نه دی راغلی تاسی ته خبر دهغو خلقو کوم چی مخکې وو تاسی څخه قوم دنوح اوعادیان اوثمودیان او کوم چی

بَعْدِهِمْ ۛ لَا يَعْلَمُهُمْ اِلَّا اللّٰهُ ۗ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ

د دوی څخه وروسته راغلل هیچاته د دوی خبر نسته ، مګر الله ﷻ ته راغلل دوی ته د دوی رسولان په نخښو سره

فَرَدُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ فِيْٓ اَفْوَاهِهِمْ وَقَالُوْٓا اِنَّا كَفَرْنَا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ

پس کښیښودل دوی خپل لاسونه په خپلو خلوکی او وې ویل مونږ نه منو کوم چی تاسی په رالیږل سوی

بِهٖ وَاِنَّا لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُوْنَنَآ اِلَيْهِ مُرِيْبٍ ۝۹ قَالَتْ رُسُلُهُمْ

یاست او مونږ ته خو شک دی په دی لاره کی کومی ته چی تاسی مونږ رابولی په تردد کی اچونکی وویل د دوی

اَفِي اللّٰهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ يَدْعُوْكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُمْ

رسولانو آیا په الله کی شک دی چاچی جوړ کړی دی آسمانونه او مځکی ، هغه تاسی رابولی چی وبخښی تاسی ته

مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ قَالُوْٓا اِنْ اَنْتُمْ

څه گناهونه ستاسی او وروسته کړی تاسو دیوی وعدی پوری چی مقرر سوی ده ، وی ویل چی تاسی خو زمونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ؕ تُرِيْدُوْنَ اَنْ تَصُدُّوْنَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ

په شان بنیادم یاست ، تاسو غواړئ چې منع کړئ مونږ دهغو شیانو څخه دکومو چې عبادت کوي

اٰبَآؤُنَا فَاْتُوْنَا بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۰﴾ قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ اِنْ

زمونږ پلا نیکه پس راوړئ څه سند ښکاره ، وویل دوی ته رسولانو د دوی

نَّحْنُ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَمُنُّ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ

مونږ خو دغه شان بنیادم یو لکه تاسو لیکن الله احسان کوي په خپلو بندګانو کې په چا چې غواړي

عِبَادِهٖ ؕ وَمَا كَانَ لَنَآ اَنْ نَّاْتِيَكُمْ بِسُلْطٰنٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ

، او مونږ کار نه دی چې راوړو تاسو ته سند مګر د الله ﷻ په حکم سره

وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَمَا لَنَآ اَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى

او په الله ﷻ باندې تکیه په کار ده ایماندارو لره ، او مونږ له څه سوي دي چې تکیه نه کوو په

اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنَا سُبُلَنَا ؕ وَلَنَصْبِرَنَّ عَلٰى مَآ اٰذَيْتُمُوْنَا ؕ وَ

الله ﷻ باندې او هغه ښودلې دي مونږ ته زمونږ لارې او مونږ به صبر کوو په ازار کوم چې تاسو مونږ ته راکوئ ،

عَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۱۲﴾ ع وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

او په الله ﷻ تکیه په کار ده تکیه کوونکو لره ، او وویل کافرانو

لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُمْ مِّنْ اَرْضِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا ؕ

خپلو رسولانو ته چې مونږ به وباسو تاسي دخپلې مځکې څخه یا به واپس سئ په دین زمونږ کې

فَاَوْحٰٓى اِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ

پس حکم ولیږی دوی ته د دوی رب ، چې مونږ به هلاك کړو دا ظالمان ، او اباد به کړو تاسي

Maktaba Tul Ishaat.com

الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِهِمْ ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِيْ وَخَافَ

په دې مځکه کې د دوی څخه وروسته دا رسیږي هغو ته کوم چې بیریږي ددریدو څخه زما په مخکې

وَعِيْدِ ﴿۱۴﴾ وَاسْتَفْتَحُوْا وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۱۵﴾

او بیریږي زما دعذاب دوعدې څخه او فیصله وغوښته پیغمبرانو او نامراده سو هر یو سرکش عنادګر.

لنډتفسیر: (ای دمکې کفارو) آیاتاسی ته دهغوخلقو (دواقعاتو) خبر (که څه هم اجمالاًصحیح) نه دی رسیدلی کوم چې ستاسی څخه مخکې تیر سوی دي یعنی قوم دنوح ﷺ او عادیان (قوم دهودﷺ) او ثمودیان (قوم دصالح ﷺ) اوکوم خلق چې د دوی څخه وروسته راغلي دي کومو (چې تفصیلی حالات) چې بغیر دالله ﷻ څخه څوک نه پیژني (څکه چې ددی حالاتو تفصیلاتو لیکل اوپه نقل کی نسته اوهغه واقعات دا دي چې) د دوی پیغمبرانو دوی ته دلیلونه راوړل پس په دغو قومونو (کی چې کوم کفار وه دوی) خپل لاسونه ددغو پیغمبرانو په خُلوکی ورکړل (یعنی منل خو پریږده دا کوشش یې کوي چې دوی خبره لاهم ونه کړي) او وې ویل چې کوم حکم تاسی (په خپل زعم) راوړی دی (یعنی توحید او ایمان) مونږ ددی څخه منکر یو او کوم طرف ته چې ته مونږ غواړی (یعنی دغه توحید او ایمان ته) مونږ خو دده څخه ډیر په شک کی یو کوم چې مونږ یې په تردد کی اچولی یو (مقصود ددی څخه دتوحید او رسالت دواړو څخه انکار دی دتوحید څخه خو ظاهر دی او د رسالت څخه په ،تدعوننا:کی چې ددی مطلب دا سو چې تاسې دخپل طرف څخه دتوحید دعوت راکوی دالله ﷻ دطرف څخه مامورہ اوراليږي سوی نه یاست) دی پیغمبرانو (ددی خبري په جواب کی) وویل (تاسی ته) دالله ﷻ په باره کي (یعنی دده په توحیدکي) شک (اوانکار) دی کوم چې دآسمانونو او مځکو پیداکوونکی دي (یعنی ددی شیانو پیداکول په خپله دده د هستي دلیل دی او دده د یووالی، بیاسره ددی دلیل څخه شک کول او دتعجب خبره ده او تاسی چې د توحید ددعوت په مستقل طور سره ماته نسبت کوئ دهم محض غلطه ده. که څه هم توحید په وجه دحق والی ددی قابل دی چې که څوک په خپله رایې سره هم ددی دعوت ورکوي نو هم په کار ده مګر په محل جنګ کی خو زمادعوت دالله ﷻ په حکم سره دی پس) دغه تاسی (دتوحید طرف ته) رابولی چې (ددی دقبلولو په برکت سره) ستاسی (تیر) ګناهونه معاف کي او (ستاسی دعمر) معیني مودی پوری تاسی ته (په خیر او خوبي سره) ژوند درکړی (مطلب دا دی چې توحید علاوه ددی څخه چې في نفسه حق دی ستاسی دپاره په دواړه جهانه نفع مند هم دی او په دی جواب کی د دواړو کارونو متعلق جواب وسو دتوحید متعلق هم (أفي الله شک) الخ او درسالت متعلق هم په (یدعوکم) کی لکه چې دترجمی دتقریرڅخه ظاهره ده) بیا دوی (دوباره د دواړو کارونو متعلق خبري شروع کړي او) وې ویل چې تاسي (پیغمبران نه یاست بلکه) محض انسانان یاست لکه چې مونږ یو (او انسان رسول نه سی کیدای تاسی چې څه وایاست دغه دالله ﷻ دطرف څخه نه دی بلکه) تاسی (په خپلی رایې سره) داسی

Maktaba Tul Ishaat.com

غواړی چی زمونږ پلار نیکه دکوم شي عبادت کوي (یعنی بُت) ددی څخه مونږ منع کړی پس (که درسالت دعوی کوي نوعلاوه ددی دلیلونو واضحو څخه نوري) صفا معجزي وښیاست (چی ددی تولوڅخه زیاتي واضحي وي په دی کی پرنبوت خو کلام ظاهر دی اوپه ،یعبد ابآؤنا: کی پرتوحید باندی کلام کولو ته اشاره ده چی ددی مطلب دا سو چی دشرک دحقوالی دلیل دا دی چی زمونږ مشرانو دا کوي) د دوی رسولانو (ددی په جواب کی) وویل چی (ستاسی دتقریر څو جزئونه دي دتوحیدڅخه انکار اودلیل یې فعل دپلارانو انکار دنبوت مطالبه ددلیل واضح علاوه دواضحو دلیلونو مخکنیو څخه نو د اول کارمتعلق به (فاطرالسموات واالارض) کی جواب وسو ځکه چی دعقلي دلیل په مقابله کی رسم او رواج څه شي نه دی د دویم کارمتعلق مونږ خپل بشریت منو چی واقعی) مونږ هم ستاسی په شان انسانان یو لیکن (په بشریت اونبوت کي څه منافات نسته ځکه چی نبوت دالله ﷻ یو اعلی درجه احسان دی او) الله ﷻ (لره اختیار دی چی) په خپلو بندګانو کی پرچاچی غواړي (دغه) احسان فرمایي (او د احسان دغیر بشر سره دخاصوالی څه دلیل نسته) او (د دریم کال متعلق دا ده چی د دعوی دپاره چی په دی کی دنبوت دعوت هم شامله ده . نفس دلیل او مطلق بینه چی دنبوت ددعوی په صورت کی معجزه وي خامخاپه کار دی کوم چی پیش سوی دی پاته سو دلیل او معجزه خاص کوم چی تاسی په صفادلیل سره تعبیر کوی نو اول خو دمناظري دقاعدو موافق ضروري نه دی دویم) دا خبره زمونږ په قبضه کی نه ده چی مونږ تاسی ته څه معجزه وښودل سوه بغیر دخدای دحکم څخه (نوستاسی دتولو شبهو جواب وسو بیاکه پر دی سربیره هم تاسو یې نه منئ اومخالفت کوی نو خیر مونږ ستاسی دمخالفت څخه نه بیرېږو بلکه په الله ﷻ باور کوو) اوپه الله ﷻ باندی تولو ایماندارو لره باور کول په کار دی (چونکه مونږ هم ایماندار یو او ایمان متقضی دی دتوکل نو په دی وجه مونږ هم دا اختیاروو) او مونږ په الله ﷻ باندی د بروسي نه کولو دپاره کوم کار باعث کیدای سی حال دا دی چی هغه (زمونږ په حال لوی فضل کړی دی چی) مونږ ته یې زمونږ (د دوارو جهانو دنفع) لاري وښودي (دچا چی دومره لوی فضل وي پر هغه خامخا تکیه کول په کار دي) او (دبهرني ضررڅخه خو دغسی به فکره سو پاته سو داخلی ضرر چی ستاسی دمخالفت غم اوخفګان دي نو) تاسی چی (په عناد اوخلاف سره) څه آزار مونږ ته رسوي مونږ به پردی صبر کوو (نو په دی سره هم دغه توکل دی) او پر الله ﷻ باندی تکیه کوونکو لره (همیشه) تکیه ساتل په کار دي او (ددی تولو حجتونو تمامیدو څخه وروسته هم کفار نرم نه سول . بلکه) دی کفارو خپلو رسولانو ته وویل چی مونږ به تاسی دخپلي مځکي څخه وباسو یا به داسي وسی چی تاسی به زمونږ مذهب ته بیرته راسی (اوبیرته راتلل یې ځکه وویل چی دپیغمبرکیدوڅخه مخکي د دوی دسکوت څخه دوی دا ګڼله چی د دوی عقیده هم زمونږ په شان وه) نو دی رسولانو ته د دوی رب (دتسلی دپاره) وحی نازله کړه (چی دا بې چاره به ستاسی څخه څه وباسی) مونږ به دا ظالمان خامخاهلاک کوو او د دوی (هلاک کولو) څخه وروسته به تاسی په دی مځکه کی آباد وساتو (او) دا (وعده د ابادولو څه ستاسی سره خاصه نه ده بلکه) دهر هغه سړي دپاره (عامه) ده کوم چی زمایه مخکي د دریدو څخه بیرېږي او زمادعذاب دوعدو څخه بیرېږي (مراد دا دی چی څوک مسلمان وي چی نخښنه یې دقیامت

Maktaba Tul Ishaat.com

ښځه او دعذاب ښځه بيره ده دټولو دپاره دا وعده دعذاب ښځه دنجات وركولو عامه ده) او (پيغمبرانو
چې كوم دا مضمون كفارو ته واورئ چې تاسي ددليلونو فيصله ونه منله اوس په عذاب سره فيصله
كيدونكې ده يعنې عذاب راتلونكې دې نو) كفار (چې په جهل مركب اوعناد كې ډوب وه په دې هم ونه
بيريدل بلكه په كمال بې باكي سره هغو) فيصله وغوښتله (لكه چې دآيت ، فَاْتِنَابِمَاتَعِدُنَا : او ددې
دمثالونو ښځه معلوميږي) او (كله چې دغه فيصله راغله نو) ټومره سركښان (او) ضديان خلق چې وه
هغوى ټول (په دې فيصله كې) نامراده سول (يعنې هلاک سول اوښه چې د دوى مراد وو چې ځانونه يې په
حقه ګڼل فتح اوكامراني يې غوښتله هغه حاصله نه سوه)

مِّنْ وَّرَآىِٕهٖ جَهَنَّمُ وَيُسْقٰى مِنْ مَّآءٍ صَدِيْدٍ ﴿۱۶﴾ يَّتَجَرَّعُهٗ وَلَا يَكَادُ يُسِيْغُهٗ

وروسته ددې ښځه دوزخ دى اوڅښل كيږي به دوى ته اوبه دوينو زوو ، په غرپ غرپ به يې څښي اودمرئ

وَيَاْتِيْهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ؕ وَمِنْ وَّرَآىِٕهٖ

ښځه به يې نه سې تيرولى اوراځي به په دوى مرګ دهرطرف ښځه او دوى به مرى نه ، او ددې ښځه وروسته

عَذَابٌ غَلِيْظٌ ﴿۱۷﴾

عذاب دى سخت

لنډتفسير : (دكوم جبار اوعنيد چې لوړ ذكرسوى دى علاوه د دنيوي عذاب ښځه) ده ته په مخكې دوزخ
(عذاب يې راتلونكى) دى او ده ته به (په دوزخ كى) داسې اوبه څښلو ته وركول كيږي كومې چې به
وينې زوې وي (يعنې دوينو زوو په شان به وي) كومې چې به (د ډيرې تندي ښځه) غرپ غرپ كوي
څښي به او (د ډيري ګرمى او بدوالي ښځه به) دغاړې ښځه به يې دتيرولوهيڅ صورت نه وي او
دهر(خلور) طرف ښځه به پرده (سامان د) مرګ راځي او دى به په هيڅ شان سره مري نه (بلكه دغسې به په
عذابيږي) او (بيا داسې هم نه ده چې دا ذكر سوى عذاب به پر يو حالت وي بلكه) دا (سرې به دنور زيات
سخت عذاب سره (برابر) مخامخ كيږي (چې ددې سره به دعادت كيدو احتمال په كي دسره نه وي لكه
چې دا قول دى دالله ﷻ ، كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا)

مَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ اَعْمَالُهُمْ كَرَمَادِ

حال دهغو خلقو چې منكر سول درب خپل ښځه د دوى عملونه دي په شان دايرو

اِشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيْحُ فِيْ يَوْمٍ عَاصِفٍ ؕ لَا يَقْدِرُوْنَ مِمَّا كَسَبُوْا

چې سخته راسى په دې باندې هوا په ورځ دچاركى ، هيڅ به د دوى په لاس ور نه سې دخپلې

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلٰى شَىْءٍ ۭ ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ﴿١٨﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ خَلَقَ

گتی څخه ، دا ده گمراهی ډیره لیری ، آیا ته نه وینی چی الله جوړ کړی دی

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۭ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ

اسمانونه او مځکی په حقه سره ، که وغواړی نو لیری کړی تاسو او را به ولی

جَدِيْدٍ ﴿١٩﴾ وَّمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ ﴿٢٠﴾ وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ جَمِيْعًا

نور خلق ، او دا په الله څه گرانه نه ده ، او مخامخ به شی الله ته تول

فَقَالَ الضُّعَفٰۗؤُا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ

بیا به ووایی کمزوری لویی کوونکو ته مونږ ستاسی تابع وو پس آیا

اَنْتُمْ مُّغْنُوْنَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ۭ قَالُوْا لَوْ هَدٰىنَا

محفوظ به کړی مونږ دالله دڅه عذاب څخه څه قدری دوی به ووایی که هدایت کړی وی مونږ ته

اللّٰهُ لَهَدَيْنٰكُمْ ۭ سَوَاۗءٌ عَلَيْنَآ اَجَزِعْنَآ اَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِنْ

الله نو تاسو ته به مونږ کړی وای هدایت اوس برابره ده زمونږ په حق که فریاد کوو او که صبر کوو نسته مونږ لره

مَّحِيْصٍ ﴿٢١﴾ ع وَقَالَ الشَّيْطٰنُ لَمَّا قُضِيَ الْاَمْرُ اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ

خلاصون ، او وبه وایی شیطان هرکله چی فیصله سی تول کار بیشکه الله تاسی ته درکړی وه

وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدْتُّكُمْ فَاَخْلَفْتُكُمْ ۭ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِّنْ

رښتونی وعده ، او ما تاسی سره وعده وکړه بیا می دروغ کړه او زما په تاسی څه حکومت

سُلْطٰنٍ اِلَّآ اَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِيْ ۚ فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ وَلُوْمُوْٓا

نه وو ، مگر دا چی ما راوبللاست تاسی پس تاسی ومنله زما خبره پس مه ملامته کوی ما او ملامته کوی.
دهغه څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

أَنفُسَكُمْ مَا أَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَا أَنتُم بِمُصْرِخِيَّ إِنِّي كَفَرْتُ

خپل ځانونه ، نه زه ستاسو فریادته رسیدی سم او نه تاسی زما فریاد ته رسیدی سی ، زه منکر یم

بِمَا أَشْرَكْتُمُونِ مِن قَبْلُ إِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۲۲﴾

چی تاسی زه شریك جوړ کړی وم دوړاندی ،خامخاکوم چی ظالمان دی د دوی دپاره دی عذاب دردناك .

لنډتفسیر: (ددی کافرانو که دخپل نجات متعلق دا گمان وای چی زمونږ عملونه به مونږ ته نفع راکړي نو ددی قاعده کلیه دا واوره چی) کوم خلق دخپل پروردګار سره کفرکوي د دوی حالت په اعتبار دعمل دا دی (یعني د دوی دعملونو داسی مثال دی) لکه څه ایره چی وي (چی په التونوکی ډیره سپکه وي) کومه چی دتیزي سیلی په ورځ په تیزی سره هوا والوزوي (چی په دی صورت کي به ددغه ایري نوم اونخښه هم پاته نه سی دغه شان) دی خلقو چی کوم عملونه کړي وه ددی هیڅ حصه (یعني ډیره کمه نفع او اثر) به دوی ته حاصل نه سی (ددی ایري په شان به ضائع او برباد سی) دا هم ډیره لویه اوږده گمراهي ده (چی گمان یې وو چی زمونږ عمل نیک ونافع دی اوبیابښکاره سی بد او مُضر لکه عبادت دبتانو او یاغیر نافع وجه لکه آزادول دغلامانو اوصله رحمي اوچونکه دحق څخه ددی ډیر لیری والی دی په دی وجه وویل سوه نوپه دی طریقي سره خو دنجات احتمال پاته نه سو. اوکه د دوی دا گمان وي چی دقیامت وجود محال دی اوپه دی صورت کي دعذاب احتمال نسته نو ددی جواب دا دی چی) آیا (ای مخاطبه) تا ته دا خبره نه ده معلومه چی الله ﷻ آسمانونه اومځکي بالکل صحیح صحیح (یعني پرنفعو اومصلحتونو مشتمل) پیداکړي دي (اوپه دی سره دده قادروالی ظاهر دی نوهرکله چی دی قادرمطلق دی نو) که هغه وغواړي تاسي ټول به فناکړي اویوبل نوی مخلوق به پیداکړي او دا ده ته څه مشکله نه ده (نوهرکله چی نوی مخلوق پیداکول ورته آسان دی نوستاسي دوباره پیداکول ورته څه مشکل دی) او (که دا وسوسه مووي چی زمونږ مشران به مونږ محفوظ کي . نودهغه حقیقت واورئ چی دقیامت په ورځ به) ټول دخدای په مخکې پیش سی بیادکښته درجی خلق (یعني عوام اوتابعین) دلوی درجی خلقوته (یعني خواصو اومتبوعینو ته په طور دملامتیا او عتاب) به ووایي چی مونږ (په دنیاکی) ستاسي تابع وو (تردی چی ددین کومه لار تاسی مونږ ته وښوده پرهغه مونږ روان سو اوتن په مونږمصیبت دی) نو آیاتاسی دخدای دعذاب څه حصه زمونږڅخه لیري کولای سی؟ (یعني که بالکل مونه سی محفوظ کولای نوڅه قدری مو محفوظ کولای سی) دوی به (په جواب کی) ووایه چی (مونږ ستاسی څه محفوظ کولای سو. په خپله نه سو محفوظ کیدای البته) که الله ﷻ مونږ ته (یوه لار دمحفوظ کیدو) وښوولی نو مونږ به تاسی ته هم دغه لار در وښیو (او اوس خو) زمونږ دټولو په حق کی دواړه صورتونه برابر دي برابره خبره ده که پریشانه کیږو (لکه چی ستاسی پریشاني د ، فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا : څخه ظاهره ده او زمونږ پریشاني د ، لَوْ هَدَانَا اللَّهُ : څخه ظاهره ده) خواه که صبرکوو (په دواړو

Maktaba Tul Ishaat.com

حالتونوکی) زمونږ دمحفوظ کیدو هیڅ صورت نسته (نو ددی سوال اوجواب څخه دا معلومه سوه چی دکفر دطریقی مشران به هم دخپلو تابعدارانو هیڅ په کار ورنه سی . په دی طریقه کی هم دنجات احتمال پاته نه سو) او(که د دوی تکیه وي چی دا معبودان دغیرالله به په کار راسی نو د دوی حال ددی قصي څخه معلومیږي چی) هرکله (په قیامت کی) تولی مقدمي فیصله سی (یعنی ایماندار جنت ته اوکافران دوږخ ته ولیږل سی) نو (دوږخیان به تول په شیطان پسي ورسی چی دی به هم هلته وي اوملامت به یې کړي چی کم بخته ته خو ډوب وی مونږ دی هم دځان سره ډوب کړو نو دغه وخت) شیطان به (په جواب کی) ووایي چی (تاسي ماپه ناحقه ملامتوی ځکه چی) الله ﷻ ستاسی سره (خومره وعدی کړی وي تولی رښتیاوعدي یې کړي وي (چې په قیامت کی به پرکفر هلاکت وي اوپر ایمان به نجات وي) اوماهم وعده ستاسی سره کړی ده (چی قیامت نسته او دا ستاسی طریقه دکفر دنجات طریقه ده) نومادغه وعدی ستاسی سره خلاف کولی (او دالله ﷻ د وعدو پر حقوالي او زماد وعدو پر باطلوالي قطعي دلیلونه قائم وه نوسره ددی تاسی زماوعده صحیح او دالله ﷻ وعده موغلطه وګڼله نودخپله لاسه موځانونه ډوب کړل او(که تاسی دا ووایاست چی آخررښتیني وعدی درواغ ګڼل او درواغ وعده دربنتیا ګڼلو سبب هم زه یم نو خبره دا ده چی واقعی زه دغولولو په مرتبه کی خو خامخاسبب سوم لیکن دی ته وګوری چی زما دغولولو څخه وروسته تاسی مختار واست که مجبوره نو ظاهره ده چی) زماپرتاسی هیڅ زور نه چلیدی بغیر ددی څخه چی ماتاسی (دګمراهی طرف ته) رابللی واست پس تاسی (په خپل اختیار) زماخبره ومنله (که تاسی نه منلی نو ماپه زوره تاسی نه سوی ګمراه کولی هرکله چی دا خبره ثابته ده) نو پرما(تول) ملامتیامه کوی (داسی چی ځان بالکل برې وګڼی) او (زیات) ځانونه ملامت کوی (ځکه چی اصل علت دعذاب کارستاسي دي اوزماکار خومحض سبب دی چی بعید اوغیر مستلزم دی . نو دملامت کولو جواب خو دا دی . اوکه ستاسی ددی خبرې څخه مطلب دا وي چی زمونږ مدد وکړه نو زه به دچا څه مدد وکړم په خپله په مصیبت کی اخته او د امدا د محتاجه یم لیکن پوهیږم چی څوک زمامددنه کولای سي، اونه زه ستاسی څخه دځان دپاره مدد غوارم . ځکه چی زیات مناسبت مي ستاسی سره دی بس اوس خو نه زه ستاسي مددګار کیدای سم اونه تاسی زمامددګار کیدای سی (البته که ماتاسی سره دشرک دا طریقه حق ګڼلای نوهم به مي ددی تعلق په وجه سره دکومک مطالبه کړی وای لیکن) زه په خپله ستاسی ددی کارڅخه بیزاره یم (او دا باطل ګنم) چی تاسی ددی څخه مخکې (په دنیاکی) زه (دخدای سره) شریک جوړولم (یعنی دبتانو وغیره دعبادت په باره کی به تاسی زما داسی حکم منی کوم منل چی خاصه دالله ﷻ دحکم ده . نو بتان شریک ګرځول په دی معنی سره شیطان شریک ګرځول دی نو زماستاسی سره هیڅ تعلق نسته اونه ستاسي دمدد غوښتلو څه حق سته پس) یقیناً دظالمانو دپاره دردناک عذاب (مقرر) دی (نو په عذاب کی پراته اوسئ مه زما دملامتولو څخه دنفع امید ساتی اونه دمدد غوښتلوڅخه کوم ظلم چی تاسی کړی دی دهغه خوند تاسی څکی . کوم چی ماکړی دی زه به یې څکم نو خبري پرېږدی، دا خلاصه سوه د ابلیس دجواب نو په دی سره دغیره الله معبودانو تکیه هم قطع سوه . ځکه چی کوم ددی معبودانو دعبادت اصل باني اومحرک دی اوپه حقیقت کی دغیرالله په عبادت

Maktaba Tul Ishaat.com

باندی زیات دی راضي وي . نوپه دی بناسره به دقیامت په ورځ په دوزخ کی دوزخیان دده سره سوال
اوجواب وکړي بل معبود غیرالله ته به هیڅ نه وايي . هرکله چی دی صفاجواب ورکړي دنورو ځخه به ځه
امید پاته سی . نو دکفارو دنجات ټولی طریقي بندي سوی اومقصود هم دا مضمون وو)

وَأُدْخِلَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي

اودا خل به کړل سی کومو خلقو چی ایمان راوړی وو ، اونیك عملونه یی کړی وو باغونوته چی بهیږي به لاندی

مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ ﴿٢٣﴾

دهغو ځخه نهرونه همیشه به وی په دی کی دخپل رب په حکم سره ملاقات به وی د دوی هلته په سلام سره

لنډتفسیر: اوکوم خلق چی ایمان را وړی اوهغوی نیک کار وکړي هغوی به داسی باغونو ته دا خل کړل
سی چی لاندی به یې نهرونه بهیږي (او) دوی به په هغوکی دخپل پروردگار په حکم سره همیشه همیشه
اوسیږي (او) هلته به دوی ته سلام په دی لفظ سره کول کیږي السلام علیکم (یعنی په خپل مینځ کی هم
او دفرښتو دطرف ځخه هم لکه الله ﷻ فرمایي ، إِلَّا قِيلًا سَلَامًا سَلَامًا : یاداسی فرمایي ، وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُونَ
عَلَيْهِمْ مِنْ كُلِّ بَابٍ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ : الایة)

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ

ته نه گوری چی ځنگه بیا نوی الله یومثال دخبری پاکی یوه درخته

طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ ﴿٢٤﴾ تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ

پاکه ددې چی بیخ یې مضبوط وی اوښاخونه یې په اسمان کی وی ، را وړی میوه خپله هر

حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ

وخت دخپل رب په حکم سره ، او بیانوی الله مثالونه دخلقو دپاره چی دوی

يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٥﴾

فکر وکړی .

لنډتفسیر: آیاتاته معلومه نه ده (یعنی اوس معلومه سوه) چی الله ځنگه (ښه او دموقعی) مثال بیان کړی
دی دکلمی پاکي (یعنی دکلمی دتوحید او دایمان) چی هغه مشابه ده دیوې پاکي درختي سره (مراد

Maktaba Tul Ishaat.com

ورڅخه دخرما درخته ده) چې ريښې يې (په مځکه کې دننه) ښې ښخې سوې وې او ددې ښاخونه پورته
خې (او) دغه (درخته) دخدای په حکم سره په هرفصل کې (يعنې هرکله چې ددې دفصل موسم راسی)
خپله ميوه ورکوي (يعنې ښه بار راوړي يوفصل يې هم نه خرابيږي دغه شان کلمه دتوحيد يعنې د. لا اله
الا الله: يوه ريښه ده يعنې عقيده ده چې دمومن په زړه کې مضبوطه ښخه ده او ددې ښاخونه دي يعنې
نيک عملونه کوم چې پر ايمان باندې مرتب کيږي کوم چې بارگاه دقبوليت ته آسمان طرف ته خيژي بيا
پردې دهميشه رضا ثمره مرتب کيږي) اوالله ﷻ (داقسم) مثالونه دخلقو (پوهولو) دپاره په دې وجه
بيانوي چې دغه (خلق په مقصودي معانيو) ښه پوه سی (ځکه چې دمثال څخه دمقصود ښه وضاحت
کيږي)

وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ اجْتُثَّتْ

او مثال | دگنده خبرې | په شان دگنده درختې دی | چې راختلې وی

مِن فَوْقِ الْأَرْضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٍ ﴿٢٦﴾ يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا

دمځکې په سر | هيڅ نه وی دی لره څه قرار ، مضبوطوی الله | ايماندارو لره

بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ۖ وَيُضِلُّ اللَّهُ

په مضبوطه خبره سره | په ژوند ددنيا کې | او په آخرت کې | او بې لارې کوی الله

الظَّالِمِينَ ۚ وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ ﴿٢٧﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَتَ

ظالمان ، | او کوی الله | څه چې وغواړی ، آيا تا ونه ليدل هغه چا چې بدل کې دالله احسان په

اللَّهِ كُفْرًا وَأَحَلُّوا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ ﴿٢٨﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا ۖ وَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿٢٩﴾

ناشکری او کښته يې کی خپل قوم کوردتباهی ته، چې جهنم دی داخل به سی دی ته او ډيربدځای دوسيدو دی

تفسير: اودگنده کلمي (يعنې دکفر اوشرک دکلمې) مثال داسې دی لکه يوه خرابه درخته چې وي
(مراد ورڅخه مرغونی ده) چې هم دمځکې دسرڅخه را کښل کيږي (او) ده لره (په مځکه کې) هيڅ قرارنه
وي (خرابه يې ورته وويل په اعتبار ددې دبوی اوخوند اورنگ يادې دميوې دبوی، خوند او رنگ دا
صفت دپاکې په مقابله کې سو او دلوړه څخه د را ايستلو مطلب دا دی چې ريښې ددې کښته په مځکه
کې نه وې تللې پرسرباندې وې دايې د ، أَصْلُهَا ثَابِتٌ : مقابل وفرمايل او ، مَا لَهَا مِن قَرَارٍ : يې ددې
دتاکيد دپاره وفرمايل او ددې دښاخونو پورته نه تلل اوميوه يې دکار نه کيدل ظاهره ده دا حال دکفر

Maktaba Tul Ishaat.com

دکلمی دی. چی که څه هم دکافرپه زړه کی ددی ريښی دي مګر دحق په مخکې ددی ورکيدل اومغلوب کيدل مشابه کيدل داسی دي لکه چی ريښي يې ګرسره وي نه. لکه ويلي دي الله ﷻ، حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ اوشايد چی د، مالها من قرار: دوضاحت څخه دکفر داورکيدل اومغلوبيت ښوول مقصود وي اوچونکه د دوی عملونه مقبول نه وي په دی وجه ګويا ددی درختي ښاخونه هم په فضاکی نه خپريږي اوچونکه د دوی پرعملونو باندی دالله ﷻ رضانه مرتب کيږي په دی وجه دميوي نستوالی هم ظاهر دی اوچونکه دقبول او رضاکی بالکل احتمال نسته په دی وجه يې دمشبه به په جانب کی دښاخونو اوميوي ذکرقطعاً پاته کړی دی. په خلاف دنفس کفر چی ددی ذکر په دی وجه وسو چی ددی وجود محسوس هم دی او دجهاد وغيره په احکامو کی معتبرهم دی، دا خو د دوارو مثالونه سول. مخ ته يې د اثر بيان دی چی الله ﷻ ايماندار ان په دی پخه خبره (يعنی دکلمه طيبه په برکت سره) په دنياکی اوپه آخرت کی (په دين او امتحان کی) مضبوط ساتي او (دکلمي پليتي په سپيره توب سره) ظالمان (يعنی کافران په دنيا او آخرت کی په دين او امتحان کی) ګمراه کوي او (دچاپه ثابت قدم ساتلو او دچاپه بې لاري کولوکی په زرګونو حکمتونه دي نو) الله ﷻ (په خپل حکمت سره) چی څه غواړي کوي. آياتاهغه خلق ونه ليدل (يعنی د دوی حال عجيبه دی) چاچی پر ځای دالله ﷻ دنعمت (دشکر کولو) کفر وکي (ددی څخه مراد دمکي کافران دي لکه په درمنثورکی دی دابن عباس ﷺ څخه) اوچاچی خپل قوم دهلاکت کور يعنی جهنم ته ورسوی (يعنی دوی ته يې هم دکفر تعليم وکي چې په دی سره به) هغوی دی ته (جهنم ته) داخل سی اوهغه د اوسيدو بدځای دی (په دی کی اشاره وسوه چی د دوی داخليدل به دقرار او دوام دپاره وي)

(معلومات او مسئلي)

ددی ذکر سوو آيتونو څخه مخکې په يو آيت کی الله ﷻ دکفارو دعملونو دا مثال بيان کړی دی چی دغه د ايرو په شان دي چی تيزه اوسخته هوا پر راسی نو ذري ذري يې په هوا کی خپري سی او ورک سی بيا يې جمع کول اوکار ورڅخه اخيستل نا ممکن وي.

مَثَلُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ أَعْمَالُهُمْ كَرَمَادٍ اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيحُ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍ: مطلب دا دی چی دکافرانو عملونه کوم چی په ظاهره ښه هم وي دغه هم دالله ﷻ په نزد مقبول نه دی، په دی وجه ټول بې کاره اوضائع دي. ددی څخه وروسته په ذکر سوو آيتونوکی يې اول دمومن او دده دعملونو يومثال ورکړی دی بيا دکفارو اومنافقانو دعملونو په اولني آيت کی يې دمومن او دده دعملونومثال ديوې داسی درختي سره ورکي چی تنه يې مضبوطه اولوړه وي او بيخ يې په مځکه کی لاندی تللي وي اوترمځکی لاندی دچينو په اوبو سيراب کيږي د ژورو ريښو په وجه سره دا درخته مضبوطه او محکمه وي چی دهوا په چپو نه سی لويدای او دمځکی دسطحي څخه دپورته تلو په وجه سره ددی ميوه دګندګی څخه پاکه صفا وي، دويم صفت ددی درختي دا دی چی ددی ښاخونه په لوړوالی کی د آسمان طرف ته وي دريم صفت ددی درختی دا دی چی ددی ميوه هر وخت په هرحال کی خوړل کيږي.

دا درخته کومه اوکوم ځای ده ددی متعلق دمفسرينو روايتونه مختلف دي خو زياته نږدي خبره دا ده چی دا دخرما درخته ده ددی په تائيد کی تجربه اومشاهده هم ده او دحديثونو د روايتونو څخه هم ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

تائید کیږي دخرما دتني مضبوطوالی اولوړوالی خو دمشاهدي شی دی . هر سرې یې پیژني ددی د ریښو په مخکه کی ترلیري پورې او ژوري ته رسیدل هم معلوم دی او ددی میوه هم په هر وخت اوپه هرحال کی خوړل کیږي، څه وخت چی ددی میوه په درخته کی ښکاره سی . نو دهغه وخت څخه تر پخیدو پورې په هرحال اوپه هر صورت کی ددی میوه په مختلفو طریقو سره دچکنیو اچارونو په طریقو سره یاپه نورو طریقو سره خوړل کیږي . بیادمیوې دپخیدو څخه وروسته ددی ذخیره هم ټول کال باقي پاته کیدای سی . سهار ماښام او شپه او ورځ په گرمي یخ . غرض په هر موسم او هر وخت کی کار ورکوي ددی درختي مغز هم خوړل کیږي . ددی څخه خوږ رس را ایستل کیږي . ددی دپاڼو څخه ډیر دفائدی شیان لکه چټائی او نور جوړیږي ددی هډوکی دحیواناتو خوراک دی . په خلاف دنورو درختو دمیوو څخه چی هغه په خاص موسم کی وي او بیا ختمیږي . ذخیره کولای یې هم نه سی اونه دهغو دهرشي څخه فائده اخیستلای سی .

اوترمذي ، نسائی ، ابن حبان اوحاکم دحضرت انس ﷺ په روایت نقل کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چی شجرة طیبة (دکومی ذکرچی په قرآن کریم کی دی) دخرمادرخته ده اوشجرة خبیثه دمرغونی درخته ده (مظهری)

اوپه مسند احمد کی په روایت دمجاهد ذکر دی چی حضرت عبدالله بن عمر ﷺ فرمایلي دي چی یوه ورځ موږ دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر وو . یوصاحب دوی ته دخرمادرختی گوده (مغز) راوړل . دغه وخت دوی صلی الله علیه وسلم دصحابه کرامو رضی الله عنهم څخه پوښتنه وکړه چی په درختوکی یوه داسی درخته هم سته کومه چی دمرد مومن مثال دی (او دبخاري په روایت کی دلته دا هم ذکر دی چی دوی صلی الله علیه وسلم وفرمایل چی ددی درختو پاڼې په یو موسم کی هم نه لویږي) وواياست هغه کومه درخته ده، ابن عمر ﷺ فرمایي چی زماپه زړه کی راغلل چی زه ووایم چی هغه دخرمادرخته ده مگر په مجلس کی ابوبکر ﷺ اوعمر ﷺ اونور مشران صحابه رضی الله عنهم موجود وه چی دوی مي خاموش ولیدل نو زما دخبرو جرات ونه سو بیاپه خپله نبی کریم ﷺ وفرمایل چی هغه دخرماوو درخته ده .

دمومن مثال ددی درختي سره د ورکولو یوه وجه دا ده چی په کلمه طیبه کی ایمان ددی ریښه ده چی ډیره مضبوطه اومستحکمه ده . ددنیاحادثي دا نه سی ښوررولای . دکاملو مومنانو صحابه رضی الله عنهم او تابعینو بلکه دهري زماني دپخو مومنانو داسی مثالونه څه کم نه دي چی د ایمان په مقابله کی یې نه د روح ورکولو پروا وکړه او نه دمال او نه دبل څه شي . دویمه وجه ددی پاکوالی او صفایی ده چی ددنیا دگندگیو څخه نه متاثره کیږي لکه پرلوړه درخته چی دمځکی دسطح دگندگی څه اثرنه کیږي . دا دوه صفتونه خو د ، اصلها ثابت : مثالونه دي . دریمه وجه دا ده چی لکه څنگه چی دخرما د درختي ښاخونه په پورته والی کی د آسمان طرف ته وي دمؤمن د ایمان ثمرات یعنی عملونه هم د آسمان ته پورته کول کیږي . په قرآن کریم کی دی ، الیه یصعد الکلم الطیب : یعنی الله ﷻ طرفته پورته کول کیږي پاکیزه کلمي، مطلب دا دی چی مومن دالله ﷻ ذکر اوتسبیح تهلیل قرائت وغیره کوي دا سهار اوماښام الله ﷻ ته پورته رسیږي څلورمه وجه داده چی لکه څنگه چی دخرمامیوه هروخت په هرحال اوپه هرموسم

Maktaba Tul Ishaat.com

کی شپه اوورځ خوړل کیږي دمومن نیک عملونه هم هر وخت په هر موسم کی سهار او ماښام جاري وي او لکه څنګه چي دخرمادرختی هر شی په کار راځي . دمومن هرقول اوفعل حرکت اوسکون او دده څخه پیداکیدونکی آثار دپوره دنیا دپاره نفع مند او فائده مند وي په دی شرط چی دی مومن کامل او د رسول د تعلیماتو پابند وي .

دذکر سوی تقریرڅخه معلومه سوه چی په ، تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ : کی د (اکل) څخه مراد میوه او دخوراک لائق شیان . او د(حین) څخه مراد هر وخت او هرحال دی . اکثرو مفسرینو دی ته ترجیح ورکړي ده دغنو حضراتو څخه نور اقوال هم نقل دي .

(دکفارو مثال)

ددی په مقابله کي دویم مثال دکفارو د ، شَجرة خبيثة : سره ورکړل سوی دی . څنګه چی دکلمه طیبه څخه مرادقول د ، لااله الا الله: یعنی ایمان دی . دغه شان دکلمة خبیثة څخه مراد کلمات دکفر اوکارونه د کفردي دشجرة خبیثة څخه مراد په ذکرسوی حدیث کی یی مرغونی مقررکړي ده اوخینواوړه وغیره ویلی دي . ددی شجري خبیثی حال قرآن دا بیان کړی دی چی ددی ریښي په مځکه کی دننه زیاتي ژوري نه وي . په دی وجه کله چی غواړي ددی درختی ټوله جُثه دمځکی څخه را ایستلای سی . د ، اجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ الْأَرْضِ: دا معنی ده څکه چی د(اجتثت) اصل معنی دا ده چی یو شی دجُثی سره پوره پوره را وکښل سی .

دکافرانو دعملونو ددی درختي سره دتشبیه ورکولو وجه ظاهره ده چی اول خو دده دعقیدي څه ریښي او بنیاد نه وي . په لږساعت کی وښوری او ورکه سی . دوهم ددنیا دګندګیو څخه متاثره کیږي درېم ددی درختی میوه یعنی عملونه دالله ﷻ په نزد کار آمد نه دی .

(دایمان خاص اثر)

ددی څخه وروسته دمومن دایمان او دکلمه طیبه یوخاص اثر یې په دوهم آیت کی بیان فرمایلي دي ، يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ : یعنی دمومن کلمه طیبه دمضبوطي اومحکمي درختی په شان یوقول ثابت دی کوم چی الله ﷻ همیشه قائم او برقرار ساتي په دنیاکی هم اوپه آخرت کی هم په دی شرط چی دا کلمه یې په اخلاص سره ویلي وي او د ، لا اله الا الله: مطلب پوره ایزده کړی او پوره عمل په وکړي .

مطلب دا دی چی پردی کلمه طیبه باندی ایمان لرونکو ته په دنیاکی هم دالله ﷻ دطرف تائید حاصل وي چی ددی په وجه سره دي ترمرګه پوری پردی کلمه قائم وي برابره خبره ده که ددی خلاف هرڅومره حادثي چی راپیښي سی . اوپه آخرت کی یې پردی کلمه قائم اوبر قرار ساتي مدد یې کولای سی . دصحیح البخاري او مسلم په یوحدیث کی دي چی دآخرت څخه مراد په دی آیت کی برزخ یعنی دقبر عالم دی .

(دقبر عذاب اوثواب دقرآن اوحدیث څخه ثابت دی)

حدیث دا دی چی نبی کریم ﷺ فرمایي چی هرکله په قبرکی دمومن څخه سوال وسی نوپه داسی هیبتناک مقام اوسخت حال کی به هم دي دالله ﷻ په تائید سره پردی کلمه قائم وي او د ، لا اله الا الله محمد رسول الله : شهادت به ورکړي اوبیافرمایي چی دقرآن د ارشاد ، يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي

Maktaba Tul Ishaat.com

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ: دا مطلب دی (دا روايت د حديث حضرت براء ابن عازب ﷺ نقل کړي دي.
دغه شان تقريباً دځلويښتوصحابه کرامو ﷺ څخه په معتبرو سندونو سره ددی مضمون حديثونه نقل دي. کوم چي امام ابن کثيردلته په خپل تفسيرکی جمع کړي دی اوشيخ جلال الدين سيوطي رحمه الله په خپله رساله منظومه (التثبيت عند التبييت) کی اوپه شرح الصدورکی يې د اويا ۷۰ احاديثو حواله نقل کړي ده دی روايتونوته يې متواتر فرمايلي دي دی تولو حضراتو صحابه کرامو رضی الله عنهم په ذکرسوی آيت کی دآخرت څخه مراد قبر او دا آيت يې دقبر دعذاب اوثواب سره متعلق مقرر کړی دی.
دمرګ اودفن څخه وروسته په قبرکی دانسان د دوباره ژوندی کيدو او دفرښتو دسوالونو جوابونه ورکول بياپه دی امتحان کی پرکاميابيدو اوپرناکامه کيدو دثواب ياعذاب کيدل په قرآن کريم کی تقريباً په لسو آيتونوکی اشارةً او د رسول کريم ﷺ په اويامتواترو حديثونوکی په ډير صراحت او وضاحت سره ذکر دي چی په دی کی مسلمان ته دڅه شک اوشبهي ګنجائش نسته. پاته سوی هغه داميانو شُبهي چی په دنياکی خوليدونکوته دا ثواب اوعذاب په نظر نه راځي، نو ددی دتفصيلی جوابونو خو دلته ګنجائش نسته (اجمالاً دومره پوهيدل کافي دی چی ديو شي په نظر نه را تلل ددی دنه موجوديدو څه دليل نه دی. پيريان او فرښتي هم چاته په نظر نه ورځي مګر موجود دي هوا په نظر راځي مګرموجوده ده. دکومی کائناتي فضا چی په دی زمانه کی په راکټونو سره مشاهده کيږي. دغه د اوس څخه مخکې چاته په نظرنه ورتله مګرموجود وه خوب ليدونکي په خوب کی که په هرڅومره مصيبت کی ګرفتاروي په عذابيږي مګرخواته ناستو خلقو ته ددی هيڅ خبرنه وي اصولی خبره داده چی ديو عالم دبل عالم پرحالاتو باندی قياس پخپله غلط دی هرکله چی خالق دکائناتو دخپل رسول ﷺ په ذريعه بل عالم ته درسيدو څخه وروسته دهغه دعذاب اوثواب خبر ورکړي نوپه دی ايمان اوعقيده ساتل لازم دی.
د آيت په آخرک کی فرمايي، وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيْنَ: يعنی الله ﷻ مومنان خوپرکلمه طيبه اوقول ثابت باندی ثابت قدم ساتي او ددی په نتيجه کی دقبرڅخه د دوی د راحت سامان جمع کيږي، مګر ظالمانو يعنی کفارو اومشرکانو ته دا دخدای پاک نصرت او امداد نه رسيږي، دمنکر اونکيرصحيح جواب دسوالونو نه سي ورکولای او آخر چی ددی ځای څخه په يو قسم عذاب کی اخته سي.
وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ: يعنی الله ﷻ هغه کوي چی څه غواړي. يوطاقت نسته چی دده اراده اومشيت منع کي حضرت ابی ابن کعب ﷺ عبدالله ابن مسعود ﷺ حُذيفه بن يمان ﷺ وغيره حضرات فرمايي چی مومن ته په دی عقيده ساتل لازم دی چی ده ته څه شی حاصل سی. دا دالله ﷻ په اراده اومشيت سره حاصل سوی وي، ددی نه حاصليدل ناممکن وو، دغه ډول چی کوم شی حاصل نه سی، ددی حاصليدل ممکن نه وو، او فرمايي چی که ستاسي پردی يقين اوعقيده نه وي ستاسي ځای جهنم دی.
اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ كُفْرًا وَّاَحَلُّوْا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ، جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا وَبِئْسَ الْقَرَارُ: يعنی آياته هغه خلق نه وينې کوم چی دالله ﷻ دنعمتونو په بدله کی کفر اختيارکړی اوخپل قوم يې کوم چی دده په وينا چليدل دهلاکت او بربادي مقام ته کښته کړل دوی به جهنم ته راځي او جهنم ډير بد ځای دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته د ، نعمة الله : څخه دالله ﷻ عام نعمتونه هم مراد کيدای سی کوم چی محسوس وليدل سی او دکومو تعلق چی دانسان دظاهري نفعوسره دی لکه دخوړلو چښلو اغوستلو شيان . مځکه کور وغيره اوهغه مخصوص معنوي نعمتونه هم کيدای سی کوم چی دانسان د رُشد اوهدايات دپاره دالله ﷻ دطرف څخه راغلي دي . مثلاً انبياء او آسماني کتابونه اوکومي نخښي چی دالله ﷻ دقدرت اوحکمت دخپل وجود په هر يو بند کی ، بيا دمځکی او ددی په بې شميره مخلوقاتوکی په آسمان او ددی په ناقابل ادراک کائنات کی دانسان دهدايت سامان دی .

ددی دواړو قسمونو نعمتونو تقاضا دا وه چی انسان دالله ﷻ عظمت اوقدرت پيژندی دده دنعمتونو شکرگذاروی دده فرمانبرداری يې کوله . مگرکفارو اومشرکانو دنعمتونوپه مقابله کی دنعمت ناشکري او نافرماني اوسرکښی وکړه چی ددی نتيجه دا سوه چی دوی خپل قوم دهلاکت اوبربادي مقام ته وغورځول او په خپله هم هلاک سول .

(احکام اوهدايتونه)

په دی دري سره آيتونوکی دتوحيد او دکلمه طيبي لا اله الا الله دعظمت اوفضيلت او ددی دبرکتونو او ثمرو او ددی څخه د انکار دبدبختی اوبد انجام بيان دی چی توحيد داسی لازوال نعمت دی چی ددی په برکت سره دخدای پاک تائيد په دنياکی ملگری وي اوپه آخرت کی هم او ددی انکار دالله ﷻ نعمتونه په عذاب سره دبدلولو برابر دی .

وَجَعَلُوا لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلُّوا عَن سَبِيلِهِ ۗ قُلْ تَمَتَّعُوا

او گرځولي يې دی الله ﷻ لره مقابل چی گمراه کړی خلق دهغه دلاری څخه ته ، ووايه چی نفع واخلئ

فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى النَّارِ ﴿٣٠﴾ قُل لِّعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا يُقِيمُوا

بيا ستاسو واپسی ده اورته ، ووايه زمابندگانو ته کومو چی ايمان راوړی دی اوقائم ساتی

الصَّلَاةَ وَيُنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً مِّن قَبْلِ أَن

لمونځ او ورکوی زمونږ د ورکړی مال څخه په پټه او په ښکاره وړاندی ددی څخه چی

يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلَالٌ ﴿٣١﴾ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ

راسی هغه ورځ په کومه کی چی نه سودا وی اونه دوستی ، الله هغه دی چاچی جوړ کړی دی اسمانونه

وَالْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ

او مځکه اونازلوی داسمان څخه اوبه پس را وباسی په دی سره رزق ستاسو ميوی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَارَ ﴿٣٢﴾ وَ

او په کاربی لګولی ده ستاسی کشتی چی ځی په دریاب کی دده په حکم سره او په کاربی لګولی دی ستاسی نهرونه

سَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَائِبَيْنِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ﴿٣٣﴾

او په کاربی لګولی دی ستاسو لمر او سپوږمی په یوه طریقه برابر ، اوبه کاربی لګولی ده ستاسو شپه اوورځ

وَآتَاكُمْ مِنْ كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ

اودرکړی یی دی تاسی ته دهرشی څخه کوم چی تاسی غوښتل ، اوکه شمیری احسان دالله پوره به یی نه کړل سی

إِنَّ الْإِنْسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴿٣٤﴾

بیشکه انسان دیربی انصافه ناشکره دی

تفسیر: او(پورته چی ویل سوی دي چی دی خلقو دنعمت دشکر پرځای کفر وکي اوخپل قوم یې جهنم ته ورسوی ددی کفر او درسولو بیان دا دی چی) دی خلقو دالله ﷻ سره مقابل جوړکړی دی چی (نورهم دده ددین څخه ګمراه کړي (نو مقابل مقررکول کفر دی او دنورو ګمراه کول جهنم ته رسول دي) ته (دی تولو ته) ووایه چی لږ ورځي عیش وکي ځکه چی انجام ستاسي دوږخ ته تلل دي (دعیش څخه مراد په حالت دکفر کی اوسیدل دي ځکه چی هرسړي ته په خپل مذهب کی لذت وي یعنی نور لږ کفر وکي . دا زورنه ده ، او مطلب د . ځکه چی . دا دی چی چونکه جهنم ته تل خوستاسي ضروري دی . په دی واسطه سره دکفرڅخه واپس کیدل ستاسي مشکل دی خیر لږ ورځي نوري تیري کي . بیاخوبه خامخاددغه مصیبت سره مخامخ کیدل وي او) کوم چی زماخاص ایماندار بندګان دي (دوی ددی ناشکري دنعمت په وبال باندی خبرکړه ددی څخه دمحفوظ ساتلو دپاره) دوی ته ووایه چی دوی (دالله ﷻ دنعمت داسی شکر ګذار اوسي چی) دلمونځ پابندي ساتي اومونږ چی دوی ته څه ورکړی په دی کی (دشریعت دقاعدو موافق) پټ اوښکاره (ځنګه چی موقع وي) خرڅ کوي ددی ورځ د راتلوڅخه مخکي مخکي چی په هغه کی نه اخیستل خرڅول وي او نه دوستي وي (مطلب دا دی چی بدني اومالي عبادتونه دي ادا کوي چی دا شکر دی دنعمت) الله ﷻ داسی دی چاچی آسمانونه اومځکه پیداکړل او دآسمانه یې اوبه وورولی بیا یې په دی اوبو سره دمیوو دقسم څخه ستاسي دپاره رزق پیداکی اوستاسي دنفع دپاره یې کشتی (او جهاز په خپل قدرت) مسخرکړل چی دوی دخدای په حکم (اوقدرت) سره په دریاب کی روان وي (او ستاسي دتجارت اوسفر غرضونه په حاصل وي) اوستاسي دنفع دپاره یې نهرونه (دخپل قدرت) مسخر جوړکړل چی اوبه ورڅخه چینی اوبه کول پری کوی اوکشتی په کي چلوی اوستاسی دنفع دپاره یې لمر

Maktaba Tul Ishaat.com

او سپوږمۍ (دخپل قدرت) مسخر جوړ کړل کوم چې همیشه روان او چلیږي (چې تاسی ته د دړنا او ګرمي فائده حاصلیږي) او ستاسي دنفع دپاره یې شپې او ورځې (دخپل قدرت) مسخرجوړ کړل (چې تاسی ته دمعشیت او آرام حاصله سی) او کوم کوم شی چې مو غوښتی (دغه ستاسی دحال مناسب وسو) تاسی ته یې هر شی درکړي او (په ذکرسوو شیانو باندی څه انحصار دی) دالله ﷻ نعمتونه (خو دومره بې شمیره دي چې) که چیرې (ددی) شمېرکوي نو په شمېرکی نه سی راتلای (مګر) رښتیا دا ده چې انسان ډیر بې انصافه ډیر ناشکره دی (دالله ﷻ دنعمتونو قدر او شکرنه کوي بلکه چپه کفر او نافرماني کوي لکه چې لوړ راغلی دی ، الم تر الی الذین بدلوا نعمة الله کفراً)

(معلومات او مسئلې)

دسورة ابراهیم په شروع کی د رسالت نبوت او دمیعاد او آخرت متعلق مضامین وه . ددی څخه وروسته دتوحید فضیلت او دکفر او شرک دکلمې دبدوالي بیان دمثالونو په ذریعه وسو . بیا دمشرکانو بدوالی په دی خبره وسو چې دوی دالله ﷻ دنعمتونو دشکر د اداکولو پرځای دناشکرې او کفر لار اختیار کړه .

ددې ذکرسوو آیتونو ځینی په اولنی ایت کې دکفارو او مشرکانو بدوالی او د دوی دبدانجام ذکر دی .

په دویم آیت کې دمومنانو فضیلت او دوی ته دشکر اداکولو دپاره دالله ﷻ دځه حکمونو تاکید سوی دی . په دریم څلورم او پنځم آیت کې دالله ﷻ دعظیمو نعمتونو ذکر یې وفرمایی او انسان یې په دی باندی اماده کې چې هغه دی دا نعمتونه دالله ﷻ په نافرمانی کې صرف نه کړی .

تفسیر او تشریح : أنْدَاداً د . دَنِدٌ جمع ده چې معنی یې مثل او برابری ده . بتانو ته (انداد) ځکه ویل کیږي ۱

چې مشرکانو دا په خپل عمل کی دخدای مثل یا برابر ګڼلی وه . د(تمتع) معنی دیوشي څخه څو ورځې عارضې فائده حاصلولو ده . په دی آیت کی دمشرکانو دا غلطه نظریه بدګڼل دي چې دوی بتان دخدای مثل او شریک مقرر کړل . نبی کریم ﷺ ته حکم ورکړل سو چې دی خلقوته وریاد کړه چې د دوی انجام څه کیدونکی دی فرمایی چې یو څوورځی ددنیادنعمتونو څخه فائده واخلئ مګر ستاسی ځای دجهنم اور دی په دویم آیت کی نبی کریم ﷺ ته ارشاد دی چې (دمکې کافرانو خو دالله ﷻ نعمت په کفر سره بدل کې اوس) ته زما مومنانو بندګانو ته وفرمایه چې دلمونځ پابندي ساتی او مونږ چې کوم رزق دوی ته ورکړی دی ددی څخه دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کوي په پټه او په ډاګه . په دی آیت کی دمومنانو بندګانو دپاره لویه خوشخبري او عزت دی . اول خو الله ﷻ دوی ته خپل بندګان وویل خطاب یې ورته وکې . بیایې دایمان په صفت سره موصوف کړل ، بیایې دوی ته دهمیشه راحت او عزت ورکولو ترکیب وښووی چې دلمونځ پابندي دی کوي نه دي ددی په وختونو کی سُستي کوي ، نه په آدابو کی کوتاهي ، او دالله ﷻ د ورکړل سوی رزق څخه دي څه دهغه په لاره کی هم خرڅ کوي . دخرڅ کولو دوه صورتونه یې جائز کړل چې په پټه صدقه او خیرات کوي یا په ښکاره . ځینې علماء فرمایي چې فرض زکوة دواړه اختر صدقه وغیرا په ډاګه ورکول په کار دي چې نورو ته هم ترغیب وسی او نفل صدقه او خیرات په پټه ورکول په کار دي چې دنوم او نمائش بیره په کې نه وي او اصل مدار پر نیت او حالاتو باندی دی که په اعلان او اظهار کی دنوم او نمائش شبه پیدا سی نو دصدقې فضیلت ختم سی . برابره خبره ده که فرض وي او که نفل او که

Maktaba Tul Ishaat.com

نیت دا وي چې نورو ته هم ترغیب وسی نو په نفل او فرض دواړو کی اعلان او اظهار جائز دی.
مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خِلٰلٌ : لفظ د، خِلاَلَ: د(خلة) جمع هم کیدای سی چې معنی یې بې غرضه دوستي ده. او دی لفظ ته دباب مفاعله مصدر هم ویل کیږي لکه قتال. دفاع وغیره په دی صورت کی ددی معنی د دوو خلقو په مینځ کی د دواړه طرف څخه مخلصانه دوستی کول به وي. ددی جملی تعلق دلوړ بیان سوو دواړو حکمونو یعنی لمونځ اوصدقه سره دی.
مطلب دا دی چې نن خو الله ﷻ دفرصت طاقت درکړی دی چې لمونځ اداکړي اوکه په تیرعمرکی د رغخه دغفلت په وجه څه لمونځ پاته سوی وي. نوچې قضایي وکي. دغه شان نن مال ستاپه لاس اوپه قبضه کی دی دا دالله ﷻ دپاره خرڅ کړه اودهمیشه ژوندکار په جوړولای سی. لیکن هغه ورځ نژدی راتلونکی ده کله چې دا دواړه قوتونه اوقدرتونه ستاڅخه واخیستل سی. نه ستابدن دلمونځ کولوقابل پاته سی اونه ستاپه لاس اوقبضه کی څه مال پاته سی چې ضائع سوی حقونه په اداکړل سی اوپه دغه ورځ به څه اخیستل اوخرڅول هم نه سی کیدای چې ته یو شی واخلي او دخپلو کوتاهیو اوګناهونو کفاره یې کړي او په دغه ورځ به دیو بل په مینځ کی دوستي اوتعلقات هم په کار نه ورځي هیڅ عزیز او دوست به دچا دګناهونو بار پورته نه کړل سی اونه به دده څخه عذاب په څه طور سره لیری کړل سی. ددغه ورځي څخه مرادپه ظاهره دقیامت ورځ ده اوداهم کیدای سی چې دمرګ ورځ وي ځکه چې داټولی نښی دمرګ دورځي څخه ظاهریږي نه په بدن کی دڅه عمل صلاحیت پاته کیږي او نه مال دده په ملکیت کی پاته کیږي.

((احکام اوهدایتونه))

په دی آیت کی چې کوم دا ارشاد دی چې دقیامت په ورځ به دچادوستي دبل چاپه کار نه ورځي ددی مطلب دا دی چې محض ددنیا دوستي به په دغه ورځ په کار ورنه سی. لیکن دکومو خلقو دوستي او تعلقات چې دالله ﷻ دپاره او دده ددین دکارونو دپاره وي د دوی دوستي به دغه وخت هم په کار ورځي چې دالله ﷻ نیک اومقبول بندګان به دنورو شفاعت کوي. لکه چې په ډیرو حدیثونوکی نقل دي اوپه قرآن کریم کی هم ارشاد دی، اَلْاَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍۭ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ: یعنی هغه خلق چې په دنیاکی دیوبل دوستان وه په دغه ورځ به دیو بل دښمنان سی چې دا به غواړي چې پردوست باندی خپله ګناه ور واړوي اوپه خپله بري سی مګر هغه خلق کوم چې متقیان دي ځکه چې متقیان به هلته هم دیو بل مدد په شفاعت سره کولای سی.
په دریم خلورم اوپنځم آیتونوکی یې انسان ته دالله ﷻ لوی لوی نعمتونه وریادکړي دی. هغه دعبادت او اطاعت طرف ته یې انسان ته دعوت ورکړی دی. ارشاد دی چې الله ﷻ هغه ذات دی چاچې آسمان او مځکه پیداکړل چې پردی د انسان د وجود ابتداء او بقاء موقوفه ده. بیا یې د آسمانه اوبه نازلي کړي چې ددی په ذریعه یې قسم قسم میوي پیداکړي چې دا ستاسي رزق جوړ سی لفظ د(ثمرات) دثمرة جمع ده دهر شي څخه حاصلي سوی نتیجي ته دهغي ثمره وایي په دی وجه په لفظ دثمرات کی هغه ټول شیان هم شامل دي کوم چې د انسان خوراک جوړیږي اوهغه شان هم کوم چې دده لباس جوړیږي اوهغه شان هم کوم چې دده د اوسیدو دپاره مکان جوړیږي ځکه چې لفظ د رزق کوم چې په دی آیت کی ذکر دی دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

پردی تولو انساني ضرورتونو حاوي او شامل دی (مظهری)
بیا فرمایي چې الله ﷻ کشتۍ او جهازونه ستاسي په کارکی ولګول چې دالله ﷻ په حکم سره په دریابونو کی ګرځي . لفظ د (سخر) کوم چې په دی آیت کی راغلي دي ددی څخه مراد دا دی چې الله ﷻ ددی شیانو استعمال ستاسي دپاره آسان کړي دي لرګي وسپنه او ددی څخه دکشتۍ او جهاز جوړولو اوزار او آلات او د دوی څخه دصحیح کار اخیستو عقل او پوهه دا ټول شیان دهغه ورکړل سوی دي ، په دي وجه ددی شیانو موجود دی په دی ناز نه کوي چې دا مونږ ایجاد کړل یا جوړکړل ، ځکه چې دکومو شیانوڅخه په دی کی کار اخیستل سوی دی په دی کی یو شی هم نه تاسی پیداکړی دی اونه یې پیداکولای سی ، دخالق کائنات په جوړکړی لرګي ، وسپنه ، تانبه ، پیتل کی تصرفات کوی . ددی دایجاد نسبت خپل ځان ته کوی کنه نو که حقیقت ته وګوریځ نو په خپله ستاسي خپل وجود خپل لاس او پښې خپل دماغ او عقل هم تاسو نه دی جوړکړی .
ددی څخه وروسته فرمایي چې مونږ ستاسې دپاره لمر او سپوږمۍ مسخر کړل چې دا دواړه همیشه پر یوحالت چلیږي . د ائبین د . داب څخه مشتق دی چې معنی یې عادت دی مراد دا دی چې هروخت اوپه هر حال کی تلل ددی دواړو سیارو عادت جوړ سوی دی چې هیڅکله ددی څخه خلاف نه کوي دمسخرکولو دا معنی نه ده چې دوی ستاسی په حکم او اشارو باندی چلیږي . ځکه چې لمر او سپوږمۍ یې دغه شان دانسان مسخرکړی وای چې د انسان دحکم تابع چلیدی نو د انسانانو دیوبل سره د اختلاف به دا نتیجه وه چې یو انسان به ویل نن دي لمر دوې ګنټي وروسته را وخیژي ځکه چې دشپې کار زیات دی . بل به ویل چې دوې ګنټي مخکی دي را وخیژي چې د ورځي کار زیات دی په دی وجه رب العزت ﷻ آسمان او ستوري خو د انسان مسخر جوړ کړل مګر په دی معنی یې مسخر کړل چې دوی هروخت په هرحال کی دالله ﷻ تر حکمت لاندی د انسان په کار کی لګیدلی دی داسی نه ده چې د دوی ختل او پریوتل او رفتار د انسان دحکم او مرضي تابع جوړسی .
دغه ډول دا ارشاد چې مونږ شپه او ورځ ستاسی مسخرکړل . ددې مطلب هم دا دی چې دا دواړه یې دانسان دخدمت او راحت په کار کي لګولی دی .
وَآتَاكُمْ مِنْ كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ : یعنی الله ﷻ درکړی دی تاسی ته دهرهغه شي څخه کوم چې تاسی غوښتل که څه هم دالله ﷻ ورکړه اوبخشش دچاپرغوښتلو موقوف نه دی مونږ خو دا خپل وجود هم نه دو غوښتلی هغه په خپل فضل سره بې غوښتل را کی .

ما نبودیم وتقاضا ما نه بود لطف تو نا ګفتهٔ ما می شنود

مونږ نه وو او نه زمونږ تقاضا وه ، ستا مهربانیو ناویلی آرزوګاني زمونږ او ریدلي .
دغه ډول د آسمان ، مځکي ، سپوږمی ، لمر وغیره پیداکولو دعاچې غوښتلی وه ، دا هرڅه مالک بې غوښتلو را کړی دی . دغه ډول قاضی بیضاوی ددی لفظ دا معنی بیان کړی ده چې الله ﷻ تاسی ته هر هغه شی درکړی دی کوم چې دغوښتلوقابل دی که څه هم تاسی غوښتلی نه وي ، لیکن که دالفاظو ظاهري معنی مراد وي نو په دی کی هم څه اشکال نسته ، چې په عام طور سره انسان چې څه غواړي او

Maktaba Tul Ishaat.com

طلب کوي اکثره ده ته ورکول کیږي اوکوم څای چی دده سوال په خپل ظاهري صورت کي نه سی پوره کیدای . په دی کی ددی سرې دپاره یا دټولو عالم دپاره څه مصحلت وي چی ددی ده ته علم نه وي مگرعلیم اوخبیر پوهیږي چی که دده دا سوال پوره کړل سی نو په خپله دده دپاره یا دده دخاندان دپاره یا دټول عالم دپاره به وبال جان جوړ سی . په داسی صورت کی دسوال نه پوره کول لوی نعمت وي مگر انسان دخپل علم دقصور په وجه سره په دی نه پوهیږي په دی وجه دي غمجن وي .

وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا : یعنی دالله ﷻ نعمتونه پرانسان دومره دي چی که ټول انسانان یې دشمیرلو دپاره یوځای سی اوشمیري یې نو په شمیرکی یې نه سی را تلای . دانسان په خپله خپل وجود هم یو وړوکی عالم دی . دده سترګي ، پزه، غوږونه، اولاس پښی او دبدن هر بند بلکه په هر رګ او ریشه کی دررب العزت بی انتهانعمتونه پټ دي چی په دی سره دا ګرځیدونکی راګرځیدونکی په سوونو د نازکو مشنونو دا عجیبه او نا آشنا فیکټري (کارخانه) هر وخت په کار مشغوله وي، بیا آسمان او مځکه او ددی دواړو دمخلوقاتو دسمندرونو او غرونو مخلوقاتو چی دنن زمانی نوی تحقیقات اوپه دی کی دعمرونو خرڅ کوونکي په زرګونو ماهران هم ددی احاطه نه سی کولای . بیانعمتونه صرف دغه نه دي کوم چی په مثبت صورت کی په عام طوړسره نعمت ګڼل کیږي، بلکه دهرمرض هررنځ هرغم څخه محفوظ پاته کیدل جُدا یومستقل نعمت دی یو انسان ته څومره قسمه بیماري اوڅومره قسمه بدني او ذهني تکلیفونه په دنیا کی پیښیږي چی شمیر یې هیڅ انسان نه سی کولای . ددی څخه اندازه لګیږي چی دالله ﷻ دټولو بخششونو او نعمتونو شمیر دچا نه سی کیدای .
د انصاف تقاضا دا وه چی دبی شمیره نعمتونو په بدله کی بی شمیره عبادتونه او بی شمیره شکرونه لازم وي . مگر الله ﷻ ددی کمزوري اوضعیف انسان رعایت وفرمایل . چی کله دی پرحقیقت نظر وکي او دا اقرار وکي چی د واجب شکر څخه سبکدوش کیدل دده په قدرت کی نسته نو دا اقرار یې دشکر قائمقام مقرر کړی دی لکه چی الله ﷻ دحضرت داود ﷺ په داسی اعتراف ارشاد فرمایي چی ، الآن قدشکرت یا داود : یعنی دا اقرار کول دشکر ادا کولو دپاره کافي دی .
د آیت په آخرکی فرمایي ، إِنَّ الْإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ : یعنی انسان ډیر بی انصافه او ډیر ناشکره دی ، یعنی دانصاف تقاضا خو دا وه چی څه تکلیف اومصیبت پیښ سی . نو چی دصبر اوسکون څخه کار واخلي . ژبه او زړه دګیلي څخه پاک وساتي او داسی وګڼي چی دا څه چی را پیښ سوی دي دیو حاکم حکیم دطرف څخه راپیښ سوی دي دا هم دحکمت په مقتضا سره یو نعمت دی اوکله چی نعمت او راحت حاصل سی . نو په زړه . ژبه اوهرعمل سره ددی شکر ادا کوي . مگر دعامو انسانانو عادت ددی څخه مختلف دی چی لږ مصیبت او تکلیف ورته پیښ سی نو بی صبري او خبري کوي اوکه لږ نعمت او دولت ورته ورسیږي نو په دی کی مست سی خدای هیرکي . په دی وجه دمخلصو مومنانو صفت په تیر آیت کی صبار او شکور ښودلی سوی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا الْبَلَدَ اٰمِنًا وَّاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَنْ نَّعْبُدَ

او هغه وخت چی وویل ابراهیم ای ربه کړه دا ښار امن والا او بیرته وساتی ما او زما اولاد ددی خبری څخه چی

الْأَصْنَامَ ۝٣٥ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ ۚ فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي ۚ وَمَنْ

عبادت وکی دبتانو ، ای ربه ا دوی گمراه کړل دیر خلق پس چاچی پیروی وکړه زما پس هغه زمادی او چاچی

عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝٣٦ رَبَّنَا إِنِّي أَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِي

زماخبره ونه منله پس ته بخښنی والا مهربان یی ، ای ربه ما وسولی دی خپل یو اولاد

بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ ۙ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلٰوةَ

په میدان کی چی کوم ځای فصل نسته ، ستا دمحترم کور په خواکی ، ای ربه زمونږ چی قائم وساتی لمونځ

فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِّنَ

پس وګرځوه دخینو خلقو زړونه چی مائیل وی د دوی طرف ته او رزق ورکړه دوی ته

الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ ۝٣٧ رَبَّنَا إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِي وَمَا نُعْلِنُ ۗ

دمیوو څخه شایددوی شکروکی ،ای ربه ا زمونږ ته خو پیژنی څه چی مونږ کوو په پټه او څه چی کوو په ښکاره ،

وَمَا يَخْفٰى عَلَى اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ ۝٣٨

او پټ نه دی په الله څه شی چی په مځکه کی او نه په اسمان کی

الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى الْكِبَرِ إِسْمٰعِيلَ وَإِسْحٰقَ ۚ إِنَّ

شکردی دالله چاچی وبخښلو ماته په دومره لوی عمر کی اسمعیل او اسحق بیشکه

رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَآءِ ۝٣٩ رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلٰوةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي ۖ

زمارب اوری دعا ، ای ربه زما کړی ما چی قائم ساتم لمونځ او زما د اولادڅخه هم ای ربه او

رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ۝٤٠ رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ ۝٤١

قبوله کړه زمادعاء ای زماربه وبخښه ما او زمامور او پلار او ټولو ایماندارو لره په کومه ورځ چی قائم سی حساب (یعني قیامت)

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسير: او (هغه وخت هم دياد ولو دى) كله چي ابراهيم ﷺ حضرت اسماعيل ﷺ او حضرت هاجره په
حكم دالله ﷻ دمكي ميدان ته را وستل او دېريښودو په وخت كى يې ددعا په طور) وويل چي اى زماربه
دا ښار (دمكي) امن والا جوړكي (چي ددى اوسيدونكي مستحق د امن سى يعني حرم يې كي) او ما او
زما خاص اولاد دبتانو دعبادت څخه (كوم چي دا وخت په جاهلانوكى خپور دي) وساتي (لكه چي تر
اوسه دي ساتلي يو) اى زما پروردگاره (زه دبتانو دعبادت څخه دمحفوظ كيدو دعا ځكه كوم چي) دى
بتانو ډير بنيادمان گمراه كړي دي (يعني د دوى د گمراهى سبب سوى دى په دى وجه بيريږم . ستاپناه
غواړم او زه لكه څنگه چي د اولاد محفوظ كيدو دعاكوم دوى ته هم دغه شان خبري اوروم) بيا
(زمادوينا او د اوروړلو څخه وروسته) چي كوم سړى زماپه لاره ځي هغه زما دى (او د دوى دپاره
دمغفرت وعده خو ده چي ده) كوم سړى چي (په دى باره كى) زماخبره وه مني (پس ته ورته هدايت
وفرمايي ځكه چي) ته خو ډير بخښني والا (او) ډير رحمت والايې (د دوى دمغفرت او رحمت اسباب
برابرولاى سى چي دوى ته هدايت وكي مقصود ددى دعاڅخه شفاعت دمومنانو دپاره اومطلب دهدايت
دغير مومنانو دپاره دى) اى زماربه ماخپل اولاد (يعني اسماعيل ﷺ او دده په واسطه دده اولاد) ستا
دمعظم كور (يعني خانه كعبي) په خوا كى (كومه چي دمخكى څخه دلته جوړه سوى وه او دهميشه څخه
په خلقوكى ددى ادب را روان دى) په يو (كوچني ډول) ميدان كى كوم چي (په وجه ددى چي شگي
اوكاني دي) دكروندي قابل (هم) نه دى ، آبادومه اى زماربه (دبيت الحرام په خوا كى يې په دى وجه
آبادومه) چي دغه خلق دلمونځ (خاص) اهتمام ساتي (او چونكه دا په دى وخت كى يوكوچنى ډول ميدان
دى نو ته دځينو خلقو زړونه ددى طرف ته مائله كړه (چي دلته راسى آباد سى او يوه پُر رونقه آبادي
جوړه سى) او(چونكه دلته كروندي وغيره نسته په دى وجه) دوى (محض په خپل قدرت سره) دميوي
دخوراك دپاره وركړي چي دا خلق (ددى نعمتونو) شكر وكي اى زماربه (دا دُعاگاني محض دخپلي
بندگى او حاجتمندى د اظهار دپاره دي تا ته دخپل حاجت د اطلاع دپاره نه دى ځكه چي) تا ته هرڅه
معلوم دي كوم چي مونږ په زړه كى ساتو اوكوم چي ښكاره كوو او (زمونږ پرظاهر اوباطن څه حصر دى)
دالله ﷻ څخه (خو) يو شى هم پټ نه دى نه په مځكه كى او نه په آسمان كى (ځيني دعاگاني به مخ ته
راسى . په مينځ كى يې پرځينو تيرو نعمتونو حمد او شكر وكى چي دشكر په بركت سره دعاگاني
قبوليت ته نژدى سى هم دارنگه فرمايي) ټول حمد (اوثنا) خداى لره (لائقه) ده چاچي ماته په زوړوالى كى
اسماعيل او اسحاق (عليهم السلام دوه زامن) را كړل په حقيقت كى زمارب ددعا لوى آوريدونكى
(يعني قبلوونكى) دى (د اولاد د راكولو متعلق يې زما دا دعا ، رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ : قبوله كړه .
بيادى نعمت دشكر اداكولو څخه وروسته مخ ته پاته دعاگاني پيش كوي چي) اى زماربه (كوم چي
زمانيت دى دخپل اولاد دبيت الحرام په خوا كى د آبادولو څخه چي دوى دلمانځه اهتمام ساتي دا پوره
كي اولكه څنگه چي د دوى دپاره دلمونځ اهتمام زمامطلب دى دغه شان يې دځان دپاره هم غواړم په دى
وجه دځان او دوى دواړو دپاره دعا كوم او چونكه ماته په وحى سره معلومه سوى ده چي په دوى كى به
ځيني غير مومن هم وي په دى وجه دعا دټولو دپاره نه سم كولاى . نو پردى مضامينو دنظر كولو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

وروسته دا دعاکوم چې ماهم دلمانځه (خاص) اهتمام کوونکی ولري او زماپه اولادکې هم ځینې (دلمانځه اهتما کوونکی کړي) ای زماربه او زما (دا) دعا قبوله کړي (او) ای زما ربه ما ته بخښنه وکړي او زما مور او پلار ته هم او ټولو مومنانو ته هم دحساب دقائمیدو په ورځ (یعنی دقیامت په ورځ ددی ټولو مذکورینو مغفرت وکې)

(معلومات اومسئلي)

په تیرو آیتونو کی دتوحید دعقیدي دمعقولیت او اهمیت اودشرک دجهالت او بدوالي بیان وو، دتوحید په معامله کی په انبیاء علیهم السلام کی دټولوڅخه زیات کامیاب جهاد دحضرت خلیل الله ابراهیم ﷺ جهاد وو په دی وجه دین ابراهیمي ته په خاص طور سره ددین حنیف نوم ورکول کیږي.

په دی مناسبت سره دلته دحضرت ابراهیم ﷺ قصه په ذکر سوو آیتونوکی سوی ده یعنی وجه دا هم ده چی په تیر یو آیت کی ، اَلَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَةَ اللّٰهِ كُفْرًا : کی دمکي دقریشو دهغو خلقو مذمت بیان سوی دی کوم چی دتقلید آبائي پر بنا باندی ایمان په کفر سره او توحید په شرک سره بدل کړی وو. په دی آیتونو کی یې دوی ته وښوولـه چی ستاسی دمشر نیکه حضرت ابراهیم ﷺ عقیده اوعمل څه وو چی دپلار او نیکه په تقلید مینه کوونکی دی ته وګوری او دخپل کفر څخه منع سی (بحرِ محیط)

او دا ظاهره ده چی د انبیاء علیهم السلام دقصو اوحالاتو دبیانولو څخه دقرآن کریم مقصد صرف د دوی تاریخ بیانول نه وي بلکه په دوی کی د انسانی ژوند دهر ارخ متعلق دښودني اصول وي. ددغو دجاري کولو دپاره واقعات باربار په قرآن کریم کی بیانول کیږي.

دلته په اول آیت کی دحضرت ابراهیم ﷺ دوې دعاګاني ذکر دي اول ، رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا الْبَلَدَ آمِنًا: یعنی ای زما پروردګاره دا ښار (دمکي) ځای د امن جوړکي په سورة بقره کی هم دا دُعا ذکر ده مګر په هغه کی لفظ دبلد بغیر دالف لام څخه بلداً راغلی دی چی معنی یې غیر معین ښار دی وجه دا ده چی دغه دعایې هغه وخت کړی وه کله چی دمکی ښار آباد نه وو . په دی وجه په عامو الفاظوکی یې دا دعا وکړه چی دلته یو ښار د امن جوړکي.

اودویمه دعایې هغه وخت کړی ده کله چی دمکي ښارآبادسوی وونودمکي ښاریې متعین کي اودعایې وفرمایله چی داځای دامن جوړکي دوهمه دعایې داوفرمایله چی ماوزمااولاد دبت پرستی څخه وساتی انبیاء علیهم السلام که څه هم معصوم دي ، د دوی څخه شرک اوبت پرستی بلکه هیڅ ګناه هم نه سی کیدای ، مګر دلته حضرت خلیل ﷺ په دی دعا کی خپل ځان هم شامل کي . ددی وجه یا خو دا ده چی دطبعي بیري په بنا سره انبیاء علیهم السلام هم هر وخت خپل ځانونه په خطره کی محسوسوي یا دا چی اصل مقصد دخپل اولاد شرک اوبُت پرستی څخه دمحفوظ کولو دعا کول وه اولاد ته ددی د اهمیت د ښوولو دپاره یې ځان هم په دعا کی شامل کي.

الله ﷻ دخپل خلیل دعاقبوله وفرمایله د دوی اولاد دشرک اوبت پرستی څخه محفوظ پاته سو، پر دی باندی دا سوال راځي چی دمکي خلق خو په عام طور سره دحضرت ابراهیم ﷺ اولاد دي او په دوی کی خو بت پرستی موجوده وه ، په بحرمحیط کی ددی جواب په حواله دسفیان بن عیینه دا ورکړی دی چی

Maktaba Tul Ishaat.com

په حقيقت کي دحضرت اسماعيل ﷺ په اولاد کي چابت پرستي نه ده کړې . بلکه څه وخت چې پرمکه باندې دجرهم قوم حمله وکړه . مکه يې قبضه کړه او دحضرت اسماعيل ﷺ اولاد يې دحرم څخه ويستي نو دې خلقو دحرم سره دانتهائي محبت پر بنا باندې دځان سره ددې ځای څخه ډبري وړي وي . دا ډبري به يې دحرم محترم او دبيت الله شريفي دياد گار په طور باندې مخ ته ايښودې عبادت به يې کوی او شاوخوا به يې طواف پرکوي چې په دې کی ديوغيرالله طرف ته هيڅ مخ نه وو بلکه څنگه چې بيت الله ته مخ کول اولمونځ کول يا دبيت الله پر شاوخوا طواف کول د الله ﷻ عبادت دی . دغه شان به دوی ددی ډبري طرف ته مخ کول او ددی څخه شاوخوا طواف کول دالله ﷻ دعبادت څخه منافي نه گڼل ددی څخه وروسته دا طريقه کار دبُت پرستی سبب جوړ سو.

په دويم آيت کي يې دخپلی دی دعا وجه دا بيان کړه چې دبت پرستی څخه مونږ څکه پناه غواړو چې دی بتانو ډير خلق په گمراهی کي اچولی دی دا يې څکه وفرمايل چې حضرت ابراهيم ﷺ ته دخپل پلار اوقوم څخه تجربه سوي وه . چې دبت پرستی رسم او رواج دوی دهر خير او صلاح څخه محروم کړل .

د آيت په آخرکی يې وفرمايل ، فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَحِيمٌ : يعنی په دوی کی چې کوم سړی زماتابعداري وکي يعنی د ايمان اونيک عمل پابند سی نوهغه زمادی . مطلب دا دی چې پرده دفضل اوکرم اُميد خوظاهر دی چې زمانافرماني وکي نوته ډيرمغفرت کوونکی لوی رحمت کوونکی يې په دی کی دنافرماني څخه که صرف عملي نافرماني يعنی بد عمل مراد واخيستل سی نو معنی ظاهره ده چې ستا دفضل اوکرم څخه د دوی هم دمغفرت اُميد دی اوکه دنافرماني څخه مراد کفر او انکار واخيستل سی نو دا ظاهره ده چې دمشرک اوکافر دنه بخښلو او د دوی دشفاعت نه کولوحکم حضرت ابراهيم ﷺ ته مخکي سوی وو بيا د دوی دمغفرت اظهار کول نه سی صحيح کيدای په دی وجه په بحر محيط کی فرمايي . چې دلته حضرت خليل ﷺ د دوی دسفارش يا دعا الفاظ اختيار نه کړل او دا يې ونه فرمايل چې ته د دوی مغفرت وکي . البته پيغمبرانه شفقت چې ددی په لمن کی کافر هم اوسي او دهر يو پيغمبر د زړه خواهش دا وي چې يو کافر هم په عذاب کی اخته نه سی . دخپل دي طبعي خواهش اظهار يې په دی عنوان سره وکی چې ته لوی غفور او رحيم يې . دايې ونه فرمايل چې د دوی سره دمغفرت او رحمت معامله وفرمايه . لکه چې حضرت عيسی ﷺ دخپل امت دکافرانو په باره کی فرمايي ، إِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ : يعنی که ته د دوی مغفرت وفرمايي نوته قوي اوحکمت والا يې هر څه کولای سی څوک منع کوونکی نسته .

دی دواړو بزرگانو دکافرانو په معامله کی پرسفارش باندی اقدام څو څکه ونه کي چې دا د ادب دحق څخه خلاف وه . مگر دا يې هم ونه فرمايل چې پرډی کافرانو ته عذاب نازل کړه . بلکه په ادب سره يې په يو خاص عنوان سره دبخښني هم دطبعي خواهش اظهار وکي .

(احکام او هدايتونه)

دعاخو هر انسان غواړي . مگر دغوښتلو سليقه دهر يوه سره نه وي . د انبياء عليهم السلام دعاگاني سبق آموزي وي . د دوی څخه اندازه لگيږي چې کوم شی دغوښتلو دی . ددی ابراهيمي دعا دوه ۲

Maktaba Tul Ishaat.com

جزونه دي يو دمكي ښار دبيري اوخطري څخه آزاد د امن ځاى جوړول دويم خپل اولاد ته دهميشه دپاره دبت پرستي څخه نجات وركول .
چې دغور څخه كار واخيستل سي نو د انسان دصلاح اوفلاح دا دوه بنيادي اصول دي ځكه چې انسانانو ته كه دخپل اوسيدو په ځاى كې دبيري اوخطري او ددښمنانو دحملو څخه امن او اطمينان نه وي نو نه په دنيوي او مادي اعتبار سره د دوى ژوند خوندور كيداى سي . او نه په ديني او روحاني اعتبار سره، د دنيا دټولو كارونو او راحتونو مدار خو ظاهره ده چې په امن او اطمينان سره دى . كوم سړى چې ددښمنانو په حملو اومختلف قسم خطروكې گيروي ، دده په مخكې ددُنيا دلوى څخه لوى نعمت دخوړلو چښلو بيده كيدو وبيښيدو بهترينې آساني د اعلى قسم محلات او بنگلي دمال دولت ډيروالى هرڅه تراخه وي .
په ديني اعتبار سره هم دهرطاعت اوعبادت او دالله ﷻ دحكمونو تعميل انسان هغه وخت كولاى سي . هر كله چې ده ته څه سكون او اطمينان حاصل وي .
په دى وجه دحضرت خليل الله ﷺ په اولني دعا كې د انسان فلاح ټول ضروريات معاشي او اقتصادي او ديني او أخروي ټول داخل سول . په دى يوه جمله سره حضرت خليل الله ﷺ دخپل ا ولاد دپاره ددنيا ټول مهم شيان وغوښتل .
ددى دعاڅخه دامعلومه سوه چې د اولادهمدردي او د دوى دمعاشي راحت انتظام هم دطاقت موافق دپلار په فرائضوكې دى ، ددى كوشش كول د زُهد او ترك دنيا منافي نه دى .
په دوهمه دعا كې هم ډيرجامعيت دى ځكه چې هغه گناه دكومې چې دمغفرت امكان نسته هغه شرك او بت پرستي ده ددى څخه يې دمحفوظ پاته كيدو دعا وكړه . ددى څخه وروسته كه يوه گناه وسى هم ، نو ددى كفاره په نورو عملونو سره هم كيداى سى او دچاپه شفاعت سره هم معاف كيداى سى اوكه دعبادت اصنام لفظ دصوفياء كرامو داقوالومطابق په خپل وسيع مفهوم كې واخيستل سي چې هرهغه شى كوم چې انسان دالله ﷻ څخه غافله كړي هغه دده دبت دى او دده په محبت كې مغلوبه كيدل دخداى ﷻ نافرماني كول ، يوقسم سره دده عبادت دى ، نو په دى دعايعني دعبادت د اصنامو څخه په محفوظ پاته كيدوكې دټولو گناهونوڅخه دحفاظت مضمون راځي ، ځيني صوفياء كرامو په دى معنى كې خپل نفس ته خطاب كړى دى او پرغفلت او معصيت يې ملامتيا كړى ده .

سوده گشت از سجدهٔ راه بتان پيشانيم چند بر خود تهمت دين مسلماني نهم

دبتانوپه عبادت باندى ماتندى وسوليدى اوسره ددى به زه ترڅو پورى پرځان دمسلماني تهمت لگوم .
اوعارف رومي رحمه الله فرمايلي دي .

هر خيال شهوتي در راه دين بُتى است

دخواهشاتو هر يو خيال په لاره ددين كى بت دى .

په دريم آيت كى دحضرت ابراهيم خليل الله ﷺ يوه بله حكيمانه دعاداسى ذكرده چى ، رَبَّنَا اِنِّى اَسْكَنْتُ الخ : اى زماپروردگاره، ماخپل څه اولاد يعنى اهل او عيال ديو داسى غره په لمن كى پاته كړي دي

Maktaba Tul Ishaat.com

چې په دې کې څه کرونده نه سي کیدای (اوپه ظاهره هلته د ژوند هیڅ سامان نسته) دا دغره لمن ستا دعظمت والا کور په څوا کې ده ددې دپاره چې دا خلق لمونځ ادا کړي. نوپه دې وجه ته دځینو خلقو زړونه د دوی طرف ته مائل کړه چې د دوی دالفت او آبادي سامان برابر سي او دوی ته ثمرات (میوې) ورکړې چې دا خلق شکر گذار سي.

دحضرت خلیل الله ﷺ ددې دعاواقعه دا ده چې دبیت الله شریف تعمیرکوم چې په طوفان نوح ﷺ کې وران سوی او نښان یې ورک سوی وو. هرکله چې الله ددې د دوباره آبادولو اراده وفرمایله نو خپل خلیل حضرت ابراهیم ﷺ یې ددې دپاره منتخب کی دشام دملک څخه په هجرت کولو حضرت هاجره رض سره د زوی حضرت اسماعیل ﷺ په دې بې اوبو او بې وښو مقام کې د وسولو دپاره ماموره کړل.

په صحیح بخاری کې دی چې حضرت اسماعیل ﷺ دغه وخت دشیدو ماشوم وو. حضرت ابراهیم ﷺ دحکم مطابق دی او دده مور بي بي ﷺ دموجوده بیت الله او زمزم څاه په څوا کې پرېښودل دغه وخت دا ځای دغرونو په مینځ کې یو خالي میدان وو. دلیری لیری پوری نه اوبه وی نه ابادی. حضرت ابراهیم ﷺ د دوی دپاره په یوه تیلی کې څه خوراک او په یوه مشکیزه کې اوبه کیښودی.

ددی څخه وروسته حضرت ابراهیم ﷺ ته دشام ملک ته د واپس کیدو حکم ورکړل سو، کوم کوم ځای چې ورته حکم ورکړل سوي وو هم دهغه ځای دحکم منلو دپاره روان سو. دبي بي او دشیدو ماشوم په دې وچ او بې سایي کیدونکی بیابان کی دپرېښودو چې کوم طبعي او فطري اثر وو دهغه اظهار خو به دهغه دعا څخه وسی کومه چې یې وروسته وکړه. مګر دالله ﷺ دحکم په منلو کې یې دومره وخت اړول هم خوښ نه کړل چې حضرت هاجرې رض ته خبر ورکړي او څه دتسلي الفاظ ورته وفرمایي.

نتیجه دا سوه هرکله چې حضرت هاجرې دی په تلو باندی ولیدی نو بار بار یې ورته آوازونه وکړل چې په دې ځنګل کې ته مونږ چاته پرېږدي او ته ځي. چې نه دلته څه انسان سته او نه د ژوند سامان. مګر خلیل الله شاته هم ونه کتل. نو وروسته دحضرت هاجري رض خیال راغی چې دالله ﷺ خلیل داسی بې وفایی نه سی کولی. شاید چې دالله ﷺ حکم ورته ورکړل سوی وي. نو آواز یې ورته وکي او پوښتنه یې ورڅخه وکړه چې آیا تاته الله ﷺ ددې ځای څخه دتلو حکم کړی دی؟ نو وروسته حضرت ابراهیم ﷺ مخ راواړوی جواب یې ورکی چې هاحضرت هاجري چې داواورېدل نووي فرمایل (اذالایضیعنا) یعنی اوس هیڅ پروا نسته کوم مالک چې تاته ددې ځای څخه دتلو حکم کړی دی هغه به مونږ هم ضائع نه کړي.

حضرت ابراهیم ﷺ پرمخ ولاړی تردی چې تر یوه غره پناه سو، کوم ځای چې حضرت هاجره اوحضرت اسماعیل ﷺ دسترګو څخه پناه سول. نو دغه وخت یې بیت الله شریف ته مخ کې او دعایې وغوښتله کومه چې په دې آیت کې ذکر ده. دحضرت ابراهیم ﷺ ددې دعاپه ضمن کې ډیر هدایت اومسئلې دي. دهغو بیان دا دی.

(دابراهیمي دعا رازونه او حکمتونه)

۱. حضرت ابراهیم ﷺ یوطرف ته خو دالله ﷺ دخلیل والی حق ادا کې چې څه وخت اوپه کوم ځای کې دده ته دا حکم ورکول سو چې ته شام ته واپس څه. په دې بې اوبو او بې وښو او وچ کلک میدان کې خپله

بي بي او شیر خوار بچی پریږده ته روان سه . نو دوی په کی یو ذره وخت دومره هم وانه ړول چی خپلي بي بي ته بیره ورسی او تسلي ورلره ورکړي او ورته ووايي چی ماته دا حکم راکول سوی دی ته بیره مه کوه بلکه چی کوم ځای ورته څه وخت حکم ورکول سو فوراً دالله ﷻ دحکم دمنلو دپاره روان سو.

دویم طرف ته د اهل او عیال دحقونو او د دوی دمحبت یې دا حق ادا کي چی دغره ځځه شاته د دوی ځخه دپناه کیدو سره دالله ﷻ په دربار کی د دوی د امن کیدو حفاظت او اطمینان سره د اوسیدو دعایي وکړه د دوی د راحت اسباب یې وغوښتل . ځکه چی دي په خپل ځان مطمئن وو چی دحکم منلو سره کومه دعا وکړل سی . هغه دالله ﷻ د دربار ځخه هر گزنه ردیږي . اوهم داسی وسوه چی دا بې ځوکه او بې وسه بي بي اوکوچنی نه دا چی په خپله آباد سوه . بلکه د دوی په برکت یو ښار آباد سو اونه صرف دا چی دوی ته د ژوند ضرورتونه په اطمینان سره نصیب سول . بلکه د دوی په برکت ترننه پوری دمکي پرخلقو دنعمتو دروازي خلاصي دي .

دا دی پیغمبرانه استقامت اوحُسنِ انتظام ، چی دیو اړخ درعایت په وخت کی دویم اړخ ته هم نه نظر انداز کوی ، دوی دعامو صوفیاء کرامو په شان مغلوب الحال کیږي نه ، او دا دی هغه تعلیم دکوم په ذریعه چی یو انسان کامل انسان جوړیږي .

۲. غَیۡرِذِی زَرۡعٍ : حضرت ابراهیم ﷺ ته هرکله چی دحق جل جلاله دطرف ځخه دا حکم حاصل سو چی خپل دشیدو ماشوم بچی او دده مور بي بي پردی وچ میدان پریږده اوته شام ته بیرته ولاړ سه ، نو په دی حکم سره خو د دوی دومره یقین سوی وو چی الله ﷻ به دوی نه ضائع کوي . بلکه د دوی دپاره به اوبه خامخا پیداکړي په دی وجه ، بِوَادٍغَیۡرِذِی مَآءٍ : یې ونه فرمایل بلکه ،غَیۡرِذِي زَرۡعٍ : یې وفرمایل او درخواست یې داوکي چی دوی ته دي میوي ورکړل سی که څه هم دبل ځای ځخه راوړل سوی وي. دا وجه ده چی په مکه مکرمه کی ترننه پوری هم دکروندي څه خاص انتظام نسته . مگر دټولي دنیامیوي او دهر شي ثمري دلته دومره را رسیږي چی په نورو ډیرو ښارونو کی ددی پیدا کیدل مشکل وي (بحرمحیط)

۳. د ، عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ : ځخه ثابته سوه چی دبیت الله شریفي آبادي دحضرت ابراهیم ﷺ ځخه مخکي سوی وه . لکه چی امام قرطبي رحمه الله په تفسیر دسورة بقره کی د ډیرو روایتونو ځخه ثابته کړی ده چی دټولو ځخه اول دبیت الله شریفي آبادي حضرت آدم ﷺ کړی ده . هرکله چی دی مخکي ته راکښته کړل سو . نو په طور دمعجزي دغره دسر اندیپ ځخه دی ځای ته دي را ورسول سو او جبریل امین ورته دبیت الله شریفي ځای هم وښوی ددی مطابق حضرت آدم ﷺ دا آباد کي . دوی په خپله او د دوی اولاد به شاوخوا طواف پر کوی . تر دی چی دحضرت نوح ﷺ په طوفان کی بیت الله شریفه پورته کړل سوه او بنیادونه یې په مځکه کی پاته سول . حضرت ابراهیم ﷺ ته پردغو بنیادو دبیت الله شریفي دنوی آبادی حکم ورکول سو. حضرت جبریل امین ورته د زړو بنیادونو نخښه وښودله بیاد حضرت ابراهیم ﷺ دا آبادي دجاهلیت دعربو په زمانه کی ونړیده . دنو جاهلیت قریشو دنوي سره دا آبادي وکړه چی ددی به جوړولو کی د ابو طالب سره نبی کریم ﷺ هم دنبوت ځخه مخکي حصه واخیسته .

په دی کی دبیت الله صف (محرم) ذکر کړی دی دمحرم معنی دعزتمند هم کیدای سی . او دمحفوظ هم . په بیت الله شریفه کی دا دواړه صفتونه موجود دي چی همیشه عزتمنده اومکرمه پاته سوی ده او د دښمنانو څخه محفوظ هم پاته سوی ده .

۴. لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ: حضرت خلیل ﷺ د دعاپه شروع کی دخپل بچی او ده دمور بي دبی وسی اوخسته حالی دذکرکولوڅخه وروسته دټولوڅخه اول چی کومه دعاوکړه . هغه دا ده چی دوی دلمانځه پابند جوړ کړي ځکه چی لمونځ ددنیا او آخرت دټولو خیرونو اوبرکتونو جمع کوونکی دی ددی څخه معلومه سوه چی د اولاد په حق کی ددی څخه لویه همدردي او خیر خواهي نسته . چی دوی دلمونځ پابند جوړکړل سی اوکه څه هم هلته یې دغه وخت صرف یوه ښځه اوبچی پرې ایښی وو مګر په دعا کی یې صیغه دجمع استعمال کړه . ددی څخه معلومه سوه چی حضرت خلیل ﷺ ته دا معلومه سوی وه چی دلته به ښارآباد سي او ددی بچی نسل به وزیږي زیات به سی . په دی وجه یې په دعا کی دا ټول شریک کړل .

۵. أَفْئِدَةً مِنَ النَّاسِ : دفواد جمع ده چی معنی یې زړه دی دلته یې لفظ د(أَفْئِدَةً) نکره او ددی سره یې حرف د (من) را وړی دی کوم چی دتبعیض اوتقلیل دپاره راځي . په دی وجه معنی دا سوه چی دځینو خلقو زړونه دی طرف ته مائله کړي . دتفسیر امام مجاهد رحمه الله فرمایي چی که په دی دعاکي دا دتبعیض اوتقلیل حرف نه وی . بلکه (أَفْئِدَةَ النَّاسِ) یې ویلی وی . نو دټولی دنیادمسلمانانو غیرمسلمانانو یهودو او نصاراو دمشرق اومغرب هرطرف څخه به ټول خلق پرمکه راپریوتل چی دا به بیا د دوی دپاره لوی زحمت جوړ سی . ددی حقیقت پیش نظر حضرت ابراهیم ﷺ په دعاکی دا الفاظ وفرمایل چی دځینو خلقو زړونه دی طرف ته مائله کي .

۶. وَارْزُقْهُمْ مِنَ الثَّمَرَاتِ : ثمرات د(ثمرة) جمع ده چی معنی یې ده میوه . اوعادةً هغو میوو ته ویل کیږي کومې چی خوړل کیږي په دی اعتبار سره ددعاخلاصه دا سوه چی دی خلقو ته دخوراک دپاره هرقسم میوی ورکړي .

اوکله لفظ د (ثمرة) دنتیجي او پیداوار په معنی کی هم راځي کوم چی دخوراک دشیانوڅخه زیات عام وي دهرنفع مندشي نتیجي اوحاصل ته ثمره ویل کیږي . دمشینی اوصنعتي کارخانو ثمراتو ته د دوی پیداوار ویل کیږي . دملازمت او مزدوری ثمره هغه اجرت اوتنخواه ته ویل کیږي کوم چی ددی په نتیجه کی حاصل سی . په قرآن کریم کی په دی دعاکی د(ثمرات کل شیء) لفظ هم راغلی دی په دی کی دلفظ دشجر پرځای لفظ د(شيء) راوړل سوی دی چی ددی څخه دی طرف ته اشاره کیدای سی چی حضرت خلیل الله ﷺ ددی خلقو دپاره صرف دخوراک دمیوو دعاونه فرمایله . بلکه دهرشي دثمراتو اوحاصل سوی پیداوار دعایي وکړه چی په دی کی دټولي دنیامصنوعات اوهرقسم دنفع شیان ټول داخل دي . شاید ددی دعا دا اثر دی چی مکه مکرمه سره ددی چی نه څه زراعتي ملک دی نه تجارتي اوصنعتي لیکن دټولي دنیاشیان دمشرق اومغرب څخه راځي مکي مکرمي ته را رسیږي داسی چې ددنیا دلوی څخه لوی ښار ته هم غالباً نصیب نه دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

۷ حضرت خليل الله ﷺ دخپل اولاد دپاره دا دعاونه کړه چي دمکي مځکه دکروندی قابله کي کنه نو هيڅ مشکله نه وه چي دمکي مځکه اونول غرونه سرسبز سوی وای ـ چي باغونه اوفصلونه په کي کيدل مګر خليل الله دخپل اولاد دپاره دا دکروندی مشغله خوښه نه کړه په دی وجه يې دعاوفرمايله چي دځينو خلقو زړونه د دوی طرف ته مائل کړي کوم چي دمشرق اومغرب او اطرافو دعالم څخه دلته راځي د دوی دا جمع کېدل به دټولی دنيا دپاره د رشد او هدايت او دمکي دخلقو دخوشحالی ذريعه جوړه سی . ددُنيا د اطرافو شيان به دلته را رسيږي او دمکي خلقو ته به دمال حاصلولو ذريعي هم په لاس ورسی الله ﷻ دا دعا قبوله کړه او تر ننه پوری دمکي خلق بغير دکروندي او زراعت څخه دټولو ضرورتونو د ژوند څخه مالامال دي

۸ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ کی يې اشاره وکړه چي د اولاد دپاره دمعاشي راحت او سکون دعا هم ددی دپاره وسوه چي دوی شکر ګذارد جوړ سی او په دی هم اجر حاصل کی دغه ډول ددعا ابتداء دلمانځه دپابندي څخه وسوه او انتهايي بر شکر ګذاري په مبنی کی دمعاشي راحت او سکون ذکر راغی په دی کی دا تعليم دی چي مسلمان نه داسی په کار دی چي دده عملونه او حالات اوخيالات او فکرونه ټول د آخرت دفلاح دپاره وي او ددنيا کار په قدر دضرورت وي

رَبَّنَا إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِي وَمَا نُعْلِنُ وَمَا يَخْفَى عَلَى اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ : په دی آيت کی ددعا تکمله دالله ﷻ دعلم محيط حواله يې ورکړی ده اولفظ د(ربنا) يې د زاری اوعاجزي دپاره مکرر راوړی دی معنی دا ده چي ته زمونږ دهرحال څخه واقف او زمونږ د زړه او باطني خالاتو او ظاهري عرض او معروض هر څه څخه خبردار يې

دباطني کيفاتو څخه مراد هغه غم اوفکر دی کوم چي دشيدو ماشوم بچی او دده دمور په ډاګ ميدان باندی دپريښودو او د دوی دجدايي په وجه په فطري طور سره لاحق کيدی او دظاهري عرض اومعروض څخه دحضرت ابراهيم ﷺ دعا او دحضرت هاجري (رض) هغه کلمي مراد دي کومي چي دی دالله ﷻ دحکم خبري واوريدی او وې ويل ـ چي هرکله الله ﷻ تاته حکم کړی وي نوهغه زمونږ دپاره کافی دی هغه به مونږ ضائع هم نه کړي . د آيت په آخرکی دعلم الهی ددی وسعت زيات بيان دی چي زمونږ ظاهر اوباطن څه چي په ټوله مځکه او آسمان کی څه شي دالله ﷻ څخه پټ نسته .

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى الْكِبَرِ إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ: ددی آيت مضمون هم ددی دعا تکمله ده ځکه چي دا دعا د آدابو څخه ده چي دالله ﷻ حمد اوثنا ورسره وسی حضرت ابراهيم ﷺ په خصوصيت سره دلته دالله ﷻ دهغه نعمت شکر ادا کړي چي په ډير زوړوالی کی الله ﷻ دده دعا قبوله کړه او صالح اولاد حضرت اسماعيل او حضرت اسحاق ﷺ يې ورکړل .

په دی حمد اوثنا کی دی طرف ته هم اشاره ده چي دا بچي کوم چي بی يار او مددګار مي په خالي ميدان کی پريښوول ـ ستاعطيه ده ، ته به د دوی حفاظت کوي په آخر کی دحمد اوثنا تکمله يې په ، إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ : سره وکړه ـ يعنی بيشکه زما پروردګار ددعاګانو اوريدونکي او قبلوونکي دي

ددی حمد اوثنا څخه وروسته بيا په دعاکی مشغول سو فرمايي ، رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي رَبَّنَا

Maktaba Tul Ishaat.com

وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ چې په دې کې دخپل ځان دپاره او دخپل اولاد دپاره پرلسلسله د قائم اوسیدو دعایې وکړه او په آخر کې یې بیا په طور د زارۍ عرض وکې چې ای زما پروردګاره زما دا دعا قبوله کړه

په آخرکې یوه جامعه دعاوفرمایله رَبَّنَا اغْفِرْلِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ یعنی ای زما پروردګاره زما او زما دوالدینو او دټولو مومنانو مغفرت وکې په هغه ورځ کله چې به په مشحرکې دټول ژوند دعملونو حساب اخیستل کیږي.

په قرآن کې دموراوپلار دپاره بې هم دعاوکړه حال دا دی چې دپلار یعنی د آذر کافر والی په قرآن کې ذکر دی کیدای سي چې دادعایې هغه وخت کړې وي کله چې حضرت ابراهيم ﷺ دکافرانو دسفارش او د بخښنې ددعاڅخه نه وومنع کړل سوی لکه بل ځای چې په قرآن کریم کې دی وَاغْفِرْ لِاَبِيْ اِنَّهٗ كَانَ مِنَ الضَّآلِّيْنَ

(احکام او هدایتونه)

ذکر سوو آیتونو څخه ددعا آداب دا معلوم سول چې باربار دې په زارۍ او عاجزۍ سره کول کیږي او ددې سره دې دالله ﷻ حمد او ثنا هم کول کیږي داسې دعا کولو دقبولیت اُمید ډیر وي.

وَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظّٰلِمُوْنَ ۵ اِنَّمَا

اوهرګز ګمان مه کوه چې الله ناخبره دی دهغه څخه چې کوي یې دا ظالمان دوی ته

يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيْهِ الْاَبْصَارُ ﴿۴۲﴾ مُهْطِعِيْنَ مُقْنِعِيْ

خو مهلت ورکړی دی دهغه ورځې دپاره چې پاته به سي په دې کې سترګې ، منډې به وهي پورته کړي به یې وي

رُءُوْسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ اِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ ۚ وَاَفْئِدَتُهُمْ هَوَآءٌ ﴿۴۳﴾ وَاَنْذِرِ

سرونه خپل نه به واپس کیږي دوی ته سترګې د دوی او زړونه به د دوی الوتي وي او وبیره وه

النَّاسَ يَوْمَ يَاْتِيْهِمُ الْعَذَابُ فَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا رَبَّنَآ اَخِّرْنَا

خلق دهغه ورځې څخه چې راسي په دوی عذاب پس وبه وایي ظالمان ای ربه زمونږ مهلت راکړه

اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۙ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ ۗ اَوَلَمْ تَكُوْنُوْٓا

مونږ ته ترلږې مودې پورې چې مونږ قبوله کړو ستابلنه او پیروي وکړو ستا د رسولانو ، ایا تاسي مخکې

اَقْسَمْتُمْ مِّنْ قَبْلُ مَا لَكُمْ مِّنْ زَوَالٍ ﴿۴۴﴾ وَّسَكَنْتُمْ فِيْ مَسٰكِنِ

قسمونه خوړل ، چې نسته تاسی لره ددنیا څخه تلل ، اوبادوې تاسو په کلو کې

Maktaba Tul Ishaat.com

الَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا

دهغو خلقو چی ظلم يې کړی وو په خپلو ځانونو او ښکاره ه سوی وو تاسو ته چی څه وکړل مونږ د دوی سره او

لَكُمُ ٱلْأَمْثَالَ ﴿٤٥﴾ وَقَدْ مَكَرُوا۟ مَكْرَهُمْ وَعِندَ ٱللَّهِ مَكْرُهُمْ وَإِن

ښودلی وی مونږ تاسو ته تولی قصی ، اودوی جوړکړی دی خپل چم او الله سره دی د دوی چم ، او نه دی

كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ ٱلْجِبَالُ ﴿٤٦﴾ فَلَا تَحْسَبَنَّ ٱللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِۦ

د دوی چل چی وښوری په دی سره غرونه ، اوخيال مه کوه چی الله به خلاف کړی خپله وعده

رُسُلَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ تُبَدَّلُ ٱلْأَرْضُ غَيْرَ ٱلْأَرْضِ

دخپلو رسولانو سره بيشکه الله زبردست دی بدله اخيستونکی په کومه ورځ چی بدله کړل سی دا مځکه په بله مځکه

وَٱلسَّمَٰوَٰتُ ۖ وَبَرَزُوا۟ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴿٤٨﴾ وَتَرَى ٱلْمُجْرِمِينَ

اوبدل سی اسمانونه او خلق مخامخ ودريږي الله ﷻ يو زبردست ته ، اووبه وينی ته مجرمان

يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِينَ فِى ٱلْأَصْفَادِ ﴿٤٩﴾ سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٍ وَتَغْشَىٰ

په دغه ورځ تړل سوی په زنځيرونو ، قميصونه د دوی به دگو گورو وی او پټوی به

وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ ﴿٥٠﴾ لِيَجْزِىَ ٱللَّهُ كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ

د دوی مخونه اور ، چی بدله ورکړی الله ﷻ هريو نفس ته دده دګټی (يعنی عمل) بيشکه الله ډيرژر

ٱلْحِسَابِ ﴿٥١﴾ هَٰذَا بَلَٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُوا۟ بِهِۦ وَلِيَعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا هُوَ

حساب کوونکی دی ، دا خبر رسول دی خلقو ته او چی وبيريږي په دی سره او چی پوهه سی چی معبود

إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٥٢﴾

دغه يو دی اوچی سوچ وکړی دعقل خاوندان.

تفسير: او (ای مخاطبه) څه چی دا ظالمان (کافران) خلق کوي ددی څخه خدای ﷻ (د ژر عذاب نه ورکولو پر بنا باندی) بی خبره مه ګڼه (څکه چی) دوی ته یې صرف ترهغه ورځي پوري مهلت ورکړی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

په کومه کی چی به ددی خلقو سترکي (دحيراني اوهيب څخه) خلاصي پاته سي (او دوی به دحساب دموقف طرف ته دطلب موافق) منډي وهونکي به وي (او) د دوی نظر به دوی ته بيرته نه سی راتلای (يعني داسی سيده سيده به ګوري چې سترګي به يې نه رپيږي) او د دوی زړونه به (ډير هيبت څخه) بالکل بدحواسه وي او (کله چی دغه ورځ راسی بيابه مهلت نه وي پس) ته دا خلق دهغه ورځي (دراتلو) څخه وبيروه په کومه ورځ چی به پر دوی عذاب راځي بيا به دا ظالمان خلق وايي چی ای زمونږ ربه ديوي لږي مودی پوری مونږ ته (نور) مهلت راکي (اودنياته مونږ بياوليږي) مونږ به (په دی موده کی) ستاخبره ټوله ومنو او دپيغمبرانو تابعداري به وکو(په جواب کی به ورته ار اشاد وسی چی آيا مونږ تاسي ته په دنيا کی اوږد مهلت نه وو درکړی او) آياتاسی (ددی اوږد مهلت په سبب) ددی څخه مخکې (په دنياکی) قسمونه نه وه خوړلي چی تاسی ته (ددنيا څخه) ګرسره تلل نسته (يعني دقيامت څخه منکر واست او په دی به تاسی قسمونه خوړل لکه دا قول دالله ﷻ دی ، وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَايَبْعَثُ اللَّهُ مَنْ يَمُوتُ : حال دا دی چی (د انکارڅخه د واپس کيدو اسباب ټول جمع وه چنانچی) تاسی دهغه (مخکی) خلقو د اوسيدو په ځايونوکی اوسيداست کومو چی (دقيامت څخه انکار اوکفر وکي) دخپلو ځانونو نقصان يې کړی وو اوتاسی ته (په پرلپسي خبرونو سره) دا هم معلومه سوی وه چی مونږ د دوی سره څنګه معامله کړی وه (چی د دوی دکفر او انکار په وجه مو دوی ته سزاګاني ورکړي ددی څخه تاسی ته معلوميدای سوه چی انکار کول موجب دغضب دی نوتصديق کول واجب دی او د دوی په ځايونوکی اوسيدل هر وخت د دوی ددی حالاتو يادولو سبب کيدای سو نو د انکار په هيڅ وخت کی ګنجائش نه وو) او (علاوه ددی واقعاتو د اوريدو څخه کوم چی دعبرت دپاره کافي وه) مونږ (هم) تاسی ته مثالونه بيان کړل (يعني په آسماني کتابونوکی مونږ هم دا واقعات دمثال په طور باندی بيان کړل چی که تاسی داسی وکي نو تاسی به هم دغسي مغضوب اومستحق دعذاب سی . نو د واقعاتو اول په خبر سره اوريدل بيا زمونږ دطرف څخه ددغو بيانول بيا مثالونه بيا خبردارکول دا ټول اسباب مقتضی ددی وه چی تاسی دقيامت څخه انکار نه وی کړي) او (مونږ چی کوم مخکي خلقو ته د دوی پرکفر او انکار سزاګاني ورکړي) دغو خلقو (دحق دين په خرابولوکی) خپل ډيرلوی لوی تدبيرونه کړی وو او د دوی (داټول) تدبيرونه دالله ﷻ په مخکې وو (دالله ﷻ دعلم څخه پټ نه سو پاته کيدای) او واقعي د دوی تدبيرونه داسی وه چی (دا عجيبه نه ده) چی په دی سره غرهم (دخپل ځان څخه) وښوری (مګر بياهم حق غالب پاته سو او د دوی ټول تدبيرونه عبث او بی کاره سول او دوی هلاک کړل سول . ددی څخه هم معلومه سوه چی حق هغه دی کوم چی پيغمبر فرمايي او ددی څخه انکار موجب دغضب اوعذاب دی . هرکله چی په قيامت کی د دوی مغلوب کيدل معلوم سوه) پس (ای مخاطبه) الله ﷻ دخپلو رسولانو سره وعده خلافي کوونکی مه ګڼه (چنانچی دقيامت په ورځ ددی منکرينو دعذاب وعده وه نو دغه به پوره سی لکه چی لوړ يې ذکر وسو) بيشکه الله ﷻ لوی زبردست (او) پوره بدله اخيستونکی دی (چی هيڅوک يې دبدلي اخيستوڅخه نه سی منع کولای نوقدرت يې هم کامل دی بيادمشيت تعلق يې لوړ معلوم سو . بيا دوعدی خلاف کولو يې څه احتمال پاته سو . او دا بدله به په هغه ورځ وی) په کومه ورځ چی بله مځکه

بدله کړل سی ددې مځکې څخه علاوه او آسمان هم (نور بدل کړل سی ددې آسمانونو څخه علاوه ځکه چې په اولنی شپیلي سره به ټوله مځکه او آسمانونه ریزه ریزه کړل سي بیا به دنوي سره مځکه او آسمانونه جوړ کړل سي) او ټول به دیو (او) زبردست الله ﷻ مخ ته پیش کړل سي (مراد ددې څخه دقیامت ورځ ده یعني په قیامت کی به بدله واخیستل سي) او (په دې ورځ ای مخاطبه) ته به مجرمان (یعني کافران) په زنځیرونو کی بند سوي ووینې (او) د دوی قمیصونه به د ګوګړو وي (یعنی ټول بدن به یې په ګوګړو کی پټ وي چې دې ته ژر اوپه تیزی سره اورلګیږي او ګوګړ دچیړ د درختي تیل وي لکه چې دلغاتو او دطب په کتابونو کی راغلي دي) او اور به د دوی دمخونو پرشا وخوا (هم) پیچل کیږي (دا هرڅه به ددې دپاره وي) چې الله ﷻ هر یو (مجرم) سړي ته دده دعمل سزا ورکي (او که څه هم دا سی مجرمان خو به ډیري وي مګر) یقیناً الله ﷻ (ته د دوی حساب او کتاب څه ګران نه دی ځکه چې هغه) ډیر ژر حساب اخیستونکی دی (دټولو فیصله به شروع کړي او فوراً به یې ختمه کړي) دا (قرآن کریم) دخلقو دپاره احکام رسول دی (چې دتبلیغ کوونکي یعنی رسول تصدیق وکي) او چې ددې په ذریعه سره (دعذاب) څخه وبیرول سي او چې په دې خبره یقین وکړي چې هغه یو معبود بر حق دی او چې هوښیار خلق نصیحت حاصل کړي.

(معلومات او مسئلې)

په سورة ابراهیم کی د انبیاء علیهم السلام او د دوی دقومونو څه حالات او معاملاتو تفصیل او دالله ﷻ دمخالفت کوونکو دبد انجام او په آخرکی دحضرت خلیل الله ابراهیم ﷺ ذکر وو چاچی بیت الله آباده کړه او دکوم د اولاد دپاره چې الله ﷻ دمکي مکرمې ښار آبادکي او ددې اوسیدونکوته هرقسم امن او امان اوپه غیرمعمولی طور باندی معاشي آساني ورکړي د دوی اولاد دبني اسماعیل دقرآن کریم اونبی کریم ﷺ اولنی مخاطب دی.

دسورة ابراهیم په دې آخري رکوع کی یې دخلاصي په توګه دې دمکي خلقوته دتیرو قومونو دحالاتو څخه دعبرت حاصلولو تلقین اوکه اوس هم نه پرسدکیږي نو دقیامت دهیبتناک عذابونو څخه یې بیرولی دي.

په اولني آیت کی نبی کریم ﷺ او هرمظلوم ته تسلي او دظالم دپاره سخت عذاب اخطار دی چې ظالمان او مجرمان خلق دي دالله ﷻ په دې مهلت ورکولو سره نه بې فکره کیږي او داسی دي نه ګني چې الله ﷻ د دوی دجرمونو څخه خبر نه دي. په دې وجه دجرمونو کولو باوجود دوی ښه آرام اوسي او څه عذاب او مصیبت پر دوی نه راځي بلکه دوی چې څه کوي ټول دالله ﷻ په نظر کی دي مګر هغه دخپل رحمت او حکمت په تقاضا سره دوی ته مهلت ورکوي.

لَاتَحْسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلاً: یعنی مه ګڼه الله ﷻ ناخبره دا خطاب په ظاهره دهغه سړي دپاره دی چې دده غفلت او شیطان دی په دوکه کی اچولی وي اوکه مخاطب یې نبی کریم ﷺ وي نوهم مقصود ددې څخه دامت غافلانو ته اورول دي او خبرول یې دي ځکه چې دنبی کریم ﷺ څخه ددې امکان نسته چې دی معاذالله الله تعالی دحالاتو څخه بې خبره یا غافل وګني.

Maktaba Tul Ishaat.com

په دویم آیت کی یې وښودله چی پردی ظالمانو فوراً عذاب نه راتلل د دوی دپاره څه ښه نه دی ځکه
چی ددی انجام دا دی چی دا خلق په ناڅاپه دقیامت او آخرت په عذاب کی ونیول سی مخ ته بیا دسورة
ترختمیدو پوری ددی آخرت دعذاب تفصیلات او دهیبتناکو واقعاتو بیان دی

لِیَوۡمٍ تَشۡخَصُ فِیهِ الۡاَبۡصَارُ یعنی په هغه ورځ کله چی سترګی خلاصی پاته سی.
مُهۡطِعِیۡنَ مُقۡنِعِیۡ رُءُوۡسِهِمۡ یعنی دبیری او حیرانتیاپه سبب به سرونه پورته اولوړکي بی اختیاربه
ځغستاوهي ، لَا یَرۡتَدُّ اِلَیۡهِمۡ طَرۡفُهُمۡ د دوی سترګي به نه رپیږي، وَاَفۡـِٕدَتُهُمۡ هَوَآءٌ ددی زړونه به خالی او
بدحواسه وي.

ددی حالاتو بیانولوڅخه وروسته نبی کریم ﷺ ته خطاب دی چی ته خپل قوم ددغه ورځی دعذاب څخه
وبیروه په کومه کی چی به ظالمان اومجرمان خلق مجبوره سی چیغي به وهي چی ای زموږ ربه موږ ته
څه نور مهلت راکړه یعنی یا دنیاته دڅو ورځو دپاره موږ ولیږه چی موږ ستا بلنه قبوله کو . او ستا د
رسولانو تابعداري وکو . او ددی عذاب څخه نجات حاصل کي . دالله ﷻ دطرف څخه به د دوی د
درخواست دا جواب وي چی اوس تاسی داسی وایاست آیا تاسی ددی څخه مخکی دا قسمونه نه وه
خوړلی چی زموږ دی دولت اوشوکت ته زوال نسته . موږ به همیشه په دنیاکی دغسي په عیش اوعشرت
کی اوسیږو . او دبیرته ژوندي کیدو او آخرت څخه مُنکر وي.

وَسَکَنۡتُمۡ فِیۡ مَسٰکِنِ الَّذِیۡنَ ظَلَمُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ وَتَبَیَّنَ لَکُمۡ کَیۡفَ فَعَلۡنَا بِهِمۡ وَضَرَبۡنَا لَکُمُ الۡاَمۡثَالَ : ظاهره دا ده چی دا
خطاب دعربو مشرکانو ته دی دکومو دپاره چی نبی کریم ﷺ ته حکم سوی دی ، انذر الناس : یعنی
وبیروه دا خلق ، په دی خطاب کی یې دوی ته خبر ورکړی دی چی دتیرو قومونو حالات او انقلابات
ستاسی دپاره غوره وعظونه دي . تعجب دی چی تاسی ددی څخه عبرت نه حاصلوي حال دا دی چی
تاسی ددی هلاک سوو قومونو په کورنو کی اوسئ او په کي ګرځی راګرځی او تاسی ته څه حالات په
لیدلو سره څه په متواترو خبرونو سره دا هم معلومه سوی ده چی الله ﷻ د دوی دنافرمانیو په وجه سره
پر دوی څنګه سخت عذاب نازل کی او موږ هم ستاسی پر لاره د راوستو دپاره ډیر مثالونه بیان کړل بیا
هم تاسی په هوښ کی نه راځی.

وَقَدۡ مَکَرُوۡا مَکۡرَهُمۡ وَعِنۡدَ اللّٰهِ مَکۡرُهُمۡ وَاِنۡ کَانَ مَکۡرُهُمۡ لِتَزُوۡلَ مِنۡهُ الۡجِبَالُ : یعنی دی خلقو دحق دین دخرابولو او
دحق ددعوت ډبولونکو مسلمانانو دآزارولو اوتکلیف رسولو دپاره ډیر زیات تدبیرونه وکړل او الله ﷻ ته
د دوی ټول ښکاره اوپټ تدبیرونه مخامخ موجود دي هغه دټولو څخه خبر دی او د دوی په ناکامه کولو
باندی قادر دی که څه هم د دوی تدبیرونه داسی عظیم او سخت وه چی د دوی په مقابله باندی غر هم د
خپل ځای څخه ښوریدای سو مګر دالله ﷻ دقدرت کامله په مخکی داټول تدبیرونه خاوري اوناکامه سوه
دا احتمال هم دی چی ددی څخه دکومو مخالفانه تدبیرونو چی په دی آیت کی ذکر سوی دي په دی کی
مراد دتیرو هلاکو سوو قومونو تدبیرونه دي مثلاً نمرود فرعون قوم دعاد او ثمود وغیره او دا هم
ممکنه ده چی په دی کی دموجوده مشرکانو دعربو حال بیان سوی دی چی دوی دنبی کریم ﷺ په مقابله

Maktaba Tul Ishaat.com

کی دیر لوی اولیري رسیدونکي سازشونه او تدبیرونه وکړل مګر الله ﷻ دا ټول ناکامه کړل.
او اکثره مفسرینو په ، إِنْ كَانَ مَكْرُهُمْ : کی لفظ د (اِن) حرف دنفي مقرر کړی دی او دا معنی یې کړی ده چی که څه هم دوی دیر تدبیرونه وکړل او چالونه یې وچلول لیکن د دوی تدبیرونو او چالونو سره دا ممکنه نه وه چی غر دخپل ځای څخه وښوري او دغر څخه مراد نبی کریم ﷺ او د دوی عزم او استقلال دی چی دکفارو یو چال هم پر دوی اثر ونه کي.
ددي څخه وروسته امت محمدی ﷺ ته د اورولو دپاره نبی کریم ﷺ ته یا هرمخاطب ته دا خبرداري ورکول کیږي ، فَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِ رُسُلَهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ ذُو انْتِقَامٍ : یعنی څوک دی دا نه ګڼي چی الله ﷻ دخپلو رسولانو سره کومي وعدي دفتح نصرت اوکامیابي کړی دی هغه به ددی څخه خلاف وکړي.
بیشکه الله ﷻ زبردست اوبدله اخیستونکی دی هغه به خامخادخپلوپیغمبرانو ددښمنانوڅخه بدله واخلی او دپیغمبرانو سره یې چی کومي وعدي کړي دي هغه به پوره کړي.
ددي څخه وروسته په آیتونوکي بیادقیامت دهیبتناکو حالاتو او واقعاتو ذکر دی اراشاد فرمایي ، يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ وَبَرَزُوا لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ: یعنی دقیامت ورځ به داسی وي چی په دی کی به موجوده مځکه هم بدله کړل سی او آسمان هم او ټول به دالله ﷻ واحد او قهار په مخ کی حاضر سی.
دمځکی او آسمان دبدلیدو دا معنی هم کیدای سی چی د دوی صفتونه اوشکل صورت بدل کړل سی لکه چی دقرآن کریم په نورو آیتونو او په روایتو دحدیثوکی دي چی ټوله مځکه به یوه هموار سطح جوړه کړل سی چی نه به په کي دیوکور پناه نه درخته وغیره هم به څه غر او شله وي او نه غاري او ژوره.
قرآن کریم ددی حال ذکر داسی فرمایلي دي ، لاتری فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا: یعنی د آبادیو اوغرونو په وجه سره چی کوم نن صبا لاری اوسرکونه کاږه واږه تیریږي. یوځای لوړ وي. یوځای ژور دا صورت به پاته نه سی بلکه ټوله به یو هوار میدان سی.
اوتبدیلی دمځکی او آسمان دا معنی هم کیدای سی چی بالکل به ددی مځکی په بدله کی بله مځکه او ددی آسمان په بدله کی بل آسمان جوړکړل سی. دحدیثونو په روایتونوکی چی ددې متعلق نقل دی.
په دی کی هم دځینو څخه صرف د صفتونو تبدیلی معلومیږي دځینو څخه د ذات تبدیلی.
دحدیثو امام بیهقي رحمه الله په صحیح سندسره دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه ددی آیت په باره کی دا نقل کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چی دمحشر مځکه به بالکل نوي مځکه دسپینو زرو په شان سپینه وي او دا مځکه به داسی وي چی چابه څه ګناه نه وي پرکړي دچاناحقه وینه به نه وي پرتوی سوی ، دغه شان په مسنداحمد اودتفسیر ابن جویر په حدیث کی دا مضمون په روایت دحضرت انس رضی الله عنه ذکر دی (مظهری)
په صحیحینو بخاري اومسلم کی دحضرت سهل بن سعد رضی الله عنه څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چی دقیامت په ورځ به خلق پر یوه داسی مځکه راپورته کړل سی چی داسی صفا اوسپینه به وي لکه دمیدي ډوډی، په دی کی به دهیڅ شي نخښه (کور، باغ، درخته، غر، غار وغیره) نه وي، دا مضمون

Maktaba Tul Ishaat.com

بیهقي دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ څخه ددی آیت په تفسیرکی نقل کړی دی ، اوحاکم په قوی سندسره دحضرت جابرﷺ څخه نقل کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چی دقیامت په ورځ به دا مځکه داسی راکش کړل سی لکه څرمن چی راکشیږي او لوړي او ژوري کوت اوګونج به ورڅخه ووزي په دی وجه سره به دمځکي غارونه اوغرونه ټول برابر سی او یوه هواره سطح به ورڅخه جوړه سی، اودغه وخت به ټول اولاد د آدم ﷺ پردی مځکه جمع سی ددی رش اوګڼوالی په وجه سره به دیو انسان په حصه کی صرف دومره مځکه وي چی دی پرودریدل سی . بیاپه محشرکی به دټولوڅخه اول زه را وبلل سم زه به درب العزت ﷻ په مخکی پرسجده پریوزم بیابه ماته دشفاعت اجازه را کړل سی نو زه به دټول مخلوق دپاره شفاعت کوم چی د دوی سره حساب کتاب ژر وسی .

ددي آخري روایت څخه خوپه ظاهره دا معلومیږي چی په مځکه کی به تبدیل صرف دصفت وي . چی غار او غر او آبادی او درختي به په کي نه وي مګر ذات دمځکي به دا باقي وی او د اولنیوروایتونو څخه معلومیږي دمحشر مځکه به ددی مځکي څخه علاوه یوبل وي او دکومي تبدیلي ذکر چی په دی آیت کی دی ددی څخه د ذات تبدیلي مراد ده . په بیان القران کی حضرت حکیم الامت رحمه الله فرمایي چی په دی دواړو خبروکی څه تضاد نسته . کیدی سی چی د اولی شپیلي په وخت کی ددی موجوده مځکی صفتونه بدل کړل سی او بیا دحساب اوکتاب دپاره دوی دبلی مځکی طرف ته نقل کړل سی .

په تفسیر مظهري کی دمسند عبد ابن حمید څخه دحضرت عکرمه ﷺ یوقول نقل کړل سوی دی چی دهغه څخه ددی تائید کیږي . ددی دالفاظو ترجمه دا ده چی دا مځکه به راونغښتل سی او ددی په خوا کی به یوه بله مځکه وي چی پرهغه به خلق دحساب کتاب دپاره ودرول سی .

په صحیح مسلم کی په روایت دحضرت ثوبان ﷺ نقل دی چی نبی کریم ﷺ ته یو یهودي عالم راغی او دا سوال يې وکي چی هرکله دامځکه بدلیږي نوانسان به کوم ځای وي ؟ ده صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایي چی دپُل صراط په خوا کی په یوه تیاره کی به وي .

ددی څخه هم دا معلومیږي چی دموجوده مځکي څخه به په ذریعه دپُل صراط بل طرف ته خلق منتقل کړل سی . او ابن جریر په خپل تفسیرکی د ډیرو صحابه وو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله دا اقوال نقل کړي دي چی دغه وخت به موجوده مځکه او ددی ټول دریابونه اور سی ګوا کی دا ټوله علاقه پر کومه چی اوس دنیا آباده ده وخت به دجهنم علاقه سی او حقیقت دحال الله ﷻ ته معلوم دی دبنده دپاره ددی څخه ماسوا بله چاره نسته .

زبان تازه کردن با قرار تو نینگیختن علت از کار تو

ژبه په اقرار باندی تازه کول په کار دي چی ستا هره وینا اوکار سم دی او ستا په کارونو کی چون او چرا نه دی کول په کار .

په آخري آیتونوکی دجهنمیانو دا حال ښوول سوی دی چی مجرمان خلق په یو زنځیرکی وتړل سی یعنی دهر یو جُرم به جُدا جُدا جمع کړل سی یوځای به وتړل سی او دوی ته به دګوګرو جامي واغوستول سی کومو ته چی تارکول وایي او دا یوه اور راکښوونکی ماده ده چی اور فوراً اخلي .

Maktaba Tul Ishaat.com

په آخري آیت کی ارشاد فرمایي چی دقیامت دا ټول حالات بیانول دخلقو دخبردارولو دپاره دی . ددې دپاره چی دوی اوس هم پوه سی چی دعبادت او فرمانبرداري قابل صرف یو ذات الله ﷻ دی او چی په دوی کی په کومو کی هوش او عقل وي هغوی دشرک څخه منع سی .

سورة ابراهیم ختم سو.

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفئ سره محفوظ دي

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتو کې

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمة الله علیه

پښتو ترجمه کوونکې (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۱۴)

خپرونکې

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۰ ۲۶۶۲۵۱)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای .... لاهور

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	فهرست تفسیر معارف القرآن	مخ

(سورة الحجر) ۷
الر تلك آيات الكتاب الخ ۱ تا ۵ .... ۷
معلومات او مسئلې ۸
وَقَالُوا يَا أَيُّهَا الَّذِي نُزِّلَ الخ ۶ تا ۹ .... ۸
معلومات او مسئلې ۹
دمامون د درباره یوه واقعه ۹
دقرآن دحفاظت په وعده کی دحدیث حفاظت هم شامل دی ۱۱
مطلق د رسول ﷺ احادیثو ته غیرمحفوظ ویونکي په حقیقت کی قرآن ته غیر محفوظ وايي ۱۱
وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ الخ ۱۰ تا ۱۵ .... ۱۲
وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا الخ ۱۶ .... ۱۳
معلومات او مسئلې ۱۳
وَحَفِظْنَاهَا مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ رَجِيمٍ الخ ۱۷ تا ۱۸ .... ۱۳
شهاب ثاقب ۱۴
وَالْأَرْضَ مَدَدْنَاهَا الخ ۱۹ تا ۲۵ .... ۱۶
دالله حکمت د ژوند په ضرورتونو کی مناسبت او موزون والی ۱۷
ټول مخلوق ته د اوبو رسولو او اوبه کولو عجیبه بي مثله الهی انتظام ۱۸
په نیکو کارونو کی د وراندی کیدو او په وروسته پاته کیدو کی د درجو فرق ۲۰
وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ الخ ۲۶ تا ۴۴ .... ۲۱
د انسان په بدن کی روح پوکل او دی دملائکو د مسجود جوړولو مختصر تحقیق ۲۳
د روح او نفس متعلق د حضرت قاضی ثناء الله رحمه الله تحقیق ۲۴
حکم دسجدي ملائکو ته سوی وو ابلیس په کښی تبعاً شامل کړل سو ۲۵
دالله پر مخصوصو بندګانو دشیطان دتسلط کیدو معنی ۲۵
دجهنم اووه ۷ دروازي ۲۶
إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ الخ ۴۵ تا ۵۰ .... ۲۲
معلومات او مسئلې ۲۷
وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ الخ ۴۵ تا ۵۰ .... ۲۸
دنبی کریم ﷺ خاص اعزاز او اکرام ۳۲

Maktaba Tul Ishaat.com

په غير الله قسم خوړل	۳۲
په کومو کلو چې عذاب نازل سو دهغوي څخه عبرت حاصلول په کار دي	۳۳
وَإِنْ كَانَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ الخ ۷۸ تا ۸۶	۳۳
قصه داصحاب ايکه او اصحاب حجر	۳۴
وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِنَ الْمَثَانِي الخ ۸۷ تا ۹۹	۳۵
سورة فاتحه دټول قرآن کريم متن او خلاصه ده	۳۸
په محشرکې به سوال دڅه شي کول کيږي	۳۸
په تبليغ او ارشاد کې تدريج په قدر د طاقت	۳۸
د دښمنانو د زار څخه د زړه تنګيدو علاج	۳۹
(سورة النحل)	۳۹
أَتَى أَمْرُ اللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ الخ ۱ تا ۲	۳۹
معلومات او مسئلې	٤٠
خَلَقَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ الخ ۳ تا ۸	۴۱
معلومات او مسئلې	۴۲
په قرآن کې دريل، موټر او هوايي جهاز ذکر	۴۳
وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا الخ ۹	۴۴
معلومات او مسئلې	۴۵
هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ الخ ۱۰ تا ۱۶	۴۵
معلومات او مسئلې	۴۷
أَفَمَنْ يَخْلُقُ كَمَنْ لَا يَخْلُقُ الخ ۱۷ تا ۲۳	۴۹
معلومات او مسئلې	۵۱
وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ مَاذَا أَنْزَلَ الخ ۲۴ تا ۲۹	۵۱
معلومات او مسئلې	۵۳
وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا مَاذَا الخ ۳۰ تا ۳۴	۵۴
وَقَالَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ الخ ۳۵ تا ۴۰	۵۶
معلومات او مسئلې	۵۹
آيا په هندوستان پاکستان کې هم دالله ﷺ يو څوک رسول راغلی دی	۵۹
وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ الخ ۴۱ تا ۴۲	۵۹

Maktaba Tul Ishaat.com

تشريح اوتفسير	۶۰
آيا هجرت په دنيا كې هم د ژوند د فراخۍ سبب جوړيږي	۶۰
دوطن پريښودو اوهجرت مختلف قسمونه او حكمونه	۶۲
وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ الخ ۴۳ تا ۴۴	۶۴
معلومات اومسئلې	۶۵
دمجتهدينو امامانو تقليد پرغيرمجتهدينو واجب دى	۶۵
خبرداري	۶۸
په قرآن د وپوهيدو دپاره د رسول ﷺ احاديث ضروري دى دحديثو څخه انكار په حقيقت كې دقرآن څخه انكار دى	۶۸
أَفَأَمِنَ الَّذِينَ مَكَرُوا الخ ۴۵ تا ۴۷	۶۹
معلومات اومسئلې	۷۰
دقرآن دپوهې دپاره معمولي عربي داني پوره نه ده	۷۱
دعربى ادب ازده كولو دپاره دجاهليت دشاعرانوكلام ويل جائز دى	۷۱
ددُنياعذاب هم يوقسم رحمت دى	۷۱
أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا خَلَقَ اللَّهُ الخ ۴۸ تا ۵۷	۷۱
وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثَىٰ الخ ۵۸ تا ۶۰	۷۴
معلومات اومسئلې	۷۴
وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ الخ تا ۶۵	۷۵
وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً الخ ۶۶	۷۷
معلومات اومسئلې	۷۷
وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ الخ ۶۷	۷۸
معلومات اومسئلې	۷۸
وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ الخ ۶۸ تا ۶۹	۷۹
معلومات اومسئلې	۸۰
فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ ، تشريح	۸۲
فائدى	۸۳
وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفَّاكُمْ الخ ۷۰	۸۵
معلومات اومسئلې	۸۵

Maktaba Tul Ishaat.com

د، اَرذَلِ الْعُمُرِ ، تشريح ۸۶
وَاللّٰهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ الخ ۷۱ ...... ۸۶
معلومات اومسئلې ۸۶
په معاش كې ددرجو اختلافات د انسانانو دپاره رحمت دی ۸۸
د دولت پريوځاى دجمع كيدو خلاف قرآني حكمونه ۸۸
وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ اَنْفُسِكُمْ الخ ۶۲ تا ۷۶ ...... ۹۰
معلومات اومسئلې ۹۳
وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الخ ۷۷ تا ۸۳ ...... ۹۴
معلومات اومسئلې ۹۷
دكور جوړولو اصل مقصد د زړه او جسم سكون دی ۹۸
وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ الخ ۸۴ ال ۸۹ ...... ۹۹
معلومات اومسئلې ۱۰۱
اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ الخ ۹۰ ...... ۱۰۲
معلومات اومسئلې ۱۰۲
د دريو ۳ شيانو حكم او د دريو شيانو څخه منع ۱۰۳
د، الاحسان ، تشريح ۱۰۴
وَاَوْفُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ الخ ۹۱ تا ۹۶ ...... ۱۰۶
دعهد پوره كولو حكم او دعهد ماتولو بدوالى ۱۰۷
معلومات او مسئلې ، ۱۰۹
عهد ماتول حرام دی ۱۰۹
د دوكې وركولو دپاره په قسم كې دايمان دليرى كيدو بيره ده ۱۱۰
رشوت اخيستل سخت حرام او دالله ﷻ سره عهد ماتول دي ۱۱۰
درشوت جامع تعريف ۱۱۰
ددنيا راحت ، تكليف ، دوستى دښمنى ټول فنا كيدونكى دی ۱۱۱
مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ الخ ۹۷ ...... ۱۱۱
معلومات اومسئلې ۱۱۲
حيات طيبه څه شى دی ؟ ۱۱۲
فَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ الخ ۹۸ تا ۱۰۰ ...... ۱۱۲
دايتونو ترون ۱۱۳

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډ تفسیر	۱۱۲
معلومات او مسئلې	۱۱۴
په الله ﷻ باندې ایمان او توکل د شیطاني تسلط څخه د نجات لاره	۱۱۵
وَإِذَا بَدَّلْنَا آيَةً مَّكَانَ الخ ۱۰۱ تا ۱۰۵	۱۱۵
د ایتونو تړون	۱۱۶
په نبوت باندې د کفارو د شبهو جواب، سره د زوروني	۱۱۶
مَن كَفَرَ بِاللَّهِ مِن بَعْدِ الخ ۱۰۶ تا ۱۰۹	۱۱۷
معلومات او مسئلې	۱۱۹
د اکراه تعریف او د دې حد	۱۱۹
ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا الخ ۱۱۰ تا ۱۱۳	۱۲۱
فَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ الخ ۱۱۴ تا ۱۱۹	۱۲۲
په ذکر سوو محرماتو کې حصر اضافي دی حقیقي نه دی	۱۲۵
إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا الخ ۱۲۰ تا ۱۲۴	۱۲۶
د ایتونو تړون	۱۲۶
د نبي کریم ﷺ د پاره د ملت ابراهیمي تابعداري	۱۲۸
ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ الخ ۱۲۵ تا ۱۲۸	۱۲۸
معلومات او مسئلې	۱۳۰
د دعوت او تبلیغ اصول او مکمل نصاب	۱۳۰
د دعوت اصول او آداب	۱۳۱
د الله ﷻ طرف ته د دعوت پیغمبرانه اداب	۱۳۲
د رواجي بحث او مباحثو دیني او دنیوي ضرورونه	۱۳۸
د حق دعوت کوونکي ته که ازار ورسول شي نو بدله اخیستل هم جائز دي مگر صبر کول غوره دي	۱۴۱
د ذکر سوو آیتونو شان نزول او د نبي کریم ﷺ او صحابه ؓ د طرف څخه حکم منل	۱۴۱

څوارلسمه پاره ختمه سوه

تفسیر معارف القرآن د نصیر احمد احمدي نوی سکین دی

pdf ته د ورځ په حمید احمدي او واټسپ ۰۷۲۹۸۲۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿سورة الحجر﴾

سُوْرَةُ الْحِجْرِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ تِسْعٌ وَتِسْعُوْنَ اٰيَةً وَسِتُّ رُكُوْعَاتٍ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة حجر په مکه کی نازل سوی دی او په دی کی نه نوی (۹۹) ایتونه او شپږ (۶) رکوع گانی دی.

شروع کوم د الله ﷻ په نوم سره چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی.

الٓرٰ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ وَقُرْاٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱﴾

، دا — ایتونه دی — دکتاب — او واضحه قرآن

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ﴿۲﴾ ذَرْهُمْ يَاْكُلُوْا

څه وخت به ارزو وکی دا خلق کوم چی منکر دی څه به ښه وی که وی مسلمانان ، پرېږده دوی چی خوری

وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۳﴾ وَمَآ اَهْلَكْنَا

او نفع اخلی — او په امید کی اوسی — پس ائنده — به پوه سی — ، او موږ نه دی هلاک کړی

مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿۴﴾ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ

یو کلی — دهغه وخت لیکلی سوی وو معلوم مقرر ، — نه مخکی کیږي — یوه ډله

اَجَلَهَا وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ﴿۵﴾

دخپل وخت مقرر څخه او نه وروسته کیدی سی.

لنډتفسیر: آلرا (ددی معنی خو الله ﷻ ته معلومه ده) دا آیتونه دي دیو کامل کتاب او قرآن واضح (یعني ددې دا دواړه صفتونه دي ، کامل کتاب کیدل هم او واضح قرآن کریم کیدل هم ، په دی کلمو سره دقرآن دحق کلام والی او واضح کولو څخه وروسته دهغو خلقو دحسرت اوعذاب بیان دی کوم چی په قرآن ایمان نه راوړي یا یې په احکامو عمل نه کوي فرمایي ، ربمایود: یعنی هرکله چی په قیامت دحشر اونشر په میدان کی پر کافرانو قسم قسم عذاب وي نو) کافران خلق به بار بار آرزو وکي چی څه به ښه وای که دوی (یعني موږ په دنیا کي) مسلمانان وای (بار بار په دی وجه چی هرکله څه نوی سختي اومصیبت ویني نو په هر وار به پرخپل اسلام نه راوړو افسوس تازه کیږي) ته (په دنیاکی د دوی په کفرغم مه کوه او) دوی د دوی په حال پرېږده چی دوی ښه خوراک کوي او خوندونه اخلي اوخیالي منصوبو دوی په غفلت کی غورځولي دي دوی ته به ډیر ژر (دمرگ سره) حقیقت معلوم سی (او په دنیا کی چی کومه دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

ته دكفر اوبدعملي فوراً سزا نه وركول كيږي ددې وجه دا ده چې الله ﷻ دسزا وخت مقرركړى دى اوس
لاهغه وخت نه دى راغلى) اومونږ چې څومره كلي (دكفر په وجه سره) هلاک كړي دي د دوى تولو دپاره يو
مقرر وخت ليكل سوى دى او (زمونږ اصول دا دي چې) يو امت دخپل مقرر وخت څخه نه مخكي هلاک
سوى دى او نه وروسته پاته سوى دي (بلكه پرمقرروخت هلاک سوى دي دغه شان كله چې د دوى وخت
راسى نو دوى ته به هم سزاوركړل سى)

معلومات اومسئلې ذَرۡهُمۡ يَاكُلُوۡا الخ ، څخه معلومه سوه چې خوړل اوڅښل مقصد اواصل مشغله جوړول
او ددنيادعيش اوعشرت په سامان كى دمرګ څخه بې فكره كيدل اوږدې منصوبې جوړول دكفاروڅخه
كيداى سى ، دكوموچې په آخرت او ددى په حساب اوكتاب اوجزا اوسزا باندې ايمان نسته مومن هم
خوراک اوڅښاک كوي او د ژوند دپاره په قدر دضرورت اسباب تيار وي او د راتلونكي كار او بار
دپاره منصوبې هم جوړ وي مګرپه دې كارونو دمرګ او آخرت څخه غافله كيږي نه ، په دې وجه په
هركاركې دحرامو اوحلالو فكر كوي اوفضول منصوبه بندي خپله مشغله نه جوړوي ، نبى كريم ﷺ
فرمايلي دي چې څلور شيان دبدبختي اوبدنصيبي نخښې دي دسترګو څخه اوښكي نه بهيدل (يعنى
په خپلو ګناهونو اوغفلتونو نه پښيمانه كيدل اونه ژړل) او زړه سختيدل اوږده اميدونه او ددنياحرص
(قرطبي دمسند البزاز څخه په حواله د انس ﷺ) او د اوږدو اميدونو مطلب دا دى چې ددنياپه محبت
او حرص كى داسى سرګرمه سى چې دمرګ او آخرت څخه به بې فكرى سره اوږدې اوږدې منصوبې
جوړوي قرطبي كومي منصوبې چې دديني مقصدونو دپاره يادقوم اوملک دراتلونكو دپاره جوړول
كيږي هغه په دې كى داخلي نه دي څكه چې دغه هم د آخرت دفكر يو صورت دى.

او نبى كريم ﷺ فرمايلي دي چې ددې امت د اولې طبقې نجات به دكامل ايمان او ددنياڅخه د ډډې
كولو په وجه سره وي او د آخري امت خلق به دبخل او اوږدو اميدونو په وجه سره هلاک وي.

اوحضرت ابودرداء ﷺ څخه نقل دى چې دى ددمشق دجامع مسجدپرمنبرباندې ودريدى اووې
فرمايل اى ددمشق خلكو آياتاسى دخپل يو همدرد اوخير خواه ورور خبره اوريداى سى ؟ واورى ! چې
ستاسى څخه مخكې لوى لوى خلق تير سوى دي كومو چې مال او اسباب ډير جمع كړي اولوى لوى
شاندار محلونه يې جوړ كړل او لويې اوږدى اوږدى منصوبې يې جوړې كړي نن هغه ټول هلاک سوى
دي دهغوى كورونه دهغو قبرونه دي او دهغوى اوږده اميدونه ټول دوكه اوفريب ثابت سوه دعاديانو
قوم تاسى ته نژدې وو كومو چې دخپلو سريو څخه او دهرقسم مال اواسباب او وسلو او آسونو څخه
ملک ډک كړى وو نن څوک سته چې دهغوى ميراث زما څخه په دوه درهمه اخيستو ته تيار سى.

حضرت حسن بصري ﷺ فرمايي چې كوم سړى په خپل ژوندكى اوږده اميدونه تړي دده عمل خامخا
خرابيږي (قرطبي)

وَقَالُوۡا يٰۤاَيُّهَا الَّذِىۡ نُزِّلَ عَلَيۡهِ الذِّكۡرُ اِنَّكَ لَمَجۡنُوۡنٌ ۝ لَوۡ مَا تَاۡتِيۡنَا بِالۡمَلٰٓئِكَةِ

او خلق وايي اى هغه څوكه ! چې په تانازل سوى دى قرآن ته بيشكه ديوانه يې ولې نه راولې ته مونږته ملائكې

Maktaba Tul Ishaat.com

إِن كُنتَ مِنَ الصَّٰدِقِينَ ۝ مَا نُنَزِّلُ الْمَلَٰٓئِكَةَ إِلَّا بِالْحَقِّ وَمَا كَانُوٓا إِذًا

که ته رښتونی یې ، مونږ نه نازلوو ملائکې مګر د کار پوره کولو دپاره او دغه وخت به نه

مُّنظَرِينَ ۝۸

ورکول کیږي دوی ته مهلت

لنډتفسير: (په ، الاّ بِالْحَقِّ ، کې دلفظ دحق ځخه مراد فیصله دعذاب ده ځینو تفسیرلیکونو ورځخه قرآن یا رسالت مراد اخیستی دی په بیان القران کې یې اولی معنی ته ترجیح ورکړی ده دا معنی دحسن بصری رحمه الله ځخه نقل ده).

دآیتونو تفسیر دا دی: او دی کفارو (دمکې نبی کریم ﷺ ته) داسې وویل چې ای هغه څوک په کوم چې (دده ددعوی مطابق) قرآن نازل سوی دی ته (نعوذبالله) لیونی یې (اودنبوت غلطه دعوه کوې کنه نو) که ته (په دی دعوه کی) رښتینی یې نو مونږ ته ملائکې ولی نه راولی (کومې چې زمونږ په وړاندی ستا د رښتینوالي شاهدي وکړي ، لکه دا قول دالله ﷻ ، لولا انزل الیه ملک فیکون معن نذیرا: الله ﷻ جواب ورکوي چې) مونږ ملائکو ته (په کومه طریقه چې دوی درخواست کوي) صرف دفیصلي دپاره نازلوو او (که داسې کیدای نو) دغه وخت به دوی ته مهلت هم نه ورکول کیدای (بلکه چې کله د دوی په راتلو یې هم ایمان نه راوړي لکه چې د دوی دحالاتو ځخه دا یقیني ده نو فوراً به هلاک کیده لکه چې دسورة انعام د اولی رکوع په آخري آیتونو کی ددی وجه ذکر سوی ده)

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ۝۹

مونږ په خپله نازل کړی دی دا نصیحت او مونږ په خپله ددې حفاظت کوونکی یو.

لنډتفسير: مونږ قرآن نازل کړی دی او (دا دعوی بې دلیله نه ده بلکه دده معجزوالی پر دی باندی دلیل دی او ددی دیوه اعجاز بیان خو په نورو سورتونوکی ذکر دي چې یو انسان دده دیو سورة مثل نه سی جوړولی ، دویم اعجاز یې دا دی چې) مونږ ددی (قرآن) حفاظت کوونکی (اونګهبان) یو (په دی کی څوک کموالی یازیاتوب نه سی کولی ، لکه چې په نورو کتابونو کی کیدای سی دا داسی ښکاره او واضحه معجزه ده چې هرعام اوخاص په پوهیدای سی ، اوله معجزه چې دقران دفصاحت اوبلاغت اوجامعیت څوک مقابله نه سی کولی ، په دی خو صرف اهل علم پوهیدای سی ، مګر کموالی او زیاتوالی نه په کي کیدل په دی خو یو آنَ جاهل هم پوهیدای سی)

(معلومات او مسئلي)

(دمامون د درباره یوه واقعه)

امام قرطبی رحمه الله دلته په سندمتصل سره یوه واقعه دامیرالمومنین مامون د دربار نقل کړي ده ، چې

Maktaba Tul Ishaat.com

دمامون عادت وو چې کله کله به دده په دربار کې پر علمي مسئلو بحث مباحثې او مذاکرې کيدې چې په دې کې به هرعالم ته دراتلو اجازه وه ، په داسې يوه مذاکره کې يو يهودي هم راغې چې دصورت شکل اولباس وغيره په اعتبار سره هم يو ممتاز سړی معلوميده بياچې خبرې يې وکړې نوهغه هم فصيحې اوبليغې دعاقلانو خبرې وې هرکله چې مجلس ختم شو نو مامون دې را وغوښتې اوپوښتنه يې ورڅخه وکړه چې ته اسرائيلي يې هغه اقرار وکې نومامون يې د امتحان اخيستو دپاره وويل چې که ته مسلمان سوې ، نو مونږ به ستا سره ډير ښه سلوک کوو .
ده جواب ورکې چې زه خپل اودخپل پلار اونيکه دين نه سم پرېښووی خبره ختمه سوه ، دا سړی ولاړې بيايوکال وروسته دا سړی مسلمان سو راغې او دمذاکرې په مجلس کې يې داسلامي فقهي پرموضوع باندې بهترين تقرير اوغوره تحقيقات پيش کړل ، دمجلس ختميدو څخه وروسته مامون دې راوبلې ورته يې وويل چې ته هغه سړی يې کوم چې تيرکال راغلی وې ده جواب ورکې چې هو ! هم هغه يم مامون ورڅخه پوښتنه وکړه چې هغه وخت خو تا د اسلام قبلولو څخه انکار کړی وو بيا اوس دې دمسلمانيدو سبب څه وسو؟
ده وويل چې کله زه ددې ځای څخه بيرته ولاړم نو په موجوده مذهبونو مې دتحقيق کولو اراده وکړه ، زه يوخطاط اوخوشنويس سړی يم چې کتابونه وليکم نو په ډير ښه قيمت سره خرڅيږې ، ماد امتحان کولو دپاره دتورات درې نُسخې کتابت کړې ، چې په ډيرو ځايونوکې مې په کې دخپل طرف څخه کمې او زياتوب وکې او دا نسخې مې کنيس ته «ديهوديانو عبادت خانې ته» يوړې ، يهوديانو دغه ډيرې په مينه سره واخيستې ، بيامې دغه شان د انجيل درې نسخې دکمې اوزياتوب سره کتابت کړې ، دنصاراو عبادت خانې ته مې يوړې هلته هم نصاراؤ په ډير قدر او عزت سره زما څخه دا نُسخې واخيستې بيا ما دا کار دقرآن سره وکې ددې مې هم درې نسخې ښائسته کتابت کړې چې په دې کې مې هم دخپل طرف څخه کمې او زياتوب کړی وو دا نُسخې چې مې کله دخرڅولو دپاره را ويستلې نوچاته چې به مې ورورې نو هغه به کتلې چې صحيح دې او که نه؟ هرکله چې ورته په کې کمې او زياتوب په نظر راغې نو ما ته يې واپس کړې .
ددې واقعې څخه ما ته دا سبق حاصل سو چې دا کتاب محفوظ دی ، اوالله ﷻ دده حفاظت کوونکی دی ، په وجه مسلمان سوم ، قاضي يحيی بن اکتم رحمه الله ددې واقعې راوي وايي چې اتفاقاً په دې کال زما دحج توفيق وسو اوهلته مې دسفيان بن عينيه رحمه الله سره ملاقات وسو نو داقصه مې هغه ته واوروله هغوي وفرمايل چې بيشکه داسې په کار ده څکه چې ددې تصديق په قرآن کې موجود دی.
يحيی بن اکتم رحمه الله پوښتنه وکړه چې دقرآن په کوم يو آيت کې ؟ نو وې فرمايل چې قرآن کريم کوم ځای دتورات او انجيل ذکرکړی دی ، په دې کې خو فرمايي . بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ : يعنې يهودو او نصاراؤ ته دکتاب الله تورات او انجيل دحفاظت ذمه واري سپارل سوې ده ، نو په دې وجه چې هرکله يهودو اونصاراوو دحفاظت فرض ادا نه کړل نو دا کتابونه مسخ محرف او ضائع سول په خلاف دقرآن کريم څخه چې ددې متعلق الله ﷻ فرمايي ، اِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ : يعنې مونږ ددې حفاظت کوونکي يو

Maktaba Tul Ishaat.com

نو په دې وجه چې ددې دحفاظت ذمه په خپله الله ﷻ اخيستی ده ، نو ددښمنانو د زرګونو کوششونو باوجود ددې په يوه نقطه اويو زبر او زير کې فرق را نه وستل شو، نن درسالت دزماني څخه هم څه دپاسه څوارلس ۱۴ سوه کلونه تيرسوی دي ، په ټولو ديني او اسلامي کارونوکي دمسلمانانو دکوتاهيو او غفلت باوجود دقرآن کريم دحفظ کولوسلسله دټولي دنياپه مشرق اومغرب کی دغه ډول قائمه ده ،په هره زمانه کی په کروړونو مسلمانان ځوانان بوډاګان هلکان او انجوني داسي موجود وي چې د دوی په سينوکی پوره قرآن کريم محفوظ وي دڅا ديو لوی څخه لوی عالم هم مجال نسته چې يو حرف غلط ووايي نو دغه وخت به ډيري لوی او کوچنی دده غلطي ونيسي .

(دقرآن دحفاظت په وعده کې دحديث حفاظت هم شامل دی)

ټول اهل علم پردې متفق دي چې قرآن نه صرف د الفاظو دقرآن نوم دی نه صرف دمعانيو دقرآن کريم بلکه د دواړو مجموعي ته قرآن ويل کيږي وجه دا ده چې دقرآن معاني اومضامين خوپه نوروکتابونو کی هم موجود دي اوپه اسلامي کتابونو کی خو په عام طور سره دقران مضامين وي مګر دی ته قرآن نه ويل کيږي ځکه چې الفاظ دقران نه وي دغه شان که يوسړی دقرآن الفاظ اوجملي را واخلي يوه مقاله يا رساله ورڅخه وليکي نو دیٌ ته هم څوک قرآن نه سی ويلای که څه هم په دی کی يو الفاظ هم دقرآن څخه بهر نه وي ، ددی څخه معلومه سوه چې قرآن صرف دهغه مصحف رباني نوم دی دکومو الفاظو اومعنی چې يوځای محفوظ وي .

ددی څخه دا مسئله هم معلومه سوه چې په يوه ژبه اردو انګريزي وغيره کی په کومه صرف ترجمه دقرآن شائع کړی اوخلق ورته د اردو يا د انګريزي قرآن وايي دا هيڅکله جائز نه دی ځکه چې دغه قرآن نه دی اوکله چې دا معلومه سوه چې قرآن صرف دالفاظو دقرآن نوم نه دی بلکه معاني هم ددی يو جزء دی نو د حفاظت چې کومه ذمه داري په دی آيت کی الله ﷻ په خپله ذمه مقررکړی ده په دی کی لکه څنګه چې دالفاظو دقرآن دحفاظت وعده او ذمه واري ده دغه شان دقرآن دمعانيو اومضامينو دحفاظت اومعنوي تحريف څخه د دوی دمحفوظ کيدو هم ذمه واري الله ﷻ اخيستی ده .

او دا ظاهره ده چې معاني دقرآن هغه دی دکومو دتعليم ورکولو دپاره چې، يې نبی کريم ﷺ راليږل سوي دي ، لکه چې قرآن کريم فرمايلي دي ، لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ : يعنی ته په دی وجه ليږل سوی يې چې وښيې خلقوته مطلب دهغه کلام کوم چې د دوی دپاره نازل کړل سوی دی او دا معنی ددیآيت ده . يُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ : اوپه دی وجه حضور ﷺ فرمايي ، اِنَّمَابُعِثْتُ مُعَلِّمًا : يعنی زه معلم راليږل سوی يم اوهرکله چې نبی کريم ﷺ دقرآن دمعانيو دبيان اوتعليم دپاره راليږل سوی دی نو دوی ﷺ چې امت ته د کومو خبرو او کارونو تعليم ورکړی دی ، ددغو خبرو او کارونو ، نوم حديث دی .

(مطلق د رسول ﷺ احاديثوته غيرمحفوظ ويونکي په حقيقت کې قرآن ته غير محفوظ وايي)

کوم خلق چې نن صبا دنياپه دی مغالطه کی غورځول غواړي چې د احاديثوکومه ذخيره چې په مستندو کتابونو کی موجوده ده ، دغه په دی وجه د اعتبار قابله نه ده چې دغه دنبی کريم ﷺ دزماني څخه ډيره وروسته راغونده کړل سوی ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

اول خو د دوی دا ویناهم صحیح نه ده ځکه چی دحدیثو حفاظت اوکتابت په خپله درسالت په زمانه
کی شروع سوی وو، وروسته ددی تکمیل وسو، ددی څخه علاوه د رسول ﷺ احادیث په حقیقت کی
دقرآن تفسیر او معاني دي ددی حفاظت الله ﷻ په خپله ذمه اخیستی دی ، بیا دا څنګه کیدای سی
چی دقرآن صرف الفاظ محفوظ پاته سی اومعاني يې (یعنی احادیث درسول) ضائع سی.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِي شِيَعِ الْأَوَّلِينَ ﴿١٠﴾ وَمَا يَأْتِيهِم

اومونږ لیږلی دی رسولان ستاڅخه په وړاندی فریقو کی اونه راتلی دوی ته

مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿١١﴾ كَذَٰلِكَ نَسْلُكُهُ فِي

یو رسول مګر دوی وربوری توقی کوی ، دارنګه کښینولی ده مونږ دا

قُلُوبِ الْمُجْرِمِينَ ﴿١٢﴾ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِ ۖ وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾

په زړونو دګناهګارانو کی ، یقین نه کوی په دی او دا یو رسم دی را روان دمخکنیو څخه

وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا مِّنَ السَّمَاءِ فَظَلُّوا فِيهِ يَعْرُجُونَ ﴿١٤﴾

اوکه مونږ خلاص کړو دوی ته دروازه داسمان پس دوی په کی توله ورځ خیژی،

لَقَالُوا إِنَّمَا سُكِّرَتْ أَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُورُونَ ﴿١٥﴾

نو هم به دا ووایی چی زمونږ ستر ګی بندی کړل سوی دی ، داسی نه ده بلکه په مونږ جادو سوی دی.

لغات: شِيَعٌ ، دشیعه جمع ده چی معنی يې دیوسړي پیروکار او مددګار هم راځي او داسی فرقي ته هم شیعه ویل کیږي کوم چی پرخاصو عقیدو او نظریو اتفاق لري ، مراد دا دی چی مونږ په هره فرقه او ډله کی رسول لیږلی دی ، په دی کی دلفظ د(الی) په ځای (في شيع الاولین) وفرمایي اودی طرف ته هم اشاره وکړه چی دهري ډلی رسول ددغه ډلی څخه لیږل سوي دی چی دخلقو په ده اعتماد کول آسان وي اودی هم ددوی دخویونو اومزاجونو څخه خبر وي او د دوی د اصلاح دپاره مناسب انتظام جوړ کړل سی

تفسیر: او(ای محمد ﷺ ته د دوی ستاپر درواغجن کولو غم مه کوه ځکه چی دا معامله د انبیاء علیهم السلام سره همیشه کیدونکی را روانه ده چنانچی) مونږ ستاسي څخه مخکي هم پیغمبر د وړاندی خلقو په ډیرو ډلوکی لیږلی وه (او د دوی دا حالت وو چی) یو رسول دوی ته داسی نه دی راغلی دکوم سره چی دوی مسخري نه دي کړي (کوم چی د درواغجن کولو ترټولو بېکاره قسم دی ، نو لکه څنګه چی ددغو خلقو په زړو کی دا مسخري پیداسوی وي) دغه شان مونږ دا مسخري ددی مجرمانو (یعنی د مکي دکفارو) په زړونو کی اچوو (چی ددی په وجه سره) داخلق په قرآن ایمان نه را

Maktaba Tul Ishaat.com

وړي او دا دستور د مخکنیو ځخه په مخه را روان دي (چې پیغمبران درواغجن کوي پس ته غمجن کیږه مه) او (د دوی د عناد خو دا حال دی چې دفرښتو د آسمان څخه راتلل خو پریږده ددی څخه زیات) که چیری (په خپله دوی آسمان ته ولیږل سی داسی چې) مونږ د دوی دپاره په آسمان کی یوه دروازه خلاصه کو بیا دوی د ورځي په وخت (چې په کي دخوب اوپریشاني وغیره څه شبهه هم نه وي) په دی (دروازه) کی (آسمان ته) وخیژي بیا به هم داسی وایي چې زمونږ نظر بندي سوی ده (چې په دی سره مونږ خانونه آسمان ته ختونکي وینو او په واقع کی مونږ ختلي نه یو او په نظر بندی کی څه دداسی واقعي تخصیص نسته) بلکه په مونږ خلقو خو بالکل جادو سوی دی (که مونږ ته ددی څخه زیات هم څه معجزې وښودل سی هغه به هم واقع کی معجزه نه وي)

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا وَّزَيَّنّٰهَا لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿١٦﴾

او مونږ جوړ کړي دی په اسمان کی برجونه اوښائسته کړي دی مونږ دا دپاره دکتونکو.

لنډتفسیر: په تیرو آیتونوکی دمنکرانو دعناد او بغض ذکر وو، په دی آیتونوکی کوم چې مخته راځي دالله ﷻ دوجود یووالی علم او قدرت واضح دلیلونه د آسمان اومځکی او ددی دواړوپه مینځ کی د مخلوقاتو اومشاهدو سره بیان کړي دی چې که په دی کی یوه ذره غور هم وکړل سی نو دیو هوښیار د انکار مجال نه پاته کیږي ارشاد فرمایي.

اوبې شکه مونږ په آسمان کی غټ غټ ستوري پیدا کړل او دلیدونکو دپاره مونږ آسمان په (ستورو سره) ښائسته کي.

(معلومات او مسئلې)

بُرُوجًا: دبُرج جمع ده کوم چې غټ محل او قلعي وغیره ته ویل کیږي دتفسیر داامامانو مجاهد رحمه الله قتاده رحمه الله ابو صالح رحمه الله وغیره دلته دبروج تفسیر په غټو ستورو سره کړی دی ، او په دی آیت کی چې کوم ددی غټو ستورو په آسمان کی دپیداکولو ارشاد دی دلته د آسمان څخه مراد آسماني فضاء ده کومی ته چې دنن صباپه اصطلاح کی خلاء ویل کیږي او دلفظ دسماء په دواړو معانیو کی اطلاق عام او مشهور دی د آسمان وجود ته هم سماء ویل کیږي او د آسمان څخه ډیر لاندی چې کومه آسماني فضاء ده دی ته هم په قرآن کریم کی ځای پرځای لفظ دسماء ویل سوی دی ، او دسیّارو اوستورو په آسمانونو کی دننه نه بلکه په آسماني فضاء کی دکیدلو مکمل تحقیق دقرآن کریم دآیتونو څخه دارنګه د زړو او نوو آسماني عملونو دتحقیق څخه چې انشاء الله تعالی دسورة فرقان دآیت تَبَارَكَ الَّذِي جَعَلَ فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا وَّجَعَلَ فِيهَا سِرَاجًا وَّقَمَرًا مُّنِيرًا : په تفسیر کی به راسی.

وَحَفِظْنٰهَا مِنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ﴿١٧﴾ اِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَاَتْبَعَهٗ

او محفوظ کړي دی مونږ دا دهرشیطان مردود څخه ، مګر هغه چې غلا وکړي داوریدو پس په ده پسی

Maktaba Tul Ishaat.com

شِهَابٌ مُّبِينٌ ⑱

سی سکروټه بریښیدونکی .

تفسیر: مونږ آسمان (دستورو په ذریعه) دهر شیطان مردود څخه محفوظ کړې دی (چی هلته د دوی رسیدل ونه سی) البته چی څه خبره (دملائکو څخه) په غلا وا وري منډه کړي نو یوه روښانه شغله ورپسی سی (او ددی اثر سره دغه شیطان هلاک یا بدحواسه سی)

(معلومات اومسئلي _____ شهاب ثاقب)

ددی آیتونوڅخه یوه خو دا ثابته سوه چی دشیطانانو رسائي اسمانونو ته نه سی کیدای ، د ابلیس لعین دحضرت آدم ﷺ دپیدائش په وخت کی په آسمانونوکی کیدل اوحضرت آدم او حوا علیهم السلام په دوکه کی اخته کول وغیره دا ټول دحضرت آدم ﷺ مخکی ته د راتلو څخه مخکی واقعات دي ، تردغه وخته پورې دپیریانو اوشیطانانو آسمانونو ته داخلیدل منع نه وو، دحضرت آدم ﷺ دراکښته کیدو او دشیطان د ایستلو څخه وروسته دا داخلیدل منع سول ، دسورة جن په آیتونو کی دا ذکر دی ، اَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ فَمَنْ يَسْتَمِعِ الْآنَ يَجِدْ لَهُ شِهَابًا رَصَدًا: ددې څخه دامعلومیږي چی دنبی کریم ﷺ دپیغمبرکیدو څخه تر وړاندی پوری به شیطانانو دآسمانونو خبري دملائکو دیوبل سره دخبرو اتروڅخه اوریدلی ، ددې څخه دا نه لازمیږي چی شیطانان به آسمانونو ته داخلیدل او اوریدل به یې د، نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ: دالفاظو څخه دا مطلب هم اخیستل کیږي چی دغلو په شان به آسمان فضا کی کوم ځای چی ورځ وي هلته به پټ کښینستل اوخبرونه به یې اوریدل ، ددی الفاظو څخه په خپله هم داسی معلومیږي چی د نبی کریم ﷺ دپیغمبر کیدو څخه وړاندی دپیریانو او شیطانانو داخله آسمان ته منع وه ، مګر آسماني فضاته به رسیدل اوهلته به یې څه اوریدل دنبی کریم ﷺدپیغمبر کیدو څخه وروسته د وحي دحفاظت دا زیات انتظام وسو چی شیطانان ددی غلا څخه هم په ذریعه دشهاب ثاقب بندکړل سول ، پاته سو دا سوال چی دآسمانونو دننه دملائکو خبري اتري د آسمانونو څخه دباندی شیطانانو څنګه اوریدلي ؟ نو دا څه ناممکن شی نه دی ډیره ممکنه ده چی داسمانونو وجود داوازو اوریدو څخه منع کوونکی نه وی اوداهم بعیده نه ده چی کله به ملائکي د آسمان د آسمانونو لاندی راتلي او دیو بل سره به یې خبري کولی نو دا به شیطانانو اوریدي او تښتیدل به په صحیح بخاري کی دحضرت عائشی صدیقي ﷺ د حدیث څخه ددی تائید کیږي چی ملائکي دآسمان څخه لاندی کوم ځای چی ورځ وي څه وخت دلته راکښته کیږي او دآسماني خبرونو دیو بل سره ذکر کوي ، شیطانان به په دی آسماني فضا کی پټیدل او دغه خبرونه به یې اوریدل کوم چی دشهاب ثاقب په ذریعه بند کړل سول ددی پوره تفصیل به انشاء الله تعالی په سورة جنّ کی د ،وَاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ الخ په تفسیر کی به راسی

دویمه مسئله : په دی آیتونوکی دشهاب ثاقب ده دقرآن کریم د ارشاداتوڅخه معلومیږي چی دا شهاب دوحی دحفاظت دپاره دشیطانانو دویشتو دپاره پیداکیږي ، د دوی په ذریعه شیطانان دفع کول کیږي

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دوی دملائکو خبرې وا نه اوري.
په دې کې یو قوي اشکال دا دی چې د آسمان په فضا کې د شهابونو وجود څه نوی شی نه دی دنبی کریم ﷺ دپیغمبر کیدو څخه مخکې هم د ستورو ماتیدل لیدل سوی دی او وروسته هم دا سلسله جاري ده، نو دا څنګه ویل کیږي چې شهاب ثاقب دشیطانانو ددفع کولو دپاره پیداکیږي کوم چې د زماني دنبوت خصوصیت دی ددې څخه خو په ظاهره دا خبره قوي کیږي کوم چې د فلاسفرانو خیال دی چې دشهاب ثاقب حقیقت دومره دی چې دلمر په ګرمي سره کوم بخارات د مخکي څخه پورته کیږي، په دې کې یو څه اور اخیستونکي مادې هم وي، پورته چې ولاړ سي او دوی ته د لمر یا بلې وجهې څخه زیاته ګرمي ورسیږي نو دغه د اور بخرې سي او لیدونکو ته داسې ښکاري چې یو ستوری مات سو په دې وجه په محاوراتو کې یې ددې څخه دستوري په ماتیدو سره تعبیر کړی دی په عربي ژبه کې هم ددې دپاره د انقضاض کوکب لفظ استعمالیږي کوم چې ددې هم معنی دی.
جواب دا دی چې په دې دواړو خبرو کې څه تکراو او اختلاف نسته چې دمخکې څخه پورته سوی بخارات د اور بخرې سي، دا هم ممکنه ده او دا هم څه لیرې خبره نه ده چې دیو سیاري یا ستوري څخه شغله ووزي او را ولویږي او داسې کیدل د عام عادت مطابق دهمیشه څخه جاري وي مګر دنبی کریم ﷺ د راتلو څخه مخکې ددې شغلو څخه څه خاص کار نه سو اخیستل کیدای دنبی کریم ﷺ د راتلو څخه وروسته ددې شهابي شغلو څخه دا کار واخیستل سو چې کوم شیطانان دملائکو خبرې په غلاسره او ریدل غواړي دوی په دې شغلو سره ویشتل کیږي.
علامه آلوسی رحمه الله په روح المعاني کې دا توجیه بیان کړې ده او نقل کړې یې دی چې دحدیثو د امام زهري رحمه الله څخه چاپوښتنه وکړه چې آیادنبی کریم ﷺ د راتلو څخه مخکې هم ستوري ماتیدل؟ وي فرمایل چې هوا نو پردې باندې ده دسورة جن ذکر سوی آیت دمعارضې دپاره پیش کړي نو وي فرمایل چې شهاب ثاقب خو مخکې هم وه مګر دنبی کریم ﷺ د رالیږلو څخه وروسته چې کله پرشیطانانو سختي وکړل سوه نو د شهابونو څخه د شیطانانو ددفع کولو کار واخیستی.
دصحیح مسلم په یوحدیث کې په روایت د ابن عباس ﷺ په خپله دنبی کریم ﷺ دا ارشاد موجود دی چې ده ﷺ دصحابه ؤ رضی الله عنهم په یوه مجمع کې تشریف فرما ؤ چې ستوري مات سو حضور ﷺ د خلقو څخه پوښتنه وکړه چې په زمانه د جاهلیت کې یعنی د اسلام څخه مخکې ددې ستوري ماتیدل به تاسې څه ګڼل؟ خلقو وویل چې مونږ به دا ګڼله چې په دنیا کې یوه لویه حادثه پیښدونکې ده یا به څوک لوی سړی مري یا به پیداکیږي دوی وفرمایل چې دا عبث خیال دی ددې د چا د مرګ یا ژوند سره هیڅ تعلق نسته دا شُغلي خو دشیطانانو ددفع کولو دپاره ویشتل کیږي.
لنډه خبره دا ده چې دشهاب ثاقب چې فلاسفرانو څه ویلي دي هغه هم د قرآن څخه خلاف نه دی او دا هم څه لیرې نه ده چې دا شغلي سیده په سیده د ځینو ستورو د ماتیدو څخه راغورځول کیږي دقرآن مقصد په دواړو صورتونو کې ثابت او واضح دی.

وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ

او مځکه مونږ خوره کړه او کېښودل مونږ په دې غرونه

وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُوْنٍ ﴿۱۹﴾ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا

او زرغون کې مونږ په دې کې هر شی په اندازه سره ، او جوړکې مونږ ستاسې دپاره په دې

مَعَايِشَ وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ بِرٰزِقِيْنَ ﴿۲۰﴾ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا

کې دژوند سامان او هغه شیان کومو لره چې تاسې رزق نه ورکوی ، او د هرشی

عِنْدَنَا خَزَآئِنُهٗ وَمَا نُنَزِّلُهٗۤ اِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۲۱﴾ وَاَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ

مونږ سره خزانې دی ، او نازلوو مونږ په اندازه معلوم سره ، او چلوو مونږ هواګانې

لَوَاقِحَ فَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَسْقَيْنٰكُمُوْهُ وَمَاۤ اَنْتُمْ لَهٗ

داوړ ښخه دکې بیا نازلې کړې مونږ داسمان ښخه اوبه بیا مونږ تاسې ته وڅښولې او تاسې سره نسته

بِخٰزِنِيْنَ ﴿۲۲﴾ وَاِنَّا لَنَحْنُ نُحْيٖ وَنُمِيْتُ وَنَحْنُ الْوٰرِثُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَلَقَدْ

ددې خزانې ، او مونږ یو ژوندی کونکی او مړه کوونکی او مونږ یو وروسته پاته کیدونکی او

عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَاْخِرِيْنَ ﴿۲۴﴾ وَاِنَّ

مونږ معلوم کړی دی وړاندې کیدونکی تاسې ښخه او مونږ معلوم کړی دی وروسته پاته کیدونکی ، او

رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ ؕ اِنَّهٗ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۵﴾

ستا رب به دوی راجمع کړی ، بیشکه هغه دی حکمتونو والا خبردار .

لنډتفسیر: او مونږ مځکه خوره کړه او پردې (مځکه) مونږ دلته درانه غرونه وغورځول او په دې کې مونږ هر قسم (دضرورت حاصلات) په یو معلوم مقدار سره را وټوکوي او مونږ ستاسې دپاره په دې (مځکه) کې د ژوند سامان جوړکي (چې په دې کې د ژوند د ضرورت ټول شیان داخل دي کوم چې د خوړلو څښلو اغوستلو استعمالولو سره تعلق لري) او (دا د ژوند سامان او ضروریات یې صرف تاسې لره درنه کړل بلکه) هغو لره مو هم ورکړل کومو لره چې تاسې رزق نه ورکوي (یعنې هغه ټول مخلوقات کوم چې

Maktaba Tul Ishaat.com

په ظاهرکی هم ستاسی دلاس څخه دخوړلو څښلو او ژوند تیرولو سامان نه پیداکوي ، ظاهر یې په دی وجه وویل چې دکور دساتلو څاروي پسه ، بزه ، غوا ، خر ، قچر ، آس وغیره هم که څه هم دحقیقت په اعتبار سره خپل رزق او د ژوند ضرورتونه په حقیقت کی دالله دطرف څخه پیداکوي مگر په ظاهر کی د دوی دخوړلو څښلو او اوسیدو انتظام د انسانانو په لاسونو کی وي د دوی څخه علاوه دټولي دنیا د وچې او دریابونو حیوانان مرغي او درندگان داسی دي دکومو د ژوند په اسباب کی چې د انسان ارادي اوعمل هیڅ دخل او شائبه هم نه موندل کیږي او دا حیوان دومره بی حده او بی شمیره دي چې انسان نه دغه ټول پیژندي سی او نه یې شمیرلای سی) اوځومره شیان چې (د ژوند د ضرورتونو سره متعلق) دي زمونږ سره دټولو خزانی په خزانو (ډکی پرتي) دي او مونږ (دخپل خاص حکمت مطابق) دا (شی) په یو معلوم مقدار سره نازلوو اومونږ هواگاني لیږو کومی چې وریځي د اوبو څخه ډکوي بیا مونږ د آسمان څخه اوبه اوروو بیا دغه اوبه تاسی ته دڅښلو دپاره درکوو او تاسي ددی ذخیره کوونکي او ساتونکي نه وی (چې دراتلونکي بل باران پورې دغه ذخیره مو ا ستعمالولی) او مونږ یو چې ژوندی کوو او مړه کوو او (دټولو دمړه کیدوڅخه وروسته) مونږ به باقي پاته سو اومونږ پیژنو په تاسی کی وړاندي کیدونکی او مونږ پیژنو وروسته پاته کیدونکی او بیشکه ستا رب به دا ټوله (په قیامت کې) را جمع کړي (دا یې ځکه وفرمایل چې پورته توحید ثابتیږي په دی کی یې د توحید څخه انکار کوونکو ته د سزا ورکولو طرف ته اشاره وکړه) بیشکه هغه حکمت والا دی (هر سړی ته به دده مناسب بدله ورکړي او) علم والا دی (د ټولو د عملونو څخه هغه پوره خبردار دی)

(معلومات اومسئلي)

(دالله حکمت د ژوند په ضرورتونو کې مناسبت او موزون والي)

د، مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُونٍ : یو مطلب خو دغه دی کوم چې په ترجمه کی را اخیستل سوی دی چې دحکمت په تقاضا سره یې د هر یو توکیدونکی شي یو معلوم مقدار راوتوکوي ، چې که ددی څخه کم وي نو هم به په ژوند کی گرانوالي پیداکیدای او که زیات وی نو هم به مشکلات وه د انسان ضرورت غنم او وریجي وغیره او د ښه څخه ښه اعلی قسم میوي که دومره زیاتي پیداسی چې د انسانانو او حیواناتو د خوړلو او څښلو څخه وروسته هم دیري باقي پاته کیږي نو ظاهره خبره ده چې وروستی کیږي به او ایښول به یې هم مشکل وي او دغورځولو دپاره به یې بیا ځای هم پاته نه سی.

ددی څخه معلومه سوه چې دالله ﷻ په قدرت کی خو دا هم وه چې پر کومو غلو او میوو باندی د انسان ژوند ولاړ دی دا یې دومره زیاتوب پیداکړي وی چې هر سړی ته هر ځای مفت رسیدی او په بي فکرۍ سره یې داستعمالولو څخه وروسته هم غتی غتی ذخیري پرتي وي لیکن دا به د انسان دپاره عذاب وو په دی وجه په یو خاص مقدار کی پیداکړی چې قدرت او قیمت یې هم باقي پاته وي او بی کاره هم پاته نه سی.

او د، مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُونٍ : یو مطلب دا هم کیدای سی چې ټول توکیدونکی شیان الله ﷻ په یو خاص نسبت او موزونیت سره پیداکړي دي چې په دی سره په دی کی حُسن او دل کشی پیداکیږي دمختلفو

Maktaba Tul Ishaat.com

درختو تني ښاخونه پاڼي گلونه او ميوي په مختلف سائز اومختلف شکل مختلف رنگ اوخوندسره يې پيداکړل چې ددی مناسب او ښايسته منظر سره خو انسان فائده اخلي ، مگر ددی په تفصيلي حکمتونو پوهيدل دهيڅ انسان دوس خبره نه ده چې په دی پوهه سی .

(ټول مخلوق ته د اوبو رسولو او اوبه کولو عجيبه بې مثله الهي انتظام)

د ، وَأَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ : څخه تر، وَمَا أَنْتُمْ لَهُ بِخَازِنِينَ : پوری دقدرت الهی دهغه حکيمانه انتظام طرف ته اشاره ده دکوم په ذريعه چې په مخ دمځکی د اوسيدونکو ټولو انسانانو حيوانانو څريدونکو الوتونکو درندگانو دپاره دضرورت مطابق د اوبو رسولو يو داسی محکم نظام قائم کړی دی چې هر سړی ته هرځای په هرحال کی دخپل ضرورت مطابق دڅښلو لامبلو مينځلو مځکو او درختو د اوبه کولو دپاره اوبه بې دڅه قيمت څخه ورکول کيږي اوکوم چې په يو ځاه جوړولو يا پائپ لگولو باندې خرڅ راځی دغه دځان دپاره د اسانيو حاصلولو قيمت دی د اوبو د يوې قطرې قيمت هم څوک نه سی اداکولی او نه د چا څخه غوښتل کيږي .

په دی آيت کی اول خو ددی ذکر وسو چې څنگه قدرت الهی دسمندر اوبه ټولي مځکي ته د رسولو عجيبه او انا آشنا انتظام جوړکړی دی چې دسمندر څخه بخارات پيداکړي دکومو څخه چې دباران مواد (مون سون) پيداسی سربيره هواگاني پر وچلوي کومې چې دا بخارات په وريځ بدل کړي د اوبوڅخه ډکي دغرونو په ډول جهازونه څخه جوړ سی بيا د اوبو څخه ډک دا هوايي جهازونه ددنيا هر يو کونج ته کوم کوم ځای ته چې يې رسول غواړي ورسوي ، بيا دالله ﷻ دحکم تابع چې په کومه مځکه دڅومره اوبو غورځولو حکم وي ددی مطابق دا په خپله چليدونکی هوايي جهاز هلته هغومره اوبه وُوروي .

دغه ډول دا د درياب اوبه ددنيا په هر کونج کی اوسيدونکو انسانانو اوحيوانانوپه خپل کورناست ورسيږي په دی نظام کی يو عجيبه او نا آشنا تبديلي د اوبو په خوند او نورو حالاتو کی پيداکړل سی څکه چې دسمندر اوبه الله ﷻ په خپل بالغ حکمت سره انتهايي ترخې او داسی مالگيني جوړې کړي دي چې په زرگونو ټنه مالگه ددی څخه را ايستل او استعمالول کيږي حکمت په دی کی دا دی چې دا عظيم الشانه علاقه د اوبو چې په کروړنو قسمه حيوانان په دی کی اوسيږي په دی کی مري او ورستيږي او دټولي دنيا گنده اوبه دی ته رالويږي که چيرې دا اوبه خوږې وای نو په يوه ورځ کی به ورستی سوی وای او ددی بد بوي به دومره سخت وای چې د وچې د اوسيدونکو صحت او ژوند به مشکل سوی وای په دی وجه قدرت دا داسی تيزابي او ترخې جوړې کړې چې دټولي دنيا گندگي دی ته ورسيږي نوختم او ايره سی غرض دا چې ددی حکمت پر بنا باندی دسمندر اوبه تروې بلکه ترخې جوړې سوی چې نه څښل کيږي اونه په دی سره تنده مري دقدرت نظام چې کومې اوبه دهوايي جهاز د وريځو په شکل کی تياری کړې دي ، دا يې يوازې دسمندري اوبو خزانه جوړه نه کړه بلکه دبخاراتو به شکل کی دپورته کيدو څخه پر مځکه تر دريدو پورې يې په دی کی داسی تبديلي بغير دڅه ظاهري مشين څخه پيداکړی چې ددی اوبوڅخه يې مالگين خوند ليرې کړی او خوږې اوبه ورڅخه جوړې

Maktaba Tul Ishaat.com

سوی په سورة مرسلت کی یې دی طرف ته اشاره فرمایلي ده ﴿وَأَسْقَيْنَاكُم مَّاءً فُرَاتًا﴾ په دی کی دلفظ دفرات معنی ده داسی خوږي اوبه په کومو چی تنده مری معنی دا ده چی د وریځو په قدرتي مشینونو سره دسمندر ترخي او تروي اوبه ستاسي دڅښلو دپاره خوږي جوړي کړي.

په سورة واقعه کی یې دا مضمون ارشاد فرمایلي دي، ﴿أَفَرَأَيْتُمُ الْمَاءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ ، أَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ الْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ الْمُنزِلُونَ ، لَوْ نَشَاءُ جَعَلْنَاهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ﴾ : ایا وینی تاسی چی کومی اوبه تاسی څښي آیا تاسی نازلی کړي دا د وریځي څخه اوکه مونږ یې نازلوو که مونږ وغواړو نو کړوبه دا ترخي بیا ولی احسان نه منی.

تردی ځای پورې خو یې دالله ﷻ دقدرت دا کرشمه سازي ولیده چی دسمندر اوبه یې په خوږو اوبو کی بدلي کړي اوتولي دنیا ته یې د وریځو په ذریعه په ښکلی انتظام سره ورسولي، چی دهري مخکی نه یوازي انسانانو ته بلکه هغو حیوانانو ته هم کوم چی د انسان د معلومتیا څخه بهر دی، پر کور ناست اوبه وریسدی، او بالکل مفت، بلکه په جبري طور سره رسیږي، لیکن د انسانانو او حیوانانو مسئله صرف په دومره خبره نه سی حل کیدای ځکه چی اوبه د دوی داسی ضرورت دی دکومو احتیاج چی هره ورځ بلکه هر وخت دی په دی وجه د دوی دهری ورځی ضرورت پوره کولو یوه طریقه خو دا وه چی پر هرځای د کال د دولس میاشتي روازنه باران کیدای لیکن په دی صورت کی به د دوی د اوبو ضرورت خو پوره کیدای مگر په نورو ضرورتونو د ژوند کی به خومره خلل راتلی ددی اندازه تجربه کارته ښه لګیدی سی تول کال روزانه باران به په صحت څومره اثر اچولی اوپر کار او بار نقل وحرکت کی به څومره بندیز راتلی.

دوهمه طریقه دا وه چی دټول کال په خاصو خاصو میاشتو کی دومره باران وسی چی اوبه یی دباقي میاشتو دپاره کافي سی مگر ددی دپاره به ضروري وه چی دهر سړي یوه کوټه مقرره کړی او ده ته وسپارل سی چی دی خپله کوټه او دخپلي برخې د اوبو په خپله حفاظت وکړي.

اندازه ولګوي چی که داسی کولی سوای نو هر سړی به دومره ټینکی او لوښی وغیره د کوم ځای څخه پیدا کولی چی د درو یا شپږو میاشتو اوبه په کښي جمع کړي اوکه په یو وجه یې داسی کولی هم سوای نو ظاهره ده چی څو ورځي وروسته به دغه اوبه ورستیدی او دڅښلو څه چی د استعمال به هم قابلي نه وای په دی وجه قدرت الهی ددی د باقي ساتلو او په وخت د ضرورت هرځای د ملاویدلو یو بل عجیبه او انا اشنا نظام جوړکړی چی کومي اوبه د باران په ذریعه ووُرول سی ددی څه برخه خو فوراً د درختو فصلونو او انسانانو حیوانانو د اوبه کولو په کار راسی څه په تالابونو او ډنډونو کی محفوظي سی او ددی لویه برخه د واورو په شکل دبحر منجمد په طور دغرونو پر سرونو باندی کښینوول سی داسی ځای چی نه ورته ګرد او غبار رسیږي او نه څه بله ګندګي بیا که دغه د ویلي سوو اوبو په صورت کی وای نو دهوا په ذریعه به ورته دځه ګرد او غبار یا بل خراب شی د رسیدو بیره وای د مرغیو او حیواناتو په دی کی د غورځیدو او مړ کیدو بیره به وای چی دا اوبه به په خرابیدی مگر قدرت د اوبو دا لویه خزانه بحر منجمد ﴿واوره﴾جوړه کړه او د غرونو پر سرونو یې

کښېښنول چې پر دغه ځای لړه ویلي کېږي په رګونو کی ننوځي او بیا د چینو په صورت کی هرځای ته رسېږي او کوم ځای چې دا چیني هم نه وي نو هلته د مځکې په بیخ کی دا اوبه د انساني رګونو په شان دمځکی هري حصې ته بهېږي او په ځاه کیندلو باندی را ښکاره کېږي.
لنډه دا ده چې د اوبو رسول دا قدرتي نظام په خپل ځان کی په زرګونو نعمتونه لري اول خو اوبه پیدا کول یو ډیر لوي نعمت دی بیا دوریځو په ذریعه دا د مځکې هري حصې ته رسول دویم نعمت دی بیا دا دانسان د څښلو قابلې جوړول دریم نعمت دی ، بیا انسان ته ددی دڅښلو موقع ورکول څلورم نعمت دی، بیا دا اوبه دضرورت مطابق جمع او دمحفوظ ساتلو محکم نظام پنځم نعمت دی ، بیا انسان ته ددی څخه دڅښلو اوسیراب کیدو موقع ورکول شپږم نعمت دی ، ځکه چې د اوبو د وجود سره هم داسې آفتونه کیدای سی چې دهغه په وجه بنده پر څښلو قادر نه وي ، د قرآن کریم په آیت، فَأَسْقَيْنَاكُمُوهُ وَمَا أَنتُمْ لَهُ بِخَازِنِينَ : کی دالله ﷻ ددی نعمتونو طرف ته اشاره او خبرداری سوی دی ، فتبارک الله احسن الخالقین .

﴿په نیکو کارونو کې د وړاندی کیدو او په وروسته پاته کیدو کې د درجو فرق﴾

وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَأْخِرِينَ :په مستقدمین او مستاخرین کی څوتفسیرونه د امامانو اصحابو رضی الله عنهم او تابعیو رح څخه مختلف نقل دي (۱) مستقدمین هغه خلق چې تر اوسه پورې پیداسوی دي اومستاخرین هغه کوم چې لاتروسه نه دي پیداسوی (قتاده ؓ وعکرمه ؓ) (۲) دمستقدمین څخه مراد مړه خلق دي او دمستاخرین څخه مراد هغه خلق کوم چې اوس ژوندي دي (ابن عباس ؓ او ضحاک ؓ) (۳) دمستقدمین څخه مراد د امت محمدي ﷺ مخکې حضرت دي او د مستاخرین څخه امت محمدیه ﷺ (مجاهد) (۴) دمستقدمین څخه مراد نیکان او فرمانبردار دي او د مستاخرین څخه ګناهګاران او غافلان دي (حسن ؓ او قتاده ؓ) (۵) مستقدمین هغه خلق دي کوم چې د لمانځه په صفونو یا دجهاد په صفونو او نورو نیکو کارونو کی مخکې کیدونکي دي ، اومستاخرین هغه دي کوم چې په دې شیانو کی په وروسته صفونو کی پاته کیدونکي او وخت اړوونکي دي دحسن بصري ؓ ، سعید بن مسیب ؓ قرطبي شعبي وغیره د تفسیر د امامانو دا تفسیر دی او دا ظاهره ده چې په حقیقت کی په دی اقوالو کی څه خاص اختلاف نسته ټول جمع کیدی سی، ځکه چې دالله ﷻ علم محیط پر دی ټولو اقسامو دمستقدمینو او مستاخرینو باندی حاوي دی.
قرطبي په خپل تفسیرکی فرمایي چې په دی آیت سره دلمانځه داول صف اوپه اول وخت کی دلمانځه ادا کولوفضیلت ثابتیږي لکه چې په حدیث کی دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې که خلقوته معلومه وای چې په اذان ویلو اودلمانځه په اول صف کی ددریدوڅومره لوي فضیلت دی نو ټولو خلقو به ددی کوشش کولای چې په اول صف کی ودریږي او د ټولو دپاره به ځای نه وای نو هسکه به یې کولای.
قرطبي ددی سره دحضرت کعب ؓ دا قول هم نقل کړی دی چې په دی امت کی څه داسی خلق هم دي چې کله دوی سجدې ته ځي نو څومره خلق چې په دوی پسې وروسته وي ، دټولو مغفرت کیږي په دی وجه حضرت کعب ؓ به په آخري صف کی پاته کیدل خوښول چې شاید په وړاندی صفونو کی دالله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com

يو بنده په دی شان سره وي نو دده په برکت سره به زما مغفرت وسی ، ختم سو کلام دده .
اوظاهره دا ده چی اصل غوره والی خوپه اول صف کی دی لکه چی دقرآن د آیت او دحدیثو د وضاحتونو څخه ثابته سوه لیکن کوم سړی ته چی په يو وجه سره په اول صف کی ځای پیدا نه سی نو ده ته هم یو قسم فضیلت دا حاصل سو چی شاید په وړاندی صفونو کی دیو نیک بنده په برکت دده هم مغفرت وسی او د ذکر سوی آیت څخه لکه څنګه چی د لمونځ د اول صف فضیلت ثابت سو دغه شان د جهاد د اول صف فضیلت ورڅخه هم ثابت سو.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٢٦﴾ وَالْجَآنَّ خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ

او جوړ کی مونږ بنيادم دګړنګيدلی خميره سوی ختی څخه ، او پيری جوړ کی مونږ ددی څخه مخکښ

مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ ﴿٢٧﴾ وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّیْ خَالِقٌۢ بَشَرًا

دتپ داور څخه ، او هرکله چی وويل ستا رب ملائکو ته زه جوړوم يو بشر

مِّنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٢٨﴾ فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ فِيْهِ

دګړنګيدلی خميره سوی ختی څخه ، بيا کله برابر کړم دی اوپوکړم په ده کی

مِنْ رُّوْحِیْ فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ﴿٣٠﴾

دخپل روح څخه نو پريوځی ده ته سجده کوونکی ، پس سجده وکړه دی ملائکو ټولو په جمع سره ،

اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اَبٰٓی اَنْ يَّكُوْنَ مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَ يٰٓاِبْلِيْسُ

مګر ابليس ونه منله چی سی دسجده کوونکو سره وفرمايل ای ابليسه !

مَا لَكَ اَلَّا تَكُوْنَ مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿٣٢﴾ قَالَ لَمْ اَكُنْ لِّاَسْجُدَ لِبَشَرٍ

څه وسوه تاله چی نه سوی دسجده کوونکو سره ؟ وې ويل زه هغه نه يم چی سجده وکړم يو بشرته

خَلَقْتَهٗ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿٣٣﴾ قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا

کوم چی تا جوړ کی دګړنګيدلی خميره سوی ختی څخه ، وې فرمايل پس ووزه ددی

فَاِنَّكَ رَجِيْمٌ ﴿٣٤﴾ ۙ وَّاِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٣٥﴾ قَالَ

ځای څخه ته ترټل سوی يی ، او په تاباندی لعنت دی تر ورځی دانصاف پوری ، وې ويل

Maktaba Tul Ishaat.com

رَبِّ فَأَنْظِرْنِيْٓ إِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿۳۶﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿۳۷﴾

ای ربه ماته مهلت را کړه تر هغه ورځی پوری چی مړی ژوندی سی ، وې فرمایل پس تاته مهلت درکړل سو

إِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ﴿۳۸﴾ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغْوَيْتَنِيْ لَأُزَيِّنَنَّ

تر مقرر وخت دورځی پوری ، وې ویل ای ربه ! څنګه چی تا زه بی لاری کړم زه به هم دی

لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِيْنَ ﴿۳۹﴾ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ

تولو ته بهارونه ښیيم په مځکه کی او بی لاری کوم به دوی تول ه ، مګر کوم چی ستا

الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۴۰﴾ قَالَ هٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيْمٌ ﴿۴۱﴾ إِنَّ

مخلص بندګان دی ، وې وفرمایل دا لار ده ماته برابره کوم

عِبَادِيْ لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ إِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ

چی زما بندګان دی نسته ستا په هغوی باندی څه زور مګر کوم چی ستا تابعدار سی

الْغٰوِيْنَ ﴿۴۲﴾ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِيْنَ ﴿۴۳﴾ لَهَا سَبْعَةُ

دبی لاری سو څخه ، او دوږخ خای دوعدی دی د دوی تولو ، دده او و (۷)

أَبْوَابٍ لِكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ جُزْءٌ مَّقْسُوْمٌ ﴿۴۴﴾

دروازی دی دهری دروازی دپاره په دوی کی یوه فرقه ده تقسیم سوی .

لنډتفسیر: اومونږ انسان (یعنی ددی نوع اولنی اصل آدم علیه السلام) د کړنګیدلي ختي څخه چی خمیره سوی ده جوړ کړي (یعنی اول مو ختهِ بنه خمیره کړه چی بوي یې ورڅخه روان سو بیا هغه وچه سوه داسی وچه چی وکړنګیده لکه د خاوري لوښي چی په ترینګئ ووهي هغه کړنګ وکړي، بیا ددی وچي ختي څخه د آدم علیه السلام تنه جوړه سوه چی دقدرت لویه نخښنه ده) او پیری (یعنی ددی نوع اصل د پیریانو پلار) تردی مخکی (یعنی تر حضرت آدم ﷺ مخکې) د اور څخه چی دغه (د ډیر نرم والی په وجه سره) یوه ګرمه هوا وه پیدا کړی وو (مطلب دا دی چی چونکه په دی اور کی د دود اجزاء نه وو، په دی وجه دهوا په شان په نظر نه راتلی ، څکه چی د اور په نظر راتلل د درنو اجزاو د دخلهٔ په وجه سره وي دا یې په بل آیت کی داسی فرمایلي دي ، وَخَلَقَ الْجَآنَّ مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ : او هغه وخت

Maktaba Tul Ishaat.com

دیادولو قابل دی کله چې ستا رب ملائکو ته (ارشاد) وفرمایې چې زه یو بشر (یعنی دده تنه)
دګرنګیدلي ختې څخه پیداکوم چې د خمیره سوی خاوري څخه جوړېږي پیداکوونکی یم نو چې زه کله
دي (یعنی دده دجسم اندامونه) پوره جوړکړم او په ده کې دخپل (طرف څخه) روح واچوم نو تړول دده په
وړاندي پر سجده پرېوزئ نو (هرکله چې الله ﷻ دي جوړکړو نو) ټولو ملائکو په جمع (حضرت آدم ﷺ
ته) سجده وکړه مګر ابلیس چې ده دا خبره قبوله نه کړه چې دسجده کوونکو سره شامل سی (یعنی
سجده یې ونه کړه) الله ﷻ وفرمایل ای ابلیسه تا ته کوم کار باعث سو چې ته دسجده کوونکو څخه نه
سوې ، وې ویل چې زه داسی نه یم چې بشر ته سجده وکړم کوم چې تا د ګرنګیدلي ختې څخه چې
دخمیره سوی خاوري څخه جوړ دی پیداکړي دی (یعنی دداسی حقیري او ذلیلي مادي څخه جوړ
سوی دی څکه چې زه د نوراني مادي د اور څخه پیداسوی یم نو سره د نوراني کیدو ظلماني ته څنګه
سجده وکړم) ارشاد ورته وسو نو (بنه دی بیا) د آسمان څخه ووزه څکه چې بیشکه ته (په دی حرکت
سره) مردود سوی اوبیشکه پر تا (زما) لعنت به تر قیامته پوری وي (لکه چې په بل آیت کی دی،
عَلَیْکَ لَعْنَتِیْ: یعنی تر قیامته پوری ته زما د رحمت څخه لیري سوی دتوبي توفیق به دی ونه سی او
مقبول او مرحوم به نه سی او ظاهره ده چې تر قیامته پوری څوک محل د رحمت نه وي ،نو بیا په
قیامت کی خو دمرحوم کیدو ګرسره احتمال نسته ، نو تر څه وخته پوری چې احتمال وو دهغه څخه خو
نفي وسوه او په دی سره دی دا شک نه کول کیږي چې په دی کی خو دمهلت غوښتلو څخه مخکي
دمهلت ورکولو وعده وسوه خبره دا ده چې مقصود تر قیامته پوری عمر ورکول نه دي چې دا شک
پروسي ، بلکه مطلب دا دی چې ددنیا په ژوند کی خو ته ملعون یې ، که څه هم دغه تر قیامته پوری
اوږدولی نه وي) وې ویل (چې دده څخه او دده د اولاد څخه بنه بدله واخلم) ارشاد ورته وسو (هرکله
چې ته مهلت غواړې) نو (څه) تا ته تر مقرر وخت تاریخه پوری مهلت درکړل سو وې ویل ای زما ربه !
په سبب ددی چې تازه (په حکم تکویني سره) ګمراه کړی یم زه قسم خورم چې زه به په دنیا کی د دوی
(یعنی د اولاد د آدم) په نظر کی ګناهونه ښائسته ښکاره کوم او دوی ټوله به ګمراه کړم بغیر ستا
دهغوبندګانو څخه کوم چې په دوی کی منتخب سوی دي (یعنی چې تا دوی زما د اثر څخه محفوظ
کړی دی) ارشاد وسو چې (البته) دا (منتخب کیدل چې طریقه یې نیک عملونه او کامل اطاعت دی)
یوه سیده لار ده کومه چې ما ته را رسیږي (یعنی چې پردی چلیږي نو ماته نژدي کیږي) واقعی زما پر
دی (ذکر سوو) بندګانو به ستا یوه ذره هم وس ونه چلیږي ، البته مګر کوم په ګمراه خلقو کی چې ستا
پر لار روان سی (نو څې دي) او (کوم خلق چې ستا پر لار روان سی) ددی ټولو ځای جهنم دی چې اووه
۷ دروازي یې دي پر هره دروازه (دتلو) دپاره ددی خلقو جلا جلا حصې دي (چې څینی به پر یوه دروازه
ننوزي او څیني په بله)

(معلومات او مسئلې)

(د انسان په بدن کې روح پوکل او دی دملائکو د مسجود جوړولو مختصر تحقیق)

روح یوجسم دی یاجوهر مجرد، په دی کی دعالمانو اوحکماؤ اختلاف دپخوا څخه را روان دی ، شیخ

Maktaba Tul Ishaat.com

عبدالرؤف المنادی المصري رحمه الله فرمايي چې په دې کې دحکماؤ اقوال زرو ۱۰۰۰ ته رسيدلی دی مگر ټول قياسونه او اندازي دي يوه ته يقيني نه سی ويل کيدای ، امام غزالي رحمه الله امام رازي رحمه الله او په عام طور سره د صوفيانو او فلاسفرانو قول دا دی چې دا جسم نه دی بلکه جوهر مجرد دی امام رازي رحمه الله په دې کې دوولس ۱۲ دليلونه پيش کړي دي.

مگر جمهور عالمان د امت روح يو لطيف جسم گڼي ، دنفخ معنی پوکي کول دي که دجمهورو په قول د روح څخه لطيف جسم مراد سی نو پوکل يې ظاهره خبره ده اوکه جوهر مجرد ومنل سی نو د پوکلو معنی به دده دبدن سره تعلق پيداکول وي (بيان القرآن)

(د روح او نفس متعلق د حضرت قاضي ثناء الله رحمه الله تحقيق)

دلته اوږد بحث پرېښودل کيږي او په يو خاص تحقيق باندی بسوالی کول کيږي کوم چې په تفسير مظهري کی قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله ليکلی دی.

حضرت قاضی رحمه الله فرمايي چې د روح دوه ۲ قسمونه دي ۱ ، علوي او ۲ سفلي، روح علوي د مادې څخه مجرد دالله ﷻ يو مخلوق دی چې حقيقت موندل يې مشکل دی اهل کشف ته ددی اصلي مقام تر عرش لوړ ښکاره کول کيږي ځکه چې دغه دعرش څخه زيات لطيف دی او روح علوي په کشف نظر سره لاندی باندی په پنځو درجو کی محسوس کيدای سی ، هغه پنځه دا دي قلب، روح، سر، خفي، اخفی، او دا ټول دعالمي امر دلطائفوڅخه دي د کوم طرف ته چې په قران کريم کی اشاره فرمايلي ده.

قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي.

او روح سفلی هغه لطيف بخار دی کوم چې د انسانی بدن دڅلورو عناصرو اور اوبو خاوري او هوا څخه پيدا کيږي ، او دی روح سفلی ته نفس ويل کيږي الله ﷻ دا روح سفلی کوم ته چې نفس ويل کيږي د ارواح علويه ذکر سوو آئنه جوړه کړي ده . لکه څنگه چې آئنه لمر ته مخامخ سی نودلمر ډېر ليري والی باوجود په دی کی دلمر عکس راځي او د رڼا په وجه دغه هم دلمر په شان ځليږي او دلمر گرم والی په دی کی هم راځي چې جامه سوزي، دغه ډول ارواح علويه که څه هم دخپل تجرد په وجه سره ډېر لوړ او پورته او په ډېر اوږد مسافت باندی دی ، مگر د دوی عکس ددی سفلی روحونو په آئنه کی راسی د ارواح علويه کيفيات او آثار په دی کی منتقل کيږي او دغه اثار کوم چې په نفسونو کی پيداکيږي د هر هر فرد دپاره ارواح جزئيه ويل کيږي.

بيا دا روح سفلی کوم ته چې نفس ويل کيږي دخپل دی کيفياتو او اثارو سره کوم چې يې د ارواحو علويه وو څخه حاصل کړی دی ددی تعلق په بدن انساني کی تر ټولو وړاندی مضغهٔ قلبيه سره کيږي او ددی تعلق نوم حيات او ژوند دی د روح سفلی په تعلق سره تر ټولو اول د انسان په زړه کی ژوند او هغه ادراکات پيداکيږي ، کوم چې نفس د ارواح علويه څخه حاصل کړی وي دا روح سفلی د ټول بدن په رگونو کی چليږي ، کومو ته چې شرائن وايي او دغه شان دی دټول بدن هري برخی ته رسيږي د روح سفلی په انسان بدن کی چليدو ته يې نفخ روح ويلی دی، ځکه چې دا په يو شی کی د پوکي کولو سره مشابه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپه ذکر سوی آیت کی الله ﷻ د روح څانته نسبت کړی دی، مِنْ رُوْحِیْ: یې څکه فرمایلي دي چې په ټول مخلوقات کی د روح انساني اعلی او اشرف والی واضح سی، څکه چې دا بغیر د مادي څخه محض په امر الهی سره پیدا سوی دی دا رنګه په دی کی دتجلیات رحماني دقبلولو داسی استعداد دی کوم چې د انسان څخه علاوه دبل جاندار په روح کی نسته.

اودانسان په پیدائش کی که څه هم غالب عنصر د خاوري دی او په دی وجه یې په قرآن کریم کی د انسان دپیدائش د خاوري طرف ته نسبت کړی دی لیکن په حقیقت کی دلسو ۱۰ شیانو دی جمع کوونکی دی چې پنځه په کښې دعالم خلق څخه دي او پنځه د عالم امر دی، دعالمی خلق څلور عناصر اوبه اور خاوره هوا او پنځم ددی څلورو څخه پیداکیدونکی لطیف بخار کوم ته چې روح سفلی یا نفس وایي او دعالم امر پنځه شیان هغه دي د کومو ذکر چې لوړ سوی دی یعنی قلب، روح، سر، خفی، اخفی.

ددی جامعیت په سبب انسان دخلافت الهی مستحق جوړ سو او دمعرفت دنور اودمحبت د اور تېنکوونکی سو چې نتیجه یې بې کیفه دمعیت الهی حصول دي څکه چې دنبی کریمﷺ ارشاد دی، المرء مع من احب: یعنی هر انسان دهغه فرد سره وي د کوم سره چې دده محبت وي او په انسان کی د تجلیات الهی قابلیت او دمعیت الهی کومه دَرجه چې ده ته حاصله ده په دی وجه سره دحکمت الهی تقاضا دا سوه چې دی دملائکو مسجود جوړکړي ارشاد وسو، فَقَعُوا لَهُ سٰجِدِیْنَ.

(حکم دسجدي ملائکو ته سوی وو ابلیس په کښې تبعاً شامل کړل سو)

په سورة اعراف کی ابلیس ته خطاب کوي ارشاد فرمایي (مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ) ددی څخه معلومیږي چې دسجدي حکم دملائکو سره ابلیس ته هم سوی وو په دی وجه په دی سورة کی چې کوم آیت تاسې اوس ویلی دی په کوم سره چې په ظاهره ددې حکم دملائکو دپاره خاص معلومیږي ددی مطلب دا کیدای سی چې اصالة دا حکم ملائکو ته ورکړل سو، مګر ابلیس هم چونکه په ملائکو کی موجود وو، په دی وجه بتعاً هغه هم په دی حکم کی شامل وو، څکه چې دحضرت آدم ﷺ دتعظیم او تکریم دپاره هرکله چې دالله تعالی بزرګ ترین مخلوق ملائکو ته حکم وسو نو د نور مخلوق تبعاً په دی حکم کی داخلیدل بالکل ظاهري وو، په دی وجه ابلیس په جواب کی دا ونه ویل چې ما ته خو د سره د سجدي حکم سوی نه دی نو د نه منلو جرم پر ما نه راځي او شاید د قرآن کریم په الفاظو (أَبَىٰ أَنْ يَكُونَ مَعَ السَّاجِدِينَ) کی هم دی طرف ته اشاره وي چې د (ابی ان یسجد) پرځای یې (أَبَىٰ أَنْ يَكُونَ مَعَ السَّاجِدِينَ) ذکر وفرمایل، چې په دی سره دی طرف ته اشاره موندل کیږي چې اصل سجده کوونکی خوملائکي وي مګر په عقل سره لازمه وه چې ابلیس هم هرکله چې په دوی کی موجود وو نو په دي هم دملائکو سجده کوونکو سره شامل سوی وي په دی نه شاملیدو عتاب پر وسو.

(دالله پر مخصوصو بندګانو دشیطان دتسلط کیدو معنی)

دا إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ څخه معلومه سوه چې الله پر خاصو او منتخبو بندګانو دشیطاني فریب اثر نه سی کیدای، مګر په دی واقعه د آدم ﷺ کی دا هم ذکر دی چې پر ادم او حوا علیهم

Maktaba Tul Ishaat.com

السلام دده فریب وچلیدی دغه شان د صحابه کرامو ﷺ په باره کی دقرآن کریم ارشاد دی چی (إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا) (آل عمران) ددی څخه معلومیږي چی پر اصحابو ﷺ هم دشیطان فریب پردی موقع وچلیدی په دی وجه په ذکر سوی آیت کی دالله پر خاصو بندګانو دشیطان د وس نه چلیدو مطلب دا دی چی د دوی پر زړونو او عقلونو دشیطان داسی واک نه سی راتل چی دوی په خپله غلطي هیڅ وخت خبردار نه سی او په دی وجه ورته هیڅ وخت هم توبه نصیب نه سی یا یو داسی ګناه وکړي چی مغفرت یې ونه سی.

او ذکر سوی واقعات ددی منافي نه دی ځکه چی حضرت آدم او حوا علیهم السلام توبه وکړه او دا توبه قبوله سوه دغه شان اصحابو حضراتو ﷺ هم توبه کړی وه او دشیطان په مکر سره چی په کومه ګناه کی د دوی ازمائش وسو هغه معاف سوه.

(دجهنم اووه ۷ دروازي)

(لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ) امام احمد رحمه الله ابن جریرطبري رحمه الله اوبیهقي رحمه الله په روایت دحضرت علي کرم الله وجهه لیکلی دی چی دجهنم اووه دروازي لاندی باندی داوو ۷ طبقوپه اعتبارسره دي او ځیني حضرات دا دعامو دروازو په شان ګڼي هره دروازه به دخاص قسم مجرمانو دپاره مخصوصه وي ، (قرطبي)

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٤٥﴾ ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ آمِنِينَ ﴿٤٦﴾ وَنَزَعْنَا مَا فِي

بیشکه پرهیزګاران په باغونو اوچینوکی دی ، ویل کیږي به دوی ته داخل سی دی ته په سلامتیا خاطرجمعی سره

صُدُورِهِمْ مِنْ غِلٍّ إِخْوَانًا عَلَىٰ سُرُرٍ مُتَقَابِلِينَ ﴿٤٧﴾ لَا يَمَسُّهُمْ

ویستل مونږ څه چی په سینو کی وو خفګان ورونه سول په تختونو ناست یوبل ته مخامخ ، وبه نه رسیږي دوی

فِيهَا نَصَبٌ وَمَا هُمْ مِنْهَا بِمُخْرَجِينَ ﴿٤٨﴾ نَبِّئْ عِبَادِي أَنِّي

هلته څه تکلیف او نه به دوی دهغه ځای څخه ویستل سی ، خبر واوروه زما بندګانو ته چی زه

أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيمُ ﴿٥٠﴾

یم اصل بخښونکی مهربان ، او دا هم چی زما عذاب هغه عذاب درد ناک دی

لنډتفسیر: بیشکه د خدای څخه بیریدونکي (یعنی ایماندار) به په باغونو او چینو کی وي (برابره خبره ده که د اول څخه وي که ګناه یې نه وي یا معاف سوی وي او که د ګناه د سزا تیرولو څخه وروسته دوی ته به وویل سی چی) تاسی په دی (باغونو او چینو)کی په سلامتي او امن سره داخل سی (یعنی دا وخت هم د هر ناخوښه شی څخه سلامتي سته او آئنده هم د څه شی څخه بیره نسته) او (په دنیا کی به طبعي تقاضا سره) د دوی په زړونو کی چی کومه کینه وه مونږ هغه ټوله (د دوی د زړونو څخه جنت نه

Maktaba Tul Ishaat.com

د داخلیدو څخه وړاندې) لیری کړو چې د وروڼو وروڼو په رنګ (په الفت او محبت سره) اوسیږي پر تختونو به یو بل ته مخامخ ناست وي هلته به دوی ته ذره هم تکلیف ونه رسیږي او نه به دوی ددغه ځای څخه ویستل سی (ای محمد ﷺ) ته زما بندګانو ته خبر ورکړه چې زه لوی مغفرت او رحمت والا هم یم او (دارنګه) دا چې زما سزا (هم) دردناکه سزا ده (چې دوی خبر سی نو د ایمان او تقوی طرف ته به یې مینه او کفر او نافرماني څخه یې بیره پیداسی)

(معلومات اومسئلې)

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمایي چې جنتیان کله جنت ته داخلیږي نو د ټولو څخه اول به د دوی په مخکې دوه چینې لوښي پیش کړل سی ، په اول چینې کی به دوی اوبه وڅښي نو د دوی دټولو د زړونو څخه به هغه خفګان چې په دنیا کی ددوی په مینځ کی راغلی وو او په طبعي طور سره د هغه اثر تر اخره پورې موجود وو هغه ټول به ومینځل سی او د ټولو په زړونو کی به د یو بل سره الفت او محبت پیداسی، څکه چې په خپل مینځ کی خفګان هم یوتکلیف اوعذاب دی اوجنت دهرتکلیف څخه پاک دی .
اوپه صحیح حدیث کی چې داراغلي دي چې دکوم سړي په زړه کی دیوې ذرې برابرهم کینه دیومسلمان سره وي هغه به جنت ته نه ځي ددي څخه مرادهغه کینه اوبغض دی کوم چې ددُنیاوي غرض دپاره اوپه خپل قصداواختیارسره وي اوددی په وجه سره داسړی په دی پسي وي چې کله موقع پیداکړي اوخپل دښمن ته تکلیف اونقصان ورسوي طبعي دروندوالی کوم چې بشري خاصه اوغیر اختیاري دی هغه په دی کی داخل نه دی دغه ډول کوم چې پرشرعي بنیادباندی مبني وي دداسی بغض اودزړه د دروندوالي ذکر په دی آیت کی دی چې دجنتیانو د زړونو څخه به هر قسم د زړه تنګي او خفګان لیرل کړل سی .
ددی متعلق علی کریم الله وجهه فرمایي چې زما امید دی چې زما او دطلحه ﷺ او زبیر ﷺ عنه په زړونو کی چې کوم دیو بل څخه غبار دی جنت ته د داخلیدو په وخت کی به لیری کړل سی اشاره دهغواختلافاتوطرف ته ده کوم چې دده حضراتو اوحضرت علی کرم الله وجهه په مینځ کی پیښ سوی وه .
﴿لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ وَمَا هُمْ مِنْهَا بِمُخْرَجِينَ﴾ په دی آیت کی دجنت دوه خصوصیات معلوم سول اول دا چې چاته به په کښې ستړی والی او کمزوري محسوسه نه سی په خلاف ددنیا څخه چې دلته دمحنت او مشقت په کارونو سره کمزوري او ستړی والی وي په خالص آرام او تفریح سره هم څه ناڅه وخت سړی ستړي کیږي او کمزوری محسوس برابره خبره ده که هر څومره خوندناک کار او شُغل وي .
دویمه خبره دا معلومه سوه چې کوم آرام او راحت او نعمتونه هلته چاته ورکړل سی بیا به دغه دائمي وي نه به دغه نعمتونه کله کمیږي او نه به ددغو څخه دا سړی ایستل کیږي په سورة ص کی ارشاد دی ﴿إِنَّ هَٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُ مِنْ نَفَادٍ﴾ یعنی دا زمونږ رزق دی کوم چې به هیڅکله ختم نه سی او په دی آیت کی فرمایي ﴿وَمَا هُمْ مِنْهَا بِمُخْرَجِينَ﴾ یعنی دوی به هیڅکله ددی نعمتونو او راحتونو څخه نه ایستل کیږي په خلاف ددنیاوي معاملو څخه چې دلته که څوک چاته دلوي څخه لوي انعام او راحت هم ورکړي خو دا خطره ورسره هر وخت وي چې چا دا انعامات راکړي دي هغه که یو وخت ناراضه سی نو ددی ځای څخه به مې هغه وباسي یو دریم احتمال کوم چې دا وو چې نه به دجنت نعمتونه ختمیږي او نه ورڅخه

Maktaba Tul Ishaat.com

څوک ایستل کیږي مگر دی به په خپله هلته همیشه پاته کیدو سترې سی او دباندې تلل به وغواړي
قرآن کریم دا احتمال هم په یوه جمله کی په دی الفاظو سره ختم کړی دی چی (لا یبغون عنها حولا)
یعنی دا خلق به دهغه ځای څخه د بیرته راتلو هیڅکله هم خواهش ونه کړي .

وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ إِبْرٰهِيمَ ﴿٥١﴾ إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلٰمًا

او حال واوروه دوی ته دابراهیم ﷺ دمیلمنو ، کله چی راغلل دده کورته او وې ویل سلام

قَالَ إِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُونَ ﴿٥٢﴾ قَالُوا لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمٍ

هغه وویل مونږ ستاسی څخه بیره ده ، وې ویل بیرېږی مه مونږ تا له زیری درکوو دیو هوښیار هلک

عَلِيمٍ ﴿٥٣﴾ قَالَ أَبَشَّرْتُمُونِي عَلٰى أَنْ مَسَّنِيَ الْكِبَرُ فَبِمَ

وې ویل آیازیری راکوی ماته په داسی حال کی چی ورسیدی ماته زوړوالی ، پس دڅه

تُبَشِّرُونَ ﴿٥٤﴾ قَالُوا بَشَّرْنٰكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُنْ مِنَ الْقٰنِطِينَ ﴿٥٥﴾

زیری راکوی ، وې ویل مونږ تاته زیری درکوو په حقه سره ، پس ته مه کیږي دنا امیدو څخه

قَالَ وَمَنْ يَقْنَطُ مِنْ رَحْمَةِ رَبِّهِ إِلَّا الضَّآلُّونَ ﴿٥٦﴾ قَالَ فَمَا

وې ویل اونه ناامیده کیږی درحمت درب خپل څخه مگر څوک چی گمراهان دی وې ویل بیا

خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ﴿٥٧﴾ قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلٰى قَوْمٍ مُجْرِمِينَ ﴿٥٨﴾

څه مهم دی ستاسو ای دالله رالیږل سوو ؟ وې ویل مونږ رالیږل سوی یو یو قوم گناهکار ته

إِلَّا آلَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٥٩﴾ إِلَّا امْرَأَتَهُ قَدَّرْنَا

مکر دلوط کور والا ، مونږ به هغوی محفوظ کړو ټوله مگر یوه دهغه بی بی مقرر کړی ده مونږ

إِنَّهَا لَمِنَ الْغٰبِرِينَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا جَآءَ آلَ لُوطٍ الْمُرْسَلُونَ ﴿٦١﴾ قَالَ

هغه ده په پاته کیدونکو کی بیا چی کله ورسیدل دلوط کورته دغه لیږل سوی وې ویل

إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُنْكَرُونَ ﴿٦٢﴾ قَالُوا بَلْ جِئْنٰكَ بِمَا كَانُوا فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴿٦٣﴾

تاسی خلق یاست نا اشنا ، وې ویل داسی نه ده بلکه راوړی دی مونږ تاته هغه شی چی دوی په کی جګړه کوله

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاَتَيْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿٦٤﴾ فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ

او مونږ راوړی ده تاته پخه خبره او مونږ رښتیا وایو پس بوزه خپل کوروالا په یوه حصه د

الَّيْلِ وَاتَّبِعْ اَدْبَارَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ اَحَدٌ وَّامْضُوْا حَيْثُ

شپه کی او ته ځه په دوی پسی وروسته او پشادی نه ګوری ستاسی څخه څوك او ځینی کوم ځای ته چی

تُؤْمَرُوْنَ ﴿٦٥﴾ وَقَضَيْنَآ اِلَيْهِ ذٰلِكَ الْاَمْرَ اَنَّ دَابِرَ هٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوْعٌ

درته حکم سوی دی ، او مقرر کړله مونږ ده ته دا خبره چی د دوی بیخ به پریکیږي

مُّصْبِحِيْنَ ﴿٦٦﴾ وَجَآءَ اَهْلُ الْمَدِيْنَةِ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿٦٧﴾ قَالَ اِنَّ

په وخت دصبا کیدو کی ، او راغلل دښار خلق خوشحالی کوونکی لوط ﷺ وویل دا

هٰٓؤُلَآءِ ضَيْفِيْ فَلَا تَفْضَحُوْنِ ﴿٦٨﴾ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تُخْزُوْنِ ﴿٦٩﴾

خلق زما میلمانه دی پس ما مه رسواکوی ، او وبیره وکی دالله څخه او ما مه شرمنده کوی

قَالُوْٓا اَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٠﴾ قَالَ هٰٓؤُلَآءِ بَنٰتِيْٓ اِنْ

وي ویل ایا مونږ ته نه یی منع کړی ددنیا دخلقو دحمایت څخه ، وي ویل دا حاضری دی زما لونی

كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ﴿٧١﴾ لَعَمْرُكَ اِنَّهُمْ لَفِيْ سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿٧٢﴾ فَاَخَذَتْهُمُ

که تاسی څه کول غواړی ، قسم دی ستا په ځان چی دوی په خپله مستی کی بی هوښه دی ، پس ونیول دوی

الصَّيْحَةُ مُشْرِقِيْنَ ﴿٧٣﴾ فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ

چغې په وخت دلمر ختو کی ، بیا کی مونږ دغه کلی کښته پورته او وورول مونږ په دوی باندی

حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ ﴿٧٤﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِيْنَ ﴿٧٥﴾ وَاِنَّهَا

کانی دکُرَط بیشکه په دی کی نښانی دی دفکر کوونکو دپاره ، او دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ﴿٧٦﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾

کلي واقع دي په سيده لاره ، خامخا په دي کي نخښي دي دايماندارو دپاره

تفسير: او (اى محمد ﷺ) ته دوى (خلقو) ته د ابراهيم (ﷺ) دميلمنو (دقصي) هم اطلاع ورکړه (دغه قصه هغه وخت واقع سوى وه) کله چي دغه (ميلمانه کوم چي په واقع کي ملائکي وي او دانساني شکل کيدو په وجه حضرت ابراهيم ﷺ دوى ميلمانه وګڼل) دده يعني دحضرت ابراهيم ﷺ) خواته راغلل بيا (د راتلو سره) دوى السلام عليکم وويل (حضرت ابراهيم ﷺ دوى ميلمانه وګڼل فوراً يې خوراک تيار کي دوى ته يې راوړى مګر چونکه هغه ملائکي وي دوى نه خوړه پس) ابراهيم (ﷺ په زړه کي وبيريدى چي دا خلق خوراک ولي نه خوري څکه چي دوى په شکل د انسان ملائکي وي او ده انسانان وګڼل او د خوراک نه کولو څخه يې شک پيدا سو چي دا خلق نه مخالفين نه وي) وي ويل چي مونږ خو ستا څخه بيره کوو هغوي وويل چي تاسي بيره مه کوئ څکه چي مونږ (ملائکي يو او دالله ﷻ دطرف څخه مو خوشخبري راوړى ده او) تاته د يو زوى خوشخبري درکوو کوم چي به لوي عالم وي (مطلب دا دى چي نبى به وي څکه چي په انسانانو کي د ټولو څخه زيات علم انبياؤ ته وي مراد ددي زوي څخه حضرت اسحق ﷺ دي او په نورو آيتونو کي دحضرت اسحاق ﷺ سره د حضرت يعقوب ﷺ خوشخبري هم ذکر ده) ابراهيم ﷺ وفرمايل چي آيا تاسي ما ته په داسي حالت کي (د زوي) خوشخبري راکوئ چي پر ما بوډا والى راغى نو (په داسي حالت کي ماته) دڅه شي خوشخبري راکوئ (مطلب دا چي دا کار في نفسه عجيبه دي نه دا چي دقدرت څخه ليري دى) هغوي (ملائکو) وويل چي مونږ تاته د واقعي کار خوشخبري درکوو (يعني زوي دى خامخا کيدونکى دى) نو ته نا اميده کيږه مه (يعني خپل زوړوالى ته مه ګوره څکه چي پر داسي عادتي اسبابو په نظر کولو سره دنا اميدئ وسوسي غالبي کيږي) ابراهيم (ﷺ) وفرمايل چي د خپل رب د رحمت څخه به څوک نااميده کيږي مګر ګمراه خلک (يعني زه نبى يم د ګمراهانو په صف کي څنګه شامليدئ شم محض مقصود ددى کار عجيبه والى دى باقي دالله ﷻ وعده رښتيا او زما د اميد څخه زيات پردى کامل يقين دى ددى څخه وروسته دنبوت په پوهه سره ده ته معلومه سوه چي ددى ملائکو د خوشخبري څخه علاوه د بل يو کار هم د راتلو وجه ده، په دى وجه) وي فرمايل چي (هرکله ما ته دا معلومه سوه چي ستاسي د راتلو مقصود يو بل دى) نو (دا ووايا ست چي) اوس ستاسي څه مهم دى اى ملائکو ! ملائکو وويل چي مونږ د يو مجرم قوم طرف ته (دوى ته د سزا ورکولو دپاره) راليږل سوى يو (مراد قوم دلوط دى) مګر دلوط ﷺ خاندان چي مونږ په دوى ټوله (دعذاب څخه) محفوظ کړو (يعني دوى ته د محفوظ کيدو طريقه وښيو چي ددى مجرمانو څخه جلا سى) بغير دهغه (يعني حضرت لوط ﷺ) د بي بي څخه چي ددى په نسبت مونږ تجويز جوړ کړى دى چي دا به خامخا په دى مجرم قوم کي پاته کيږي (او د دوى سره به په عذاب کي اخته کيږي) بيا چي هرکله دغه ملائکي خاندان دلوط ﷺ ته راغلي (نو چونکه په شکل د انسانانو وي په دى وجه) وي ويل چي تاسي خو ناآشنا خلق ياست (وګورئ چي ددى

Maktaba Tul Ishaat.com

ښار خلګ به ستاسې سره څه سلکو کوي څکه چې دوی نااشنا خلق ډیر پریشانه کوي) هغوي وویل
چې داسې نه ده (مونږ انسانان نه یو) بلکه مونږ (ملائکي یو) تا ته مونږ هغه شي راوړي دي (یعني
عذاب) په کوم چې دې خلقو شک کوي او مونږ تاته یقیني کیدونکی شی (یعنی عذاب) راوړی دی او
مونږ (په دې خبر درکولو کې) بالکل رشتینی یو نو ته دشپې په یوه حصه کې خپل کور والا روان کړه
(ددې ځای څخه) او ته د ټولو څخه وروسته څه (چې څوک پاته نه سي یا بیرته ونه ګرځي او ستا د
رُعت او هیبت په وجه سره څوک شاته ونه ګوري چې ددې څخه منع سوی ده) او په تاسې کې دې څوک
شاته هم نه ګوري (یعنی ټول تلوار ځي) اوکوم ځای ته چې (دتللو)تاسې ته حکم سوی دی د هغه طرف
ته ټول ځي (په تفسیر دُر منثور کې په حواله د سدي نقل کړی دی چې دغه ځای دهغه طرف دی ، دکوم
طرف ته چې یې دی حضراتو ته د هجرت کولو حکم کړی وو) او مونږ (ددې ملائکو په واسطه سره)
لوط (ﷺ) ته دا حکم ولیږی چې دسهار کیدو سره به بالکل د دوی ریښې پریکړل سي (یعنی بالکل به
هلاک او برباد سی دملائکو دا خبري اتري د واقع کیدو په اعتبار سره ددې قصې څخه وروسته سوی
دي د کومې ذکر چې اوس وړاندی راځي لیکن په ذکر کولو کې یې دا څکه مخکې کې چې د قصې
بیانولو څخه کومه خبره مقصود ده یعنی پر نا فرمانو عذاب او فرمانبردارو نجات او کامیابي هغه
اول په اهتمام سره معلومه سي مخته قصه دا ده) او دښار خلقو (چې دا خبره واوریده چې د لوط ﷺ
کره ښائسته هلکان راغلي دي) ښې خوشحالي یې کولې (پر خپل فاسد نیت او ناکاره ارادو سره دلوط
ﷺکور ته راغلل) لوط ﷺ چې لا تر اوسه دوی انسانان او خپل میلمانه ګڼل د دوی په فاسدو ارادو
باندې پوه سو) وې فرمایل چې دا خلق زما میلمانه دي (ددوی په پریشانه کولو سره)ما (په عامو خلقو
کې) مه رسوا کوئ (څکه چې د میلمنو سپکوالی د کور به سپکوالی وي که ستاسې پردی مسافرو
رحم نه راځي نو کم از کم زما خیال خو کړئ چې زه ستاسې د کلي اسیدونکی یم ددې څخه علاوه
کومه اراده چې تاسې کوئ دغه د الله ﷻ دقهر او غضب سبب دی) تاسې د الله ﷻ څخه وبیریږئ
اوما(ددې میلمنو په نظر کې) شرموئ مه (چې میلمانه به داسې وګڼي چې دخپل کلي په خلقو کی هم
دده څه عزت نشته) هغوي وویل (چې دا رسوائي زمونږ دطرف څخه نه ده تا په خپله پر خپلو لاسونو
اخیستې ده چې دوی دې میلمانه کړي دي) آیا مونږ ته دټولې دنیا خلګو (د خپل ځان سره د میلمنو
کولو) څخه (څو واره) منع کړي نه یې (نه به تا دوی میلمانه کول او نه به ددې رسوایي نوبت راتلی) لوط
(ﷺ) وفرمایل چې (دا وواياست چې ددې عبث حرکت ضرورت څه دی دکوم په وجه چې مونږ ته دچا
دمیلمه کولو هم اجازه نسته ، دشهوت د طبعي تقاضو پوره کولو دپاره)دا زما (ښایسته) لوڼي (کومې
چې ستاسې په کورونو کی دي) موجودي دي که تاسې زما خبره منئ (نو په شریفانه طور سره د خپلو
ښځو څخه خپل مطلب پوره کوئ مګر دوی د چا دا نه منل) ستا په روح قسم دی په خپل مستۍ کی بې
هوښه وه نو دلمر ختلو سره دوی سخت آواز ونیول (دا ترجمه دمشرقین ده، ددې څخه مخکې چې کوم
دمصبحین لفظ راغلی دی چې معنی یې د سحر کیدو سره ده ددې دواړو جمع کیدل په دې اعتبار سره
ممکن دی چې د سهار کیدو سره یې شروع وسوه او تر اشراقه پورې یې خاتمه وسوه)بیا (ددې سخت

Maktaba Tul Ishaat.com

اواز څخه وروسته) مونږ ددې کليو (مځکه کښته پورته کړه) سربيره مخ مو يې لاندې کړې (اولاندې مخ مو يې سربيره کړو) او پردې خلقو مونږ د قرط کانو باران وکړو په دې واقعه کې ډيرې نخښې دي دعاقلانو دپاره (مثلاً يوه خو دا چې د بدکار نتيجه آخر بده وي که څه ورځې مهلت او وروسته والې ورکول سي نو په دې دوکه کيدل نه دي په کار دويم دا چې هميشه او باقي پاته کيدونکې راحت اوعزت صرف په الله ﷻ د ايمان راوړلو اودهغه پر حکم منلو باندې موقوف دی ، دريم دا چې دالله ﷻ قدرت پر انساني قدرت باندې دقياس کولو په فريب کې اخته کيدل نه دي په کار، دالله ﷻ د قدرت په قبضه کې هر څه دي هغه د ظاهري اسبابو څخه خلاف هم چې څه غواړي کولای يې سي وغيره)

(معلومات اومسئلې)

(دنبي کريمﷺ خاص اعزاز او اکرام)

قوله ، لعمرک، په روح المعاني کې يې دجمهورو تفسير ليکونکو دا قول نقل کړی دی چې د لعمرک مخطاب نبی کريمﷺ دی الله ﷻ د دوی په ژوند قسم خوړلی دی بيهقي په دلائل النبوة او ابو نعيم او ابن مردويه وغيره دحضرت عبدالله ابن عباس ؓ څخه روايت کړی دی چې الله ﷻ دغه ټول مخلوقات او کائنات کې چا ته دمحمد ﷺ څخه زياته مرتبه او عزت نه دی ورکړی دغه وجه ده چې الله ﷻ ديوپيغمبر ياپوې ملائکې په ژوند باندې هيڅکله قسم نه دی خوړلی او په دې آيت کې يې دنبی کريم ﷺپه ژوند او عمر قسم خوړلی دی کوم چې د نبی کريم ﷺ انتهائی عزت او اکرام دی .

(په غير الله قسم خوړل)

ديو ' سان دپاره جائز نه دي چې دالله ﷻ دنومونو اوصفتونو څخه علاوه په بل يو شي قسم وخوري ، ځکه چې قسم په هغه چا خوړل کيږي کوم چې د ټولو څخه زيات لوي وګڼل سی ، او دا خو ښکاره خبره ده چې دټولو څخه زيات لوي صرف الله ﷻ کيدای سی .

په يو حديث کې دی چې نبی کريمﷺ فرمايلي دي په خپلو پلرونو او بتانو قسم مه خورئ او دالله ﷻ څخه ما سوا په بل چا قسم مه خورئ ، او په الله ﷻ قسم هم صرف په هغه وخت کې خورئ کله چې تاسې په خپله خبره کې رښتيني ياست (روايت يې کړی دی ابو داود نسائی د ابو هريره ؓ څخه) اوپه صحيحنو کې دی چې يو وار نبی کريم ﷺ حضرت عمر بن خطاب ؓ وليدی چې په خپل پلار بې قسم خوړی نو نبی کريم ﷺ ورته آواز وکې او وې فرمايل چې خبردار الله ﷻ په پلرونو دقسم خوړلوڅخه منع فرمايلی ده که څوک قسم خوري نو دالله ﷻ په نوم دې خوری کنه نوچُپ دې اوسي (قرطبي وغيره)

ليکن دا حکم دعامو مخلوقاتو دپاره دی ، الله ﷻ په خپله په خپلو مخلوقاتو کې په مختلفو شيانو قسمونه خوری دا دهغه دپاره مخصوص دی ، چې مقصد يې په څه خاص اعتبار سره ددغه شي شرافت اودلوی فائدی بيا نول وی اوعامو خلقو لره دغيره دقسم خوروڅخه دمنع کولو چې کوم سبب دی ، هغه دلته موجود نه دی ځکه چې دالله ﷻ په کلام کې ددې هيڅ امکان نسته چې هغه خپل يو مخلوق لره دټولو څخه لوی اوغوره وګنی ، ځکه چې مطلق لوئی خوصرف دالله ﷻ دذات سره مخصوص ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

(په کومو کلو چي عذاب نازل سو دهغوي څخه عبرت حاصلول په کار دي)

﴿اِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِيْنَ وَاِنَّهَا لَبِسَبِيْلٍ مُّقِيْمٍ﴾ په دی کی الله ﷻ ددغو کلو محل وقوع بیان کړی کوم چی دعربو څخه شام ته دتلو پرلاره باندی دی او ددی سره ارشاد فرمايي چی په دی کی دهوښیارانو دپاره دالله ﷻ دکامل قدرت لویی نخښې دي.

په یوبل آیت کی ددې متعلق ارشادسوی دی ، ﴿لَمْ تُسْكَنْ مِّنْ بَعْدِهِمْ اِلَّا قَلِيْلًا﴾ یعني دغه کلی دالله ﷻ د عذاب په ذریعه دورانیدوڅخه وروسته بیابیرته ابادنه سول بغیر دځو کلو څخه ، ددې تولو څخه معلومه سوه چی الله تعالی دا کلی او ددې مکانونه دراتلونکو نسلونو دپاره دعبرت سامان جوړ کړی دی.

دغه وجه ده چی نبی کریم ﷺ به چی کله په دی مقاماتو باندی تیریدی نوپه ده ﷺ به دالله ﷻ دهیبت یو خاص حال ووچی سر مبارک به یې کښته سو اوده ﷺ به خپله سپرلي په دی ځایونو کی تیزه کړه او د ژر تیریدو کوشش به یې کوئ دنبی کریم ﷺ دی عمل داسنت قائم کړل چی په کومو ځایونو دالله ﷻ عذاب راغلی دی هغه دتماشو ځای جوړول ډیره سخت دلی ده ، بلکه ددی څخه د عبرت حاصلولو طریقه دا ده چی هلته په رسیدو سره دالله ﷻ کامل قدرت ځانته حاضر کړي اودهغه دعذاب بیره پر غالبه سی.

دحضرت لوط ﷺ کلی کوم چی کښته پورته سوی دی د قرآن کریم د ارشاد مطابق دعربو څخه شام ته د تلو پر لاره باندی د اردن په علاقه کی نن هم دا مقام دسطح سمندر څخه کافي ژور دیو عظیمي صحرا په صورت کی موجود دی ددی پر یوه ډیره لویه قبه باندی یو خاص قسم اوبه د دریاب په صورت کی ولاړي وي په دی اوبو کی یو ماهي چنګښه وغیره حیوان ژوندی نه سی پاته کیدای ، په دی وجه دی دریاب ته بحرمیت یا بحر لوط وایي او په تحقیق سره معلومه سوه چی په حقیقت کي په دی کی د اوبو اجزاء ډیر کم دي او دتیلو دقسم اجزاء ډیر زیات دي په دی وجه په دی کی دریابي حیوان ژوندی نه سی پاته کیدی.

نن صبا اثارقدیمه محمکي څه داوسیدوعمارتونه هوټلونه وغیره هم جوړکړي دي اودآخرت څخه غافله ماده پرستو طبیعتونونن صبادا دسیل یوځای جوړکړی دی خلق دتماشو په طور سره ددی لیدو ته ځي قرآن کریم پردی غفلت شعاري د خبردارولو دپاره په آخر کی فرمايي ﴿اِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ﴾ یعنی په حقیقت کی خو دا واقعات او مقامات دهر یو پوهه لرونکي دپاره دعبرت دی لیکن ددی عبرت څخه فائده اخیستونکی مومنان دي نورخلق دی ځایونوته دتماشي په حیثیت سره ګوري اوځي ورڅخه

﴿وَاِنْ كَانَ اَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ لَظٰلِمِيْنَ ﴿٧٨﴾ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ وَاِنَّهُمَا

او په تحقیق سره دبنو اوسیدونکی وه ګناهکار پس مونږ بدله واخیسته د دوی څخه او دا دواړه

لَبِاِمَامٍ مُّبِيْنٍ ﴿٧٩﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ اَصْحٰبُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٨٠﴾

کلی واقع دي په ښکاره لاره ، او بیشکه دروغجن کړل حجر والاوو پیغمبران .

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاٰتَيْنٰهُمْ اٰيٰتِنَا فَكَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿٨١﴾ وَكَانُوْا يَنْحِتُوْنَ

او ورکړی مونږ دوی ته خپلې نخښې پس سو د دوی څخه مخ اړونکی ، او وو دوی چې تراش کول به یې

مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا اٰمِنِيْنَ ﴿٨٢﴾ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِيْنَ ﴿٨٣﴾

په غرونو کی کورونه په اطمنان سره، بیا ونیول دوی چیغې دصباکیدو سره،

فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ

بیا په کار رانغلل د دوی هغه څه چې دوی کړی وو ، او مونږ نه دی جوړ کړی اسمانونه

وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ ۭ وَاِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ فَاصْفَحِ

او مځکه او څه چې د دوی په مینځ کی دی بغیر د حکمت څخه ، او قیامت بیشکه راتلونکی دی پس عفوه وکړه

الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ﴿٨٥﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴿٨٦﴾

په غوره عفوی سره ، ستا رب چې دی هغه دی پیداکوونکی خبردار .

لنډتفسیر

(قصه د اصحاب ایکه او د اصحاب حجر)

او بنو والا (یعنی دشعیب ﷺ امت هم) دیر ظالمان وو نو مونږ د دوی څخه (هم) بدله واخیسته (او دوی مو په عذاب سره هلاک کړل) او د داوړو (قومونو) کلي پر ښکاره سړک باندی (واقع) دي (او شام ته دتلو په وخت کی په نظر راځي) اوحجر (په کسری دحاء سره) والا وو (هم) پیغمبران د روغژون کړل (څکه چې هرکله صالح ﷺ ته یې د روغژن وویل او دټولو پیغمبرانو اصل دین یو دی نو ګویا چی ټول یې دروغژن کړل) او مونږ دوی ته خپلي نخښي (دخپل طرف څخه) ورکړي (په کومو چی دالله ﷻ توحید اودصالح ﷺ نبوت ثابتیدی مثلاً دلیلونه دتوحید او اوښه چی دصالح ﷺ معجزه وه) نو دغو خلقو ددی (نخښو) څخه مخ واړوی او دغو خلقو به غرونه ترا شل او کورونه به یې په کښې جوړول (د ټولو آفتونو څخه) په امن به په کښې اوسیدل نو دوی دسهار په وخت کی (برابره خبره ده که دسهار کیدو سره سم یا چې لږ ورځ را وختله دواړه احتمال دی په کښې) سخت اواز ونیول پس د دوی (ددنیا) هنر د دوی هیڅ په کار ورنغی (په دغو محکمو کورونو کی یې په عذاب سره کار تمام سو، ددی آفت څخه د دوی کورونو دوی محفوظ نه کړل بلکه د دوی سره ددی آفت څه احتمال هم نه وو او که وی هو خو څه به یې کړی وای)

Maktaba Tul Ishaat.com

(معلومات او مسئلي)

ايکه، بڼ، يعنی گور ځنگل ته وايي ، ځينې وايي چې دمدين په خوا کی يو بڼ وو ، په دی بنا ايکه د اصحاب مدين لقب دی ځينې وايي چې اصحاب ايکه او اصحاب مدين دوه جلا جلا قومونه وه ديو قوم دهلاکت څخه وروسته شعيب ﷺ دبل قوم طرف ته وليږل سو.

په تفسير روح المعاني کی د ابن عساکر په حواله سره دا مرفوع حديث نقل کړی دی چې ، إِنَّ مَدْيَنَ وَأَصْحَابَ الْأَيْكَةِ أُمَّتَانِ بَعَثَ اللهُ تَعَالَى إِلَيْهِمْ شُعَيْبًا. والله اعلم.

اوحجر ديوې وادي نوم دی کومه چې دحجاز اوشام په مينځ کی واقع ده په دی کی قوم دثمود آباد وو. دسورة په شروع کی دحضور ﷺ سره چې دمکي دکفارو کوم سخت عناد اومخالفت وو دهغه بيان وو دی سره يې په اجمالي طورده ﷺ دتسلي مضمون هم ذکرکړی وو اوس دسورة پر ختميدو باندی ددغه عناد او مخالفت په باره کی د دوی دتسلي دپاره تفصيلي مضمون بيان ولکيږي هم دارنگه ارشاد دی.

پاته لنډتفسير: او (ای محمد ﷺ ته ددی خلقو دعناد اوخلاف غم مه کوه ځکه چې ددی يوه ورځ فيصله کيدونکی ده اوهغه ورځ د قيامت ده چې ددی د راتلو متعلق مونږ ستا سره ذکر کوو چې) مونږ آسمانونه اومځکی او د دوی په مينځ کې شيان بغير دځه مصلحت څخه نه دي پيداکړي (بلکه په دی مصلحت سره مو پيداکړه چې دی ته وگورئ او جوړونکي د عالم د وجود او يووالی او لويي دليل پر قائم کړی او دده حکمونه ومنئ او وروسته تر قائميدو ددی حجت چې څوک داسی ونه کړي هغه په عذاب سی) او (په دنيا کی خو پوره عذاب نه سی کيدای نو بل ځای په کار دی ددی دپاره قيامت مقرر دی نو) خامخا قيامت راتلونکی دی (هلته به تولو ته عذاب وځکول سی) نو ته (هيڅ غم مه کوه بلکه) په ښه ډول سره (د دوی د شرارتونو څخه) درگذر کوه (د درگذر مطلب دا دی چې په دی غم کی مه کيږه ددی خيال مه کوه او ښه داسی چې گيله او شکايت هم مه کوه ځکه چې) بيشکه ستا رب (چونکه) لوي خالق) دی ددی څخه ثابته سوه چې) لوي عالم (هم) دی (د تولو حال ورته معلوم دی، ستا د صبر هم او د دوی دشرارت هم، نو په دی وجه به د دوی څخه پوره پوره بدله واخلي)

وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنَ الْعَظِيمَ ﴿٨٧﴾ لَا تَمُدَّنَّ

او مونږ درکړی دی تاته اووه ايتونه وظيفه اوقرآن دلوی درجې مه غورځوه

عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ

خپلی سترگی په هغوشيانوکوم چې داستعمال دپاره ورکړی دی مونږپه دوی کی څوقسمه خلقوته اومه غم کوه په

وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾ وَقُلْ إِنِّي أَنَا النَّذِيرُ

دوی اوکښته کوه خپلی وزری دايماندارو دپاره ، او ووايه چې زه يم هغه ښکاره بيرونکی

Maktaba Tul Ishaat.com

الْمُبِيْنُ ﴿٨٩﴾ كَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ ﴿٩٠﴾ الَّذِيْنَ جَعَلُوا الْقُرْاٰنَ

لكه چي مونږ ليږلي دي په دغو تقسيم كوونكو ، كوموچي كړي دي قرآن

عِضِيْنَ ﴿٩١﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَسْئَلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾ الربع

حصي حصي ، پس قسم دى ستا په رب چي مونږ به پوښتنه كوو ددى ټولو ، څه چي دوى كول

فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٩٤﴾ اِنَّا كَفَيْنٰكَ

پس واوروه ښكاره څه چي تاته حكم وسو او پرواه مه كوه دمشركانو ، مونږ پوره يو ستا دطرف څخه

الْمُسْتَهْزِءِيْنَ ﴿٩٥﴾ الَّذِيْنَ يَجْعَلُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَسَوْفَ

مسخري كوونكو لره ، كوم چي مقرركوى دالله ﷻ سره دنورو بندگى پس دير

يَعْلَمُوْنَ ﴿٩٦﴾ وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّكَ يَضِيْقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُوْلُوْنَ ﴿٩٧﴾

ژر به پوهه سى ، او مونږ پوهيږو چي ستا زړه تنگيږي د دوى په خبرو سره

فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ﴿٩٨﴾ وَاعْبُدْ رَبَّكَ

پس ته يادوه خوبيانى دخپل رب اوسه دسجده كوونكو څخه اوبندگى كوه دخپل رب

حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ﴿٩٩﴾ ع

ترهغه چي راسى تاته يقيني خبره .

لنډتفسير: او (ته د دوى معاملي ته مه گوره چي غم په زياتيږي بلكه زمونږ دطرف څخه ستا سره مهربانۍ اوعنايتونه دي چنانچې)مونږتاته (يو لوي غټ نعمت يعني)اووه ۷ آيتونه دركړي دي كوم چي (په لمانځه كې)بيا بيا ويل كيږي او دغه (په وجه ددى چي د لويو لويو مضامينو جمع كوونكى دى ددى قابل دى چي ددى دركولو ته داسى وويل سى چي) قرآن عظيم دركړل سوى دى (مراد ددى څخه سورة فاتحه ده د كومي دعظمت په وجه چي ددى نوم ام القرآن هم دى يعنى د قرآن مور نو ددى نعمت دركوونكى طرف ته گوره نو ستا زړه به خوشحاله او مطمئن وي ددى خلقو د عناد او خلاف په طرف ته مه گوره او) ته خپلي ستركي مه پورته كوه دهغه شي طرف ته مه گوره (نه په لحاظ د افسوس او نه په لحاظ د خفگان)كوم چي مونږ مختلف قسم كافرانو ته (مثلاً يهودو، نصاراؤ، مجوسيانو او

Maktaba Tul Ishaat.com

مشرکانو ته»د استعمال دپاره ورکړی دی «او ډیر ژر به د دوی څخه جلا سی» او د دوی «پر حالت دکفر»باندی «هیڅ»غم مه کوه«په حالت د ناراضه کیدو کی دنظر کولو څخه مراد دا دی چی چونکه دوی د خدای دښمنان دي په دی وجه د الله ﷻ دپاره ورسره دبُغض کولو په وجه غصه درلره درسی چی داسی نعمتونه ددوی سره نه وای ددی جواب ته په متعناً کی اشاره ده چی دا څه داسی لوي او غټ دولت نه دی چی ددی مبغوضینو سره نه وای بلکه دا خو متاع فاني دی ډیر ژر تلونکي دي او په لحاظ د افسوس د نظر کولو مطلب به دا وي چی افسوس دی دا شیان د دوی د ایمان څخه منع کرونکي دي که دا نه وای نو غالباً چی ایمان به یې راوړی وای ددی جواب په، لاتحزن، کی دی تفصیل یې دا دی چی ددوی په خته کی زیاته درجه عناد دی ددوی څخه په هیڅ قسم توقع نسته او غمژن کیدل وي په خلاف توقع کار واقع کیدو باندی ، هرکله چی توقع نسته نو بیا غمژن کیدل بي وجهی دی او په لحاظ دحرص خو دنظر کولو ستا څخه احتمال نسته غرض دا دی چی ته هیڅ شان هم ددی کفارو په فکر او غم کی مه لویږه» اوپرمسلمانانو شفقت کوه «یعنی د مصلحت او شفقت دفکر کولو دپاره مسلمان کافي دی چی دوی ته ددی څخه نفع هم ده» او «دکافرانو دپاره دفکر چونکه هیڅ نتیجه نسته په دی وجه د دوی طرف ته گرسره توجه هم مه کوه البته تبلیغ کوم چی ستامنصبي فرض دی دا ادا کوه او دومره» وایه چی زه ښکاره په ډاگه «تاسی ته دخدای دعذاب څخه» بیرونکی یم «اودخدای دطرف څخه تاسی ته دا مضمون رسوم چی هغه عذاب دکوم څخه چی زمونږ نبی تاسی بیروي مونږ به یې پر تاسی یو وخت خامخا نازل کړو» لکه چی مونږ «دغه عذاب» پر هغوخلقو «په مختلفو تیرو وختونو کې» نازل کړی دی کومو چی «دالله ﷻ حکمونه»حصي حصي کړي وه یعنی د آسماني کتاب یې مختلف اجزاء مقرر کړی وه «په دی کی چی به یې کوم دمرضي موافق سو منی به یې کوم چی به یې د مرضي خلاف وو انکار به یې ورڅخه کوئ، مراد ددی څخه تیر یهود او نصارا دي پر کومو چی د انبیاء علیهم السلام د مخالفت په وجه د عذابونو کیدل لکه مسخ کیدل په صورت د بیزوگانو خنزیرانو قیدیدل قتلیدل مشهوراو معلوم وه ، مطلب دا دی چی دعذاب نازلیدل څه لیري خبره نه ده مخکی نازل سوی دی نو که پر تاسو هم وسی نو تعجب په کښې څه دی برابره خبره ده که دغه عذاب په دنیا کی وي او که په آخرت کی ، او هرکله چی ددی ذکر سوی تقریر څخه دا خبره واضحه سوه چی لکه څنگه چی تیر خلق د انبیاء علیهم السلام د مخالفت په وجه د عذاب مستحق سوی دي دغه شان دا موجوده خلق هم دعذاب مستحق سول نو «ای محمد ﷺ » ستا په پروردگار «یعنی خپل ځان» قسم دی چی مونږ به ددی ټولو «وړاندینیو او وروستنیو څخه» د دوی دعملونو «دقیامت په ورځ» خامخا پوښتنه وکړو «بیا به هر یوه ته دده مناسبه سزا ورکړو» غرض دا چی «حاصل دخبري دا دی چی» تا ته چی د کومي خبري «د رسولو» حکم سوی دی دا «خو» صفا صفا بیانوه او «که دوی یې نه مني نو ددی مشرکانو «دنه منلو مطلق»پروا مه کوه «یعنی غم مه کوه لکه چی لوړ راغلی دی، لا تحزن، او مه په طبعي طور سره بیره کوه چی دا مخالف خو ډیر دی څکه چی» دا خلق چی کوم «ستا او دخدای مخالف دي نو په تا پوري» خاندی «او» دالله ﷻ نور معبودان مقرر کوي د دوی «شر او

Maktaba Tul Ishaat.com

ضرر څخه) ستا (دمحفوظ ساتلو او د دوی څخه دبدلي اخیستو دپاره) موږ پوره یو نو دوی ته به ډیر ژر اوس معلومه سي (چې د مسخرو او شرک څه انجام وي ؟ غرض دا هرکله چې موږ کافي یو نو بیا بیره دڅه ده) او واقعي موږ ته معلومه ده چې دا خلق کومي (د کفر او مسخرو) خبري چې کوي ، په دې سره به ستا زړه تنګیږي (چې دا طبعي خبره ده) نو (ددې علاج دا دې چې) ته دخپل رب تسبیح او تحمیده کوه او دلمونځ کوونکو څخه شه او د خپل رب عبادت کوه تردې چې (په دې حالت کې) تا ته مرګ راسي (یعنی تر مرګه پورې په ذکر او عبادت کې مشغول اوسه څکه چې د الله ﷻ په ذکر او عبادت کې د آخرت د اجر او ثواب څخه علاوه دا خاصیت هم دې چې په دنیا کې کله انسان دې طرف ته ولګیږي نو ددنیا غم او تکلیف او مصیبت سپک سي)

(معلومات او مسئلي)

(سورة فاتحه دټول قرآن کریم متن او خلاصه ده)

په دې آیتونو کې سورة فاتحه ته په قرآن کریم ویلو کې دې طرف ته اشاره ده چې سورة فاتحه په یو حیثیت سره پوره قرآن دې څکه چې داسلام ټول اصول په دې کې ځای سوي دي .

(په محشرکي به سوال دڅه شي کوکیږي)

په ذکر سوي آیت کې الله ﷻ په خپل پاک ذات قسم خوري اوفرمایي چې ددې ټولو وړاندینیو او وروستنیو څخه به خامخا سوال او پوښتنه کول کیږي صحابه کرامو ﷺ دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې دا سوال به د کومي معاملي متعلق وي ؟ نووي فرمایل چې د لا اله الا الله :متعلق، په تفسیر قرطبي کې ددې روایت نقل کرلوڅخه وروسته فرمایي چې زموږ په نزد ددې څخه مراد ددې عهد په عملي طور سره پوره کول دي، دکوم نخښه چې، لا اله الا الله ده ، محض دژبې وینامقصود نه ده ، څکه چې په ژبه سره اقرار خو به منافقانو هم کوي ، حضرت بصري رحمه الله فرمایي چې ایمان دیوخاص وضع اوهیئت په جوړولو سره او دین محض په ارزوګانو کولو سره نه جوړیږي بلکه ایمان دهغه یقین نوم دې کوم چې په زړه کې غورخول سوی وي او عملونو ددې تصدیق کړی وي ، لکه په یوحدیث کې دحضرت زید بن ارقم ﷺ څخه روایت دې چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي کوم سړی چې په اخلاص سره لا اله الا الله ووایي، دې به خامخا جنت ته ځي خلقو پوښتنه وکړه چې یا رسول الله په دې کلمه کې د اخلاص مطلب څه دې؟ ده ﷺ وفرمایل چې کله دا کلمه انسان دالله ﷻ دمحرماتو اوناجائزو کارونو څخه منع کړي نو دغه به اخلاص سره ده (قرطبي)

(په تبلیغ او ارشاد کې تدریج په قدر د طاقت)

فَاصۡدَعۡ بِمَاتُؤۡمَرُ، ددې آیت د نازلیدو څخه مخکي به نبی کریم ﷺ او صحابه کرامو ﷺ په پټه پټه عبادت اوتلاوت کوي او دتبلیغ او ارشاد سلسله هم په پټه د یو یو دوو دوو کسانو سره جاري وه څکه چې په اظهار اواعلان کې دکفارو دازار رسولوبیره وه په دې آیت کې الله ﷻ دمسخرو کوونکو او ازار رسوونکوکفارو دازارڅخه دمحفوظ ساتلوذمه واري په خپل ځان واخیسته په دې وجه دغه وخت په بې فکرۍ سره داعلان او اظهار په ذریعه د تلاوت او عبادت او تبلیغ او دعوت سلسله شروع سوه

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ ، کې چې دکومو خلقو ذکر دی د دوی مشران پنځه تنه وه عاص بن وائل، ا سود بن المطلب، اسود بن عبد یغوث، ولید بن مغیره، حارث بن طلاطله، دا پنځه سره په معجزانه طور سره په یو خت کې دحضرت جبرئیل ﷺ په اشاره سره هلاک کړل سول ددی واقعي څه تبلیغ او دعوت په معامله کې دا حاصله سوه چې که انسان په یو داسي مقام یا داسي حال کې اخته سي چې هلته دحقي خبري په ډاګه ویلو سره دغو خلقو ته خو د څه فائدې رسیدلو امید نه وي او خپل ځان ته د نقصان او تکلیف رسیدو بیره وي ، نو په داسي حال کې دا کار په پټه کول هم صحیح او جائز دي البته هرکله چې د اظهار او اعلان قدرت پیدا کړي نو بیا دی په اعلان کې کوتاهي نه کوي .

(د دښمنانو د زار ځخه د زړه تنګیدو علاج)

د ،وَلَقَدْ نَعْلَمُ ، ځخه تر : فَسَبِّحْ، پورې ددې ځخه معلومه سوه چې هرکله انسان ته ددښمن د خبرو ځخه تکلیف رسیږي او زړه یې تنګ سي نو ددې روحاني علاج دا دی چې دالله ﷻ په تسبیح اوعبادت کې مشغول سي الله ﷻ به په خپله دده تکلیف لیري کړي .

سورة الحجر ختم سو

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

﴿سورة النحل﴾

سُوْرَةُ النَّحْلِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّثَمَانٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّسِتَّ عَشَرَ رُكُوْعًا — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة النحل په مکه کې نازل سو او په دې کې یوسل (۱۲۸) اته ویشت ایتونه دي اوشپاړس رکوع ګانې دي .

شروع کوم دالله په نوم سره چې بې حده مهربان نهایت رحم والا دی .

أَتَىٰ أَمْرُ اللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ①

راغی حکم دالله پس ددې تلوارمه کوی ، هغه پاک دی اولوی دی د دوی دشریك جوړولو ځخه

يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَىٰ مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ

نازلوی ملائکې په وحی سره په خپل حکم باندې په چاچې غواړي دخپلو بندګانو ځخه

أَنْ أَنذِرُوا أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاتَّقُونِ ②

چې خبردار کړی چې دچا بندګي نسته ماسوا زما ځخه پس زما ځخه وبیرېږي .

تفسیر: ددې سورة نحل په دې مناسبت سره اینودی سوی دی چې په دې کې دګبین دمچیو ذکر د قدرت عجیبه او نا اشنا صنعت ګړي دبیان په سلسله کې سوی دی ، ددې دویم نوم سورة نعم هم دی ،

Maktaba Tul Ishaat.com

(قرطبي) نعم د نون په زیر سره دنعمت جمع ده څکه چې په دې سورة کې په خاص طور سره دالله ﷻ د عظیمو نعمتونو ذکر دې.

دالله ﷻ حکم (یعنې د کفر د سزا وخت نژدې) را ورسیدې نو تاسې په دې کې (په انکار سره تلوار مه کوئ (بلکه توحید اختیار کړئ او ددې حقیقت واورئ چې) هغه دخلقو دشرک څخه پاک او لوړ دې، هغه الله ﷻ (د) ملائکو (جنس یعنې جبرائیل ؑ) ته وحی یعنې خپل حکم ورکړې په خپلو بندګانو کې چې پر چا غواړي (یعنې پر انبیاء) نازلوي (یې او دهغه حکم) دا (دې) چې خلګ خبردار کړي چې زما څخه ما سوا څوک لائق دعبادت نسته نو زما څخه بیره کوئ (یعنې زما سره څوک مه شریکوئ کنه نو سزا به پیدا کړي)

﴿ معلومات او مسئلې ﴾

دې سورة ته یې بغیر دڅه تمهیدڅخه د یوې سختې وعدې د عذاب او هیبتناک عنوان څخه شروع وکړه چې دده وجه دمشرکانو دا وینا وه چې محمد (ﷺ) مونږ دقیامت څخه اودالله ﷻ دعذاب څخه بیروي او را ته وایي چې الله ﷻ دده دغالب کولو او مخالفینو ته د سزا ورکولو وعده کړې ده، مونږ ته خو هیڅ کیدل نه ښکاري ، ددې په جواب کې یې ارشاد فرمایي چې راغی حکم دالله ﷻ تاسې تلواري مه کوئ ، دالله ﷻ دحکم څخه دلته مراد هغه وعده ده کومه چې الله ﷻ دخپل رسول ﷺ سره کړې ده چې دده دښمنان به لاندې اومغلوب کړل سي او مسلمانانو ته به فتح او نصرت او عزت او شوکت حاصل سي ، په دې آیت کې الله ﷻ په هیبتناکه لهجه کې ارشاد فرمایي چې دالله ﷻ حکم را ورسیدې یعنې را رسیدونکې دې کوم چې به تاسې ډیر ژر ووینئ.

او ځینې حضرات فرمایي چې په دې کې دالله ﷻ دحکم څخه مراد قیامت دې ددې د را رسیدو مطلب هم دا دې چې ددې واقع کیدل نژدې دې او که د ټولې دنیا دعمر په اعتبار سره وکتل سي نو دقیامت نژدې را رسیدل هم څه لیرې خبره نه ده (بحر محیط)

ددې څخه په وروسته جمله کې چې داارشادفرمایي چې الله ﷻ دشرک څخه پاک دې ددې څخه مراد دا دې چې داخلق چې کومه دخدای ﷻ وعده غلطه ګرځوي داکفراوشرک دې الله ﷻ ددې څخه پاک دې (بحر)

ددې آیت خلاصه دیوې سختې وعدې دعذاب په ذریعه دتوحید دعوت ورکول دي ، په دوهم آیت کې په دلیل نقلي سره دتوحید ثابتول دي چې دحضرت آدم ؑ څخه واخله تر خاتم الانبیاء علیهم السلام پورې ددنیا په مختلفو حصو کې په مختلفو زمانو کې هر یو رسول چې راغلی دې هغه د توحید عقیده پیش کړې ده حال دا دې چې یوه ته د بل د حال او د تعلیم ورکولو په ظاهري اسبابو هیڅ اطلاع هم نه وه، غور وکړئ چې کم از کم یو لاک شل زره حضرات عاقلان کوم چې په مختلفو وختونو کې په مختلفو حصو مختلفو ملکونو کې پیدا وي او ټول د یوې خبرې قائل وي نو فطرتاً انسان په دې پوهیدو مجبوره کیږي چې دا خبره نه سي غلطیدی د ایمان راوړلو دپاره یوازې دا دلیل هم کافي دې د روح د لفظ څخه مراد په دې آیت کې په قول د ابن عباس رضي الله عنه وحی او په قول د نورو مفسرینو هدایت دې (بحر)

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې آيت کې دتوحيد د روايتي او نقلي ثبوت پيش کولو څخه وروسته په راتلونکو آيتونو کې دا د
توحيد عقيده په عقلي طور سره دالله ﷻ دنعمتونو دنظر په وړاندې راولي او ثابتوي يې ارشاد دي .

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ تَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ③ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ

پيدا کړي دي اسمانونه او مځکه صحيح صحيح ،هغه لوی دی د دوی دشرک جوړولو څخه پيدا کړي دی انسان

نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ④ وَالْاَنْعَامَ خَلَقَهَا ۚ لَكُمْ فِيْهَا

دنطفې څخه بياسو جګړه مار خبري کوونکی ، او حيوانان يې پيدا کړي دي ستاسې دپاره په دې کې

دِفْءٌ وَّمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ⑤ وَلَكُمْ فِيْهَا جَمَالٌ حِيْنَ

دول دی اوځومره فائدې اوځينی ورڅخه خورئ ، اوستاسودپاره په دې عزت دی کله چې يې

تُرِيْحُوْنَ وَحِيْنَ تَسْرَحُوْنَ ⑥ وَتَحْمِلُ اَثْقَالَكُمْ اِلٰى بَلَدٍ لَّمْ

مابنام دځرڅخه راولی اوکله چې يې دځردپاره بيايې ، اوپورته کوی ستاسې بار هغو ښارونو ته چې

تَكُوْنُوْا بٰلِغِيْهِ اِلَّا بِشِقِّ الْاَنْفُسِ ؕ اِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ⑦ۙ

تاسې ورته نه رسيږئ ، مګر په سختۍ دنفس سره ، بيشکه ستا رب لوی شفقت کوونکی مهربان دی

وَّالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيْرَ لِتَرْكَبُوْهَا وَزِيْنَةً ؕ وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ⑧

اوآسونه يې پيداکړل اوغاټرې اوخره چې سپاره سی پراودښائست دپاره اوپيدا کوی چې تاسې ته نه دی معلوم

دلغاتو تشريح : خَصِيْمٌ، دخصومت څخه مشتق دی په معنی دجګړي کوونکي ، انعام دنعم (په زبر د
نون) جمع ده په چارپايانو کې اوښ بزې غوا ته ويل کيږي (مفردات راغب)
دِفْءٌ : ګرمي او دګرمۍ حاصلو شي ، مراد ورڅخه وړی ده دکومي څخه چې ګرمي کپړې جوړيږي ،
تُرِيْحُوْنَ، د رواح څخه او : تَسْرَحُوْنَ : دسراح څخه مشتق دی چارپايان اوحيوانات دسهار په وخت کې
د ځر خاى طرف ته بيولو ته سراح او مابنام کور ته دبيرته را وستلو ته رواح ويل کيږي ، شِقِّ الْاَنْفُسِ ،
د روح محنت او مشقت .

لنډتفسير: (الله ﷻ) آسمانونه او مځکه په حکمت سره جوړ کړه هغه د دوی دشرک څخه پاک دی (او)
انسان يې دنطفې څخه جوړکې بيا دی فوراً ښکاره په ښکاره (دخدای په ذات او صفاتو کې) او د
انسان د طرف څخه ناشکري) او هغه حيوانان جوړ کړل په دې کې ستاسې ديخني هم اسباب دي
(حيواناتو د وړينتو اوځرمني څخه د انسان پوستين او کپړې جوړيږي) او نوري هم ډيري فائدې دي

Maktaba Tul Ishaat.com

(لکه سپرلی بار برداری وغیره) او په دی (چی کوم د خوړلو قابل دي هغه) خوري هم او د دوی په وجه ستاسي دول هم دی کله چي دمابنام په وخت کی (دځرځای څخه کورته) را ولي او کله چي دسهار په وخت کی (د کور څخه ځرځای ته) بیایاست او دوی ستاسی بارهم پورته کوي داسی ښارونو ته یې وړي کوم ځای ته چی تاسی بغیر دسخت محنت څخه نه سی رسیدی واقعي ستاسی رب ډیر شفقت او رحمت والا دی (چی ستاسی د آرام دپاره یې څه څه اسباب پیدا کړی) او آسونه قچري او خره یې هم پیدا کړل چی سپرلي پر کوي او دا رنګه دښائست دپاره هم او هغه داسی داسی شیان (ستاسی دسپرلي وغیره دپاره) جوړوي د کومو څخه چی تاسی خبر هم نه یاست.

(معلومات او مسئلي)

په دی آیتونو کی دکائناتو دپیدائش دعظیم الشانه نخښو څخه دالله ﷻ یووالی ثابتوي اول خو یې د ټولو څخه مخکی د مخلوق آسمانونو او مځکی ذکر وفرمایي ددی څخه وروسته د انسان دپیدائش ذکر فرمایي کوم چی الله ﷻ دکائناتو مخدوم جوړ کړی دی (یعنی ټول کائنات یې دده په خدمت کی لګولي دي) د انسان پیدائش یې دیوي سپکي غونډي نطفي څخه بیان کړو او وي فرمایل (فَاِذَاهُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ) یعنی کله چی دی پیدائشی کمزوری انسان ته طاقت او قوت دخبرو ورکړل سو نو د خدای په ذات او صفتونو کی یې جګړه شروع کړه.

د انسان څخه وروسته یې دهغوشیانو دپیدائش ذکر وکړو کوم چی د انسان د فائدی دپاره په خصوصي طور سره جوړ سوی دی او د قرآن کریم د ټولو څخه اولنی مخاطب چونکه عرب وه اودعربو د ژوند لوي دار او مدار پر ساتونکو حیواناتو اوښ غوا او بزه باندی وو، په دی وجه اول یی د دوی ذکر وفرمایي (وَالْاَنْعَامَ خَلَقَهَا) بیا دحیواناتو څخه چی کومي فائدی انسان ته حاصلیږي په دی کی یې دوې فائدی په خاص طور سره بیان کړی یوه ، لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ ، یعنی ددی حیواناتو د وړی څخه انسان جامي او د ژمني څخه پوستین ټوپی وغیره جوړوی دیخ په موسم کی ګرمي په حاصلوي.

دویمه فائده (وَمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ) یعنی انسان دا حیوانان ذبح کوي خپل خوراک یې جوړوي او ترڅو پوری چی دغه حیوانان ژوندي وي دشیدو څخه یې دځان دپاره غوره خوراک پیداکوي ، شیدي ، مستي، کچي، غوړي او ددی څخه جوړیدونکي ټول شیان په دی کی داخل دي ، اوباقي دعاموفائدودپاره یې وفرمایل وَمَنَافِعُ، یعنی بې شمیره نفعي او فائدی د انسان د حیواناتو دغوښی ژمني هډوکي او وریښتو سره تړلي دي ، په دی ابهام او اجمال کی هغو ټولو نوو نوو ایجاداتو طرف ته هم اشاره ده کوم چی د حیواناتو د اجزاؤ څخه د انسان دخوراک جامو دوایانو استعمالي شیانو دپاره تر اوسه ایجاد سوی دی یا آئنده تر قیامته پوري ایجاد کیږي.

ددی څخه وروسته ددی حیواناتو یوه بله فائده یې دعربو دمذاق مطابق دا بیان کړه چی دغه ستاسی دپاره دښائست او رونق ذریعه ده خاصکر کله چی دوی مابنام دځر دځایونو څخه ستاسی دکورونو طرف ته ځي یا سهار د کورونو څخه د ځر ځایونو طرف ته وزي ځکه چی په دغه وختونو کی په حیوانانو سره د مالکانو د خاص شان او شوکت مظاهره وي.

په آخر کې ددې حیوانانو یوه مهمه فائده یې دا بیان کړه چې دا حیوانان ستاسې د ژوند بار د لیرې لیرې ښارونو طرف ته رسوي کوم ځای ته چې ستاسې اوستاسې د اسباب رسیدل په ډیرو سختیو سره هم ممکن نه وي ، اوښ اوغویي په خاص طور سره د انسان دا خدمت په لویه پیمانه سره پوره کوي ، نن د ریل ګاډیو ټرکونو هوایي جهازونو په دې زمانه کې هم انسان ددې حیوانانو څخه بې حاجته نه دې ډیر ځایونه داسې دي کوم ځای ته چې دا نوي ایجاد سوې سپرلۍ د بار برداری کار نه سې ورکولې هلته بیا هم انسان د دوی څخه په خدمت حاصلولو باندې مجبوره وي.

اَنْعَامْ :یعنې اوښ غویي وغیره، د بار برداری ذکر راغلی نو د دوی څخه وروسته دهغو حیوانانو او چارپایانو ذکر هم مناسب معلوم سو دکومو چې پیدائش د بار برداری دپاره وي د دوی دشیدو یاغوښې سره د انسان فائده متعلق نه ده ځکه چې په شریعت سره دغه د اخلاقي بیماریو دسبب والي په وجه ممنوع دی فرمایي.

﴿وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيْرَلِتَرْكَبُوهَاوَزِيْنَةً﴾ یعنې مونږ آسونه غاطرې اوخره پیداکړل چې تاسې په سپاره سې په دې کې باربرداري هم ضمناً راغله اودایې ددې دپاره هم پیداکړل چې داستاسې دپاره زینت جوړ سې د زینت څخه هغه شان شوکت مراد دی کوم چې عرفاً ددې حیوانانو مالکانو ته په دنیا کې حاصل وي.

(په قرآن کي د ریل موټر هوائي جهاز ذکر)

په آخرکې دسپرلۍ د درو حیوانانو آس قچر او خر په خاص طور سره دبیانولوڅخه وروسته د نور قسم سپرلیو متعلق په صیغه د استقبال سره فرمایي ، وَيَخْلُقُ مَالَاتَعْلَمُوْنَ یعنې الله ﷻ به پیداکړي هغه شیان کوم چې تاسې نه پیژنئ په دې کې هغه ټول نوي ایجاد سوې پسرلۍ او ګاډیاني هم داخلي دي دکومو چې په پخوان زمانه کې نه وجود وو او نه څه تصور مثلاً ریل موټر، هوایي جهاز وغیره کوم چې تر اوسه پورې ایجاد سوی دي اوهغه ټول شیان هم په دې کې داخل دي کوم چې به په آئنده زمانه کې ایجاد کیږي ، ځکه چې پیدائش ددې ټولو شیانو په حقیقت کې دخالق مطلق کار دی دپخواني او نوي سائنس په دې دور کې صرف دومره کار دی چې د قدرت په پیدا سوو شیانوکې دقدرت د ورکړي عقل او پوهې په ذریعه جوړښت وکړي مختلفي پرزې ورڅخه جوړي کړي او بیا په دې کې دقدرت الهي دپیداکړي هوا اوبو او وغیره څخه بجلې پیداکړي یا دقدرت د ورکړو خزانو څخه پټرول راوباسي او په دې سپرلیو کې استعمال کړي که نوي او زوړ سائنس یوځای هم سی، نه څه اوسپنه او پیتل پیدا کولې سی اونه د ایلو مینیم قسم سپک داتونه جوړولې سی نه لرګي پیداکولې سی نه هوا او اوبه پیداکول ده په وس کې دی ده کار ددې څخه زیات نسته چې دقدرت الهی دپیداکړل سوو قوتونو استعمال زده کړي ددنیا ټول ایجادات صرف ددې استعمال تفصیل دی، په دې وجه هرکله چې لږ هم دغور او فکر څخه کار واخیستل سي نو ددې ټولو ایجاداتو پیداکوونکو خالق مطلق ویلو او منلو څخه ماسوا بله چاره نسته.

دلته دا خبره په خاص طور سره دنظر قابله ده چې دتیرو ټولو شیانو په پیداکولو کې لفظ دماضي، خَلَقَ استعمال سوی دی او دمعلومو سپرلیو ذکر کولو څخه وروسته په صیغه دمتسقبل : يَخْلُقُ ارشاد

Maktaba Tul Ishaat.com

سوی دی ، دعنوان ددی بدلون څخه واضحه سوه چی دا لفظ دهغوسپرلیو او نورو اشیاؤ متعلق دی کوم چی لا تراوسه په وجود کی نه دی راغلی او دالله ﷻ په علم کی دی چی په راتلونکي زمانه کی چی څه سپرلی او نور شیان پیداکول دي ددی اظهار یې په دی لنډه غوندی جمله کی وفرمایي.

حق تعالی جل جلاله دا هم کولی سوای چی په آئنده کی دپیداکیدونکو ټولو نوو ایجاداتو نومونه یې اخیستی وای او ذکر فرمایلی وای او په دغه زمانه کی یې دریل موټر هوائي جهاز وغیره اخیستی وای او ذکر فرمایلی وای نو ددی څخه به بغیر د ذهن پریشانه کیدو څخه بله هیڅ فائده نه وای ځکه چی ددی شیانو دغه وخت تصور کول هم دخلقو دپاره اسانه نه وو او نه دا الفاظ دغه وخت دغه شیانو دپاره مستعمل وو چی دوی په پوهه سی.

زماپلارصاحاب حضرت مولانامحمد یاسین صاحب رحمه الله فرمایلي دي چی زما استاذ الکل حضرت مولانا محمد یعقوب صاحب نانوتوي رحمه الله به فرمایل چی په قرآن کریم کی د ریل ګاډي ذکر موجود دی او دا آیت به یې په دلیل کی فرمایي تر دغه وخته پورې موټران عام نه وه او هوائي جهاز ایجاد سوی نه وو په دی وجه د ریل پر ذکر یې بس والی وکي.

مسئله : قرآن کریم اول د اَنْعَامْ یعنی اوښ ، غوا بزه ذکر وفرمایي او د دوی په فائده وو کی یوه مهمه فائده د دوی غوښه خوړل یې هم مقرر کړه بیا یې ددی څخه جلا کړه اووې فرمایل.

(وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ) د دوی په فائدو کی یې سپرلی کول او د دوی څخه دخپل ښائست حاصلول ذکر خو یې وکي مګر دغوښی خوړلو یې دلته ذکر ونه کي په دی کی دا دلالت موندل کیږي چی د آس قچر او خر غوښه حلاله نه ده دقچري اوخر غوښی پر حراموالي خو دجمهورو فقهاؤ اتفاق دی او په یو مستقل حدیث کی د دوی دحرمت صراحة هم ذکر راغلی دی مګر د آس په معامله کی دحدیث دوه روایتونه مُتعارض راغلی دي په یو کی حراموالی او په بل کی حلالوالی معلومیږي ، په دی وجه د امت د فقهاؤ اقوال په دی مسئله کی مختلف سول ځینو حلال وګرځوي او ځینو حرام امام ابو حنیفه رحمه الله دلائلو دتعارض په وجه د آس غوښه دقچر او خر دغوښی په شان حرامه خو نه ده ویلي البته مکروهه یې ګرځولی ده (احکام القرآن للجصاص)

مسئله : ددی آیت دجمال او زینت جواز معلومیږي که څه هم فخر اوتکبر کول حرام دي فرق دا دی چی د جمال او زینت حاصل دخپل زړه خوشحالی یا دالله ﷻ دنعمت اظهار وي ، نه په زړه کی خپل ځان ددی مستحق ګڼل او نه نور سپک ګڼل بلکه دالله ﷻ بخشش او انعام دده دنظر په وړاندی وي ، او په تکبر او فخر کولو کی خپل ځان ددی نعمت مستحق ګڼل او نور سپک ګڼل وي دغه حرام دی (بیان القرآن)

وَعَلَى اللهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ ۚ وَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٩﴾

او الله ته رسیږي سیده لار او ځینی لاری کږی هم دی که هغه غوښتلی نو سیده لار به یی درکړی وای تاسی ټولو ته

لنډتفسیر: او (په ذکر سوو تیرو او پیوستو دلیلونو چی کومه) سیده لار (ددین ثابتیږي دغه خاص دی) الله ﷻ ته رسیږي او ځینې لاري (کومي چی ددین څخه خلاف دي) کږی هم دي (چی په دغو سره

Maktaba-Tul-Ishaat.com

(رسيدل ممكن نه دي ، نو ځيني پر سيده لار چليږي او ځيني پر كږه) او كه خداى غوښتلي نو تولو ته
به يې (منزل) مقصود ته رسولي (مگر هغه جل جلاله هغه پيژني كوم چې دسيده لارې طلب كوونكي هم
وي وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا : په دې وجه تاسې ته په كار دي چې په دليلونو كې غور وكړي
اوپه دې سره حق طلب كړي چې تاسې ته منزل مقصود ته رسيدل نصيب سي)

(معلومات اومسئلې)

په دې تيرو آيتونو كې يې داللّٰه ﷻ دعظيم الشانه نعمتونو ذكر وفرمايي او دتوحيدعقلي دليلونه يې
جمع كړل مخكې هم ددې نعمتونو ذكر دی په مينځ كې دا آيت په طور دجملې معترضي پردې خبره د
خبردارولو دپاره را وړل سو چې اللّٰه ﷻ دخپلې زرې وعدې پر بنا باندې په خپله ذمه اخيستې ده چې
دې دخلقو دپاره سيده لار واضحه كړي كومه چې اللّٰه ﷻ ته رسوونكې ده په دې وجه داللّٰه ﷻ د وجود
او توحيد دليلونه جمع كول كيږي.
ليكن ددې برخلاف ځيني خلقو نوري كږې لارې هم اختيار كړي دي او دوی ددې تولو واضحو دليلونو
او آيتونو څخه هيڅ فائده نه اخلي ، بلكه په گمراهۍ كې ورک گرځي .
بيا ارشاد فرمايي چې كه اللّٰه ﷻ غوښتلي نو تول به يې مجبوراً پر سيده لار روان كړي وای نو دا دهغه
په اختيار كې وه مگر دحكمت او مصلحت تقاضا دا وه چې جبر ونه كړل سي دواړې لارې وړاندې كړل
سي نو تلونكي چې پر كومه لار تلل غواړي ولاړ دي سي سيده لار به يې اللّٰه ﷻ او جنت ته ورسوي او
كږه لار به يې جهنم ته ورسوي انسان ته يې اختيار وركې چې كومه لار غواړې اختيار يې كړه .

هُوَ الَّذِيٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً لَّكُمْ مِّنْهُ

هغه دی چې نازلې يې كړې داسمان څخه اوبه ستاسې دپاره ددې څخه

شَرَابٌ وَّمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ ⑩ يُنْۢبِتُ لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ

څښتی او په دې درختې اوبه كيږي چې خروې په كې ، راتوكوي په دې سره ستا سو دپاره فصل

وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ وَالْاَعْنَابَ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ اِنَّ فِي

اوزيتون او خرماوې او انگور اودا هرقسم ميوې په دې

ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُونَ ⑪ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ

كې البته نخښې دې دهغو خلقو دپاره كوم چې غوركوې ، اوپه كارېې لگولې دې ستاسو شپه او ورځ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ وَالنُّجُومُ مُسَخَّرٰتٌۢ بِأَمْرِهٖ ۗ إِنَّ فِي ذٰلِكَ

او لمر ، او سپوږمی ، او ستوری ؛ په کار کی لګیدلی دی دده په حکم سره ، په دی کی

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَمَا ذَرَاَ لَكُمْ فِي الْاَرْضِ مُخْتَلِفًا

نخښی دی دهغو خلقو دپاره کوم چی پوهیږي ، اوکوم شیان چی یی خواره کړی دی ستاسی دپاره په مځکه کی

اَلْوَانُهٗ ۗ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۳﴾ وَهُوَ الَّذِيْ

رنګ په رنګ په دی کی نخښی دی دهغو خلقو دپاره کوم چی سوچ کوی ، او هغه دی چی

سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَاْكُلُوْا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَّتَسْتَخْرِجُوْا مِنْهُ حِلْيَةً

په کار کی یی لګولی دی دریاب چی خوری ددې څخه غوښه تازه او را باسی ددې څخه کالی

تَلْبَسُوْنَهَا ۚ وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيْهِ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ

چی اغوندی یی اووینی کشتی چی ځی په اوبو کی او ددې دپاره چی تلاش کړی دده دفضل څخه

وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۴﴾ وَاَلْقٰى فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ

او چی احسان ومنی اوغورځولی یی دی په مځکه غرونه چی ټینګ کړی تاسی اوجوړ

وَاَنْهٰرًا وَّسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَعَلٰمٰتٍ ۗ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿۱۶﴾

کړی یی دی نهرونه اولاری چی تاسی لار پیدا کی اوجوړی کړی یی دی نخښی اوپه ستوروباندی خلق لارمعلوموی

لنډتفسیر: دغه (الله) داسی دی چاچی ستاسی (دفایدی) دپاره دآسمان څخه اوبه وورولی چی په دی سره تاسی ته څښل درکول کیږي اوچی ددی (په سبب) سره درختي (پیدا) کیږي چی تاسی په کی (خپل حیوانان) څروي (او) په دی (اوبو) سره ستاسی (دفائدی) دپاره فصل او زیتون اوخرما اوانګور اوهر قسم میوي (دمځکی څخه) پیدا کوي بیشکه په دی (ذکر سوو) کی دسوچ کوونکو دپاره (دتوحید دلیل (موجود) دی اوده الله ﷻ ستاسی د(فائدی د) پاره شپي او ورځي اولمر اوسپوږمی (خپل) مسخر (د قدرت) جوړکړل او (دغه شان نور) ستوري (هم) دعقلمدو دپاره (د توحید) څو دلیلونه (موجود) دي او (دغه ډول) هغه شیان یی هم (دقدرت) مسخر جوړ کړل کوم چی ستاسی (دفائدې) دپاره په دی طور سره پیدا کړل چی د دوی قسمونه (یعنی جنسونه او قسمونه) مختلف دي (په دی کی ټول حیوانات او نباتات اوجمادات مفردات او مرکبات داخل سول) بیشکه په دی (ذکر سوو) کی (هم) دپوهه خلقو

Maktaba Tul Ishaat.com

دپاره) دتوحيد (دليلونه موجود دي او دغه (الله) داسي دی چی ده درياب (هم دقدرت) مسخرکی چی ددی څخه تازه تازه غوښه (يعنی ماهي راباسي) خوري او (چی) ددی څخه (ملغلرو) کالی راباسی کوم چی تاسی (سړی او ښځی ټول) اغوندی او (ای مخاطبه ددی درياب يوه فائده دا هم ده چی) تاسی کشتئ (برابره خبره ده که کوچنی وي او که غټی لکه لوي) جهازونه نو دویويني چی په (درياب) کی (ددي) اوبه څيری رواني وي او (دا رنګه يی ځکه درياب مسخر دقدرت جوړکي) چی تاسی (په دی کی دتجارت مال وړی سفرکوی او ددی په ذريعه سره) دخدای روزي طلب کوي ، او چی (دا ټولي فائدي وويني دهغه) شکر وکړئ او ده پر مځکه غرونه کښيښودل چی دغه (مځکه) تاسی ټينګ کړی اونه ښوريږي اوده (کوچنی کوچنی) نهرونه اولاري جوړي کړي چی (ددی لارو په ذريعه سره خپل) منزل مقصود ته رسيږي او (ددی لارو دپيژندو دپاره يې) ډيري نخښي جوړ کړي (لکه غرونه درختي ابادي وغيره چی په دوی سره لار پيژندل کيږي او که چيري ټوله مځکه يو ډول هواره وای نو لار به مو نه سوای پيژندی) او دستورو څخه هم خلق لار معلوموي (لکه چی ظاهره او معلومه ده)

(معلومات او مسئلي)

(منه شجرفيه تُسِيْمُوْنَ) لفظ دشجراکثردرختي ويل کيږي کومه چی پرتنه باندی ولاړه وي اوکله مطلق د مځکی څخه ټوکيدونکی هرشی ته هم شجرويل کيږي ګياه اوبوټی وغيره هم په دی داخليږي په دی آيت کی دامعنی مراده ده ځکه چی ورپسي دحيوانانودخرولوذکردی اوددی تعلق زيات تروښوسره دی تُسِيْمُوْنَ ، د أسامت څخه مشتق دی چی معنی يی ده حيوان څرځای ته دخرولو دپاره پريښودل .

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ : په دی ټولو آيتونو کی دالله ﷻ دنعمتونو اوپه عجيبه اواناآشناحکمت سره دکائناتو دپيدائش ذکر دی چی په دی کی غور اوفکر کوونکو ته داسی دليلونه او شواهد ليدل کيږي چی په دی سره دالله ﷻ يووالی ګويا په سترګو ليدل کيږي ، په دی وجه ددی نعمتونو دذکر کولو سره باربار پردی خبرداری ورکوي ددی آيت په آخر کی فرمايي چی په دی کی دفکر کوونکو دپاره دليل دی ، ځکه چی دفصلونو درختو او د دوی د ګلونو او ميوو وغيره تعلق دالله ﷻ دکاريګري اوحکمت سره څه قدرغور اوفکر غواړي ، چی انسان دا فکر وکي چی ددانی يا ټمبتی څخه په مځکه کی د غورخولو او اوبو ورکولو څخه خودبخوده دا نه سی کيدای چی ددی څخه يوه عظيم الشانه درخته جوړه سی او رنګارنګ ګلونه په کی راسی په دی کی د کرونده ګر يا زيمندار دعمل هيڅ دخل نسته دا ټول د قادر مطلق د کاريګری اوحکمت سره تړلی دي، او ددی څخه وروسته دشپي او ورځي دالله ﷻ دحکم تابع دچليدو ذکر راغلی نو په آخر کی ارشاد فرمايي .

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ : يعنی په دی شيانو څو دليلونه دي دعاقلانو دپاره په دی کی اشاره دی طرف ته ده چی ددی شيانو دالله ﷻ په حکم سره مسخرکيده داسی ښکاره دي ، چی په دی کی دڅه زيات غور اوفکر ضرورت نسته ، دچاچی لږهم عقل وي هغه په پوهه سی ځکه چی د درختو اوبوټو په ټوکيدو کی خو لږ ډير د انساني عمل دخل هم وو مګر دلته هغه هم نسته .

ددی څخه وروسته دمځکی د نورو مختلفو اقسامو او انواعو پيداوار ذکر کوي فرمايي إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

Maktaba Tul Ishaat.com

لَاٰيَةً لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ: په دی کی دلیل دی دهغوخلکو دپاره کوم چی نصیحت قبلوي مراد دا دی چی دلته هم د ډیر زور فکر او نظر ضرورت نسته ، ځکه چی ددی دلالت بالکل ښکاره دی مګر شرط دا دی چی څوک ددی طرف ته په توجه سره وګوري او نصیحت حاصل کړي که چري بي وقوفه بي فکره سړی کوم چی شاوخوا نظر نه کوي ده ته ددی څخه څه فائده رسیږي ؟

وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ : دشپي او ورځی دمسخر کولو مطلب دا دی چی دوی د انسان په کار کی د لګولو دپاره یی دخپل قدرت مسخر کړل چی شپه انسان ته د ارام سامان تیاروي او ورځ دده دکارونو لاري هواروي د دوی دمسخر کولو دا معنی نه ده چی شپه او ورځ د انسان د حکم تابع چلیږي .

وَهُوَ الَّذِي سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا : دآسمانونو اومځکو دمخلوقاتو او په دوی کی د انسان دنفعو اوفائدو بیانولو څخه وروسته په لوي سمندر کی چی د الله ﷻ په حکمت بالغه سره کومي کومي فائدي دي د هغوي بیان دی چی په دریاب کی د انسان د خوراک څنګه ښکلی انتظام سوی دی چی د ماهي تازه غوښه ده ته ورکول کیږي .

لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا: په دی الفاظو کی دماهي غوښه په تازه مقرر کولو سره دی طرف ته هم اشاره کول کیږي چی د نورو حیوانانو په شان پرده د ذبح کولو شرط نسته دا ګویا تیاره غوښه ده .

وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا: دا یی د دریاب بله فائده ښوولی ده چی په دی کی په غوټو وهلو سره انسان دخپل ځان دپاره کالی راباسي دحلیه لفظی معنی زینت دی مراد ورڅخه هغه ملغلري اوغمي او جواهرات دي کوم چی دسمندر څخه راوزي او ښځی ورڅخه هارونه جوړوي په غاړه یا به پله طریقه یی په غوږونو کی اچوي دا کالی که څه هم ښځی اغوندي لیکن قرآن لفظ دمذکر استعمال کی وي فرمایل تَلْبَسُونَهَا ، یعنی تاسی خلق یی اغوندی اشاره ددی خبري طرف ته ده چی دښځو کالی اغوندل په حقیقت کی د سړو دفائدي دپاره دی دښځی ښائست په حقیقت کی دسړي حق دی ، دی خپله ښځه په ښائسته جامو او کالو اغوندلو مجبوره کولی هم سی ددی څخه علاوه د جواهراتو استعمال سړی هم په ګوتمی وغیره کی کولی سی .

وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ : دا دریمه فائده د دریاب وښودل سوه ، دفُلک معنی کشتي او مواخر دماخره جمع ده د مخر معنی د اوبو څیرولو ده مراد هغه کشتی او بحري جهازونه دي کوم چی د اوبو څپي څیري او روان وي .

مطلب د آیت دا دی چی دریاب الله ﷻ دلیري ملکونو دپاره لاره جوړه کړی ده ، لیري لیري ملکونو ته د دریاب په ذریعه سفر کول او تجارتي مال وړل راوړل یی آسان کړي دي او دا یی د رزق حاصلولو عمده ذریعه مقرر کړه ، ځکه چی د دریاب پر لاره باندی تجارت د ټولو څخه زیات نفع مندوی .

وَأَلْقَى فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ بِكُمْ: رواسي د راسیه جمع ده درووند غر ته ویل کیږي تمید د مید مصدر څخه مشتق دی چی معنی یی برېښیدل یا ښوریدونکی حرکت کول دي .

معنی د آیت دا ده چی دمځکی کُره الله ﷻ د ډیرو حکمتونو ترمخه دسختو او متوازنو اجزاؤ څخه نه

Maktaba Tul Ishaat.com

ده جوړه کړي ، په دې وجه دا يو طرف ته درنه او بل طرف ته پسته واقع سوې ده ، ددې لازمي نتيجه دا وه چې که مزکه دعامو فلاسفرانو په شان ساکنه ومنل سي يا دځه پخوانيو او نوو فلاسفرانو په شان ورله حرکت مستديره ومنل سي نو په دواړو حالاتو کې به په مځکه کې دنهه يو اضطرابي حرکت وو ، کوم ته چې رپيدل يا ښوريدل ويل کيږي ، ددې رپيدونکې حرکت دمنع کولو او دمځکې اجزاء د متوازن کولو دپاره الله ﷻ پر مځکه د غرونو وزن کيښووې چې دا د رپيدو حرکت ونه کړل سي پاته سوه مسئله د هغه حرکت کوم چې په خپله دائره کې کوي لکه چې ټول ستوري کوي او په پخوانيو فلاسفرانو کې د فيثا غورث دا تحقيق وو او نوې فلاسفران ټول پردې باندې متفق دي او نوو تجربو دا نوره هم واضحه کړې ده نو په قرآن مجيد کې نه چيري ددې اثبات سته او نه يې نفي بلکه دا د رپيدو حرکت کوم چې د غرونو په ذريعه بند کړل سوې دی ددې مستدير حرکت دپاره به نور زيات مددګار وي کوم چې د سيارو په شان مځکه ثابتول کيږي . والله اعلم

وَعَلَامَاتٍ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ :لوړچونکه دتجارتي سفر ذکر راغلی دی نو مناسبه سوه چې دهغو اسانيو ذکر هم وکړل سي کوم چې الله دمسافرانو دپاره دمزل کولو او منزل مقصود ته د رسيدو دپاره په مځکه اوآسمان کی پيدا کړي دي په دې وجه فرمايي : وعَلٰمٰتٍ، يعنی مونږ په مځکه کې دلاري پيژندو دپاره ډيري نخښې دغرونو، دريابونو، درختو، کورونو وغيره په ذريعه قائم کړي دي ظاهره ده که ټوله مځکه يوهموار ميدان وای نو انسان به يو ځای ته د رسيدو دپاره د لاري ځخه بې لاري کيدی .

وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ: يعنی سفر کوونکي ځنګه چې دمځکی په نخښو سره لار پيژني دغه ډول د ستورو په ذريعه هم طرف معلوموي لاره پيژني په دې عنوان کی دې طرف ته اشاره معلوميږي چې د ستورو د پيدا کولو اصلي مقصد څه بل دی ددې سره يوه دا فائده هم چې په دوی سره لاري هم پيژندل کيږي .

أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لَّا يَخْلُقُ ۗ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٧﴾

ايا پس هغه چې پيدا کوي ، برابردی دهغه کوم چې نه پيدا کوي ايا تاسی سوچ نه کوی ،

وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٨﴾

اوکه شمار کړی دالله ﷻ نعمتونه نو پوره به يې نه کړی بيشکه الله بخښونکی اومهربان دی

وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴿١٩﴾ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن

او الله تعالی پيژنی کوم چې تاسی پټوی او کوم چې ظاهروی ، اوکوم چې بولی

دُونِ اللَّهِ لَا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ ﴿٢٠﴾ أَمْوَاتٌ غَيْرُ

دالله تعالی ځخه ماسوا ، هيڅ نه سی پيدا کولی او دوی په خپله پيدا کړل سوی دی ، مړه دی چې

Maktaba Tul Ishaat.com

أَحْيَآءٍ ۚ وَمَا يَشْعُرُونَ ۙ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴿٢١﴾ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۚ

روح په کې نسته ، او نه پوهیږي چې کله به پورته کول کیږي ، معبود ستاسی معبود یو دی

فَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ قُلُوبُهُم مُّنكِرَةٌ وَهُم

پس دکومو چې یقین نسته دآخرت په ژوند د دوی زړونه نه منی او دوی

مُّسْتَكْبِرُونَ ﴿٢٢﴾ لَا جَرَمَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ۚ

مغروره دی صحیح خبره ده چې الله تعالی پوهیږي څه چې دوی پټوی اوڅه چې دوی ظاهروی

إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِينَ ﴿٢٣﴾

بیشکه هغه نه خوښوی غرور کوونکی

لنډتفسیر: نو (هرکله چې دالله ﷻ خالقوالی د ذکر سوو شیانو او په دی کی دده یوازي والی ثابت سو نو) آیا څوک چې پیداکول کوي (یعني الله ﷻ) هغه دهغه چاپه شان کیدای سی چې هیڅ نه سی پیداکولی (چې تاسي دواړه معبودان ګڼي نو په دی کی خو د الله ﷻ سپکوالی دی چې دی دبتانو سره برابروي) بیا آیا تاسی (دومره هم) نه پوهیږي او (الله ﷻ چې کوم لوړ دتوحید په دلیلونو کی خپل نعمتونه ښوولي دي هغه صرف دغومره نه دی هغه خو دومره ډیر دی چې) که تاسی دالله ﷻ (دا) نعمتونه شماروي نو (هیڅکله) به یی شمار نه کړی (مګر مشرکان شکر نه کوي او قدر یی هم نه کوي او دا جُرم دومره عظیم وو چې نه په معاف کولو سره معاف کیدای او نه په اصرار سره، مخکی دا نعمتونه ورکول کیده لیکن) واقعي الله ﷻ لوي مغفرت والا لوي رحمت والا دی (چې څوک دشرک څخه توبه وکړي اوکه ونه کړي نو بیا به ټول نعمتونه تر ژونده پوری نه قطع کیږي) او (البته دنعمتونو په رسیدو سره دي دا نه ګڼي چې هیڅکله به سزا نه وي بلکه په آخرت کی به سزا وي ، ځکه چې) الله ﷻ ته ستاسی ظاهري اوپټ حالات ټول معلوم دي (نو ددی موافق به سزا درکړي دا خو ددی خبري بیان وو چې الله ﷻ خالق اونعمت ورکوونکی دی) او دکومو چې داخلق دالله ﷻ څخه ماسوا عبادت کوي دغه خوهیڅ شی نه سی پیدا کولای ، او دوی په خپله مخلوق دي (او پورته قاعده کلیه ثابته سوې ده چې غیر خالق او خالق برابر نه دي نو دا معبودان څنګه دعبادت مستحق کیدای سی او) هغه (معبودان) مړه (بي روحه) دي (برابره خبره ده که همیشه وي لکه بتان یافی الحال لکه هغه خلق چې مړه سوی دي یا مړه کیږي وروسته لکه پیریان اوحضرت عیسی ﷺ وغیره) ژوندي (پاته کیدونکی) نه دي (نو خالقان به څنګه سی) او دوی (معبودانو) ته دومره (هم) خبر نسته چې (په قیامت کی) به مړي کله پورته کیږي (یعني ځینو ته خو علم هم نسته او ځینو ته یی تعین نه دی معلوم اومعبود لره خو علم

Maktaba Tul Ishaat.com

محیط په کار دی خاصکر دقیامت چی په دی کی به دعبادت کولو اونه کولو جزا او سزا وي ، نو ددی علم خو دمعبود دپاره ډیر مناسب دی ، نو دخدای برابر به په علم کی څنګه وي ددی تقریر څخه ثابته سوه چی) ستاسی معبود برحق یومعبود دی نو (دحق په دی واضح کیدوهم) کوم خلق چی په اخرت ایمان نه راوړي (او په دی وجه دوی نه بیریږي چی توحید قبول کړي معلومه سوه چی) د دوی زړونه (داسی ناقابله دي چی دمعقولی خبري څخه) انکار کوي او (معلومه سوه چی) د دوی دحق قبلولو څخه تکبر کوي (او) ضروري خبره ده چی الله ﷻ ته د دوی ټول حالونه پټ او ښکاره معلوم دي (او دا هم یقیني خبره ده چی الله ﷻ تکبر کوونکی نه خوښوي (نو هرکله چی د دوی تکبر معلوم دی نو دوی یی هم ناخوښه دي او سزا به ورکړی)

(معلومات او مسئلي)

په تیرو آیتونوکی دالله ﷻ دنعمتونو او دکائناتو دپیدائش دمفصل ذکر کولو څخه وروسته یی په دغه خبره خبرداری ورکړی دی دکومی دپاره چی یی ددی ټولو نعمتونو تفصیل بیان کړی دی اوهغه دي د الله ﷻ یووالی چی دده څخه ماسوا څوک د عبادت لائق نسته ، په دی وجه فرمایي چی هرکله دا ثابته سوه چی الله ﷻ یکي یوازي مځکه اوآسمانونه جوړکړل غرونه او دریابونه یی جوړکړل نباتات او حیوانات یی جوړ کړل درختی او ددی ګلونه او میوی یی جوړي کړي نو آیا دغه پاک ذات چی ددی ټولو شیانو خالق دی ددغو بتانو په شیان کیدای سی کوم چی هیڅ نه سی پیداکولای نو آیا تاسی دومره هم نه پوهیږي.

وَإِذَا قِيلَ لَهُم مَّاذَا أَنزَلَ رَبُّكُمْ قَالُوا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾ لِيَحْمِلُوا

او کله چی وویل سی دوی ته چی څه نازل کړل ستاسو رب نو وایی قصی دی دپخوانیو چی پورته کړی

أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمِنْ أَوْزَارِ الَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ أَلَا سَاءَ مَا

بار خپل پوره په ورځ دقیامت اوڅه بار دهغه کوم چی بی لاری کوی ، بی تحقیقه ، خبردار ناکاره بار دی

يَزِرُونَ ﴿٢٥﴾ قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُم مِّنَ

کوم چی دوی پورته کوی ، خامخادوکه کړی ده هغوچی مخکې د دوی څخه ووبیاورسیدی حکم دالله ددوی ابادوته

الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ وَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ

دبنیادونو بیا پریوتل په دوی باندی چتونه دلوړی څخه اوراغی په دوی باندی عذاب

مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُخْزِيهِمْ وَيَقُولُ

دکوم طرف څخه چی دوی خبر نه وو ، بیا دقیامت په ورځ به رسوا کړی دوی اووبه وایی

Maktaba Tul Ishaat.com

أَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِينَ كُنتُمْ تُشَآقُّونَ فِيهِمْ ۚ قَالَ الَّذِينَ أُوتُوا

کوم ځای دی زما شریکان په کومو چی تاسو ضد نیولی وو ؟ وبه وایی کوموته چی ورکړل سوی وو

الْعِلْمَ إِنَّ الْخِزْيَ الْيَوْمَ وَالسُّوٓءَ عَلَى الْكَٰفِرِينَ ﴿٢٧﴾ الَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ

خبر بیشکه رسوایی دنن ورځی اوبدی په منکرانو باندی ده دکومو چی روح وباسی

الْمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمْ ۖ فَأَلْقَوُا السَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِن

ملائکی اودوی بد کړی وی په خپل حق کی ، پس ظاهره به کړی فرمانبرداری چی مونږ نه ده کړی څه

سُوٓءٍ ۚ بَلَىٰٓ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾ فَادْخُلُوٓا أَبْوَٰبَ

بدی ، ولی نه ! الله ښه پوهه دی په هغو چی کوم تاسو کوی پس داخل سی دروازو ته

جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۖ فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٢٩﴾

د دوږخ اوسیږي همیشه په دی کی ، پس څه بد ځای دی دتکبر کوونکو .

تفسیر: اوکله چی دوی ته ویل سی (یعنی یو ناخبره سړی دتحقیق دپاره یا یوخبر سړی دامتحان دپاره د دوی څخه پوښتنه کوي) چی ستاسی رب څه شی نازل کړی دی (یعنی قرآن کوم ته چی رسول الله ﷺ د الله ﷻ نازل کړل سوی فرمایی آیا دا صحیح ده) نو وایی چی (صاحبه ! کله دالله ﷻ نازل کړل سوی دی) دغه خومحضی بي سنده خبري دي کومي چی دپخوانیو څخه (نقل) را رواني دي (یعنی دملتونوخلق د وړاندی څخه دتوحید اونبوت اومیعاد مدعیان راغلي دي دهغوڅخه دوی هم نقل رکي باقي دا دخدای ورکړی دعوی نه دی) ددی (وینا) به دا نتیجه وي چی دا خلق به دقیامت په ورځ د خپلو گناهونو پوره بار اوکوم خلک چی دی خلقو په بي عملي سره گمراه کړل د دوی د گناهونو هم څه بار به پر خپل سر پورته کوي (دگمراه کولو څخه مراد دا ویل دي چی : أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ، ځکه چی په دی سره دبل سړي عقیده خرابیږي اوکوم سړی چی څوک گمراه کوي ده ته به ددی گمراهي گناه وي او دی گمراه کونکی لره به دده د گمراهي سبب جوړیدی ، دی حصي دسبب جوړیدو ته یی څه بار وفرمایل او دخپلي گناه خو په کامل طور سره پورته کول ظاهر دی یعنی یو به یې د خپلي گناه بار وي او بل بار به ددغه گمراه د گمراه کولو په سبب پرواچول سی) خبردار کومه گناه چی دوی پر ځان بار کوي دغه ډیر بد بار دی (او دوی چی د گمراه کولو کوم دا تدبیر را ایستلی دی چی نورو ته داسی خبري کوي او غولوي یی نو دا به دحق په مقابله کی ونه چلیږي بلکه په خپله به پر دوی باندی ددی وبال او عذاب بیرته راځي هم دارنګه) کوم خلق چي د دوی څخه مخکی تیر سوی دي دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

(دپیغمبرانو په مقابله اومخالفت کی) لوي لوي تدبیرونه وکړل ، نو الله ﷻ د دوی (د تدبیرونو) آباد کړي کورونه دبیخ اوبنیاد څخه ونړول بیا دوی داسی ناکامه سول لکه چی ګویا سربیره پر دوی د دوی د کور چتونه را ولویدل (یعنی لکه څنګه چی په چت را ولیدو سره ټول لاندی تر ختم سی دغه ډول خلق ناکامه او زیانکاران سول) او (علاوه دناکامي څخه) پر دوی (دخدای) عذاب داسی راغی چی د دوی خیال هم نه وو (څکه چی توقع د دوی په دغه تدبیرکی د کامیابي وه دتوقع څخه خلاف پر دوی دناکامي څخه زیات عذاب راغی کوم چی د دوی په ذهنونو کی ګرسره راغلی هم نه وو پر تیرو کافرانو باندی دعذابونو راتلل معلوم او مشهور وو دا حالت خو د دوی په دنُیا کی سو) بیا دقیامت په ورځ (به د دوی دپاره دا وي چی) الله ﷻ به دوی رسوا کړي او (په دی کی به یوه رسوائي دا وي چی) دا به ورته ووائي چی (تاسی چی کوم) زماسره شریک (جوړ کړی وو) دکومو په باره کی چی تاسی (دپیغمبرانو اوایماندارو سره) جګړی کولی (هغوی اوس) کوم ځای دی (دا حالت چی ووینی نوحق پیژندونکی به ووایی چی نن پوره رسوائی اوعذاب په کافرانو باندی دی دکومو روح چی ملائکو په حالت دکفر باندی قبض کړی وو (یعنی تر آخر وخته پوری کافران پاته سوی وو شاید چی ددی اهل علمو خبره یې په مینځ کی ددی دپاره بیان کړی وي چی د کفارو د رسوایي عام والی او ښکاره والی معلوم سی) بیا به کافران خلق (دخپلو شریکانو جواب کې) دصلحی پیغام ورکړي (او وبه وایی چی شرک کوم چی د اعلی درجې ګناه او د الله ﷻ مخالفت دی زمونږ څه مجال وو چی مونږ داکړی وای) مونږ خو هیڅ بدکار (چی په هغه کی ادنی قدر مخالفت هم د حق تعالی وي) نه کوي (دی ته یی د صلحي مضمون څکه وویل چی په دُنیا کی به دوی دشرک کوم چی یقیني مخالفت دی په ډیر جوش او خروش سره اقرار کوي لکه دا قول د الله ، لَوْ شَاءَ اللّٰهُ مَا أَشْرَكْنَا ، او دشرک اقرار دمخالفت اقرار وو ، خاصکر د انبیاء علیهم السلام سره خو به په خپله د ښکاره مخالفت دعیودار وه هلته به دشرک د انکار څخه د مخالفت انکار وکړي په دی وجه یی دی ته صلح وفرمایله او دا انکار داسی دی لکه پ' بل آیت کی چی دی،وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ ، الله ﷻ به د دوی دا خبري رد وفرمایي چی) ولي نه (بلکه واقعي تاسی لوی مخالف کار کړی دی) بیشکه الله ﷻ ته ستاسی دټولو عملونو پوره خبر دی نو (ښه ده) دجهنم په دروازو (سره جهنم ته) داخل سی (او) په دی کی همیشه همیشه اوسي غرض دا چی د (حق څخه) دتکبر (اومخالفت اومقابله)کوونکو دپاره دغه ناکاره ځای دی (دا د آخرت دعذاب ذکر وسو نو خلاصه د آیت دا سوه چی دځان څخه د وړاندی کافرانو حال خساره او ددنیا او آخرت دعذاب حال تاسې واوریدی دغه شان چی کوم تدبیرونه او مکرونه دحق دین په مقابله کی تاسي کوئ او خلق ګمراه کوئ دغه انجام به ستاسی وي)

(معلومات او مسئلي)

په تیرو آیتونو کی دالله ﷻ دنعمتونو اوعالم په پیدا کولو کی دیووالی ذکر یی وکي، دمشرکانو دخپلي ګمراهئ بیان وو، په دی آیتونو کی دنورو د ګمراه کولو او ددی دعذاب بیان دی او ددی څخه مخکې یو سوال دقرآن متعلق دی اوددی سوال مخاطب دلته خومشرکان دي او د دوی جاهلان جواب دلته

Maktaba Tul Ishaat.com

ذکر کوي او دعذاب وعده پر بیانوي او پنځه آیتونه وروسته بیا دا سوال مومنانو متقیانو ته خطاب کوي فرمایي او د دوی جواب او پر دی د انعاماتو د وعدې ذکر دی .

قرآن کریم دا نه ده ښکاره کړی چې سوال کوونکی څوک وو؟ په دی وجه دمفسیرینو په دی کی مختلف قولونه دي چاکافران سوال کوونکی ګڼلي دي چامسلمانانان چایو سوال دمشرکانو اوبل دمومنانو ګڼلي دي لیکن قرآن کریم دا کار پاته کي او دی طرف ته یی اشاره کړی ده چې په دی بحث کی د ورتلو ضرورت ګرسره ضرورت سته نه ، چې سوال د چا دطرفه وو ، کتل جواب ته او ددی نتیجې ته دی کومه چې قرآن په خپله بیان کړی ده .

دمشرکانو دطرف څخه دجواب خلاصه دا ده چې دوی دا ونه منله چې یو کلام دالله ﷻ دطرف څخه نازل سوی هم دی بلکه قرآن یی دتیرو خلقو قصې وګرځولي ، قرآن کریم پردی باندی دعذاب وعده واوروله چې داظالمان قرآن ته قصې وایی او نور خلق هم ګمراه کوي ددی نتیجه به دوی څکې چې دقیامت په ورځ دخپلو ګناهونو پوره وبال خو پر دوی راتلونکی دی خو ددی سره کوم خلق چې دوی ګمراه کوي د هغوي به هم څه وبال پردوی راځي اوبیافرمایي دګناهونو کوم بارچې داخلق ځان ته ترې ناکاره بار دی .

وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا مَاذَا أَنْزَلَ رَبُّكُمْ ۚ قَالُوا خَيْرًا ۗ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا

او وویل پرهیزګارانو ته څه نازل کړل ستاسی رب ، وې ویل نیکه خبره چاچې نیکی وکړه

فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۚ وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ ۚ وَلَنِعْمَ دَارُ

په دی دنیاکی ده لره نیکی ده ، او دآخرت کور غوره دی ، او څه ښه کور دی

الْمُتَّقِينَ ﴿٣٠﴾ جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ

دپرهیزګارانو ، باغونه دی دهمیشه وسیدو کومو ته چې به دوی داخلیږي بهیږي دهغوی لاندی نهرونه

لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَاءُونَ ۚ كَذَٰلِكَ يَجْزِي اللَّهُ الْمُتَّقِينَ ﴿٣١﴾ الَّذِينَ

د دوی دپاره هلته دی څه چې غواړي ، داسی بدله ورکوی الله تعالی پرهیزګارانو ته ، دکومو

تَتَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ طَيِّبِينَ ۙ يَقُولُونَ سَلَامٌ عَلَيْكُمُ ادْخُلُوا

روح چې ملائکو قبض کوی او دوی پاک وی ، وایی ملائکی سلامتی ده په تاسی ، داخل سی

الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٣٢﴾ هَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا أَنْ تَأْتِيَهُمُ

جنت ته بدله ده دهغه چې تاسی کول ، ایا کافران ددې انتظار کوی چې راسی دوی ته

Maktaba Tul Ishaat.com

الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ اَمْرُ رَبِّكَ ۚ كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ

ملائکی اویاراسی حکم ستا درب ، دا رنګه کړی وو د دوی څخه مخکي خلقو

وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۳۳﴾

او الله تعالی ظلم نه دی کړی په دوی لیکن دوی په خپله د ځان سره بد کول

فَاَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ

پس پریوتی د دوی په سر د دوی بدکار او ګیر کړل دوی هغه چی دوی ورپوری

يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۴﴾

مسخری کولی.

تفسیر: اوکوم خلق چی دشرک څخه ځان ساتي دوی ته (چی دقرآن په باره کی (وویل سی چی ستاسی رب څه شي نازل کړی دی ، دوی وایي چی ډیر خیر (او برکت شی یی) نازل کړی دی ، کوموخلقوچی نیک کارونه کړي دي (چی دا ذکر سوی خبره او ټول نیک عملونه په کي راغلل) د دوی دپاره په دی دنیا کی هم نیکي ده (دغه نیکي دثواب وعده اوخوشخبري ده) اوعالم آخرت خو (په وجه ددی چی هلته به ددی وعدي حق کیدل اوښکاره کیدل وي) نور زیات غوره دی (اوموجب دخوشحالی دی) او واقعي چی دغه دشرک څخه دځان ساتونکو دپاره ښه کور دی دغه کور (څه دی) دهمیشه پاته کیدو باغونه دي چی دوی به ورته داخلیږي ددی باغونو (د درختو او آبادیو) لاندی به نهرونه جاري وي کوم شی چی د دوی زړه غواړي هلته به دوی ته ورکول کیږي (او خاص د دوی څه تخصیص دی د کومو خبره چی په دی مقام ذکر ده بلکه) دغه شان بدله به دالله دطرف څخه (دشرک څخه ځان ساتونکو ټولو ته ورکړل سی) د کومو روح چی ملائکو په داسی حالت کی قبض کړی وي چی دوی (دشرک څخه) پاک (صفا) وي (مطلب دا دی چی ترمرګه پوری پرتوحید باندی قائم وي او) دغه (ملائکي) به وایي السلام علیکم تاسی (د روح قبض کولو څخه وروسته) جنت ته داخل شئ دخپلو عملونه په سبب دا خلق (کوم چی پر خپل کفر او عناد او جهالت باندی اصرار کوي او سره د واضح کیدو د دلیلونو دحق ایمان نه راوړي نو معلومیږي چی دوی صرف) ددی خبري انتظار کوي چی دوی ته (دمرګ) ملائکي راسی یا ستا رب حکم (یعنی قیامت) راسی (یعنی ایا دمرګ په وخت کی یاپه قیامت کی به ایمان راوړي هرکله چی ایمان قبول نه وي ګویا دغه وخت به ټول کفار په وجه دحقیقت ښکاره کیدو توبي وباسي لکه چی د کفر پر اصرار باندی دا خلق کوي) داسی د دوی څخه مخکی چی کوم خلق وه هغوي هم (پر کفر اصرار) کړی وو او (د اصرار په وجه یې سزا پیداکړه نو) پر دوی الله ﷻ یوه ذره ظلم هم ونه کړ لیکن دوی په

Maktaba Tul Ishaat.com

خپله پر خپل ځان ظلم کوي (چې سره دپوهې یې د سزا کارونه کول) آخر د دوی دبدو عملونو دوی ته
سزا ورکول سوه او په کوم عذاب (په خبرپوری چې یې) دوی خنداکوله دوی دغه (عذاب) ګیرکړل
(نوداسې حال به ستاسې هم وي)

وَقَالَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا عَبَدْنَا

او وایی • مشرکان که رضا وی دالله تعالی نو مونږ به عبادت نه وای کړی

مِن دُونِهِ مِن شَيْءٍ نَّحْنُ وَلَا آبَاؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِن دُونِهِ

دهغه څخه ما سوا دڅه شي او نه زمونږ پلارانو او نه به وای حرام کړی مونږ بغیر دهغه دحکم څخه

مِن شَيْءٍ ۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ فَهَلْ عَلَى

څه شی ، دارنګه کړی وو د دوی څخه وړاندنیو خلقو پس درسولانو

الرُّسُلِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا

په ذمه نسته مګر رسول صفا صفا ، او مونږ راپورته کړی دی په هر یو امت کی رسول

أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ هَدَى

چی بندګی کوی دالله او ځان ساتی دشیطانانو څخه بیا چاته هدایت وکی د دوی څخه

اللَّهُ وَمِنْهُم مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلَالَةُ ۚ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ

الله او په چا ثابته سوه ګمراهی ، پس سفر وکړی په ملکونو کی

فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٦﴾ إِن تَحْرِصْ عَلَىٰ

بیا وګوری چی څنګه سو انجام د درواغجن ګوونکو ، که ته طمع کوی دوی ته

هُدَاهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَن يُضِلُّ ۖ وَمَا لَهُم مِّن

په لاره دراوستو نو الله تعالی لار نه ښیی هغه چاته چی ګمراه سی او هیڅوک به نه وی د دوی

نَّاصِرِينَ ﴿٣٧﴾ وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ ۙ لَا يَبْعَثُ اللَّهُ مَن

مدد ګاران ، او قسمونه خوری په الله سخت قسمونه چی پورته نه کړی الله څوک چی

Maktaba Tul Ishaat.com

يَمُوتُ بَلَىٰ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٨﴾

مړ سي ولې نه وعده سوې ده ددې پخه اوليکن اکثر خلق - نه پوهيږي ،

لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي يَخْتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا

پورته به يې کړي چې ښکاره سي دوی ته هغه خبره چې دوی په کی جګړه کوله ، او چې معلوم کړي کافران

أَنَّهُمْ كَانُوا كَاذِبِينَ ﴿٣٩﴾ إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْنَاهُ أَنْ نَقُولَ

چې دوی وو درواغجنان زمونږ وينا يوشي ته کله چې مونږ يې کول وغواړو داده چې ووايو

لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ﴿٤٠﴾

هغه ته چې سه نو هغه وسی .

تفسير: اومشرکان خلق داسی وايي چې که الله ﷻ ته (په طور د رضا دا کار) منظور وای (چې مونږ د غيره الله عبادت نه کولی کوم چې زمونږ دطريقي په اصولو کی دی اوځيني شيان مونږ نه وای حرام کړی کوم چې زمونږ دطريقي په فروعو کی دی مطلب دا چې که دالله ﷻ زمونږ دا موجوده اصول او فروع ناخوښه وای) نو دخدای څخه ماسوا به ديو شي نه مونږ عبادت کړی وای او نه زمونږ پلار او نيکه او نه به مونږ بغير دهغه (دحکم) څخه څه شی ته حرام ويلي وای (ددی څخه معلومه سوه چې زمونږ دا طريقه د الله ﷻ خوښه ده که چيري نو مونږ به يې ددی کولو ته نه وای پرې ايښی ای محمد ﷺ ته په دی مه غمژن کيږه ، ځکه چې داعبث جګړه څه نوی خبره نه ده بلکه) کوم (کافران) چې د دوی څخه وړاندی تيرسوی دي داسی حرکتونه دوی هم کړی وه (يعنی عبث جګړي يې دخپلو پيغمبرانو سره کړی وي) نو دپيغمبرانو (په دی سره څه خراب سوه او دوی چې د کومې لاری طرف ته بلنه کوي هغه ته څه نقصان ورسيدی د دوی) پر ذمه خو (د احکامو) صرف صفا صفا رسول دي (صفا صفا دا چې دعوی واضحه وي او صحيح دليل پردی قائم وي دغه شان ستا پر ذمه هم دا کار وو کوم چې ته کوي بيا که دعناد په وجه په دعوی او دليل کی غور نه کوي نو ستا يې په څه) او (لکه څنګه چې د دوی معامله ستاسره يعنی جګړه څه نوي خبره نه ده دغه شان ستا معامله ددوی سره يعنی دتوحيد او حق دين طرف ته بلل څه نوي خبره نه ده بلکه ددی تعليم هم د پخوا څخه را روان دی چنانچې) مونږ په هرامت کې (د تيرو امتونو څخه) څه ناڅه پيغمبران (ددی خبري دتعليم دپاره) ليږلی دی چې تاسی (خاص) دالله ﷻ عبادت کوي اودشيطان (دلاري) څخه (چې هغه شرک او کفر دی) ځان ساتی (په دی کی دشيانو هغه حراموالی هم راغی کوم چې مشرکانو په خپله رای سره کوي ځکه چې دغه دشرک او کفر شعبه وه) نو په دوی کی ځيني هغه سول کوموته چې الله ﷻ هدايت وکي (چې دوی حق قبول کي) او ځيني په دوی

Maktaba Tul Ishaat.com

کی هغه سول پر کومو چی د گمراهي ثبوت وسو.

(مطلب دا دی چی دکفارو او دپیغمبرانو په مینځ کی دا معامله دغه شان را روانه ده او دهدایت او
گمراهي متعلق د الله ﷻ معامله هم دهمیشه څخه دغه شان جاري ده چی د کفارو جگړه هم پخوانی او
تعلیم د پیغمبرانو علیهم السلام هم پخوانی او د تولو هدایت نه پیداکیدل هم پخوانی دی بیا ته غم
ولي کوي؟ تردی ځای پوری تسلي وفرمایله چی ددی په آخري مضمون کی ددی شبهي اجمالي جواب
هم وسو چی داسی خبري کول گمراهي ده چی د دوی د گمراه والي مخکی تائید او دجواب زیات
وضاحت دی یعنی که د پیغمبرانو سره د جگړي کولو گمراه والی تاته معلوم نه وي) نو (ښه) ده په
مځکه کی وگرځي بیا (نخښونه) وگوري چی د (پیغمبرانو د) دروغژن کوونکو څنگه (بد) انجام سو (نو
که چیري دغه گمراهي نه وای نو عذاب به ولي پر نازلیدی او اتفاقي واقعات ورته ځکه نه سی ویل
کیدای چی د عادت څخه خلاف سوی دی او دپیغمبرانو علیهم السلام دپیش گویي څخه وروسته
سوی دی او مومنان ورڅخه محفوظ پاته سوی دي نو ددغه په عذابوالی کی څه شک دی او چونکه
نبی کریم ﷺ ته دامت د یو فرد د گمراهي څخه هم زیاته صدمه رسیده، په دی وجه مخکی بیا د ﷺ ته
خطاب دی چی لکه څنگه چی تیر ځیني خلق سوی دي پر کومو چی گمراهي قائمه سوی وه دغه شان دا
خلق هم دي نو) د دوی پر سیده لاره باندی د راتلو که ستا خواهش وي نو (هیڅ نتیجه یې نسته ځکه
چی) الله ﷻ داسی سړي ته هدایت نه کوي څوک چی (دده دعناد په وجه سره) گمراه کوي (البته که دده
سړی عناد پریږدي نو هدایت ورته کوي لیکن دی دسره عناد نه پریږدي په دی وجه ده ته هدایت هم نه
سی کیدی) او (د گمراهي او عذاب په باره کی که دده دا گمان وي چی زمونږ معبود به په دی حالت
کی هم مونږ دعذاب څخه محفوظ کړي نو دی دي پوهه سی چی د خدای جل جلاله په مقابله کی) به
دده هیڅوک مدد گار نه وي (تردی ځای پوری د دوی د اولی شبهي دجواب تقریر وو وړاندی د دویمي
شبهي متعلق خبره ده) او دا خلق ډیر زور دار قسمونه په الله ﷻ خوري چی څوک مړ سی الله ﷻ به دی
دپاره ژوندی نه کړي (او قیامت به را نه سی وړاندی جواب دی) ولي به یې نه ژوندی کوي (یعنی
خامخا به یې ژوندی کړي) دا وعده الله ﷻ پر ځان لازمه کړی ده لیکن اکثر خلق (سره د قائمیدو د
صحیح دلیل په دی) ایمان نه راوړي (او دا دوباره ژوندی کول به ځکه وي) چی (ددین متعلق) په کوم
شی کی دا خلق (په دنیا کی) اختلاف کوي (او د انبیاء علیهم السلام په فیصله سره نه پر لاري کیږي) د
دوی مخامخ (ددی حقیقت په سترگو سره په لیدو) اظهار وکړي او چی (د حقیقت ددی اظهار په وخت
کی) کافران خلق (پوره) یقین وکړي چی واقعي دوی دروغژون وه (او پیغمبران او مومنان رښتیني دا
نو دقیامت راتلل یقیني او په عذاب سره فیصله کیدل ضروري دی دا جواب سو د: لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ، او
چونکه دغو خلقو دقیامت څخه ځکه انکار کوي چی دمرگ څخه وروسته ژوندی کیدل د دوی په خیال
کی دچا د وس خبره نه وه په دی وجه وړاندی د خپل کامل قدرت په ثابتولو سره د دوی دا شُبهه دفع
فرمائی چی زمونږ قدرت داسی لوي دی چی) مونږ (دکوم شی) پیداکول وغواړو (مونږ ته په دی کی
څه محنت او مشقت کول نه وي) بس دی نه زمونږ دومره وینا (کافي) وي چی ته (پیدا) سه بس هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

(موجود) سی (نو د دومره لوي کامل قدرت په وړاندې په بي روحه شيانو کي روح اچول څه ګرانه ده؟
لکه چي په اول واري په دوی کی روح اچولی دی اوس د دواړو شبهو پوره جواب وسوو ولله الحمد)

(معلومات او مسئلي)

ددغو کفارو اوله شبهه خو دا وه چي الله ﷻ ته که زمونږ کفر او شرک او ناجائز کار ناخوښه وای نو هغه مونږ په زور سره ولي نه منع کوي.

ددی شبهي بي هوده والی خو واضح وو په دی وجه ددی د جواب ورکولو پرځای صرف د نبی کريم ﷺ پرتسلی باندی بس والی وسوچي په داسی عبثوسوالونوباندی ته مه غمژن کيږه اودشبهيي دعبث والی وجه ظاهره ده چي الله ﷻ دعالمي دنيا نظام پردی بنياد قائم کړی دی چي انسان يې بالکل مجبور نه دی جوړکړی ، يوقسم اختيار يی ده ته هم ورکړی دی ، دغه اختيار که دی دالله ﷻ په فرمانبرداری کی استعمال کړي نو د ثواب او که په نافرمانۍ کی استعمال کړي نو دعذاب وعدي يی وفرمايلي ددی په نتيجه کی دقيامت اوحشر اونشر ټولي هنګامي دي که الله ﷻ غوښتلی چي ټول مجبورکړی اوخپله فرمان برداری په وکړي نو دچا به څه مجال وای چي د فرمانبرداري څخه وتلی وای مګر دحکمت په تقاضاسره مجبورکول صحيح نه وه په دی وجه يی انسان ته اختيارورکی نواوس د کافرانو دا وينا چي که د الله ﷻ زمونږ داطريقه خوښه نه وای نومونږ مجبوره کوي ولي نه يو احمقانه او دعنادسوال دی

(آيا په هندوستان پاکستان کي هم دالله ﷻ يو څوک رسول راغلي دی)

(وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا) ددی آيت څخه او دارنګه د بل آيت (وَإِنْ مِنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ) څخه ظاهراً دا معلوميږي چي د هندوستان او پاکستان په علاقوکی هم دالله ﷻ پيغمبر به خامخا راغلی وي برابره خبره ده که هغه ددی ځای اوسيدونکی وي يادبل ملک وي او دده مبلغ او نائب دلته را رسيدلی وي او د آيت (لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَا أَتَاهُمْ مِنْ نَذِيرٍ) څخه چي کومه دا معلوميږي چي نبی کريم ﷺ چي کوم امت ته ليږل سوی دی دوی ته د دوی څخه وړاندی بل رسول نه دی راغلی ددی جواب دا کيدای سی چي ددی څخه مراد په ظاهره دعربو هغه قوم دی کوم چي د دوی دنبوت او رسالت د ټولو څخه اولنی مخاطب سول چي په دوی کی دحضرت اسماعيل ﷺ څخه وروسته هيڅ يو رسول نه وو راغلی په دی وجه ددی خلقو لقب په قرآن کريم کي :أُمِّيِّينَ، اينبوول سوی دی ، ددی څخه دا نه لازميږي چي په باقي دنيا کی هم دده ﷺ څخه مخکی هم څوک رسول نه دي راغلی. والله اعلم

وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مَا

او چاچی کور پريښودی دالله ﷻ دپاره پس دهغه

ظُلِمُوا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ

چی ظلم پر وسو خامخابه مونږورکړو دوی ته ځای په دنيا کی ښه اوثواب دآخرت خو ډير لوی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤١﴾ الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٤٢﴾

که دوی پوهیدی کوم خلق چی ثابت قدم پاته سول او په رب خپل یی توکل وکی

تفسیر: اوکوموخلګو چی دالله ﷻ دپاره خپل وطن (مکه) پریښوده (اوحبشی ته ولاړل) وروسته ترهغه چی پردوی باندی (دکفارو دطرف څخه) ظلم وکړل سو (څکه چی په داسی مجبوري کی وطن پریښودل ډیر سخت وي) مونږ به دوی ته په دنیا کی خامخا غوره ځای ورکړو (یعنی دوی به مدیني ته ورسوو ښه امن او راحت به ورکړو چنانچی څه موده وروسته الله ﷻ مدیني ته ورسول او دغه یې ورلره اصل وطن مقرر کي په دی وجه یې دی ته ټیکانه وویل او هلته یې هر قسم ترقي وسوه په دی وجه یی ورته حسنه وویل او په حبشه کی یی پاته کیدل عارضي وو په دی وجه یی هغې ته ټیکانه ونه ویله) او دآخرت ثواب (ددی څخه) په ډیرو درجو لوي دی (چی خیر هم دی اوباقي پاته کیدونکی هم دی) کاشکي (ددی آخرت د اجر) دوی (بي خبره کافرانو) ته (هم) خبر وای (او ددی دحاصلولو په مینه سره مسلمانیدی) دغه (مهاجرین ددی وعدو څکه مستحق دي چی دغه) داسی دي کوم چی (پر سختو واقعاتو) صبرکوي (چنانچی دوطن پریښودل ګویا دوی ته سخت دی مګر بغیر ددی څخه یې په دین عمل نه سو کولای ددین دپاره یی وطن پریښووی او صبر یی وکي) او (دوی په هر حال کی) پرخپل رب توکل لري (دوطن پریښودو په وخت کی دا خیال نه کوي چی خوري او څیښي به یی د کوم ځای څخه)

(معلومات او مسئلي: تشریح او تفسیر)

الَّذِيْنَ هَاجَرُوْا: دهجرت څخه مشتق دی دهجرت لغوي معنی وطن پریښول دي ، دالله ﷻ دپاره چی کوم وطن پریښول سی دغه په اسلام کی لوي طاعت او عبادت دی نبی کریم ﷺ فرمایي (اَلْهِجْرَةُ تَهْدِمُ مَاكَانَ قَبْلَهَا) هجرت هغه ټول ګناهونه ختم کوي چی بنده دهجرت څخه مخکی کړي وي دا هجرت په څینو صورتونو کی فرض او واجب او په څینو صورتونو کی مستحب او غوره وي ، ددی په تفصیل سره حکمونه خو دسورة نسآء تر آیت ۹۷ (اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوْا فِيْهَا) لاندی تیر سوی دی دلته صرف دهغو وعدو بیان دی کومي چی الله ﷻ دمهاجرینو سره کړی دی۔

(آیا هجرت په دنیا کي هم د ژوند د فراخي سبب جوړیږي)

په ذکر سوو آیتونو کی یی دڅو شرطونو سره دهجرت کوونکو دپاره دوه عظمي الشانه وعدی کړي دي، اوله خوپه دنیا کی دغوره ځای ورکولو دویمه په آخرت کی دبي حسابه لوي ثواب په دنیا کی غوره ځای دا یو نهایت جامع لفظ دی په دی کی دا هم داخل دی چی هجرت کوونکي ته د اوسیدو دپاره کور او ښه همسایګان ورکول کیږي دا هم په کښي دا خله ده چی ده ته رزق ښه ورکول کیږي پر دښمنانو یی فتح او غلبه نصیب سی د عامو خلقو په ژبه دده صفت او ښه والی وي عزت او شرافت ورته حاصل سی کوم چی دده تر خاندان او اولاده پوري چلیږي (قرطبي)

د آیت شان نزول اصالةً هغه اولنی هجرت دی کوم چی اصحابو کرامو رضي الله عنهم دحبشی طرف ته وکي او دا هم احتمال دی چی دحبشی هجرت او ددی څخه وروسته دمدیني منوري هجرت دواړه په دی کی دا

Maktaba Tul Ishaat.com

په آیت کې ددغه مهاجرینو دحبشي یامهاجرینو دمدیني منوري ذکر دی په دی وجه ځینی
خل وي په آیت کې ددغه مهاجرینو دحبشي یامهاجرینو دمدیني منوري ذکر دی په دی وجه ځینی عالمان فرمايي چې دا وعده ددغو حضراتو اصحابو ﷺ دپاره وه کومو چې دحبشي طرف ته یا بیا دمدیني منوري طرف ته هجرت کړی وو او د الله ﷻ دا وعده په دنیا کې پوره سوه کومه چې تولو ولیده چې الله ﷻ مدینه منوره د دوی دپاره څومره ښه ټیکانه جوړه کړه د ازار رسوونکو همسایګانو پرځای ورته غمخوار همدرد او جان نثاره همسایګان ورکول سول او په دښمنانو ورته فتح اوغلبه نصیب سوه د هجرت څخه دلږ زمانه تیردو څخه وروسته پر دوی د رزق دروازي خلاصي سوی فقیران او مسکینان مالدار سول ددنیا ملکونه فتح سول د دوی دښو اخلاقو اوعمل کارنامي تر قیامته پوري دهر موافق او مخالف په ژبه باندی دي دوی ته او د دوی نسلونو ته الله ﷻ لوي عزت او شرافت ورکي دا خو په دنیا کې کیدونکي شیان وه کوم چې وسوه او د آخرت وعده پوره کیدل هم یقیني دی لیکن په تفسیر بحر میحط کې ابو حیان رحمه الله وایي.

وَالَّذِينَ هَاجَرُوا: وَالَّذِينَ هَاجَرُوا عَامٌ فِي الْمُهَاجِرِينَ كَائِنًا مَا كَانُوا فَيَشْمَلُ اَوَّلَهُمْ وَآخِرَهُم . ص ۴۹۲ ، ج ۵ .
لفظ دټولو مهاجرینو ددنیادپاره عام اوشامل دی دهري مخکي اوزماني مهاجرین چې وي په دی وجه دا لفظ اولنیو مهاجرینو لره هم شامل دی او تر قیامته پوری دالله ﷻ دپاره هر یو هجرت کوونکی په دی کی دا خل دی.

دعامی تفسیر ضابطیي تقاضا هم دا ده چې د آیت شان نزول که څه هم څه خاص واقعه اوخاص جماعت وي مگر اعتبار دلفظ عام والی لره وي په دی وجه په دی وعده کی دټولی دُنیا اودهري زماني مهاجرین هم شامل دي او دا دواړه وعدي د ټولو مهاجرینو دپاره پوره کیدل یقیني خبره ده.

دغه شان یوه وعده دمهاجرینو دپاره دسورة نسآء په دی آیت کی سوی ده ﴿وَمَنْ يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً﴾ چې په دی کی د فراخي دکور او دفراخي د ژوند په خاص طور سره وعده ده ، مگر قرآن کریم ددی وعدو سره د مهاجرینو څه صفتونه او دهجرت خاص طور سره وعده ده مگر قرآن کریم ددی وعدو سره د مهاجرینو څه صفتونه او د هجرت څه شرطونه هم بیان کړي دي ، په دی وجه ددی وعدو مستحق هغه مهاجرین کیدای سی په کومو کی چې دا صفتونه وي او کومو چې مطلوبه شرطونه پوره کړي وي په دی کی دټولو څخه اولنی شرط خو د : فی الله، دی یعنی چې دهجرت کولو مقصد دالله ﷻ راضي کول وي په دی کی ددنیا فائدي تجارت ملازمت وغیره او ځاني فائدي دنظر په وړاندی نه وي او دویم شرط ددی هجرت کوونکو مظلوموالی دی : مِنْ بَعْدِمَاظُلِمُوا، دریم وصف په ابتدائي تکلیفونو او مصیبتونو صبر کول او ثابت قدم پاته کیدل دي ، اَلَّذِینَ صَبَرُوا، څلورم وصف د ټولو مادي تدبیرونو د اهتمام کولو سره سره هم باور صرف پر الله ﷻ درلودل دي چې فتح او نصرت او هره کامیابي صرف دهغه په لاس کی ده . وعلى ربهم يتوكلون.

ددی څخه معلومه سوه چې ابتدائي تکالیف اومشکلات خو په هر کار کی وي په دی کی د پوری وتو څخه وروسته هم که یو هجرت کوونکي ته ښه ټیکانه او ښه حالات حاصل نه سی نو د قرآن په وعده کی دشک کولو پرځای دي دخپل نیت او اخلاص او دهغه ښه عمل معاینه واخلي پر کوم چې دا

Maktaba Tul Ishaat.com

وعدي سوی دي نو ده ته به معلومه سی چی قصور دده خپل دي کله به په نیت کی خرابي وي او کله به په صبر او تکل کی کمي وي .

(دوطن پریښودو او هجرت مختلف قسمونه او ددی حکمونه)

امام قرطبي رحمه الله دلته دهجرت اووطن پریښودو په قسمونو او ددی پرڅه احکامو یو مفید مضمون لیکلی دی د فائدې پوره کولو دپاره دا نقل کوم.

قرطبي رحمه الله په حواله د ابن عربي رحمه الله لیکلی دی چی د وطن څخه وتل او سفر کول په مخکی کله خو دیو شی څخه د تښتیدو او ځان ساتلو دپاره وي او کله د یو شی دحاصلولو اولټون دپاره وي اول قسم سفر کوم چی دڅه شی څخه دتښتیدو یا ځان ساتلو دپاره وي دی ته هجرت وایی او ددی شپږ ۶ قسمونه دي .

اول یعنی د دار الکفر ددار اسلام طرف ته تلل ، دا قسم سفر درسالت په زمانه کی هم فرض وو اوترقیامته پوری په شرط دطاقت اوقدرت فرض دی (هرکله چی په دارالکفرکی دخپل ځان او مال او عزت امن نه وي یا ددیني فرضو ادا کول ممکن نه وي ، ددی باوجود که په دار الحرب کی پاته کیږي نو ګناهګار به وي .

دویم د دارالبدعت څخه وتل ، ابن قاسم رحمه الله وایی چی ما د امام مالک رحمه الله څخه اوریدلي دي چی د یومسلمان دپاره په داسی مقام کی اوسیدل حلال نه دي په کوم کی چی سلف صالحینو ته بدي ردي او ښکنځل کول کیږي ابن عربي رحمه الله ددی قول نقل کولو څخه وروسته لیکي چی دا بالکل صحیح ده ځکه چی که تاسی یو بدر کار منع کولی نه شئ نو په تاسی لازمه ده چی په خپله د هغه ځای څخه لیري سی لکه چی دالله ﷻ ارشاد دی (وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ)

دریم سفر هغه دی پر کوم ځای چی د حرامو غلبه وي د هغه ځای څخه وتل، ځکه چی دحلالو طلب په هر یو مسلمان باندی فرض دی .

څلورم دجسماني ازار رسیدو څخه د محفوظ کیدو دپاره سفر، دا سفر جائز او دالله ﷻ دطرف څخه انعام دی چی انسان کوم ځای د دښمنانو څخه د بدني اذیت (تکلیف) د رسیدلو بیره محسوسه کړي نو د هغه ځای څخه ووزي چی د دیري خطري څخه محفوظ وي دا څلورم قسم سفر دټولو څخه اول حضرت ابراهیم علیه السلام وکي ، هرکله چی دقوم دتکلیفونو ورکولو څخه دخلاصون حاصلولو دپاره دعراق څخه د شام دملک طرف ته روان سو او وي فرمایل، اِنِّیْ مُهَاجِرٌ اِلٰی رَبِّیْ، ددی څخه وروسته حضرت موسی علیه السلام داسی یو سفر دمصر څخه دمدین طرف ته وکي . فَخَرَجَ مِنْهَا خَائِفًا يَتَرَقَّبُ .

پنځم سفر د آب او هوا د خرابي او د مرضونو د خطري څخه د محفوظ کیدو دپاره دی ، اسلامی شریعت ددی هم اجازه کړی ده لکه چی نبی کریم ﷺ څو حیوانانو څرونکو ته دمدیني څخه دباندی په بیابان کی د اوسیدو ارشاد وفرمایي ځکه چی دښار آب او هوا د دوی سره موافقه نه وه دغه شان حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه ابو عبیده رضی الله عنه ته حکم ولیږی چی دارالخلافة د اردن څخه بدله کړي یو لوړ ځای ته ولاړسی دکوم ځای چی آب اوهوا خرابه نه وي ، لیکن دا په هغه وخت کی ده کله چی په

Maktaba Tul Ishaat.com

یومقام باندی طاعون یا وبائي مرضونه خپاره سوی نه وي او کوم ځای چې وبا خپره سی دهغه ځای دپاره دا حکم دی چې کوم خلق دلته د وراندی څخه موجود وي هغوی دي ددغه ځای څخه نه تښتي اوکوم چې دباندی دي هغه دی ورته دننه نه راځي لکه چې حضرت فاروق اعظم ﷺ ته دشام دسفر په وخت کی را پیښنه سوه ، چې دشام سرحدته ورسیدی نو معلومه سوه چې په شام کی د طاعون وبا خپره سوی ده نو ده ﷺ ته دغه ملک ته په داخلیدو کی تردد(شک) پیښ سو د اصحابو کرامو ﷺ سره د پرله پسي مشورو کولو څخه وروسته په آخر کی کله چې حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ ده ﷺ ته دا حدیث واوروی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي ، اِذَا وَقَعَ بِاَرْضٍ وَاَنْتُمْ بِهَا: فَلَا تَخْرُجُوْا مِنْهَا وَاِذَا وَقَعَ بِاَرْضٍ وَلَسْتُمْ بِهَا فَلَا تَهْبِطُوْا عَلَيْهَا (رواه الترمذي وقال حديث حسن صحيح) هرکله چې په یوملک کی طاعون خپورسی اوتاسی هلته موجود یاست نو اوس دهغه ځای څخه مه وزئ اوکله چې تاسی دمخکی څخه هلته موجود نه یاست اوهلته دطاعون دخپریدو خبر واورئ نومه ورته داخلیږئ.

دغه وخت حضرت فاروق اعظم ﷺ دحدیث په حکم دعمل کولودپاره تولی قافلي ته دبیرته تلواعلان وکي.

ځینی عالمان فرمایي چې دحدیث شریف په دی حکم کی یوخاص حکمت دا هم دی چې کوم خلق هلته اوسیږي اوکوم ځای چې وبا خپره سوی ده ، ددی ځای په خلقو کی غالب گمان دا دی چې دوبا چراثیم به په کی موجود وي ، دوی که ددی ځای څخه وتښتي نو په چا کی چې دی جراثیمو چلن کړی دی ، دغه خو محفوظ کیدای نه سی اوکوم ځای ته چې دوی ولاړ سی دهغه ځای پرخلقو به اثر وکي په دی وجه یې دا حکیمانه فیصله وکړه ،

شپږم سفر دخپل مال دحفاظت دپاره دی، هرکله چې یوسړی په یومقام کی دغلو ډاکوگانو بیره محسوس کړي نو دهغه ځای څخه دی بدل سی اسلامي شریعت ددی هم اجازه ورکړی ده ځکه چې دمسلمان دمال هم دغسي احترام دی څنگه چې دده دبدن دی.

دا شپږ قسمونه خو دهغه وطن پرېښودو دی کوم چې دیو شي څخه دمحفوظ کیدو اوتښتیدو دپاره کړی وي اوکوم سفر چې دیو شي دطلب اولټون دپاره کول کیږي دهغه نه ۹ قسمونه دي.

۱، دعرت دپاره سفر، یعنی ددنیا سیل اوسفر ددی کار دپاره کول چې دالله ﷻ مخلوقات اوکامل قدرت اوتیر قومونه ووینی اوعبرت ورځخه حاصل کي قرآن کریم دداسی سفر ترغیب ورکړی دی (اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ) دحضرت ذی القرنین سفرهم عالمانو دداسی قسم سفر څخه مقرر کړی دی او ځینی فرمایي چې دده سفر په مځکه کی دالله ﷻ د قانون نافذکولودپاره وو.

۲، دحج سفر، ددی هم دخو شرطونو سره اسلامي فرض ؤالی تولو ته معلوم دی.

۳، د جهاد سفر، ددی فرض یا واجب یا مستحب والی هم تولو مسلمانانو ته معلوم دی.

۴، د معاش دپاره سفر، هرکله چې یو سړی ته په خپل وطن کی دضرورت مطابق معاشی سامان نه حاصلیږي نو پرده لازمه ده چې ددی ځای څخه سفر وکړي او بل ځای ته د روزگار تلاش وکړي.

۵، دتجارت سفر، یعنی د ضرورت څخه د زیات مال حاصلولو دپاره سفر کول دا هم په شریعت کی

جائز دی دحق جل جلاله ارشاد دی ﴿لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ﴾ دابتغآء فضل، څخه مراد په دی آیت کی تجارت دی الله ﷻ دحج په سفر کی هم د تجارت اجازه ورکړی ده نو دتجارت دپاره سفر کول خو په طریقه اولی سره جائز دی.

۶، د علم د طلب دپاره سفر، ددی پرقدر دضرورت دین فرض عین کیدل او زیات دضرورت څخه فرض کفایه کیدل معلوم دی.

۷، یو مقام مقدس او مبارک ګڼل او سفر ورته کول، دا بغیر د درو مسجدونو څخه جائز نه دی مسجد حرام (بیت الله شریف مکه مکرمهٔ) مسجد نبوی (مدینه طیبه) مسجد اقصی (بیت المقدس) دا دقرطبي رحمه الله او ابن عربي رحمه الله رایه ده، نورو مشرانو علماؤ پخوانیو او وروستنیو دعامو مبارکو ځایونو طرف ته سفر کول هم جائز مقرر کړی دی، محمد شفیع رحمه الله.

۸، د اسلامي سرحدونو دحفاظت دپاره سفر: کوم ته چی رباط ویل کیږي، په ډیرو احادیثو کی ددې لوی فضیلت ذکر دی.

۹: دخپلوانو او دوستانو دملاقات دپاره سفر: (په حدیث کی یی دا هم دثواب باعث مقرر کړی دی لکه چی دصحیح مسلم په حدیث کی دخپلوانو او دوستانو دملاقات دپاره دسفر کوونکو دپاره دملائکو دعا ذکر کړی ده (دا هلته دی چی د دوی په ملاقات سره یی د الله ﷻ رضا مقصود وي څه دنیاوي غرض په کښی نه وي) والله اعلم (قرطبي ص ۳۴۹ تا ص ۳۵۱ ج ۵ سورة نساء)

وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُوحِي إِلَيْهِمْ فَسْأَلُوا أَهْلَ

او ستا څخه وړاندی هم مونږ دغه سړی لیږلی وو چی حکم لیږی مونږ دوی ته پس پوښتنه وکړی

الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٤٣﴾ بِالْبَيِّنَاتِ وَالزُّبُرِ ۗ وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ

دیاد ساتونکو څخه که تاسی ته معلومه نه وی ، نخښی مو ورکړی وی او پاڼی ، او نازل کړی دی مونږ تاته

الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٤﴾

دایا دانښت چی ښکاره کړی ته خلقو ته هغه شی چی نازل سوی دی د دوی دپاره چی دوی ښایي غور وکړی

لنډتفسیر: او (دامنکران خلق کوم چی ستا د رسالت او نبوت څخه پردی باندی انکار کوي چی ته بشر او انسان یی او نبي او رسول د دوی په نزدځوک انسان اوبشر نه دی په کار دا د دوی جاهلانه خیال دی ځکه چی)مونږ ستا څخه وړاندی هم صرف انسانان رسولان جوړکړي او معجزي اوکتابونه مو ورکړي لیږلی دي چی پر دوی به مو وحی لیږله (نوای د مکي منکرانو) که تاسی ته علم نه وي نو دنورو اهل علمو په خیال کی هم دمسلمانانو چی دتیرو پیغمبرانو دحالاتو علم وي اودغه خلق ستاسی په خیال کی هم د مسلمانانو طرف داري نه کوي اودغه ډول مونږ ته هم (رسول جوړکړي) په تا مو هم دا قرآن

نازل کړی دی ددی دپاره چې کوم هدایتونه (ستا په واسطه سره) خلقو ته لیږل سوی دی هغه هدایتونه ته دوی ته واضح کړی او دوی په پوهه کړي او ددی دپاره چې دوی په دی کې غور او فکر وکړي.

(معلومات اومسئلې)

په ورح المعاني کې دی چې ددی آیت دنازلیدوڅخه وروسته دمکي مشرکانوخپل قاصدمديني طيبي ته دیهودو څنګ ته دحال معلومولو دپاره ولیږي چې آیا داخبره واقعي ده چې وړاندی هم تول پیغمبران د بشراوانسان دجنس څخه راغلی دی، که څه هم په لفظ داهل الذکرکې اهل کتاب اومومنان تول داخل دي مګردابنکاره خبره ده چې دمشرکانواطمینان دغیرمسلمو دبیان څخه کیدای سی څکه چې دوی په خپله دنبی کریم ﷺ په خبره مطمئن نه وه نو دنورو مسلمانانو خبره به بي څنګه منلی وای.

داهل الذکر، لفظ دڅو معانیو دپاره استعمالیږي په دی کې یوه معنی دعلم هم ده په دی مناسبت سره یی په قرآن کریم کې تورات ته هم ذکر فرمایلي دي (وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ) اودقرآن کریم څخه یی هم دذکرپه لفظ سره تعبیر فرمایلي دي لکه چې ددی څخه وروسته په راتلونکو آیت کې د (وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ) څخه مراد قرآن دی ، په دی وجه داهل الذکر لفظی معنی اهل علم سوه اودلته د اهل علم څخه کوم خلق مراد دی په دی کې ظاهره خبره دا ده چې د اهل کتابو عالمان یهود اونصارا مراد دی داقول دابن عباس ؓ حسن السدی وغیره دی اوځینی حضراتودلته هم دذکرڅخه قرآن مراد اخیستی دی او داهل الذکرتفسیر یی په اهل قرآن سره کړی دی په دی کې زیاته واضحه خبره درماني زجاج ازهري ده هغوي وایی (اَلْمُرَادُ بِاَهْلِ الذِّكْرِ عُلَمَاءُ اَخْبَارِ الْاُمَمِ السَّالِفَةِ كَائِنًا مَنْ كَانَ فَالذِّكْرُ بِمَعْنَى الْحِفْظِ كَاَنَّهُ قِيْلَ اسْأَلُوا الْمُطَّلِعِيْنَ عَلٰى اَخْبَارِ الْاُمَمِ يُعْلِمُوْكُمْ بِذٰلِكَ) ددی تحقیق پربناباندی په دی کې اهل کتاب هم داخل دي او اهل قرآن هم په کې داخل دي.

د، بَیِّنَاتُ ،معنی معروف (معلوم) ده او مراد ددی څخه دلته معجزي دي، زُبُرْ ، په اصل کې د ،زبرة جمع ده کوم چې د اوسپني غتو تو ټو ته ویل کیږي (اٰتُوْنِیْ زُبَرَ الْحَدِیْدِ) دټوټو یوځای کولوپه مناسبت سره لیکلو ته زبر ویل کیږي ، اولیکلی کتاب ته زبر او زبور وایی دلته مراد ددی څخه دالله ﷻ کتاب دی چې په دی کې تورات انجیل زبُور او قرآن تول دا خل دي.

(دمجتهدینو امامانوتقلیدپرغیر مجتهدینو واجب دی)

دذکرسوی آیت داجمله ، فَاسْأَلُوا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ :دلته که څه هم دیوخاص مضمون په باره کې راغلی ده ، مګرالفاظ یی عام دي کوم چې تولومعاملو ته شامل دی ، په دی وجه دقرآني اسلوب په اعتبار سره په حقیقت کې دا مهمه ضابطه ده کومه چې عقلي هم ده اونقلي هم ، کوم خلق چې احکام نه پیژني دوی دي دپوهانوڅخه پوښتنه کوي اوعمل دی کوي او په ناپوهانو فرض دي چې دپوهانوپه ښودنه عمل کوي، ددی نوم تقلید دی ، دا دقرآن واضح حکم هم دی اوعقلاًهم ددی څخه ماسوا دعمل عام کولوهیڅ صورت نه سی کیدای ، په امت کې داصحابو ؓ دزماني څخه واخله ترننه پوري بی د اختلاف څخه په دی ضابطه عمل را روان دی کیږي ، څوک چې دتقلید څخه مُنکر دی

Maktaba Tul Ishaat.com

هغوی هم ددی تقلید انکارنه کوي چی کوم خلق عالمان نه دي دوی دي دعالمانوڅخه فتوی اخلي عمل دي پرکوي ، او دا ښکاره خبره ده چی ناپوهه عوامو ته که علماء قرآن کریم اوحدیثو دلیلونه وښیي هم خو دوی دغه دلیلونه هم ددی عالمانو په اعتماد باندي قبلوي په دوی کی په خپله ددلیلونو دپوهیدو اوکره کولو صلاحیت خو سته نه اوتقلید ددی نوم دی چی ناپوهه دپوهو په اعتماد باندی یوحکم دشریعت حکم مقرر کړی اوعمل په کوي ، داتقلیدهغه دی دکوم په جواز بلکه وجوب کی چی دځه داختلاف ګنجائش نسته ، البته هغه علماء کوم چی په خپله په قرآن اوحدیث اواجماع په موقعو دپوهیدو صلاحیت لری دوی ته په داسی احکاموکی کوم چی په قرآن اوحدیث کی واضحه اوښکاره طور سره ذکر دی اوپه علماؤ اوداصحابو ﷢ او تابعینو ﷭ په مینځ کی په دی مسئلو کی ځه اختلاف هم نه وی په دی احکامو کی دغه عالمان سیده په سیده په قرآن اوحدیث او اجماع عمل کوي، په دی کی علماؤ ته دیومجتهد د تقلید ضرورت نسته لیکن هغه احکام اومسئلی کومې چی په قرآن او سنت کی واضح ذکرنه دي یاپه کوموکی چی دقرآن په آیتونو اوحدیثونو په روایتونو کی په ظاهره ځه تعارض په نظر راځي یاپه کومو کی چی داصحابو ﷢ اوتابعینو ﷭ په مینځ کی دقرآن اوسنت دمعنی په متعین کولوکی ځه اختلاف پیښ سوی دی دغه مسئلی اواحکام محل داجتهاد وي دي ته په اصطلاح کی مجتهدفیه مسئلي ویل کیږي د دوی حکم دا دی چی کوم عالم ته د اجتهاد درجه حاصله نه وي ده ته هم په دی مسئلوکی دیوامام مجتهد تقلید ضروري دی محض دخپلي ذاتي رای په اعتماد سره یو آیت یا روایت ته ترجیح ورکول او اختیارول او بل آیت یا روایت پریښودل دده دپاره جائز نه دی.

دغه شان چی کوم احکام په قرآن کریم اوسنت کی په وضاحت سره ذکر نه وي دا دقرآن اوسنت دبیان کړو اصولو څخه را ایستل او د هغه شرعي حکم متعین کول دا هم ددغو مجتهدانو د امت کار دی کوموته چی دعربي ژبي عربي لغت او محاورو او داستعمال دطریقو دارنګه دقرآن اوسنت سره دمتعلقه ټولو علمونو معیاری علم اوپر هیزګاری اوتقوا لوړمقام حاصل وي ، لکه امام اعظم ابوحنیفه ﷫ شافعي ﷫ مالک ﷫ احمدبن حنبل ﷫ یا او زاعي فقیه ابو اللیث ﷫ وغیره په کومو کی چی الله ﷻ دنبوت زماني ته دنږدي والي اوداصحابو ﷢ اوتابعینو ﷭ دصحبت په برکت سره دشریعت د اصولو او مقصدونو پیژندو خاص ذوق او په منصوصو احکامو دغیرو منصوصو قیاس کولو اوحکم را ایستلو خاصه سلیقه ورکړی وه ، په داسی مجتهدفیه مسئلوکی عامو عالمانوته هم په مجتهدینو امامانوکی دیوچاتقلید لازم دی دمجتهدینو امامانو څخه خلاف ځه نوي لار اختیارول خطاء ده .

دغه وجه ده چی د امت مشرانو عالمانومحدثینو فقهاؤ امام غزالي ﷫، رازي ﷫ ترمذي ﷫، طحاوي ﷫ ، مزني ﷫، ابن همام ﷫ ، ابن قدامه ﷫ او ددی معیار په لکونو مخکنیو او وروستنو عالمانو سره ددی چی دعربي علمونو اوشریعت دعلمونو اعلی مهارت ورته حاصل وه، په داسی اجتهادي مسئلو کی همیشه دمجتهدینو دتقلید پابند پاته سوی دی ټولو دمجتهدینو خلاف په

خپله رايه سره څه فتوی ورکول جائز نه دي ګڼلي.
البته دي حضراتو دعلم اوتقوی هغه معياري درجه حاصله وه چې دمجتهدينو اقوال او رايه به يې دقرآن اوسنت په دليلونو سره معاينه کوله او کره کوله، بيا په مجتهدينو امامانو کې چې به دکوم امام قول دوی دکتاب اوسنت سره ډير نژدې وګڼي هغه به يې اختياروئ مګر دمجتهدينو امامانو دمسلک څخه وتل او د دوی ټولوخلاف يورايه قائمول يې هيڅکله جائزنه ګڼل ، دتقليداصل حقيقت دومره دی.
ددې څخه وروسته ورځ په ورځ دعلم معيار کميدی او دتقوی او دخدا ترسې پرځای نفساني غرضونه غالب کيدل شروع سول په داسې حالاتو کې که دا ازادي ورکړل سي چې په کومه مسئله کې غواړي د يو امام قول دې اختياروي او په کومه کې چې غواړي دبل امام قول دې اخلي ، نو ددې لازمي اثر به دا سوی وای چې خلقو به د شريعت دتابعداري نوم اخيستی اودخواهشاتو په تابعداري کې به اخته کيدل چې دکوم امام په قول کې به يې نفساني خواهش پوره کيدای هغه به يې اختيارول او دا ظاهره ده چې داسې کول به دڅه دين اوشريعت تابعداري نه وه بلکه دخپل غرض اوخواهش تابعداري به وه کومه چې په اجماع د امت سره حرامه ده علامه شاطبي رحمه الله په مواقات کې پردې ډيره په تفصيل سره خبره کړې ده او ابن تيميه رحمه الله هم دعام تقليد دمخالفت باوجود دغه ډول تابعداري په خپله فتاوی کې په اجماع د امت حرامه کړې ده په دې وجه وروستنيو فقهاؤ دا ضروری وګڼله چې عمل کوونکو ته ديومجتهد امام دتقليدپابندکول په کار دي ، ددې ځای څخه دشخصي تقليد شروع وسوه ، کومه چې په حقيقت کې يو انتظامي حکم دی چې په دې سره ددين انتظام قائم سي او خلق ددين په شا د خواهشاتو دتابعداري نه سي ، ددې مثال بعينه هغه دی کوم چې حضرت عثمان غني رضي الله عنه په اجماع داصحابو رضي الله عنهم دقرآن د اوو ۷ حرفونو (يعنی اووه ۷ لغاتو) څخه صرف يولغت په خاص کولوکې وکي که څه هم اووه ۷ سره لغتونه د قرآن لغتونه وه او دجبرائيل امين په ذريعه دنبی کريم ﷺ دخواهش مطابق نازل سوی وه مګرهرکله چې قرآن کريم په عجموکې خپورسو اوپه مختلفو لغاتوکې دقرآن کريم دتحريف خطره محسوسه کړل سوه نه په اجماع داصحابو رضي الله عنهم پرمسلمانانو لازمه کړل سوه چې صرف په يولغت کې قرآن کريم ليکلې اولولي حضرت عثمان غني رضي الله عنه ددې يولغت مطابق ټول قرانونه وليکل او اطرافو دعالم ته يې وليږل اوترننه پورې ټول امت ددې پابند دي ددې معنی دا نه ده چې نور لغتونه حق نه وه بلکه ددين د انتظام او دقرآن دتحريف څخه دحفاظت پربناصرف يولغت اختيارکړل سو دغه شان امامان مجتهدين ټول حق دي ، په دوی کې ديوه دتقليد دپاره دمعين کولومطلب دا هيڅکله نه دی چې دکوم معين امام تقليد چا اختيار کړی دی ده په نزد نور امامان دتقليد قابل نه دي ، بلکه خپله رايه او آساني چې دکوم امام په تقليد کې وليده هغه اختيار کړه او نور امامان دي هم دغه ډول واجب الاحترام ګڼي.
او دا بالکل داسې ده لکه يو مريض سړی چې دښار په حکيمانو او ډاکټرانوکې چايو ته دخپل علاج دپاره متعين کول ضروري وګڼل ، ځکه چې که مريض په خپله رايه سره کله ديو ډاکټر څخه پوښتنه کوی او دوا يې استعمالوی او کله دبل څخه نو دا به دده دهلاکت سبب سي ، دی چې کله يو ډاکټر دخپل

علاج دپاره منتخب کوی نو ددې دا مطلب هیڅکله نه وی چی نور ډاکټران ماهران نه دی یا په دوی کی دعلاج صلاحیت نسته.

دحنفي شافعي مالکي اوحنبلي کوم تقسیم چی د امت کی قائم سو ددی حقیقت ددی څخه زیات نور هیڅ نه وو، په دی کی دفرقه بندي اوګروه بندي رنګ او دیوبل سره دجنګو اومخالفتونو ګرم بازاري نه څه ددین کار دی او نه هیڅکله پوهانو عالمانو د ا بنه ګڼلی دی دځینو عالمانو په خبرو کی علمي بحث او تحقیق دمناظرو رنګ اختیار کړو او وروسته بدو ردو او طعنو ته نوبت ورسیدی بیا جاهلان جګړو او جنګونونوبت دی حدته ورسوی کوم چی نن په عام طورسره ددین داري ازمذهب پسندي نخښنه جوړه سوی ده نوالله ﷻ دی زمونږپرحال رحم وفرمایي طاقت اوقدرت تول الله ﷻ ته دی چی دیرلوي اوبرتر دی

خبرداري: په مسئله دتقلید او اجتهاد چی څه دلته ولیکل سوه دا ددی مسئلی یولنډه خلاصه ده کومه چی دعامو مسلمانانو دپوهیدو دپاره کافي ده عالمانه تحقیقات اوتفصیلات د اصول فقه په کتابونو کی په تفصیل سره موجود دي ، خصوصاً په کتاب الموافقات کی علامه شاطبي رحمه الله څلورم باب الاجتهاد کی او دعلامه سیف الدین امدی رحمه الله په کتاب احکام الاحکام دریم جلد القاعدة الثالثة فی المجتهدین کی دحضرت شاه ولي الله رحمه الله په کتابونو حجة الله البالغة اورساله عقدالجید کی اوپه آخر کی دحضرت حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په کتاب الاقتصاد فی التقلید والاجتهاد کی دا کتابونه په دی مسئله کی په خاص طورسره دلیدوقابل دی عالمان خلق دي دوی ته رجوع وفرمایي.

(په قرآن دوپوهیدو دپاره درسول ﷺ احادیث ضروري دی دحدیثوڅخه انکار په حقیقت کي دقرآن څخه انکار دی)

وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ : په دی آیت کی دذکرڅخه مرادپه اتفاق سره قرآن کریم دی اونبی کریم ﷺ په دی آیت کی ماموره سوی دی چی ته دقرآن دنازل سوواَیتونوبیان اووضاحت خلقوته کوه په دی کی ددی خبري واضح ثبوت دی چی دقرآن کریم په حقیقتونومعلوماتو او احکامو صحیح پوهیدل دنبی کریم ﷺ په بیان موقوف دی که هرسړی صرف په عربی ژبه اوعربي ادب پوهه سی اودقرآن په احکامو دخدای ﷻ دمنشاء مطابق قادریدی نو نبی کریم ﷺ ته به دبیان او وضاحت دخدمت سپارلو هیڅ معنی نه وه.

علامه شاطبی رحمه الله په موافقات کی په پوره تفصیل سره ثابته کړی ده چی دنبی کریم ﷺ سنت پوره په پوره دکتاب الله بیان دی ، څکه چی قرآن کریم درسول الله ﷺ متعلق فرمایي (وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ) او حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها ددی خلق عظیم په تفسیر کی فرمایي (کان خلقه القرآن) ددی مطلب دا سو چی د نبی کریم ﷺ څخه چی کوم قول اوفعل ثابت دی هغه ټول د قرآن ارشادات دي ځینی خو په ظاهري طور سره دیواَیت تفسیر او وضاحت وي په کوم چی عام اهل علم پوهیږي اوځینی په ظاهره په قرآن کی ددی څه ذکر نه وي مګر دنبی کریم ﷺ په زړه مبارک کی په طور د وحي دغه وغورځول سي دغه هم په یو حیثیت سره دقرآن په حکم کی وي څکه چی دقرآن دوضاحت مطابق دده ﷺ یوه خبره هم په خپل خواهش سره نه وي بلکه دالله ﷻ دطرف څخه وحي وي (وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ، إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

يُوحَى،عَلَّمَهُ شَدِيدُالْقُوَى» ددی څخه معلومه سوه چی دنبی کریم ﷺ ټول عبادتونه معاملي اخلاق عادتونه ټول په جمع دخدای وحی اوپه حکم دقرآن کی دی اوکوم ځای چی دوی په خپل اجتهاد سره څه کار کړی دی نو آخر په وحی الهي سره یا ددغه په بدونه ګڼلو سره ددی صحیح والی او تائید سوی دی نو په دی وجه دغه هم په حکم د وحی کی سی.

لنډه دا ده چی دی آیت دنبی کریم ﷺ دراليږلو مقصد دقرآن کریم تفسیر اوبیان مقرر کی لکه چی دسورة جمعه وغیره په ډیرو آیتونو کی دتعلیم دکتاب په الفاظوسره د رالیږلو دامقصد بیان کړی دی اوس د حدیثو هغه ذخیره کومه چی د اصحابو ﷺ او تابعینو څخه واخله تر وروستنیو محدثینو پوری دامت باکمال خلقو یی دخپلو ځانونو څخه زیات حفاظت کړی دی او امت ته یی رسولی دی او ددی په لټون کی یی خپل عمرونه ختم کړي دي دحدیثونو د روایتونو درجي يې مقرر کړي دي اوکوم روایت چی یې په حیثیت دسند سره ددی درجي نه دی بللی چی دشرعي احکامو بنیاد پرکښیښبودل سی دغه یی د حدیثونو دذخیري څخه جلا کړی دی اوصرف پرهغو روایتونو یی مستقل کتابونه لیکلی دي کوم چی د ټول عمر دتنقید او تحقیق څخه وروسته یی صحیح او د اعتماد قابل بللي دي.

که نن یو سړی دحدیثونو دی ذخیري ته په څه هیله اوبهانه سره ناقابل اعتماد ووایی نوددی صفا مطلب دا دی چی نبی کریم ﷺ دقرآن ددی حکم خلاف ورزی وکړه چی دقرآن مضامین یی بیان نه کړل یا دا چی دوی ﷺ خو بیان کړی وه مګر پرځای محفوظ پاته نه سول په هرو دواړو صورتونو کی قرآن په حیثیت د معنی محفوظ پاته نه سو د کوم د حفاظت ذمه واري چی په خپله الله ﷻ پر خپله ذمه اخستی ده «وَاِنَّا لَهُ لَحٰفِظُوْنَ : دده دا دعوه دقرآن ددی نص څخه خلاف ده ددی څخه ثابته سوه چی کوم سړی د رسول سنت د اسلام ددلیل منلو څخه انکار کوي هغه په حقیقت کی د قرآن څخه منکر دی

اَفَاَمِنَ الَّذِيْنَ مَكَرُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّخْسِفَ اللّٰهُ بِهِمُ الْاَرْضَ

پس ایا بی بیری سول هغه خلق کوم چی ناکاره فریبونه کوی ددي څخه چی دوب کړی الله دوی په مځکه کی

اَوْ يَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۴۵﴾ اَوْ يَاْخُذَهُمْ

یا راسی په دوی عذاب دداسی ځای څخه چی دوی ور څخه خبر نه وی یا ونیسی دوی

فِيْ تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۴۶﴾ اَوْ يَاْخُذَهُمْ عَلٰى تَخَوُّفٍ

په ګرځیدو کی پس دوی نه دی عاجزه کوونکی، یا ونیسی دوی دبیرولو څخه وروسته

فَاِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۴۷﴾

پس ستاسو رب ډیر مشفق مهربان دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسير: کوم خلک چې (دحق دين دباطلولو دپاره) ناکاره تدبيرونه کوي (چې کله په دی کی شبهات او اعتراضونه راباسي او دحق څخه انکار کوي چې گمراهي ده کله نور گمراه کوي چې منع کوي بې ددين څخه) آياداسی خلق (چې دادکفرکارونه کوي) بياهم ددی خبري څخه بې فکره (سوی) دي چې الله ﷻ دوی (د دوی دکفر په وبال کی) په مځکه کی غرق کړي يا پر دوی دداسی طرف څخه عذاب راسی دکوم څخه چې د دوی گمان هم نه وي (لکه په جنګ بدر کی دداسی بې سر وسامانه مسلمانانو سره دوی ته سزا ورکول سوه چې کله هم د دوی په عقل سره دا گمان نه راتلی چې پرمونږ به دوی غالب سی) يادوی په گرځيدوکی (په يو آفت سره) ونيسي (لکه ناڅاپه په يو مرض پر راسی) نو (که په دی کارونو کی څه کار وسی نو) دا خلق خدای نه سی عاجزه کولی يا دوی په کميدو کميدو ونيسي (لکه قحطي ياوبا پر راسی او په کرار کرار يې خاتمه وسی يعنی زره ورکيدل نه دي په کار دخدای پاک هر څنګه قدرت دی مګر دامهلت چې يې کوم ورکړی دی) نو (ددی وجه دا ده چې) ستاسی رب لوي مشفق مهربان دی (په دی وجه مهلت درکوي چې که اوس هم پوهه سی او دفلاح او نجات لار اختيار کړي)

(معلومات اومسئلي)

ددی څخه په وړاندی آيتونوکی يې کافران دآخرت دعذاب څخه بيرولي وه (ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُخْزِيهِمْ) په دی آيتونوکی يې دوی ددی څخه بيرولي دي چې داهم کيدای سی چې دآخرت دعذاب څخه وړاندی په دنيا کی هم دالله ﷻ په عذاب کی ونيول سی پرکومه مځکه چې ناست ياست په هغه کی مو دننه کړي يا د يوی بې گمانه لاري څخه دالله ﷻ په عذاب کی ونيول سی لکه دبدرپه جهادکی چې زر ۱۰۰۰ تنه باوسله بهادران خوانان ديو څو کسانو بې سر وسامانه مسلمانانو دلاسه داسی په عذاب سول چې دا چيري د دوی په وهم اوخيال کی هم نه راتله يا داسی هم کيدای سی چې په گرځيدو کی دربانديدالله ﷻ څه عذاب راسی اوګير سی په کی ، چې څه دمرګ مريضی درباندی راسی يا ديو لوړځای څخه ولويږئ يا دڅه شی سره ټکر ووهئ هلاک سئ او دعذاب دا صورت هم کيدای سی چې ناڅاپه عذاب رانه سی مګر مال صحتو تندرستي او اسباب او راحت اوسکون په کميدوسی دغه شان په کميدو کميدو کي ددغه قوم خاتمه وسی.

لفظ د، تَخَوُّف: کوم چې په دی آيت کی راغلی دی په ظاهره دخوف څخه مشتق دی ، اوځينو مفسرينو حضراتو يې ددی معنی په اعتبار سره دا تفسير کړی دی چې يوه ډله په عذاب سره ونيسی چې بله ډله وبيريږي ، دغه ډول بله ډله ونيسي چې دريمه وبيريږي . دغه ډول په بيرولو بيرولو دټولو خاتمه وسی مګر دقرآن تفسير کونکي حضرت ابن عباس ؓ اومجاهد وغيره امامانو دتفسير دلته لفظ : دتخوف د : تنقص په معنی کی اخيستی دی او ددی معنی په اعتبار سره يې ترجمه کمول کمول کړی ده.

حضرت سعيد بن مسيب ؒ فرمايي چې حضرت فاروق اعظم ؓ ته هم ددی لفظ په معنی کی تردد پيښ سو نو دوی ؓ پر منبر باندی صحابه کرام ؓ مخاطب کړل او وي فرمايل چې دلفظ د تخوف تاسی څه معنی کوئ ؟ عام خلق پټه خوله پاته سول ، مګر دقبيله هذيل يوسړی عرض وکي چې امير المومنين دا زمونږ دقبيلي خاص لغت دی زمونږ سره دا لفظ دتَنَقُّصْ په معنی کی استعماليږي

Maktaba Tul Ishaat.com

بیخو کرار کرار کمول حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه پوښتنه وکړه چی آیا عرب په خپلو اشعارو کی د الفظ د تنقص په معنی کی استعمالوي نو هغه عرض وکړ چی هو، او د خپلی قبیلی د شاعر ابو کبیر هذلی یو شعر یی پیش کی چی په هغه کی دا لفظ د کرار کرار کمولو په معنی کی استعمال سوی وو پر دی باندی حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه وفرمایل چی خلکو تاسی د جاهلیت د اشعارو علم حاصلوئ ځکه چی په دی کی ستاسی د کتاب تفسیر او ستاسی د کلام د معنا فیصله کیدای سی

(دقرآن دپوهي دپاره معمولي عربي داني پوره نه ده)

ددی څخه پوه خبره خو دا ثابته سوه چی په معمولي طور باندی د عربي ویلو او لیکلو قابلیت دقرآن د پوهي د پاره کافي نه دی بلکه په دی کی هومره مهارت او پوره ضروری دی چی د جاهلیت د عربو کلام پوره ازده کړي ځکه چی قرآن کریم په دی ژبه او د دوی په محاوراتو کی نازل سوی دی د دومره درجي پوری د عربي ادب زده کول پر مسلمانانو لازم دي

(د عربي ادب زده کولو دپاره د جاهلیت د شاعرانو کلام ویل جائز دي که څه هم خرافاتو باندی مشتمل وي)

ددی څخه دا هم معلومه سوه چی په قرآن کریم د پوهیدو دپاره د جاهلیت د زماني عربي او د دوی لغت او محاوري زده کول د جاهلیت د زماني د شاعرانو کلام ویل جائز دي که څه هم دا ظاهره خبره ده چی د جاهلیت د شاعرانو کلام پر جاهلانه رسمونو او د اسلام څخه خلاف پر جاهلانه کارونو مشتمل دي، مګر په قرآن د پوهیدو د ضرورت په وجه ددی لوستل او ویل جائز کړل سوی دي

(د دنیا عذاب هم یو قسم رحمت دی)

په ذکر سوو آیتونو کی د دنیا د مختلف قسم عذابونو ذکر کولو څخه د آیتونو پر ختمیدو باندی فرمایی، إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ : په دی کی اول حرف په لفظ د رب باندی دی طرف ته اشاره ده چی د دنیا عذاب ... ددی خبرو لوی دپاره د شان د ربوبیت تقاضا ده په دی باندی د لام د تاکید سره د الله تعالی مشفق والی ... اشاره وفرمایل چی د دنیا دا خبره کوي په حقیقت کی ...

أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا خَلَقَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَائِلِ

سُجَّدًا لِّلَّهِ وَهُمْ دَاخِرُونَ ﴿٤٨﴾ وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ

مِن دَابَّةٍ وَالْمَلَائِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٤٩﴾ يَخَافُونَ

کړي دی خیر اتانو څخه او ملائکي او هغه تکبر نه کوي

Maktaba Tul Ishaat.com

رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ السجدة ع وَقَالَ

دخپل رب څخه دخپل ځان دلوړ څخه او کوی څه چی ورته حکم کیږي او ویلی دی

اللّٰهُ لَا تَتَّخِذُوْٓا اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ج اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ج فَاِيَّايَ

الله مه نیسی معبودان دوه دغه معبود یودی ، پس زما څخه

فَارْهَبُوْنِ ﴿۵۱﴾ وَلَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَهُ الدِّيْنُ

بیره کوی او دهغه دی څه چی په اسمانونو کی دی او په مځکه کی دی او دهغه عبادت دی

وَاصِبًا ط اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ

همیشه ، پس ایا بغیر دالله څخه دچا څخه بیره کوی ، او څه چی تاسو سره دی نعمت پس دالله دطرف څخه

ثُمَّ اِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَاِلَيْهِ تَجْئَرُوْنَ ﴿۵۳﴾ ج ثُمَّ اِذَا كَشَفَ الضُّرَّ

بیا کله چی تاسو ته رسیږي سختی نو هغه ته چیغی وهی ، بیا چی کله لیری کړی سختی تاسی څخه

عَنْكُمْ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْكُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۴﴾ لا لِيَكْفُرُوْا بِمَآ

دغه وخت یوه فریقه په تاسی کی دخپل رب سره شریك جوړ وی ، چی منکر سی دهغه شی څخه

اٰتَيْنٰهُمْ ط فَتَمَتَّعُوْا فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَيَجْعَلُوْنَ لِمَا لَا يَعْلَمُوْنَ

کوم موږ دوی له ورکړی دی، پس نفع واخلی دیرژر به پوهه سی ، او مقرر کوی دهغه دپاره چی خبر ورته نشته

نَصِيْبًا مِّمَّا رَزَقْنٰهُمْ ط تَاللّٰهِ لَتُسْئَلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ تَفْتَرُوْنَ ﴿۵۶﴾

یوه حصه زموږ د ورکړی رزق څخه ، قسم دی په الله تاسو څخه به پوښتنه وسی دهغه چی تاسو درواغ جوړول

وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ الْبَنٰتِ سُبْحٰنَهٗ لا وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۵۷﴾

او مقرر کوی دالله دپاره لوڼی هغه ددې څخه پاك دی او دځان دپاره چی څه یې زړه غواړی

لنډتفسیر: آیا(دا) خلق دالله ﷻ دي پیداکړوشیانوته نه ګوري (اوددې په لیدو دتوحید دپاره دلیل نه نیسي) دکومو سایه چی کله یو طرف ته کله بل طرف ته داسی کږیږي چی (بالکل) دخدای (دحکم تابع)

دي (يعنی دسايي اسباب چی دلمر نوراني کيدل او دسايه دارجسم کثيف کيدل دي، او دسايي
دحرکت سبب چی دلمرحرکت دی، بيا دسايي خواص دا ټول دالله ﷻ په حکم دی) اوهغه (سايه دار)
شيان هم (د الله ﷻ په وړاندی) عاجز (اودحکم تابع) دي او (څنګه چی دا ذکر سوی شيان په کوموکی
چی حرکت اراديه نسته لکه چی د، يَتَفَيَّؤُا ، اسناد دظلال طرف ته ددی قرينه ده ، څکه چی کوم شی په
خپله اراده حرکت کوي دهغه دسايي حرکت خو په خپله ددغه شي په حرکت سره وي دالله ﷻ دحکم
تابع دی داسی) دالله ﷻ (دحکم) تابعدار دی څومره شيان چی (په اراده سره) تلونکي په آسمانونو کی
(لکه ملائکي) او په مځکه کی (لکه حيوانات) موجود دي او (خاص) ملائکي (هم) اوهغه (ملائکي سره
دلوړوالی دمکان اوپورته والي دالله ﷻ دفرمان برداریٔ څخه) تکبر نه کوي (اوپه دی وجه يی خاص د
دوی ذکر وکي، سره ددی چی په مافی السموات کی دا خلي وي) دوی دخپل رب څخه بيريږي کوم چی
پر دوی باندی زورآور دي او دوی ته چی (دخدای ﷻ دطرف څخه) څه حکم کول کيږي هغه دی کوي
اوالله ﷻ (ټولو مکلفينو ته په واسطه درسولانو) فرمايلي دي چی دري (يا زيات) معبودان مه جوړوی
نو يو معبود دی (اوهرکله چی دا خبره ده) نو تاسی خلق خاص زما څخه بيره کوی (څکه چی کله
الوهيت زما سره خاص دی نو کوم کوم چی ددی لوازم دي لکه دکمال قدرت وغيره به هم زماسره خاص
وي نو دانتقام وغيره بيره زماڅخه په کار ده او دشرک انتقام اخيستل غواړي نو شرک نه دی کول په
کار) او دده (ملکيت) دی ټوله شيان کوم چی په آسمانونو کی او مځکه کی دي او په لازمي طور
اطاعت په ځای راوړل دهغه حق دی (يعنی هغه ددی کار مستحق دی چی ټول دهغه اطاعت پرځای
راوړي کله چی دا خبره ثابته ده) نو آيا بيا هم دالله ﷻ څخه ماسوا د نورو څخه بيره کوی (او نورو څخه
بيره کوی عبادت يی کوی) او(څنګه چی دبيري قابل بغير دخدای ﷻ څخه بل څوک نسته ، دغه ډول
نعمت ورکوونکی او داميد قابل بغير دخدای څخه بل هيڅوك نسته هم دارنګه) ستاسي سره چی څه
(دهرقسم) هم نعمتونه دي دغه ټول دالله ﷻ دطرف څخه دي بياچی کله تاسی ته (لږ څه) تکليف رسيږي
نو (ددی د رفع کيدو دپاره) دغه (الله) ته فرياد کوي (اوڅه بُت وغيره دغه وخت ستاسی په ياد نه وي
چی په دی سره د توحيد حقوالی دغه وخت ستاسی دحال د اقرار څخه هم معلوميږي ليکن) بيا چی
کله (الله ﷻ) ستاسی څخه دا تکليف ليري کی نو په تاسی کی يوه ډله (او دغه غټه ډله) دخپل رب سره
(دتيرحال په شان) شرک کول شروع کړي چی ددی مطلب دا دی چی زمونږ د ورکړي نعمت (چی دغه
تکليف ليري کول دي) ناشکري کوي (کومه چی په عقل سره هم قبحيه ده) خير يو څو ورځي عيش
وکي (ګوري) ډير ژر به (دمرګ سره) تاسی خبرسی (او يوه ډله يی په دی وجه ويل چی څينی دا حالت
يادوی او پر توحيد او ايمان قائميږي لکه دا قول دالله ﷻ دی (فَلَمَّا نَجّٰهُمْ إِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ)
او(منجمله ددی شرک څخه يو دا دی چی) دا خلګ زمونږ په ورکړل سوو شيانو کی د خدای ددغه
(معبودانو) حصه مقرر کوي دکومو (دمعبود کيدو) متعلق چی دوی ته هيڅ علم (او د دوی د
معبودکيدو هيڅ دليل اوسند) نسته (لکه چی ددی تفصيل د اتمي پاري په دريمه رکوع آيت، وَجَعَلُوا لِلّٰهِ
) کی تير سوی دی) قسم دی په خدای ﷻ چی ستاسی څخه به ستاسی ددی درواغو جوړولو (په قيامت

کې خامخا پوښتنه وسي او (یو شرک د دوی دا دی چې) دالله ﷻ دپاره لونی خوښوي سبحان الله (هر
خو مره مهمله خبره ده) او (عجیبه خو دا ده چې) دځان دپاره دخوښې شی (یعنی زامن خوښوي)

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِالْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٥٨﴾

او کله چې خوشخبری ورسیږي په دوی کې یوه ته په لور نو ترله سی مخ دده تور او دی زړه خوري

يَتَوَارَىٰ مِنَ الْقَوْمِ مِن سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ ۚ أَيُمْسِكُهُ عَلَىٰ

پټ گرځي دخلقو څخه دوجهی دبدوالی ددې خوشخبری چې واوري ایا پاته کړي دی

هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ ۗ أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٥٩﴾

په ذلت قبلولو سره یاپی ومندی په خاورو کې خبردار ډیر بده فیصله کوي

لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ مَثَلُ السَّوْءِ ۖ وَلِلَّهِ الْمَثَلُ

کوم چې نه منو آخرت دوی په مثال دی او دالله مثال

الْأَعْلَىٰ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٦٠﴾

دټولو څخه لوړ دي ، او هغه دی زبردست حکمت والا

تفسیر: او کله چې په دوی کې چا ته دلور (پیدا کیدو) خبر ورکړل سي (کومې چې دوی دالله ﷻ دپاره
خوښوي) نو (دومره خفه سي چې) ټول ورځ دده مخ بې رونقه وي او دی په زړه زړه کې ویلې کیږي (او د
کوم شي چې ده ته خبر ورکړل سوی دی (یعنی دلور پیدا کیدو) ددی دشرم په وجه دخلقو څخه پټ پټ
گرځي (او په زړه کې کړل او ربیل کوي چې) آیا دا (نوی پیدا سوې بچې) په (حالت د) ذلت باندې پاته
کړي یا دي (ژوندی یا مرکړي) په خاورو کې ښخ کړي ښه ولورې د دوی دا تجویز ډیر بد دی (چې اول
خو دخدای دپاره اولاد ثابتول دا خومره ناکاره خبره ده ، بیا اولاد هم هغه کوم چې په خپله دومره ذلیل
او موجب دشرام گنې یې) کوم خلق چې په آخرت یقین نه لري د دوی بدعادت دی چې په دنیا کې هم چې
په داسې جهل کې اخته دي او په آخرت کې هم چې په عذاب او ذلت کې به اخته سي) او دالله ﷻ دپاره
خو لوی د اعلی درجې صفتونه دي (هغه نه کوم چې دا مشرکان یې وایي) او هغه ډیر لوی زبردست دی
(که دوی ته په دنیا کې دشرک سزا ورکول وغواړي نو هیڅ مشکل ورته نه دی لیکن ددې سره) لوی
حکمت والا هم دی (دحکمت په مقتضا سره یې سزا دمرگ څخه تر وروسته پوری وروسته کړې ده)

(معلومات او مسئلې)

په دې آیتونو کې یې دعربو دکافرانو پر دوو ۲ خصلتونو باندې بدوالی بیان کړې دی ، چې اول خو

دوی په خپل کور کی انجلی پیدا کیدل دومره بد گنړي چی د شرم په سبب د خلقو څخه پټ گرځي او په

دی سنج کی وی چی په انجلی پیدا کیدو چی زه کوم ذلت رسیدلی دی په دی صبر وکړم او دی

ژوندۍ په قبر کی ښخ کړم او ځان ورڅخه خلاص کړم او په دی سربیره دا جهالت چی کوم اولاد

د ځان د پاره نه خوښوی دالله ﷻ طرف ته د هغوی نسبت کوي چی ملائکي دالله ﷻ لوڼي گڼي

د دوی دا ټوله فیصله ډېره بده ده (ساء ما یحکمون) مطلب په تفسیر بحر محیط کی په حواله دابن عطیه

دوی حکم نه دی کړی دی چی اول خو دوی دا فیصله ناکاره فیصله ده چی انجلی پر عذاب

او ذلت گڼي دوی دوېم بیا کوم څه چی د ځان د پاره ذلت گڼي د هغه الله ﷻ طرف ته نسبت کوي د دا ږیم آیت

په آخر کی چه (وهو العزیز الحکیم) سره هم دی طرف ته اشاره ده چی د انجلی پیدا کیدل مصیبت او کمال

او په دی وخت کی ددي په مقابله کی د خپل حکمت په مخلوق کی څرگند او ماده د انجلی کمال الهی

قانون د حکمت په دی دروح البیان

مسئله: په دی آیت کی واضحه اشاره وركړل شوه چی په کور کی انجلی پیدا کیدل مصیبت او ذلت

گڼل جاهلانه طریقه ده په تفسیر روح البیان کی په حواله د هغه ....

ته په کار دي چی د انجلی پر پیدا کیدو زیات د خوشحالی اظهار وکړي چی د جاهلیت پر کار باندي رد

راشي او په یو حدیث کی دي چی هغه ښځه مبارکه ده چی د کومي چی په اول کیده انجلی پیدا شی د قرآن

کریم ... کی هم د اناث په ذکر سره ... طرف

ته اشاره وركول كیږي چی د اولي كیدي څخه انجلی پیدا كیدل غوره دي

او په یو حدیث کی ارشاد دی چی د چا په دی انجونو کی دیري سره واسطه راشی او بیا ورسره كي د

احسان سلوک وکړي نو دا انجونی به ددا د پاره د ... څخه پرده جوړه شي ...

کی به ذکر الوسی (روح البیان)

لنډه دا ده چی د انجونو پیدا کیدل بد گڼل د جاهلیت ناکاره رسم دی مسلمانانو ته ددي څخه ځان ساتل

په کار دي او ددي په مقابله کی چی الله ﷻ کوم وعده ده په دی مطمئن کیدل او خوشحاله کیدل په

کار دي والله اعلم

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِمْ مَا تَرَكَ عَلَيْهَا مِنْ دَابَّةٍ وَلَٰكِنْ يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى

او که چیري نیولی الله تعالی خلک د دوی بی انصافی باندي پاته به نه کړی په مځکه باندي تلونکي لیکن مهلت

ورکوی دوی ته تر یو وخت مقرر پوري

فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ⑥۱

بیا چی راشي نیټه د دوی ... او نه به مخکښي کیږي ...

وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكْرَهُونَ وَتَصِفُ أَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ أَنَّ

او گرځوي یي الله لره کوم چي د دوی زړه نه غواړي او بیانوي ژبې د دوی درواغ چي

لَهُمُ الْحُسْنَىٰ ۖ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَأَنَّهُم مُّفْرَطُونَ ﴿٦٢﴾ تَاللَّهِ

دوی لره ښه والی دی، خامخا ثابته ده چي د دوی دپاره اور دی او دوی ورته وړاندي کیږي، قسم دی په الله

لَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَىٰ أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ

چي مونږ رسولان لیږلي دی مختلفو فرقو ته ستا څخه وړاندي بیا ښائسته کړل دوی ته شیطان د دوی کارونه

فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾ وَمَا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ

پس دغه ملګری د دوی دی نن، او دوی دپاره عذاب دردناک دی او مونږ نازل کړی دی په تا

الْكِتَابَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوا فِيهِ ۙ وَهُدًى وَرَحْمَةً

کتاب ددې دپاره چي ښکاره بیان کړی ته دوی ته هغه شی په کوم کی چي دوی جګړه کوله او دسیده لاری ښوولو

لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٦٤﴾ وَاللَّهُ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ

دپاره او رحمت دپاره دایماندارو، او الله نازلوی داسمان څخه او به بیا ژوندی کوی په دی

الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٦٥﴾ ع

سره مځکه، وروسته تر مرګ ددې، په دی کی نخښی دی دهغو خلقو دپاره کوم چي اوري:

لنډتفسیر: اوکه الله ﷻ د (ظالمانو) خلقو د دوی ظلم (یعنی شرک اوکفر) په سبب (فوراً په دنیاکی پوره) عذاب نازلولی نو پرمخ دمځکی به هیڅ حرکت کوونکی نه وای پاته سوی (بلکه ټول به یی هلاک کړی وای) لیکن (فوراً عذاب نه راولی بلکه) دیو مقرر میعاد پوری مهلت ورکوي (چی که څوک توبه کول غواړي نو چی امکان وي) بیا کله چی د دوی (هغه) مقرر وخت (نژدی) را ورسیږي دغه وخت به یو ګړی نه (ددی څخه) وروسته ښوریدی سی، اونه به مخکی ښوریدی سی (بلکه سزا به فوراً وي) او دالله ﷻ دپاره هغه کارونه خوښوي کوم چی په خپله (دځان دپاره) نه خوښوي (لکه لوڼ چی راغلی دی (وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ الْبَنَاتِ) او (بیا) پردی په خپلو ژبو د درواغو دعوي کوي چی د دوی، (یعنی زمونږ) دپاره (پردی تقدیرکی قیامت قائم سی) هر قسم خیر وي (الله ﷻ فرمایی چی خیر به دکوم طرفه وي بلکه) لازمي خبره

Maktaba Tul Ishaat.com

ده چې د دوی دپاره (دقیامت په ورځ) دوزخ دی او بې شکه دغه خلق به (دوزخ ته) دټولوځخه وړاندې ولیږل سي (ای محمد ﷺ ته د دوی پر کفر او جهالت هیڅ غم مه کوه ځکه چې) په خدای قسم دی ستا (د زماني) ځخه مخکی چی کوم امتونه تیر سوی دی دوی ته هم مونږ رسولان لیږلی وه (لکه چی ته مو دوی ته لیږلی یې) نو (لکه څنګه چې دا خلق خپل کفریات خوښوي او پردي قائم دي دغه شان) دوي ته هم شیطان دهغوي عملونه (دکفر) ښائسته کړی ښوول نو هغه (شیطان) نن (یعنی په دنیا کی) د دوی ملګری دي (یعنی ملګري یی وو چی هغوی ته یی غولول ښودل نو په دنیا کی خو یی دا تاوان وسو) او بیا په قیامت کی) د دوی دپاره دردناکه سزا (مقرر) ده (غرض دا ورپسي خلق هم دمخکنیو په شان کفر کوي او دهغوي په شان به د دوی هم سزا وي نو ته ولي غم کوي) او مونږ پر تا دا کتاب (چی نوم یی قرآن دی په دی وجه نه دی نازل کړی چی دټولو پر هدایت کول ستا پر ذمه وي چی دځینو پرهدایت نه کیدو ته غم کوي ، بلکه) صرف په دی وجه یی نازل کړی دی چی په کومو کارونو (ددین) کی دوی اختلاف کوي (لکه توحید او آخرت او دحرامو حلالو احکام) ته پر (عامو) خلقو باندی دغه ظاهر کړه (دا فائده خو دقرآن عامه ده) او د ایماندارو دپاره د (خاص) هدایت او رحمت په غرض سره (یی نازل کړی دی نو دا کارونه دالله ﷻ په فضل سره حاصل دی) او الله ﷻ د آسمان ځخه اوبه را واورولی بیا یی په دی سره مځکه وروسته ددی د مړه کیدوځخه ژوندی کړه (یعنی په دی کی دبوټو دشنه کولو قوت ختمیدو ځخه وروسته بیا تقویت ورکي) په دی (ذکر سوی) کار کی ددا سی خلقو دپاره (دتوحید اومنعم والي) لوي دلیل دی کوم چی (په زړه سره دا خبري) آوري

وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِ مِن

او ستاسو دپاره په حیوانانوکی دسوچ ځای دی ځینبوو په تاسو د دوی دنس دشیانو ځخه ،

بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِّلشَّارِبِينَ ﴿٦٦﴾

دخرشنو اووینی دمینځ ځخه شیدی خالص (سوچه) ژر هضم کیدونکی دچینبوونکو دپاره .

لنډتفسیر: او (دا رنګه) تاسی ته په حیواناتو کی غور په کار دی (اوګوري) د دوی په نس کی چی کوم خرشنه او وینه (ماده) ده ددی دمینځ ځخه (دشیدو ماده چی یوه برخه دوینی ده وروسته تر هضمیدو جلاسی دغولانځی په مزاج سره ددی رنګ بدل سی دا) صفا په مرئ کی ژر تیریدونکی شیدي (جوړه کړه) مونږ یی ستاسی چښلو ته درکوو.

معلومات او مسئلې: د : بُطُونِهٖ ضمیر د أَنْعَام طرف ته راجع دی د لفظ د انعام چی جمع مؤنث دی ، ددی تقاضا دا وه چی بطونها یی ویلی وای لکه چی په سورة مؤمنون که دغه ډول (نُسْقِيكُمْ مِّمَّا فِي بُطُونِهَا) یی ویلی دی .

قرطبیی ددی توجیه دا کړی ده چی په سورة مؤمنون کی یی دجمع دمعنی رعایت وکی او ضمیر

Maktaba Tul Ishaat.com

دمونث یي راوړي او په سورة نحل کې د لفظ د جمع په رعایت سره ضمیر مذکر استعمال شو او د عربو په محاورو کې ددې مثالونه بې شمیره دي چې د جمع د لفظ طرف ته ضمیر د مفرد راجع کیږي

دخرشنو او وینې د مینځ څخه د صفا شیدو را ایستلو متعلق حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه فرمائي چې حیوان کوم واښه خوري ، هرکله چې هغه دده په معدة کې جمع شي نو معده یې پخوي ، د معدې په دې عمل سره د خوراک ګندګي لاندې کښیني ، لوړې شیدې شي او پرې سربیره وینه ، بیا قدرت دا کار ځیګر ته سپارلی دی چې دا دري سره قسمونه جلا جلا په خپلو مقاماتو باندې تقسیموي وینه جلا کوي رګونو ته یې لیږي او شیدې جلا کوي او د حیوان غولانځې ته یې رسوي اوس په معدة کې صرف فضله (ګندګي) پاتې شي کومه چې د غوښانو او خرشنو په صورت کې وزي

مسئله: ددې آیت څخه معلومه شوه چې د خوندناک او خوږ خوراک استعمال د زهد څخه خلاف نه دی هرکله چې دا په حلاله طریقه سره حاصل شوی وي او په دې کې اسراف او فضول خرچي نه وي شوې، حضرت حسن بصري رحمه الله داسې فرمائیلي دي (قرطبي)

مسئله: نبي کریم ﷺ فرمائیلي دي چې هرکله تاسې څه خوراک خورئ نو دا وایاست : اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ (یا الله ! په دې کې زمونږ دپاره برکت واچوې او آئنده تردې ښه خوراک مونږ ته نصیب کړې)

او فرمائي چې هرکله شیدې څښئ نو دا وایاست : اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ (یعني یا الله ! زمونږ دپاره په دې کې برکت واچوې او زیات یې کړې) ددې څخه د ښه سوال یې ځکه ونه کې چې په انساني خوراکونو کې د شیدو څخه ښه بل خوراک نشته ، په دې وجه قدرت د هر انسان او حیوان اولني خوراک شیدې جوړې کړې ، کوم چې د مور د تیونو څخه ده ته رسیږي (قرطبي)

وَمِن ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا وَرِزْقًا

او د میو څخه د خرماوو او د انګورو څخه جوړوئ تاسې ددې څخه نشه او رزق

حَسَنًا ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾

کافي ښه بېشکه په دې کې نخښې دي د هغو خلقو دپاره چې پوهیږي

لنډ تفسیر: او بیا دا ګوره چې د خرماوو او انګورو په حالت لګوم کولی په کار لوی یچې د هغو په میوو څخه تاسې خلق د نشې شیان او عمده خوراک شیان (لکه وچې خرما ، کشمش ، شربت لو سرکه) جوړوئ بېشکه په دې کې هم د توحید او د منعم والي د هغو خلقو دپاره دلیل دی لوي کوم ، چې روغ عقل لري

معلومات او مسئلې: په تیرو آیتونو کې د الله ﷻ د هغو نعمتونو ذکر وو کوم چې په انساني خوراک پیدا کولو کې د قدرت عجیبه کاروی کړي ښکاره کوي په دې کې یې اول د شیدو ذکر وکی کوم چې قدرت د حیواناتو په نس کې د ویني او فضلې د ګندګیو څخه جلا کړې صفا ستره غذا یعنې خوراک یې د انسان دپاره جوړ کې چې په دې کې انسان ته دڅه زیات کار کولو ضرورت نشته ، په دې وجه یې دلته لفظ د : نُسْقِيكُمْ استعمال کې چې مونږ شیدې درڅښوو

ددي شخه وروسته فرمايي چې د خرماوو او انګورو شخه هم انسان ته خوراک او د نفع شان جوړوي په دې کې اشاره مخې ته طرف ته دوه چې د خرماوو او انګورو میوه شخه د خپل خوراک او نفع د شيانو په جوړولو کې د انسان د کاريګرۍ هم دخل دی او ددي دخل په نتيجه کې ورڅخه دوه قسمه شيان جوړيږي يو د نشې شی چې خمر يا شراب ورته ويل کيږي، دويم غوره رزق چې انګور او خرما تازه استعمال يا يې وچ کړي او ذخيره ور څخه جوړه کړي.

مقصد دا دی چې الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره د انګورو او خرماوو ميوه انسان ته ورکړه او ددي شخه يې د خپل خوراک وغيره جوړولو اختيار ورته هم ورکړی او س دا دده خوښه ده چې ددې شخه څه جوړوي د نشې شی ورڅخه جوړوي عقل په خرابوي او که خوراک ورڅخه جوړوي او قوت په حاصلوي ددي تفسير مطابق په دې آيت کې د نشې شيانو يعنې د شرابو په حلاليدو باندې څه دليل نه سی نيوی، ځکه چې دلته مقصد د قدرت ورکړه دمالو د مخلوق د استعمال د مختلفو صورتونو بيان دی کوم چې په هر حال کې د خدای نعمت دی لکه ټول خوراکونه او د استعمالي نفع شيان چې ډير خلق يې په ناجائزو طريقو هم استعمالوي خو په غلطه استعمال سره اصل نعمت د نعمت والی شخه نه وزي په دې وجه دلته ددې تفصيل بيانولو ضرورت نشته چې په دوی کې کوم استعمال حلال دی او کوم حرام خو بيا هم يو نري غوندی اشاره په دې کې هم دی طرف ته وشو چې د سکر په مقابله کې يې (رزق حسن) کښيښوی؛ چې ددي شخه معلومه شوه چې سکر به رزق نه دی د سکر معنی د جمهورو مفسرينو په نزد نشه راوستونکی شی دی (روح المعاني، قرطبي، جصاص)

دا آيت په اتفاق د امت مکي دی او د شرابو حراموالی ددي شخه وروسته په مدينه طيبه کې نازل سوی دی د آيت د نزول په وخت کې که څه هم شراب حلال وه او په عام طور سره مسلمانانو څښل، مګر د هغه وخت هم په دې آيت کې اشاره ددې طرف ته وسوه چې ددې څښل ښه نه دی وروسته په سختۍ سره د شرابو د حراموالو په باره کې قرآني احکام نازل سول (دا په لنډه سره د جصاص او قرطبي)

وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا

او حکم وکړ ستا رب د شاتو مچۍ ته چې جوړ کړه په غرونو کې ... کورونه ... او په درختو کې او کوم

يَعْرِشُونَ ﴿٦٨﴾ ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ

ځای چې چتونه جوړوي، بيا ... خوره د هر قسم ميوو شخه ... بيا ځه ... په لارو

رَبِّكِ ذُلُلًا يَخْرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ

د خپل رب چې صفا پرتې دي، راوزي د دوی د نسو شخه د څښلو شی چې مختلف يې دي رنګونه په دې

يه شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٦٩﴾

مرضونه بـه كيږي دخلقو ، په دې كې نخښې دي دهغو دپاره كوم چې فكر كوي

تفسير: او (دا خبره هم د غور قابله ده چې) ستا رب د شاتو مچې ته په زړه كې واچوله دا خبره چې په غرونو كې كور (يعنې گېنې) جوړوه او په درختو كې (هم) او خلق چې كومې آبادې جوړوي په دې كې ده چرگينيان جوړوه چنانچې په دې ټولو خايونو كې دوى كورونه جوړوي) بيا دهر قسم (مختلفو ميوو) څخه (كومې چې ستاسې خوښې وي) خوري (چنانچې د ډېر ليرې څخه بې د څه لارې هيرولو خپل مركنيونه ته راواپس كيږي بياچې كله ميوې وزوېي او دخپل كور طرف ته بيرته را سي نو) د دوى دنس څخه د جبلويوشي راوزي (يعنې شات) چې رنگونه يې مختلف وي په دې كې دخلقو (د ډېرو ناجوړيو) دپاره شفا ، ده په دې كې (هم) دهغوخلقو دپاره (دتوحيد اومنعم والي) لوي دليل دى كوم چې فكر كوي.

معلومات اومسئلې: أَوْحَىٰ، وحي دلته په خپله اصطلاحي معنى كې نه ده بلكه په لغوي معنى كې ده اوهغه داچې خبره كوونكى مخاطب ته يوخاص خبره په پټه باندې داسې وښيي چې بل سړى په پوهه نه سي النحل : دشاتو مچې دخپل عقل او پوهې په لحاظ سره او د بنه تدبير په وجه سره په ټولو حيواناتو كې ممتاز حيوان دى ، په دې وجه الله ﷻ دې ته خطاب هم په امتيازي شان سره كړى دى ، دباقي حيوانانوپه باره كې خوبې دكلي قانون په ذريعه سره: أَعْطَىٰ كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَىٰ فرمايلي دي ليكن ددې كوچنې مخلوق په باره كې يې په خاص طورسره (أَوْحَىٰ رَبُّكَ) وفرمايل چې په دې كې يې اشاره دې طرف ته وكړه چې دا د نورو حيواناتو څخه په نسبت دعقل او شعور او دپوهې يو ممتاز حيثيت لري. دشاتو دمچمچيو دپوهې اوعقل اندازه د دوى دحكومت دانتظام څخه په ښه ډول سره كېداى سي ، ددې كمزوري حيوان د ژوند نظام د انساني سياست او حكمراني پر اصولو باندې چليږي ټول انتظام يوې د يوې لوى مچې په لاس كې وي كومه چې دټولو مچيو حكمرانه وي ددې د انتظام او تقسيم د كار په وجه ټول نظام صحيح سالم چليږي ، ددې عجيبه او انا اشنا نظام او محكم قوانين او ضابطې وليدلې نو د انسان عقل حيران پاته سي په خپله دا (ملكه) په دريو هفتو كې د شپږو ٦٠٠٠ زرو څخه تر دوولسو ١٠٠٠ زرو پورې هگۍ اچوي دا دخپلې اندازې بدن او قدر او قامت په لحاظ سره د نورو مچيو څخه ممتازه وي دا ملكه دتقسيم كار پر اصولو باندې خپل رعيت په مختلفو كارونو باندې ماموره كوي په دوى كې ځينې د دربانۍ فرض پوره كوي او نامعلومې او د بل ځاى ناآشنا مچې داخليدو ته نه پريږدي ، ځينې دهگيو حفاظت كوي ځينې دنابالغو بچيو پالنه او پرورش كوي ، كاريگرى او انجنيرۍ فرائض پوره كوي د دوى دجوړو كړو چرگينيانو خانې اكثره د شلو زرو ٢٠٠٠٠ څخه تر ديرسو ٣٠٠٠٠ زره پورې وي ، ځينې موم جمع كوي او كاريگرو ته يې رسوي چې په دې سره هغوى خپل كورونه جوړوي دا موم دوى د بوټو سربيره دسپين پشم څخه راجمع كوي پر كومو شيانو دا ماده ډيره زياته ليدل كيږي په دوى كې ځينې پر مختلف قسم گلونو كښيني خوند ورڅخه راكاږي كوم چې د دوى په گېډو كې په شات سره بدليږي دا شات د دوى او د دوى د بچيو خوراك دى

او دغه زمونږ دټولو دپاره هم دخوند او خوراک او دوايي او دشفا نسخه ده دا مختلفي پارټي په ډيره سرګرمي او تيزي سره خپل خپل فرض پوره کوي او د خپلي (ملکي) حکم په زړه او ځان سره قبلوي په دوی کی چی کومه يوه پر ګندګي کښيني نو د چرګيني درباري دا دباندی منع کړي او ملکه دا قتل کړي د دوی دی حيرانوونکی نظام او ښکلی کارکردګي ته چی وګوري نو د انسان عقل حيران سی، (دعلامه طنطاوي رحمه الله د تفسير جواهر څخه)

بُيُوتًا : په اَوْحٰى رَبُّكَ سره چی کوم هدايت ورکړل سوی دی ، په دی کی دا اولنی هدايت دی ، چی په دی کی دکور جوړولو ذکر دی دلته دا خبره دغور قابله ده چی هر يو حيوان د خپلو اوسيدو دپاره کور خو جوړ وي بيا په دومره اهتمام سره مچيو ته د کور جوړولو په حکم کی څه خصوصيت دی ، بيا دلته لفظ هم :دبيوت : استعمال سو ،کوم چی په عام طور سره د انسانانو د کورونو دپاره استعماليږي ، ددی څخه اشاره يوه خو دی طرف ته ده چی دمچيو کار چونکه شات تيارول دي په دی وجه چی د وراندی څخه يو محفوظ کور جوړکړي، دويم دی طرف ته يی اشاره وکړه چی کوم کور دوی جوړوي هغه به دعامو حيوانانو د کورونو په شان نه وي ، بلکه ددی ساخت او تياري به په غير معمولي قسم سره وي ، چنانچی د دوی کور دعامو حيوانانو دکورونو څخه ممتازي چی ددی په ليدوانساني عقل هم حيرانيږي د دوی کور په شپږ ګوټی شکل باندی وي په پر کار او مسطر سره هم که ددي پيمائش وسی نو دوربينسته برابر فرق په کښی نه وي دشپږ ګوټی شکل څخه علاوه دوی بل شکل څلور ګوټی او پنځه ګوټی په دی وجه نه اختيار وي چی په دوی کی ځينی کونجونه بيکا ، ه پاته کيدای سی . الله ﷻ مچيوته محض د کور جوړولو حکم نه دی ورکړی بلکه ددی ځای د جوړولو يی ورته چم هم وښو وی چی د اپريو لوړ ځای باندی جوړول غواړي ، څکه چی پرد سی خايونو باندی شات ته تازه او صفا هوا رسيږي او د ګنده هوا څخه محفوظ وي او د ماتيد ر حرابيدو څخه هم محفوظ وي چنانچی ارشاد فرمايي .

مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ : يعنی ددی کورنو ابادول پر غرونو، درختو او لوړو اباديو باندی په کار دی چی شات بالکل په محفوظ طريقه سره تيار سی .

ثُمَّ كُلِي مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ: دا دويم هدايت دی چی په دی کی مچی ته حکم ورکول کيږي چی دخپلي ميني او خوښي مطابق دميوو د ګلونو څخه رس راټولوی، دلته يی: مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ : وفرمايل ليکن دلته په ظاهره دلفظ د : کل څخه دټولي دنيا ګلونه او ميوي مراد نه دي بلکه کومو ته چی په آسانی سره دوی رسيدی سی او مطلب ورڅخه حاصل سی ، دکل دا لفظ دملکه سبا په واقعه کی هم راغلی دی وَأُوتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ : او ظاهره ده چی هلته هم استغراق کلی مراد نه دی چی د ملکه سبا سره هوائي جهاز ريل موټر کيدل هم لازم سی بلکه دهغه وخت ټول ضرورتونه اومناسبات مراد دی دلته هم د :(من کل الثمرات) څخه دا مراد دی .

دمچي داسی نرم نرم او قيمتی اجزاء راکاږي چی دنن په سائنسي دورکی په مشينانو سره هم دغه جوهر نه سی را ايستل کيدی .

Maktaba Tul Ishaat.com

فاسلکي سبل ربك ذللا یخرج من بطونها شراب مختلف الوانه فیه شفاء للناس : دا مچي ته دریم هدایت
ورکول کیږي ، چې دخپل رب په هوارو کړو لارو باندې ځي ، دوی چې هرکله دکور څخه لیرې مقاماتو
ته د میوو او ګلونو څخه د رس را ټولولو دپاره ولاړې سي نو په ظاهره د دوی خپل کور ته بیرته راتلل
ګران په کار وه ، لیکن الله ﷻ د دوی دپاره لارې آسانې کړې دي ، نو دوی په میلونو لیرې ځي او بغیر
د ورکیدو خپل کور ته بیرته را رسیږي ، الله ﷻ په فضا کی د دوی دپاره لارې جوړې کړې دي ، ځکه
چې د مزکي په کږو وږو لارو کي د دوی د ورکیدو بیره وه نو الله ﷻ فضا د دی کمزورې مچې دپاره
مسخره کړه چې دا بغیر د څه ورکیدو څخه خپل کور ته په آسانۍ سره ور رسیږي

د دی څخه وروسته دوچې دی حکم چې کوم حقیقي ثمره وه هغه بیان فرمایي لمقه یخرج من بطونها شراب
مختلف الوانه فیه شفاء للناس ، چې په دی دګیډې اڅخه د مختلفو رنګونو د څښلو شیان راوزي چې پښتا سره
دپاره په کی شفاء ده ، رنګ اختلاف دخوراکونو او موسم د اختلاف په وجه وي او یا د وجه ده چې که په یوه
خاص علاقه کی د یو خاص قسم ګلونو او میوو کثرت وي نو د دی علاقې په شاتو کی د دوی اثر او خوند
راڅرګندیږي ، او دغه رنګ د نورو څیزونو اختلاف په ماده ، په شکل کی وي ، په بدې وجه پس دی د څښلو شی (شراب)
وفرمایل ، په دی جمله کی هم د الله ﷻ د بې حده لوی کامل قدرت قاطع دلیل موجود دی چې د یو کوچنی
حیوان د ګیډې څخه څومره فایده مند او خوند ناکي د څښلو شیان را وزي حال دا دی چې دغه حیوان په
خپله زهري دی لیکن د زهرو څخه د تریاک او لعقو ، الله ﷻ د کامل قدرت عجیبه مثال دی بیا د قدرت دا هم
عجیبه کارنګری ده چې د شید په شان کوم رنګ چې حیوان شیدې د موسم او خوراک په اختلاف سره بدلیږي
نه دي ، هم په شات په مختلفو رنګونو وي ...

فیه شفاء للناس ... د طبیعت قوت ورکوونکي خوراک او د خوندور او مزیدار ... په ځای د
مرضونو ... نسخه ... ده ... به نو ... د خالق کائناتو دا ... مشین چې د هر
قسم ګلونو او میوو څخه مقوی عرق او پاکیزه جوهر راکاږي او په خپلو محفوظو کورونو کی یې
ذخیره کړي ... دوا او شفاء ... نو د دوی په ... نه وي ...
مرضونو کی بې له واسطی څخه او په نورو مرضونو کی د نورو اجزاوو سره یو ځای په طور د دوا د
شات استعمال کیږي ، طبیبان ... په معجونانو کی په خاص طور سره استعمالوي د دی یو خاصیت دا هم
دی چې په خپله هم نه خرابیږي او د نورو شیانو حفاظت هم د ډیر زمانه کوي د دغه وجه ده چې طبیبان یې
د نرګونو ګلونو څخه ... په ځای استعمالوي شات دست (اسهال) راوستونکي (قبض ماتونکي) دي
او دنس څخه په فاسده ماده ایستلو کی ډیره فائده ورکوي ، نبي کریم ﷺ ته یو صحابي د خپل ورور د
بیماري حال بیان کړی نو ده ﷺ ورته د شاتو د څښلو مشوره ورکړه په بله ورځ بیا راغی او وی ویل چې زما
د ورور بیماري هغه شان ده دوی ﷺ بیا د دغه مشوره ورکړه په دریمه ورځ چې هغه بیا ووېل چې اوس
هم څه فرق نه دی راغلی نو دوی ﷺ وفرمایل (صدق الله وکذب بطن اخیك) یعنی د الله ﷻ قول یقینا
رښتینی دی ستا د ورور نس دروغجن ده ، مراد دا دی چې قصور د دارو نه دی ، د مریض د خاص مزاج
په وجه سره یې ژر اثر ظاهر نه سو ددی څخه وروسته یې نور په وخښل نو مریض ښه سو

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته په قرآن کريم کې : شفاء : نکره تحت الاثبات ده چې په دې دلالت کوي چې دهر مرض دپاره خو شفاء نه ده [illegible] دپاره دي پردې خبره خامخا دلالت کوي چې [illegible] عظيمه او [illegible] ده [illegible]

او دالله ﷻ ځينې اهل دل بندګان داسې دي کوم چې [illegible] دپاره [illegible] شفاء کيدونکې هيڅ نه [illegible] قوم [illegible] محکم يقين او مضبوطه اراده او عقيده ده چې د دا [illegible] او [illegible] علاج به [illegible] هم [illegible] اوبدن [illegible] مرضونو [illegible]

[illegible] حضرت ابن [illegible] معلق په روايتونو کې دي چې ده [illegible] که به [illegible] کې [illegible] علاج به [illegible] ځينو خلقو [illegible] ځکه [illegible] وجه [illegible] په جواب کې [illegible]

وفرمايل چې الله ﷻ په قرآن کريم کې ددې په حقله دا نه دي فرمايلي : ﴿فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ﴾ (قرطبي [illegible]) الله ﷻ دخپلو بندګانو سره هم هغه دول معامله کوي څنګه چې [illegible] د خپل رب نه عقيده [illegible] په حديث قدسي کې فرمايي (اَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ) يعنې [illegible] فرمايي چې [illegible] ده [illegible] هغه مطابق معامله [illegible] کوم [illegible]

﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾ : الله ﷻ دخپل کامل قدرت دلورو ذکر سوو مثالونو بيانولو [illegible] [illegible] فکر او کړه [illegible] تاسې ته د [illegible] پيدا کوي چې [illegible] حيوان په ذريعه [illegible] هم تاسې د يو [illegible] او لرګي د بې روحه بتانو دپاره وي؟ او ښه پوهه سې ايا دا هم ستاسې په عقل کې راتلای سي چې دا هر [illegible] په زبان حال [illegible] حکمت والا خالق [illegible] عبادت او [illegible] مستحق دی هغه مشکل کشا دی او شکر او ثناء هغه لره لايق ده.

[illegible] عقل [illegible] کې هم [illegible] دا [illegible] وجه ده چې که دليونتوب په وجه سره د انسان په عقل کې [illegible] دی [illegible]

[illegible] کريم ﷺ [illegible]

[illegible]

الذُّبَابَ كُلُّهَا فِي النَّارِ يَجْعَلُهَا عَذَابًا لِأَهْلِ النَّارِ إِلَّا النَّحْلَ ....
يعنى دنورو ضرر رسونكو حيوانانو په شان دمچمچيو هم ټول قسمونه دوږخ ته ځي چې هلته به دېر دوږخيانو په طور دعذاب مسلط كيږي ، مگر دشات مچې به دوږخ ته نه ځي ، دا رنگ په يو بل حديث كې يې ددې وژل منع كړي دي (ابو داؤد)
۳، دطبيبانو په دې كې خبرې دي چې شات دمچې فُضله ده اوكه نارې (توكاني) يې دې ، ارسطاطاليس د شيشې يو صفا چرگنيې جوړكړې وو مچې يې په دې بندې كړې وې ، هغه د دوى دكارانتظام كتل غوښتل ليكن دې مچو دتولو څخه اول دلوښي پر دننه حصه باندې موم او څه څه پورې كړه ځايونه يې په پره كې كړل او چې تر څو پورې يې ځان پوره نه وو پټ كړى تر هغې يې خپل كار نه شروع كوي .
حضرت علي ﷺ دحقارت مثال وركوي فرمائي .
أَشْرَفُ لِبَاسِ بَنِي آدَمَ فِيهِ لُعَابُ دُودَةٍ وَأَشْرَفُ شَرَابِهِ رَجِيعُ نَحْلَةٍ :
د انسان غوره وريشمي جامه دكاڼتانو دكوچني چينجي نارې دي او دده غوره او مزيدار شربت دمچې فُضله ده .
۴. د : فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ ، څخه دا هم معلومه سوه چې په دوا يې سره دمرض علاج كول جائز دي ، ځكه چې الله ﷻ دا په طور د انعام ذكر كړى دى ، بل ځاى ارشاد دى ، وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ : په حديث كې د دوايي استعمالولو او علاج كولو ترغيب راغلى دى دنبى كريم ﷺ څخه ځينو حضراتو پوښتنه وكړه چې موږ دوائي استعمالوو؟ دوى ﷺ وفرمايل چې ولې نه علاج كوئ ځكه چې نه ﷻ چې كوم يومرض پيداكړى دى دهغه دپاره يې دوائي هم پيداكړي ده مگر ديو مرض علاج نسته هغوى پوښتنه وكړه چې هغه مرض كوم يو دى دوى ﷺ وفرمايل چې بُوډوالي، (ابو داؤد، ترمذي په حواله د قرطبي)
دحضرت خزيمه ﷺ څخه روايت دى دوى فرمايي چې يو وخت ما دنبى كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه چې موږ دا كوم د دم او درود عمل كوو يا په دوايي سره خپل علاج كوو، دغه شان دحفاظت اومحفوظ كيدو چې كوم انتظامونه كوو، آيا دا دالله ﷻ تقدير بدلولى سي ، دوى ﷺ وفرمايل چې دا هم دالله ﷻ د تقدير صورتونه دي .
غرض دا چې په علاج كولو او دوايي استعمالولو او ددې پر جوازځول عالمان متفق دي او په دې سلسله كې بې شميره احاديث او روايتونه راغلي دي دحضرت ابن عمر ﷺ په اولاد كې كه به څوك لړم وچيچي نو ترياق به يې وركول او په دم او درود به يې علاج وركوي دوى دلقوي په مريض داغ ولگوئ او علاج يې ورله وكي (قرطبي)
دځينو صوفيانو څخه نقل دى چې دوى به علاج كول نه خوښول او په اصحابو حضراتو ﷺ كې هم دځينو دعمل څخه دا ثابتيږي ، مثلاً روايت دى چې حضرت ابن مسعود ﷺ مريض سو حضرت عثمان ﷺ يې د پوښتنې دپاره تشريف راوړى او پوښتنه يې ورڅخه وكړه چې تاته څه شكايت دى دوى جواب

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکي چي زما سره دخپلو گناهونو فکر دی حضرت عثمان ﷺ وفرمایل بیا دي دځه شي خواهش دی، وي فرمایل چي زه دخپل رب درحمت طلب گار یم حضرت عثمان ﷺ وفرمایل که ستا خوښه وی ... به طبیب را وغواړم؟ هغوي جواب ورکړو چي طبیب خو زه پرې ایستلی یم، (دلته په مجازي طور سره دطبیب ځنځه مراد الله ﷻ دی)

لیکن دا قسم واقعات ددی خبري دلیل نه دی چي دی حضراتو به علاج کول مکروه گڼل کیدای سی چي دغه وخت به د دوی طبیعت نه غوښتله په دی وجه یې نه خوښوله دا په وقتي طور د غلبي د حال یو کیفیت وي چي دا دعلاج دناجائز یامکروه والي دپاره دلیل نه سی جوړیدی، دحضرت عثمان ﷺ حضرت ابن مسعود ﷺ ته درخواست کول چي زه تا ته طبیب راولم په خپله ددی خبري دلیل دی چي علاج جائز دی، بلکه په ځینو صورتونو کی خو علاج کول واجب سی.

وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفّٰىكُمْ ۙ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ

او الله تاسی پیدا کړاست بیا تاسی مړه کوی، او ځینی په تاسو کی رسیږي ارزل عمرته

لِكَيْ لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْـًٔا ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ۝۷۰

چي ناپوهه سی وروسته دپوهیدو ځنځه په هیڅ شی، الله ﷻ خبردار دی قدرت والا.

لنډتفسیر: او (ستاسی خپل حالت هم دسوچ کولو قابل دی چي) الله ﷻ تاسی ته (اول) پیدا کړل بیا (په عمر ختمیدو) ستاسی روح اخلی (چي ځینی خو په کی ځوانه ځوانی کي مړه سی) او ځینی په تاسی کی هغه دی چي نا کاره عمرته رسول کیږي (چي نه په کی بدنی طاقت پاته وي او نه یې عقل په ځای وی) ددې اثر دا وی چي سره ددې چي دیوشی ځنځه خبر دار وی اوبیا ورځنځه نا خبره سی (چي اکثر داسی سپینږیری لیدل کیږي چي اوس به ورته خبره وسی او فوراً به یې هیره وی، بیابه پوښتنه کوی) بیشکه الله ﷻ لوی علم والا لوی قدرت والا دی (په علم سره هر یو مصلحت لره پیژنی او په قدرت سره هم هغسی کوی، په دی وجه یې د ژوند او وفات حالتونه مختلف کړل، نو دا توحید دلیل دی)

معلومات او مسئلي: ددې ځنځه مخکې الله ﷻ د اوبو، بوټو حیوانانو او شاتو دمچی مختلف حالات بیان کړی او انسان یې په خپل کامل قدرت او دمخلوق دپاره په خپلو انعاماتو خبر دار کړو، اوس په دی آیاتونو کی ده ته په خپل اندرونی حالاتو دغور او فکر بلنه ورکوی چي انسان هیڅ نه وو، الله ﷻ دی دنشت ځنځه شته کړو، بیا چي کله وغواړی مرگ ورته را ولی او دغه نعمت ور ځنځه اخلی او ځینی خو دمرگ ځنځه مخکې داسی زوړوالی ته ورسوی چي هوش وحواس یې په ځای پاته نه سی دلاسو ښو طاقت یې ختم سی نه بیادی په څه خبره پو هیږي او خبره یاده ساتلای سی، دا ادلون بدلون په دی خبره دلالت کوی چي علم او قدرت ددغه ذات په خزان کی دی کوم چي خالق او مالك دی.

وَمِنْكُمْ مَنْ يُرَدُّ: د مَنْ يُرَدُّ په لفظ سره اشاره دی طرف ته چي په انسان اول هم دضعف او کمزوری یو حالت تیرسوی دی دا دده دکوچنیوالی ابتدائی دور وو چي دی په کی دځه عقل وفکر مالك نه وو دده

Maktaba Tul Ishaat.com

قوي بالكل كمزوري او نا توانه وي ، دي دخپلي لوړي تندي ليري كولو او كښينستو ولاړيدو كي نورو ته محتاجه وو ، بيا الله ﷻ ده ته ځواني ورکړه ، دا ده دترقي زمانه ده ، بيا كرار كرار دي دزوروالي داسي درجي ته رسوي چې په كې دې بالكل هغه شان كمزوري او ضعيفي ته واپس كوي ، لكه څنګه چې په كوچنيوالي وو .

اَرْذَلِ الْعُمُرِ : ددي څخه مراد د زوروالي هغه عمر دي په كوم كې چې دانسان ټول جسماني او دماغي قوتونه ختم سي ، نبي كريم ﷺ به ددي عمر څخه پناه غوښتله ارشاد دي .

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ سُوْءِ الْعُمُرِ وَ فِيْ رِوَايَةٍ مِنْ اَنْ اُرَدَّ اِلٰى اَرْذَلِ الْعُمُرِ

يعني اى الله زه ستا سي پناه غواړم دناكاره عمر څخه او په يو روايت كې دي چې پناه غواړم دارذل عمر څخه

د اَرْذَلِ الْعُمُرِ په تعريف كې څه تعين نسته ، البته ذكر سوى تعريف راجح معلوميږي چې ددي طرف ته قرآن هم په [illegible] لِكَيْ لَا يَعْلَمَ مِنْۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا [illegible] هوش او حواس باقي نه پاته كيږي نو ددي نتيجه دا وي چې دخپل ټول معلومات هير كړي

د اَرْذَلِ الْعُمُرِ په تعريف كې نور اقوال هم دي چې څنو ۸۰ كاله عمر ارذل العمر مقرر كړى دى او څنو [illegible] (تفسير مظهري)

لِكَيْ لَا يَعْلَمَ مِنْۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا : دبوډاوالي انتهائي درجي ته ورسيدو څخه وروسته په سړي كې نه جسماني قوت باقي پاته كيږي او نه عقلي ، چې ددي اثر دا وي چې دير شي څخه سړه دخبريدو نا خبره وي ، ټول معلومات ور څخه هير سي بالكل دېرون دبچي په دول سي چې نه يې علم او خبروي او نه پوهه ، حضرت عكرمه ﷺ فرمايي چې دقرآن ويونكي به دا حالت نه وي .

اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ : بيشكه الله ﷻ لوى علم والا ، لوى قدرت والا دي ، په علم سره ورته دهر سړي عمر معلوم دى او په قدرت سره چې څه غواړي كولاي سي ، كه وغواړي نو په طاقتور ځوان باندي دارذل عمر حالت را وستلاي سي او كه وغواړي نو ديرلو [illegible] كالو زوړ انسان هم ځوان او طاقتور كولاي سي ، دا هر څه دهغه ذات دقدرت په لاس نو كې دي دكوم چې هيڅوك شريك نسته .

وَاللّٰهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ ۚ فَمَا الَّذِيْنَ فُضِّلُوْا

او الله تعالى غوره والى دركړى دى څينو تاسي لره په څينو په رزق كې ، پس كوم لره چې غوره والى

بِرَآدِّيْ رِزْقِهِمْ عَلٰى مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَهُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ ؕ

وركړى سوى دى نو هغوى نه دي وركونكي دخپل رزق هغو ته چې مالكان يې دي د هغوى ، (لا تفريق) چې سره دوى ټول په كې

اَفَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ﴿۷۱﴾

برابر سي ، آيا دالله تعالى دنعمت څخه منكر دي .

تفسیر: او (دتوحید) دثابتیدو سره دشرک قبیح والی دخپل مینځ په یوه معامله کی واوری چی، الله ﷻ په تاسی کی ځینو لره پر ځینو په رزق کی غوره والی درکړی دی (مثلاً څوک یی غني او دغلامانو مالک جوړکی چی د دوی په لاسونو سره دغه غلامانو ته هم رزق رسیږي او ځینی یی غلامان جوړکړل چی دوی ته دمالکانو دلاسونو څخه رزق رسیږي او ځینی یی نه داسی غنیان جوړکړل چی نورو غلامانو ته یی ورکړي نه یی غلامان جوړکړل چی دیومالک دلاسه څخه ورته رسیږي) نو کومو خلقو ته چی (په رزق کی خاص) فضیلت ورکړل سوی دی (چی مال ورسره هم دی اوغلامان یی هم دي (دغه) (خلق) دخپلي حصي مال خپلو غلامانو ته داسی هیڅکله ورکوونکی نه دی چی دوی (مالکان او غلامان) ټول په دی کی برابر سی (څکه چی که غلام یی ساتي او مال ورکوي نو دهغوي ملکیت نه سی راتلی بلکه بدستور دمالک په قبضه کی به وي اوکه ازاد وي یی او ورکوي نو بیا مساوات ممکن دی مگر هغه به بیا غلام نه وي نو غلامي او مساوات ممکن نه دی دغه شان دا بتان وغیره هرکله چی دمشرکانو په اقرار سره د خدای ﷻ مملوك دی . نو سره د مملوکوالی په عبادت کی به دخدای سره څنگه برابر سی؟ په دی کی خو دشرک انتهائی قبیح والی دی چی کله ستاسی غلامان ستاسی سره په رزق کی نه سی شریکیدای نو د الله ﷻ غلامان دهغه سره په خدایی کی څنگه شریکیدای سی) آیا (ددی مضمون اوریدو څخه وروسته)بیا هم(دخدای ﷻ سره شریک جوړ وي چی ددي څخه خوعقلاً دا لازمیږي چی) دخدای ﷻ دنعمت (یعنی ددی خبري چی خدای ﷻ نعمت ورکړی دی) انکار کوي.

معلومات او مسئلي: ددی څخه په مخکنیو آیتونو کی الله ﷻ دخپل علم اوقدرت مهمي نخښي اوانسان ته د ورکړل سوو نعمتونو ذکر وفرمایي او دخپل یووالي فطري دلیلونه یی بیان کړي دي چی ددی په لیدو سره د ادنی پوهي سړی هم یو مخلوق دالله ﷻ سره دده په صفتونو دعلم اوقدرت وغیره کی شریک نه سی منلی په دی آیت کی یی دتوحید دا مضمون دخپل مابین دیوي معاملي په مثال سره واضح کړی دی چی الله ﷻ په خپل حکمت بالغه سره د انساني مصلحتونو پر بنا باندی په رزق کی ټول انسانان نه دي برابر کړي بلکه ځینو ته یی پر ځینو فضیلت ورکړی دی او مختلفي درجی یی قائمي کړي دي څوک یی داسی غني جوړکړی چی د ساز او سامان مالک دی نوکران خادمان او غلامان لري، دی په خپله هم دخپلي منشاء مطابق خرڅ کوي او غلامانو او خدمت گارانو ته هم دده دلاسه رزق رسیږي اوڅوک یی غلام او خدمت گار جوړکړی چی دی به په نوروڅه خرچ وکړي دده خپل خرڅ هم دنورو دلاسه ده ته رسیږي او څوک یی درمیانه حاله جوړکړو نه دومره غني دی چی په نورو خرچ وکړي نه دومره فقیر او محتاج چی دخپلو ضرورتونو دپاره هم بل نه محتاج وي.
ددی قدرتي تقسیم دا اثر هر سړی وینی چی چاته په رزق کی فضیلت ورکړل سوی دی او غني جوړسوی دی هغه هیڅکله هم دا خبره نه خوښوي چی خپل مال په خپلو غلامانو او خدمت گارانو داسی تقسیم کړي چی هغوي هم په دی مال کی دده سره برابر سی
په دی مثال باندی پوهه سی چی هرکله مشرکان هم دا خبره مني چی دا بتان او نور مخلوقات دکومو چی دوی عبادت کوي . ټول دالله ﷻ مخلوق اومملوک دی نو دا څنگه خوښوي چی دا مخلوق او

Maktaba Tul Ishaat.com

مملوک دخپل خالق اومالک سره برابر سی ، آیا داخلق داټولي نخښي ويني او دا مضامين اوري بیا هم دخدای ﷻ سره څوک شریک او برابر ګرځوي، ددی لازمي نتیجه دا ده چی دوی دخدای ﷻ دنعمتونو څخه انکار کوی ، ځکه چی که دا اقرار یی وی چی دا ټول نعمتونه صرف دالله ﷻ دطرفه راکړل سوی دي په دی کی چادځانه جوړسوی بُت یا یو انسان او پیري هیڅ دخل نسته ، نو بیا به یی دا شیان دالله ﷻ سره څنګه برابر ګرځول.

دامضمون په سورة روم په دی آیت کی هم ارشاد سوی دی، ضَرَبَ لَكُمْ مَثَلًا مِنْ أَنْفُسِكُمْ هَلْ لَكُمْ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ مِنْ شُرَكَاءَ فِيمَا رَزَقْنَاكُمْ فَأَنْتُمْ فِيهِ سَوَاءٌ (سورة روم آیت ۲۸) ستاسی دپاره په تاسی کی یومثال درکول کیږي کوم خلق چی ستاسی ترلاس لاندی دی آیا هغوي زمونږ په درکړی رزق کی ستاسی سره شریک دی داسی چی تاسی په کی برابر سوی یاست؟

ددی هم مطلب دا دی چی تاسی خپل مملوک غلامان اوخدمتګاران دځان سره برابرول نه خوښوی نو د الله ﷻ دپاره دا څنګه خوښوی چی هغه او دهغه مخلوق اومملوک شیان دهغه سره برابر سی.

(په معاش کي ددرجو اختلافات د انسانانو دپاره رحمت دی)

په دی آیت کی په واضح طور سره دا هم ښوول سوی ده چی فقیري او غني والی او په معیشت کی د انسانانو مختلفي درجي کیدل چی څوک امیر دی څوک غریب څوک درمیانه حال دا څه اتفاقي حادثه نه ده دالله ﷻ دحکمت بالغه تقاضا ده او دانسانانو مصلحت داسی غواړي او د دوی دپاره رحمت دی که داسی صورت پاته نه سی او په مال او سامان کی ټول انسانان برابر سی نو د عالم په نظام کی به خلل او فساد پیداسی ، په دی وجه د کله څخه چی دنیا اباده سوی ده په یو دور او یوه زمانه کی ټول انسانان دمال او اسباب په اعتبار سره برابر سوی نه دي او نه کیدای سی او که چیري په زبردستي سره داسی مساوات پیداهم کړل سی نو په لږو ورځو کی به ټول انساني کاروبار کی خلل او فساد ولیدل سی الله ﷻ لکه څنګه چی انسانان دعقل دماغي قوت اوطاقت او د کار دصلاحیت په اعتبار سره په مختلفو مزاجونو کی تقسیم کړی دی او په دوی کی د اعلی ادنی او متوسط اقسام دي چی ددی څخه یو دعقل خاوند هم ا نکار نه سی کولی دغه شان دا هم ناچاري وه چی په مال او اسباب کی هم دا مختلفي درجي قائمي وي چی هر سړی د خپل خپل صلاحیت په اعتبار سره بدله پیداکړي او که صلاحیت والا او نااهله برابر کړل سی نو دا په صلاحیت والاوو دل شکني وي چی په معیشت کی دوی د نااهلو برابر دی نو دوی بیا ولي دومره جد او جهد او کار کوي چی ددی لازمي نتیجه به صلاحیت بربادول وي.

(ددولت پریوځای دجمع کیدو خلاف قرآني حکمونه)

البته دکائناتو خالق چی کوم ځای په عقلي او جسماني قوتونو کی ځینو لره پر ځینو فضیلت ورکړی او ددی مطابق یې په رزق او مال کی تفاوت قائم کړی ، هلته یې دمعائش دا محکم نظام هم قائم کړی چی داسی ونه سی چی د دولت په خزانو او دکسب معاش په مرکزونو یوڅو افراد یا یو خاص جماعت قبضه وکړی ، نورو دصلاحیت خاوندانو ته ګرسره میدان پاته نه سی چی دوی دخپل عقل اوجسماني

صلاحیتونو څخه کار واخلي او په معاش کې ترقي وکړل سي ، په دې وجه دقرآن کریم په سورة حشر کې ارشاد فرمایي ، كَيْلَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنْكُمْ :یعنی مونږ ددولت دتقسیم قانون ځکه جوکړی چې دولت صرف دسرمایه دارو سره بند پاته نه سي، نن صبا ددنیا په معاسی نظامونو کې چې څومره خرابي خپره سوې ده دغه ددې الهي قانون دنظر انداز کولو په وجه سره ده یو طرف ته سرمایه دارانه نظام دی چې په دې کې د دولت پر مرکزونو دسود او قمار په لارو سره یو څو افراد یا یو څو جماعتونه قابض سوي دي باقي ټول مخلوق یې په خپلو معاشي غلامانو جوړولو باندې مجبوره کړي دي د دوی دپاره بغیر د غلامي او مزدورۍ څخه بله لار دخپلو ضرورتونو پوره کولو دپاره نسته دوی دخپلو اعلی صلاحیتونو باوجود دصنعت اوتجارت په میدان کې قدم نه سي اېښودی.
دسرمایه دارو ددې ظلم او زیاتوب دَ رَدِّ عمل په طور باندې یو متضاد نظام د اشتراکیت دکمیونزم یا سوشلزم په نوم سره په وجود کې راغي چې ددې نعره د امیر اوغریب تفاوت ختمول او په ټولو کې مساوات پیداکول دي ، دسرمایه دارو دظلمونو څخه تنګ سوی عوام په دې نعره پسې سی مګر په څو ورځو کې دوی ووینې چې دا نعره محض فریب وو دمعاشي مساوات خوب شرمنده تعبیر نه سو او غریب چې دخپلې لوږي تندې سره هم یو انساني احترام درلودی دخپلې مرضي مالک وو دغه انساني احترام یې هم دلاسه ووتی په اشتراکي نظام کې د انسان هیڅ قدر او قیمت دمشین دیوې پُرزې څخه زیات نسته د څه جایداد دملکیت خو هلته تصور هم نه سي کیدای او کومه معامله چې هلته د یو مزدور سره کول کیږي پردی چې غور وسی نو دی دهیڅ شي مالک نه وي دده اولاد اوښځه هم دده نه وي بلکه ټول د ریاست دمشین کل پرزې وي کومه چې دمشین د استارټ (شروع) کیدو سره په خپل کار دلګیدو څخه ماسوا بله چاره نه وي درياست د جوړو سوو مقصدونو څخه ماسوا نه دده څه ضمیر وي نه آواز، درياست د زور او سختیو او ناقابل برداشت محنت څه اسویلي کول هم یو بغاوت شمیرل کیږي چې سزا یې مرګ دی دخدای ﷻ او دمذهب مخالفت اوخالص ماده پرستي د اشتراکی نظام بنیادي اصول دي.
دا هغه حقیقتونه دي چې ددې څخه یو اشتراکي هم انکار نه سی کولی د دوی دپیشوایانو کتابونه او عمل نامې پردی شاهد دي چې ددې حوالو جمع کول هم یو مستقل کتاب جوړول غواړي.
قرآن کریم دظالمانه سرمایه داري او احمقانه اشتراکیت دواړو په مینځ کې د افراط او تفریط څخه پاک یو داسې نظام جوړکړی دی چې په رزق او دولت کې دفطري تفاوت باوجود یو فرد یا جماعت عام مخلوق خپل غلامان نه سی جوړولی او په مصنوعي ګراني او قحط کې نه سی اخته کولی سوُد او خمار یې حرام وګرځوي ، د ناجائزه سرمایه داري بنیاد یې ونړوی بیا یې دهرمسلمان په مال کې دغریبانو حق مقررکې او ورسره شریک یې کړل ، چې داپرغریبانو احسان نه دی، بلکه خپل فرض ادا کول دي ، آیت ، وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ * لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ : په دې شاهد دی ، بیا دمرګ څخه وروسته دمري ټول ملکیت یې دخاندان پر افرادو تقسیم کړی او د دولت دجمع کیدلو خاتمه یې وکړه، قدرتي چینې، سمندرونه او د غرونو ځنګلونه د ځانه سره پیداوار یې دخدای ﷻ دمخلوق

Maktaba Tul Ishaat.com

شریکه سرمایه مقرر کړه چې پردی دیو سړي یا یو جماعت مالکانه قبضه جائز نه ده او په سرمایه داري نظام کې دا ټول شیان صرف د سرمایه دارو ملکیت مقرر سوي دی.

چونکه دعلمي اوعملي صلاحیتونو تفاوت او اختلاف یو فطري امر دی او دمعاش حاصلول هم د دي صلاحیتونو تابع دی په دی وجه په مال او دولت کې تفاوت هم عین دمساوات نعري لګوونکی هم دیو څو قدمه تللو څخه وروسته ددی مساواتو ددعوی په پرېښودو او په معیشت کې په تفاوت او زیاتوب او کمي پیداکولو باندی مجبوره سو

خروشف په ۵ مئ سنــ ۱۹۲۰ـــه کی دسپریم سویت په وړاندی تقریر کوي وي ویل

(مونږ په اجرتونو کې دفرق ختمولو دتحریک په سختې سره مخالف یو مونږ په اجرتونو کې دمساوات قائمولو او د دوی یوې سطحی ته د راوستلو په ډاګه مخالف یو، دا د لینن تعلیم دی دهغه تعلیم دا وو چې په سوشلسټ نظام کی به دمادي محرکاتو پوره لحاظ ساتل کیږي؛

(سویټ ورلډ ص ۳۴۲)

دمعاشی مساواتو دخوب داتعبیر دعدم مساوات خو د اول څخه مخ ته راغلی وو مګر د لیدو لیدو سره دا عدم مساوات او د امیر اوغریب تفاوت په اشتراکي حکومت روس کی تر عامو سرمایه دارو ملکونو هم مخ ته تیر سو.

لیون شیډو لیکي

شاید یوځای یو سرمایه دار ترقي یافته ملک داسی کوم ځای وي چی دمزدورانو په اجرتونوکی بی دومره تفاوت وي څومره چی په روس کی دی.

د واقعاتو دی څو مثالونو د آیت، وَاللّٰهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ: جبري تصدیق بی دمنکرانو د ژبو څخه وکي، وَاللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ، دلته ددی آیت لاندی خو صرف دومره بیانول وو چی په رزق اومال کی تفاوت قدرتي او فطري او د انسان د مصلحتونو سره عین مطابق دی باقي د دولت دتقسیم اصول او دسرمایه داري او اشتراکیت دواړو څخه ددی امتیاز خو به انشاء الله دسورة زخرف پاره ۲۵ د آیت نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ: لاندی راسی، او په دی موضوع د احقر یوه مستقله رساله د اسلام کانظام تقسیم دولت، په نوم سره شائع سوی ده دهغه مطالعه هم کافي ده

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ أَزْوَاجِكُم بَنِينَ

او الله پیداکړی دی تاسی دپاره ستاسی دقسم څخه ښځی او درکړی یی دی تاسی ته ستاسی دښځو څخه زامن

وَحَفَدَةً وَرَزَقَكُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَتِ اللّٰهِ

اولمسی او خوراك یی درکړی دی تاسی ته پاك شیان، پس ایا درواغ خبری منی او دالله تعالی فضل

هُمْ يَكْفُرُوْنَ ﴿۷۲﴾ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ

نه منی ، او عبادت کوی دالله تعالی څخه ماسوا دهغو چې اختیارمند نه دی

لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ شَيْئًا وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿۷۳﴾

د دوی درزق داسمان اومځکې څخه هیڅ هم او نه قدرت لري

فَلَا تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ الْاَمْثَالَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ

پس مه جوړوی په الله پوری مثالونه ، بیشکه الله تعالی پوهیږي اوتاسی

لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۷۴﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوْكًا لَّا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ

نه پوهیږي ، الله تعالی ونبووی یو مثال یوبنده غلام قدرت نه لری په څه شی

وَّمَنْ رَّزَقْنٰهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ سِرًّا

او یو کوم له چې ورکړی دی مونږ رزق دخپل طرف څخه خاص رزق پس هغه خرڅ کوی ددې څخه په پټه

وَّجَهْرًا ؕ هَلْ يَسْتَوٗنَ ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾

او په ښکاره ، ایا دا دواړه برابریدی سی؟ تول ثنا صفت الله لره دی ، بلکه ډیرخلق نه پوهیږي ،

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ اَحَدُهُمَآ اَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلٰى

اوبنوولی دی الله تعالی یوبل مثال دوه سړی دی یو گونگی چې هیڅ کار نه سی کولی

شَيْءٍ وَّهُوَ كَلٌّ عَلٰى مَوْلٰىهُ ۙ اَيْنَمَا يُوَجِّهْهُّ لَا يَاْتِ بِخَيْرٍ ؕ

اودی بار دی پرخپل مولا باندی کوم طرف ته چې یې دی لیږي نوڅه خیر نه راوړی

هَلْ يَسْتَوِيْ هُوَ ۙ وَمَنْ يَّاْمُرُ بِالْعَدْلِ ۙ وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۷۶﴾ ع

ایا برابر دی دغه او یو هغه سړی چې حکم کوی په انصاف سره ، او دی په سیده لاره باندی

لنډتفسیر: او منجمله ددلیلونو دقدرت او وجهو د نعمت څخه یو لوي نعمت او دلیل دقدرت دالله ﷻ په خپله ستاسی وجود او ستاسی بقاء اوستاسی نوعه ده چې الله ﷻ ستاسی څخه (یعنی ستاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

دجنس او نوع څخه) ستاسی دپاره ښیباني جوړي کړي او (بیا) ددی ښیبیانوڅخه یی ستاسي زامن او لمسي پیدا کړل (چی دا دنوع بقاء ده) اوتاسی لره یی ښه ښه شیان خوراک (او څښاک) لره درکړل (چی دا ستاسی د بدن بقاء ده او چونکه بقاء موقوفه نه ده پر وجود باندی په دی کی دی طرف ته هم اشاره وسوه) آیا (دا ټول دلیلونه دنعمتونو اوري) بیا هم په بی بنیاده شی (یعنی بتانو وغیره چی د دوی دمعبودوالي هیڅ دلیل نسته بلکه ددلیل څخه خلاف ده) ایمان لري او دالله ﷻ دنعمت ناشکري (بي قدري) کوي او (مطلب ددی ناشکري دا دی چی) الله ﷻ پریږدي دداسی شیانو عبادت کوئ چی نه د آسمان څخه دوی ته درزق رسولو اختیار لري او نه دمځکی څخه (یعنی نه د باران اورول دوی اختیار لري او نه دمځکی څخه دخه پیداکولو) او نه (د اختیار حاصلولو) قدرت لري (ددی په نفي سره زیاته مبالغه وسوه څکه چی ځینی وخت لیدل کیږي چی یوسړی بالفعل خو اختیارمند نه وي ، لیکن په جد اوجهد سره اختیارات حاصلوي په دی وجه یی ددی هم نفي وفرمایل) نو (هرکله چی دشرک بطلان ثابت سو نو) تاسی دالله ﷻ دپاره مثالونه مه جوړوئ (چی دالله ﷻ مثال ددنیا دبادشاهانو په شان دی هر سړی دوی ته خپل حاجت نه سی عرض کولی نو په دی وجه ددوی نائبان وي چی عوام هغوي ته خپل حاجتونه عرض کوي بیا یی دوی بادشاهانو ته وړاندی کوي لکه په تفسیر کبیر کی چی دی، را اخیستل سوی ددی قول څخه ، مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَا* هٰٓؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَاعِنْدَاللّٰہِ الله ﷻ (ښه) پوهه دی (چی داسی مثالونه محض مهمل دی) او تاسی (په وجه د نیستوالی دتدبیر) نه پوهیږي (په دی وجه چی څه غواړئ هغه عبثیات کوئ او) الله ﷻ (دشرک د باطلوالی ښکاره کولو دپاره) یو مثال بیان فرمایي چی (فرض کړه) یو (خو) غلام دی (دچا) مملوک چی (د تصرف کولو په مالونو کی د) څه شی (بي د اجازت دمالک څخه) اختیار نه لري او (بل) یو سړی دی چی هغه ته مونږ دخپل طرف څخه ښه رزق ورکړی دی نو ددی څخه په پټه اوپه ښکاره (څنګه چی غواړي) خرڅ کوي (ده لره څوک منع کوونکی نشته) آیاداقسم سړي په خپل مینځ کی برابریدی سی (نوهرکله چی مجازي مالک اومجازي مملوک نه سی برابریدی نو مالک حقیقي او مملوک حقیقي کله برابریدی سی، او مستحق والي دعبادت موقوف دی پر برابري باندی او هغه سته نه) ټول ثناء او صفت الله ﷻ لره لایق دی (څکه چی په ذات اوصفاتو کی کامل هغه دی پس معبود هم هغه کیدی سی مګر بیا هم مشرکان د غیر الله عبادت نه پریږدي) بلکه په دوی که اکثر خو (په وجه د نستوالي دتدبر) نه پوهیږي (او چونکه نستوالی دعلم په خپله د دوی سبب نستوالی دعلم په خپله د دوی سبب دنستوالي دتدبیر دی ، په دی وجه به معذورنه وي) اوالله ﷻ (د دوی دوضاحت دپاره) یوبل مثال بیان فرمایي چی (فرض کړه) دوه سړي دي چی په دوی کی یو خو (دغلاموالی څخه علاوه) ګونګی (کوڼ هم) دی (او په وجه دکوڼ والي او ګونګي والي او بي عقله کیدو) هیڅ کار نه سی کولی او (په دی وجه) دکوڼ خپل مالک وبال جان دی (چی دغه مالک دده ټول کارونه کوي او) هغه (مالک) چی دی هرچیري لیږي یو کار هم نه برابروي (یعنی په خپله څه کول خو پریږده چی د نورو په ښوونه هم دده څخه یو کار نه سمیږي نو) آیا دا سړي او داسی سړي دیو بل سره برابریدی سی کوم چی دښو خبرو ښودنه کوي (چی په دی سره ددی خبري کوونکی هوښیاروالی علمي

Maktaba Tul Ishaat.com

قوت معلومیږي)او په خپله هم (هرکله) په درمیانه طریقه باندی چلیږي (چی په دی سره دده علمي قوت منظم معلومیږي ، هرکله چی په مخلوق کی سره دشریک والی دماهیت اوشریک والی دصفتونو دا تفاوت دی نو چیري مخلوق اوخالق او د، لاَيَقْدِرُ، په ترجمه کی بي له اجازته د مولا د قید څخه چی کومه په تیرو آیتونو کی ده، فقهي شبهي دفع سوی اوخوک دي په دی وسوسه کی نه لویږي چی شاید غیره الله معبود ته به هم اجازت سوی وي جواب دا دی چی د رب والي دپاره نه چاته اجازت سوی دی او نه به وسی)

معلومات اومسئلي: جَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا : په دی آیت کی دیومهم نعمت ذکر فرمایي چی الله ﷻ ستاسی دجنس اوقوم څخه ستاسی بیبیاني جوړي کړي چی دیو بل سره موالفت او مؤانست هم پوره وي او د انساني شرافت او بزرگي هم قائمه وي، دویمه اشاره دی طرف هم کیدای سی چی ستاسی بیبیاني ستاسي دجنس څخه دي د دوی ضرورتونه او جذبات هم ستاسي په شان دي نو د دوی دجذبانو او خواهشاتو ساتنه پر تاسی لازم ده.

وَجَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ بَنِينَ وَحَفَدَةً : یعنی ستاسی دبیبیانو څخه مونږ ستاسی زامن او لمسي پیداکړل. دلته دا خبره دکتلو قابله ده چی اولاد خو دمور اوپلار دواړو څخه پیداکیږي په دی آیت کی د دوی صرف دمیندو څخه د پیداکیدو ذکر کړی دی په دی کی اشاره ده چی د بچي په پیداکیدو کی دپلار په نسبت دمور دخل زیات دی دپلار څخه خو صرف یوه بي روحه قطره وزي ، په دي قطره مختلف قسم دورونه تیریدل په انساني شکل کی بدلیدل او په دی کی روح راتلل دقدرت ددی تولو پیدائشی کارنامو ځای د مور نس دی ، په دی وجه په حدیث کی د مور حق دپلار تر حق اول اینبودل سوی دی. په دی جمله کی د زامنو سره دلمسیوپه ذکر کولو کی دی طرف ته هم اشاره کیږي چی ددی جوړي جوړولو اصل مقصد د انساني نسل باقي پاته کیدل دي چی اولاد بیا د اولاد په مخه کیږي نو دا د انساني د نوع د باقي پاته کیدو اسباب سو.

بیاپه: وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ :کی یی د انسان دشخصي (یعنی بدني) بقاء اسباب ذکر کړل چی انسان پیدا سی نو بیا دده د وجود د بقاء دپاره د خوراک ضرورت دی دغه هم الله دده دپاره تیار کړو، په آیت کی د لفظ د :حفدة، اصل معنی د مددگار او خدمت گار ده، د اولاد دپاره ددی لفظ په استعمالولو کی دی طرف ته اشاره ده چی اولاد دخپل مور او پلار دپاره خادمان کیدل په کار دي (قرطبي)

فَلَا تَضْرِبُوا لِلَّهِ الْأَمْثَالَ : کی یی یو مهم حقیقت واضح کړی دی چی ددی څخه غفلت کولو سره تول کافرانه شکونه او شبهي پیداکیږي هغه دا چی په عام طور سره خلق الله ﷻ په خپل نوع د انسانانو باندی قیاس کوي په دوی کی دتولو څخه لوی انسان مثلاً بادشاه او فرمانرواته دالله ﷻ مثال مقرروي او بیا پردی غلط بنیاد باندی دالله ﷻ دقدرت نظام هم دانساني بادشاهانو پرنظام قیاس کوي او داسی وایی چی لکه څنگه چی په یو حکومت او بادشاهت کی یوازي بادشاه د تول ملک انتظام نه سی چلولی بلکه خپل ما تحتو وزیرانو او نورو افسرانو ته اختیارات وسپاري د دوی په ذریعه دحکومت انتظام چلوي دغه شان دا هم په کار ده چی دالله ﷻ ما تحت څه نور معبودان هم وي کوم چی دالله ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com

په کارونو کی دده مدد کوي دا دټولو بُت پرستو اومشرکانو عامه نظریه ده دی جملی د دوی ددی شبهي ریښې پریکړي چی دالله ﷻ دپاره دمخلوق مثالونه پیش کول په خپله بي عقلي ده هغه دمثالونو او زمونږ دوهمونو او ګمانونو څخه ډیر بالاتر دی.

په اخري دوو ۲ آیتونو کی چی یی دانسان کوم دوه مثالونه ورکړي دي ، په دوی کی یی په اولني مثال کی دمالک اوغلام مثال ورکړی دی او ښودلی یی ده چی کله سره ددی چی دا دواړه دیوجنس اویو نوع دی او بیا هم دیو بل سره نه سی برابریدی نو یو مخلوق دخدای ﷻ سره څنګه برابر وي ؟

او په دویم مثال کی یو طرف ته یو انسان دی چی خلقو ته عدل او انصاف اوښی خبري ښیی کوم چی دده دعلمي قوت کمال دی اوپه خپله هم پر معتدله اوسیده لاره باندی چلیږي کوم چی دده دعلمي قوت کمال دی ، په دی علمي اوعملي قوت کی دمکمل انسان په مقابله کی هغه انسان دی کوم چی خپله خپل کار کولی سی او نه دبل کار برابر ولی سی دا دواړه قسمه انسانان دیوجنس یونوع اویوې وررولي کیدو باوجود په خپل مینځ کی نه سی برابریدی نو خالق او مالک دکائناتو کوم چی حکیم مطلق او قادر مطلق او علیم او خبیر دی دده سره یو مخلوق څنګه برابریدی سی ؟

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ وَمَآ اَمْرُ

او دالله تعالی سره دی غیب داسمانونو او دمځکی اودقیامت کار

السَّاعَةِ اِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ اَوْ هُوَ اَقْرَبُ ۗ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى

خو داسی لکه دسترګو رپ یاددې څخه هم زیات نژدی ، بیشکه الله تعالی په

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۷۷﴾ وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِّنْۢ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ

هر شی قادر دی ، او الله تعالی تاسی را ویستلاست ستاسی دمندو دګیډو څخه

لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْئًا ۙ وَّجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۙ

چی نه پوهیدی په هیڅ شی ، او دریی کړل تاسی ته غوږونه اوسترګی اوزړونه

لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۸﴾ اَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرٰتٍ فِيْ جَوِّ

ددې دپاره چی تاسی احسان ومنی ، ایا نه ګوری مرغانو ته په حکم سره تړلی سوی په هواکی

السَّمَآءِ ۗ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا اللّٰهُ ۗ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ

داسمان . نه دی ټینګ کړی دوی مګر الله ، په دی کی نخښی دی دهغو خلقو دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

يُؤْمِنُونَ ﴿٧٩﴾ وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّن بُيُوتِكُمْ سَكَنًا وَجَعَلَ

کوم چی یقین کوی او الله جوړکړی دی تاسی ستاسی کورونه دوسیدوځایونه اوجوړ کړی یی دی

لَكُم مِّن جُلُودِ الْأَنْعَامِ بُيُوتًا تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ

تاسی لره دحیوانانو دڅرمنو څخه کورونه چی سپك وی په تاسی په ورځ دسفر ستاسی

وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ ۙ وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَا

او په ورځ دکور پاته کیدو او دپسو دوړیو او داوښانو دوېښتیانو څخه او دبزو دوېښتیانو څخه

أَثَاثًا وَمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴿٨٠﴾ وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَالًا

ځومره اسبابونه اوداستعمال شیان دمقرروخت پوری، اوالله جوړکړی دی تاسی دپاره دخپلوجوړکړوشیانو څخه سایه

وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ الْجِبَالِ أَكْنَانًا وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ

او جوړ کړی یی دی تاسی دپاره په غرونو کی پټیدوځایونه اوجوړ کړی یی دی تاسی ته قمیصونه

تَقِيكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيلَ تَقِيكُم بَأْسَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهُ

چی ساتونکی دی ستاسی دګرمی څخه اوقمیصونه چی ساتونکی دی ستاسی دجنګ څخه ، دارنګه پوره کوی

عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ ﴿٨١﴾ فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ

خپل احسان پرتاسو ددې دپاره چی تاسی حکم ومنی ، بیاکه واپس سی نو ستاکار خودا دی ښکاره

الْمُبِينُ ﴿٨٢﴾ يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ اللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا وَأَكْثَرُهُمُ

بیانول ، پیژنی دالله تعالی احسان بیا ورڅخه انکار کوی اودیر په دوی کی

الْكَافِرُونَ ﴿٨٣﴾ ع

ناشکره دی

لنډتفسیر : او دآسمان اومځکی تولي پټي خبري (کومي چی چاته معلومي نه دي په اعتبار دعلم) دالله
ﷻ سره خاص دی (نو په صفت دعلم کی هغه کامل دی) او (په قدرت کی داسی کامل دی چی ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

غیبو ښځه کوم عظیم کار دی یعنی) دقیامت (ددی) معامله بس دا سی (چټ پټ) به وي لکه دسترګو
رپول بلکه ددی ښځه هم ژر (دقیامت دمعاملي ښځه مراد دی په مړوکی روح را تلل او ددی په نسبت
دسترګو درپ ژر کیدل ظاهره ده ځکه چی د زماني ښځه ډیر ژر وی او په دی باندی تعجب دی نه کول
کیږي ځکه چی) یقیناًالله ﷻ په هر ډول پوره قدرت لري (او دقدرت ثابتولو دپاره دقیامت تخصیص
یی شاید په دی وجه وکي چی دی په ټولو غیبو شیانوکی خاص هم دی په دی وجه دغه دعلم اودقدرت
دواړو دلیل دی ، دواقع کیدو ښځه مخکی دعلم او دواقع کیدو ښځه وروسته دقدرت) او(منجمله
ددلیلونو دقدرت او وجهو دنعمت ښځه داکاردی چی) الله ﷻ تاسی ستاسي دمیندو دګیډو ښځه په
دی حالت کی را وایستلاست چی تاسی هیڅ هم نه پیژندل (ددی درجی نوم دفلاسفه وو په اصطلاح
کی عقل هیولاني دی) او ده تاسی ته غوږونه درکړل اوسترګي او زړه چی تاسی شکروکاږئ (په قدرت
باندی ددلیل دپاره) آیا خلقو مرغان لره نه دی لیدلی چی تر آسمان (لاندی) په فضاء کی (دقدرت)
مسخردی (یعنی) دوی (دغه ځای) هیڅوک نه سی ټینګولی بغیر دالله ﷻ ښځه (کنه نو د دوی دجسمونو
دروندوالي او دهوا نرم والي دا غواړي چی دوی لاندی راسی په دی وجه په دی ذکر سوی کارکی)
دایماندارو دپاره (دالله ﷻ د قدرت) څو دلیلونه دي (موجود ، څو نځښي یی په دی وجه وفرمایلي چی
مرغان په خاص وضع سره پیدا کول چی په دی سره الوتل ممکن وي ، یو دلیل دی ، بیافضاء په داسی
طرز باندی پیداکول چی الوتل په کی ممکن وی ، دویم دلیل دی بیابالفعل ددی مرغانو واقع کیدل
دریم دی او کومو اسبابو ته چی په الوتلو کی دخل دی ټول د الله ﷻ پیداکړل سوی دی بیاپه دی
اسبابوباندی دمسبب یعنی دالوتلو بناکیدل دا هم مشیت الهی دی ، کنه نو اکثره داسی هم کیږي چی
د یو شی اسباب موجود وي او بیا هم هغه په وجود کی نه راځي، په دی وجه یی، مَايُمْسِكُهُنَّ الخ
وفرمایل او منجمله دوجهو دنعمت او دلیلونو ښځه دقدرت داکار دی چی) الله ﷻ ستاسی دپاره (په
حالت دکور کی) ستاسی په کورنو کی د اوسیدو ځای جوړ کړی (اوپه حالت دسفر کی) ستاسی دپاره
دحیوانانو دڅرمنوښځه کورونه (یعنی خیمی) جوړ کړل کومو چی تاسی دسفر په ورځ او دمقام (کولو)
په ورځ سپک پیدا کوي (او په دی وجه ددی وړل راوړل او په یوځای درول ټول درته آسان وي) او ددی
(حیوانانو) د وړیو او اوښانو د وړیو او وریښتو ښځه (ستاسی) دکور سامان او دفائدی شیان تر یوی
موديِ پوری جوړکړل (دموديِ پوری یی ځکه وفرمایل چی د آسامان په نسبت دپنبه وو دجامو ډیر
وخت اړوي ، اومنجمله ددلیلونو دقدرت او وجهو دنعمت ښځه یوه دا ده چی) الله ﷻ ستاسی دپاره
دخپلو ځینومخلوقاتو سائی جوړي کړی (لکه درختي او کورونه وغیره) او ستاسی دپاره یی په غرونو
کی دپناه ځایونه جوړکړل (یعنی غارونه وغیره چی په دی کی د ګرمي یخ باران موذي دښمن حیوان
سرِي ښځه محفوظ پاته کیدی سی) اوستاسی دپاره یی داسی قمیصونه (هم) جوړ کړل چی دګرمی
ښځه ستاسی حفاظت کوی او داسی قمیصونه یی (هم) جوړ کړل چی ستاسی په مینځ کی په جنګ کی (د
زخمي کیدو ښځه) ستاسی حفاظت کوي (مراد ددی ښځه زغری دي) الله ﷻ په تاسی دغه ډول خپل
نعمتونه پوره کوي چی تاسی (ددی نعمتونو په شکر کی) فرمانبردار جوړ سی (اوهر څومره که په دی

Maktaba Tul Ishaat.com

ذکر سوو نعمتونو کی د بندگانو جوړسوی هم دي، مګر د دوی ماده او ددی دجوړولو سلیقه خو الله ﷻ پیدا کړی ده په دی وجه حقیقي نعمت ورکوونکی هغه دی بیا ددی نعمتونو څخه وروسته هم) که دا خلق د ایمان څخه منع کوي (نو ته غم مه کوي ستا هیڅ نقصان نه دی ځکه چی)ستا پر ذمه خو صرف صفا صفا رسول دي)او د دوی د ډېرو کولو وجه دا نه چی دوی ته دا نعمتونه معلوم نه دي بلکه دغه خلق) دخدای نعمتونه خوپیژني مګر سره دپیژندو بیا (په سلوک کولو کی) ددی څخه منکر کیږي (چی کوم سلوک دنعمت ورکوونکي سره په کار وو یعنی عبادت او طاعت هغه د نورو سره کوي) او زیات په دوی کی دغه شان ناشکره دي.

معلومات اومسئلي : (لَا تَعْلَمُونَ شَيْئًا) په دی کی اشاره ده چی علم د انسان ذاتي هنر نه دی دپیدائش په وخت کی دی هیڅ علم او هنر نه لري بیا د انساني ضرروت مطابق ده ته لږ لږ علم د الله ﷻ دطرف څخه بي له واسطي څخه ازده کول کیږي چی په دی کی نه دمور او پلار دخل وي نه د چا استاد دټولو څخه اول ده ته ژړا وښودل سی دغه وخت دده دا صفت دده ټول ضرورتونه پوره کوي لوږه تنده ورته راسی نو دی ژاړي ، یخ او ګرمي یی وسی نو ژاړي یابل څه تکلیف ورته ورسیږي نو ژاړي قدرت دده د ضرورتونو دپاره دمور او پلار په زړونو کی خاص الفت اچولی دی ، چی کله دبچي آواز واوري نو دده دتکلیف معلومولو او دهغې دلیری کولو دپاره تیار سی که بچی ته دالله ﷻ دطرف څخه دا د ژړا تعلیم نه وای ورکړل سوی نو چا به ورته دا کار ښودلی سوای چی کله درته څه ضرورت پیښ سی نو داسی ژاړه ددی سره ده ته الله ﷻ په الهامي طور سره دا هم وښودله چی دخپل خوراک دمور دسینې څخه دحاصلولو دپاره دخپلو وریو او شونډانو څخه کار واخلي که داتعلیم فطري او بي واسطي نه وای نو دکوم یو معلم دا مجال وو چی دی بچي ته څُله چلول اوتی رودل ور زده کړي دغه شان څومره څومره چی دده ضرورتونه زیاتیږي ، قدرت ته ته بي دواسطي دمور اوپلار څخه خود بخود وښودل، څه موده وروسته په ده کی دا سلیقه پیداکیدل شروع سی چی دمور اوپلار اونورو خوا او شا دخلقو خبري اوري یا یو شی ویني نو څه زده کول شروع کړي، او بیاپه دغو اوریدل سوو اوازونو او لیدل سوو شیانو کی دسوچ کولو اوځان په پوهولو سلیقه په کی پیداسی.

په دی وجه په ذکر سوی آیت کی د(لَاتَعْلَمُونَ شَيْئًا) څخه وروسته فرمایي ، وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ : یعنی که څه هم دپیدائش په اول وخت کی انسان ته دهیڅ شی علم نه وو، مګرقدرت دده په بدن کی دعلم حاصلولو عجیبه او ناآشنا قسمه الات درولي وه په دی الاتو کی دټولو څخه اول د اوریدو د قوت ذکر یی وفرمایي چی ددی د وړاندی کولو وجه شاید چی دا ده چی انسان ته دټولو څخه اولنی علم او دټولو څخه زیات علم دغوږونو پر لار راځي په اول کی سترګي خوبندي وي مګر غوږونه اوري او ددی څخه وروسته هم که غور وکړل سی نو انسان ته په خپل ټول عمر کی چی څومره معلومات حاصلیږي په دی کی دټولو څخه زیات په غوږونو اوریدل سوی وي ، په سترګو لیدل سوی معلومات ددی په نسبت ډیر کم وي.
ددی څخه وروسته نمبر دهغومعلوماتو دی کوم چی انسان په خپل اوریدلو او لیدلو شیانو کی دغور

Maktaba Tul Ishaat.com

او فکر کولو څخه وروسته معلومويږي او دا کار دقرآني ارشاداتو مطابق د زړه دی په دی وجه پر دریم نمبر يي ، أَفْئِدَةً : وفرمايل کوم چی دفُؤَادُ : جمع ده چی معنی يي زړه دی فلاسفه په عام طور سره دېوهي او ادراک مرکز د انسان دماغ مقرر وي مگر دقرآن ارشاد څخه معلومه سوه، چی ددماغو که څه هم په دی ادراک کی دخل ضرور سته ، مگر دعلم او ادراک اصل مرکز زړه دی .

په دی موقع حق ﷻ د اوريدو ليدو اوپوهيدو دقوتونو ذکر فرمايلي دي دگويايي او ژبي ذکر يي نه دی فرمايلي ځکه چی دنطق اوگويايي په علم حاصلولو کی دخل نسته بلکه ، دغه داظهارعلم ذريعه ده ددی څخه علاوه امام قرطبي فرمايي چی دلفظ د، سمع : سره نطق هم ضمناً راغلی . ځکه چی تجربه شاهده ده چی کوم سړی اوري هغه وايي هم، گونگی کوم چی پرويلوقادرنه وي، دی په غوږونوکوڼ وي ، اوشايد چی دده دخبرونه کولوسبب داوي چی دی اوازنه اوري چی څه واوري اوخبره زده کړي .والله تعالی اعلم

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ بُيُوتِكُمْ سَكَنًا : بيوت دبيت جمع ده په کوم مکان کی چی شپه تيرول کيږي دغه ته بيت وايي امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير کی فرمايي .

كُلُّ مَاعَلاَكَ فَاَظَلَّكَ فَهُوَ سَقْفٌ وَسَمَآءٌ وَكُلُّ مَا اَقَلَّكَ فَهُوَ اَرْضٌ وَكُلُّ مَا سَتَرَكَ مِنْ جِهَاتِكَ الْاَرْبَعِ فَهُوَ جِدَارٌ فَاِذَا انْتَظَمَتْ وَاتَّصَلَتْ فَهُوَ بَيْتٌ .

کوم شی چی ستا پر سر لوړ چت وي او پر تا سايه کوي هغه ته چت يا آسمان وايي اوکوم شی چی تا پر ځان سربيره ساتی هغه مځکه ده اوکوم شی چی دڅلور طرفه ستا پرده کوي هغه ديوالونه دي اوکله چی دا ټول شيان جمع سی نو هغه کور (يعنی بيت) دی .

(دکور جوړولو اصل مقصد د زړه او جسم سکون دی)

په دی کی الله ﷻ دانسان کورته سکن وفرمايي دکور جوړولو فلسفه اوحکمت يي واضح کی چی ددی اصل مقصد د زړه اوجسم سکون دی عادتاً دانسان کسب اوکار دکورڅخه بهر وي کوم چی دده دحرکت کولوڅخه په وجودکی راځي ، دده دکور اصل منشاء دا ده چی کله دحرکت اوعمل کولوڅخه ستړی سی نو ولاړسي او په دی کی آرام وکړي اوسکون حاصل کړي که څه هم په خينو وختونو کی انسان په خپل کور کی هم په حرکت او عمل کی مشغول وي مگر دا عادتاً کم وي .

ددی څخه علاوه سکون په اصل کی د زړه اودماغو سکون دی دغه انسان ته په خپل کور کی حاصليږي ددی څخه دا هم معلومه سوه چی د انسان دکور دټولوڅخه لوی صفت دا دی چی په دی کی سکون حاصل سی ، نن په دنيا کی دتعميراتو سلسله بنه په عروج او ترقي ده او په دی کی په ظاهري ټيپ او ټاپ بي حده خرڅ هم کول کيږي ليکن په دی کی داسی مکانات ډير کم دي په کومو کی چی زړه او جسم ته سکون حاصل وي ځيني وخت دجوړولو تکفات په خپله ارام او سکون برباد کړي او که دغه هم نه وي نو په کور کی چی د کومو خلقو سره واسطه راځي هغوي دغه سکون ختموي دداسی شاني شان مکانونو څخه هغه جونگړي ښې دي د کومو اوسيدونکو ته چی د زړه او جسم سکون حاصل وي .

قرآن کریم دهر شی روح او اصل بیانوي ، دانسان دکوراصل مقصد او دټولوڅخه لوی غرض اوغایت یې سکون مقرر کی، دغه شان دښځي او خاوند د ژوند اصل مقصد یې هم سکون مقرر کړی دی ، لِّتَسْكُنُوٓا إِلَيْهَا د کوم ښځي دخاوندوالي د ژوند څخه چې دا مقصد حاصل نه وي . هغوي ددی د اصل فائدی څخه محرومه دي دنن دنیا په دی شیانوکی رسمي او غیر رسمي تکلفات او د ظاهري ټیپ ټاپ حد نه دی پاته سوی او مغربی طور طریقو اومعاشرت په دی شیانوکی دظاهري زیب او زینت ټول سامانونه جمع کړل مګر د زړه او بدن د سکون څخه یې قطعاً محرومه کړل .

د مِّن جُلُودِ الْأَنْعَامِ ، او ، وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا : څخه ثابته سوه چې دحیوانانو څرمن وریښته او وړۍ ټول د انسان د استعمال دپاره حلال دی په دی کی دا قید هم نسته چې حیوان ذبحه سوی وي او که مردار وي او نه دا قید سته چې غوښه یې حلاله وي او که حرامه ددی ټولو قسمونو حیوانانو څرمن درنګ کولو څخه وروسته استعمالول حلال دی او په وریښتو او وړۍ باندی خو دحیوان دمرګ هیڅ اثر نه کیږي دغه بغیر دڅه خاص کار کولو څخه حلال او جائز دی د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله دا مذهب دی البته دخنزیر څرمن او دده ټول اجزاء په هر حال کی پلیت او د نفع اخیستو قابل نه دی .

سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ دلته یې انسان ته دقمیص غرض دګرمي څخه محفوظ کیدل وفرمایل ، حال دا دی چې قمیص انسان د ګرمي او یخ دواړو څخه محفوظ کوي ، ددی یو جواب خو امام قرطبي رحمه الله او نورو تفسیر لیکونکو د اور کړی دی چې قرآن کریم په عربی ژبه کی راغلی دی ددی اولني مخاطب عرب دی ، په دی وجه په دی کی دعربو دعادت او ضرورتونو لحاظ ساتل سوی دی او خبره سوی ده ، عرب یو ګرم ملک دی هلته د واوري اوریدو او یخ تصور مشکل دی په دی وجه د ګرمي څخه د بچ کولو پر ذکر یې بس والی وکی حضرت تهانوي رحمه الله په بیان القرآن کی فرمایي چې قرآن کریم ددي سورة په شروع کی ، لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وفرمایل او دجامو په ذریعه د یخ څخه دمحفوظ کیدو او د ګرمي حاصلولو ذکر یې مخکي کړی وو په دی وجه یې دلته صرف دګرمي دفع کولو ذکر وکی .

وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا ثُمَّ لَا

او په هغه ورځ چې ودروو مونږ په هر فرقه کی یو شاهد بیا

يُؤْذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٨٤﴾ وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ

حکم حاصل نه سی منکرانو ته او نه به د دوی توبه قبوله سی ، او کله چې ووینی

ظَلَمُوا الْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٨٥﴾

ظالمان عذاب بیا به سپک نه سی د دوی څخه او نه به دوی ته مهلت ورکړل سی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ أَشْرَكُوا شُرَكَاءَهُمْ قَالُوا رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ شُرَكَاؤُنَا

او کله چې ووینې مشرکان خپل شریکان وبه وایې ای ربه ! دا زمونږ شریکان دي

الَّذِينَ كُنَّا نَدْعُو مِن دُونِكَ ۖ فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ إِنَّكُمْ

کوم چې مونږ بلل ستا څخه ماسوا پس وبه غورځوی دوی ته خبره چې تاسې

لَكَاذِبُونَ ﴿٨٦﴾ وَأَلْقَوْا إِلَى اللَّهِ يَوْمَئِذٍ السَّلَمَ ۖ وَضَلَّ عَنْهُم

دروغجنان یاست ، او وبه غورځیږي په دغه ورځ د الله په مخکې په عاجزۍ او هیر به سي ورڅخه

مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٨٧﴾ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ

کوم دروغ چې دوی جوړول ، کوم خلق چې منکران سول او منع کوی دلارې

اللَّهِ زِدْنَاهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوا يُفْسِدُونَ ﴿٨٨﴾

د الله تعالی څخه ، دوی به مونږ زیات کړو عذاب سربیره د عذاب په بدله د هغه چې دوی شرارت کوی

وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ

او په کومه ورځ چې ودروو مونږ په هره فرقه کې یو شاهد په دوی د دوی څخه

وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ ۚ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ

او تا راولو شاهد په دغو خلقو او نازل کړی دی مونږ په تا کتاب

تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿٨٩﴾

ښکاره بیان دهر شی او هدایت او رحمت او خوشخبری دحکم منونکو دپاره۔

تفسیر: او (هغه ورځ دیادولو قابله ده) په کومه ورځ چې مونږ دهر یو امت څخه به یو یو شاهد (چې
ددی امت پیغمبر به وي) ودر وو (چې د دوی دبدوعملونو شاهدي به ورکوي) بیابه دی کافرانو ته
(دعذر اومعذرت کولو) اجازه ورنه کړل سی او نه به دوی ته د الله ﷻ دراضي کولو فرمائش وسی
(یعنی دوی ته به داسی ونه ویل سی چې تاسی توبه یا څه عمل وکړي او الله ﷻ خوشحاله کړي ، وجه
ددی ظاهره ده ، چې آخرت دار الجزاء دی دار العمل نه دی) او کله چې ظالمان (یعنی کافران) خلق

Maktaba Tul Ishaat.com

عذاب ویني (یعنی په دی کی ولویږي) نو دغه عذاب به نه د دوی څخه سپک کړل سی او نه به ورته (په دی کی) څه مهلت ورکړل سی (چی څه ځو ورځي وروسته به عذاب جاري کړل سی) اوکله چی مشرکان خلق خپلو شریکانو (دکومو چی یی دخدای څخه ماسوا عبادت کوي) ویني نو (په طور د اقرار دجرم) به ووایي چی ای زما پروردگاره هغه زمونږ شریکان دا دی چی ستا څخه ماسوا مونږ د دوی عبادت کوي نو دغه (شریکان به وبیریږي چی هسي نه زمونږ کوم بختي راسی په دی وجه) هغوي په دوی ته خبره متوجه کړی چی تاسی درواغجن یاست (اصل مطلب به د دوی دا وي چی زمونږ اوستاسو هیڅ تعلق نسته چی په دی یی مقصد خپل حفاظت کول دي اوس برابر خبره ده که دا مطلب د دوی صحیح وي لکه چی مثلاً مقبولینو انبیاء او ملائکو علیهم السلام دا خبره ویلي وي نو صحیح ده لکه دا قول د الله ﷻ ، بَلْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْجِنَّ: اوکه دا غلطه وي لکه چی په خپله شیطانان به ووایی او که دوی ته دصحیح اوغلطي خبر نه وي لکه بتان او درختي وغیره چی ووایی) او دا مشرکان او کافران خلق به په دغه ورځ دالله ﷻ په مخکي دفرمانبرداري خبري شروع کړي او په دنیا کی چی یی څه درواغ جوړول (دغه وخت) هغه به ټول ورک سی (او په دوی کی) چی کومو خلقو کفر کوي (په خپله هم او نور خلق به یی هم) دالله ﷻ دلاري (یعنی دین) څخه منع کول د دوی دپاره به مونږ پر یوه سزا (چی دکفر په مقابله کی به وي) دویمه سزا په مقابله کی د دوی دفساد (چی دخدای دلاري څخه به یي خلق منع کول) زیات کړو او (هغه ورځ هم د یادولو او دخلقو دبیري ده) په کومه ورځ چی مونږ دهر یو امت څخه یو یو شاهد کوم چی د دوی څخه وي د دوی په مقابله کی ودر وو (مراد یی ددغه امت نبي دی او د دوی څخه کیدل عام دی برابره خبره ده که په اعتبار په شرکت نسب سره وي او که په اعتبار د شرکت د ځای د اوسیدو سره وي) او ددغو خلقو په مقابله کی تا شاهد جوړي کړي را ولو (او ددی اخبار دشهادت څخه چی کوم ستا رسالت معلومیږي ددی دلیل دا دی چی) مونږ پر تا قرآن نازل کړی دی کوم (چی علاوه دمعجزوالی څخه چی مدار داثبات د رسالت دی دهغوخوبیو جمع کوونکی دی) چی دټولو خبرو (ددین په واسطه یا بي د واسطي دعامو خلقو دپاره) بیانوونکی دی او (خاص دمسلمانانو دپاره لوي هدایت او لوي رحمت او (په ایمان) خوشخبري اورونکی دی.

معلومات اومسئلي: وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ: په دی کی یی قرآن دهر شی بیان فرمایلي دي ، مراد ددی څخه ددین ټول شیان اوخبري دي څکه چی د وحي اونبوت مقصد ددی شیانو سره تعلق لري په دی وجه معاشی فنون او ددی مسئلي په قرآن کی لټول دسره غلط دی که چیري څه ضمني اشاره راسی نو هغه ددی منافي نه ده ، پاته سو دا سوال چی په قرآن کریم کی ددین هم ټولي مسئلي ذکر نه دي نو، تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ : به څنګه صحیح سی ؟

ددی جواب دا دی چی په قرآن کریم کی اصول خو دټولو مسئلو موجود دی ددی په رڼا کی دنبی کریم ﷺ احادیث ددغو مسئلو بیان کوي اوځینی تفصیلات اجماع اوشرعي قیاس ته سپارل کیږي ددی څخه معلومه سوه چی دنبی کریم ﷺ د احادیثو اواجماع اوقیاس څخه چی کومي مسئلي را وتلي دي دغه هم په یو حیثیت سره دقرآن بیان کړل سوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ

الله تعالی حکم کوي دانصاف کولو اوښیګنی کولو اوخپلوانو لره دورکړو

وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ ۚ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ

او منع کوي دبې حیایی څخه اوبدو خبرو څخه اوسرکښۍ څخه اوتاسې پوهوي

تَذَكَّرُونَ ﴿٩٠﴾

چې یاد ساتی

لنډتفسیر: بیشکه الله ﷻ (په قرآن کی) دانصاف او احسان او خپلوانو ته د ورکولو حکم فرمایي او د ښکاره بدي او مطلق بدي او (پرچا) دظلم (او زیاتوب) کولو څخه منع فرمایی (اوپه ماموراتو او منهیاتو ذکرسوو کی ټول نیک عملونه اوبدعملونه راغلل، ددی جامعیت په وجه سره دقرآن ښکاره بیانوونکی کیدل صفاظاهر دی) اوالله ﷻ تاسی ته (دذکرسووکارونو) څخه نصیحت فرمایی چې تاسی نصیحت قبول کی (اوعمل وکي څکه چې هدایت اورحمت اوخوشخبري کیدل پردی باندی موقوف دي)

معلومات اومسئلي: دا آیت دقرآن کریم په ټولو آیتونوکی زیات جامع آیت دی چې په دی کی یې پوره اسلامی تعلیمات په څو الفاظو کی ځای کړي دي ، په دی وجه دسلف صالحینو دمبارکي زماني څخه تر ننه پوری دستور راروان دی چې دجُمعي اواخترونودخطبوپه آخرکی دا آیت تلاوت سی ، حضرت عبدالله ابن عباس ؓ فرمایي چې د قرآن کریم د ټولو څخه جامع ترین آیت په سورة نحل کی دا دی، إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ : (ابن کثیر)

اوحضرت اکثم بن صیفي ؓ خو ددی آیت پر بنا په اسلام کی دا خل سو، امام ابن کثیر رحمه الله د حدیثونو دحافظ ابو یعلی په کتاب معرفة الصحابه کی په سند سره دا واقعه نقل کړی ده چې اکثم بن صیفي دخپل قوم سودار وو کله چې ده ته دنبی کریم ﷺ دنبوت دعوه او د اسلام د اشاعت خبر ورسیدی نو ده اراده وکړه چې دنبی کریم ﷺ خدمت کی حاضر سی ، مګر دقوم خلقو ورته وویل چې ته زمونږ د ټول مشر یی ، ستا پخپله تلل مناسب نه دي ، اکثم وویل چې ښه ده نو دقبیلي دوه تنه سړي غوره کړئ چې هلته ولاړ سی او د حالاتو معاینه وکړئ ، او ماته ووایی دا دواړه دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سول او عرض یی وکي چې مونږ د اکثم بن صیفي څخه د دوو خبرو معلومولو دپاره راغلي یو د اکثم دوه سوالونه دا دي.

من أَنتَ وَمَا أَنتَ؟ ته څوک یی او څه یی؟

نبی صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایی چې د اول سوال جواب خو دا دی چې زه محمد ﷺ زوي دعبدالله یم او د دویم سوال جواب دا دی چې زه دالله ﷻ بنده او د هغه رسول یم ددی څخه وروسته نبی صلی الله

Maktaba Tul Ishaat.com

علیه وسلم دسورة نحل دا آیت تلاوت وفرمایی ، یَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ : دی دواړو قاصدانو دا درخواست وکړي چې داجملې مونږ ته بیا واوروئ، ده صلی الله علیه وسلم ددی آیت تلاوت تر هغه پورې کوي چې دی قاصدانو ته یاد سو.

قاصدان واپس اکثم بن صیفي ته راغله او ورته یې وویل چې مونږ په اول سوال کی دا غوښتل چې دده نسب معلوم کړو، مګر دوی دی ته زیاته توجه ورنه کړه ، صرف دپلارپه نوم بیانولو یې اکتفاوکړه مګر کله چې مونږ د نورو خلقو څخه دده دنسب تحقیق وکړو نو معلومه سوه چې دی د ډیر لوي نسب شریف سړی دی اوبیا دی قاصدانو وویل چې محمد ﷺ مونږ ته یو څو کلمات هم اوورولي دي، هغه مونږ بیانوو.

دی قاصدانو ذکر سوی آیت اکثم بن صیفي ته واورو‌ي د آیت د اوریدو سره اکثم وویل چې ددی څخه معلومیږي چې دوی دمکارم اخلاق هدایت کوي او دبدو او رذیلو اخلاقو څخه منع کول کوي تاسی ټول دده په دین کی ډیر ژر دا خل سی چې تاسی د نورو خلقو څخه مخکی او وړاندی سی چې وروسته تابع جوړ نه سی (ابن کثیر)

دغه شان حضرت عثمان بن مظعون ﷛ فرمایی چې په شروع کی مادخلقو دوینا او اوریدو دشرم څخه اسلام قبول کړی وو مګر زما پر زړه اسلام راسخ نه وو تردی چې یوه ورځ دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر وم ، ناڅاپه پر ده ﷺ دوحی نزول شروع سو او دځینو عجیبه حالاتو څخه وروسته ده ﷺ وفرمایل چې دالله ﷻ قاصد ماته راغی او دا آیت پر ما نازل سو حضرت عثمان بن مظعون ﷛ فرمایی چې دا واقعه مالیده او دا آیت ما واوریدی نو په زړه کی مې ایمان مضبوط اومستحکم سو اودنبی کریم ﷺ محبت زماپه زړه کی ځای ونیوی (ابن کثیر رحمه الله داواقعه نقل کوي اوفرمایی چې اسناد ددی جید دي)

اوکله چې نبی کریم ﷺ دا آیت د ولید بن مغیره په وړاندی تلاوت کی نو ددی اثر دا وو چې ده دخپل قوم قریشو په مخکی بیان وکړ.

وَاللهِ إِنَّ لَهُ لَحَلَاوَةً وَإِنَّ عَلَيْهِ لَطَلَاوَةً وَإِنَّ أَصْلَهُ لَمُورِقٌ وَأَعْلَاهُ لَمُثْمِرٌ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ بَشَرٍ.

په خدای قسم دی په دی کی یو خاص خوږوالی دي او پردی سربیره یوخاص رونق دی او نور دي ددی د ریښو څخه ښاخونه او پاڼی وتونکي دي او پر ښاخونو یې میوه لګیدونکی ده دا دیوانسان کلام هیڅکله نه سی کیدی.

(د دریو ۳ شیانو حکم او د دریو شیانو څخه منع)

په دی آیت کی الله ﷻ د دریو ۳ شیانو حکم کړی دی عدل احسان او خپلوانو ته د ورکړو او د دریو ۳ شیانو څخه یې منع فرمایلې ده فحش کار، هر بد کار اوظلم او زیاتوب ددی شپږو الفاظو شرعی مطلب او ددی دحدنو تشریح دا ده . ۲

عدل : ددی لفظ اصلی اولغوی معنی د برابرولو ده ، په دی مناسبت سره حاکمانو دخلقو په نزاعی نیصلو کی په انصاف سره فیصلی ته عدل ویلی په قرآن کریم کی، أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ: ددی معنی دپاره راغلی دی ، اوپه دی لحاظ سره لفظ دعدل دافراط او تفریط په مینځ کی اعتدال ته هم ویل کیږي او

Maktaba Tul Ishaat.com

په دی مناسبت سره دتفسیر ځینو امامانو دلته دلفظ دعدل تفسیر دظاهر اوباطن په برابرۍ سره کړی
دی یعنی کوم قول یا فعل چی د انسان دظاهري اندامونو څخه صادر سی او په باطن کی هم دده دعقیده اوحال وي او اصل حقیقت دادی چی دلته لفظ دعدل په خپله عامه معنی کی دی کوم چی دټولو صورتونو لره شامل دی څه چی د امامانو دتفسیر څخه نقل دی په دی کی هیڅ اختلاف یا تضاد نسته
اوابن عربی رحمه الله فرمایی چی دلفظ دعدل اصل معنی دبرابرۍ کولوده بیاپه مختلفونسبتونو سره ددې مطلب مختلف کیږي مثلاً یومطلب دعدل دادی چی انسان دخپل نفس اودخپل رب په مینځ کی عدل کوي نوددی معنی به داسی چی دالله ﷻ حق پرخپل لذت دنفس اودهغه رضاحاصلول پرخپلوخواهشاتو مقدم وګڼی او دهغه د احکامو په منلو کی دهغه دمنع سوو اوحرامو سوو څخه مکمل ځان ساتی.
دویم عدل دا دی چی بنده دخپل نفس سره دعدل معامله کوي ، هغه دا چی خپل نفس دداسی ټولو شیانو څخه محفوظ ساتی په کوم کی چی دده جسمانی یا روحانی هلاکت وي دنفس داسی خواهشات نه پوره کوي کوم چی دده دپاره انجام کار مضر وي او دقناعت اوصبر څخه کار اخلي پر نفس بي وجهي زيات بار نه اچوي.
دریم عدل دخپل نفس اوټول مخلوقات په مینځ کی دی ددی حقیقت دا دی چی دټول مخلوقات سره د خیر خواهی اوهمدردي معامله کوي اوپه څه وړه یا لویه معامله کی دچا سره خیانت نه کوي دټولو خلقو دپاره دخپل نفس څخه د انصاف مطالبه کوي یو انسان ته دده د څه قول یا فعل څخه ازار نه رسیږي نه ظاهراً او نه باطناً.
دغه شان یوعدل دا دی چی کله دوه فریقه دخپلی معاملی فیصله ده ته را وړی نو دی ورله دحق مطابه فیصله وکړي او یو عدل دا هم دی چی په هره معامله کی د افراط او تفریط لار پریږدي او میانه روي اختیار کړي ابو عبدالله رازي رحمه الله دا معنی اختیار کړی ده او فرمایی چی په لفظ دعدل کی دعقیدي اعتدال دعمل د اعتدال داخلاقو اعتدال ټول شامل دی (بحر محیط)
امام قرطبی رحمه الله دعدل په مفهوم کی ددې تفصیل ذکر کولو څخه وروسته فرمایي چی دا تفصیل ابن غوره دی ، ددې څخه دا هم معلومه سوه چی ددې آیت صرف دعدل لفظ دټولو نیکو عملونو اونیو اخلاقو پابندی او دبدو عملونو اوبدو اخلاقو څخه ځان ساتلو باندی حاوی او جامع دی.

اَلْاِحْسَانَ : ددی اصل لغوي معنی ښه کول دي او ددی قسمونه دي ، یو دا چی کار یا اخلاق او عادتونه په خپل ذات کی ښه او مکمل کړی دویم دا چی دیوبل سړي سره ښه سلوک اوغوره معامله کوي او د دویمي معنی دپاره په عربی ژبه کی دلفظ داحسان سره حرف د، اِلیٰ: استعمالیږي لکه په آیت کی ، وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ : فرمایلی دی.
امام قرطبی رحمه الله فرمایی چی په آیت کی دا لفظ په خپل عام مطلب کی استعمال سوی دی په دی وجه د احسان دواړو قسمونو ته شامل دی بیا د اول قسم احسان یعني یو کار په خپل ذات کی ښه کول دا هم عام دی ، عبادتونه ښه کول، عملونه او اخلاق ښه کول، معاملات ښه کول، (ټولو لره عام دی) دحضرت جبرائیل علیه السلام په مشهورحدیث کی په خپله نبی کریم ﷺ چی د احسان کومه معنی بیان کړی ده

Maktaba Tul Ishaat.com

، دغه احسان دعبادت دپاره دی ددی خلاصه دا ده چی دالله ﷻ عبادت داسی کوه چی گویا ته خدای ﷻ وینی اوکه دالله ﷻ دحضور دا درجه درته نصیب نه وي نو د دومره جبري یقین خو هر سړی ته په کار دی چی حق ﷻ دده عمل وینی څکه چی دا خو د اسلامي عقیدي مهم جزء دی چی دالله ﷻ دعلم اونظر څخه د کائناتو یوه ذره د باندی نه سی کیدی.

لنډه دا ده چی دویم حکم په دی آیت کی د احسان راغلی دی په دی کی دعبادتونو احسان دحدیث د تشریح مطابق دا خل دی او دټلو عملونو اخلاقو او عادتونو احسان یعنی دوی لره دمطلوبه صورت مطابق بالکل صحیح او درست کول هم دا خل دي او دټول مخلوق سره ښه سلوک په کښی هم دا خل دی، برابره خبره ده که هغه مسلمان وي او که کافر انسان وي او که حیوان.

امام قرطبي ﷫ فرمایی چی دکوم سړي په کورکی دده پیشوته ددی خوراکونه اوضرورتونه نه حاصلیږي او دچا په پنجره کی چی دبندو مرغیو پوره خبر گیري نه وي نو دی که هر څومره عبادت کوي خو په محسنین کی نه سی شمار کیدی.

په دی آیت کی یی اول دعدم حکم وکي، بیاداحسان ځینی دتفسیر امان فرمایی چی عدل خو دا دی چی دبل حق پوره پوره ورکړل سی او خپل سی وصول سی نه کم نه زیات او چی څوک درته څومره تکلیف ورسوي نو صحیح هغومره تکلیف ورته ورسوي، نه کم نه زیات اواحسان دا دی چی بل ته دهغه د اصل حق څخه زیات ورکړي اوپه خپل حق کی دچشم پوشئ څخه کار واخلی چی که کمی په کښی راسی نو په خوشحالی یی قبول کړي دغه شان دعدل حکم خو دفرض او واجب په درجه کی سو او داحسان حکم په نفلی طور باندی سو.

وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى: دریم حکم چی کوم په دی آیت کی ورکړل سوی دی هغه وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى دی، د ایتاء معنی ده څه شی ورکول او دلفظ دقربی معنی خپلولی او رسته داري ده نومعنی دا سوه چی رشته دار ته څه ورکول دلته یی ددی وضاحت نه دی فرمایلی چی څه شی ورکول لیکن په یو بل آیت کی ددی مفعول ذکر دی، فَآتِ ذَا الْقُرْبَى: یعنی رشته دارته دده حق ورکړي، ظاهره دا ده چی دلته هم دامفعول مراد دی چی رشته دار ته دده حق ورکړل سی په دی حق کی رشته دار ته مال ورکول مالی خدمت کول هم دا خل دی اوجسمانی خدمت هم، بیمار پرسی اوخبر گیري هم، زباني تسلي او دهمدردي اظهار هم او که څه هم په لفظ داحسان کی درشته دارانو حق ادا کول هم دا خل وو، مگر ددی دزیات اهمیت ښکاره کولو دپاره یی جلا ذکر وکي.

دادری حکمونه ایجابی وه دراندي دري دممانعت اوحرمت احکام دي.وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ یعنی الله ﷻ منع کوی دفحش مُنکر اوبغي څخه فحشآء هر هغه ناکاره کار یاخبري ته ویل کیږي، چی بدوالی یی ښکاره او واضح وي، هرسړی هغه بدگڼی اومُنکر هغه قول اوفعل دی چی پر حراموالی او ناجائز والی یې د اهل شرع اتفاق وی په دی وجه په اجتهادی اختلاف کی یو جانب ته منکر نه سی ویل کیدای او په لفظ دمنکر کی ټول ظاهري او باطني عملي او اخلاقي گناهونه دا خل دي، او دبغی اصل معنی دحد څخه تجاوز کول دي مراد ددی څخه ظلم او زیاتوب دی دلته که څه هم دلفظ دمنکرپه

Maktaba Tul Ishaat.com

مطلب کی فحشآء هم دا خل دی بغی هم لیکن فحشآء د انتهائی ناکاره والی او بدوالی په وجه سره یی
جلا او اول بیان کړی او بغی یی ځکه جُدا بیان کي چی دده اثر پر نورو باندی کیږي اوځینی وخت دا
زیاتوب جنګ جګړو او عالمي فساد ته رسیږي.

په حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی دظلم څخه ماسوا بله ګناه داسی نسته چی بدله اوعذاب یی
ژر ورکړل سی ددی څخه معلومه سوه چی پرظلم باندی دآخرت سخت عذاب خودی چی دی ددی څخه
مخکی په دُنیا کی هم الله ﷻ دظلم سزا ورکوي، که څه هم ظالم ته دا معلومه نه وي چی دا دفلاني
ظلم سزا ده او الله ﷻ دمظلوم دمدد کولو وعده فرمایلی ده.

په دی آیت کی چی کوم شپږ حکمونه ایجابی اوتحریمی ورکړل سوی دی که غور وکړل سی نو د انسان
د انفرادي او اجتماعی ژوند دمکملی فلاح اکسیر نسخه ده الله ﷻ دي په دی زمونږ عمل کولو نصیب
کړي. آمین.

وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللَّهِ إِذَا عَاهَدتُّمْ وَلَا تَنقُضُوا

او پوره کوئ عهد دالله کله چی په خپل مینځ کی عهد وکړی او مه ماتوی

الْأَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللَّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلًا

قسمونه وروسته دمضبوطولو څخه او تاسی الله خپل ضامن ګرځولی دی

إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴿٩١﴾ وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا

الله پوهیږي په هغه څه چی تاسی کوئ، او مه کیږي په شان دهغه ښځی چی پریکړل هغې خپل سپنږسی

مِن بَعْدِ قُوَّةٍ أَنكَاثًا تَتَّخِذُونَ أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ أَن

وروسته دمحنت کولو څخه توتی توتی چی جوړ کړئ خپلو قسمونو لره بهانه ددخل ورکولو په خپل مینځ کی

تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ ۚ إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ اللَّهُ بِهِ ۚ وَلَيُبَيِّنَنَّ

ددې دپاره چی یوه فرقه سی غالبه په بله فرقه باندی، بیشکه الله ازمائش کوی ستاسی په دی سره او ئنده

لَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٩٢﴾ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ

ښکاره کړی تاسی ته الله دقیامت په ورځ په کومه خبره کی چی تاسی جګړه کوله، او که الله غوښتلای نو

لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ يُّضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ

لره به يې يوه فرقه جوړه كړې وه ، ليكن بې لارې كوي چا ته چې وغواړي اولاربنيي

مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَلَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾ وَلَا تَتَّخِذُوْٓا

چا ته چې وغواړي ، او تاسې څخه به پوښتنه كيږي دهغو كارونو چې تاسې كول ، او مه جوړوئ

اَيْمَانَكُمْ دَخَلًاۢ بَيْنَكُمْ فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ بَعْدَ ثُبُوْتِهَا وَتَذُوْقُوا

خپلو قسمونو لره دوكه په خپل مينځ كې چې ونه ښوئيږي قدمونه دچا پس دكلكيدو څخه او تاسې وڅكې

السُّوْٓءَ بِمَا صَدَدْتُّمْ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٩٤﴾

سزا په دې خبره چې منع كړې مو وو دالله دلارې څخه او تاسې ته عذاب دې لوى

وَلَا تَشْتَرُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۭ اِنَّمَا عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ

او مه اخلئ دالله تعالى په عهد باندې قيمت لږ ، بيشكه څه چې دالله تعالى سره دي هغه

خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٩٥﴾ مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا

غوره دې تاسې لره كه تاسې پوهيږئ څه چې تاسې سره دي ختم به سي او څه چې

عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ ۭ وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِيْنَ صَبَرُوْٓا اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا

دالله سره دي هيڅكله نه ختميږي ، او مونږ به په بدله كې وركړو صبركوونكو ته د دوى حق په ښو كارونو باندې

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٩٦﴾

كوم چې دوى كول

تفسير

﴿دعهد پوره كولو حكم او دعهد ماتولو بدوالي﴾

اوتاسې دالله ﷻ عهد (يعنې د كوم عهد دپوره كولو چې الله ﷻ حكم كړى دى دغه) پوره كوئ (ددې څخه هغه وړتې كوم چې دشريعت څخه خلاف عهد وي او باقي ټول جائز عهدونه برابره خبره ده كه دحقوق الله سره متعلق وي يا دحقوق العباد سره متعلق وي ، په دې كې دا خل سول) كله چې تاسې دا

Maktaba Tul Ishaat.com

(په خاص طور یا په عام طور سره) په خپله ذمه کړئ (خاص داسی چی په داګه دیو کار ذمه تاسی واخلی او عام داسی چی ایمان مو راوړئ نو دټولو واجبو حکمونو ذمه داري په دی کی راغلهٔ) او (خاصکر په کومو عهدونو کی چی قسم خوړل سوی وي ، هغه زیات داهتمام قابل دی نو په دی کی) قسمونه وروسته دمحکم کولو څخه (یعنی دالله ﷻ په نوم سره دقسم په خوړلو) مه ماتوئ اوتاسی (ددی قسمونو په وجه په دی عهدونو کی) الله ﷻ شاهدهم جوړکړی دی (داقیدونه، بَعْدَ تَوْكِيْدِهَا: او، قَدْ جَعَلْتُمْ : قیدونه واقعی دی ، په وفاء دعهدباندی دخبردارول دپاره وضاحت سوی دی) بیشکه الله ﷻ ته معلوم دی څه چی تاسی کوئ (برابره خبره ده که عهد پوره کوئ اوکه یی ماتوئ ، نو ددی موافق به تاسی ته جزا او سزا درکړي) اوتاسی (په عهد ماتولو کی) دهغي (مکي اوسیدونکي لیوني) ښځي په شان جوړیږي کومي چی خپل سپنړسي د وریشلو څخه وروسته ټوټي ټوټي کړل وي شکول (دغه شان تاسی (هم) خپلوقسمونه (وروسته دکلکولو څخه مات کړل دا) په خپل مینځ کی دفساد غورځولو ذریعه جوړوي (څکه چی دقسم اوعهد ماتولوڅخه په خپلو کی بي اعتباري او په مخالفینوکی غصه راپورته کیږي او دا دفساداصل دی ، اوماتول هم محضی په دی وجه سره چی) یوه ډله دبلی ډلی څخه (په کثرت یا ثروت) زیات سی (مثلاً دکفارو د دوو ډلو په منیح کی مخالفت وي اوستاسی دیوې سره وسی ، بیا بل طرف ته ټول دروند ووینې دکومی ډلی سره چی تاسی صلح کړی وه دهغې څخه عذر وکړي او دبلی ډلی سره سازش جوړکړی یا مثلاً یونفر مسلمان سی او په مسلمانانو کی شامل سی او بیا دکافرانو طرف ته زور ووینی نو داسلام عهد مات کړي مرتدسی او دا چی کومه یوه ډله تر بلی زیاته سوی وي یاپه یوبل جماعت په شاملیدو سره زیاتیږي نو) بس په دی (زیاتیدو) سره الله ﷻ ستاسی ازمائش کوي (چی وګورئ چی عهدپوره کوئ اوکه دروند ټول ووینئ دهغه طرف ته اوړي) په کومو شیانوکی چی تاسی اختلاف کوي (او پرمختلفو لارو چلیږي) د قیامت په ورځ به (حقیقت) ددی ټولو ستاسی په وړاندی (عملاً) ظاهر کوي (چی دحق خاوندانو به جزا او باطل خاوندانو ته به سزا ورکړل سی ، وړاندی ددی اختلاف حکمت په طور دجُملي معترضی اجمالاً بیانوي) او (که هر څومره چی دالله ﷻ دا قدرت هم وو چی اختلاف یی نه وای پاته کړی چنانچی) که الله ﷻ ته منظوره وای نوتاسی ټول به یی په یوه طریقه جوړکړی وای لیکن (په مقتضا دحکمت چی تفصیل اوتعین یی دلته ضروری نه دی) چا ته چی وغواړي بي لارې کوي اوچاته چی وغواړي پرلارې کوي (چنانچی منجمله دهدایت څخه پوره کول دعهد دی اومنجمله دګمراهي څخه ماتول دعهد هم دی او داسی نه دي ګڼل په کار چی لکه څنګه چی په دنیاکی ګمراهانو ته پوره سزا نه ورکول کیږي داسی به په آخرت کی هم ازاد وي ، هرګز داسی نه ده بلکه په قیامت کی) ستاسی څخه به ستاسی دټولو عملونو خامخا پوښتنه کیږي او (لکه څنګه چی په عهد او قسم ماتولو سره ضرر محسوسیږي، لکه چی لوړ یی بیان سوی دی ، دغه شان ددی معنوي ضرر هم وي وړاندی ددی ذکر دی یعنی) تاسی خپل قسمونه په خپل مینځ کی دفساد جوړیدو ذریعه مه جوړ وئ (یعنی قسمونه او عهدونه مه ماتوئ هسي نه چی دا وويني او دبل قدمونه دمضبوطیدو څخه وروسته ونه ښوئیږي یعنی نور هم ستاسی تقلید کړي اوعهد

ماتول شروع كړي) بيا تاسى ته په دى سبب سره چى تاسى (د نورو) دخداى دلاري څخه منع كونكى سواست ، تكليف در باندى راسى (څكه چى پوره كول دعهد دخداى لاره ده ، تاسى ددې دماتولو سبب جوړ سواست ، او دا دى هغه معنوي ضرر چى نورو لره مو هم وعده ماتوونكى جوړكړل اوتكليف به دا وي چى په دى حالت كى به) تاسى ته لوي عذاب وي (لكه څنګه چى په غالبه ډله كى په شامليدو دمرتبى حاصلولو په غرض سره عهد ماتول منع دى دكوم چى لوړ ذكر وسو ، دغه شان دمال حاصلولو په غرض سره چى كوم عهد مات سى ددى ممانعت فرمايى چى) اوتاسى خلق دخداى دعهدپه عوض كى (ددنيا) لږه څه فائده مه حاصلوئ (دخداى دعهد معنى خو د آيت په شروع كى معلومه سوى ده او دلږ قيمت څخه مراد دنياده چى سره دډيروالى هم لږه ده ، ددى حقيقت داسى بيان فرمايى چى) نو دالله سره چى كوم شى دى (يعنى د آخرت ذخيره) هغه ستاسى دپاره (ددنيا دسامان څخه) په ډيرو درجو غوره دى كه تاسى پوهيدل غواړئ (نو سامان دآخرت ډير سو او سامان ددنيا كه هرڅومره وي لږ سو) او (علاوه ددى تفاوت دلږ او ډير څخه ، دويم دا تفاوت هم دى چى) څه چى ستاسى سره (په دنيا كى) دى ، دغه (يوه ورځ) ختميدونكى دى (برابره خبره ده كه په زوال سره وي يا په مرګ سره) اوڅه چى دالله ﷺ سره دى هغه به هميشه وي اوكوم خلق چى (په پوره كولو د عهد وغيره دينى حكمونه باندي) ثابت قدم وي ، مونږ به د دوى دښوكارونو په بدله كى د دوى اجر(يعنى دغه ذكرسوى باقي پاته كيدونكى نعمتونه) دوى ته خامخا وركړو (نو عهد پوره كوئ ډير او غير فاني دولت حاصلوئ او د لږ او فاني دپاره عهد مه ماتوئ)

(معلومات او مسئلي) (عهد ماتول حرام دى)

لفظ دعهد هغوټولو معاملو اومعاهدو لره شامل دى دكومو چى په ژبه سره التزام وكړل سى ، يعنى ذمه داري واخيستل سى برابره خبره ده كه قسم پر وخوړل سى يانه او برابره خبره ده كه دغه دڅه كار كولو متعلق وي يا دنه كولو ، او دا آيتونه په حقيقت كى دتيرو آيتونو تشريح او تكميل دى په تير آيت كى د عدل اواحسان ذكر وو د عدل د لفظ په مطلب كى دعهد پوره كول هم شامل دى (قرطبي) دچاسره دعهد دمعاهده كولوڅخه وروسته بى ماتول لويه ګناه ده مګرددى پرماتولوڅه كفاره مقرره نه ده بلكه دآخرت عذاب دى په حديث كى دنبى كريم ﷺ ارشاد دى ، چى دقيامت په ورځ به دعهد ماتوونكو په شاه يوه جنډه ودرول سى ، كومه چى به په ميان دحشركى دده درسوايى سبب جوړه سى دغه شان دكوم كارقسم چى وخوړل سى ، ددى خلاف كول هم ګناه كبيره ده اوپه آخرت كى بى لوى عظيم وبال دى اوپه دنيا كى هم ددى په خاصو صورتونو كى كفاره لازميږي (قرطبي)

اَنۡ تَكُوۡنَ اُمَّةٌ هِيَ اَرۡبٰى مِنۡ اُمَّةٍ : په دى آيت كى مسلمانانوته داهدايت سوى دى چى دكومى ډلى سره ستاسى معاهده وسى دغه معاهده ددنيوي غرضونو اوفائدو دپاره مه ماتوي مثلاً تاسى په دى پوهه سى چى د كومي ډلى ياپارټى سره ستاسى معاهده سوى ده دا كمزورى او په شمير كى كمه ده يادمال په اعتبار سره غريبه ده او د دوى په مقابله كى دغه بله ډله قوي اومضبوطه ده يامالداره او دولتمنده ده ، نوصرف په دى طمع سره چى په قوي او مالداره پارټى كى په شامليدو سره نفع زياته حاصليږي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

د اولی پارټی سره عهدماتول جائزنه دي بلکه پرخپل عهددي قائم وي ، اونفع اوضرر دي خداي ﷻ ته وسپاري ، البته دکومي پارټی سره چی یی عهد کړی دی که دا دشریعت خلاف کارونه شروع کړي اوپه دوی هم کوي نو بیا د دوی سره دا عهد ماتول واجب دی په دی شرط چی په داگه دوی ته ووایی چی مونږ اوس ددی عهد پابند نه یو ، لکه چی په آیت ، فَانْبِذْ اِلَيْهِمْ عَلٰى سَوَآءٍ : کی ذکر دی .
د آیت په آخر کی یی دا ذکر سوی صورت حال دمسلمانانو دپاره د ازمائش ذریعه ښودلی ده چی الله ﷻ د دوی امتحان اخلي چی د دوی دخپلو نفسونو دغرضونو او خواهشونو تابعدار کیږي او عهد ماتوي یا د الله ﷻ حکم منی او نفسانی جذبات قربانوي .

(چا ته د دوکي ورکولو دپاره په قسم خوړلو کي د ایمان د لیري کیدو او تللو بیره ده)

وَلَاتَتَّخِذُوۡااَيۡمَانَكُمۡ دَخَلًا: په دی آیت کی دیوي بلي عظیمی گناه اووبال څخه دمحفظو کیدوهدایت دی هغه داچی دقسم خوړلو په وخت کی یی داول څخه ددی قسم څخه دخلاف کولو اراده وي صرف مخاطب ته ددوکی ورکولو دپاره قسم خوري نو دادعام قسم دماتولو څخه زیاته خطرناکه گناه ده چی ددی په نتیجه کی دا بیره ده چی د ایمان د دولت څخه محرومه سی ، د فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ بَعۡدَ ثُبُوۡتِهَادا مطلب دی (قرطبي)

(رشوت اخیستل سخت حرام او دالله ﷻ سره عهد ماتول دي)

وَلَا تَشۡتَرُوۡا بِعَهۡدِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيۡلًا: یعنی دالله ﷻ عهد دلږه قیمت په بدله کی مه ماتوئ، دلته دلږه قیمت څخه مراد دنیا او ددی نفع ده دا که په مقدارکی هر خومره ډیري وي دآخرت دنفعو په مقابله کی توله دنیا اوددی تول دولتونه هم لږدي چا چي د آخرت په بدله کی دنیا واخیسته ، ده انتهائی دخساري سودا یی وکړه ، چی همیشه پاته کیدونکی اعلی ترین نعمت او دولت یی ددیر ژر فنا کیدونکی ردي قسم شیانو په عوض کی خرڅ کي ، چی داهیڅ دپوهي اوعقل خاوند هیڅکله هم نه خوښوي .
ابن عطیه رحمه الله فرمایی چی دکوم کار پوره کول دیو سړي پرذمه واجب وي دغه دالله ﷻ عهد دده پر ذمه دی ددی په پوره کولو باندی دچا څخه معاوضه اخیستل او بغیر دمعاوضي اخیستلو یی نه کول د الله عهد ماتول دي دغه شان د چاڅه کار نه کول دچاپر ذمه واجب وي اودچا څخه معاوضه اخیستل او کول یی دا هم د الله ﷻ عهد ماتول دي .
ددی څخه معلومه سوه چی درشوت ټول مروجه قسمونه حرام دي لکه یو سرکاري ملازم دڅه کار تنخواه دحکومت څخه اخلي، نو ده د الله ﷻ سره عهد کړي دی چی ددی تنخواه په اخیستو به زه دا خپل فرض پوره کوم کوم کارونه چی زما پر ذمه دی ، دا به پوره په پوره سرته رسوم اوس که دی ددغو په کولو د چا څخه معاوضه وغواړي او بغیر دمعاوضي یی سرته نه رسوي نو دا د الله ﷻ عهد ماتول دي دغه شان چی کوم کار دمحکمی دطرف څخه دده په اختیاراتو کی نسته ، دغه په رشوت سره کول هم دالله ﷻ عهد شکني ده (بحر محیط)

(درشوت جامع تعریف)

د ابن عطیه رحمه الله په دی کلام درشوت جامع او پوره تعریف هم راغی کوم چی دتفسیر بحر محیط په الفاظو کی دا دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

اخذ الاموال على فعل مايجب على الاخذ عطلة او فعل مايجب عليه تركه.
يعنى دكوم كاركول چې دده په ذمه واجب دى دهغه پر پرېښوولو معاوضه اخيستل يا دكوم كارپاته كول چې دده پر ذمه لازم دى د هغه پر كولو معاوضه اخيستل رشوت دى. (تفسير بحرمحيط ص ۵۳۳ ج ۵)
او د پوره دنيا دټولو نعمتونو لړوالى يى په راتلونكى آيت كې داسې بيان وفرمايي.
مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ: يعنى څه چې ستاسې سره دي (مراد ددى څخه ددنيا نفع ده) دغه ټولى ختمې اوفناكيدونكى دى اوڅه چې دالله ﷻ سره دي (مراد ددى څخه د آخرت ثواب اوعذاى دى) دغه هميشه باقي پاته كيدونكى دى.
(دنيا راحت، تكليف، دوستي دښمني ټول فنا كيدونكي دي او ددې فائدې او نتيجې كومې چې د الله ﷻ سره دي هغه باقي پاته كيدونكي دي)
مَا عِنْدَكُمْ: په لفظ سره ذهن په عام طور سره مال اومتاع ته ځي، استاذ محترم مولاناسيد اصغر حسين صاحب رحمه الله فرمايي چې لفظ د، مَا: دلغت په اعتبار سره عام دى او دعام معنى مراد اخيستلو څخه دلته څه شرعي امر مانع هم نسته، په دې وجه په دې كې ددنيا مال اومتاع هم داخل دي او په دى كې پيښيدونكى ټول حالات اومعاملات،خوشحالى اوغم،تكليف اوراحت، بيماري اوصحت، نفع اونقصان دچا دوستي يا دښمني دا ټول شيان شامل دي چې دا ټول هر څه فنا كيدونكي دي البته پردى حالاتو او معاملاتو چې كوم اثار مرتب كيدونكى دى او په قيامت كې پرهغه عذاب اوثواب مرتب كيدونكى دى هغه ټول باقى پاته كيدونكى دى، دفنا كيدونكو حالاتو اومعاملاتو په شغل كې لګيدل اوخپل ژوند او قوت ددى په فكر كې لګول، دهميشه عذاب اوثواب څخه غافله كيدل ديو هوښيار كار نه دى.

دوران بقاء چو باد صحرا بگذشت	تلخى وخواهش وزشت وزيبا بگذشت
پنداشت ستمگر كه جفا بر ما كرد	بر گردن وى بماند وبرما بگذشت

ترجمه: ددنيا ژوند دباد په شان تير سو، خوږ تريخ، ښه اوبدهرڅه تيرسو ظالم په خپل خيال پرما ظلم كول غوښتل پرماتيره سوه سختي وه او كه راحت او دى په دائمي عذاب د آخرت كې گرفتار پاته سو.

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً
جا چې وكړى نيك كار سړى دى اوكه ښځه اودى مؤمن وى نو پس ژوندبه وركړو
طَيِّبَةً ۚ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۹۷﴾
مونږ ده ته ښه ژوند، او په بدله كې به وركړى دوى ته حق د دوى په ښو كارونو چې دوى كول.

لنډتفسير: (ددى آيت څخه وړاندى آيتونوكى دعهد پوره كولو تاكيد او دعهد ماتولو بدي بيان سوى وه كوم چې يوخاص عمل دى، په دى آيت كې دټولونيكوعملونو اوعمل كوونكو نيكى كوونكو عام بيان دى، مضمون د آيت دا دى چې د آخرت اجر او ثواب او ددنيا بركتونه صرف په عهد پوره كولو

Maktaba Tul Ishaat.com

پوره منحصر نه دي او نه د څه کار کوونکي تخصيص سته، بلکه قاعده کليه دا ده چې) کوم سړي چې هم څه نيک کار وکړي خواه سړی وي او که ښځه په شرط ددې چې دايمان خاوندوي (ځکه چې دکافرنيک عملونه مقبول نه دي) مونږ به دغه سړي ته (په دنيا کې خو) دخوند ژوندورکوو او (په آخرت کې) ددوئ دښو کارونو په عوض کې به ده ته اجر ورکړي.

معلومات اومسئلې (حيات طيبه څه شي دي)

دجمهورو مفسرينو په نزد دلته دحيات طيبه څخه مراد ددنيا پاکيزه اومزه دار ژوند دی اوځينو امامانو دتفسير ددی څخه دآخرت ژوند مراد اخيستی دی او دجمهورو دتفسير مطابق هم ددی څخه مراد دا نه دی چې ده ته به هيڅکله لوږه تنده يا بيماري نه ورځي بلکه مراد دا دی چې مومن ته که چيري معاشي تنگي يا څه تکليف هم ورپيښ سی خو دوه شيان دي پرېشانی ته نه پرېږدي يوقناعت اودساده ژوند عادت چې په تنگدستی کی هم چلېږي دويم دده دا عقيده چې ماته ددی تنگی او ناجوړي په بدله کی د آخرت عظيم الشانه دائمی نعمتونه راکول کيږي په خلاف دکافر اوفاجر څخه چې که ده ته تنگدستی او ناجوړي ورپيښه سی نو دده دپاره دتسلی هيڅ اسباب نسته ، عقل اوهوش يې بې ځايه سی ، ځينې وخت ځان وژنی ته نوبت ورسيږي اوکه فراخی اوعيش ورته هم نصيب سی خو د زيادت حرص يې هيڅ وخت هم ارام ته نه پرېږدي چې کروړ پتی شي نو د ارب پتی جوړيدو فکرورله عيش خراب کړی وي.

ابن عطيه رحمه الله فرمايي چې صالحانومومنانوته الله ﷻ په دنياکی هم هغه راحت خوشحالی اودخوند ژوند ورکوی کوم چې په هيڅ حال کی هم بدليږي نه دتندرستی او فراخ دستی په وخت کی خو دده ژوند مزه دار کيدل ظاهره خبره ده ، خاص کر په دی بنا چې دمال بې ضرورته دزياتولو حرص په ده کی خو وي نه کوم چې انسان لره په هرحال کی پرېشانه ساتی اوکه تنگدستی يابيماری هم ورپيښه سی ، نود الله ﷻ په وعدو دده مکمل يقين او دمشکل څخه وروسته د آسانی اوتکليف څخه وروسته دراحت حاصليدو قوی اميد دده ژوند بې مزه کيدوته نه پرېږدی ، لکه چې زميندار دکروندی کولو او ددی دپرورش په وخت کی دی خومره تکليفونه تيروي خو دی دا هر څه په دی وجه راحت گڼی چې څو ورځی وروسته ده ته ددی لويه بدله حاصلدونکی ده ، سوداگر په خپله سوداگری کی، نوکر دخپلی نوکري په وخت کی خومره محنت او مشقت بلکه ځينی وخت ذلت هم برداشت کوي مگر په دی وجه خوشحاله وي چې څو ورځی وروسته ده ته دتجارت لويه نفع يا دنوکري دتنخواه دحاصليدو يقين وي دمومن هم دا عقيده وي چې ماته په هرتکليف اجرحاصليږي او په آخرت کی ددی بدله دائمی دعظيم الشانه نعمتونوپه صورت کی به ورکول سی او ددنيا ژوند د آخرت په مقابله کی هيڅ حقيقت نه لري په دی وجه ددی ځای رنځ او راحت يخ گرمی هرڅه په خوشحالی برداشت کوی دده ژوند په داسی حالت کی هم پرېشانه او بې مزې نه وي داهغه حيات طيبه دی کوم چې مومن ته په دنياکی نقد حاصليږي.

فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَٰنِ

پس کله چې ته وايې قرآن نو پناه غواړه په خدای سره دشيطان

Maktaba Tul Ishaat.com

الرَّجِيْمِ ﴿٩٨﴾ اِنَّهٗ لَيْسَ لَهٗ سُلْطٰنٌ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَلٰى

ترټل سوي شخه، دده زور نه چليږي په هغو کوم چې ايمان لري او په

رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٩٩﴾ اِنَّمَا سُلْطٰنُهٗ عَلَى الَّذِيْنَ يَتَوَلَّوْنَهٗ وَالَّذِيْنَ

خپل رب توکل کوي، دده زور خو په هغوي دی کوم چې ده لره ملګري ګڼي او کوم

هُمْ بِهٖ مُشْرِكُوْنَ ﴿١٠٠﴾ ع

چې ده لره شريك مني.

دآيتونو تړون: په تيروآيتونوکی اول دعهد پوره تاکيد اومطلقاً دنيکو عملونوتاکيد اوترغيب بيان راغلی دی انسان ته په دی حکمونوکی غفلت دشيطان په لمس سره پيداکيږي، په دی وجه په دی آيت کی دشيطان رجيم شخه دپناه غوښتلوتعليم ورکړل سوی دی، چې ددی ضرورت په هرنيک عمل کی دی مګرپه دی آيت کی يی داپه خاص طورسره دقرآن دقراءت سره سره ذکر کړی دی ددی تخصيص وجه دا هم کيدای سی چې دقرآن تلاوت يو داسی عمل دی چې ددی شخه خودبخوده شيطان تښتي.

ديو بگريزد ازان قوم که قرآن خوانند

شيطان دهغوخلقو شخه تښتي کوم چې دقرآن تلاوت کوي.

اوځينی خاص آيتونه اوسورتونه خاص کر دشيطان داثراتو دزائل کولو دپاره مجرب دي دکومو مؤثر کيدل اوفائده مندکيدل چې په شرعی نصونو سره ثابت دی (بيان القرآن) ددی باوجود چې هرکله دقرآن دتلاوت په وخت کی داعوذبالله ويلوحکم وکړل سو نو دنورو عملونوسره خو نورهم زيات ضروری سوه ددی شخه علاوه په خپله دقرآن کی دشيطانی وسوسوهم خطره وي، چې دتلاوت په ادابوکی کمی راسی فکر اوخشوع ګډه وډه سی، نو ددی دپاره هم دشيطان دوسوسو شخه پناه غوښتل ضروری وګڼل سی. (ابن کثير، مظهری وغيره)

لنډتفسير: (اوهرکله چې دنيک عمل فضيلت معلوم سو اوکله کله شيطان په دی کی خلل اچوي، کله په پوره کولو دعهدکی هم خلل اچوي اوکله په نورعمل لکه دقرآن په قرائت کی هم) نو (ای محمد ﷺ ته او ستاپه واسطه سره دی ستا امت واوری چې) هرکله چې ته (هم ځنګه نيک کارکول غواړي تردی چې قرآن ويل غواړي نو دشيطان مردود (دشر) شخه دالله ﷻ پناه غواړه (په اصل کی خو په زړه سره په خدای نظر ساتل دي او دا حقيقت دپناه غوښتلو واجب دی اوپه قرائت کی لوستل په ژبه سره هم سنت دي، او د پناه غوښتلوحکم مونږځکه درکړی، چې) يقيناًدده واک په هغوخلقونه چليږي کوم چې ايمان لري اوپه خپل رب باندی (په زړه سره) توکل لري، نو دده واک خو صرف په هغوخلقوباندی چليږي کوم چې دده سره تعلق ساتی اوپه هغوی باندی (چليږي) کوم چې دالله ﷻ سره شرک کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات اومسئلې: ابن کثير رحمه الله دتفسير په مقدمه کې فرمايي چې دانسان دښمنان دوه (۲) قسمه دي يو ۱ قسم په خپله دانسانانوڅخه لکه عام کفار، دويم دپيريانوڅخه چې کوم شيطانان اونافرمان دي، د اول قسم دښمن سره اسلام دجهاد اوقتال په ذريعه دځان ساتلوحکم کړی دی ، مگر د دويم قسم دپاره صرف دالله ﷻ څخه دپناه غوښتلوحکم دی ، ددی وجه دا ده چې اولنی قسم دښمن دخپل جنس څخه دی دده حمله په ښکاره وی ، په دی وجه دده سره جهاد او قتال فرض سو ، اوشيطانی دښمن په نظر نه راځي ، دده حمله هم په انسان مخامخ نه وي، په دی وجه دده څخه دځان ساتلو دپاره ديوداسی ذات پناه اخيستل واجب کړل سو چې نه انسان ته په نظر راځي اونه شيطان ته او دشيطان څخه ځان ساتل خدای ﷻ ته په حواله کولوکی داهم مصلحت دی چې شيطان پرچا غالب سی هغه دالله ﷻ په نزد مردود او دعذاب مستحق دی ، په خلاف دانسانی دښمن يعنی کفاروڅخه چې د دوی په مقابله کی که څوک مغلوب سی ياووژل سی نوشهيد اودثواب مستحق دی، په دی وجه دانسانی دښمن مقابله په اندامونوسره په هرحال کی نفع اونفع ده ، يا به په دښمن غالب راسی قوت به يې ختم کړي يا به په خپله شهيد سی ، دالله ﷻ په نزد به اجر پيداکړي .

مسئله : دقرآن دتلاوت څخه مخکې، اعوذبالله من الشيطن الرجيم ، ويل په دی آيت دعمل کولو دپاره د نبی کريم ﷺ څخه ثابت دی مگر کله کله ددی صلی الله عليه وسلم پرېښول هم په صحيح احاديثو ثابت دی په دی وجه جمهور علماء د امت دی حکم ته واجب نه بلکه سنت وايي او ابن جرير طبری په دی باندی اجماع دامت نقل کړی ده په دی معامله کی دحديثو روايتونه قولي اوعملي دتلاوت څخه مخکې په اکثرو حالاتوکی داعوذ بالله دلوستلو اوپه ځينوحالاتوکی د نه لوستلو دا ټول ابن کثير دخپل تفسير په شروع کی ډير ذکر کړی دی .

مسئله: په لمانځه کی اعوذبالله صرف د اول رکعت په شروع کی لوستل کيږي يادهر رکعت په شروع کی په دی کی د فقهاؤ امامانو مختلف اقوال دی د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په نزدصرف په اول کی لوستل مستحب گڼی د دواړو دليلونه په تفسير مظهری کی په تفصيل سره ليکلي دي ، (ص ۴۹ ج ۵)

مسئله: دقرآن تلاوت په لمانځه کی وی اوکه دباندی دلمانځه څخه ، په دواړوصورتونوکی دتلاوت څخه مخکی اعوذبالله ويل سنت دي، مگر يو واری چی ووايي نو وړاندی چی څومره تلاوت کوي دغه يوه اعوذبالله کافی ده البته که دتلاوت په مينځ کی په څه دنيوی کارمشغول سی اوبيايي دوباره شروع کوي نو دغه وخت دوباره اعوذ بالله او بسم الله ويل په کار دي .

مسئله: دقرآن دتلاوت څخه علاوه دبل کلام يا کتاب لوستلوڅخه مخکی اعوذ بالله لوستل سنت نه دی ، هلته صرف بسم الله لوستل په کار دي (در مختار او شامی)

البته په مختلفو کارونو اوحالاتوکی داعوذ بالله تعليم په حديث کی مقبول دی مثلاً کله چی چاته زياته غصه ورسی نو په حديث کی دی چی په اعوذ بالله لوستلو سره غصه سړيږي (ابن کثير)

دارنگه په حديث کی دي چی اودس ماتی ته دکښينستلوڅخه مخکې ، اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِکَ مِنَ الْخُبْثِ وَالْخَبَائِثِ : لوستل مستحب دی (شامی)

Maktaba Tul Ishaat.com

(په الله ﷻ باندی ایمان اوتوکل دشیطاني تسلط څخه دنجات لارده)

په دی آیت کی یې داواضحه کړه چی الله ﷻ شیطان ته داسی قوت نه دی ورکړی چی دی یوانسان په بدی مجبوره اوبی اختیاره کړي چی انسان په خپله خپل اختیاراوقدرت په غفلت یابل نفسانی غرض سره استعمال نه کړي نو دا دده قصور دی په دی وجه فرمایي چی کوم خلق په الله ﷻ ایمان لری اوخپلو حالاتواوعملونوکی دخپل قوت ارادی پرځای په الله ﷻ اعتمادکوي چی هغه دهرخیرتوفیق ورکوونکی دی اوهرشرڅخه محفوظ کوونکی دی پرداسی خلقودشیطان تسلط نه سی راتلی البته ځوک چی دخپلونفسانی غرضونوپه سبب دشیطان سره دوستی کوي اودهغه خبري خوښوي اودالله ﷻ سره غیرشریکوي نوپه دوی شیطان مسلط سی چی دهیڅ نیکی طرف ته یی نه پرېږدي اوپه هره بدی کی دي مخکی مخکی وي.

دامضمون دسورة حجر دآیت دی په کوم کی چی دشیطان ددعوی په مقابله کی په خپله الله ﷻ داجواب ورکړی دی إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ إِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْغَاوِينَ :یعنی زماپه خاص بندګانو ستا تسلط نه سی راتلی البته په هغوی باندی کوم چی په خپله ګمراه سول اوستا اتباع یی شروع کړه.

وَإِذَا بَدَّلْنَا آيَةً مَّكَانَ آيَةٍ ۙ وَاللَّهُ أَعْلَمُ

او هرکله چی بدلوو مونږ یوایت په ځای دبل ایت او الله تعالی ته ښه معلوم دی

بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوا إِنَّمَا أَنتَ مُفْتَرٍ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾

څه چی نازلوی نو وایی چی تا خو جوړه کړی ده دا نوی خبره ، بلکه اکثر په دی نه پوهیږي

قُلْ نَزَّلَهُ رُوحُ الْقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِينَ

ته ووایه په دا نازلوی پاکه ملائکه ستا درب دطرف څخه په حقه سره چی مضبوط کړی ایماندران

آمَنُوا وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿١٠٢﴾ وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ

او هدایت او خوشخبری دمسلمانانو دپاره ، او مونږ ته ښه معلومه ده چی دوی

يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُ بَشَرٌ ۗ لِّسَانُ الَّذِي يُلْحِدُونَ إِلَيْهِ

وایی ده ته ښیي یو سړی ، دکوم سړی طرف ته چی یی دوی نسبت کوی ،

أَعْجَمِيٌّ وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِينٌ ﴿١٠٣﴾ إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ

دهغه ژبه عجمی ده اودا قرآن په عربی ژبه دی صفا هغه خلق چی

Maktaba Tul Ishaat.com

بِاٰیٰتِ اللّٰهِ لَا یَهْدِیْهِمُ اللّٰهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۱۰۴﴾ اِنَّمَا

دالله تعالی په خبرو یقین نه کوی دوی ته الله تعالی لارنه ښیی ، او دوی دپاره عذاب درناك دی ، دروغ

یَفْتَرِی الْکَذِبَ الَّذِیْنَ لَا یُؤْمِنُوْنَ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ

خو هغه خلق جوړوی دکوموچی یقین نسته دالله په خبرو اودغه خلق

هُمُ الْکٰذِبُوْنَ ﴿۱۰۵﴾

درواغجنان دی

دآیتونو تړون: ددی څخه مخکی آیت کی دقرآن دتلاوت په وخت کی داعوذ بالله دلوستلو هدایت وو چی په دی کی اشاره ددی خبری وه چی شیطان دتلاوت په وخت کی دانسان په زړه کی وسوسه اچوی په دی ذکر سوو آیتونوکی ددغه شیطانی وسوسو جواب دی . دآیتونو لنډتفسیر دا دی .

(په نبوت باندی دکفارو دشبهو جواب ، سره د زورنی)

اوکله چی مونږ یوآیت په ځای دبل آیت بدلوو (یعنی یوآیت لفظاًیامعنی منسوخ کړو او ددی په ځای بل حکم راولیږو) اوحال دا دی چی الله ﷻ کوم حکم (په اول وار یاپه دوهم وار) رالیږی (ددی مصلحت او حکمت) هغه ښه پیژنی (چی چاته داحکم ورکړل سوی دی د دوی دحالاتوپه اعتبارسره په یووخت کی مصلحت یو ډول وو ، بیا دحالت په بدلیدلوسره مصلحت اوحکمت بل ډول سو) نو دا خلق وایی چی (معاذ الله) ته (په خدای باندی) درواغ جوړ وي (چی دخپل کلام نسبت الله ﷻ ته کوي کنه اوکه دالله ﷻ حکم وي نو دبدلیدو یی بیاڅه ضرورت وو آیا الله ﷻ ته اول علم نه وو ، او داخلق پردی غورنه کوي چی په ځینو وختونوکی سره ددی چی علم په ټولوحالاتو وي ، په اول حالت پیښیدو باندی اولنی حکم ورکول کیږي ، او د دوهم حالت په پیښیدو که څه هم چی دغه وخت هم علم وي ، مګرپه مقتضاء د مصلحت ددغه دویم حالت حکم دغه وخت نه بیانوي بلکه هرکله چی دغه حالت پیښ سی ، هغه وخت بیانیږي لکه چی طبیب ، ډاکتر یوه دوا ورکوي او دی پوهیږي چی ددی دوایی په استعمال سره به حالت بدلیږي او بیابه بله دوا ورکول کیږي مګر په ابتداء کی مریض ته ټول تفصیل نه سی ښوولی داحقیقت د نسخ داحکامودی کوم چی په قرآن اوحدیث کی کیږي ، کوم چی دحقیقت څخه خبرنه وي هغوی دشیطان په لمس دنسخ څخه انکار کوي ، په دی وجه ددی په جواب کی الله ﷻ فرمایي، چی نبی کریم ﷺ دخانه جوړونکی نه دی) بلکه په دوی کی اکثره خلق جاهلان دي (چی په احکامو کی نسخ بی دځه دلیل څخه د الله ﷻ دکلام والی څخه خلاف ګڼي) ته (د دوی په جواب کی) وفرمایه (چی دا کلام زما جوړسوی نه دی بلکه دا) روح القدس (یعنی جبرائیل علیه السلام) ستا درب دطرف څخه حکمت موافق راوړی دی (په دی وجه دا دالله ﷻ کلام دی اوپه دی کی داحکامو تبدیلی په مقتضاء

دحکمت اومصلحت ده اوداکلام ښکه راالېږل سوی دی) چي ایمانداران (په ایمان) ثابت قدم ولري او
ددی مسلمانانو دپاره دهدایت او د خوشخبري (ذریعه) سي (ددی ښخه وروسته دکفارو دیوې بلی
عبثی شبهي جواب دی) اومونږ ته معلومه ده چي دا خلق (یوه بله غلطه خبره) دا هم وایی چي ده ته خو
یوسړي ښوونه کوي (ددی ښخه مراد یو عجمی دروم اوسیدنکی آهنګر (پښ) دی چي نوم یی بلعام
یامقیس وو ده به دنبی کریمﷺ خبري په زړه سره اوریدی نوحضور ﷺ به کله کله دده خواته تلی
اوکښېنستی به اوهغه خه په انجیل وغیره هم پوهیدی پردی باندی کافرانو دا خبره خپره کړه چي دا
سړی نبی کریمﷺ ته قرآن کلام زده کوي لکه چي په در منثورکی داسی دی الله ﷻ ددی جواب ورکی
چي قرآن مجید دالفاظو اومعانیو دمجموعی نوم دی تاسی خلق که دقرآن معنی اومعلومات نه سئ
پیژندی نوکم ازکم دعربی ژبی دمعیاری فصاحت او بلاغت ښخه خوناخبره نه یاست نوپه دومره خبری
خوتاسو لره پوهیدل په کار دي چي که بالفرض دقرآن معنی دغه سړی ده ته ښودلی وي نو دکلام
الفاظ او دده داسی فصاحت اوبلاغت چي دمقابلی کولو ښخه یی تول عرب عاجزه سوی دی دا دکوم
ځای ښخه راغلل ښکه چي) دکوم سړی طرف ته چي تاسی ددی نسبت کوی دهغه ژبه خو عجمی ده او
دا قرآن صفا عربی دی (ځوک عجمی بی چاره داسی عبارت ښنګه جوړولی سی اوکه وویل سی چي
عبارت به نبی ﷺ جوړکړی وي نو ددی جواب خو په هغه چلینج کی په پوره ډول سره سوی دی کوم
چي په سورة بقره کی راغلی دی چي نبی ﷺ دخدای په اذن سره د خپل نبوت او دقرآن دحقانیت
دامقررکړی وو چي که ستاسی دوینا مطابق دا د انسان کلام وي نو تاسی هم انسانان یاست او دلوی
فصاحت اوبلاغت دعیودار یاست نو تاسی هم ددی په شان کلام که زیات نه وي نو دآیت برابرخو پیش
کړی مګر دټولو عرب سره ددی چي دده ﷺ په مقابله کی خپل هرښه جان قربانولو ته تیار وو مګر ددی
چیلینج دقبلولوهمت په هیچاک کی ونه سو ددی ښخه وروسته په منکرانو دنبوت اوقرآن په داسی
اعتراضونو کولو دعذاب وعده او زورنه ده چي) کوم خلق چي دالله ﷻ په آیتونو ایمان نه راوړي نو الله
ﷻ به هیڅکله دوی پر لاره نه کړي او د دوی دپاره به دردناکه سزا وي (او دا خلق کوم چي نعوذبالله
تاته درواغ جوړونکی وایي) درواغ جوړونکی خوداخلق دي کوم چي دالله ﷻ په آیتونو ایمان نه راوړي
او داخلق دي پوره درواغجن.

مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ مِنْ بَعْدِ اِيْمَانِهٖۤ اِلَّا مَنْ

ځوک چي منکر سو دالله ښخه — پس دیقین کولو ښخه مګر هغه نه پرچا چي

اُكْرِهَ وَقَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّۢ بِالْاِيْمَانِ وَلٰكِنْ مَّنْ شَرَحَ بِالْكُفْرِ

زبردستی وسوه، او زړه دده برقرار وی په ایمان — مګر کوم چي په پراخ زړه سره منکر سو

Maktaba Tul Ishaat.com

صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللّٰهِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٦﴾

پس په دوی غضب دی دالله تعالی ، او دوی لره لوی عذاب دی

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ ۙ وَأَنَّ اللّٰهَ

دا په دی واسطه چی دوی غوره کړو ددنیا ژوند دآخرت څخه او الله

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِينَ ﴿١٠٧﴾ أُولٰٓئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى

لار نه ښیی منکرانو خلقوته دا هغه دی چی مهر وهلی دی الله په

قُلُوبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَأَبْصَارِهِمْ ۖ وَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُونَ ﴿١٠٨﴾

زړونو د دوی او په غوږونو د دوی او په سترګو د دوی او دا دی بی هوښه

لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْخٰسِرُونَ ﴿١٠٩﴾

په خپله ظاهره ده چی دا خلق په آخرت کی خراب دی

تفسیر: کوم سړی چی د ایمان راوړلوڅخه وروسته په الله ﷻ سره کفر وکړي (په دی کی کفر په رسول اوانکار دقیامت وغیره ټول دا خل دي) مګر په کوم سړی باندی چی (دکافرانو دطرف څخه) زبردستی وکړل سی (چی که ته دکفرفلانی خبره نه کوی نو مونږ به تا قتل کړو مثلاً او دحالاتوڅخه هم دا اندازه لګیږي چی دوی داسی کولی سی) په دی شرط چی دده زړه په ایمان مطمئن وي (یعنی په عقیده کی یی څه خرابی رانه سی او دغه کار یا خبره سخته ګناه اوبده ګنی نوهغه ددی حکم څخه مستثنی دی چی دده په ظاهره کلمه دکفر یاکار دکفرکی اخته کیدل دیوعذر په بناسره دی په دی وجه کومه وعده دعذاب چی په مرتدکیدو باندی وراندی راغی هغه دداسی سړی دپاره نه ده) لیکن البته کوم چی په پراخ زړه سره (یعنی دغه کفرصحیح اوښه وګنی) کفروکړي نو په داسی خلقوبه دالله ﷻ غضب وي او دوی لره به لویه سزا وي (او) دا (غضب اوعذاب) په دی سبب سره به وي چی دوی ددنیا ژوند دآخرت په مقابله کی خوښ کی اوپه دی سبب سره به وي چی الله ﷻ داسی کافرانوخلقوته (چی دنیاته همیشه پرآخرت باندی ترجیح ورکړی) هدایت نه کوي (دا دوه سببونه جُدا جُدا نه دی بلکه مجموعه سبب دیو مطلب ددی دا دی ، چی دکار د ارادي څخه وروسته دالله ﷻ عادت دا دی چی فعل پیداکوي په کوم چی دفعل صادریدل بنا کیږي ، دلته د، اِسۡتَحَبُّوا: څخه ارادی او د، لَایَهۡدِی : څخه دخلق طرف ته اشاره ده اوپه دی مجموعه باندی دیوقبیح فعل صادریدل مرتب دی) دا هغه خلق دی چی (په دنیا کی د

Maktaba Tul Ishaat.com

دوی پرکفر باندی د اصرار حالت دا دی چې الله ﷻ د دوی په زړونو اوغوږونو اوسترګو مُهر لګولی دی اوداخلق (دانجام څخه) بالکل غافله دی (په دی وجه) لازمی خبره ده چې په آخرت کی دا خلق به بالکل په تاوان کی وي.

معلومات اومسئلې: مسئله: ددی آیت څخه ثابته سوه چې کوم سړی دکفر پرکلمی ویلو داسی مجبوره کړل سو چې که دی کلمه دکفرنه وایی نوقتلوی یی، اوداهم په غالب ګمان معلومه وي چې دغه اخطار ورکوونکی ته پرده پوره قدرت حاصل دی نودداسی اکراه په حالت کی که دی په ژبه سره دکفرکلمه وایی مګر زړه یی په ایمان مضبوط وي اوداکلمه باطله اوبده ګڼی نو پرده هیڅ ګناه نسته او نه دده ښځه پرده حرامیږي (قرطبي ومظهري)

دا آیت دهغوصحابه کرامو رضی الله عنهم په باره کی نازل سوی دی کوم چې مشرکانو ګرفتار کړی وو او ورته یی ویلی وه چې کفراختیارکړي کنه نو مونږ تاسی قتلوو دا ګرفتار سوی حضرات حضرت عمار رضی الله عنه او دده مور اوپلارياسر اوسمیه اوصهیب اوبلال اوخباب رضی الله عنهم وه، چې په دوی کی حضرت یاسر او دده بی بی دکفر دکلمی ویلوڅخه قطعی انکار وکی حضرت یاسر رضی الله عنه یی قتل کی اوحضرت سمیه رضی الله عنها یی د دوه اوښانو په مینځ کی وتړله اوهغه یی وزغلول چې ددی څخه هغه دوي ټوټی سوه اوشهیده سوه اوداهغه دوه بزرګان دي کوموته چې داسلام په خاطرترټولو اول شهادت نصیب سو دغه شان حضرت خباب رضی الله عنه د کفر دکلمی ویلوڅخه قطعی انکار وکی اوښه په اطمینان سره یی قتلول قبول کړل په دوی کی حضرت عمار رضی الله عنه دمرګ دبیرڅخه په ژبه اقرار دکفر وکی مګر زړه یی په ایمان مطمئن وو دي چې ددښمنانوڅخه راخلاص سو اودنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو نو په ډیر غم سره یی ددی واقعی اظهار وکی نبی کریم ﷺ دده څخه یی پوښتنه وکړه چې کله تا دغه کلمه ویله نو ستا د زړه څه حال وو ده عرض وکی چې زړه خو می په ایمان مضبوط اوکلك وو، نونبی کریم ﷺ دی مطمئن کی چې په تا ددی هیڅ وبال نسته ستا ددی فیصلی په تصدیق کی دا آیت نازل سوی دی (قرطبی ومظهری)

(داکراه تعریف او ددی حد)

داکراه لفظی معنی دا ده چې یو سړی په داسی خبره یا کارمجبوره کړل سی چې دهغه په ویلویاکولو باندی دی راضی نه وي بیا ددی دوي ۲ درجي دي یوه درجه د اکراه دا ده چې دی په زړه سره خودی ته تیارنه وي مګر داسی بی اختیاره اوبی واکه هم نه وي چې انکارنه سی کولی دی ته دفقهاء په اصطلاح کی اکراه غیرملجئ وایی، په داسی اکراه سره دکفرڅه کلمه ویل یایوحرام کارکول نه جائزکیږي البته په ځینو جزئی احکاموکی په دی هم څه اثارمرتب کیږي کوم چې دفقه په کتابونوکی په تفصیل سره ذکر دی

دویمه درجه د اکراه دا ده چې دده څخه اختیارات ختم کړل سی چې که دی د اکراه کوونکو په ویناعمل ونه کړي نوقتل به کړل سی یا به یو اندام ورپریکړل سی دی ته د فقهاء په اصطلاح کی اکراه ملجئ وایی چې معنی یی دا ده داسی اکراه چې دانسان اختیارات په کښی ختم کړل سی اومجبور محض کړل سی دداسی اکراه په حالت کی دکفر کلمه په ژبه سره ویل په دی شرط چې زړه یی په ایمان

Maktaba Tul Ishaat.com

مطمئن وي جائز ده دغه شان بل انسان دقتل کولو څخه علاوه په بل حرام کار کولو کې مجبوره کړل سي نو په دې کې به هم څه ګناه نه وي.

مګر په دواړه قسمه اکراه کې شرط دا دی چې اکراه کوونکی دکوم کاراخطار ورکوي هغه پردې قادرهم وي اوکوم سړی چې په کښې مبتلاوی دده غالب ګمان دا وي چې که زه دا خبره ونه منم نو دکومې خبرې اخطار چې راکوي دی به خامخا دغه وکړي (مظهری)

مسئله: معاملات په دوه قسمه سره دی یوهغه چې په کښې په زړه سره رضامندی ضروري وي، لکه اخیستل خرڅول بخښل وغیره چې په دی کې په زړه سره رضامندي دمعاملي دپاره شرط ده په نص د قرآن سره، إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ: یعنی دبل سړی مال حلال نه دی ترڅو چې دتجارت وغیره معامله د دواړو جانبینو په رضامندی سره نه وي.

په حدیث کې دی «لَايَحِلُّ مَالَ امْرِءٍ مُسْلِمٍ اِلَّابِطِيْبِ نَفْسٍ مِّنْهُ»: یعنی دیومسلمان مال ترهغه وخته پورې حال نه دی ترڅو پورې چې په خوشحالی سره یې هغه په ورکولو راضی نه وي.

داسې معامله که په اکراه سره وکړل سي نوشرعاًیې بیاهیڅ اعتبارنسته داکراه دحالت دوتلوڅخه وروسته به ده ته اختیار وي چې په حالت داکراه یې کومه بیعه یاهبه وغیره کړې وه داپه خپله رضاسره باقی پاته کوي اوکه خرابوي یې.

اوځه معاملي داسې هم دي په کوموکې چې صرف په ژبه سره په ویلوباندی مدار دي د زړه قصد او اراده یا رضا اوخوشحالی دمعاملي سره شرط نه دی مثلاًنکاح طلاق رجعت عتاق وغیره دداسې معاملي متعلق په حدیث کې ارشاد دی.

ثَلٰثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ اَلنِّكَاحُ وَ الطَّلَاقُ وَالرَّجْعَةُ: (رواه ابوداود والترمذی وحسنه)

یعنی که دوه تنه په ژبه سره دنکاح ایجاب اوقبول دشرائطو مطابق وکړي یایوخاوندخپلې ښځې ته په ژبه سره طلاق ورکړي یا دطلاق څخه وروسته په ژبه سره رجعت وکړي برابره خبره ده که په طور دخندا اوټوقو وي، په زړه کې اراده دطلاق او نکاح یارجعت وي اوکه نه وي بیاهم محض په الفاظو ویلو سره نکاح کیږي طلاق واقع کیږي دارنګه رجعت صحیح کیږي (مظهری)

امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله شعبی رحمه الله زهری نخعی رحمه الله اوقتادة رحمه الله په نزد دطلاق مکره هم دا حکم دی چې په حالت د اکراه کې که څه هم دی په زړه سره طلاق ورکولوته تیارنه وي په مجبوري یې الفاظ دطلاق ویلي دي اودطلاق دواقع کیدوتعلق صرف دطلاق په الفاظواداکولوسره دی د زړه قصد اواراده په کښې شرط نه ده لکه دذکر سوی حدیث څخه چې ثابته ده په دې وجه دا طلاق به واقع سي مګر امام شافعي رحمه الله حضرت علي اوحضرت ابن عباس رضي الله عنه په نزد داکراه دحالت طلاق نه واقع کیږي څکه چې په حدیث کې دی.

رُفِعَ عَنْ اُمَّتِيَ الْخَطَاءُ وَالنِّسْيَانُ وَمَا اسْتُكْرِهُوْا عَلَيْهِ (رواه الطبرانی عن ثوبان رضي الله عنه)

یعنی زما د امت څخه خطاء او هیره او دڅه چې پردوی باندې جبر وکړل سي تول پورته کړل سوی دی. دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دا حدیث د آخرت د احکامو متعلق دی چې په خطا یا په هیره یا د اکراه

Maktaba Tul Ishaat.com

په حالت کی څه کاریاخبره دشریعت خلاف وسی په دی به ګناه نه وي باقی پاته سول احکام ددنیا
اوهغه نتیجی کومی چی پردی کار باندی مرتب کیدای سی ددی واقع کیدل خومحسوس اودلیدو دی
اوپه دنیا کی چی د دوی په واقع کیدلوکوم اثار اواحکام مرتب کیږي هغه خوکیږي مثلاًیوچاڅوک په
خطا سره قتل کړي ، نو ددی قتل ګناه او دآخرت سزا خو به بیشکه چی نه وي مګر څنګه چی دقتل
محسوس اثر دقتل سوی ساه ختل دي هغه خو واقع دی دغه شان ددی دا شرعی اثرهم ثابت سی چی
دده ښځه دعدت څخه وروسته دویم نکاح کوي دده مال په وراثت کی به تقسیمږي دغه شان الفاظ
دطلاق یانکاح یا رجعت چی په ژبه سره ادا سی نو ددی شرعی اثربه هم ثابت سی (مظهری اوقرطبی)
والله سبحانه وتعالی اعلم وعلمه اتم .

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا فُتِنُوا ثُمَّ جٰهَدُوا وَصَبَرُوٓا إِنَّ رَبَّكَ

بیا خبره دا ده چی ستا درب په هغو خلقو چی دوی وطن پرېښودلی دی پس دمصیبت پورته کولو څخه
بیاجهادکوی اوقائم پاته سی ، بیشکه ستا رب .

مِنْ بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ۱۱۰ يَوْمَ تَأْتِي كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ

ددې خبرو څخه وروسته بخښنی والا مهربان دی ، په کومو ورځ چی راسی هرنفس سوال جواب کوونکی

عَنْ نَفْسِهَا وَتُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ۱۱۱

دخپل طرف څخه اوپوره به ورکړل سی هرنفس ته څه چی ده کړی وی او په دوی به ظلم نه وی .

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ اٰمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَّأْتِيهَا

اوښوولی دی الله یو مثال یو کلی وو په ارام امن سره راتلی ده ته

رِزْقُهَا رَغَدًا مِّنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللّٰهِ فَأَذَاقَهَا

رزق دده په فراغت سره دهرځای څخه بیا یی ناشکری وکړه دالله داحسانونو بیا وڅکوی

اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ ۱۱۲ وَلَقَدْ

دوی ته الله خوند چی د دوی دتن کپړی سوی لوږه اوبیره په بدله دهغه کی چی دوی کول ، او دوی ته

جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمُ الْعَذَابُ وَهُمْ

ورسیدی رسول د دوی څخه بیا یی دی دروغجن کی ، بیا ونیول دوی عذاب اودغه

ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۱۳﴾

گناهگاران وو

لنډتفسير: په تيروآيتونوكى په كفرباندى دعذاب دوعدى ذكر وو برابره خبره ده كه اصلى كفر وي يا مرتد كيدل ددغو څخه وروسته په دى ذكر سوو درو ۳ آيتونوكى په اولنى آيت كى داوښودل سوه چى ايمان داسى دولت دى چى كوم كافر يا مرتد رښتينى ايمان راوړي نو دده تير ټول گناهونه معاف سى په دويم آيت كى دقيامت ذكرڅكه وسوچى داجزا اوسزا ټول دقيامت څخه وروسته كيدونكى دى په دريم آيت كى داوښودل سوه چى دكفر اوگناه اصل سزا خو دقيامت څخه وروسته به وركول كيږي مگر د ځينو گناهونو سزا په دنيا كى هم څه وركول كيږي د درو واړو آيتونو لنډتفسير دا دى.

بيا(كه دكفرڅخه وروسته داخلق ايمان راوړي نو) بيشكه ستارب دداسى خلقودپاره چى كومودمبتلا كيدو دكفرڅخه وروسته (ايمان راوړي) هجرت يى وكى بيايى جهاد وكى او(په ايمان) قائم پاته سو نو ستارب (دداسى خلقو دپاره) د دوى (دعملونو) څخه وروسته لوى مغفرت كوونكى لوى رحمت والادى (يعنى دايمان اونيكوعملونوپه بركت سره به د دوى تيرگناهونه معاف سى اودالله ﷻ په رحمت سره به دوى ته په جنت كى لوى لوى درجى وركړل سى دكفرڅخه وړاندى گناه خوصرف په ايمان سره معاف كيږي جهاد وغيره نيک عملونه شرط دمعافى نه دي ليكن نيک عملونه دجنت د درجوحاصليدو اسباب دي په دى وجه يى ددى سره ذكر وسو.

(او دا جزا اوسزا ذكرسوى به په هغه ورځ واقع كيږي) په كومه ورځ چى هرسړى په خپله طرفدارى كى خبرې كوى (اودنورچاپوښتنه به نه كوي) اوهرسړى ته به دده دكړو پوره بدله وركړل سى (يعنى دنيكى په بدله كى به كمى نه وي، گوياچى دالله ﷻ درحمت څخه دزياتوب امكان سته اودبدى په بدله كى به زياتوب نه وى، هو! دا ممكنه ده چى په رحمت سره په دى كى څه كمى وسى، دامطلب دى ددى چى) په دوى به ظلم ونه كړل سى (ددى څخه وروسته دا ښودل سوى ده چى كه څه هم دكفر اوگناه پوره سزا به د قيامت څخه وروسته وي مگر كله كله په دنياكى هم ددى وبال دعذاب په صورت كى راځي) اوالله ﷻ د يوكلى دخلقوعجيبه حال بيانوى چى دغه په (لوى) امن اواطمينان سره اوسيدل (او) د دوى دخوړلو څښلو اغوستلو شيانوپه لوى فراغت سره دځلورطرف څخه دوى ته رارسيدل (دى خلقو دالله ﷻ د نعمتونوشكر ادا نه كى بلكه) دوى دخداى دنعمتونو بى قدرى وكړه (يعنى په كفر اوشرک اومعصيت كى اخته سول) په دى سره الله ﷻ په دوى د دوى دحركتونو په سبب سره ديو اوږد قحطى اوبيرى خوند وڅكوي (چى مال او دولت ورڅخه واخيستل سو، په قحطى اولوږه كى اخته سول، او ددښمنانو بيره پر مسلطه سوه، ددى كليو امن او اطمينان هم ختم سو) او (په دى سزا كى دالله ﷻ دطرف څخه څه تلوارنه دى سوى بلكه اول ددى دخبردارى اواصلاح دپاره) دوى ته د دوى څخه يورسول هم (دالله ﷻ دطرف څخه) راغلى (دكوم دصدق او ديانتدارى حال چى په خپله دخپل قوم څخه دكيدو په وجه سره دوى ته په پوره ډول سره معلومه وو) نو دى (رسول هم) دوى درواغجن كړل نو دوى عذاب ونيول كله

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دوی بالکل ظلم ته ملاګانې وتړلې.

معلومات اومسئلې: په آخرې آیت کې دلوږې اوبیرې دخوند څکولو دپاره لفظ دلباس استعمال کړل سوی دی، چې جامې دلوږې اوبیرې دوی ته وڅکول سوی حال دا دی چې جامې دڅکلو شی نه دی مګردلته د لباس لفظ دمحیط اوهمه ګیروالی په وجه تشبیهًا استعمال سوی دی چې دابیره اولوږه پردی ټولو داسې راخپره سوې وه لکه څنګه چې لباس دبدن سره لازم ملزوم وي دابیره اولږه هم پردوی داسې مسلطه کړل سوه.

دامثال کوم چې په دې آیت کې بیان سوی دی دځینو امامنو دتفسیر په نزدخوعام مثال دی دڅه خاص کلې سره ددې تعلق نسته اواکثرو حضراتو دا دمکې مکرمې واقعه ګڼلې ده چې دغه تر اوو ۷ کالو پورې په سخته قحطی کې اخته سول چې دمردارو حیواناتو سپیو اونوروګندګیو په خوړلو مجبور سول او دمسلمانانو بیره په دوی مسلطه سوه بیا دمکې سردارانو نبی کریم ﷺ ته عرض وکی، چې دکفر او نافرمانۍ قصور لرونکی خوسړی دی، ښځې اوکوچنیان خو بې قصوره دي، په دې باندې نبی کریم ﷺ دوی ته دمدینې طیبې څخه دخوراک وغیره سامان ولیږی (مظهري)

اوابوسفیان په حالت دکفرکې نبی کریم ﷺ ته درخواست وکی چې ته خو دصله رحمی اوعفو اودرګذر تعلیم ورکوي دا ستا قوم هلاکیږي دالله ﷻ څخه دعاوغواړه چې داقحط زمونږ څخه لیرې سی په دې باندې نبی کریم ﷺ د دوی دپاره دُعا وفرمایله او قحط ختم سو (قرطبی)

فَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلَالًا طَيِّبًا وَاشْكُرُوا نِعْمَتَ

پس خوری کوم چې رزق درکړی دی تاسې ته الله حلال اوپاک، اوشکر کوی دالله تعالی داحسان

اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿١١٤﴾ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ

که تاسې دهغه عبادت کوی، الله تعالی حرام کړی دی په تاسې مرداره

وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ

او وینه او دسور غوښه او په کوم چې نوم واخیستل سی دالله څخه ماسوا دبل چا بیا څوک چې ناچاره سی چې

بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١١٥﴾ وَلَا تَقُولُوا لِمَا تَصِفُ

نه بغاوت کوی او نه زیاتوب کوی پس الله تعالی بخښنې والا مهربان دی، او مه وایی په خپلو ژبو هغه چې

أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هَذَا حَلَالٌ وَهَذَا حَرَامٌ لِتَفْتَرُوا عَلَى اللَّهِ

جوړوی، ژبې ستاسې دروغ چې دا حلال دی او دا حرام دی چې جوړ کړئ په الله تعالی باندې

Maktaba Tul Ishaat.com

الْكَذِبَ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴿١١٦﴾

درواغ بیشکه څوك چي درواغ جوړوی په الله تعالی باندی د دوی خیر نسته

مَتَاعٌ قَلِيلٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١١٧﴾ وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا

لږه شان فائده ده ، او د دوی دپاره عذاب دردناك دی ، او کوم خلق چي یهودیان دي

حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِن قَبْلُ وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ وَلَٰكِن

په دوی حرام کړي وو مونږ څه چي تاته ورانډی او رول سوی دی او مونږ په دوی ظلم نه وو کړی ، لیکن

كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُوا السُّوءَ

دوی په خپله په خانونو ظلم کوی بیا خبره دا ده چي ستا رب په هغو خلقو کومو چي بدی یی وکړه

بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا إِنَّ رَبَّكَ مِن

په ناپوهی سره بیا توبه وکی ، ددي څخه وروسته ، او خپله اصلاح وکړی ، بیشکه ستا رب ددي څخه

بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٩﴾

وروسته بخښنی والا او مهربان دی .

لنډتفسیر: په تیر آیت کی دالله ﷻ په نعمتونو باندی دکفارو دناشکری بیان وو اوپردی باندی د دوی د عذاب ذکر وو، په دی ذکر سوو آیتونوکی اول خومسلمانانوته په دی هدایت وسو چي دوی دي ناشکري نه کوي ، الله ﷻ چي کوم حلال نعمتونه دوی ته ورکړي دي ، دا دي په شکر سره استعمالوي ددی څخه وروسته دا ارشاد فرمایی چي کفارو اومشرکانو دالله ﷻ دنعمتونو دناشکري یوخاص صورت داهم اختیار کړی وو چي ډیر شیان کوم چي الله ﷻ د دوی دپاره حلال کړي وه دخپل طرف څخه یی هغوته حرام ویل شروع کړل ، اوډیرشیان کوموته چي الله ﷻ حرام ویلی وه هغو ته یی حلال ویل شروع کړل مسلمانانو ته یی په دی باندی خبرداری وفرمایل چي دوی دي داسی نه کوي ديو شی حلال یا حرام کول صرف دهغه ذات حق دی چا چي دوی پیداکړي دي دخپل طرف څخه داسی کول په خدایی اختیاراتو کی دخل کول دي اوپه الله ﷻ باندی درواغ جوړول دي .

په آخرکی داهم ارشادفرمایی چي کوموخلقوپه جهالت سره داسی جرمونه کړي دي هغوی دی هم دالله ﷻ درحمت څخه مایوسه کیږي نه ، که دوی توبه وکاږي اوصحیح ایمان راوړي نو الله ﷻ به د دوی ټول ګناهونه وبخښی دآیتونو لنډتفسیر دا دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم شیان چی الله ﷻ تاسي ته حلال اوپاک کړي دي دا (حرامه مه بولی ځکه چی دادمشرکانوجاهلان رسم دی بلکه دوی) خوری اودالله ﷻ دنعمتونوشکرکوي که تاسی (دخپلی دعوی په مطابق) دهغه عبادت کوی په تاسی خو (منجمله ددغوشیانوځخه کوموته چی تاسی حرام وایاست الله تعالی) صرف مرداره حرامه کړی ده اووینه اودخنزیر غوښی (وغیره) اوکوم شی چی دغیره الله په نوم کړل سوی دی، بیاکوم سړی چی (ددیری لوږی ځخه) بالکل بی قراره سی ، په دی شرط چی خوندا خیستونکی نه وي اونه دحد (دضرورت) ځخه تجاوزکوونکی وي نوالله ﷻ (دده دپاره که هغه داشیان وخوري) بښښنی والامهربانی کولووالادی،اودکوموشیان متعلق چی محضی ستاسی ددرواغو زبانی دعوه ده (اوپه دی کی څه صحیح دلیل نسته) د دوی متعلق داسی مه وایاست چی فلانی شی حلال او فلانی حرام دي (لکه چی داتمی پاري څلورمی حصی ته نژدی دا آیت ، وَجَعَلُوا لِلَّهِ : کی د دوی داسی درواغ دعوی راغلی دی) چی ددی مطلب به دا وي چی په الله ﷻ درواغ تهمت لګوی (ځکه چی الله ﷻ خو داسی نه دی ویلی ، بلکه ددی خلاف یی فرمایلی دي) بیشکه کوم خلق چی په الله ﷻ درواغ لګوی هغوی په هیڅ خیر پیدانه کړي (برابره خبره ده که په دنیا اوپه آخرت دواړو کی یاصرف په اخرت کی) دا (په دنیاکی) یوڅو ورځی عیش دی (او وروسته دمرګ ځخه) د هغوی دپاره دردناکه سزا ده او (دامشرکان دملت ابراهیمی دتابعدار کیدو دعوه کوی حال دا دی چی د دوی په شریعت کی خو داشان حرام نه وه کوم چی دوی حرام مقرر کړی دی ، البته ډیره زمانه وروسته په دغو شیانو کی) صرف په یهودیانو باندی موږ هغه شیان حرام کړی وه دکومو بیان چی موږ ددی ځخه مخکی (په سورة انعام کی) تاته کړی دی (اوددغو په حراموالی کی هم) موږ په هغوی (صورتاًهم) هیڅ زیاتوب نه دی کړی لیکن هغوی په خپله په ځان (دانبیاؤپه مخالفت کولو) زیاتوب کوي (نومعلومه سوه چی پاک شیان خو قصداً هیڅکله نه دي حرام سوی اوپه شریعت ابراهیمی کی دڅه وقتی ضرورت په وجه هم نه دي سوی بیاداتاسی دکوم ځای ځخه جوړکړل) بیا ستارب دداسی خلقو دپاره کومو چی په جهالت سره بدکار وکی (خواه که هرڅنګه چی وي) بیاددی ځخه وروسته یی توبه وکړه او (دآئنده دپاره) یی خپل عملونه برابرکړل نوستارب ددی ځخه وروسته لوی مغفرت کوونکی لوی رحمت کوونکی دی .

معلومات او مسئلې (په ذکر سوو محرماتوکي حَصر اضافي دی حقیقي نه دی)

په دی آیت کی دلفظ د ، اِنَّمَا: ځخه معلومیږي چی حرام شیان صرف داځلوردي کوم چی په دی آیت کی ذکر دي او ددی ځخه په زیات واضح طور سره د آیت ، قُلْ لَا أَجِدُ فِيمَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا: ځخه دا معلومیږي چی ددی شیانوځخه ماسواځه شی حرام نه دی حال دا دی چی دقرآن اوسنت دتصریحاتو مطابق په اجماع دامت نورهم ډیر شیان حرام دي ، ددی اشکال جواب په خپله ددی آیتونو په وړاندی او وروسته باندی دغورکولوځخه معلومیدی سی چی دلته دعامو حلالو اوحرامو بیانول مقصد نه دی بلکه مشرکانو دجاهلیت چی کوم شیان دخپل طرف ځخه حرام کړی وه حال دا دی چی الله ﷻ دهغوی دحرام والی حکم نه وو کړی دهغوی بیانول مقصود دی چی ستاسی په حرام کړو شیانوکی دالله ﷻ په نزدصرف دا شیان حرام دي ددی آیت مکمل تفسیر او ددی ځلورو محرماتو داحکاموتفصیلی بیان

Maktaba Tul Ishaat.com

دسورة بقره په آیت ۱۷۳ کی تیر سوی دی هلته یی وګوری.

(په توبه سره دګناه معافي عامه ده که بي پوهي يې وکړی اوکه سره دپوهي يې وکړی)

ایت: ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُوا السُّوءَ بِجَهَالَةٍ : کی لفظ دجهل نه بلکه دجهالت یی استعمال کړی دی جهل دعلم په مقابله کی راځی اوبی علمی دبی پوهی په معنی کی ده اودجهالت لفظ جاهلانه حرکت کولوته ویل کیږي که څه هم قصداً یی وکړي ، ددی څخه معلومه سوه چی په توبه سره دګناه معافی په ناپوهی یابی اختیاري سره تړل سوی نه ده بلکه په پوهه سره وي اوکه په ناپوهی سره خومعافی یی کیدای سی

إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٠﴾

په اصل کی ابراهیم ووپیشوا فرمانبردار دالله تعالی دټولو څخه یو طرف ته ، او نه وو دشرک کوونکو څخه

شَاكِرًا لِّأَنْعُمِهِ ۚ اجْتَبَاهُ وَهَدَاهُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٢١﴾ وَآتَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَإِنَّهُ

حق منونکی دهغه داحسانونو دی الله غوره کړی وو اوهدایت یی ورته کړی وو دسیده لاری او ورکړه مونږ ده ته په

فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿١٢٢﴾ ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ

دنیاکی نیکی ، او دی په آخرت کی دنیکانو څخه دی ، بیا حکم وکی مونږ تاته چی تابعداری کوه ددین

إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٣﴾ إِنَّمَا جُعِلَ

دابراهیم چی یو طرف سو ، او نه وو دی دشرک کوونکو څخه دهغتی ورځ چی

السَّبْتُ عَلَى الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ ۚ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ

مقرر سوی ده پس په هغو باندی کومو چی په دی کی اختلاف کوی ، اوستارب به حکم وکی په دوی کی

يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٢٤﴾

دقیامت په ورځ په کومه خبره کی چی دوی اختلاف کوی.

لنډتفسير

دآیتونو تړون: په تیروآیتونوکی دشرک اوکفر په اصولو یعنی دتوحید اورسالت په انکار باندی رد او د کفر اوشرک په څینو فروعو یعنی دحراموپه حلالوالی اودحلالو په حراموالی د رد اوباطلوالی تفصیل وو اودمکی مکرمی مشرکانوکوم چی دقران کریم اولنی اوبلاواسطه مخاطب وه دخپل کفراوبت پرستی باوجود به یی دا دعوه کوله چی مونږ دملت ابراهمي پابندیو او دا مونږ چی څه کوو دا ټول دحضرت ابراهیم ﷺ تعلیمات دي په دی وجه په دی ذکر سوو څلورو ایتونو کی د دوی ددی

دعوی تردید او د دوی دمسلماتو څخه یی د دوی دجاهلانه خیالاتو باطلوالی داسی وکی چی په ذکر سوو پنځو ایتونو کی یی په اولنی آیت کی حضرت ابراهیم ﷵ دټولوقومونو دعالم دپاره منل سوی پیشوا بیان کی، کوم چی دنبوت اورسالت اعلی مقام دی په دی سره ثابته سوه چی دی عظیم الشانه نبی اورسول دی اوسره ددی یی په ﴿مَاكَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ﴾ ویلو دده کامل موحد والی بیان کی.

اوپه دویم آیت کی یی دده شکر گذار کیدل اوپه صراط مستقیم کیدل بیان کړل او دوی ته یی خبرداری وکړی چی تاسی دالله ﷻ ناشکری کوی نوپه کومه خُله سره ځان ته دهغه تابعداران وایاست.

په دریم آیت کی د دوی په دنیا اوآخرت کی کامیاب اوبامراده کیدل، اوپه څلورم آیت کی دنبی کریم ﷺدنبوت اورسالت دثابتولوسره د دوی ﷺ په صحیح ابراهیمی ملت باندی پابندکیدل بیان کړی دی او دا هدایت یی کړی دی چی که تاسی په خپله دعوه کی رښتیا یاست نو په نبی کریم ﷺ باندی دایمان او د دوی داطاعت څخه بغیر دا دعوه نه سی صحیح کیدی.

په پنځم آیت إِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ: کی یی اشارتًا بیان کړل چی په ملت ابراهیمی کی پاک شیان حرام نه وه کوم چی په خپله تاسی په ځان حرام کړي دي، دآیتونو لنډتفسیر دا دی.

بیشکه ابراهیم ﴿ﷵ کوم چی تاسی هم منی﴾ لوی پیشوا ﴿یعنی اولوالعزم نبی اودیوعظیم امت پیشوا﴾ د الله ﷻ پوره فرمانبردار وو ﴿دده هیڅ عقیده یاعمل په خپل نفسانی خواهش سره نه وو بیاتاسی دده خلاف محض دخپل نفس په تابعداري سره دالله ﷻ حرام حلال اوحلال حرام ولی گرځوی اوهغه﴾ بالکل یو ﴿خدای﴾ طرف ته کیدای ﴿اومطلب دیوطرف ته کیدو دا دی چی﴾ هغه دشرک کوونکو څخه نه وو ﴿نو بیا تاسې شرک څنگه کوی اوهغه﴾ دالله ﷻ دنعمتونو﴿لوی﴾ شکر گذار وو ﴿بیاتاسو په شرک اوکفرکی مبتلا کیږي اوناشکري ولی کوی، غرض دا چی دابراهیم ﷵ دا شان اوطریقه وه اوهغه داسی مقبول وو چی﴾ الله ﷻ منتخب کړی وو او دی یی په سیده لار روان کړی وو اومونږ ته ده په دنیاکی هم خوبی ﴿لکه په نبوت اورسالت کی منتخب کیدل اوپر هدایت کیدل وغیره﴾ ورکړی وي اوهغه په آخرت کی هم ﴿داعلی درجي﴾ دښو خلقو څخه به وي ﴿په دی وجه تاسی ټولوته دهغه طریقه اختیارول په کار دي اوهغه طریقه اوس صرف په طریقه محمدی کی ده چی بیان دهغه دا دی چی﴾ بیا مونږ تاته وحی ولیږله چی ته د ابراهیم په طریقه کوم چی بالکل یو ﴿خدای﴾ طرف ته کیدای چلیږی ﴿اوچونکه ددغه زمانی هغه خلق کوم چی دملت ابراهیمی دتابعداري دعوه کوونکی وه څه ناڅه په شرک کی اخته وه په دی وجه یی مکرر وفرمایل چی﴾ هغه دشرک کوونکوڅخه نه وو ﴿ددی دپاره چی دبت پرستو سره دیهودو اونصاراؤ په موجوده طریقه هم رد وسی کوم چی دشرك څخه خالی نه دی اوچونکه داخلق دپاکو شیانو دحراموالی په جاهلانه اومشرکانه رسمونوکی اخته وه په دی وجه فرمایی چی﴾ نو دهفتی تعظیم ﴿یعنی دهفتی په ورځ دماهی دښکار منع والی چی دپاکو شیانو دحرام والی یوجزء دی دغه خو﴾ صرف په هغوخلقو باندی لازم کړل سوی وو کومو چی په دی کی ﴿عملاً﴾ خلاف کړی وو ﴿چی ځینو ومنی عمل یی په وکی اوځینویی خلاف وکی، مراد ددی څخه یهود دی، چی دپاکوشیانو دحراموالی داصورت په شان د نورو صورتونو صرف دیهودو سره مخصوص وو په ملت ابراهیمی کی داشیان حرام نه وه مخ

Maktaba Tul Ishaat.com

ته دالله ﷻ په حکمونوکي د اختلاف کولو متعلق فرمايي چي) بيشکه ستارب به دقيامت په ورځ د
دوی په مينځ کي (عملاً) فيصله وکړي په کومه خبره کي چي دوی (په دنيا کي) اختلاف کوي.

معلومات اومسئلي: لفظ د: اُمّت دځو معانيو دپاره استعماليږي مشهوره معنی يي دجماعت اوقوم دد،
حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه دلته دامعنی نقل ده اومراد دادی چي حضرت ابراهيم عليه السلام يوازي ديوفرد پر
امت اوقوم دکمالاتواوفضيلتونوجامع دی اويوه معنی دلفظ دامت پيشوادقوم اودجامعوکمالاتوهم راځي
څيني تفسيرليکونکي دلته دامعنی اخلي اودقانت معنی ده تابع فرمان ابراهيم عليه السلام په دی دواړوصفتونو
کي خاص امتيازلري، دپيشوا والي خو يي دا حال دی، چي دټولي دنيادټولومشهوررو مذهبونوخلق
ټول په ده عقيده لري، اودده دملت تابعداري عزت اوفخرګڼي، يهود اونصارا اومسلمانان خو دده
تعظيم کوي دعربو مشرکان دعربو دبت پرستی باوجود ددی بت شکن معتقد اودده په ملت چليدل
خپل فخر ګڼي او د دوی دقانت والي اوفرمانبرداري خاص امتيازدهغوامتحانونوڅخه واضحه ګڼي
دکوموڅخه چي دالله ﷻ داخليل تير سوی دی، دنمرود اور، اهل اوعيال په سوروالی ميدان پريښودل
او دده ورڅخه تلل بيايه ارزوګانو دحاصل سوی زوی قربانولوته تياريدل، داټول هغه امتيازات دي
دکومو په وجه چي الله ﷻ دی عليه السلام په دی القابو سره عزتمند کړی دی.

(دنبي کريم ﷺ دپاره دملت ابراهيمي تابعداري)

الله ﷻ چي کوم شريعت اواحکام حضرت ابراهيم عليه السلام ته ورکړی وه دحضرت خاتم الانبياء عليهم
السلام په شريعت کي هم دځينو خاصو احکامو څخه علاوه ددغه مطابق اينبودل سوی وي اوکه څه هم
نبی کريم ﷺ دټولو انبياء اورسولانو څخه افضل دی مګر دلته افضل ته دمفضول دتابعداري په حکم
کي دوه حکمتونه دي اول خو دا چي دغه شريعت اول دنياته راغلی دی اومعلوم اوپيژندل سوی دی،
اخری شريعت هم چونکه دده مطابق کيدونکی وو په دی وجه يي دا داتباع په لفظ سره تعبيرکړی،
دويم په قول دعلامه زمخشري رحمه الله داحکم داتباع هم دخليل الله داکرامونو اوعزتونوڅخه يوخاص
اعزاز دی او ددی خصوصيت طرف ته يي په لفظ دثم سره اشاره کړی ده چي دحضرت ابراهيم عليه السلام ټول
فضيلتونه او کمالونه يوطرف ته او پردی ټولو سربيره دا کمال دی چي الله ﷻ خپل دټولو څخه افضل
رسول او حبيب ﷺ ته د دوی عليه السلام دملت دتابعداری حکم فرمايلی دی.

ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ

بلل کوه دخپل رب لاری ته، په حکمت او نصيحت غوره سره اوبحث ورسره کوه په هغه طريقه چي

أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ

غوره ده، ستا رب ښه پوهه دی، په هغه چاچي بی لاری سی دده دلاری څخه او هغه ښه
پيژني هغه.

Maktaba Tul Ishaat.com

بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿۱۲۵﴾ وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا عُوْقِبْتُمْ بِهٖ

چی په لاره وی، او که بدله اخلی نو بدله اخلی په هغه قدر چی تاسی ته یی تکلیف رسولی دی

وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۲۶﴾ وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ اِلَّا

او که صبر وکی نو دا غوره ده دصبر کوونکو دپاره او ته صبر کوه او ستا صبر دالله تعالی

بِاللّٰهِ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِيْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾

په مدد سره دی او غمجن کیږه مه په دوی باندی او مه تنګیږه د دوی په فریب باندی

اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّالَّذِيْنَ هُمْ مُّحْسِنُوْنَ ﴿۱۲۸﴾

الله ملګری دی دهغو چی پرهیزګار دی او کوم چی نیکی کوونکی دی.

لنډتفسیر: دآیتونوتړون: په تیروآیتونوکی دنبی کریم ﷺ دنبوت اورسالت دثابتولوڅخه مقصود داوو چی امت دده حکمونه ومنی اودرسالت حقونه اداکی په دی ذکرسووآیتونوکی په خپله نبی کریمﷺ ته د رسالت دحقونواداکولوتعلیم دی چی ددی په عموم کی ټول مومنان شریک دی لنډتفسردآیتونو دا دی. ته دخپل رب لاري (یعني دین اسلام) ته (دخلقو) په حکمت اوښه نصیحت په ذریعه بلنه کوه (دحکمت څخه مراد هغه طریقه ددعوت ده په کوموکی چی دمخاطب دحالاتو رعایت سره داسی تدبیراختیارکړي کوم چی دمخاطب په زړه باندی اثر واچوی اودنصیحت څخه مراد دا دی ، چی دخیرخواهی اوهمدردی په جذبه سره خبره وکړل سی او دښه نصیحت څخه مراد دا دی چی عنوان هم نرم وي او زړه تکوونکی او توهین را وستونکی هم نه وي) او د دوی سره په ښه طریقه بحث کوه (یعنی که دبحث اومباحثی نوبت راسی نوهغه دی هم سخته اوپه غصه سره اوپه مخاطب باندی د الزامونو لګولو اوبی انصافیوسره نه وي ، بس دومره کارستادی، بیاددی په تحقیق کی مه راځه چی چاومنله اوچاونه منله داکاردخدای ﷻ دی نو) ستارب ښه پوهه دی په هغه سړی هم کوم چی ددی لاری څخه ورک سو اوهغه په لاره چلیدونکی هم ښه پیژنی او(که چیری مخاطب په علمی بحث اومباحثه کی دحدڅخه تیرسی عملی جګړه اوپه لاسو یاژبه سره ازار رسوونکی سی نو په دی کی تاته اوستاتابعدارانو ته بدله اخیستل هم جائزدی اوصبر کول هم) نوکه چیری (اولنی صورت اختیار کړي یعنی) بدله اخلی نو دومره بدله اخلی څومره چی ستاسی سره سلوک سوی دی (ددی څخه زیاتوب مه کوی) اوکه چیری (دویم صورت یعنی په ازارونو باندی) صبر کوی نو دغه (صبر کول) دصبر کوونکو په حق کی ډیرښه خبره ده (چی په مخالف هم ښه اثر راځی اوپه لیدونکو هم اوپه آخرت کی یی لوی اجر دی) او(صبرکول که څه هم دټولو دپاره غوره دی مګر ستا دلوی شان په لحاظ سره تاته په خصوصیت

سره حکم دی چې ته د انتقام اخیستو صورت مه اختیاروه بلکه) ته صبرکوه اوستاصبرکول دخدای په خاص توفیق سره دی (په دی وجه ته اطمینان ساته چې په صبرکی به تاته دشواری نه وی) اوپه دی خلقو(یعنی د دوی په ایمان نه راوړلو یادمسلمانانوپه ازارولو) غمجن کیږه مه او دوی چې څه تدبیرونه کوی په دی سره زړه مه تنګوه (د دوی په مخالف تدبیرونه سره به تاته هیڅ ضرر نه وي ځکه چې تاته د احسان او تقوی صفتونه حاصل دي او) الله ﷻ دداسی خلقوسره وي (یعنی د دوی مددګار وي) کوم چې پرهیزګار وي او نیک عملونه کوي .

معلومات اومسئلې (ددعوت اوتبليغ اصول اومكمل نصاب)

په دی آیت کی ددعوت اوتبلیغ مکمل نصاب ددی داصولو او ادابو پوره تفصیل په څوکلموکی ځای سوی دی په تفسیر قرطبی کی دی چې دحضرت هرم ابن حیان رحمه الله دمرګ وخت راغی نوعزیزانو ورته درخواست وکی چې مونږته څه وصیت وفرمایه نو وي فرمایل چې وصیت خوخلق دمالونوکوي ، اوهغه زماسره نسته ، لیکن زه تاسی ته دالله ﷻ دآیتونوخاصکر دسورة نحل دآخری آیتونو وصیت کوم چې په دی په مضبوطی سره قائم اوسی هغه آیتونه دا دی چې لوړ ذکر سوی دي .

ددعوة لفظي معنی د بلنې ده د انبیاء علیهم السلام اولنی فرض منصبی خلق دالله ﷻ طرف ته رابلل دي دنبوت اورسالت ټول تعلیمات ددی دعوت تشریحات دی په قرآن کریم کی دنبی کریم ﷺ خاص صفت داعی الی الله دی ،وَدَاعِيًا إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُّنِيرًا ،احزاب۴۲ ،يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ :احقاف ۳۱ . په امّت باندی هم دده ﷺ په نقش اوقدم دعوت الی الله فرض سوی دی ، په سورة آل عمران کی ارشاد دی وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ .آل عمران : ۱۴۰ .

کوم خلقوته چې دخیرطرف ته دعوت ورکوي ددین یعنی دنیکوکاروحکم کوي اودبدوکاروڅخه منع کوی اوپه یو بل ایت کی ارشاد دی .

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّن دَعَا إِلَى اللَّهِ : دوینا په اعتبارسره دهغه سړی څخه غوره څوک کیدای سی کوم چې خلق دالله ﷻ طرف ته بولی په تعبیرکی کله دی لفظ ته ددعوت الی الله عنوان ورکړل سی اوکلمه ددعوت الی الخیر اوکله ددعوت الی سبیل الله مطلب دټولو یو دی ځکه چې دالله ﷻ طرف ته دبلنی څخه دهغه ددین او صراط مستقیم طرف ته بلنه مقصود ده .

اِلىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ : په دی کی دالله ﷻ خاص صفت رب اوبیادهغه دنبی کریم ﷺ ته په اضافت کی اشاره ده چې ددعوت کار دصفت د ربوبیت اوتربیت سره تعلق لری لکه څنګه چې حق ﷻ ستاتربیت فرمایلی دی تاته هم دتربیت په اندازسره دعوت ورکول په کار دي چې په دی کی دمخاطب دحالاتوپه رعایت سره هغه طرز اختیار کړل سی چې په مخاطب بارنه وي اوتاثیریی دزیاتوڅخه زیات وي په خپله لفظ ددعوت هم دا مطلب اداکوي چې دپیغمبرکارصرف دالله ﷻ احکام رسول او اورول نه دي بلکه خلقوته په دی باندی دعمل کولو طرف ته دعوت ورکول دي اوظاهره ده چې چاته دعوت ورکوونکي دده سره داسی خطاب نه کوي چې مخاطب ته ورڅخه نفرت وي یا په کنبی ورسره مسخری اوتوقی وي .

بِالْحِكْمَةِ : لفظ دحکمت په قرآن کریم کی دډیرو معانیو دپاره استعمال سوی دی دلته دتفسیرخینو

Maktaba Tul Ishaat.com

امامانو دحکمت څخه مراد قرآن کریم ، ځینو قرآن سنت، ځینو دلیلونه قطعیه مقرکړي دي او روح المعاني په حواله دبحر محیط دحکمت تفسیر داسی کړی دی .

اَنَّهَا الْكَلَامُ الصَّوَابُ الْوَاقِعُ مِنَ النَّفْسِ اَجْمَلَ مَوْقِعٍ : (روح)

یعنی حکمت دهغه صحیح کلام نوم دی کوم چی د انسان زړه ته کښته سی .

په دی تفسیرکی ټول قولونه جمع کیږي اوصاحب د روح البیان هم تقریباً دامطلب په دی الفاظوکی بیان کړی دی چی دحکمت څخه مرادهغه بصیرت دی دکوم په ذریعه چی انسان دحالاتو مقتضاګانی معلومی کړي دهغه مناسب خبري کوی وخت اوموقع داسی تلاش کوی چی په مخاطب بار نه وي دنرمی په ځای کی نرمی اودسختی په ځای کی سختی اختیارکړی اوکوم ځای چی داسی ګڼی چی په ښکاره وینا کی د مخاطب شرمندګی وي هلته په اشاره سره خبري کوی یا څه داسی عنوان اختیار کړي چی مخاطب ته شرمندګی نه وي او په خپله خبره دټینګیدو ضد په کښی پیدا نه سی .

اَلْمَوْعِظَةُ: دموعظه اووعظ لغوی معنی دا ده چی دخیرخواهي یوه خبره داسی بیان کړی چی دمخاطب زړه یی دقبلولو دپاره نرم سی ، مثلاًددی سره په قبلولوباندی دثواب فائدی اوپه نه قبلولو یی دعذاب فسادونه ذکر کړي دی (قاموس ومفردات راغب)

د، اَلْحَسَنَةُ : معنی دا ده چی بیان اوعنوان هم داسی وی چی دمخاطب زړه په مطمئن سی اوشکونه او شبهی یی لیری سی اومخاطب دامحسوس کړي چی دده په دی کی خپل څه غرض نسته ، صرف دده د خیر خواهي دپاره وایی .

د، مَوْعِظَةٌ : په لفظ سره دخیرخواهي خبره په اثرناکه اندازکی ویل خو واضح سوی وه مګر دخیرخواهي خبره ځینی وخت په زړه زخمی کونکی اندازسره یاداسی کول کیږي چی مخاطب خپل سپکوالی په محسوس کړي (روح) دا طریقه دپرېښودو دپاره یی دلفظ دحسنه اضافه وکړه .

وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ : لفظ دجادل دمجادلی څخه مشتق دی دلته دمجادلی څخه مراد بحث او مناظره ده اود،بالتی هی احسن : څخه مراد دا دی چی که په دعوت کی یوځای دبحث اومناظری ضرورت پیښ سی نودغه مباحثه هم په ښه طریقه سره په کارده په روح المعانی کی دی چی دښی طریقی څخه مراد دا دی چی په خبروکی نرمی اختیارکړل سی اودلیلونه داسی پیش کړل سی چی مخاطب باندی په آسانی سره پوه سی . په دلیل کی هغه مقدمی پیش کړل سی کومی چی مشهور اومعلوم وي چی دمخاطب شکونه لیری سی او دی دعناد او ضدلاراختیار نه کړی اودقرآن کریم نورآیتونه پردی شاهد دی چی دا احسان فی المجادله صرف دمسلمانانوسره مخصوص نه دی داهل کتابوپه باره کی هم په خصوصیت سره دقرآن ارشاد دی ، وَلَا تُجَادِلُوا اَهْلَ الْكِتَابِ اِلَّا بِالَّتِي هِيَ اَحْسَنُ: اوپه بل آیت کی حضرت موسیٰ اوهارون علیهم السلام ته د، قُوْلَا لَهُ قَوْلاً لَيِّنًا: هدایت ورکړل سو اودایی هم وښوده چی دفرعون په شان دسرکښ کافر سره هم داسی معامله کول په کار دی .

(ددعوت اصُول او آداب)

په ذکرسوی آیت کی ددعوت دپاره د درو۳ شیانو ذکر دی اول حکمت دویم موعظه حسنه ، دریم

مجادله بالتی هی احسن، ځینې حضرات مفسرین فرمایي چې دا درې شیان دمخاطبینو د دروه قسمونو پر بناء دی دعوة بالحکمة داهل علمو اوپوهانو دپاره دی دعوة بالموعظة دعوامو دپاره مجادله دهغوخلقو دپاره دکومو په زړونوکې چې شکونه اوشبهې وي یا کوم چې دضد اوعنادپه وجه دخبرې منلوځخه منکر وي.

سیدی حضرت حکیم الامت تهانوی رحمه الله په بیان القرآن کې فرمایي چې ددی دروه شیانومخاطب جُدا درې قسمه ډلې دآیت دسیاق په لحاظ سره بعید معلومیږي (انتهی)

ظاهره دا ده چې دا ددعوت اداب دهر یو دپاره استعمالول دي ، چې په دعوت کې دټولو ځخه اول په حکمت سره دمخاطب دحالاتو جائزه واخلي ، دده مناسب خبره تاکل دي ، بیاپردی کلام دخیرخواهی او همدردی په جذبه سره داسې شواهد او دلائل مخ ته راوستل دي چې مخاطب په مطمئن سي اودبیان طرز اوکلام داسې مشفقانه اونرم ساتل دي چې دمخاطب یقین راسي چې دا دی چې څه وایي زمادمصلحت اوخیر خواهي دپاره وایي زماشرمنده کول یازما حیثیت داغ دارکول دده مقصد نه دی.

البته صاحب د روح المعاني دلته یوه ډیره باریکه نکته دا بیان کړې ده چې دآیت دطرزبیان ځخه معلومیږي چې ددعوت اصول په اصل کې دوه شیان دي، حکمت اوموعظت دریم شی مجادله په دعوت کې شامله نه ده، البته ددعوت په لاره کې کله کله ددی هم ضرورت پېښیږي اومخ ته راځي ، صاحب د روح المعاني دلیل پردی باندی دا دی چې دا درې سره شیان که ددعوت اصول وای ، نو بیا به درې سره په عطف سره بیان کړې وای ، داسې چې، بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَالْجِدَالِ الْأَحْسَنِ: مګر قرآن کریم خوحکمت اوموعظت په عطف سره په یوه طریقه کې بیان کړل اودمجادلې دپاره یې جُدا جمله، وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ : اختیارکړه ددی ځخه معلومیږي چې مجادله فی العلم په اصل کې ددعوت الی الله رکن یاشرط نه دی بلکه په لاره ددعوت کې دراپېښیدونکو معاملو متعلق یو هدایت دی ، لکه چې ددی ځخه وروسته په آیت کې دصبر تلقین فرمایي ، څکه چې ددعوت په لاره کې دخلقو په ازار رسولو صبر کول ناخوښه دی.

لنډه دا ده چې اصول ددعوت دوه شیان دي حکمت اوموعظت چې ددی ځخه یودعوت هم خالي نه دی په کار، برابره خبره ده که عالمانو اوخاصانو ته وي اوکه عاموخلقو ته ، البته په دعوت کې ځینې وخت دداسې خلقو سره هم واسطه راځي چې په شکونو او وهمونوکې اخته او ددعوت ورکونکې سره بحث او مباحثې ته تیار وی نو په داسې حالت کې دمجادلې تعلیم ورکړل سو، مګر ددی سره یې دبِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ : قید ولګوی اووي ښودله چې کومه مجادله ددی شرط ځخه خالي وی دهغه په شریعت کې هیڅ حیثیت نسته.

(دالله ﷻ طرف ته ددعوت پیغمبرانه اداب)

دعوت الی الله په اصل کې د انبیاء علیهم السلام منصب دی دامت عالمان دا منصب د دوی دنائب والی په حیثیت سره استعمالوی نولازمه مه دا ده چې ددی اداب اوطریقی هم د دوی ځخه زده کړی کوم دعوت چې د دوی په طریقه نه وی هغه ددعوت په ځای عداوت او دجنګ اوجګړو موجب سی

دپیغمبرانه دعوت په اصولوکی چی کوم هدایت په قرآن کریم کی دحضرت موسی اوهارون علیهم السلام دپاره نقل سوی دی چی، فَقُوْلَا لَهُ قَوْلاً لَيِّنًا لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ اَوْ يَخْشٰى: یعنی دفرعون سره نرمه خبره کوه شایدچی دی پوه سی یا وبیریږي، داهریودحق دعوت ورکوونکی ته په کار دی چی هروخت یی مخ ته لری چی دفرعون په شان سرکښ کافر چی مرګ یی هم دالله ﷻ په علم کی پرکفر باندی کیدونکی وو هغه ته هم چی الله ﷻ خپل داعی لیږی نو دنرمی خبري هدایت ورته کوي نن چی مونږ کوموخلقوته دعوت ورکوو دغه دفرعون څخه زیات ګمراه خو نه دي اونه په مونږکی څوک دحضرت موسی اوهارون علیهم السلام برابر داعی اوهادي دی نوکوم حق چی الله ﷻ خپلو دواړوپیغمبرانوته نه دی ورکړی چی د مخاطب سره سخت کلامی کوي یا یی سپکوي نودغه حق مونږ ته دکوم ځای څخه حاصل سو.

قرآن کریم دپیغمبرانوعلیهم السلام ددعوت اوتبلیغ اودکفارو سره دمناظرواو بحث مباحثو څخه ډك دی، په دی کی یوځای په نظر نه راځی چی چیری یو دالله ﷻ رسول دی حق ته دبدو ردو ویونکو خلاف په جواب کی څه درنه کلمه هم ویلی وی، ددې یوڅو مثالونه وګوری.

دسورة اعراف په اوومه رکوع آیت ۵۹ څخه تر۷۲ پوری د دوو پیغمبرانو حضرت نوح اوحضرت هود ﷺ سره د دوی دقوم دجګړي اوبدو ردو ویلوپه جواب کی ددی بزرګانو کلمی دلید وقابلی دي.

حضرت نوح ﷺ دالله ﷻ هغه اولوا العزم پیغمبر دی دچاچی اوږدعمرپه دنیاکی مشهور دی نهه نیم سوه ۹۵۰ سوه کاله دوی خپل قوم ته په دعوت اوتبلیغ، اصلاح او ارشاد کی مشغول وو مګر په دی بدبخت قوم کی دشمیر دڅوکسانو څخه علاوه نورچا ایمان را نه وړی اوپه خپله دده یو زوی اوښځه دکافرانو سره یوځای وه دده پرځای که دنن څوک ددعوت او اصلاح مدعی وای نو چی دده دخبرو انداز به څنګه وای اندازه ولګوی اوبیاوګوری چی د دوی دټولی همدردی اوخیرخواهی ددعوت په جواب کی قوم څه وویل، اِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ: (اعراف) مونږ خوتالره په ښکاره ګمراه کی وینو.

بل خوا ته دالله ﷻ پیغمبر په ځای ددی چی ددی سرکښ قوم دګمراهیو اوبدکاریو پرده پورته کړی په جواب کی څه فرمایی.

يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي ضَلَالَةٌ وَلَكِنِّي رَسُولٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ: ای زماقومه په ماڅه ګمراهی نسته زه خو درب العالمین رسول اوقاصد یم (تاسی ته ستاسی دفائدی خبره کوم)

دده څخه وروسته راتلونکی دالله ﷻ رسول حضرت هود ﷺ ته دده قوم دمعجزو لیدلو باوجود دعناد څخه وویل چی تاپه خپله دعوه هیڅ دلیل پیش نه کړو اومونږستاپه ویناد خپلومعبودانو (بتانو) هیڅکله پرینبودونکی نه یو مونږ خو دا وایو چی تا کومی خبری چی زمونږ په معبودانو پسی کړي دي دهغه په وجه ته په لیونتوب کی اخته سوی یی، حضرت هود ﷺ ددی هرڅه اوریدو څخه وروسته جواب ورکی.

اِنِّي اُشْهِدُ اللّٰهَ وَاشْهَدُوْا اَنِّي بَرِيْءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ.

یعنی زه الله ﷻ شاهدکوم او تاسی هم شاهد سی چی زه ددغو بتانو څخه بیزاره او بری یم کوم چی

Maktaba Tul Ishaat.com

تاسي يې دالله ﷻ شريکان مني.
اوپه سورة اعراف کې دې چې دده قوم ده ته وويل.
إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ.
مونږ خوتاپه بې وقوفي کې اخته ګڼو اوزمونږ خيال دا دی چې ته د درواغ ويونکوڅخه يې، دقوم ددې زړه ازارونکي خطاب په جواب کې دالله ﷻ رسول حضرت هود ﷺ نه دوی ته خبرې اوروی اونه د دوی په الله ﷻ د درواغو جوړولوڅه خبره کوي اوصرف دا جواب ورکوي چې.
يَاقَوْمِ لَيْسَ بِيْ سَفَاهَةٌ وَلَكِنِّيْ رَسُوْلٌ مِنْ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.
اې زماقومه په ماکې څه بې وقوفي اوکم عقلي نسته زه خو دربّ العالمين رسول يم.
حضرت شعيب ﷺ خپل قوم ته دنورو پيغمبرانو په شان دالله ﷻ طرف ته دعوت ورکې اوپه دوی کې چې کوم لوی عيب دناپ تول په کمی کولوکې وو، ددې څخه دمنع کيدو هدايت يې ورته وکې نوقوم ورپورې مسخرې وکړې اوسپکاوې يې ورلره وکې.
يَا شُعَيْبُ أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ أَنْ نَتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَنْ نَفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاءُ إِنَّكَ لَأَنْتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ.
اې شعيبه آياستالمونځ تاته داحکم کوي چې مونږ دخپل پلارنيکه معبودان پريږدو او ياپه خپلو مالونو کې په خپله رضا چې څه غواړو نه کوو واقعي ته لوی عقلمند پر دين چليدونکی يې.
دوی خوپوه داطعنه ورکړه چې داکوم لمونځ کوی داتاته دبې وقوفي خبرې ښيي دويم داچې مال زمونږدې ددې داخيستلوياخرڅولوپه معاملوکې ستايادخدای څه دخل دی؟مونږچې څنګه غواړوپه دې کې دتصرف کولوحق لرو، دويمه جمله يې دمسخروداسې وويله چې ته لوی عقل مندلوی پردين چليدونکی يې.
معلومه سوه چې د ادبې ديني دمعاشياتوتابعدار صرف نن نه دي پيداسوی د دوی مشران وړاندې هم تير سوی دي چې دغه نظريه يې وه کومه چې نن دځينو تش په نامه مسلمانانو ده چې مونږ مسلمانان يو اسلام منو، مګرپه معاشياتوکې سوشلزم اختياروي په دې کې داسلام څه دخل دی په هرحال ددې ظالم قوم ددې مسخرو او زړه ازارونکو خبرو جواب دالله ﷻ رسول څه ورکوي؟ وګورې.
قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَرَزَقَنِي مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَى مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ.
اې زماقومه داخو ووایاست چې که زه دخپل ربّ دطرف څخه په دليل قائم يم اوهغه ماته دخپل طرف څخه ښه دولت يعني نبوت راکړی وي نوبيابه زه څنګه داتبليغ نه کوم اوزه خوپخپله هم ددې خلاف څه عمل نه کوم کوم چې تاسې ته ښيم زه خو صرف اصلاح غواړم ترڅو چې زما طاقت دی اوماته چې څه د اصلاح او عمل توفيق کيږي دغه صرف دالله ﷻ په مدد سره دی زه پر هغه توکل لرم اوپه ټولوکارونو کې دهغه طرف ته رجوع کوم.
حضرت موسی ﷺ ته چې دفرعون طرف ته دليږلو په وخت کې کوم دنرمی خبروکولوهدايت دالله ﷻ د

Maktaba Tul Ishaat.com

طرف شخه سوی وو په دی دپوره عمل کولو باوجود فرعون حضرت موسی ﷺ ته داسی خطاب کوي.

قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ (۱۸) وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِي فَعَلْتَ وَأَنْتَ مِنَ الْكَافِرِينَ.

فرعون وویل (اهًا! دا ته یی) آیا ستا پرورش مونږ په کوچنیوالی نه دی کړی اوته ډیرکلونه په مونږکی اوسیدلی نه یی اوتاخپل هغه حرکت هم کړی وو (یعنی قبطی دی وژلی وو) اوته لوی ناشکره یی.

په دی کی یی په حضرت موسی ﷺ باندی خپل داحسان هم ضبط کی چی په کوچنیوالی کی مونږ ته پاللی یی بیایی دا هم په ضبط کړه چی دلوییدوشخه وروسته ته ډیرموده په مونږکی پاته سوی یی بیا یی ورته دا زورنه وکړه چی دحضرت موسی ﷺ دلاسه کوم قبطی بغیر د ارادی دقتل شخه وژل سوی وو په دی یی دغصی اوخفگان اظهار وکی او دایی هم وویل چی ته دکافرانو شخه سوی.

دلته دکافرانوشخه دکیدو لغوی معنی هم کیدای سی ، یعنی ناشکر کوونکی چی مطلب به یی داسی چی مونږ په تا احسانات وکړل او تا زمونږ سری مړ کی د احسان ناشکري دي وکړه او اصطلاحی معنی هم کیدای سی ځکه چی فرعون په خپله د خدایی دعوه لرونکی وو، نوځوک چی دده دخدایی شخه منکر سو هغه کافر سو.

اوس په دی موقع دحضرت موسی ﷺ جواب واوری کوم چی دپیغمبرانه ادابو ددعوت اوپیغمبرانه اخلاقو یوه نمونه ده چی په دی کی یی دټولو شخه مخکی خو ددغه کمزوري اوکوتاهی اعتراف وکی کومه چی دده شخه سوی وه یعنی د اسرائیلی سړی سره دجنګ کوونکی قبطی دپوری وهلو اوڅپیړی ورکولو چی هغه مړ سو نو ګویا چی دا قتل قصداً او ارادةً نه وو مګر څه دینی تقاضا هم نه وه بلکه د حضرت موسی ﷺ دشریعت په لحاظ سره هم دغه سړی دقتل مستحق نه وو په دی وجه اول یی دا اعتراف وفرمایی.

فَعَلْتُهَا إِذًا وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ : (شعراء: ۲۰).

یعنی ماداکارهغه وخت کړی ووکله چی زه ناپوهه وم

مراد دا دی چی دا کار زماشخه دنبوت راکولو شخه وراندی سوی دی ، کله چی ما ته په دی باره کی د الله ﷻ هیڅ حکم معلوم نه وو ددی شخه وروسته فرمایی.

فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكْمًا وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُرْسَلِينَ . شعراء (۲۱)

بیازه ستاسی دبیری شخه وتښتیدم بیاماته زمارب پوه راکړه اوزه یی په خپلوپیغمبرانوکی شامل کړم بیا داحسان ثابتولوجواب یی داسی ورکی چی ستادا احسان ثابتول صحیح نه دي ځکه چی زماد پرورش معامله ستا دظلم او زیاتی نتیجه وه ، چی تا د اسرائیلی بچیانو دقتلولوحکم کړی وو ، په دی وجه مور دمجبوری شخه زه درباب ته واچولم او ستا کور ته درسیدو نوبت راغی ، لکه چی فرماي

وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدْتَ بَنِي إِسْرَائِيلَ . شعراء

پاته سو دپرورش احسان ثابتول ، نو دا هغه نعمت دی دکوم چی ته پرما احسان را اړوی چی تا بنی اسرائیل په سخت ذلت کی غورځولی وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې څخه وروسته فرعون چې کله پوښتنه وکړه، وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ: يعنې رب العالمين څوک دی ار څه
دی نو په جواب کې يې وفرمايل، چې هغه رب دی د آسمانونو او دمځکو اوځه چې د دوی په مينځ
کې دی ددی ټولو، پردی باندی فرعون په طور دمسخرو حاضرينو ته وويل. اَلَا تَسْتَمِعُوْنَ، يعنې تاسې
اورئ چې دا دی څومره بې عقله خبرې کوي په دی باندی حضرت موسی ﷺ وفرمايل.

رَبُّكُمْ وَرَبُّ آبَائِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ. يعنې ستاسی اوستاسی دپلاراونيکونو هم هغه رب پروردگار دی.

په دې باندې فرعون راوګرځيدی وې ويل.

قَالَ اِنَّ رَسُوْلَكُمُ الَّذِيْ اُرْسِلَ اِلَيْكُمْ لَمَجْنُوْنٌ.

يعنې دا چې کوم تاسی ته دالله د رسول کيدو دعوه کوی دا خو مجنون دی.

دليونی په خطاب ورکولوباندی هم حضرت موسی ﷺ په ځای ددې چې ده ته يې ديوانه ويلی وو
اوځان يې هوښيار ثابت کړی وی دی طرف ته يې ګرسره ونه کتل بلکه د رب العالمين يو بل صفت يې
بيان کی.

رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ. (شعرآء)

هغه رب دمشرق او مغرب دی اوځه چې د دوی په مينځ کی دی که په تاسی کی څه عقل وي.

دا يوه اوږده مکالمه ده کومه چې دفرعون په دربارکی دحضرت موسی ﷺ او دفرعون په مينځ کی
سوی ده او دسورة شعرآء په درو رکوع ګانوکی بيان سوی ده دالله ﷻ مقبول رسول حضرت موسی ﷺ
ته په دې مکالمه کی داول څخه ترآخره پورې وګورئ، نه يوځای دجذباتو اظهارسته، نه دده دبدګويی
جواب سته، نه دده دسختو خبرو په جواب کی څه سخته کلمه سته بلکه پرله پسی دالله ﷻ دصفتونو
دکمال بيان دی او دتبليغ سلسله جاری ده.

دالنده غوندی نمونه ده دپيغبر ﷺ دمناظری اوبحث اومباحثوچې دخپلوعنادګرواوضدي قومونوپه
مقابله کی سوی دی اومجادله، بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ: چې کوم په قرآن کريم کی تعليم دی، دهغه عملی
تشريح ده.

دمجادلوڅخه علاوه په دعوت اوتبليغ کی دهرمخاطب اوهرې موقعې په مناسب په خبروکولو کی به
حکيمانه اصول اوعنوان اوتعبيرکی دحکمت اومصلحت رعايتونه هم کوي چې انبياء عليهم السلام
اختيار فرمايلي دی، او ددعوت الی الله لره دمقبول اواثرناک اوپائيدار جوړولو دپاره چې کوم طرز
عمل اختيار کړی دی هغه په اصل کی ددعوت روح دی ددی تفصيلات خو ټول په تعليماتو دنبی کريم
ﷺ کی خپاره سوی دي، دنمونی دپاره يو څو ووينئ.

نبی کريمﷺ به په دعوت تبليغ اووعظ اونصيحت کی ددی لوی لحاظ ساتی چې په مخاطب باندی بار
نه سی، صحابه کرام ﷺ چې په نبی کريمﷺ باندی عاشقان وه، په هيڅ وخت کی هم د دوی څخه دا
احتمال نه وو چې د دوی په خبرو اوريدو به ستړی سی د دوی ﷺ دپاره هم دحضور ﷺ دا عادت وو
چې وعظ نصيحت به يې روزانه نه بلکه دهفتې په ځينو ورځو کی به يې فرمايي، چې دخلقو په کار
او بار کی حرج او بار پر رانه سی.

Maktaba Tul Ishaat.com

په صحیح بخاری کی دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی، چی نبی کریمﷺ دهفتی په څنو ورځوکی نصیحت اووعظ فرمایی، ددی دپاره چی مونږ ستړی نه سو، اونوروته هم د دوی ﷺ دطرف څخه داهدایت وو، حضرت انس ﷺ فرمایی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی
یَسِّرُوْا وَلَا تُعَسِّرُوْا وَبَشِّرُوْا وَلَا تُنَفِّرُوْا. (صحیح بخاری کتاب العلم)
په خلقوباندی اسانی کوی سختی مه پیداکوی او دوی ته دالله ﷻ درحمت خوشخبري اوروی، مایوسی اونفرت مه پیداکوی.
حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمایی چی تاسی ته په کار دی چی ربانی حکماء، علماء او فقهاء جوړسی په صحیح بخاری کی ددی قول دنقل کولوڅخه وروسته د ،ربّانی: لفظ دا تفسیر فرمایی چی کوم سړی په دعوت، تبلیغ او تعلیم کی دتربیت داصولو لحاظ وساتی اول اسانی اسانی خبري وښیی، بیاچی کله خلق ددی سره عادت سی نو بیا ورته نور احکام وښیی کوم چی په اوله مرحله کی مشکل وي، هغه عالم ربانی دی.
نن صبا چی کوم وعظ اوتبلیغ ډیرکم اثر کوي، ددی زیاته وجه دا ده چی عموماً ددی کارکوونکی ددی اصولو او ادابو رعایت نه کوي اوږده تقریرونه وخت بی وخت نصیحت، دمخاطب دحالاتومعلومولو څخه بغیر دوی پر یوکارمجبوره کول د دوی عادت جوړ سوی دی.
رسول الله ﷺ ته ددعوت او اصلاح په کارکی ددی لوی اهتمام وو چی دمخاطب سپکوالی یارسوایی ونه سی په دی وجه چی کله به یی څوک لیدی چی په یوغلط اوبدکارکی اخته دی نوده ته سیده په سیده د خطاب کولو په ځای به یی عامه مجمع مخاطب کړه او فرمایل به یی چی.
مَابَالُ اَقْوَامٍ یَفْعَلُوْنَ کَذَا. په خلقو څه وسول چی فلانی کار کوي؟
داعام خطاب به چی یی چاته اورول مقصود وو، هغه به هم واوریدی اوپه زړه کی به شرمنده سو ددی د پرېښودو فکر به یی کوی.
دپیغمبرانو علیهم السلام عام عادت وو چی مخاطب به یی دشرمندگی څخه محفوظ کوي، په دی وجه ځینی وخت کوم کارچی به دچاڅخه سوی وو دهغه نسبت به ځان ته وکی اوداصلاح کوشش به یی کوی، په سورة یس کی دی. وَمَا لِيَ لَا أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي. یعنی ماته څه سوی دی چی دخپل پیداکیدونکی عبادت نه کوم، بنکاره خبره ده چی درسول دا قاصد خو په هر وخت په عبادت کی مشغول وو، اورول دغه مخاطب ته وو کوم چی په عبادت کی مشغول نه مگر دا کار یی خپل ځان ته منسوب کی.
او ددعوت معنی بل لره ځانته بلل دي، محض دده عیب بیانول نه دی او دا بلل هغه وخت کیدای سی کله چی په متکلم اومخاطب کی څه اشتراک وی په دی وجه په قرآن کریم کی دانبیاء علیهم السلام ددعوت عنوان اکثره د، یٰقَوْمِ، څخه شروع کیږي چی په دی کی د وروروالی ددرشتی تعلق والی د اول څخه وښیی، مخ ته داصلاح خبره کول کیږي، چی زه او تاسی دیوی وروروالی خلق یو، څه نفرت نه دی په کار، دا ووایی او بیا د دوی د اصلاح کار شروع کوی نبی کریم ﷺ چی کوم ددعوت خط دهرقل

د روم دبادشاه په نوم ولیږی په دی کی خو یی اول بادشاه د روم په لقب دعظیم الروم ، سره یادکی، چی په دی کی دده جائز اکرام دی ځکه چی په دی کی دده دعظیم والی اقرار هم دی ، مګر د رومیانو دپاره دځان دپاره نه ددی ځخه وروسته د ایمان دعوت په دی عنوان سره ورکوي.

يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ .

ای اهل کتابو دهغه کلمی طرف ته ژر راسی کومه چی زمونږ اوستاسی په مینځ کی مشترکه ده یعنی دا چی مونږ به دالله ﷻ ځخه ماسوا دبل هیچا عبادت نه کوو.

په دی کی اول په خپل مینځ کی یوه مشترکه نقطه دوحدت ذکرکړه چی دتوحید عقیده زمونږ اوستاسی په مینځ کی مشترکه ده ددی ځخه وروسته دعیسایانو په غلطی باندی یی خبردار کړل.

که دنبی کریم ﷺ په تعلیماتونظر واچول سی نو په هر تعلیم اودعوت کی به یی دغه شان اداب او اصول پیداسی نن صبا اول خو ددعوت اواصلاح او امر بالمعروف او نهی عن المنکر طرف ته خو ګرسره خیال نه دی پاته سوی اوځوک چی په دی کی مشغول هم دی هغوی صرف بحث اومباحثه اوپه مخالف الزامونه لګول اوسپکول اوبی عزتی یی کول دعوت او تبلیغ ګنلی دي کوم چی دسنتو ځخه دخلاف کیدو په وجه سره هیڅکله اثر کوونکی او فائده مند کیږي نه دوی ګنی چی داسلام لوی خدمت وکړي اوپه حقیقت کی دوی دخلقو د متنفره کولو سبب جوړیږي.

(د رواجي بحث اومباحثو ديني او دنيوی ضررونه)

دذکر سوو آیتونو په تفسیرکی دامعلومه سوی ده چی دشرع اصل مقصود دعوت الی الله دی، چی ددی دوه ۲ اصول دي، حکمت اوموعظت حسنه دمجادلی صورت که چیری پیښ سی نو دهغه سره یی هم د احسن قید ولګوی او اجازه یی ورکړه مګردغه په حقیقت کی ددعوت څه شعبه نه ده بلکه ددی منفی اړخ یوتدبیردی چی په دی کی قرآن کریم د، بِالَّتِيْ هِيَ أَحْسَنُ : قید ولګوی لکه ځنګه چی یی دابښودلی ده چی دا په نرمی خیرخواهی اوهمدردی په جذبه سره په کار ده او په دی کی دلیلونه واضح دمخاطب د حال مناسب بیانول په کار دی دمخاطب دسپکاوی اوبی عزته کولوځخه بالکل ځان ساتل په کار دی دغه شان ددی داحسن والی دپاره دا هم ضروری ده چی دغه په خپله دمتکلم دپاره مضره نه سی چی په دی کی رذیل اخلاق حصد بغض تکبر مرتبه خوښول وغیره پیدا نه سی کوم چی باطنی ګناه کبیره دی او دنن صبابحث اومباحثی ، مناظری اومجادلی خو داسی دی چی یوځوک دالله ﷻ بنده به کله کله په کی ددی ځخه که نجات پیداکړي نوممکنه ده کنی عادتاً ددی ځخه محفوظ کیدل سخت ګران دی.

امام غزال رحمه الله فرمایی چی لکه ځنګه چی شراب ام الخبائث دی چی استعمال یی په خپله هم ډیره لویه ګناه ده اونورو لویو لویو جسمانی ګناهونوهم ذریعه ده دغه شان په بحث اومباحثه کی چی کله مقصود په مخاطب باندی غلبه پیداکول اوخپل علمی ستروالی په خلقو باندی ظاهرول وي نودغه هم دباطن دپاره ام الخبائث ده چی په نتیجه کی یی ډیر روحانی جرمونه پیداکیږي مثلاً حسد بغض تکبر ، غیبت دنورو دعیبونو لټون ، دده په بدی خوشحالیدل اوپه خیر یی خفه کیدل ، دحق قبلولوځخه

Maktaba Tul Ishaat.com

تکبیر دبل چا په خبره باندی په انصاف اواعتدال سره دغور کولو په ځای دجواب ورکولو فکرکول، برابره خبره ده که په دی کی په قرآن او حدیث کی که هر څومره تاویلونه کول راسی کوي یی.
دا هغه هلاکوونکی شیان دی په کومو کی چی ډیر لوی لوی عالمان اخته دی اومعامله چی کله د دوی تابعداری کوونکو ته ورسیږي نو ددست وګریبان اوجنګ جګړو بازار ګرم سی ، الله ﷻ دی امان راکړی
حضرت امام شافعی رحمه الله فرمایی، علم خو دعلم اودفضل دخاوندانوپه مینځ کی د دوروولی یوه ذریعه ده نوهغه خلق کوموچی علم دښمنی جوړه کړی ده دوی نورو ته دخپل مذهب دپیروي دعوت ښکه ورکوی د دوی په مخکی خو په نورو باندی غلبه پیداکول دي ، نوبیاد دوی په مینځ کی دالفت اومحبت او ورورولی تصورڅنګه کیدای سی او دیوانسان دپاره ددی څخه زیات شر اوبدی به بله څه وی چی دغه دي دمنافقانوپه خویونوکی اخته کړی اودمومنانومتقیانودااخلاقوڅخه یی محرومه کړي.
امام غزالی رحمه الله فرمایی چی په علم دین اودعوت حق کی شغل لرونکی یاخودصحیح اصولوتابع سی ، دهلاکوونکوخطرو څخه ځان ساتی او ابدی سعادت حاصلوي بیا ددی مقام څخه ولویږي اودهمیشه بدبختی طرف ته ځی ددی په مینځ کی اوسیدل ډیره لیری خبره ده ، ځکه چی کوم علم نافع نه وي هغه عذاب او عذاب دی د نبي کریم ﷺ ارشاد دی.

أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَالِمٌ لَمْ يَنْفَعْهُ اللهُ بِعِلْمِهِ : دټولوڅخه زیات سخت عذاب به دقیامت په ورځ دهغه عالم وي دکوم په علم چی الله ﷻ ده ته نفع ورنه کړی.

لاَ تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ لِتُبَاهُوْا بِهِ الْعُلَمَاءَ وَلِتُمَارُوْا بِهِ السُّفَهَاءَ وَلِتَصْرِفُوْا بِهِ وُجُوْهَ النَّاسِ اِلَيْكُمْ فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَهُوَ فِي النَّارِ.
علم دین په دی غرض سره مه زده کوی چی ددی په ذریعه دنورو عالمانوپه مقابله کی فخر اوعزت حاصل کړی یا دکوم علمو خلقو سره جګړي وکړی یا ددی په ذریعه دخلقو توجه ځانته کړی اوڅوک چی داسی کوی هغه به په اور کی وي.
په دی دفقهاء امامانو اواهل حقو مسلک په دی معامله کی دا وو چی په علمی مسئلوکی به یی جګړې اوجنګونه هرګز جائز نه ګڼل دحق ددعوت دپاره دومره کافی ده چی څوک په خطا باندی وګنی دی دخیر خواهی په عنوان او نرمی په عنوان سره په دلیلونو باندی په خپله خطاء خبر کړی ، بیا که هغه یی قبول کړی نو غوره ده کنی سکوت دی اختیار کړی دجګړو او بد ګویی څخه په کلی طور سره ځان وساتی ، د حضرت امام مالک رحمه الله ارشاد دی.

كَانَ مَالِكٌ يَقُوْلُ الْمِرَاءُ وَالْجِدَالُ فِي الْعِلْمِ يَذْهَبُ بِنُوْرِ الْعِلْمِ عَنْ قَلْبِ الْعَبْدِ وَقِيْلَ لَهُ رَجُلٌ لَهُ عِلْمٌ بِالسُّنَّةِ فَهَلْ يُجَادِلُ عَنْهَا قَالَ لاَ وَلٰكِنْ يُخْبِرُ بِالسُّنَّةِ فَاِنْ قُبِلَ مِنْهُ وَاِلاَّ سَكَتَ . (اوجزالمسالك شرح موطا ج۱ ص ۱۵)
امام مالک رحمه الله فرمایی چی په علم کی جنګ اودعوت دعلم نور دانسان د زړه څخه باسی چاورته عرض وکی چی یوسړی دی چی دسنتوعلم ورته وسو، دی دسنتو دحفاظت دپاره دعوه کولی سی ، وی وفرمایل چی نه بلکه ده ته په کار دی چی مخاطب دصحیح خبری څخه خبر کړي ، بیا که هغه قبوله کړي نو غوره ده کنی دی دي سکوت اختیار کړي.
په دی زمانه کی ددعوت اواصلاح کار په دوو ۲ وجهو سره پوره اثر نه کوي ، یو خو دا چی دزمانی د

Maktaba Tul Ishaat.com

فساد اوحرامو شیانو د ډیروالی په سبب سره په عام طور دخلقو زړونه سخت او د آخرت څخه غافله سوی دي او دحق قبلولو توفیق کم سوی دی او ځینی خو په دی قهر کی اخته دي ، دکوم خبر چی نبی کریم ﷺ ورکړی وو چی په آخره زمانه کی به دخلقو زړونه چپه سی دښه او بد پیژندل او د جائز او ناجائز فرق به د دوی زړونو څخه پورته سی.

او دویم سبب دا دی چی دامر بالمعروف اونه عن المنکر اوددعوت حق دفرضو څخه غفلت عام سوی دی دعوامو به څه وایی په خواصو عالمانو اوصحالحانوکی ددی ضرورت حسان ډیرکم دی داګڼل سوی ده چی خپل عملونه برابرکړي نو داکافی ده برابره خبره ده که د دوی اولاد ښځی ورونه دوستان خپلوان په هر څومره ګناهونوکی مبتلا وي ، د دوی داصلاح فکر ګویا د دوی په ذمه ګرسره سته نه حال دا دی چی دقرآن اوحدیث واضح نصونه دهر سړی په ذمه دخپل اهل اوعیال اومتعلقینو اصلاح فرض ګرځوي، ق قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا : اوبیاکه ځینی خلق ددعوت اواصلاح دفرضو طرف ته توجه ورکوی هم نودغه دقرآنی تعلیماتو اوپیغمبرانه دعوت داصولو اوادابوڅخه نا آشنا دی بی سوچه بی فکره چی څه غواړي هر وخت یي کوي او وایی او دا ګڼي چی مونږ خپل فرض ادا کړی دی حال دا دی چی دا طرز د انبیاء علیهم السلام دسنتو څخه دخلاف والی په وجه سره خلق په دین اواحکامو ددین دعمل کولو څخه زیات لیري غورځوی خصوصاً کوم ځای چی په بل باندی دتنقید نوبت راسی نو دتنقید په نوم باندی تر تنقیص او مسخرو پوري رسیږي ، حضرت امام شافعی رحمه الله فرمایی.

کوم سړی چی په یوه غلطی باندی خبرول وی که ته هغه په تنهایی کی په نرمی سره پوه کوي نو دا نصیحت دی او که په ډاګه دخلقو په وړاندی دی رسوا کوي نو دا فضیحت دی.

نن صباخودیو بل عیبونه داخبارونو اواشتهارونوپه ذریعه شائع کول ددین خدمت ګڼل سوی دی الله ﷻ دی مونږ ته تولوته دخپل دین او ددی دصحیح دعوت صحیح پوهه او د ادابو مطابق ددی دخدمت توفیق راکړي ، تردی ځای پوری ددعوت اصول او اداب بیان سول اوس ددی څخه وروسته فرماي.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ .

دا جمله ددین ددعوت ورکوونکو دتسلی دپاره ارشاد فرمایل سوی ده څکه چی ددعوت دذکر سوو ادابو داستعمالولو باوجودکله چی مخاطب حقه خبره قبوله نه کړي نوپه طبعی طورسره انسان ته سخته صدمه رسیږي اوځینی وخت ددی دا اثر هم کیدای سی چی ددعوت فائده ونه وینی نه په بنده مایوسی راسی اوکار پریږدي په دی وجه په دی جمله کی یی دا وفرمایل چی ستا کار صرف دحق دعوت د صحیح اصولومطابق اداکول دی مخ ته ددی قبلول یانه قبلول ، په دی کی ستاهیڅ نه دخل سته اونه ستا ذمه واری ده دغه صرف دالله ﷻ کار دی ، هغه پوهیږي چی څوک ګمراه پاته کیږي اوڅوک هدایت مومی ته په دی فکرکی مه راځه ، خپل کار کوه ، همت مه بایله مایوسه کیږه مه ددی څخه معلومه سوه چی دا جمله هم ددعوت د ادابو تکمیل ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

(دحق دعوت کوونکي ته که ازار ورسول سي نو بدله اخيستل هم جائز دی مګر صبر کول غوره دی)

ددی څخه وروسته په درو۳ آيتونوکی دحق دعوت کونکوته يومهم هدايت دی هغه دا چی ځينی وخت ددی سخت وله جاهلانو سره واسطه راځی، چی که دوی ته هرڅومره په نرمی اوخير خواهی سره ورداسی خبره کول کيږي خو بيا هم دوی په جوش کی راځی او ازار رسوی اوځينی وخت ددی څخه هم زيات سی دوی ته دجسمانی تکليف رسولو بلکه دقتل کولو پوری نوبت رسوی په داسی حالاتوکی دحق دعوت ورکوونکو ته څه کول په کار دي؟

ددی دپاره په، وَإِنْ عَاقَبْتُمْ: کی يو خو دی حضراتوته قانونی حق ورکړل سو چی څوک په تاسی ظلم وکی نوتاسی ته هم بدله اخيستل جائزدی مګرپه دی شرط سره چی په بدله اخيستوکی دظلم دمقدارڅه تجاوز نه وي څومره ظلم چی هغه کړی دی، دومره بدله دی واخيستل سی، زياتوب دی په کښی ونه سی.

اودآيت په آخرکی يی مشوره ورکړه چی که ستاسی دبدلی اخيستوحق سته ليکن که صبر وکی اوبدله وانه خلی نو دا غوره ده.

(دذکرسوو آيتونوشان نزل اودنبي کريم ﷺ اوصحابه ﷺ دطرف څخه حکم مثل)

دجمهورو تفسير ليکونکو په نزد دا آيت مدنی دی داحد په غزا کی داويا ۷۰ اصحابو ﷺ په شهادت اودحضرت حمزه ﷺ دقتلولو اومثله کولوپه واقعه کی نازل سوی دی دصحيح بخاري روايت ددی مطابق دی دارقطنی په روايت دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نقل کړی دی چی.

داحد په غزاکی کله چی مشرکان بيرته ولاړل نو په اصحابو کرامو ﷺ کی داويا ۷۰ مشرانولاشونه (مړی) مخ ته راغلل چی په دوی کی دنبی کريم ﷺ اکا محترم حضرت حمزه ﷺ هم وو چونکه دمشرکانو ده ته ډيره غصه وه په دی وجه دده دقتلولوڅخه وروسته يی دده په لاش (مړی) خپله غصه داسی ويستله چی دده پزه، غوږونه او نور اندامونه يی پريکړل، نس يی ورڅيری کی نبی کريم ﷺ ددی منظر په ليدو باندی سخت خفه سو او وي فرمايل چی زه به دحمزه ﷺ په بدله کی دمشرکانو اويا ۷۰ کسان داسی مُثله کوم لکه چی دحمزه ﷺ سره يی کړی ده، په دی واقعه کې دا دری ۳ آيتونه نازل سول، وَإِنْ عَاقَبْتُمْ الخ: (قرطبی) په ځينو روايتونوکی دی چی دنورو اصحابو ﷺ سره هم دی ظالمانو دا معامله دمُثلی کړی وه (لکه چی روايت يی کړی دی ترمذی، احمد ابن خزيمه، ابن حبان په خپلو صحيحينو کی د ابی ابن کعب ﷺ څخه)

په دی کی نبی کريم ﷺ چونکه د ډيرغم په وجه بی دلحاظ دتعداد څخه ددی اصحابو ﷺ په بدله کی د اويا ۷۰ مشرکانو دمثله کولوقصد فرمايلی وو کوم چی دالله ﷻ په نزد ددی عدل اومساواتو داصولو مطابق نه وو کوم چی دده ﷺ په ذريعه په دنياکی قائمول منظور وو په دی وجه يو خو يی په دی باندی خبرداری وفرمايل چی دبدلی اخيستوحق خوسته مګرپه هغه مقدار اوپيمانه څومره مقدارچی دظلم دی بی له شميره دلحاظ ساتلوڅخه داويا ۷۰ کسانوڅخه بدله اخيستل صحيح نه دي

Maktaba Tul Ishaat.com

دويم ده ﷺ دمكارم اخلاق نمونه جوړول مقصود وو په دي وجه دا نصحيت وسو چي دسر په سر بدلي اخيستو كه څه هم اجازه سته مگر كه دغه هم پريږدي او په مجرمانو احسان وكي نو دا زياته غوره ده. په دي باندي نبي كريم ﷺ وفرمايل چي اوس به مونږ صبركوو ديوتن څخه هم بدله نه اخلو اودخپل قسم كفاره يي اداكړه (مظهري عن البغوي) دفتح مكه په موقع چي كله دا ټول مشركان مغلوب سول نو دنبي كريم ﷺ اواصحابو كرامو رضي الله عنهم په قبضه كي وه داموقع وه چي دغه خپل قصد او اراده يي پوره كړي واى ، كومه چي داحد دغزا په وخت كي يي كړي وه مگر د ذكر سوو آيتونو دنزل په وخت كي نبي كريم ﷺ خپله اراده پريښى وه او دصبر كولو فيصله يي كړه وه څكه چي دمكي دفتح په وخت كي صبر اختياركي شايد په دي بنا په خينو روايتونو كي راغلي دي چي دا آيتونه دفتح مكه په وخت نازل سوي دي او دا هم بعيده نه ده چي ددي آيتونو نزول مكرر سوى وى په احد كي هم او په فتح كي هم (لكه چي مظهري د ابن الحصار څخه روايت كوي)

مسئله : دي آيت په بدله اخيستوكي دمساوات قانون ښودلى دي په دي وجه فقهاء فرمايي چي كوم سړي څوك قتل كړي نو په بدله كي به يي قاتل قتلوكيږي ، چي څومره زخم ده كړى وي، هغومره زخم به پرده ولگول سي كه څوك دچا لاس اوپښې پريكړي بيايي قتل كړي نو دمقتول ولي ته به حق وركړل سي ، چي دي هم اول دقاتل لاس او پښې پريكړي بيا يي قتل كړي ، البته كه چا څوك په ډېرو وويشتى قتل يي كي يايي په غشو سره قتل كي نو په دي كي دقتل دنوعيت صحيح مقدر نه سي معلوميدى چي په څومره ضربونو باندي يي قتل كړى‌دى يا څومره تكليف يي ورته رسولى دي په دي معامله كي دحقيقي مساوات هيڅ پيمانه نسته په دي وجه دي په توره سره قتليږي (جصاص)

مسئله: دآيت نزول كه څه هم دجسماني تكليف اوجسماني نقصان رسولو متعلق سوى دي مگر الفاظ عام دي چي مالي نقصان رسول په كښي هم دا خل دي په دي وجه فقهاء حضرات فرمايي چي كوم سړي دچا مال غصب كړي نو ده ته هم حق حاصل دي چي دخپل حق مطابق دده څخه مال غصب كړي يا يي ورڅخه په غلا واخلي خو په دي شرط چي كوم مال يي ورڅخه اخيستى دي دهغه جنس څخه ورڅخه واخلي مثلاًنقد روپۍ دي نو چي په بدله كي كي يي دغه دومره نقد روپۍ په غصب يا په غلا واخلي ، غله كپړه وغيره وي نوچي غله كپړه وغيره ورڅخه واخلي مگر ديوجنس په بدله كي بل جنس نه سي اخيستى مثلاً د روپو په بدله كي كپړه يابل ددغه قيمت شي په زورنه سي اخيستى اوځينو نفهاؤ مطلق اجازت وركړى دي برابره خبره ده كه دحق دجنس څخه وي يادبل جنس څخه ددي مسئلي څه تفصيل په قرطبي كي دي او پوره تفصيل دفقهي په كتابونو كي دي.

په آيت ، وَإِنْ عَاقَبْتُمْ : كي عام قانون ذكر وو، چي په دي كي ټولومسلمانانو ته دبرابر بدلي اخيستل جائز مگرصبركولوته غوره اوبهترويل سوى دي ددي څخه ورروسته په آيت كي نبي كريم ﷺ ته خاص خطاب فرمايلى دي دصبركولو تلقين اوترغيب يي وركړى دي څكه چي دده ﷺ دلوى شان اولوړمنصب دپاره د نورو په نسبت دا زياته موزون اومناسبه ده ، په دي وجه فرمايلي ، وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللَّهِ يعني ته د بدلي اخيستو اراده مه كوه، صبر اختيار كړه او ددي سره يي دا هم وښوده چي ستا صبر به

Maktaba Tul Ishaat.com

دالله ﷻ په مدد سره وي ، يعنى صبر كول به ستا دپاره اسان كړل سى .

په آخرى آيت كي بيايوه عامه قاعده دالله ﷻ دنصرت اوامداد حاصليدو دا وښووده ، إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُمْ مُّحْسِنُونَ : ددى خلص دا دى چى دالله ﷻ مدد دهغوخلقو سره وي كوم چى دوه صفتونه لرى يوتقوى ، دوهم احسان، دتقوى مطلب نيک عمل كول ، او د احسان مطلب دلته دخداى دمخلوق سره ښه سلوک كول دي ، يعنى كوم خلق چى دشريعت مطابق دنيک عملونوپابند او دنورو سره د احسان معامله كوي ، الله ﷻ د دوى سره دى او دا ظاهره خبره ده چى چاته دالله ﷻ ملګرتيا اومدد حاصل وي دده څوك څه خرابوى سى .

الحمد لله دسورة النحل تفسير نن په ۱۹ ربيع الاول سنة ۱۴۱۰ هـ ختم سو.

خوارلسمه پاره ختمه سوه

وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ اَوَّلاً وَّ اٰخِرًا وَّظَاهِرًا وَّبَاطِنًا

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې کتاب ټول حقوق دمکتبه حنفیۀ سره محفوظ دي

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتو کې

(تالیف)

مفتي اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمه الله

پښتو ترجمه کوونکې (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقاني)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقاني) او مولوی آمین الله (حقاني)

دکمپوز او ترجمې چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۱۵)

خپرونکې

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوټه

چاپ ځای .... لاهور

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست تفسير معارف القرآن

مضمون	مخ
(سورة بني اسرائيل)	۸
سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ الخ ۱	۸
په جسماني معراج د قرآن او سنت دليلونه او اجماع	۹
دمعراج لنډه واقعه د ابن كثير په روايتونو سره	۱۰
دمعراج دواقعي متعلق ديو غير مسلم شهادت	۱۱
د اسراء او معراج تاريخ	۱۱
مسجد حرام او مسجد اقصى	۱۳
دمسجد اقصى او شام دملک برکتونه	۱۳
وَآتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ الخ ۲ تا ۳	۱۴
وَقَضَيْنَا إِلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ الخ ۴ تا ۸	۱۴
دايتونو ترون، شپږ واقعي	۱۶
معلومات او مسئلې	۱۹
دبني اسرائيلو واقعات دمسلمانانو دپاره عبرتونه دي موجوده واقعه دبيت المقدس ددى سلسلي يوه كړى ده	۱۹
يو عجيبه معامله	۲۰
كافران هم د الله ﷻ بندګان دي مګر مقبول نه دي	۲۱
إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي الخ ۹ تا ۱۱	۲۱
معلومات او مسئلې .... اقومه لار	۲۲
وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ الخ ۱۲ تا ۱۵	۲۲
معلومات او مسئلې	۲۴
دعلمنامي دغاړې هار كيدو مطلب	۲۴
درسول ليږلو څخه بغير دعذاب نه كيدو تشريح	۲۴
دمشركانو پر اولاد به عذاب نه وي	۲۵
وَإِذَا أَرَدْنَا أَنْ نُهْلِكَ الخ ۱۶ تا ۱۷	۲۵
يوه شبهه او دهغې جواب	۲۶
دذكر سوي آيت يو بل تفسير	۲۶
دمالدارو پر قوم باندې اثر كيدل يو طبعي امر دی	۲۷
مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ ۱۸ تا ۲۱	۲۷

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات او مسئلی	۲۸
دبدعت او ځان ښوولو عمل که هر څومره ښه ښکاري مقبول نه دی	۲۹
لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ إِلٰهًا آخَرَ الخ ۲۲ تا ۲۵	۲۹
معلومات او مسئلی ،د مور او پلار د ادب او احترام او اطاعت لوي اهمیت	۳۱
دمور او پلار داطاعت اوخدمت فضیلتونه دحدیث په روایتونو کی	۳۱
مور او پلار په حق ضائع کولو سره سزا د آخرت څخه مخکی په دنیا کی هم ورکول کیږي	۳۲
دمور اوپلار اطاعت په کومو شیانو کی واجب دی او کوم ځای دمخالفت ګنجائش سته	۳۲
دمور اوپلار د اطاعت او ښه سلوک دپاره د دوی مسلمان والی ضرور نه دی	۳۲
دمور او پلار د ادب رعایت خصوصاً په بوډاوالي کی	۳۳
یو عجیبه واقعه	۳۴
وَآتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهُ الخ ۲۶ تا ۲۷	۳۶
معلومات او مسئلی	۳۶
دعامو قریبانو دحقونو اهتمام	۳۶
دتبذیر یعنی فضول خرڅی ممانعت	۳۷
وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَاءَ الخ ۲۸	۳۸
معلومات او مسئلی	۳۸
وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً الخ ۲۹ تا ۳۰	۳۸
معلومات اومسئلی	۳۹
په خرڅ کولو کی دمیانه روی هدایت	۳۹
دالله ﷺ په لاره کی دومره خرڅ کول چی په خپله پریشانه سی ددی درجه	۴۰
په خرڅ کی بد نظمی ممنوع ده	۴۰
وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ الخ ۳۱	۴۰
معلومات او مسئلی	۴۱
وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰى إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً الخ ۳۲	۴۱
معلومات او مسئلی	۴۱
وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّٰهُ ۳۳	۴۲
معلومات او مسئلی	۴۳
د ناحق قتل تفسیر	۴۳
دقصاص اخیستو حق چاته دی ؟	۴۳
دظلم جواب نه دی انصاف دی دمجرم په سزا کی هم د انصاف رعایت	۴۳

Maktaba Tul Ishaat.com

دیاد ساتلو یوه قصه	۴۴
وَلَا تَقۡرَبُوا مَالَ الۡيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي الخ ۳۴ تا ۳۵	۴۴
دیتیمانو په مال کی احتیاط	۴۵
دوعدو د پوره کولو او په دی د عمل کولو حُکم	۴۵
په ناپ او تول کی دکمی کولو ممانعت	۴۶
وَلَا تَقۡفُ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِ عِلۡمٌ الخ ۳۶ تا ۳۸	۴۷
معلومات او مسئلی	۴۷
دغوږونو سترګو او زړه متعلق دقیامت په ورځ سوال	۴۸
دپنځلس آیتو څخه دټول تورات خلاصه ده	۵۰
ذَٰلِكَ مِمَّا أَوۡحَىٰ إِلَيۡكَ رَبُّكَ الخ ۳۹ تا ۴۴	۵۰
دمځکی آسمانونو او په دی کی دموجودو شیانو دتسبیح کولو مطلب	۵۱
وَإِذَا قَرَأۡتَ الۡقُرۡآنَ جَعَلۡنَا الخ ۴۵ تا ۴۸	۵۴
په پیغمبر د جادو اثر کیدی سی	۵۵
ددښمنانو دنظر څخه دپټیدو یو عمل	۵۶
وَقَالُوا أَئِذَا كُنَّا عِظَامًا وَرُفَاتًا الخ ۴۹ تا ۵۲	۵۷
معلومات او مسئلی	۵۸
په محشر کی به کفار هم دحمد او ثنا سره پورته کیږي	۵۹
وَقُلۡ لِعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي الخ ۵۳ تا ۵۵	۶۰
معلومات او مسئلی	۶۱
بد ژباني او سخت کلامي دکفارو سره هم جائز نه ده	۶۱
قُلِ ادۡعُوا الَّذِينَ زَعَمۡتُمۡ مِنۡ الخ ۵۶ تا ۵۸	۶۱
معلومات او مسئلی	۶۲
وَمَا مَنَعَنَا أَنۡ نُرۡسِلَ بِالۡآيَاتِ الخ ۵۹ تا ۶۰	۶۳
وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَائِكَةِ اسۡجُدُوا الخ ۶۱ تا ۶۵	٦٤
رَبُّكُمُ الَّذِي يُزۡجِي لَكُمُ الۡفُلۡكَ الخ ۶۶ تا ۷۰	۶۷
د انسان فضیلت پر اکثرو مخلوقاتو په څه وجه دی؟	۶۹
يَوۡمَ نَدۡعُو كُلَّ أُنَاسٍ الخ ۷۱ تا ۷۲	۷۰
عملنامه	۷۱
وَإِنۡ كَادُوا لَيَفۡتِنُونَكَ الخ ۷۳ تا ۷۷	۷۲
معلومات او مسئلی	۷۳

Maktaba Tul Ishaat.com

أَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ الخ ۷۸ تا ۸۲	۷۵
معلومات او مسئلې	۵۶
د دښمنانو د مکر او فریب څخه د بچ کیدو علاج لمونځ دی	۷۶
د پنځه وخته لمونځونو حکم	۷۶
د تهجد د لمانځه وخت او د دې احکام او مسئلې	۷۸
د تهجد لمونځ فرض دی که نفل؟	۷۸
د تهجد لمونځ نفل دی او که سنت موکده؟	۷۹
د تهجد د رکعتونو شمیر	۸۰
د تهجد د لمونځ کیفیت	۸۰
مقام محمود	۸۱
د انبیاؤ او نیکانو د امت شفاعت به مقبول وي	۸۱
یو سوال او جواب	۸۱
د تهجد لمونځ د شفاعت په مقام حاصلولو کې خاص دخل دی	۸۲
شرك كفر او باطل رسمونه ماتول واجب دی	۸۳
وَإِذَا أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنْسَانِ أَعْرَضَ الخ ۸۳ تا ۸۴	۸٤
معلومات او مسئلې	۸٤
وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ الخ ۸۵ تا ۸۹	۸۵
د روح څخه مراد څه دی؟	۸۶
د سوال واقعه په مکه کې پیښه سوه که په مدینه کې؟	۸۷
د ذکر سوي سوال جواب	۸۸
د هر سوال جواب ورکول ضروري نه دي د مخاطب سوال کوونکي د دیني مصلحت رعایت لازمي دی	۸۸
د روح د حقیقت علم چا ته کیدی سي او که نه؟	۸۹
وَقَالُوا لَنْ نُؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى تَفْجُرَ الخ ۹۰ تا ۹۵	۹۱
د بې سر او بې پښو عنادي سوالونو پیغمبرانه جواب	۹۳
د الله ﷺ رسول انسان کیدی سي ملائکې د انسانانو طرف ته رسولاني کیدی نه سي	۹۳
قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيدًا بَيْنِي الخ ۹۶ ت ۱۰۰	۹٤
معلومات او مسئلې	۹۶
وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسٰى تِسْعَ آيَاتٍ الخ ۱۰۱ تا ۱۰۹	۹۷
معلومات او مسئلې	۹۹
قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ الخ ۱۱۰ تا ۱۱۱	۱۰۰

Maktaba Tul Ishaat.com

دمؤلف دحال بیان ۱۰۳

(سورة الکهف) ۱۰٤

الحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَى عَبْدِهِ الخ ۱ تا ۸ .... ۱۰٤

دسورة کهف خصوصیات او فضیلتونه ۱۰٥

شان نزول ۱۰٥

أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَهْفِ الخ ۹ تا ۱۲ .... ۱۰۸

دلغاتو تشریح ۱۰۸

معلومات او مسئلې ۱۱۰

د اصحاب کهف اورقیم قصه ۱۱۰

د اصحاب کهف ځای او د دوی زمانه ؟ ۱۱۲

د نورو تاریخدانانو تحقیق ۱۱٤

داصحاب کهف واقعه په کومه زمانه کې پیښه سوه اوپه غار کې دپناه اخیستو اسباب څه وه؟ ۱۱٦

دقومیت او اجتماعیت اصلي بنیاد ۱۱۷

اصحاب کهف اوس هم ژوندي دي؟ ۱۱۸

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُمْ الخ ۱۳ تا ۱۶ .... ۱۱۹

معلومات او مسئلې ۱۲۰

وَتَرَى الشَّمْسَ إِذَا طَلَعَتْ الخ ۱۷ تا ۱۸ .... ۱۲۱

معلومات او مسئلې ۱۲۲

اصحاب کهف د اوږد خوب په زمانه کې په داسې حالت وه چې لیدونکې یې بیدار ګڼې ۱۲۳

د اصحاب کهف سپی ۱۲۳

دنیک صحبت برکتونه چې دسپي یې هم اعزاز زیات کی ۱۲۳

اصحاب کهف ته الله ﷻ داسې رعب اوجلال ورکړی ووچې چابه لیدل دهیبت څخه به یې
تښتیدل ۱۲۴

وَكَذَلِكَ بَعَثْنَاهُمْ لِيَتَسَاءَلُوا الخ ۱۹ ۲۰ .... ۱۲۵

وَكَذَلِكَ أَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ الخ ۲۱ .... ۱۲۸

داصحاب کهف حال د ښار په خلقو ښکاره کیدل ۱۲۹

داصحاب کهف دوفات څخه وروسته په خلقو کې اختلاف رایه ۱۳۱

سَيَقُولُونَ ثَلَاثَةٌ رَابِعُهُمْ الخ ۲۲ .... ۱۳۲

په اختلافي بحثونو کې دخبرو آداب ۱۳۳

داصحاب کهف نومونه ۱۳۳

په اختلافي معاملو کې د اوږدو بحثونو څخه ځانونه ساتې ۱۳۴

Maktaba Tul Ishaat.com

د قرآن بیان او لی فعل اع ۲۳ تر ۲۴ ...	۱۳۳
په تنده کار کولو باندی انشاء الله ویل	۱۳۷
د واوحی الیك من كتاب ربك اع ۲۷ تر ۳۱	۱۳۸
معلومات او مسئلې	۱۴۰
د دعوت او تبلیغ خاص اداب ..	۱۴۰
د جنتیانو د جامې کالي	۱۴۱
واضرب لهم مثلا رجلين اع ۳۲ تر ۴۴	۱۴۱
واضرب لهم مثل الحيوة الدنيا الع ۴۵ تا ۴۹ .	۱۴۵
والباقيات الصالحات تشریح	۱۴۷
جزاء عین عمل دی	۱۴۸
ولقد صرفنا في هذا اع ۵۰ تا ۵۹	۱۴۹
د ابلیس اولاد او نسل کروسي هم سته	۱۵۳
واذ قال موسى لفته اع ۶۰ تا ۷۰	۱۵۳
د مجمع البحرين معنى	۱۵۷
د حضرت موسى او خضر عليهم السلام قصه	۱۵۷
د سفر ځینې ادب او د پیغمبرانه عزم یوه نمونه	۱۵۹
د حضرت موسى علیه السلام د حضرت خضر علیه السلام څخه په والی د حضرت موسی علیه السلام خاص تربیت او دده معجزي	۱۶۰
د حضرت خضر علیه السلام سره ملاقات او دده دنبوت مسئله	۱۶۲
یو ولی ته د شریعت د ښکاره حکم څخه خلاف ورزی حلاله نه ده	۱۶۲
د شریعت عالم ته جائز نه دی چې د شریعت څخه په خلاف کار صبر وکړي	۱۶۳
په علم موسوي او علم خضري کې یو بنادي فرق او په دواړو کې د ښکاره تضاد حل	۱۶۳
قال الم اقل لك انك لن تستطيع اع ۷۱ تر ۷۳	۱۶۵
معلومات او مسئلې	۱۶۶

پنځلسمه پاره ختمه سوه

تفسیر معارف القرآن د نصیر احمد احمدی په واسطه سکین شو

pdf ته ورځه په میله احمدی او واتساپ ۰۷۲۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ سورة بني اسرآئيل ﴾

سُوْرَةُ الْاِسْرَاءِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اِحْدٰى عَشَرَةَ اٰيَةً وَّاثْنَا عَشَرَ رُكُوْعًا

سورة بني اسرائيل په مکه کي نازل سوی دی ددی یوسل (۱۱) یولس ایتونه او دولس (۱۲) رکوع کاني دي.

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چي بی اندازی مهرباند نهایت رحم والا دی.

سُبْحٰنَ الَّذِيْٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

پاک دی　هغه ذات　چي یی بوتلی　بنده خپل　شپه په شپه　دی مسجد حرام څخه

اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا الَّذِيْ بٰرَكْنَا حَوْلَهٗ لِنُرِيَهٗ مِنْ اٰيٰتِنَا ۭ اِنَّهٗ

مسجد اقصی ته　کوم چي گیر کري دي زمونږ برکت چي وبنایو ده ته دخپل قدرت څیني نمونې

هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ①

هغه دی اوریدونکی　لیدونکی.

لنډتفسير: هغه ذات پاک دی کوم چه خپل بنده (محمد ﷺ) یی دشپی په وخت کي دمسجد حرام (یعني د کعبي دمسجد) څخه تر مسجد اقصی (یعني بيت المقدس) پوری دکوم خواؤاوشاچی (دشام ملک دي مونږ (ديني او دنيوي) برکتونه ايښي دي (ديني برکت دا دی چي هلته ډير پيغمبران دفن دي اودنيوي برکت دا دی چي هلته باغونه او نهرونه ، چيني او حاصلات ډير زيات دی ، غرض دا چي دغه ترمسجد اقصی پوری په عجيبه طور سره مو ددې دپاره) بوتلی چي مونږ ده ته دخپل قدرت څه عجائبات وښيو (چي په دی کی څيني خو په خپله ددغه ځای متعلق دي مثلاً دومره لوی مسافت په دومره لږ وخت کي قطع کول او دټولو انبياؤ سره ملاقات کول او د دوي خبري اوريدل وغيره ، او څيني دمخکی سره تعلق لري ، مثلاً آسمانونو ته تلل او دهغه ځای عجائبات ليدل) بيشکه الله ﷻ لوی اوريدونکی لوي ليدونکی دی (چي دنبی کريم ﷺ خبري يی اوريدی او حالات يی مناسب ليدل ، ددې په مناسب يی ده ته دا خاص امتياز او عزت ورکړی او دخپل خاص نزديکت هغه مقام ورکړی کوم چه هيچاته نه دی ورکول سوی.

معلومات او مسئلي: په دی آيت کی د معراج د واقعي بيان دی کومه چه زمونږ دنبی کريم ﷺ يو خصوصي اعزاز او امتيازي معجزه ده لفظ د: اسری : د اسراء څخه مشتق دی چي لغوي معنی يی دشپي بيول دي، ددی څخه وروسته د: ليلاً : په لفظ سره دا مطلب نور هم واضح سو او دلفظ د: ليلاً : په نکره راوړو کی دی طرف ته هم اشاره وسوه چي په دی ټوله واقعه کی پوره شپه نه ده صرف سوی، بلکي دشپي يوه حصه په کښی صرف سوي ده دمسجد حرام څخه ترمسجد اقصی پوري سفر دکوم ذکر چي په دی آيت کی دی

Maktaba Tul Ishaat.com

، دی ته اسراء وايي او ددی ځای څخه چې کوم سفر د آسمانونو طرف ته سوی دی دغه نوم معراج دی ، اسراء ددی آیت دقطعي نص څخه ثابته دی او دمعراج ذکر د سورة نجم په آیت کی دی او په متواترو احادیثو سره ثابت دی، بِعَبْدِهٖ: په دی مقام د اعزاز او اکرام لفظ د: بِعَبْدِهٖ: يو خاص دمحبوبيت طرف ته اشاره ده ، ځکه چې الله ﷻ چاته په خپله وفرمايي چې دا زما بنده دی ، ددی څخه لوي اعزاز د يو بشر نه شي کیدی حضرت حسن دهلوي څه ښه فرمايي .

بنده حسن بصد زبان گفت که بنده توام تو بزبان خود بگو بنده نو از کیستی

بنده حسن خو په سلو ژبو وايي چې زه ستا بنده يم خو ته په خپله ژبه ووايه چې ته بنده نواز د چايي .

دا داسی ده لکه په يو بل آيت: عِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِيْنَ الخ فرمايي دخپل درگاه دمقبولانو عزت زياتول مقصود دی ، ددی څخه دا هم معلومه سوه چې دانسان دټولو څخه لوی کمال دا دی چې دی دالله ﷻ کامل صفتونو څخه صفت دعبديت اختيارکی او په دی لفظ سره يوه لويه فائده داهم مقصود ده، چې په دی حيرانوونکي سفر سره چې په کوم کی د اول څخه تر آخره پوری ټول فوق العادت معجزات دي چا ته دخدايي وهم پيدا نه سي ،لکه دحضرت عيسی ﷺ آسمان ته په پورته کولو سره چې عيسايانو ته دوکه شوي ده ، په دی وجه لفظ د: عبد يي ووايه او دايي وښووله چې ددی ټولو صفتونو او کمالونو او معجزو باوجود نبی کريم ﷺ دالله ﷻ بنده دی خدای نه دی .

(په جسماني معراج دقرآن او سنت دليلونه او اجماع)

دقرآن کريم د ارشاداتو او متواترو احاديثو دکوّمو ذکر چې مخته راځي ثابته ده چې د اسراء او معراج ټول سفر صرف روحاني نه وو ، بلکي جسماني وو لکه څنگه چې عام انسانان سفر کوي ، دقرآن کريم په اولني لفظ : سبحان : کی دی طرف ته اشاره موجوده ده، ځکه چې دا لفظ دتعجب اوعظيم الشان کار دپاره استعمالیږي، که معراج صرف روحاني په طور دخوب وي نو په دی کی کومه داسی عجيبه خبره وه ، خوب هر مسلمان بلکي هر انسان ليدی سي چې زه آسمان ته ولاړم او فلاني کار مي وکي .

بله اشاره په لفظ دعبد سره دی طرف ته ده ځکه چې عبد صرف روح نه دی بلکي دجسم او روح دمجموعي نوم دی ، ددی څخه علاوه دمعراج واقعه حضور ﷺ ام هانئ ﷜ ته وښووله نو هغه مشوره ورته ورکړه چې ته ددی چاته ذکر مه کوه گني خلگ به دی نور زيات درواغجن وگني، که معامله دخوب وي نو په دی کی د درواغجن کولو څه خبره ده .

بيا چې کله نبی کريم ﷺ خلگو ته ددی اظهار وکي دمکي کفارو وريوری مسخري او خنداگاني شروع کړي تردی چې ځينو نو مسلمو چې دا خبر واوريدی نو مرتد سول که معامله دخوب وي نو ددی معاملاتو هيڅ امکان نه وو او دا خبره ددی منافي نه ده چې دوی ﷺ ته ددی مخکی او وروسته څه معراج روحاني په صورت دخوب هم سوی وي دجمهور امت په نزد دقرآن کريم په آيت وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْيَا الَّتِي أَرَيْنَاكَ : کی د ، رؤيا: څخه مراد رؤيت (ليدل) دي ، مگر ددی په لفظ د رؤيا سره (کوم چې اکثره دخوب ليدلو په معنی کی استعمالیږي) په تعبير کولو کی وجه دا کيدی سي ، چې دی معاملي ته يې دتشبه په طور: رؤيا: ويلی وي چې ددی مثال داسی دی لکه څوک چې خوب ويني او که د رؤيا معنی خوب

واخیستل سي نو دا هم څه بعیده خبره نه ده چې واقعه د معراج د جسماني څخه علاوه د حضرت عبدالله ابن عباس ﷛ او حضرت عائشي ﷝ څخه چې کوم ددی واقعي خوب والی نقل دی ، هغه هم پر خپل ځای پر خپل ځای صحیح دی، مګر ددی څخه دا نه لازمیږي چې معراج دی جسماني نه وي سوی.

په تفسیر قرطبي کی دی چې احادیث د اسراء متواتر دي او نقاش د شلو اصحابو کرامو روایتونه په دې باب کی نقل کړي دي او قاضي عیاض په شفاء کی نور زیات تفصیل کړی دی (قرطبي)

او امام ابن کثیر په خپل تفسیر کی دا ټول روایتونه سره د جرح او تعدیل نقل کړی دی ، بیا یی د پنځه ویشتو (۲۵) اصحابو کرامو ﷡ نومونه ذکر کړي دي د کومو څخه چې دا روایتونه نقل دي د دوي نومونه دا دي.

(۱) حضرت عمر ابن خطاب ﷛ (۲) حضرت علي مرتضی ﷛ (۳) حضرت ابن مسعود ﷛ (۴) حضرت ابو ذر غفاري ﷛ (۵) حضرت مالک بن صعصعه ﷛ (۶) حضرت ابو هریره ﷛ (۷) حضرت ابو سعید ﷛ (۸) حضرت ابن عباس ﷛ (۹) حضرت شداد بن اوس ﷛ (۱۰) حضرت أبی بن کعب ﷛ (۱۱) حضرت عبدالرحمن بن قرظ ﷛ (۱۲) حضرت ابو حیه ﷛ (۱۳) حضرت عبد الله ابن عمر ﷛ (۱۴) حضرت جابر بن عبد الله ﷛ (۱۵) حضرت ابو لیلی ﷛ (۱۶) حضرت حذیفه بن یمان ﷛ (۱۷) حضرت بریده ﷛ (۱۸) حضرت ابو ایوب انصاری ﷛ (۱۹) حضرت ابو امامه ﷛ (۲۰) حضرت سمرة بن جندب ﷛ (۲۱) حضرت ابو الحمراء ﷛ (۲۲) حضرت صهیب رومي ﷛ (۲۳) حضرت ام هانئ ﷛ (۲۴) حضرت عائشه ﷝ (۲۵) حضرت اسماء ﷝ بن ابي بکر ﷛ ددی څخه وروسته ابن کثیر فرمایي.

(فَحَدِيْثُ الْاِسْرَآءِ اَجْمَعَ عَلَيْهِ الْمُسْلِمُوْنَ وَاَعْرَضَ عَنْهُ الزَّنَادِقَةُ وَالْمُلْحِدُوْنَ) ابن کثیر د اسراء په واقعه باندی د ټولو مسلمانانو اجماع ده صرف ملحدانو او زندیقانو خلقو دا نه ده منلی.

د معراج لنډه واقعه د ابن کثیر په روایتونو سره

امام ابن کثیر ﷬ په خپل تفسیر کی د ذکر سوي آیت تفسیر او متعلقه حدیثونو تفصیل بیانولو څخه وروسته فرمایي چې حقه خبره دا ده چې نبی کریم ﷺ په سفر د اسراء کی په بیداریٔ باندی تللی دی په خوب کی نه دی ، د مکي مکرمي څخه تر بیت المقدس پوری دا سفر پر براق باندی وسو ، هر کله چې د بیت المقدس دروازي ته ورسیدل نو براق یی د دروازي په خوا کی وتړی او دوي بیت المقدس ته داخل سول او ددی قبلي طرف ته یی دوه رکعتونه تحیة المسجد وکړل ، ددی څخه وروسته یوه ځینه راوړل سوه چې د لاندی څخه پورته د تللو د پاره په کی ځینې جوړي وي ، ددی ځینو په ذریعه دوی اول آسمان ته تشریف وي وړي او بیا دوهم ته او بیا په پوره نورو ته ، ددی ځینې حقیقت الله ﷻ ته معلوم دی چې څه او څنګه وه ؟ نن صبا په دنیا کی هم د ځنیو ډیر قسمونه رواجونه دي ، داسی ځینې هم سته چې په خپله حرکت کوي او د لفټ په صورت کی ځینې هم دي (ددی معجزانه ځینې په باره کی څه شک او شبهه کول نه دي په کار) په هر آسمان کی د هغه ځای فرښتو د دوی استقبال وکي او په هر آسمان کی یی د پیغمبرانو سره ملاقات وسو ، د کومو چې په یو مقرر آسمان کی مقام دی ، مثلاً په شپږم آسمان کی

Maktaba Tul Ishaat.com

دحضرت موسى ﷺ او په اووم آسمان كې دحضرت ابراهيم ﷺ سره يې ملاقات وسو ، بيا دوى ددې ټولو پيغمبرانو دځايونو څخه هم مخته تشريف وړ وړى او يو داسې ميدان ته ورسيدى كوم ځاى چې دتقدير د قلم د ليكلو اواز اوريدل كيږي او دوي سدرة المنتهى وليدى ، پر كوم چې دالله ﷻ په حكم سره دسرو زرو پتنګان او د مختلفو رنګونو پتنګان رالويدل او چې دالله ﷻ ملائكې پر تاؤ وې دلته حضور ﷺ جبرائيل امين په خپل اصلي شكل كې وليدى چې شپږ سوه وزر يې وه او هلته يې رفرف په شين رنګ كې وليدى ، چې ټول افق يې نيولى وو او دوي بيت المعمور هم وليدى چې په خوا كې يې د كعبې جوړونكى حضرت ابراهيم ﷺ ديوال ته تكيه وهلى ناست وو ، دى بيت المعمور ته هره ورځ اويا زره (۷۰۰۰۰) ملائكې دا خليږي چې بيا ددغو فرښتو دوباره لمبر ترقيامته پورى نه راځي او حضرت نبى كريم ﷺ جنت او دوږخ په خپلو سترګو سره وليدى ، دغه وخت د دوي پر امت دپنځوسو لمونځونو دفرض كيدو حكم وركړل سو ، بيا آساني پر را وسته چې پنځه سول ، په دې سره په ټولو عبادتونو كې دلمانځه خاص اهميت او فضيلت ثابتيږي .

ددې څخه وروسته دوي بيرت بيت المقدس ته راكښته سوه او دكومو پيغمبرانو سره چې يې په مختلفو آسمانونو كې ملاقات سوى وو ، هغه هم ورسره راكښته سول (ګويا) دوي ته د رخصت وركولو دپاره تر بيت المقدس پورى ورسره راغلل ، دغه وخت د لمانځه وخت سو نو دوي ﷺ دټولو پيغمبرانو سره لمونځ ادا كي دا هم احتمال دى چې دغه لمونځ ددغه ورځي د سهار لمونځ وي .

ابن كثير فرمايي چې د امامت د انبياء عليهم السلام دا واقعه دځينو حضراتو په نزد آسمان ته د تلو څخه مخكې سوي ده ، ليكن ظاهره دا ده چې دا واقعه دبيرته راتلو څخه وروسته وسوه ، ځكه چې په آسمانونو كې د انبياء عليهم السلام سره دملاقات په واقعه كې نقل دى ، چې دټولو انبياء عليهم السلام سره د دوى ﷺ تعارف جبرائيل امين وكړى ، كه واقعه د امامت اول سوى واى نو دلته به بيا دتعارف ضرورت نه واى او هسې هم ښكاره خبره دا ده چې ددى سفر اصل مقصد ملاء اعلىٰ ته دتلو وو نو اول دا پوره كول دير اقرب معلوميږي ، بيا چې كله ددى اصل مقصد څخه فراغت وسو ، نو ټول انبياء عليهم السلام د دوى سره درخصت كولو دپاره تر بيت المقدس پورى راغلل او دى ﷺ دجبرائيل امين په اشاره سره امام جوړ سو د دوى دقيادت او پر ټولو دفضيلت عملي ثبوت يې وكي .

ددى څخه وروسته دوى دبيت المقدس څخه رخصت سو او پر براق سپور سو او په تياره كې مكې مكرمې ته را ورسيدى ، والله سبحانه وتعالى اعلم .

(دمعراج دواقعې متعلق ديو غير مسلم شهادت)

په تفسير ا بن كثير كې دى چې حافظ ابو نعيم اصبهاني په خپل كتاب (دلائل النبوة) كې دمحمد بن عمر واقدي په سند سره په روايت د محمد بن كعب قرظي دا واقعه نقل كړي ده چې .

واقدي ته يخ روايتونو دحديثو كې محدثينو ضعيف ويلى دى ليكن امام ابن كثير چې دير محتاط محدث دى دده روايت نقل كړى دى ځكه چې ددې معاملې تعلق دعقيدو يا دحلالو حرامو سره نه دى او په داسې تاريخي معاملاتو كې دده روايت معتبر دى . منه

Maktaba Tul Ishaat.com

نبی کریم ﷺ د روم بادشاه قصیر ته خپل خط مبارک ورکي او حضرت دحیه ابن خلیفه ﷺ یې ولیږی او دا پوره قصه یې په تفصیل سره لیکلی ده کومه چه په صحیح بخاري او دحدیثو په معتبرو کتابونو کی موجوده ده ، ددی په اخر کی دی چی د روم بادشاه هرقل دخط مبارک ویلو څخه وروسته دنبی کریم ﷺ د حالاتو دتحقیق دپاره دعربو هغه خلق جمع کړل کوم چی دغه وخت دده ملک ته دتجارت په غرض سره راغلی وه، دشاهي حکم مطابق ابو سفیان ابن حرب او دده ملګري کوم چی دغه وخت دتجارتي قافلي سره شام ته راغلی وه ، دوی حاضر سول هرقل بادشاه د دوي څخه هغه پوښتنه وکړل دکومو تفصیل چی په صحیح بخاري اومسلم کی موجود دی ، د ابو سفیان د زړه خواهش داوو چی په دی موقع دي دنبی کریم ﷺ متعلق څه داسی خبري بیان کړي چی د دوی سپکوالی اوبي حیثیته والی یی په ښکاره سي، مګر ابو سفیان وایي چی ما ته زما ددی ارادي څخه منع کوونکی ددی څخه بغیر بل هیڅ شي نه وو چی هسي نه زما د ژبي څخه یوه داسی خبره ووزي چی هغه دُرواغ سي او زه دبادشاه دنظر څخه ولویږم او زما دا ملګری هم بیا ماته همیشه ماته دروا‌غژن وایي ، البته دغه وخت زما خیال سو چی دده په وړاندی دمعراج واقعه بیان کړم چی درواغژنوالی یی بادشاه په خپله معلوم کړي ، نو ما وویل چی زه دده یوه معامله تاته بیانوم چی ددی متعلق به ته په خپله معلومه کړي چی دی درواغجن دی هرقل پوښتنه وکړه چی هغه څه واقعه ده؟ ابو سفیان وویل چی دا دنبوت دعوی کوونکی وایي چی دي یوه شپه دمکي مکرمي څخه ووتی او ستاسی دی جماعت بیت المقدس ته را ورسیدی او بیا په دغه شپه کی دسهار کیدو څخه مخکي مکي مکرمي ته راغی .

ایلیاء (دبیت المقدس) دټولو څخه لوی عالم دغه وخت د روم بادشاه هرقل سرته نژدی ولاړ وو ده بیان وکی چی زه ددغي شپي څخه خبر یم د دروم بادشاه ده متوجه سو او پوښتنه یی ورڅخه وکړه چی تاته ددی علم څنګه او ولي وسو؟ ده عرض وکي چی زما دا عادت وو چی دشپي به تر هغه وخته پوری نه بیدیدم چی د بیت المقدس ټولي دروازي به مي نه وي بندي کړي په دغه شپه ما دعادت مطابق ټولي دروازي بندي کړي مګر یوه دروازه مانه سوی بند ولی نو ما خپل کارکنان راوبلل هغوي په جمع کوشش وکي مګر دوی هم بنده نه کړل سوه ، دروازي دخپل ځای څخه ګرسره حرکت نه کوي ، داسی معلومیده لکه چی مونږ غر ښو روي چی زمونږ په وسه ونه سوه نو کاریګر او ترکاڼان می را وبلل ، هغوي چی وکتل نو وي ویل چی ددی دروازي پر درشلو باندی د آبادئ بوج لویدلی دی ، اوس دسهار څخه مخکی ددی دبندولو هیڅ تدبیر نسته چی سهار سي بیا به وګورو چی څه ورسره وکړو ، زه دمجبوري څخه لیري سوم او د دروازي دواړي پلی خلاصي پاته سوي ، چی سهار سو او زه دغه دروازي ته ورسیدم نو ماولیدل د دروازي په خوا په یو کونج کی سوری سوری سوی دی او داسی محسوسیدله چی دلته چا یو حیوان تړلی دی ، دغه وخت ما خپلو ملګرو ته ویلي وو چی نن دا دروازه الله ﷻ شاید چی ځکه دبندیدو څخه منع کړی وه چی څوک نبی دلته راتلونکی وو او بیا یی بیان وکي چی په دغه شپه دوی زمونږ په جماعت کی لمونځ هم کړی دی ، ددی څخه وروسته یی نور تفصیلات بیان کړی دی (ابن کثیر ص ۲۴ ج ۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

(د اسراء او معراج تاريخ)

امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير کې فرمايي چې د معراج په تاريخ کې روايتونه ډير مختلف دي ، د موسى بن عقبه رضي الله عنه روايت دا دی چې دا واقعه د مديني د هجرت څخه شپږ مياشتي مخکې پيښه سوي ده ، او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې د حضرت خديجى ام المومنين رضي الله عنها وفات د لمونځونو د فرض کيدو نازليدو څخه مخکې سوی دی ، امام زهري فرمايي چې د حضرت خديجي رضي الله عنها د وفات واقعه د بعثت نبوي څخه اووه کاله وروسته سوي ده .

په ځينو روايتونو کې دی چې واقعه د معراج د بعثت نبوي څخه پنځه کاله وروسته سوي ده ابن اسحاق وايي چې واقعه د معراج هغه وخت پيښه سوي ده کله چې اسلام په عامو قبيلو د عربو کې خور سوی وو ، د دی ټولو روايتونو خلاصه دا ده چې واقعه د معراج د هجرت مدينه څخه ډير کلونه مخکې سوي ده .

حربي وايي چې واقعه د اسراء او معراج د ربيع الثاني په اوه ويشتمه ۲۷ شپه د هجرت څخه يو کال مخکې ده ، او ابن قاسم ذهبي رحمه الله وايي چې د بعثت څخه اتلس مياشتي وروسته دا واقعه پيښه سوی ده ، محدثينو حضراتو د مختلفو روايتونو ذکر کولو څخه وروسته څه فيصله کن شی نه دی ليکلی او په عام طور سره مشهور دا ده چې د بزرگی مياشتي (رجب) په اوه ويشتمه ۲۷ شپه شب معراج دی ، والله سبحانه وتعالى اعلم .

(مسجد حرام او مسجد اقصى)

حضرت ابو ذر غفاري رضي الله عنه وايي چې ما د نبی کريم صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې په دنيا کې د ټولو څخه اولنی جماعت کوم يو دی ؟ نو دوی وفرمايل چې (مسجد حرام) بيا ما عرض وکي چې د دی څخه وروسته کوم يو؟ نو وي فرمايل چې (مسجد اقصى) ما پوښتنه وکړه چې د دی دواړو په مينځ کې څومره موده فاصله ده نو وي فرمايل څلويښت کاله، بيا يې وفرمايل (چې د جماتونو ترتيب دا دی) ليکن الله ﷻ زمونږ د پاره ټوله مځکه جمات جوړه کړي ده ، کوم ځای چې د لمانځه وخت سي هم هلته لمونځ کوي (مسلم)

د تفسير امام مجاهد فرمايي چې الله ﷻ د بيت الله ځای د ټولي مځکې څخه دوه زره کاله مخکې جوړ کړی دی او د دی بنيادونه اوومي مځکې ته رسيدلي دي او مسجد اقصى سليمان عليه السلام جوړ کړی دی (روايت يې کړی دی نسايي په صحيح اسنادو سره د عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه، تفسير قرطبي ص ۱۳۷ ج ۴) .

او مسجد حرام د هغه جماعت نوم دی کوم چې د بيت الله چاپيره جوړ سوی دی او ځيني وخت پوره حرم ته هم مسجد حرام وايي ، د دی دوهمي معنى په اعتبار سره د دوو روايتونو دا تعارض هم رفع کيږي چې په ځينو روايتونو کې د اسرآء د پاره د دوی تشريف وړل د حضرت ام هانئ د کور څخه نقل دی او په ځينو کې د بيت الله شريفي د حطيم څخه، که د مسجد حرام عامه معنی واخيستل سي نو دا څه بعيده خبره نه ده چې اول دی صلى الله عليه وسلم د ام هانئ په کور کې وو د دغه ځای څخه حطيم ته ولاړی بيا د دغه ځای څخه د اسراء د سفر ابتداء وسوه والله اعلم .

(د مسجد اقصى او شام د ملک برکتونه)

په آيت: بٰرَكْنَا حَوْلَهُ: کې د ، حَوْلَ ، څخه مراد ټوله مځکه د شام ده ، په يو حديث کې دی چې الله ﷻ د

عرش څخه تر دریابی فراته پوری مبارکه مځکه جوړه کړي ده او په دی کی دفلسطین مځکی ته خاص
تقدس ورکړل سوی دی (روح)
ددی برکتونه دیني هم دي او دنیوي هم دیني برکتونه خو یي دا دي چی دغه دټولو تیرو پیغمبرانو قبله
او د ټولو پیغمبرانو د اوسیدو او دفن کیدو ځای دی ، او دنیوی برکتونه ددغه مځکی سرسبزي ده چی
په کښی ښکلی چیني نهرونه او باغونه دي ،
حضرت معاذ بن جبل ﷺ فرمایي چی نبي کریم ﷺ فرمایلي دي ، چی الله ﷻ فرمایی ای دشام ملکه ته د
ټولو ښارونو څخه زما خوښه کړي مځکه یی او زه به تاته خپل ټول خوښ کړی بندگان در رسوم (قرطبي)
او په مسند احمد کی حدیث دی ، چی دجال به په ټوله مځکه وګرځي ، مګر څلورو جماعتونو ته دي نه
سي رسیدی ، دمدیني منوري جماعت دمکي مکرمي جماعت، مسجد اقصی، مسجد طور .

وَاٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِیْ

اوورکړی دی مونږ موسی ﷺ ته کتاب اوکړی مونږدی هدایت دپاره دبنی اسرائیلو چی مه جوړ وی څوك زماڅخه

وَكِیْلًا ۝۲ ذُرِّیَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَبْدًا شَكُوْرًا ۝۳

ماسوا کارساز تاسی چی کوم اولادیاست دهغو خلقو کوموچی سپاره کړل مونږ دنوح سره بیشکه هغه ووبنده حق منونکی .

تفسیر: او زمونږ موسی ﷺ ته کتاب (یعنی تورات) ورکی اومونږ دی دبني اسرائیلو دپاره (الله د)
هدایت جوړکی (چی په دی کی دنورو احکامو سره دا دتوحید عظیم الشان حکم هم وو) چی تاسی زما
څخه ما سوا (خپل) هیڅوک کار سازمه مقرر وئ ، ای دهغو خلکو نسلونو کوم چی مونږ دنوح ﷺ سره
(په کښتی کی) سپاره کړی وه (مونږ تاسی ته خطاب کوو چی دانعمت یادکړئ چی که مونږ دوی په
کښتی کی سپاره کړي اوبچ کړي نه وای ، نو نن به تاسی دهغوي نسل کوم ځای وی اونعمت یادکړی
دهغه شکر وکړئ چی لوی قسم یی توحید دی او) دغه نوح ﷺ لوي شکر گذار بنده وو (نو هرکله چی
انبیاء ﷺ شکر کوي نو تاسی ولي ناشکري کوئ ؟)

وَقَضَیْنَاۤ اِلٰی بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ فِی الْكِتٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِی الْاَرْضِ مَرَّتَیْنِ وَلَتَعْلُنَّ

اوصفا وویل مونږبنی اسرائیلو ته په کتاب کی چی تاسی به خرابی وکړی په ملك کی دوه واره سرکشی به وکړی

عُلُوًّا كَبِیْرًا ۝۴ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ اُوْلٰىهُمَا بَعَثْنَا عَلَیْكُمْ عِبَادًا لَّنَاۤ

لویه سرکشی ، نو هرکله چی راغله اوله وعده ولیږل مونږ په تاسو خپل بندګان

اُولِیْ بَاْسٍ شَدِیْدٍ فَجَاسُوْا خِلٰلَ الدِّیَارِ ؕ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُوْلًا ۝۵

سخت جنګ کوونکی بیا ننوتل دښارونو مینځ ته ، او دغه وعده کیدونکی وه

Maktaba Tul Ishaat.com

ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَاَمْدَدْنٰكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ وَ

بیا مونږ بیرته واستوی ستاسی لمبر په دوی او قوت درکړی مونږ تاسی ته په مال او په زامنو سره

جَعَلْنٰكُمْ اَكْثَرَ نَفِيْرًا ۝٦ اِنْ اَحْسَنْتُمْ اَحْسَنْتُمْ لِاَنْفُسِكُمْ

او زیات کی مونږ ستاسی لښکر ، که ښه وکړل تاسو نو ښه مو وکړل دخان سره

وَاِنْ اَسَاْتُمْ فَلَهَا ؕ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ لِيَسُوْٓءٗا وُجُوْهَكُمْ

او که بدی کوی نو دخپل خان دپاره ، نو هر کله چی راغله وعده بله ولیږل مونږ نور بندګان چی وران کی ستاسی مخونه

وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوْهُ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّلِيُتَبِّرُوْا مَا عَلَوْا

او ودننه سی مسجد ته لکه چی دننه سوی وو په اول وار او خراب کړی په کوم ځای چی غالب سی

تَتْبِيْرًا ۝٧ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يَّرْحَمَكُمْ ۚ وَاِنْ عُدْتُّمْ عُدْنَا ۘ وَجَعَلْنَا

په خرابولو سره، لیری نه ده چی ستاسی رب په تاسی رحم وکړی او که بیا هغه کوی نو مونږ به بیا هغه وکړو او کړی دی مونږ

جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ حَصِيْرًا ۝٨

دوږخ دکافرانو دپاره بندی خانه.

تفسیر: او مونږ بني اسرائيلو ته په کتاب کی (خواه په تورات کی یا دنورو بنی اسرائیلو د انبیاؤ په صحیفو کی) دا خبره (په طور دپیش ګویي) ښوولی وه چی تاسی به په مځکه (دشام) کی دوه واري (د ګناهونو په ډیروالي سره) خرابي وکړي (یو وار دموسی ﷺ دشریعت څخه خلاف او بل وار دحضرت عیسی ﷺ دشریعت څخه خلاف) او په نورو به هم لوي زورچلوونکی شئ (یعنی ظلم او زیاتوب به وکړئ، دغه شان په ، لَتُفْسِدُنَّ: کی دحقوق الله ضائع کولو طرف ته او په ، لَتَعْلُنَّ: کی دحقوق العباد دضائع کولو طرف ته اشاره ده ، او دایی هم ښوولی وه چی دواړه واره به په سختیو سزاګانو کی اخته سی) بیا به دی دواړو وارو کی چی د اول وار میعاد راسي نو مونږ به پر تاسی خپل داسی بندګان مسلط کړو چی سخت جنګ کوونکی به وي بیا به دغه (ستاسی) په کورونو کی ننوزي (او تاسی به قتل قید او لوټ کړي) او دا (وعده سزا) یوه وعده ده چی خامخا به کیږي بیا (چی کله به تاسی په خپلو کړو باندی ستومانه او توبه ګار سی) نو مونږ به بیا پر دوی تاسی غالب کړو (که څه هم په واسطه سره وي ، چی کوم قوم پر دوی غالب راځي هغه به ستاسي حمایت کونکی سي دغه شان به ستاسی دښمن ددغه قوم او ستاسی دواړو څخه مغلوب سي) او په مال او زامنو سره (کوم چی قید او لوټ سوی وو) به مونږ ستاسی

Maktaba Tul Ishaat.com

مدد وکړو (یعنی دا شیان به تاسی ته بیرته درکړل سی ، چی تاسی ته به باندی قوت حاصل سي) او مونږ
به ستاسی جماعت (یعنی تابعین) زیات کړو (نو په جاه او مال او اولاد او تابعدارانو کی په ټولو کی به
ستاسي ترقي وسي او په دی کتاب کی په طور دنصیحت دا هم لیکلي وه چی) که چیري (اوس آئنده) ښه
کار کوي نو دخپلي نفع دپاره به ښه کار کوي (یعنی په دنیا او په آخرت کی به درته دده نفع حاصله سي)
او که چیري (بیا) تاسی بدعملونه کوئ نو هم د خپل ځان دپاره (به بدکوئ یعنی بیا به یی سزا وي ، هم
دارنگه داسی وسوه لکه چی مخکی یی بیان دی ، چی) بیا هرکله چی (په ذکر سوو دوو وارو د فساد کی
د آخري واري وخت راسي (او دغه وخت تاسی د شریعت عیسوي څخه مخالفت وکړئ) نو بیا به مونږ نور
پر تاسی مسلط کړو چی (هغوي به په وهلو وهلو) ستاسی مخونه خراب کړي او لکه څنگه چی دغه
(اولنی) خلک جمات (دبیت المقدس) ته (په لوټ مار کولو سره) ننوتلي وه دا (وروسته) خلق به هم دی ته
ننوزي او په کوم کوم شي چی د دوی وس برسی تول به (هلاک او) برباد کړي او (په دی کتاب کی دا هم
لیکلي وه چی که ددی دوهم وار څخه وروسته هرکله چی د شریعت محمدي په دور کی تاسی دمخالفت
او نافرماني څخه بیرته راسی ، دشریعت محمدي تابعداري وکړي نو) عجیبه نه ده (یعنی امید په معنی
د وعدی دی) چی ستاسی رب به پر تاسی رحم وکړي (او تاسی به د ذلت او بدبختي څخه وباسي) او که
تاسی بیا دغه (شرارت) وکړئ نو مونږ به هم بیا دغه (د سزا سلوک) وکړو (چنانچه دنبی کریم ﷺ په زمان
کی دغو د دوی مخالفت وکړو نو بیا قتل قید او ذلیله سول دا خو به ددنیا سزا وي) او (په آخرت کی)
مونږ جهنم د (داسی) کافرانو دپاره جیل خانه جوړه کړي ده .

(دآیتونو ترون) ددی څخه په مخکی آیتونو کی په ، وَجَعَلْنَاهُ هُدًى لِبَنِي إِسْرَائِيلَ : کی دشرعي حکمونو
او الهی هدایتونو دتابعداري او اطاعت ترغیب وو او په دی بیان سوو ایتونو کی دوی دمخالفت څخه د
بیرولو او د زورني مضمون دی ، په دی آیتونو کی دبني اسرائیلو دوي واقعي دعبرت او نصیحت دپاره
ذکر دي چی یو وار دوی په گناهونو او دالله ﷻ په نافرمانیو کی بوخت سول نو الله ﷻ د دوی دښمنان په
دوی مسلط کړل کوموچی دوی تباه کړل بیا دوی څه لږ پوه سول او شرارت یی کم کي نو برابر سول ،
لیکن څه زمانه وروسته یي بیادغه شرارتونه او بدعملونه شروع کړل ، نو بیا الله ﷻ دوی ته د دوی
دښمن په لاسو سزا ورکړه ، په قرآن کریم کی ددو واقعو ذکر دی ، مگر په تاریخ کی داسی شپږ واقعات
ذکر دي .

اوله واقعه: دمسجد اقصی دجوړونکی حضرت سلیمان ﷺ دوفات څخه څه زمانه وروسته پینه سوه
چی دبیت المقدس حاکم بي دیني اوبدعملي اختیار کړه ، نو دمصر یو بادشاه پر دوی حمله وکړه او
دبیت المقدس سامان سره سپین یی لوټ کړل او یو یی وړل ، مگر ښار او جماعت یی وران نه کړل .

دوهمه واقعه: ددی څخه تقریباً څلور سوه کاله وروسته ده ، چی په بیت المقدس کی اوسیدونکو ځینو
یهودیانو بت پرستي شروع کړه او په باقیو کی بي اتفاقي او جنگ جگړي شروع سوي ، په دی بدبختي
سره بیا دمصر یو بادشاه پر دوی حمله وکړه او څه قدر ښار او جمات ته یی هم نقصان ورسوی ، بیا د
دوي حالت څه قدر برابر سو .

Maktaba Tul Ishaat.com

دریمه واقعه: ددي څخه څو کاله وروسته هرکله چې بخت نصر دبابل بادشاه پر بیت المقدس حمله وکړه او ښاریې فتح کړ دیر مال یې لوټ کړ او ډیر خلګ یې بندیان جوړکړل او دځان سره یې بوتلل او دتیر بادشاه دخاندان یو فرد یې دخپل قائمقام په حیثیت سره ددې ښار حاکم جوړکړ.

څلورمه واقعه: دې نوي بادشاه چې بت پرسته او بدعمله وو، دبخت نصرڅخه بغاوت وکړ، نو بخت نصر دوباره حمله وکړه او بې انتها قتل خون او لوټ مار یې وکړو او په ښار یې اور پورې کړو تول یې هوار میدان کړ، دا حادثه دجمات جوړیدو څخه تقریباً څلور سوره پنځلس کاله وروسته پیښه سوه، ددې څخه وروسته یهودیان ددې ځای څخه جلا وطن سول او بابل ته ولاړل، کوم ځای چې په ډیر ذلت او خواري سره اوسیدل، اویا کاله تیر سول، ددې څخه وروسته د ایران بادشاه پر بابل حمله وکړه او بابل یې فتح کړ، بیا د ایران دبادشاه پردې جلا وطن یهودیانو زړه وسو او دوی یې بیرته شام ته ورسول او د دوی لوټ سوي سامان یې هم بیرته ورکړ، اوس یهودیان دخپلو بدو عملونو او ګناهونو څخه توبه ګار سوي وو، دلته د نوي سره اباد سول، نو د ایران دبادشاه په تعاون سره یې بیا مسجد اقصی په زړه نمونه اباد کړ.

پنځمه واقعه: دا پیښه سوه چې کله یهودو ته دلته اطمینان او ارام بیرته حاصل سو، نوخپل تیر وخت یې هیرکړ او بیا په بدو کارونو او بدو عملونو کې بوخت سول نو دحضرت مسیح ﷺ دپیدائش څخه یوسل اویا کاله مخکې دا واقعه راپیښه سوه چې کوم بادشاه انطاکیه اباده کړې وه، هغه حمله وکړه او څلویښت زره یهودیان یې قتل کړل او څلویښت زره یهودیان یې قیدیان او غلامان جوړکړل، دځان سره یې بوتلل او د جماعت یې هم ډیره بې حرمتي وکړه، مګر ابادي دجمات بچ سوه، خوبیا ددې بادشاه جانیشنو ښار او جماعت بالکل ډاګه میدان کړ، ددې څخه څه زمانه وروسته په بیت المقدس د روم دبادشاهانو حکومت سو، دوی جمات بیا آباد کړ او ددې څخه اته کاله وروسته حضرت عیسی ﷺ پیدا سو.

شپږمه واقعه: دحضرت عیسی ﷺ آسمان ته دپورته کولو څخه څلویښت کاله وروسته دا واقعه پیښه سوه چې یهودو د روم د خپلو بادشاهانو څخه بغاوت وکړ، رومیانو بیا ښار او جمات تباه کړل او هغه حالت یې ورته جوړکړ کوم چې مخکې وو، ددغه وخت د بادشاه نوم طیطس وو چې نه یهودي وو نه نصراني، څکه چې دده څخه ډیرې ورځې وروسته قسطنطین اول عیسایي سوی دی او ددې څخه وروسته دحضرت عمربن خطاب ﷺ دزماني پورې دا جماعت وران پروت وو او بیا حضرت عمر ﷺ جوړکړ دا شپږ واقعات په تفسیر بیان القرآن کې په حواله دتفسیر حقاني لیکل سوي دي.

اوس دا خبره چې په قرآن کریم کې دکومو دوو واقعو ذکر دی، هغه په دې کې کومې دي، ددې قطعي تعین څو مشکل دی، لیکن ښکاره دا ده چې په دې کې کومې واقعي زیاتې سختې او لویې وې او په کومو کې چې د یهودیانو شرارتونه هم زیات سوي وي او سزا یې هم سخته پیدا کړې وي، په هغو دی محمول کړل سي او هغه څلورمه او شپږمه واقعه ده، په قرطبي کې دلته یو اوږد مرفوع حدیث په روایت د حضرت حذیفه ﷺ نقل سوی دی، دهغه څخه هم ددې ښراوو تعین کیږي چې ددې دواړو څخه مراد څلورمه او شپږمه واقعه ده، ددغه اوږد حدیث ترجمه دا ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت حذیفه ﷺ فرمایي چې ما نبی کریم ﷺ ته عرض وکړ چې بیت المقدس د الله ﷻ په نزد ډېر لوی
عظیمې مرتبې جمات دی ، دوی وفرمایل چې دغه ددنیا په ټولو کورونو کې د یو ممتاز عزت والا کور
دی ، کوم چې الله ﷻ د حضرت سلیمان بن داؤد ﷺ د پاره د سرو سپینو او جواهراتو یاقوتو او زمردو څخه
جوړ کړی وو او دا داسې چې کله حضرت سلیمان ﷺ ددې ابادي شروع کړه ، نو الله ﷻ پیریان ددې تابع
کړل ، پیریانو دا ټول جواهرات او سره او سپین جمع کړل او ددې څخه یې جماعت جوړ کړی ، حضرت
حذیفه ﷺ وایي چې ما عرض وکړ چې بیا د بیت المقدس څخه دغه سره سپین او جواهرات چیرې او
څنګه ولاړل ؟ نو نبی کریم ﷺ وفرمایل چې هر کله بني اسرائیلو د الله ﷻ نافرماني وکړه او په ګناهونو او
بدو عملونو کې اخته سول او پیغمبران یې قتل کړل نو الله ﷻ پر دوی بخت نصر بادشاه مسلط کړی کوم
چې مجوسی وو ، ده اووه سوه کاله په بیت المقدس باندې حکومت وکړ ، او په قرآنکریم کې ددې آیت
فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ أُولَاهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَا أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ : څخه دا واقعه مراده ده ، د بخت نصر لښکر په
بیت المقدس کې داخل سو ، سړي یې قتل کړل او ښځې بچې یې قید کړل او د بیت المقدس ټول مالونه
او سره او سپین جواهرات او یا زره ګاډیو کې ډک کړل او په خپل ښار بابل کې یې کښېښوول او ترسلو
کالو پورې یې ددې بني اسرائیلو څخه خپل غلامان جوړ کړي وه ، قسم قسم بامشقته خدمتونه به یې په
ذلت سره په کول .

بیا الله ﷻ د فارس په بادشاهانو کې یو بادشاه دده د مقابلې د پاره راپورته کړ چې بابل یې فتح کړ او
باقیمانده بني اسرائیل یې د بخت نصر د قید څخه آزاد کړل او خومره مالونه چې هغه د بیت المقدس څخه
راوړي وه ، هغه ټول یې بیرته بیت المقدس ته راورسول او بیا بني اسرائیلو ته حکم وسو چې که تاسې
بیا نافرماني او ګناهونو ته ولاړسی نو مونږ به بیا د قتل او قید عذاب پر تاسې بیرته راولو د قرآن د آیت
عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يَرْحَمَكُمْ وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا : څخه دا مراد دی .

بیا چې هر کله بني اسرائیل بیت المقدس ته بیرته راغلل او ټول مالونه او سامان یې په قبضه کې راغی
نو بیا ګناهونه او بدو عملونو ته بیرته ولاړه ، دغه وخت الله ﷻ په دوی باندې د روم بادشاه قیصر مسلط
کړ د آیت ، فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ لِيَسُوءُوا وُجُوهَكُمْ : څخه دا مراد دی ، د روم بادشاه ددې خلقو سره د
وچې او دریاب پر دواړو لارو باندې جنګ وکړ او ډېر خلق یې قتل او قید کړل او بیا یې د بیت المقدس
دغه ټول مالونه په یو لک او یا زره ګاډیو باندې بار کړل یو یې وړل او په خپله کنیسة الذهب کې یې
کښېښوول دغه ټول مالونه تر اوسه هلته دي او هلته به وي ، ترڅو پورې چې حضرت مهدي ﷺ بیا دغه
بیت المقدس په یو لک او یا زره کښتو کې بیرته راوړي او دلته به الله ﷻ ټول اولین او آخرین جمع کړي
(الحدیث بطوله رواه القرطبي في تفسیره)

په بیان القرآن کې دی چې دوې واقعي د کومو ذکر چې په قرآن کې راغلی دی ، ددې څخه مراد د دوو
شریعتونو څخه مخالفت دی اول د حضرت موسی ﷺ د شریعت مخالفت او بیا د حضرت عیسی ﷺ د بعثت
څخه وروسته د شریعت عیسوی مخالفت دی ، دغه ډول په اولني مخالفت کې هغه ټول واقعات درج
کیدی سی چې لوړ بیان سوي دي ، د واقعاتو د تفصیل څخه وروسته د ذکر سوو آیتونو تفسیر وګورئ .

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات او مسئلي: د ذکر سوو واقعاتو خلاصه دا ده، چې دبني اسرائيلو متعلق الله ﷻ دا فيصله فرمايلې وه چې دوی ترڅو پورې د الله ﷻ اطاعت کوي، په دين او دنيا کې به با مراده او کامياب وي اوکله چې ددين څخه روي گرداني کوي، ذليل او خوار کيږي به او د کافرانو دښمنانو په لاسونو به پر دوی عذاب اچول کيږي او صرف دا نه ده چې دښمن به پر دوي غالب سي، د دوی جان او مال ته به نقصان ورسوي، بلکې د دوی سره به د دوی قبله چې بيت المقدس دی هغه هم ددښمن دحملې څخه محفوظ پاته نه سي، د دوی کافران دښمنان به بيت المقدس ته دننه ولاړ سي او بې حرمتي اوعزت لتهول به وکړي، دابه هم دبني اسرائيلو د سزا يو جزء وي، قرآن کريم د دوی دوي واقعي بيان کړي، اوله واقعه د شريعت موسويه د زماني ده، بله د شريعت عيسويه د زماني، په دې دواړو کې بني اسرائيلو دخپل وخت دشريعت الهيه څخه روگرداني وکړه او سرکښي يې اختيار کړه، نو په اوله واقعه کې يو مجوسي کافر بادشاه پر دوي او پر بيت المقدس مسلط سو او تباهي يې وکړه او په دوهمه واقعه کې يو رومي بادشاه پر دوی مسلط سو، چې دوی يې قتل او لوټ کړل او بيت المقدس يې ونړوی او وران يې کې، ددې سره دا هم ذکر سوي ده، چې په دواړه واره هرکله بني اسرائيل په خپلو بدو عملونو ستومانه او توبه گار سول نو بيا الله ﷻ د دوی مالک او ال اولاد بحال کړل.

ددې دواړو واقعو ذکر څخه وروسته په آخر کې الله ﷻ په دې معاملو کې خپله ضابطه بيان کړه، وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا: يعنې که تاسې بيا دنافرمانۍ او سرکښۍ طرف ته بيرته راغلاست نو مونږ به دغه شان سزا او عذاب درکوو، دا ضابطه تر قيامته پورې ارشاد سوي ده او ددې مخاطب هغه بني اسرائيل وه کوم چې د نبی کريم ﷺ په زمانه مبارکه کې موجود وه، په دې کې اشاره سوي ده چې لکه څنگه چې دشريعت موسويه په مخالفت سره او بيا دشريعت عيسويه په مخالفت سره تاسې خلق په سزا اوعذاب کې گرفتار سوی واست، اوس دريم دور دشريعت محمديه دی کوم چې تر قيامته پورې به چليږي، ددې په مخالفت کولو به هم دغه انجام وي، چنانچې هم داسې وسوه چې دې خلقو دشريعت محمديه او اسلام مخالفت وکې نو د مسلمانانو په لاسو جلا وطن او ذليل او خوار سول او آخر د دوی پر قبله بيت المقدس هم دمسلمانانو قبضه وسوه، فرق دا سو چې تيرو بادشاهانو دوي هم ذليل او خوار کړي وه او د دوی دقبلې بيت المقدس يې هم بې حرمتي کړې وه.

اوس چې مسلمانانو بيت المقدس فتح کې نو دبيت المقدس مسجد کوم چې دسوونو کالو را ايسې نړيدلی اوغير آباد پروت وو، دايې دنوي سره آباد کې او دانبياؤ عليهم السلام ددې قبلې احترام يې پرځای کې.

(دبني اسرائيلو واقعات دمسلمانانو دپاره عبرتونه دي موجوده واقعه دبيت المقدس ددی سلسلې يوه کړی ده)

د بني اسرائيلو دا واقعات په قرآنکريم دبيانولو او مسلمانانو ته د اورولو څخه په ظاهره مقصد دا دی چې مسلمانان هم ددې خدايي ضابطې څخه مستثنی نه دي، په دنيا او دين کې د دوی عزت او شوکت او مال او دولت د خدای ﷻ دفرمانبرداری سره تړل سوي دي، هرکله چې دوی دالله ﷻ او رسول ﷺ دطاعت څخه مخ واړوي نو دوی دښمنان او کافران پر دوی مسلط کول کيږي چې د دوی دلاسه به د دوی دعبادت خانو اوجماعتونو بې حرمتي هم کيدی سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

نن صبا چې کوم زړه دردونکی حادثه پر بیت المقدس دیهودو دقبضې او بیا دی ته د اور لګولو، چې ټول عالم اسلام یې پریشانه کړي دي ، حقیقت دا دی چې دا ددی قرآن ارشاد تصدیق کیږي ، مسلمانانو خدای او رسول هیر کړل ، د آخرت څخه غافله سول دنیا په شان او شوکت کی ولګیدل او دقرآن اوسنت د احکامو څخه بیګانه سول، نو هم دغه خدایی ضابطه مخته راغله چې پر کروړونو عربو باندی څو لکه یهودیان غالب سول د دوی ځانونو او مالونو ته یې هم نقصان ورسوی او دشریعت اسلامي له مخی ددنیا په دریو عظیم الشانه جماتونو کی یو چې د ټولو انبیاؤ علیهم السلام قبله پاته سوي ده هغه یې د دوی څخه واخیستی او یو داسی قوم غالب راغی کوم چې په دنیا کی دټولو څخه زیات ذلیل او خوار ګڼل کیدی ، یعنی یهود ، په دی سربیره دا لیدل کیږي چې دغه قوم نه په شمیر کی دمسلمانانو په مقابله کی څه حیثیت لري او نه دمسلمانانو د موجوده جنګي سامانونو په مقابله کی د دوی څه حیثیت سته ، ددی څخه دا هم معلومه سوه چې دا واقعه یهودو ته څه دعزت مقام نه ورکوي ، البته دمسلمانانو دپاره د دوی دسرکښی سزا ضرور ده چې ددی څخه صفا دا ښکاره کیږي چې دا څه وسوه ، زمونږ دبدو عملونو دسزا په طور وسوه او ددی علاج بغیر ددی څخه هیڅ نسته چې مونږ بیا په خپلو بدو عملونو باندی پښیمانه سو، رښتینی توبه وکاږو ، دالله ﷻ د احکامو پیروی شروع کړو رښتینی مسلمانان جوړ سو، دغیرو دنقالي او په غیرو د اعتماد د عظیمي ګناه څخه را وګرځو نو د الله ﷻ دوعدي مطابق به انشاء الله تعالی بیت المقدس او فلسطین بیا زمونږ په قبضه کی راسی ، مګر افسوس دا دی چې دنن صبا عرب حکمرانان او د هغه ځای عام مسلمانان تر اوسه هم په دی حقیقت پوه نه دي دوی اوس هم د غیرو پر امداد تکیه لګولی د بیت المقدس د واپسي پلان او نقشي جوړي چې په ښکاره یې هیڅ امکان په نظر نه راځي ، فالی الله المشتکی .

هغه وسله او سامان په کوم سره چې بیت المقدس او فلسطین بیا بیرته مسلمانانو ته ورکول کیږي صرف د الله ﷻ طرفته بیرته رجوع په آخرت یقین، دشریعت د احکامو تابعداري په خپل معاشرت اوسیاست کی په غیر د اعتماد او نقالي څه ځان ساتل او بیا په الله ﷻ بروسه کول خالص اسلامي او شرعي جهاد دی ، الله ﷻ دی زمونږ عربو حکمرانانو او نورو مسلمانانو ته ددی توفیق ورکړي، آمین ثم آمین

(یو عجیبه معامله)

الله ﷻ په دی مخکه دخپل عبادت دپاره دوه ځایونه دعبادت کوونکو قبلي جوړي کړي دي ، یو بیت المقدس دوهم بیت الله، مګر دقدرت قانون د دواړو دپاره جلا جلا دی ، دبیت الله حفاظت او دکفارو پردی غالب نه راتلل الله ﷻ خپله ذمه واري ګرځولی ده ، ددی نتیجه هغه واقعه دفیل ده کومه چې دقرآن کریم په سورة فیل کی ذکر سوي ده چې دیمن نصراني بادشاه پر بیت الله حمله وکړه نو الله ﷻ سره دفیلانو دغه فوج دبیت الله خواته د رسیدو څخه مخکی په مرغانو سره هلاک او برباد کړي .

لیکن دبیت المقدس متعلق دا قانون نه دی، بلکه ددی ذکر سوو آیتونو څخه معلومه سوه چې کله مسلمانان په ګمراهیو او ګناهونو کی اخته سي نو د سزا په طور د دوی څخه دا قبله هم واخیستل سی او کفار پردوی غالب راسی .

Maktaba Tul Ishaat.com

(كافران هم د الله ﷻ بندګان دي مګر مقبول نه دي)

په ذکر سوي اولني واقعه کی قرآن کريم دا ارشاد فرمايي، چی هرکله ديندار، خلق په فتنو او فسادونو کی اخته سي نو الله ﷻ په دوی خپل داسی بندګان مسلط کړی کوم چی د دوی کورونو ته دننه سی دوی قتل او لوټ کړی، دلته قرآنکريم لفظ د، عِبَادًا لَّنَا: فرمايلي دي عبادنا، يی نه دی ويلی، حال دا دی چی دا لنډ وو، حکمت په دی کی دا دی چی ديو بنده اضافت او نسبت دالله ﷻ طرف ته کيدل دده دپاره د ټولو ښخه لوی اعزاز دی، لکه چی ددی سورة په شروع کی د: اَسْرٰی بِعَبْدِهٖ لاندی دا ښوول سوي ده چی نبی کريم ﷺ ته کوم انتهايی اعزاز او نهايت نزديکت په شپه دمعراج کی نصيب سو، قرآنکريم ددی واقعي په بيان کی دنبی کريم ﷺ دنوم مبارک ياځه صفت بيانولو پرځای صرف، عَبْدِهٖ: ورويل او دا يی وښووله چی د انسان اخري کمال او انتهايي لوړ مقام دا دی چی الله ﷻ دي په خپل بنده ويلو ونمانځي په ذکر سوي آيت کی چی يی دکومو خلقو ښخه دبني اسرائيلو دسزا کار واخيستی دوي په خپله هم کافران وه په دی وجه الله ﷻ دوی ته د: عبانا: په لفظ سره دتعبيرکولو پرځای اضافت او نسبت مات کړو اوعبادلنايی وفرمايل چی په دی کی دی طرف ته اشاره ده چی په تکويني طورسره خوټول انسانان دالله ﷻ بندګان دي، مګر بغير د ايمان ښخه مقبول بندګان نه دي چی نسبت او اضافت يی الله ﷻ طرف ته وسی.

إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ

دا قرآن ښيي هغه لار کومه چی دټولو ښخه سيده ده او خوشخبری اوروی ايماندارو ته کوم چی نيک

الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا ﴿٩﴾ وَأَنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ أَعْتَدْنَا

عملونه کوي چی د دوی دپاره دی ثواب لوی، او دا چی کوم نه منی اخرت د دوی دپاره تيارکړی دی مونږ

لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٠﴾ وَيَدْعُ الْإِنْسَانُ بِالشَّرِّ دُعَاءَهُ بِالْخَيْرِ

عذاب دردناک ، او غواړی انسانان بدی لکه چی غواړی خير.

وَكَانَ الْإِنْسَانُ عَجُولًا ﴿١١﴾

او دی انسان تلوار کوونکی.

دآيتونو تړون: د سورة په شروع کی په معجزه دمعراج سره دنبي کريم ﷺ د رسالت بيان وو په دی آيتونو کی په معجزه د قرآن سره ددی اثبات دی.

لنډتفسير: بيشکه دا قرآن دداسی طريقي ښودنه کوي کومه چی بالکل سيده ده (يعنی اسلام) او (ددی طريقي دمنونکو اونه منونکو جزاء اوسزاء هم ښيی چی) هغه ايماندارو ته کوم چی نيک كارونه کوي دا خوشخبري ورکوي چی دوي ته به ډير لوي ثواب ورکول کيږي او دا هم ښيی چی کوم خلق په آخرت ايمان

Maktaba Tul Ishaat.com

نه لري مونږ د دوي دپاره يوه دردناکه سزا تياره کړي ده او (ځيني) انسانان (لکه کفار چې دي) بدي (يعني عذاب) داسې غواړي لکه څنګه چې دګټې (خير) دپاره غوښتل (کوي) او انسانان (طبعاً څه) تلوار کوونکي دي.

(معلومات او مسئلي .... اقومه لار)

قرآن چې دکومې لارې ښودنه کوي هغه ته اقوم ويل سوي ده، دا قوم تفسير دا دی چې هغه لار کومه چې منزل مقصود ته په رسولو کی نژدی هم وي، آسانه هم وي، دخطراتو څخه خالي هم وي (قرطبي) ددی څخه معلومه شوه چې قرآن د انساني ژوند دپاه چې کوم احکام ورکوي، په هغه کی دا دری سره صفتونه په جمع سره وي، که څه هم انسان دخپلي ناپوهي په وجه ځيني وخت دغه لاره ګرانه يا دخطرو څخه ډکه ګڼي ليکن رب العالمين چې دکائناتو د ذري ذري علم لري او تير او راتلونکي وخت هغه ته يو ډول دی هغه په دی حقيقت ښه پوه دی چې د انسان نفع په کوم کار او کوم صورت کی زياته ده او په خپله انسان چونکی د مجموعي حالاتو څخه خبر نه دی چې دی خپل ښه او بد هم په ښه شان سره نه سي پيژندی.

شايد په مناسبت سره يې د ذکر سوو آيتونو په آخري آيت کی دا ذکر فرمايلي دي چې انسان خو ځيني وخت په تلوارۍ سره دځان دپاره داسې دعا غواړي کومه چې دده دپاره دتباهي او بربادي سبب وي که الله ﷻ دده داسې دعا قبوله کړي نو دی به برباد سي، مګر الله ﷻ اکثره داسې دعاګاني فوراً نه قبلوي، تردی چې په خپله انسان پوه سي چې زما دا درخواست غلط او زما دپاره سخت مضر وو، او د آيت په اخري جمله کی يې د انسان يوه طبعي کمزوري په طور دضابطي هم ذکر کړه چې انسان په خپل طبيعت کی تلوار کوونکی واقع سوی دی، پر سرسري نفع يا نقصان نظر ساتي انجام ته نه ګوري، فوري راحت که ډير لږ هم وي خو په دائمي راحت ورته ترجيح ورکوي ددی تقرير خلاصه دا ده چې په دی آيت کی دعامو انسانانو د يوي طبعي کمزوري بيان دی.

او ځيني امامانو دا آيت ديوی خاصي واقعي متعلق مقرر کړی دی او هغه دا چې نضر بن حارث د اسلام په مخالفت کی يو وار دا دعا وکړه، اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ : يعني يا الله! که ستا په نزد دا اسلام حق وي نو پر مونږ د آسمان څخه کاني راواوروه يا څه دردناک عذاب راوليږه، په دی صورت کی د انسان څخه دا خاص انسان يا کوم چې دده هم طبع وي مراد به وي.

وَجَعَلْنَا الَّيْلَ وَالنَّهَارَ آيَتَيْنِ فَمَحَوْنَا آيَةَ الَّيْلِ وَجَعَلْنَا آيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً

او مونږ جوړ کړی دی شپه او ورځ دوی نمونی بيا ورانه کړه مونږ دشپې نمونه او جوړه کړه مونږ دورځی نمونه ليدونکی

لِتَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ وَكُلَّ شَيْءٍ

چې تلاش کړی فضل دخپل رب او چې معلوم کړی شمير دکلونو او حساب، او هر شی

Maktaba Tul Ishaat.com

فَصَّلْنٰهُ تَفْصِيْلًا ﴿١٢﴾ وَكُلَّ اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰهُ طٰٓئِرَهٗ فِيْ عُنُقِهٖ ؕ

مونږ بیان کړی دی په تفصیل سره ، او دهر یو انسان سره لګولی ده مونږ دده بدقسمتی دده دګردن سره ،

وَنُخْرِجُ لَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ كِتٰبًا يَّلْقٰىهُ مَنْشُوْرًا ﴿١٣﴾ اِقْرَاْ كِتٰبَكَ ؕ

او را وبه باسو دی لره دقیامت په ورځ یو کتاب چی وینی به یی ښکاره ، او وایه خپل کتاب

كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا ﴿١٤﴾ مَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا

ته پوره یی نن ورځ خپل حساب کوونکی ، څوک چی په لاری سو نوراغی

يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ؕ وَلَا تَزِرُ

لاری ته دخپلی فائدی دپاره ، او څوک چی بی لاری سو ، نو بی لاری سو دخپل نقصان دپاره ، او په هیڅانه

وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا ﴿١٥﴾

لوېږي بار دبل ، او مونږ نه ورکوو عذاب ، ترڅو چی ونه لیږو رسول.

تفسیر: مونږ شپي او ورځي (دخپل قدرت) دوې نخښې جوړې کړې نو دشپې نخښه (یعنی شپه) مونږ تره جوړه کړه او دروځي نخښې مونږ روښانه جوړه کړه (چی په دی کی هر شی بې تکلیفه ښکارې) ددی دپاره چی (د ورځې) دخپل رب رزق تلاش کړئ او (دشپې او ورځې په تلو راتلو او ددوارو په رنګ کی فرق چی یوه روښانه بله تیاره ده او د دوارو په مقدارونو کی په اختلاف سره) د کلونو شمیر او (نور کوچني کوچني) حساب معلوم کړئ (لکه چی د سورة یونس په اوله رکوع کی یی بیان سوی دی) او مونږ هر شی ښه په تفصیل سره بیان کړی دی (په لوح محفوظ کی خو د ټولو کائناتو مکمل تفصیل په قدر دضرورت دی ، په دی وجه دا بیان دوارو ته منسوب کیدی سی) او مونږ دهر (عمل کوونکي) انسان عمل (نیک وي او که بد) دده دغاړي هار جوړ کړی دی (یعنی د هر سړي عمل دده سره لازم او ملزوم دی) او (بیا) دقیامت په ورځ به دده عمل نامه دده (دلیدو) دپاره راوباسو مخامخ به یی کړو ورته چی دی به ښکاره ووینی (او ده ته به وویل سي چی واخله) خپله عمل نامه (په خپله) ووایه، نن ته په خپل دخپل حساب معلومولو دپاره کافي یی (یعنی ددی خبري ضرورت نسته چی ستا عملونه بل سړي شمار کړي، بلکي ته په خپله خپله عملنامه ووایه او خپل حساب کوه چی تاته څومره سزا او څومره جزا درکیدل په کار دي، مطلب دا دی چی که څه هم لاتراوسه عذاب مخ ته نه دی راغلی خو دغه بیرته ورکول کیدونکی نه دی یو وخت داسی راتلونکی دی چی انسان به خپل ټول عملونه په ښکاره سترګو ووینې او دعذاب حجت به باندی قائم سي او) کوم سړی چی په (دنیا کی پر سیده) لاره چلیږي هغه دخپلي نفعي دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

چليږي او کوم سړی چې بي لاري اختيار کړي نو دغه هم دخپل نقصان دپاره بي لاري کيږي (دغه وخت به
يې دی سزا پيدا کړي د بل هيڅا نقصان نه دی ځکه چې زمونږ قانون دا دی چې) بل هيڅوک سړی د (چا
دګنا) بار نه سي لوړولی (او چاته چې څه سزا ورکول کيږي هغه پرده دحجت تمام کولو څخه وروسته
ورکول کيږي ځکه چې زمونږ قانون دا دی چې) مونږ (هيڅکله) سزا نه ورکوو، ترڅو پوري چې يو رسول
(دده د هدايت دپاره) ونه ليږو

معلومات او مسئلي: په ذکر سوو آيتونو کی يی اول دشپي او ورځي اختلاف دالله ﷻ دکامل قدرت
نخښي مقرري کړي او بيا يی وفرمايل چې دشپي په تياره کولو او د ورځي په روښانه کولو کی
حکمتونه دي ، د شپي دتياري کولو حکمت خو دلته نه دی بيان سوی دغه په نورو آيتونو کی ذکر دی
چې دشپي تياره د خوب او ارام دپاره مناسب ده او قدرت داسی نظام جوړ کړی دی چې هر انسان او
حيوان ته دشپي په دی تياري کی خوب ورځي، ټول عالم په يو وخت په خوب کی وي ، که دمختلفو
خلقو خوب په مختلفو وختونو کی وای نو د ويښو خلقو د شور، زوږ او کار روزګار په وجه به د خوب
کوونکو خوب هم حرام سوی وای .

او دورځي د روښانه کولو دلته دوه حکمتونه بيان سوي دي ، اول دا چې د ورځي په رڼا کی بنده دخپل
رزق تلاش کولی سی ، دمحنت مزدوری، صنعت وغيره ټولو دپاره د رڼا ضرورت دی ، بل دا چې دشپي
ورځي په تلو راتلو سره د کلونو شمير معلوموولی سی ، چې په دری سوه شپيته ورځو پوره کيدو باندی
مثلاً کال پوره سو .

دغه شان نور ټول حسابونه هم د شپي ورځي په تلو راتلو پوري متعلق دي که دشپي ورځي دا اختلاف نه
وای نو د مزدور دمزدوری او د نوکر د نوکری ميعادونه متعين کول ټول به مشکل سی .

(دعلمنامي دغاړي هار کيدو مطلب)

دا دی چې انسان په هرځای په هرحال کی چې وي دده عملنامه دده سره وي ، دده عمل ليکل کيږي هرکله
چې دی مړ سی نوبنده يی کړي اوکښی سوول سی بيابه دقيامت په ورځ داعملنامه دهريو په لاس کی
ورکول کيږي چې په خپله يی ووايه او خپله فيصله په خپله دځان سره وکړه چې دثواب مستحق يا ست او
که دعذاب .

دحضرت قتاده ؓ څخه نقل دی چې په دغه ورځ به بي ويلو سړي هم خپله عملنامه ويلای سی ، په دی
موقع باندی اصبهاني په روايت دحضرت ابو امامه ؓ دا روايت نقل کړی دی چې نبی کريم ﷺ فرمايلي
دي چې دقيامت په ورځ به دځينو خلقو عملنانه هرکله چې د دوی په لاس کی ورکړل سی نو دی به ورپکښي
چې دده ځيني نيک عملونه په دی کی نه دي ليکل سوي نو عرض به وکړي چې زما پروردګاره ! په دی
کی زما فلاني فلاني عمل نه دي ليکل سوي نو د الله ﷻ دطرفه به جواب ورکړل سی چې مونږ هغه
عملونه ځکه خراب کړي دي چې تا به د خلقو غيبت کوي (مظهري)

(درسول ليږلو څخه بغير دعذاب نه کيدو تشريح)

ددی آيت پربناد ځينو فقهاؤ امامانو په نزد پر هغو خلقو به دکفر باوجود هيڅ عذاب نه وي کوم نه چې

Maktaba Tul Ishaat.com

دچا رسول اونبي دعوت نه وي رسيدلی او دځینو امامانو په نزد کومي اسلامي عقیدي چی په عقل سره پيژندل کیږي مثلاً دخدای وجود، دهغه یووالی وغیره، نو کوم خلق چی ددی څخه منکر وي دوي ته به پر کفرعذاب وي، که څه هم دوي ته دچا نبي او رسول دعوت نه وي رسیدلی، البته پر عامو ګناهونو به سزابغیر ددعوت اوتبلیغ دانبیاؤ څخه نه وي، او ځینو حضراتو دلته د رسول څخه مراد عام اخیستی دی خواه دہ که دغه رسول اونبي وي اوکه انساني عقل وي چی دغه هم په یو حیثیت سره دالله ﷻ رسول دی

(دمشرکانو پر اولاد به عذاب نه وي)

د آیت، لَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ اُخْرٰى : لاندی په تفسیر مظهري کی لیکلي دي چی ددی آیت څخه ثابتیږي چی دمشرکانو اوکفارو اولادکوم چی دبالغ کیدوڅخه مخکی مړه سی پر هغوي به عذاب نه وي ځکه چی د مور اوپلار په کفر سره د هغوي د سزا مستحق کیدی نه سی، په دی مسئله کی د فقهاؤ اقوال مختلف دي چی دلته یی دتفصیل ضرورت نسته.

وَاِذَآ اَرَدْنَآ اَنْ نُّهْلِكَ قَرْيَةً اَمَرْنَا مُتْرَفِيْهَا فَفَسَقُوْا فِيْهَا

اوکله چی مونږ وغواړوچی هلاك کړویو کلی حکم اولیږوپه دوی کی عیش کوونکوته بیادوی نافرمانی وکی په

فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنٰهَا تَدْمِيْرًا ﴿۱۶﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنَ

دی کی بیاثابته سی په دوی باندی خبره پس وباسو مونږ دوی په زیلو ایستلو سره، او ډیر هلاك کړی دی مونږ

الْقُرُوْنِ مِنْۢ بَعْدِ نُوْحٍ ؕ وَكَفٰى بِرَبِّكَ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ خَبِيْرًۢا

(خلق د) زمانی دنوح ﷺ وروسته، اوپوره دی ستا رب دخپلو بندګانو په ګناهونو پوهیدونکی

بَصِيْرًا ﴿۱۷﴾

اولیدونکی.

دآیتونو تړون: ددی څخه په مخکی آیتونو کی ددی بیان وو چی دالله ﷻ عادت دا دی چی ترڅو پوری یوقوم ته د انبیاء علیهم السلام په ذریعه د الله ﷻ هدایتونه نه وي رسیدلی او بیا هم دوي فرمانبرداري ونه کړي، تر دغه وخته پوری پر دوی عذاب نه رالیږي، په ذکر سوو آیتونو کی ددی دوهم اړخ بیان دی، چی هرکله یو قوم ته دالله ﷻ رسول او دهغه پیغام ورسیږي اوبیاهم دوی دسرکښی څخه کار واخلي نو پر دوي عام عذاب رالیږل کیږي.

لنډتفسیر: او هرکله چی مونږ یو کلی (کوم چی دخپل کفر اونافرماني په وجه سره په مقتضاء دحکمت الهی دهلاکولوقابل وي) هلاکول وغواړو نو (دوي د لیږلو درسول څخه مخکی نه هلاکوو بلکی اول دیو رسول په معرفت) ددغه (کلي) عیش کوونکو (یعنی امیرانو او رئیسانو) خلقو ته (خصوصاً او نورو

Maktaba Tul Ishaat.com

عوامو ته عموماً د ایمان او اطاعت) حکم ورکړو بیا (هرکله) چې دغه خلق (خبره ونه مني بلکې) هلته شرارت شروع کړي نو په دوی حجت تمام سی بیا دغه کلی تباه او برباد کې او (ددی عادت موافق) مونږ ډیر امتونه د نوح (ﷺ د زماني) څخه وروسته (د دوی دکفر اونافرماني په سبب) هلاک کړي دي (لکه عادیان ثمودیان وغیره او دنوح ﷺ دقوم غرقول او هلاکول خو مشهور او معلوم دي په دی وجه په، مِنْ بَعْدِ نُوحٍ: باندی یی بسوالی وکي، په خپله د قوم دنوح ذکر یی ونه کې او دا هم ویل کیدی سی، چې دسورة په شروع کی په آیت، ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ: کی په لفظ د: حَمَلْنَا سره دطوفان نوح طرف ته اشاره موجوده ده، دغه یی د نوح ﷺ دقوم دهلاکت بیان مقرر کړی دلته یی وروسته دنوح ﷺ څخه ذکروفرمایي) اوستارب دخپلو بند ګانو په ګناهونو کی پوهیدوکی لیدونکی کافي دی (نو چې څنګه د یو قوم ګناه وي دغسي سزا ورکوي)

معلومات او مسئلي: (یوه شبهه او دهغي جواب)

د آیت د لفاظو د، وَإِذَا أَرَدْنَا: او ددی څخه وروسته د امرنا دښکاره څخه دا شبهه کیده چې ددی خلقو هلاکول دالله ﷻ مقصود وو، په دی وجه دوی ته اول په ذریعه د انبیاؤ د ایمان او اطاعت حکم ورکړل بیا د دوی فسق او فجور د دوی دعذاب سبب جوړول دا ټول د الله ﷻ دطرف څخه وسوه نو په دی صورت کی دوی عاجزان او مجبوره سول، ددی دجواب طرف ته په ترجمه او دلنډ تفسیر په ضمن کی دا اشاره راغلی ده چې الله ﷻ انسان ته عقل او اختیار ورکړی او دعذاب او ثواب لاري یی ورته متعیني کړي، لکه چې څوک په خپل اختیار سره دعذاب دکار قصد وکړي، نو دالله ﷻ عادت دی چې هغه ددغه عذاب اسباب ورته تیاروي، نو اصل سبب دعذاب په خپله د دوی قصد او اراده ده دکفر او معصیت نه چې محض اراده په دی وجه دوي معذور نه سی کیدی.

(دذکر سوي آیت یو بل تفسیر)

دلفظ د أَمَرْنَا مشهور تفسیر دغه دی کوم چې لوړ بیان سوی دی یعنی حکم ورکی مونږ لیکن په دی آیت کی ددی لفظ قرائتونه مختلف دي، په یوه قرائت کی کوم چې ابو عثمان نهدي، ابو رجاء، ابوالعالیه، مجاهد اختیار کړی دی، دا لفظ په شد د میم راغلی دی، یعنی امّرنا: چې معنی یی دا ده چې مونږ امیران او حاکمان جوړکړل خوش عیشه سرمایه دار خلقو ته کوم چې په فسق او فجور کی اخته سی او دټول قوم دپاره دعذاب سبب جوړ سی.

او دحضرت علي ؓ او ابن عباس ؓ په یو قرائت کی دا لفظ امرنا ویل سوی دی چې تفسیر یې ددې حضراتو څخه أَكْثَرْنَا نقل سوی دی یعنی هر کله چې الله ﷻ په یو قوم باند عذاب لیږي نو ابتدائی نخښه یې دا وی چې په دی قوم خوش عیشه سرمایه دار خلق زیات کړی او دوی دخپل فسق او فجور په ذریعه ټول قوم په عذاب کی داخته کولو سبب جوړ سی.

په دی کی د اولني قرائت مطلب دا سو چې داسی خوش عیشه سرمایه دار دقوم حاکمان جوړ سی او د دوهم قرائت مطلب دا دی چې په قوم کی دداسی خلقو کثرت کړل سي، ددی دواړو څخه دا معلومه سوه چې د عیش پسندو خلقو حکومت یا دداسی خلقو په قوم کی کثرت څه دخوشحالي شي نه دی، دعذاب

الهی نخښبه ده ، حق تعالی چی کله دیوم ځخه خفه سی نو دوي په عذاب کی اخته کول غواړي ، ددی ابتدایي علامي دا وي چی ددی قوم حاکمان او رئیسان داسی خلق جوړ کړل سی کوم چی عیش پسند عیاشان وي یا په کی حاکمان ھم جوړ نه کړي خو داسی خلق په کی ډیر کړي د دوارو صورتونو نتیجه دا وي چی دا خلق په شهوتونو او خوندونو کی مست سی ، دالله ﷻ نافرماني په خپله هم کوي او نورو ته هم ددی لاري هواروي او آخر پر دوي د الله ﷻ عذاب راسی .

(د مالدارو پر قوم باندی اثر کیدل یو طبعي امر دی)

په آیت کی دخوش عیشه مالدارانو په خصوصیت سره ذکر کول دی طرف ته اشاره ده ، چی په فطري طور سره عوام دخپلو مالدارانو او حاکمانو داخلاقو ځخه متاثره کیږي هرکله چی دا خلق بدعمله سی نو ټول قوم بدعمله سی په دی وجه کوم خلقو ته چی الله ﷻ مال دولت ورکړی دی دوی ته ددی زیات فکر په کاردی چی دخپلو عملونو او اخلاقو اصلاح کوي هسي نه چی دوي په عیش پرستي کی راسی ، ددی ځخه غافله سی او ټول قوم د دوي په وجه په غلطه لاره روان سی ، نو دقوم دبدو عملونو وبال به هم پر دوي راسی .

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَآءُ

ځوک چی غواړي اولنی کور (دنیا) ژر ورکوو مونږ ده ته په دی کی ځومره چی غواړو

لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلٰىهَا مَذْمُوْمًا

چاته چی غواړو بیا مقرر کړی دی مونږ د دوی دپاره جهنم ، دا خل به سی دی ته خپله بدی اوریدونکی

مَّدْحُوْرًا ۝١٨ وَمَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ

ورډیکه سوی ، او چاته وغوښتی آخرت او کوشش یی وکی ددې دپاره خپل کوشش او دی

مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ۝١٩ كُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ

مؤمن وو نو ددا سی خلقو کوشش به په ځای ولګیږي ، هر یوه ته مونږ رسوو دوی ته

وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ؕ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُوْرًا ۝٢٠

او هغو ته ستا درب دبخشش ځخه ، او ستا د رب بخشش دچا ځخه بند نه دی ،

اُنْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ وَلَلْاٰخِرَةُ اَكْبَرُ

وګوره ځنګه غوره کړل مونږ ځینی په ځینو باندی او خامخا دآخرت په کور کی خو نوری لویی

دَرَجٰتٍ وَّاَكْبَرُ تَفْضِيْلًا ﴿۲۱﴾

درجي دي او لوی فضيلت يد .

لنډتفسير: کوم سړی چی (په خپل نيک عمل سره صرف) ددنيا (د نفع) نيت لري (برابره خبره که په دی وجه چی دی د آخرت څخه منکر دي يا په دی وجه چی د آخرت څخه غافله دي) مونږ داسی سړي ته په دنيا کی څومره چی وغواړو (بيا دا هم د ټولو دپاره نه بلکه) د چا دپاره چی وغواړو في الحال يي ورکوو (يعني په دنيا کی به ورته څه جزاء ورکړل سی) بيا (په آخرت کی به ورته خاوري ورکول سی بلکي هلته) به مونږ دده دپاره جهنم وټاکو ، دی به ورته بدحاله شړل سوی داخل سی او کوم سړی چی (په خپلو عملونو کی) د آخرت (دثواب) نيت لري او ددی دپاره څنګه کوشش چی په کار وي هغسی کوشش هم کوي (مطلب دا دی چی هر يو کوشش هم مفيد نه وي ، ځکه چی حکم دداسی کوشش ورکول سوی دی ، کوم عمل او کوشش چی د شريعت او سنت خلاف وي هغه مقبول نه دی) په دی شرط چی دغه سړی مومن هم وي نو دداسی خلقو دا کوشش به مقبول وي (غرض دا چی د الله ﷻ په نزد کاميابي شرطونه څلور سول ، اول صحيح نيت ، يعني چی نيت خالص د آخرت د ثواب وي ، نفساني غرض په کی شامل نه وي ، دوهم ددی نيت دپاره عمل او کوشش کول ، صرف په نيت او اراده سره کار نه کيږي ترڅو چی ددغه دپاره عمل ونه کړي ، دريم صحيح والی د عمل يعنی چی کوشش او عمل د سنت او شريعت مطابق وي ځکه چی د مقصد څخه خلاف طرف ته کوشش او منډي وهل پرځای د فائدي د مقصد څخه نور ليري کول کوي ، څلورم شرط کوم چی د ټولو څخه مهم او د ټولو مدار دی ، صحيح کيدل د عقيدي يعنی ايمان دی ، ددی شرطونو څخه بغير يو عمل هم دالله ﷻ په نزد مقبول نه دی او کفارو ته ددنيا نعمتونه حاصليدل د دوي د عملونو د مقبوليت نخښه نه ده ، ځکه چی ددنيا نعمتونه د مقبولينو دپاره مخصوص نه دی بلکي) ستا د رب په بخشش (په دنيا کی) څو مونږ د دوي (مقبولينو) هم امداد کوو او دهغو (غير مقبولينو) هم (امداد کوو) او ستا د رب بخشش (په دنيا کی په هيچا) بندنه دی ته وګوره چی مونږ (په دی دنيوي بخشش کی بغير د شرط د ايمان او کفر څخه) يو له په بل څنګه بنه والی ورکړی دی (تردی چی اکثره کافران د اکثرو مومنانو څخه زيات نعمت او دولت لري ځکه چی دا شيان د قدر قابل نه دي) او البته آخرت (کوم چی د مقبولينو د بارګاه سره خاص دی دغه) د درجو په اعتبار سره ډير لوي دی او د فضيلت په اعتبار سره هم (نو په دی وجه اهتمام ددغه کول په کار دي) .

معلومات او مسئلي : په ذکر سوو آيتونو کی په خپل عمر سره صرف ددنيا د اراده کوونکو او د دوی د سزا چی کوم بيان فرمايلي دي ، ددی دپاره خو يی الفاظ ، مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ : استعمال کړل کوم چی پر استمرار او دوام باندی دلالت کوي ، مطلب يی دا دی چی دا سزا د جهنم صرف په دی صورت کی ده چی دده په هر عمل کی هر وخت صرف ددنيا غرض غالب وي ، د آخرت طرف ته يی ګرسره فکر نه وي او د آخرت اراده کوونکی او دده په جزا بيانولو کی يی لفظ د ، اَرَادَ الْاٰخِرَةَ : استعمال کړی ، ددی مطلب دا

Maktaba Tul Ishaat.com

دي چې مومن څه وخت هم په څه عمل کې دآخرت اراده او نیت وکړي ، دده دغه عمل به مقبول سی برابره خبره ده که د یو بل عمل په نیت کې یې څه فساد هم شامل سوی وي .

اوله حال صرف دکافر دآخرت څخه دمنکرکیدی سی ، په دې وجه دده هیڅ عمل هم مقبول نه دی او دوهم حال دمومن دی ، دده هغه عمل کوم چې په خالص نیت سره د آخرت دپاره وي او باقي شرطونه هم موجود وي دغه به مقبول وي او دده هم چې په کوم عمل کې اخلاص نه وي یا نور شرطونه په کې نه وي موجود هغه به مقبول نه وي او څه فائده به ورنه کړي .

(دبدعت او ځان ښوولو عمل که هر څومره ښه ښکاري مقبول نه دی)

په دې آیت کې یې دسعي اوعمل سره دلفظ د: سَعْيَهَا زیات کړی دی او دا یې ښوولی ده چې هر عمل او کوشش نه مقید وي او نه د الله ﷻ په نزد مقبول وي ، بلکې هر عمل او سعي هغه معتبر وي کوم چې د آخرت دمقصد مناسب وي اومناسب کیدل یا نه مناسب کیدل یې دا صرف د الله ﷻ او دهغه د رسول ﷺ په بیان سره سره معلومیدی سی ، په دې وجه کوم نیک عملونه چې په ځاني ښوولو او د ځان څخه په جوړو طریقو سره کول کیږي چې په دې کې دبدعتونو عام رسمونه شامل دي، دغه په لیدو کې که هر څومره ښه او مفید په نظر راځي، مګر د آخرت دپاره مناسب سعی نه ده، په دې وجه نه دغه د الله ﷻ په نزد مقبول ده او نه په آخرت کې په کار راځي .

اوپه تفسیر روح المعاني کې د: سَعْيَهَا په تشریح کې سعي چې مناسب او مطابق د سنتو وي او ددې سره یې دا هم لیکلي دي چې په دې عمل کې استقامت هم وي یعني مفید عمل د سنتو مطابق هم وي او استقامت او همیشه والی هم باندې وي ، چې کله یې کوي کله نه، ددې پوره فائده نه وي .

لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَقْعُدَ

مه جوړوه دالله سره بل حاکم بیابه کښیني ته

مَذْمُوْمًا مَّخْذُوْلًا ﴿۲۲﴾ وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَ

الزام خوړل سوی بې یارو مددګار ، اوحکم کړی دی ستا رب چې عبادت مه کوی دهغه څخه ماسوا مګر دده

بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ؕ اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَآ اَوْ

او دمور او پلار سره ښه کوی ، که ورسیږي ستا په مخکې زوړوالی ته یو د دوی څخه

كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا

یا دواړه نو مه وایاست دوی ته اف قدر ، او مه یې ترټې او ووایه دوی ته خبره

Maktaba Tul Ishaat.com

كَرِيمًا ﴿٢٣﴾ وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ

دا دب ، او کښته کړه دوی ته اوږی دعاجزی په نیازمندی سره ووایه

رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا ﴿٢٤﴾ رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ

ای ربه! په دوی رحم وکړه لکه چی پاللی یم دوی زه کوچنی ، ستارب ته ښه معلوم دی څه چی ستاسی په زړونو کی

إِن تَكُونُوا صَالِحِينَ فَإِنَّهُ كَانَ لِلْأَوَّابِينَ غَفُورًا ﴿٢٥﴾

دی ، که تاسو نیك سوی نو هغه رجوع کوونکی بخښی

دآیتونو تړون: په تیرو آیتونو کی دعملونو دقبلیدو دپاره دځو شرطونو بیان راغلی دی چی په هغه کی یو شرط دا هم وو چی مقبول عمل هغه کیدی سی کوم چی د ایمان سره وي او دشریعت او سنتو مطابق وي په دی آیتونو کی دداسی خاصو خاصو عملونو هدایت سوی دی ، کوم چی دشریعت ښوول سوي احکام دی ، په دی عمل کول د آخرت فلاح او ددی خلاف ورزي کول د آخرت د هلاکت سبب دی او جونکه په ذکر سوو شرطونو کی د ټولو څخه مهم شرط د ایمان دی ، په دی وجه یی د ټولو څخه اولنی حکم هم دتوحید بیان کړی بیا دحقوق العباد متعلق احکام وي.

لنډتفسیر: (اولنی حکم دتوحید . لَا تَجْعَلْ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ: ای مخاطبه ! دالله ﷻ سره څوک بل معبود مه جوړ وه (یعنی شرک مه کوه) کنه نو ته به بدحاله بي یار او مددګار پاته سی (مخته بیا ددی تاکید دی) ستارب حکم کړی دی چی بغیرد ده (معبود برحق) څخه دبل چاعبادت مه کوی (داسعي دآخرت دلاري تفصیل دی) (دوهم حکم: د والدینو دحقونو اداء کول: . وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا: او تاسی دخپل مور او پلار سره ښه سلوک کوی که (هغوي) ستا په مخکی (وي او) په دوی کی یو یا دواړه (عمر د) زوروالی ته ورسیږي (چی ددی په وجه دوي خدمت ته محتاج سی ، اوهرکله چی طبعاً د دوی خدمت کول ګران معلومیږي) نو (دغه وخت یی هم دومره ادب کوه چی) دوي ته هیڅکله (دها څخه) هو هم مه وایه او مه دوي ترټه او د دوي سره ښه په ادب سره خبري کوه او د دوی په مخکی په شفقت او عاجزي سره کښته کیږه او (د دوی دپاره دالله ﷻ څخه) داسی دعا غواړه چی ای زما پروردګاره! پردوي دواړو باندی رحمت وفرمایه لکه چی دوي زه په (عمر د) کوچنی والی کی پاللی او پرورش کړی یم (او صرف پردی ښکاره عزت او تعظیم باندی بسوالی مه کوئ په زړه سره هم د دوی د اطاعت د ادب او تعظیم قصد ساتي ځکه چی) ستاسی رب ستاسي د زړونو خبره ښه پیژني (اوپه دی وجه ستاسی دپاره په دی تعمیل دحکم کی داساني پیداکولو دپاره دتخفیف حکم هم کوي چی) که تاسی (په حقیقت کی په زړه سره) سعادتمند یاست (او په غلطي یا تنګ مزاجي یا زړه تنګي سره څه ښکاره کوتاهي درڅخه وسی او بیا ستومانه سی معذرت وکړي) نو هغه دتوبه کوونکو خطامعاف کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

(معلومات او مسئلي) (د مور او پلار د ادب او احترام او اطاعت لوي اهميت)

امام قرطبي رحمه الله چي په دی آیت کی الله ﷻ دمور او پلار د ادب او احترام او د دوی سره ښه سلوک کول د خپل عبادت سره یو ځای واجب کړی دی ، لکه په سورة لقمان کی د والدینو شکر یو ځای لازم کړی دی فرمایی ، أَنِ اشْكُرْلِي وَلِوَالِدَيْكَ (یعنی زما شکر ادا کړه او دخپل مور او پلار هم) ددی څخه ثابتیږي چی د الله ﷻ دعبادت څخه وروسته دمور او پلار فرمان برداري دټولو څخه اهمه او د الله ﷻ دشکر په شان د والدینو شکر گذار کیدل واجب دی ، دصحیح بخاري یو حدیث هم دی شاهد دی ، په دی کی دی چی د نبی کریم ﷺ څخه یو سړي پوښتنه وکړه چی د الله ﷻ په نزد دټولو څخه زیات محبوب عمل څه دی ؟ دوی ارشاد وفرمایي چی لمونځ په خپل مستحب وخت کی اداکول ، هغه بیا پوښتنه وکړه چی ددی څخه وروسته کوم عمل زیات محبوب دی؟ نو دوي وفرمایل چی د مور او پلار سره ښه سلوک کول (قرطبي)

(دمور او پلار داطاعت او خدمت فضیلتونه دحدیث په روایتونو کي)

(۱) په مسند احمد رحمه الله ترمذی ، ابن ماجه مستدرك حاكم كی په صحیح سند سره دحضرت ابو دردآء رضی الله عنه څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، پلار دجنت دمینځ دروازه ده او س ستا اختیار دی چی حفاظت یی کوی او که ضائع کوی یې . (مظهری)

(۲) او په جامع ترمذی ، مستدرك حاکم کی دحضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی او حاکم دی روایت ته صحیح ویلی دی چی نبی کریم ﷺ فر مایلی دی چی د الله ﷻ رضا دپلار په رضا کی ده ، او د الله ﷻ ناراضگی دپلار په ناراضگی ده .

(۳) ابن ما جه په روایت دحضرت ابو امامه رضی الله عنه نقل کړی دی چی یو سړی دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی په اولاد دمور او پلار څه حق دی ؟ ده ﷺ وفرمایل چی ، دا دواړه ستا جنت یا دوږخ دی ، مطلب دا دی چی په اطاعت او خدمت کی یې جنت دی او په بی ادبی او ناراضگی کی یې دوږخ .

(۴) اوبیهقی په شعب الایمان کی او ابن عساکر په روایت دحضرت ابن عباس نقل کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی د الله ﷻ دپاره دخپل مور او پلار فرمانبردار سو ، دده دپاره دجنت دوې دروازی بیرته دی او کوم چی نا فرمانه سو دهغه دپاره به دجهنم دوې دروازی بیرته وی او که په مور او پلار کی یو وو نو دجنت یا دوږخ یوه دروازه به ورته بیرته وی ، نو په دی خبره یو سړی پوښتنه وکړه چی دا دجهنم دعذاب وعده به په هغه صورت کی هم وی چی مور او پلار په دغه سړی ظلم کړی وی نو ده ﷺ دری واره وفرمایل ، وَاِنْ ظَلَمَنَا وَاِنْ ظَلَمَنَا : وَاِنْ ظَلَمَنَا : یعنی دمور او پلار په نافرماني اودوی ته په ازار رسولو به دجهنم عذاب وی که څه هم مور او پلار په ده باندی ظلم کړی وی ، مطلب یې دا دی چی اولاد ته دمور او پلار دبدلی اخیستو حق نسته چی گوندی هغوی ظلم وکړی نو دی به هم دخدمت څخه لاس واخلی

(۵) بیهقی په روایت دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نقل کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم خدمت گذار زوی په خپل مور او پلار په رحمت او شفقت سره نظر اچوی ، نو دهر نظر په بدله کی دیو مقبول حج ثواب رسیږي خلقو عرض وکی چی که دي د ورځی سل (۱۰۰) واره دغه شان نظر کوی، ده ﷺ وفرمایل چی هو سل واره هم به په هرنظر دغه ثواب پیدا کیږي ، الله ﷻ لوی دی دده په خزانو کی هیڅ کمی نه راځی..

Maktaba Tul Ishaat.com

(دمور اوپلار په حق ضائع کولو سره سزا د آخرت څخه مخکي په دنيا کي هم ورکول کيږي)

(۲) بيهقي په شعب الايمان کی په روايت د ابي بکره ﷺ نقل کړی دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلي دي چی د نورو ټولو ګناهونو سزا خو الله ﷻ چاته چی وغواړي تر قيامت پی وروسته ورکوي ، بغير د مورا و پلار د حق تلفي او نافرماني څخه چی ددی سزا د آخرت څخه مخکی په دنيا کی هم ورکول کيږي ، دا ټول روايتونه د تفسير مظهري څخه نقل سوي دی .

(دمور اوپلار اطاعت په کومو شيانو کي واجب دی او کوم ځای دمخالفت گنجائش سته)

په دی دعالمانو فقهاؤ اتفاق دی چی دمور او پلار اطاعت صرف په جائز کارونو کی واجب دی ، د ناجائزو يا دګناه په کار کی اطاعت واجب خو څه کوي چی جائز هم نه دی ، په حديث کی دی ،لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِيْ مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ : (يعني دخالق په نافرماني کی دچا مخلوق اطاعت جائز نه دی)

(دمور اوپلار د اطاعت او ښه سلوک دپاره د دوی مسلمان والي ضرور نه دی)

امام قرطبي رحمه الله ددی مسئلي په شاهدي کی دحضرت اسماء ﷺ دا واقعه د صحيح بخاري څخه نقل کړی ده چی حضرت اسماء ﷺ دنبی کريم ﷺ څخه فتوی وغوښتله چی زما مور مشرکه ده ، زما سره دليدو دپاره راځي ، ايا ماته جائز دي چی زه ددی خاطر او عزت وکړم ، ده ﷺ ورته وفرمايل چی : صِلِیْ اُمَّکِ (يعني د خپل مور صله رحمي او خاطر او عزت کوه او د کافر مور او پلار په باره کی په خپله په قرآن کريم کی دا ارشاد موجود دی ، وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا: يعنی دچاچی مور اوپلار کافران وي اوده ته هم دکافر کيدو حکم کوي ، نو په دی معامله کی دوی ته د دوی دا حکم منل جائز نه دی ، مګر په دنيا کی به د دوی سره په معروفه طريقه سلوک کول کيږي ، ښکاره ده چی دمعروفی طريقي څخه دا مراد چی د دوی سره د خاطر او عزت معامله کوي .

مسئله : ترڅو پوری چی جهاد فرض عين نه وي دفرض کفايي په درجه کی، تر دغه وخته پوری ديو زوی دپاره دا جائز نه دي چی بغير د دوی د اجازي څخه په جهاد کی شريک سی ، په صحيح بخاري کی د حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چی يو سړی په جهاد کی د شريکيدو د اجازي اخيستو دپاره د نبی کريم ﷺ په خدمت کی حاضر سو ، دوی ﷺ پوښتنه ورڅخه وکړه چی آيا ستا مور او پلار ژوندي دي ؟ ده عرض وکي چی هوا ژوندي دي دوی ورته وفرمايل ، فَفِيْهِمَا فَجَاهِدْ : يعنی بس ته دمور اوپلار په خدمت کی اوسه جهاد کوه ، مطلب دا دی چی د دوی په خدمت کی به تاته دجهاد کولو ثواب درکول کيږي ، په نورو زوايتونو کی ددی سره دا هم ذکر دی چی بيا سړي وويل چی ما خپل مور او پلار په ژړا پريښول راغلم ، په دی باندی دوی وفرمايل چی ولاړ سه هغوي وخندوه لکه چی دی ژړولي دي ، (يعنی لاړ سه دوی ته ووايه چی زه ستاسی د رضا خلاف جهاد ته نه ځم) (قرطبی)

مسئله : ددی روايت څخه معلومه سوه چی کله يوشی فرض عين يا واجب علی العين نه وي کفايه وي نو داولاد دپاره دغه کاربغير دمور او پلار داجازي څخه جائزنه دی په دی کی دمکمل علم دين حاصلولو اودين دتبليغ دپاره دسفرکولو حکم هم شامل دی چی په قدر دفرض علم دين چاته حاصل وي هغه دعالم جوړيدو د پاره ياخلقوته دتبليغ اودعوت دپاره سفرکوي نوبغير داجازي دمور او پلار څخه جائزنه دی چی، ولاړسی .

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: د مور او پلار سره چې کوم دښه سلوک حکم په قرآن او حديث کې راغلي دي، په دې کې دا هم دا خل دي چې د کومو خلقو سره د مور او پلار خپلولي يا دوستي وه، د دوی سره هم به دښه سلوک معامله کوي خاص کر د دوی د وفات څخه وروسته.

په صحيح بخاري کې په روايت دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ ذکر دی، چې نبی کريم ﷺ فرمايلي دي چې د پلار سره لوی سلوک دا دی چې دده د مرګ وروسته دده د دوستانو سره ښه سلوک کوي او حضرت ابو اسيد بدري ﷺ نقل کړی دی چې زه دنبی کريم ﷺ سره ناست وم يو انصاري سړی راغی او سوال يې وکړ يا رسول الله د مور او پلار د مرګ څخه وروسته هم د دوی څه حق زما پر ذمه باقي دی ؟ دوی ﷺ وفرمايل چې هو! د دوی دپاره دعا او استغفار کول او کومه وعده چې دوی دچا سره کړې وه دهغه پوره کول او د دوی د دوستانو عزت او احترام کول او د دوی داسې قريبانو سره د صله رحمي سلوک کول د کومو د خپلولۍ رشته چې صرف د دوی په واسطه وي، د مور او پلار دا حقونه دي کوم چې د دوی څخه وروسته هم ستاسې پر ذمه باقي دي.

دنبي کريم ﷺ عادت وو چې دحضرت خديجي ﷺ ام المؤمنين دوفات څخه وروسته به يې د دې همزولو ته هديې ليږلې چې په دې سره يې دحضرت خديجي ﷺ حق ادا کول مقصود وو.

(دمور او پلار د ادب رعايت خصوصاً په بوډاوالي کې)

دمور او پلار خدمت کول او حکم يې منل دمور او پلار په حيثيت سره دڅه زماني او څه عمر سره قيد نه دی په هر حال او هرعمر کې د مور او پلار سره ښه سلوک واجب دی، ليکن د واجباتو او فرائضو په ادا کولو کې چې کوم حالات عادتاً خنډان جوړيږي، په دې حالاتو کې دقرآن کريم عام اسلوب دا دي چې په احکامو دعمل آسانه ولو دپاره په مختلفو ارخونو سره دذهنونو تربيت هم کوي او په داسې حالاتو کې په احکام باندې عمل کولو دپابندي زيات تاکيد هم.

دوالدينو د زوړوالي زمانه کله چې دوی د اولاد دخدمت محتاجه سي د دوی ژوند د اولاد په رحم او کرم باندې سي، دغه وخت د اولاد دطرف څخه لږ څه بې مخي هم ويني نو د دوی زړه زخمي کوي، بل طرف ته په زوړوالي کې انسان په فطرتي طور سره په نه څه خفه کيدونکې سي، دريم د زوړوالي په آخري دور کې کله چې عقل او پوه ختمه سي نو خواهشات او مطالبات يې داسې جوړسي چې پوره کول يې د اولاد دپاره مشکل وي، قرآن کريم په دې حالاتو کې دمور او پلار د زړه ساتلو او دوی ته د راحت رسولو احکامو ورکولو سره انسان ته دده د کوچنی والي زمانه وريادوکړه چې يو وخت ته هم دې خپل مور او پلار ته ددې څخه زيات محتاجه وې خومره چې دوی نن تاته محتاجه دي نو لکه څنګه چې دوی خپل راحت او خواهشات هغه وخت پر تا قربان کړل او ستا دبې عقلی خبرې يې په مينه سره برداشت کړې اوس چې کله پر دوی دمحتاجي دا وخت راغی نو دعقل او شرافت تقاضاده چې د دوی ددې تير احسان بدله ورکړل سي، په آيت، كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا : کې دې طرف ته اشاره ده او په ذکر سوو آيتونو کې دمور او پلار زوړوالي ته درسيدو په حالت کې يو څو تاکيدي احکام ورکړي دي.

اول دا چې دوی ته، اُف: قدر هم مه وايا ست، دلفظ د اف څخه مراد هره داسې کلمه ده چې په کومې سره

دخپل خفگان اظهارکوي تردې چې ددوی په خبره اوريدو داسی اوږده ساه وا خلي ناخوښي باندې ښکاره کړي دغه هم د اف په دی کلمه کی دا خله ده ، په يو حديث کی په روايت د حضرت علي ﷺ د نبی کريم ﷺ ارشاد دی چې په ازار رسولو کی کی د اف ويلو څخه هم کومه څه درجه وي نو يقيناً چې هغه به يې هم ذکرکړي وای (مطلب دادی چې په کوم شي سره مور او پلار ته دکم څخه کم ازار رسيږي هغه هم منع دي) دوهم حکم دی ، وَلَا تَنْهَرْهُمَا : دلفظ د: نهر معنی دترټلو ده چې سبب يې ازارول ښکاره دی ، دريم حکم ، وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا : دی اولنی دوه حکمونه دمنفی اړخ سره تعلق لري چې په دی کی يې مور او پلار ته د ادنی قدری ازار رسولو څخه منع کړي ده ، دا دريم حکم په مثبت انداز سره دمور او پلارسره دخبرو کولو ادب ښيي چې د دوی سره په محبت اوشفقت او نرمه لهجه کی خبري کوی ، حضرت سعيد بن مسيب ﷺ فرمايي داسی لکه څنگه چې يو غلام دخپل سخت مزاجه مالک سره خبري کوي .

څلورم حکم ، وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ :ددی مطلب دا دی چې د دوی په مخکی خپل ځان د عاجز او ذليل سړي په صورت کی پيش کوئ ، لکه غلام چې دمالک په مخکی پيش کيږي ، دجناح معنی بازو دی ، لفظي معنی يې دا ده چې مور او پلار ته خپلي اوږي په عاجزي او په ذلت سره کښته ساتی او په آخر کی يې د ، مِنَ الرَّحْمَةِ : په لفظ سره يو خو يې په دی سره خبرداری ورکړه چې دمور او پلارسره دا معامله محض دځان ښوولو دپاره نه وي بلکي د زړه د رحمت او عزت په بنياد سره وي ، دوهم شايد چې اشاره دی طرف ته هم وي چې دمور او پلار په مخکی په ذلت سره مخ ته راتلل دحقيقي پيش خيمه ده ، څکه چې دا واقعي ذلت نه دی ، بلکي ددی سبب شفقت او رحمت دی .

پنځم حکم ، وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا : دی ، ددی مطلب دا دی چې مور او پلار ته پوره راحت رسول خو د انسان دوس خبره نه ده ، دخپل وس مطابق دوی ته د راحت رسولو سره د دوی دپاره د الله ﷻ څخه دعا هم کوي چی الله ﷻ په خپل رحمت سره د دوی ټول مشکلات اسان او تکليفونه ليري کړي ، دا آخري حکم دومره وسيع او عام دی چې دمور او پلار دوفات څخه وروسته هم جاري دی چې ددی په ذريعه دی هميشه د مور او پلار خدمت کول کيږي .

مسئله: مور او پلار که مسلمانان وي نو ددوی دپاره د رحمت دعا خو ښکاره ده ، ليکن که مسلمانان نه وي نو چې دوی ژوندی وي نو دادعا ورته په دی نيت سره جائز وي چې دوی ددنيوي تکليف څخه په امن سی او د ايمان توفيق ورته وسی ، دمرگ څخه وروسته د دوی دپاره دعا د رحمت جائز نه ده (قرطبي ملخصاً)

(يو عجيبه واقعه)

قرطبی په خپل اسناد متصل سره دحضرت جابر بن عبد الله څخه روايت کړی دی چې يو سړی دنبی کريم ﷺ په خدمت کی حاضر سو اوشکايت يې وکړ چې زما پلار زما مال زما څخه اخيستی دی ، ده ﷺ ورته وفرمايل چې خپل پلار را ولـه ، دغه وخت جبرائيـل امين ﷺ تشريف را وړی اونبی کريم ﷺ ته يې وفرمايل چې کله دده پلار راسی نو ته پوښتنه ورڅخه وکړه چې هغه کومي کلمي دي چې تاپه زړه کی ويلي دي او په خپله ستا غوږونه دي اوريدلی ، هرکله چې دغه سړی خپل پلار راوستی نو د ﷺ ورته ورويل چې څه خبره ده چې ستا زوی ستا څخه شکايت کوي ايا ته غواړې چې دده مال دده څخه واخلي

پلار يې عرض وکي چې ته دده څخه دا پوښتنه وکړه چې زه دده دعمه ګانو يا خپل نفس څخه ما سوا کوم خای خرځ کوم ، نبی کريم ﷺ وفرمايل چې : اېه (چې مطلب دا وو چې بس حقيقت معلوم سو اوس دنورو خبرو اوريدو ضرورت نسته) ددی څخه وروسته دده دپلار څخه يې پوښتنه وکړه چې هغه کومې کلمې تا ويلې دي چې لا تر اوسه ستا غوږونو هم نه دي اوريدلي دي سری عرض وکي چې يا رسول الله په هره معامله کی الله ﷻ زمونږ په تا باندی ايمان او يقين زياتوي (کومه خبره چې چا اوريدلی نه وي تا ته دهغه خبروسو چې دا يوه معجزه ده) بيا ده عرض وکي چې دا يو حقيقت دی چې ما يو څو اشعار په زړه کی ويلي وه کوم چې زما غوږونو هم نه دي اوريدلي ده ﷺ ورته وفرمايل چې هغه مونږ ته وو ايه ، دغه وخت هغه دا لاندی اشعار واورول .

غَذَوْتُکَ مَوْلُوْدًا وَعُلْتُکَ يَافِعًا — تُعَلُّ بِمَا اَجْنِیْ عَلَيْکَ وَتَنْهَلُ

ما تاته په کوچنی والی کی خوارک درکي او دځوانيدو څخه وروسته مې هم ستا ذمه واري پورته کړه ، ستا ټول خوراک او څښاک زما د ګټې څخه وو .

اِذَا لَيْلَةٌ ضَافَتْکَ بِالسُّقْمِ لَمْ اَبِتْ — لِسُقْمِکَ اِلَّا سَاهِرًا اَتَمَلْمَلُ

هر کله چې به يوه شپه تاته ناجوړي راغله نوما به توله شپه ستادناجوړی په وجه بيداره اوبي قراره تيره کړه .

کَاَنِّیْ اَنَا الْمَطْرُوْقُ دُوْنَکَ بِالَّذِیْ — طُرِقْتَ بِهٖ دُوْنِیْ فَعَيْنِیْ تَهْمَلُ

ګويا چې ستا ناجوړي ماته لګيدلی ده ، تاته نه ده دکومی په وجه چې به ما توله شپه ژړل .

تَخَافُ الرَّدٰی نَفْسِیْ عَلَيْکَ وَاِنَّهَا — لَتَعْلَمُ اَنَّ الْمَوْتَ وَقْتٌ مُؤَجَّلُ

زما زړه ستا په هلاکت وبيرږدی حال دا دی چې زه پوهيدم چې دمرګ يوه ورځ مقرر ده ، مخته او وروسته کيدی نه سی .

فَلَمَّا بَلَغْتَ السِّنَّ وَالْغَايَةَ الَّتِیْ — اِلَيْهَا مُدٰی مَا کُنْتُ فِيْکَ اُؤَمِّلُ

بيا چې هر کله ته دی عمر او دی حد ته ورسيدی د کوم چې ما اميد کوي .

جَعَلْتَ جَزَائِیْ غِلْظَةً وَفَظَاظَةً — کَاَنَّکَ اَنْتَ الْمُنْعِمُ الْمُتَفَضِّلُ

نو تا زما بدله سختی او سخت کلامی جوړه کړه لکه چې ګويا ته پر ما احسان او انعام کوي .

فَلَيْتَکَ اِذْ لَمْ تَرْعَ حَقَّ اُبُوَّتِیْ — فَعَلْتَ کَمَا الْجَارُ الْمُصَاقِبُ يَفْعَلُ

کاشکی ، که تا زما دپلار ولۍ حق نه سو ادا کولی نو کم از کم داسی خو به دی کړی وو لکه يو شريف همسايه چې کوی .

فَاَوْلَيْتَنِیْ حَقَّ الْجِوَارِ وَلَمْ تَکُنْ — عَلَیَّ بِمَالٍ دُوْنَ مَالِکَ تَبْخَلُ

نو کم څخه کم ماته خو به دی دګاونډي حق راکولو او په خپله زما په مال کی خو به دی زما په حق کی د بخل څخه کار نه اخيستی .

نبی کريم ﷺ ددی اشعارو د اوريدو څخه وروسته د زوی ګريوان ونيوی او ورته يې وويل ، اَنْتَ وَمَالُکَ لِاَبِيْکَ : يعنی څه ! ته او ستا مال ستا دپلار ياست (تفسير قرطبی ص ۲۴۲ ج ۲)

دا اشعار دعربی ادب په مشهور کتاب حماسه کی هم نقل دي مګر دا يې اميه ابن ابی الصلت شاعر ته

Maktaba Tul Ishaat.com

منسوب کړي دي او ځيني وايي چي دا دعبد الاعلی اشعار دي ، ځينو ددی نسبت ابو العباس اعمی ته کړی دی (قرطبي حاشيه)

دذکر سوو آيتونو په آخري آيت ، رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ : کی يې دغه د زړه تنګي ليری کړه کومه چي دمور اوپلار د ادب اوتعظيم متعلق په ذکر سوو احکامو کی د اولاد په زړه کی پيدا کيدی سی ، چي دمور اوپلار سره هر وخت اوسيدل وي ، د دوی اوخپل حالات هم هر وخت يو ډول نه وي ، کله کله د ژبی څخه داسی څه کلمه ووزي چي هغه ددی ذکر سوو ادابو څخه خلاف وي نو په دی خو دجهنم دعذاب وعده ده ، دغه ډول خو دګناه څخه محفوظ کيدل سخت مشکل دی په دی آيت کی يې دا شبهه او دا د زړه تنګي ليری کړه ، چي بغير د ارادي که چيري هم د بي ادبي څه کلمه د خلي څخه ووزي او بيا توبه وکاږي نو الله ﷻ د زړونو په حال خبر دی چي دغه کلمه دبي ادبي يا ازار دپاره نه وه ، هغه معاف کوونکی دی ، لفظ د اوابين په معنی د: توابين دی ، په حديث کی وروسته دماښام څخه شپږ رکعته اود اشراق نفلو ته ، صلوة الاوابين ويل سوي دي ، په دی کی اشاره ده چي ددی لمونځونو توفيق هغه خلقو ته نصيب کيږي کوم چي اوابين او توابين دي .

وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيْرًا ۝۲۶

او ورکوی خپلوانو ته حق د دوی او محتاج ته او مسافر ته اومه الوزوی بی ځايه

اِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ كَانُوْٓا اِخْوَانَ الشَّيٰطِيْنِ ؕ وَكَانَ الشَّيْطٰنُ

بيشکه بی ځايه الوزونکی ورونو دی دشيطانانو او دی شيطان

لِرَبِّهٖ كَفُوْرًا ۝۲۷

دخپل رب ناشکره

تفسير : (په دی دواړو آيتونو کی دحقوق العباد متعلق دوه نور زيات حکمونه دي اول دمور اوپلار څخه علاوه دنورو رشته دارانو او دعامو مسلمانانو حقونه ، دوهم په خرڅ کولو کی دفضول خرڅي ممانعت ، لنډ تفسير دا دی) او خپلوانو ته د دوی حق (مالي او غير مالي) ورکوي اومحتاجو اومسافرو ته هم (د دوی حقونه) ورکوی او (مال) بی موقعي مه الوزوي ، بيشکه بي موقعي مال الوزونکي دشيطانانو ورونه دي (يعنی د دوی په شان دي) او شيطان دخپل پروردګار لوی ناشکره دی (چی الله ﷻ ده ته دعقل دولت ورکړی ده دغه دعقل دولت دالله ﷻ په نافرمانی کی خرڅ کي ، دغه ډول فضول خرڅي کوونکو ته الله ﷻ مال دولت ورکړی ، مګر دوی يې دالله ﷻ په نافرماني کی خرڅ کوی)

(معلومات او مسئلي . (دعامو قريبانو دحقونو اهتمام)

(په تيرو آيتونو کی دوالدينو دحقونو او د دوی د ادب او احترام بيان وو ، په دی آيت کی دعامو قريبانو

د حقونو بيان دی چې د هر قرابت ادا سی کوم چې د کوم شخه کوم د دوی سره ښه ژوند تيرول او ښه سلوک کول دي او که دوی حاجتمند وي نو مالي امداد يې هم د خپل وس مطابق په دی کی دا خل دی ، ددی آيت شخه دومره خبره خو ثابته سوه چې پر هر سړي دده د عامو قريبانو او خپلوانو هم حق دی ، هغه څه او څومره دی ؟ ددی تفصيل نه دی ذکر مگر د عامي صله رحمي او ښه سلوک کول په دی کی داخليدل ښکاره دی ، د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په نزد ددی فرمان لاندی چې کوم قريب ذی رحم محرم وي که دغه ښه يا بچی وي چې د خپلي گذاري سامان ورسره نه وي او په گټلو باندی هم قدرت نه لري ، دغه ډول کوم قريب ذی رحم محرم چې شل گډ روند وی او دده سره دومره مال نه وي چې دده گذاره باندی سی ، نو کوم قريبان چې يې د وس خاوندان وي پر دوی ددی ټولو نفقه فرض ده ، که په يوه درجه کی ډير قريبان دوس خاوندان وي نو پر دی ټولو به د دوی نفقه تقسيميږي او ورکوي به يې ، دسورة بقره دآيت ، وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَٰلِكَ : شخه دا حکم هم ثابت دی (مظهری)

په دی آيت کی يې د خپلوانو او مسکينانو او مسافرو مالي مدد کول او صله رحمی کول يې د دوی حق وفرمايي او دی طرف ته يې اشاره وکړه چې د ورکوونکي پر دوی د څه احسان اچولو هيڅ موقع نسته ځکه چې د دوی دا حق د دوی په ذمه فرض دی ، دا ورکوونکی خپل فرض ادا کي ، پر چا احسان نه کوي

(دتبذير يعني فضول خرڅي ممانعت)

دفضول خرڅي معنی قرآنکريم په دوو لفظونو سره تعبير کړي ده ، يو تبذير بل اسراف ، دتبذير منع په دی ذکر سوي آيت کی واضحه ده ، د اسراف منع په آيت ، وَلَا تُسْرِفُوا : سره ثابته ده، ځينی حضرات فرمايي چې دواړه لفظونه هم معنی دي ، په يو گناه يا بي موقع بي ځايه کولو ته تبذير او اسراف ويل کيږي او ځينی حضراتو دا تفصيل بيان کړی دی چې په گناه کی يا بالکل بي موقع او بی ځايه خرڅ ته تبذير وايي او کوم ځای چې د خرڅ کولو جائز موقع خو وي مگر دضرورت شخه زيات خرڅ وکړي ، دی ته اسراف وايي ، په دی وجه تبذير په نسبت د اسراف زيات سخت دی، مبذرينو ته يې دشيطان ورونه ويلي دي .

دتفسير امام حضرت مجاهد رحمه الله فرمايي چې که څوک خپل ټول مال دحق دپاره خرڅ کړي نو دغه تبذير نه دی او که يو مُدْ (نيم سير) هم د باطل دپاره خرڅ کړي نو دغه تبذير دی ، حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې دحق شخه بغير بی موقعی خرڅ کول تبذير دی (مظهری)

حضرت امام مالک رحمه الله فرمايي چې تبذير دا دی چې انسان مال خو دحق مطابق حاصل کړي ، مگر دحق شخه خلاف يې خرڅ کړي او ددی نوم اسراف هم دی او دا حرام دی (قرطبی)

امام قرطبي رحمه الله فرمايي چې په حرام اوناجائز کار کی خو يو درهم خرڅ کول هم تبذير دی او په جائزو او مباحو خواهشاتو کی دحد شخه زيات خرڅ کول چې آئنده د محتاج او فقير کيدو خطره پيدا سی ، دا هم په تبذير کی دا خل دی البته که يو سړی اصل راس المال محفوظ ساتي، د هغه نفع په خپلو جائزو خواهشاتو کی په فراخی سره خرڅ کوي نو دغه په تبذير کی نه دی داخل (قرطبی ، ج ۱۰ ص ۲۴۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَاءَ رَحْمَةٍ مِّنْ رَّبِّكَ

او که کله خان بی پرواه کوی د دوی څخه په انتظار کی دخپل رب دمهربانی

تَرْجُوهَا فَقُل لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُورًا ﴿٢٨﴾

دکوم چی ستا امید وی نو وایه دوی ته خبره دنرمی.

لنډتفسیر: په دی آیت کی دحقوق العباد سره متعلق پنځم حکم دا ورکول سوی دی چی که څه وخت حاجتمندو ته د دوی دضرورت مطابق د ورکولو انتظام نه سی کولای نو دغه وخت هم دوی ته وچ جواب ورکول نه دي په کار په همدردي سره دی ورته د آئنده دپاره امید ورکړل سی د آیت لنډ تفسیر دا دی.

اوکه چیري (یو وخت ستاسی سره دغو خلقو ته د ورکولو دپاره مال نه وي او په دی وجه) تاسی دغه رزق په انتظار کی دکوم چی دخپل پروردګار څخه امید وي (ترهغه پوری) د دوی څخه منع کول غواړي (نو دومره خیال ساتی چی) د دوی سره په نرمی خبره کوي (یعنی په دلجویی سره د دوی سره وعده کوي چی انشاء الله تعالی که دکوم ځای څخه مال راکول سو نو در به یی کړم دل آزاره جواب دی نه ورکوي.

معلومات او مسئلي: په دی آیت کی نبی کریم ﷺ او د دوی په واسطه سره ټول اُمّت ته عجیبه اخلاقی تربیت دی چی که څه وخت ضرورتمند خلق سوال وکړي او ستاسی سره د ورکولو دپاره څه نه وي، په دی وجه ددغو خلقو څخه په مخ اړولو مجبوره یاست نو ستاسی دا اعراض دی د استغنا او دمخاطب دسپکولو په شکل کی نه وي بلکه دا اعراض دی دخپلي عاجزي اومجبوري د اظهار سره وي.

ددی آیت په شان نزول کی دابن زید روایت دادی چی ځینی خلقو به دنبی کریم ﷺ څخه دمال سوال کوي او ده ﷺ ته معلومه وه چی که دوی ته ورکړل سی نو په فساد کی به یی خرڅ کړي په دی وجه ده ﷺ هغوی ته د ورکولو څخه انکارکوی چی دا انکار ددوی دفساد څخه دمنع کولو ذریعه ده، په دی باندی دا آیت نازل سو (قرطبی)

په مسند سعید بن منصور کی په روایت د سبا بن حکم ذکر دی چی نبی کریم ﷺ ته څه کپړه راغلی وه دوی دغه په مستحقینو کی تقسیم کړه ددی څخه وروسته څه نور خلق را غلل او ده ﷺ دتقسیم څخه فارغ سوی وو، کپړه ختمه وه نو ددی په باره کی دا آیت نازل سو.

وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ﴿٢٩﴾

اومه ایږده خپل لاس نه بند په خټ پوری اومه یی خلاصوه په بالکل خلاصیدو سره بیا به ته کښینی ملامته ستومانه

إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهُ كَانَ بِعِبَادِهِ

ستا رب فراخوی رزق دچادپاره چی وغواړی اوتنګوی هغه دی په خپلو بندګانو

Maktaba Tul Ishaat.com

خَبِيْرًا بَصِيْرًا ﴿۳۰﴾

خبردار لیدونکی.

تفسیر: او مه خپل لاسونه دخټ سره تړلی ساته (چی په انتهایی بخل سره بالکل لاسونه دخرڅ کولو څخه بند کړي) او نه يې بالکل خلاصیدل په کار دي (چی تر ضرورت زیات خرڅ وکړي اسراف وسی) کنه نو الزام خوړلی (او) تش لاس به پاته سی (او دیوسري په حاجتمندي او فقر دومره پرڅان اثر کول چی ځان په پریشاني کی واچوي څه دعقل خبره خو نه ده ځکه چی) ستا رب بیشکه چاته چی غواړي زیات رزق ورکوي اوهغه (په چا چی غواړي) تنګي راولي بیشکه هغه دخپلو بندګانو (حالت او د دوی مصلحت) ښه پیژني او ويني (دټول عالم حاجتونه پوره کول خو درب العالمین کار دی ، ته په دی فکر کی ولي راځي چی که په وسه دي وي او که نه وي خو ځان په مصیبت کی اچوي د ټولو حاجتونه پوره کوي، دا صورت په دی وجه بي کاره دی چی ددی هرڅه کولو څخه وروسته هم دټولو حاجتونه پوره کول ستا دوس خبره نه ده ، ددی مطلب دا نه دی چی څوك دی دچا څه غم نه کوی او تدبیر دی ورله نه کوی ، بلکه مطلب دا دی چی دټولو حاجتونه پوره کول دیو انسان دوس خبره نه ده برابره خبره که دی پر ځان هر څومره مصیبت برداشت کولو ته تیار هم وي ، دا کار خو صرف د مالک کائنات کار دی چی دټولو حاجتونه ورته معلوم هم دي او دټولو په مصلحتونو هم خبر دی چی کوم وخت چاته څه حاجت په څومره مقدار کی پوره کول په کار دی ، په دی وجه د انسان کار خو صرف دومره دی چی دمیانه روی څخه کار واخلي ، نه دخرڅ په موقع کی بخل کوي او نه دومره خرڅ وکړي چی صبا په خپله فقیر سی او د اهل او عیال کوم حقونه چی دده پر ذمه دی د هغوي حقونه ادا نه سی او بیا وروسته ستومانه وي)

(معلومات او مسئلي . (په خرڅ کولو کي دميانه روی هدايت)

په دی آیت کی بلا واسطه مخاطب نبی کریم ﷺ دی او دده ﷺ په واسطه سره ټول امت مخاطب دی او مقصود داقتصاد داسی تعلیم دی کوم چی دنورو په امداد کی حائل هم نه وي اوپه خپله دخپل ځان دپاره هم مصیبت جوړ نه سی ، ددی آیت په شان نزول کی ابن مردویه په روایت دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ اوبغوي په روایت دحضرت جابر ﷺ یوه واقعه نقل کړي ده چی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی یو هلک حاضر سو اوعرض یی وکي چی زمامور ستاڅخه یو قمیص غواړي، دغه وخت دنبی کریم ﷺ سره بغیر د اغوستی قمیص څخه بل نه وو ، ده ﷺ هلک ته وویل چی بیا بل وخت راسه ، کله چی زما سره څه پیداسی او ستا د مور حاجت پوره سی ، هلک کورته ولاړی ، او بیرته راغی او ویل چی زمامور وایی چی ستا پر بدن مبارک کوم قمیص دی ، دغه راکړه ، نبی کریم ﷺ دبدن مبارك څخه قمیص ویستی او ده ته یی حواله کي او په خپله بربند بدن پاته سو چی دلمانځه وخت سو نو حضرت بلال اذان وکي ، مګر ده ﷺ دعادت مطابق دباندی تشریف را نه وړی نو د خلقو سره فکر سو، ځینی خلق دننه ولاړل چی وي لیدی نو دی ﷺ بربند ناست دی، په دی باندی دا آیت نازل سو.

(دالله ﷻ په لاره کي دومره خرڅ کول چي په خپله پريشانه سي ددي درجه)

ددی آیت څخه په ښکاره دداسی خرڅ کولو ممانعت معلومیږي دکوم څخه وروسته چی په خپله فقیر او محتاج سی او په پریشانی کی راسی ، دتفسیر امام قرطبی فرمایی چی دا حکم دمسلمانانو دعام حالت د پاره دی کوم چی دخرڅ کولو څخه وروسته په تکلیفونو او پریشانیو کی اخته سی په تیرحالت پسی افسوس کوي ، دقرآن کریم په لفظ ، مسحوراً کی دی طرف ته اشاره ده، لکه چی مظهري داسی ویلي دي ، او د کومو خلقو حوصله چی دومره لوړه وي چی د وروسته پریشانی څخه نه بیریږي او داهل حقونو حقونه هم اداکولی سی ، د دوی دپاره دا پابندي نسته ، دا وجه ده چی دنبی کریم ﷺ عام عادت دا وو چی دصبا دپاره به یی څه ذخیره نه کوله ، هرڅه چی به نن راغلل نن به یی خرڅ کول او ډیر کله به ورته لوږه هم پیښه سوه په نس پوری ددبرو ترلو نوبت به هم راتلی ، او په صحابو کرامو ﷺ کی هم ډیر داسی حضرات دی کومو چی دنبی کریم ﷺ په عهد مبارک کی خپل ټول مال دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کي، نبی کریم ﷺ نه دوی منع کړل او نه یی دوی ملامت کړل ، ددی څخه معلومه سوه چی ددی آیت ممانعت دهغو خلقو دپاره دی کوم چی دلوږي او نهري تکلیف نه سی برداشت کولی او دخرڅ کولو څخه وروسته دوی ته افسوس وي چی کاشکي مونږ خرڅ نه وای کړی ، دا صورت به د دوی تیر عمل فاسد کړي په دی وجه یی منع وفرمایله .

(په خرڅ کي بدنظمي ممنوع ده)

او اصل خبره دا ده چی دی آیت په بدنظمی سره خرڅ کول منع کړي دي چی د راتلونکو حالاتو خیال کوي ، څه چی ورسره وي ، هم دغه وخت یی خرڅ کوي صبا چی نور حاجتمند راسی یا بل څه دیني ضرورت پیښ سی نو بیا یی دهغه دپاره قدرت نه وي (قرطبی) یا اهل او اعیال دکومو خرڅ چی دده پر ذمه واجب وي د هغوي دحق اداکولو څخه عاجزه سی (مظهری)

د ، مَلُوۡمًا مَّحۡسُوۡرًا : د الفاظو متعلق په تفسیر مظهري کی دي ، چی دمَلُوۡم تعلق د اول حالت یعنی بخل سره دی چی که لاسونه په بخل سره بالکل بند کړي نو خلق به یی ملامت کوي ، او دمحسوراً تعلق ډیر بل حالت سره دی چی که په خرڅ کولو کی دومره زیاتوب وکړي چی په خپله فقیر سی نو دی به محسور یعنی عاجزه بی کاره او افسوس او حسرت کوونکی پاته سی .

وَلَا تَقۡتُلُوۡۤا اَوۡلَادَكُمۡ خَشۡيَةَ اِمۡلَاقٍ ؕ نَحۡنُ

او دغریب کیدو دبیری څخه خپل اولاد مه قتلوی ، مونږ

نَرۡزُقُهُمۡ وَاِيَّاكُمۡ ؕ اِنَّ قَتۡلَهُمۡ كَانَ خِطۡاً كَبِيۡرًا ﴿۳۱﴾

رزق ورکوو دوی ته او تاسی ته بیشکه د دوی قتلول لوی گناه ده

لنډتفسیر: او دغریب کیدو دبیري څخه خپل اولاد مه قتلوی (ځکه چی دټولو رزق ورکوونکی مونږ یو)

Maktaba Tul Ishaat.com

مونږ دوی ته هم رزق ورکوو او تاسی ته هم (که رزق ورکوونکی تاسی واست نو بیا به مو داسی فکر کولی) بیشکه د دوی قتلول ډیره لویه ګناه ده.

معلومات او مسئلې: په تیرو آیتونو کی د انسانی حقوقو متعلق دهدایتونو یوه سلسله ده دا شپږم حکم د جاهلیت دخلقو دیو ظالمانه عادت د اصلاح دپاره دی، په جاهلیت کی به ځینو خلقو دپیداکیدو په وخت خپل اولاد خاصکر لونړی په دی بیره سره قتلولی چی د دوی دخرڅ بار به پر مونږ لویږی، په ذکر سوي آیت کی الله ﷻ د دوی جهالت واضح کړی دی چی رزق ورکوونکی خو تاسی نه یاست، دا خو خالص دالله ﷻ په قبضه کی دی تاسی ته خو هم هغه رزق درکوي، نو ځوک چی تاسی ته رزق درکوي، هغه یی دوی ته هم ورکولای سی تاسی ولی په دی فکر سره د دوی دقتل مجرمان جوړیږي بلکی دلته الله ﷻ په رزق ورکولو کی داولاد ذکر مخته کړي او دی طرف ته یی اشاره وفرمایله چی مونږ اول دوی ته بیا تاسی ته رزق درکوو، ددی مطلب په اصل کی دا دی چی الله ﷻ کوم بنده وینی چی دی دخپل اهل او عیال کفالت یا دنورو غریبانو ضعیفانو امداد کوي نو ده ته یی په دی حساب سره ورکوي چی ددی خپل ضرورتونه هم پوره کړل سی او د نورو امداد هم وسی، په یو حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی، اِنَّمَا تُنْصَرُوْنَ وَتُرْزَقُوْنَ بِضُعَفَائِكُمْ: یعنی ستاسی دضعیفی او کمزوري طبقی په وجه سره دالله ﷻ دطرف ځخه ستاسی امداد کیږي او تاسی ته رزق درکول کیږي، ددی ځخه معلومه سوه چی د اهل او عیال کفالت کوونکو مور او پلار ته چی ځه ورکول کیږي دغه دکمزورو ښځو او بچیانو په خاطر ورکول کیږي.

مسئله: دقرآن کریم په دی ارشاد سره پردی معامله هم رڼا لویږي په کومه کی چی نن دنیا ګرفتاره ده چی د آبادی دډیر والی دبیري ځخه ضبط تولید او منصوبه بندي ته رواج ورکوي، ددی بنیاد هم پر دغه جاهلانه فلسفه باندی دی چی د رزق ذمه وار خپل ځانونه ګڼل کیږي دا معامله که دقتل اولاد برابر ګناه که نه سی مګر په بدوالی کی یی هیڅ شک نسته.

وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰۤى اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً ؕ وَسَآءَ سَبِيْلًا ﴿۳۲﴾

او مه نژدی کیږي بدکاری ته چی دا بی حیایی ده، اونا کاره لار ده

لنډتفسیر: او زنا ته مه نژدي کیږي (یعنی ددی مقدمو او دکومو خبرو ځخه چی ددی لاري هوار یږي دهغو ځخه ځان ساتی) بیشکه دغه (په خپله هم) لویه دبی حیایی خبره ده او (دنورو فسادونو په اعتبار سره هم) ناکاره لار ده (ځکه چی په دی سره ددښمنی فتنی را پورته کیږي او نسبونه باندی ضائع کیږي)

معلومات او مسئلې: دا اووم (۷) حکم د زنا دحراموالی متعلق دی چی ددی دحراموالی دوي وجهی یی بیان کړي دي اول دا چی دغه بی حیایی ده او په انسان کی حیانه پاته کوي نو ددی کوونکی د انسانیت ځخه محروم سی، بیادده دپاره ښه او بد فرق پاته نه سی، ددی معنی دپاره په حدیث کی ارشاد دی، اِذَا فَاتَكَ الْحَيَاءُ فَافْعَلْ مَاشِئْتَ: یعنی هرکله چی ستا ځخه حیا ولاړه نو دځه بدی ځخه دبندیز هیڅ پرده پاته نه

Maktaba Tul Ishaat.com

سره نو چې څه غواړي کوي به ، او په دې وجه نبی کریم ﷺ حیاء دایمان یو مهم جزء مقرر کړی دی ، وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِّنَ الْاِيْمَانِ (بخاري)

دوهم وجه معاشرتی فساد دی کوم چې د زنا په وجه سره دومره خپرېږي چې حد یې نه وي او ددې بد نتیجې کله کله پوره قبیلې او قومونه برباد وي فتنې ، غلاګانې ، ډاکې ، قتلونه چې څومره په لویه پیمانه سره نن صبا په دنیا کې زیاتیږي ، ددې دحالاتو تحقیق چې وسی نو دنیمي څخه د زیاتو واقعاتو سبب یو ښځه یا سړي وخپلې کوم چې ددې قبیح کار مرتکب سوي وی ، ددې جرم تعلق که څه هم بلاواسطه دحقوق العباد سر نه دی ، مګر دلته دحقوق العباد سره دتعلق لرونکو احکامو په ضمن کې ددې ذکر کول شاید چې پردې بنا باندې وي چې دا جرم د ډیرو داسې جرمونو سبب جوړیږي ، په کومو سره چې حقوق العباد متاثره کیږي او دقتلونو او لوټ مارهنګامی راپورته کیږي ، په دې وجه اسلام دا جرم دټولو جرمونو څخه سخت ګرځولی دی ، ددې سزا یې هم دټولو جرمونو دسزاګانو څخه سخته ایښې ده ، ځکه چې دا یو جرم نور په سوونو جرمونو دځان سره راپورته کوي .

په حدیث کې دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې اووه آسمانونه او اووه مځکې د واده سوو زناکارو پر زناباندې لعنت وي او په جهنم کې به دداسې خلقو دشرم ګاهونو څخه داسې سخته بدبویي راوزي چې دوږخیان به هم ددې څخه پریشانه وي او د اور دعذاب سره به د دوی رسوایي په جهنم کې وي (رواه البزار عن بريدة ﷺ (مظهري) .

په یوبل حدیث کې دحضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې زنا کوونکی د زنا کولو په وخت کې مومن نه پاته کیږي ، غلا کوونکی دغلا کولو په وخت کې مومن نه پاته کیږي او شراب چښونکی دشرابو چښلو په وخت کې مومن نه پاته کیږي ، دا حدیث په بخاري او مسلم کې دی ، ددې شرح د ابو داود په روایت کې دا ده چې ددې جرمونو کوونکي څه وخت چې په دې جرمونو کې اخته وي نو ایمان د دوی د زړونو څخه دباندې ووزي او چې کله دوی ددې ګناهونو څخه فارغه سی نو ایمان ورته راسی (مظهری)

وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُوْمًا فَقَدْ جَعَلْنَا

او مه قتلوی هغه نفس کوم چې منع کړی دی الله مګر په حقه سره او څوک چې قتل سو په ظلم سره نو ورکړی دی مونږ

لِوَلِيِّهٖ سُلْطٰنًا فَلَا يُسْرِفْ فِّي الْقَتْلِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ مَنْصُوْرًا ۝۳۳

دده وارث ته طاقت پس دحد څخه دې نه وزي په قتل کولو کې ، بیشکه دده ته مدد ورکول کیږي

تفسیر: او دکوم سړي (قتل کول) چې الله ﷻ حرام کړی دی مه قتلوی مګر په حقه سره (یې قتل کول جائز دي یعنی هرکله چې په شرعی حکم سره یې قتلول واجب یا جائز سی نو دغه په حرم الله کې داخل نه دي) او کوم سړی چې په ناحقه قتل سی نو مونږ دده وارث (حقیقي یا حکمي) ته اختیار ورکړی دی (دقصاص اخیستو) نو ده ته دقتل په باره کې دحد (شرعی) څخه تجاوز نه دي کول په کار (یعنی چې په

Maktaba Tul Ishaat.com

قاتل دقتل يقيني ثبوت نه وي ورکول سوی نه دي قتلوي او دده خپلوان او دوستان وغيره کوم چی په قتل کی شريک نه دي ، محض د انتقام په جوش سره نه قتلوي ، او قاتل دي هم صرف قتل کړي ، پزه، غوږ يا لاس وغيره دي نه ورځخه پريکوي اومثله کوي دي نه ځکه چی دغه سری (په قصاص کی دحد څخه دتجاوز نه کولو په صورت کی خو شرعاً) دالله ﷻ دمدد قابل دی (اوکه دی زياتوب وکي نو بيا به دوهم فريق مظلوم سی ، د الله ﷻ دمدد مستحق به سی ، په دی وجه دمقتول ولی ته په کار دي چی دی دخپل منصور کيدو دحق قدر وکړي ، دحد څخه په تجاوز کولو دي دا حق نه ضائع کوي)

معلومات او مسئلي: دا اتم حکم دناحق قتل دحرام والی په بيان کی دی چی ددی عظيم جرم والی ددنيا په ټول مخلوق جماعتونو او مذهبونو کی منل سوی دی .

په حديث کی نبی کريم ﷺ ارشاد فرمايی چی دټولی دنيا تباهی دالله ﷻ په نزد ددی څخه سپکه ده چی يو مومن په ناحقه قتل سی او په ځينی روايتوو کی ددی سره دا هم دی چی که دالله ﷻ د اوو آسمانونو او اوو مځکو اوسيدونکی ديو مومن په ناحق قتل کړي شريک سی نو دا ټول به الله ﷻ جهنم ته داخل کړي (ابن ماجه په صحيح سند سره، والبيهقی، از مظهری)

اوپه حديث کی دنبی کريم ﷺ ارشاد دی چی کوم سړی ديو مسلمان په قتل کی دقاتل امداد په يوه کلمه سره هم وکړي نوپه ميدان دحشر کی کله چی دغه دالله ﷻ په مخکی پيش سی دده په تندي به ليکلي وي (آئِسٌ مِّنْ رَّحْمَةِ الله (يعنی دا سړی د الله ﷻ درحمت څخه مايوسه سوی دی (مظهري از ابن ماجه واصبهانی)

اوبيهقي په روايت دحضرت عبدالله ابن عباس ؓ اوحضرت معاويه ؓ روايت کړی دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دي چی هره يوه ګناه اميد دی چی الله ﷻ معاف کړي ، مګر هغه سړی چی حالت دکفر کی مړ سی يا يی قصداً څوک مسلمان په ناحقه قتل کي .

(دناحق قتل تفسير)

امام بخاري او مسلم دحضرت عبدالله ابن مسعود ؓ څخه روايت کړی دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دي چی ديو مسلمان خون حلال نه دی ، کوم چی دالله ﷻ د يووالی او زما درسالت شاهدي ادا کوي بغير د درو صورتونو څخه ، يو دا چی ده سره ددی چی واده کړي وي او زنا وکړي (دده شرعي سزا دا ده چی په ډبرو به يی ولی او مړ يی کړي) دوهم هغه څوك چی يو انسان يي په ناحق قتل کړی وي (دده سزا دا ده چی دمقتول ولي دي په قصاص کی قتل کولی سی) دريم هغه سړی کوم چی د اسلام ددين څخه مرتد سوی وي (دده سزا هم قتل دی)

(دقصاص اخيستو حق چاته دی ؟)

په ذکر سوي آيت کی ښوول سوي ده چی دا حق دمقتول د ولی دی ، که نسبی ولی يی موجود نه وي نو د اسلامی حکومت سربرا ته دا حق حاصل وي چی دی هم په يو حيثيت سره دټولو مسلمانانو ولی دی ، په دی وجه په لنډ تفسير کی ولی حقيقی يا حکمی ليکل سوی دی .

(دظلم جواب نه دی انصاف دی دمجرم په سزا کي هم د انصاف رعايت)

فَلَا يُسْرِفْ فِّي الْقَتْلِ : د اسلامی قانون يو خاص هدايت دی چی مطلب يی دا دی چی دظلم بدله په ظلم

Maktaba Tul Ishaat.com

سره اخیستل جائز نه دی ، په بدله کی هم دانصاف رعایت لازمي دی ، ترکومه پوری چی دمقتول ولی په انصاف سره دخپل قتل سوی بدل په شرعی قصاص باندی اخیستل غواړي نو دشریعت قانون دده په حق کی دی دی منصورحق دی ، الله ﷻ دده مدد گار دی او که ده په جوش دانتقام کی دشرعي قصاص څخه تجاوز وکي ، نواوس دی دمظلوم پرځای ظالم سو اوظالم دده مظلوم جوړسو اوس به معامله برعکس سی، الله ﷻ او دده قانون اوس دده دمدد کولو پرځای دبل فریق مددکوي چی دظلم څخه یی وساتی .
دعربو په جاهلیت کی داخبره عامه چی یو سړی به قتل سو نو دده په بدله کی به دقاتل دخاندان یاملګرو څخه چی به څوک په لاس ورغی هغه به یی قتل کوي په ځینو ځایو کی به صورت داسی وو چی څوک به قتل سوی وو هغه به دقوم لوی سړی وو نودده په بدله کی به دیو قاتل قتل کول کافی نه سوګڼل کیدی بلکه ددغه یوه په بدله کی دوه یادري یاددی څخه زیات قتل کیدل ،ځینی خلقو به دانتقام په جوش کی دقاتل صرف په قتلولو صبر نه کوی بلکي پزه غوږ وغیره به ورڅخه پریکړل او مثله به یی کړل داټول شیان د اسلامی قصاص دحد څخه زیات اوحرام دي په دی وجه په آیت فَلَا يُسْرِف فِّي الْقَتْلِ کی یی ددي رد وکي .

(د یاد ساتلو یوه قصه)

دځینو مجتهدینو اماماو په مخکی یو سړی پر حجاج بن یوسف باندی څه الزام ولګوی چی حجاج بن یوسف داسلامي تاریخ څخه لوی ظالم او بدنام سړی دی چا چي په زرګونو صحابه او تابعین په ناحقه قتل کړي دي په دی وجه په عام طور سره دده بدو ویلو بدوالی دخلقو په ذهن که نه وي ، دکوم بزرگ په مخکی چی دا الزام پر حجاج بن یوسف باندی ولګول سو ، دوی د الزام لګوونکي څخه پوښتنه وکړه چی ستا سره ددی الزام څه سند یا شهادت سته ؟ هغه وویل چی نه ، نو دوی وفرمایل ، چی که الله ﷻ دحجاج بن یوسف ظالم څخه د زرګونو قتل سوو بی ګناهو بدله اخلی نو یاد ساته چی کوم سړی پر حجاج څه ظلم کوي ، دی به هم دبدل اخیستو څخه پاته نه سی ، دحجاج بدله به الله ﷻ دده څخه هم اخلي ، دالله ﷻ په عدالت کی څه طرفداري نسته چی بدو او ګناهکارو ته نور ازاد پریږدي او دوی چی څه غواړي هغه الزامونه او تهمتونه پر لګوي دی .

وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ

او دیتیم مال ته مه نژدی کیږي ، مګر هغه شان چی غوره وی ترڅو پوری چی دوی ورسیږي

أَشُدَّهُ ۚ وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ ۖ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا ﴿٣٤﴾ وَأَوْفُوا

خپلی ځوانی ته او پوره کوئ عهد ، بیشکه چی دعهد به پوښتنه کیږي ، اوپوره

الْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ

پیمانه کوئ ، هرکله چی پیمانه کوی اوتول کوئ په تله سیده برابری سره ، دا غوره او به

Maktaba Tul Ishaat.com

وَّأَحۡسَنُ تَأۡوِیلًا ۝٣٥

دی انجام ددې

تفسير: او دیتیم مال ته مه نژدې کیږئ (یعني تصرف مه په کښې کوئ) مګر په داسې طریقه سره کومه چې (شرعاً) ښه وي، تردې چې دوی خپل سن د بلوغ ته ورسیږي او وعده (جائزه) پوره کوئ بېشکه د وعدې په د قیامت په ورځ پوښتنه کیدی سی (په عهد کې هغه ټول عهدونه هم داخل دي کوم چې بنده د خپل الله ﷻ سره کړی دی او هغه هم کوم چې یې د یو انسان سره کړي وي) او (د ناپ شیان) کله چې ناپ کوئ نو پوره یې ناپ کوئ او (د تول شیان) په برابره تله سره تول کوئ دا (فی نفسه هم) ښه خبره ده او انجام هم ددی ښه دی (په آخرت کی خو ثواب او په دنیا کی د نیکنامی شهرت کوم چې د تجارت د ترقی ذریعه ده)

معلومات او مسئلې: په دې دوارو ایتونو کی دری حکمونه نهم، لسم او یوولسم د مالی حقونو متعلق ذکر دي، په تیرو آیتونو کی د بدنی او جسمانی حقونو ذکر وو، دا مالی حقونو بیان دی.

(د یتیمانو په مال کې احتیاط)

په دوی کی په اولنی آیت کی نهم حکم د یتیمانو د مالونو متعلق د حفاظت او په دی کی د احتیاط کولو دي چې په دی کی یې ډیر په تاکید سره دا خبره فرمایلي ده چې د یتیمانو مال ته نژدې کیږي هم مه، یعنی په دی کی د شریعت څخه خلاف یا د بچیانو د مصلحت څخه خلاف چې هیڅ قسم تصرف ونه سی، د یتیم د مال حفاظت او انتظام چې د چا پرذمه دی، پردوی لازه ده چې په دی کی ډیر زیات احتیاط کوي، صرف د یتیمانو مصلحت دی ګوري او خرڅ کوي دي یې، په خپل خواهش یا بې فکري سره دې یې نه خرڅ کوي او دا سلسله دی تر هغه پوری جاري وي ترڅو چې یتیمان بچي خوانان سی، د خپل مال حفاظت په خپله کولی سی، ددی ادنی درجه د پنځلسو کالو عمر ته رسیدل او د زیات څخه زیات تر اتلسو کالو پوری دی.

په ناجائزه طریقه د هیچا مال هم خرڅ کول جائز نه دی، دلته د یتیمانو په خصوصیت سره ذکر څکه وسو چې دوی په خپله د څه حساب کولو قابل نه وي او بل چا ته خو ددې څه معلومات نه کیږي کوم ځای چې یو انسان د خپل حق مطالبه کونکی نه وي هلته د حق تعالی مطالبه سخته سی په دی کی کوتاهی د عامو خلکو د حقونو په نسبت زیاته ګناه سی.

(د وعدو د پوره کولو او په دی د عمل کولو حکم)

لسم حکم د وعدو د پوره کولو تاکید دی، وعده پر دوه قسمه ده، یوه هغه کومه چې د بنده او د الله ﷻ په مینځ کی ده، لکه په ازل کی د بنده دا وعده چې بیشکه الله ﷻ زما رب دی، ددی وعده لازمی اثر ده د احکامو اطاعت او دده رضا لټول دي، دا وعده خو هر انسان په ازل کی کړی ده برابره خبره که په دنیا کی دی مومن وي او که کافر، دوهمه وعده د مومن ده کومه چې د لاَ الٰهَ الاّ اللّٰهُ د شاهدي په ذریعه کړی ده چې ددی مطلب او خلاصه د الله ﷻ د حکمونو مکلمه تابعداري او دده رضا لټول دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دوهم قسم وعده هغه ده کومه چې يو انسان ديو بل انسان سره کوي چې په دې کې تولي وعدې سياسي ، تجارتي او معاملاتي شاملې دي کومې چې د افرادو يا جماعتونو په مينځ کې په دنيا کې کيږي .
د اول قسم تولو وعدو پوره کول په انسان واجب دي او په دوهم قسم کې چې کومې وعدې دشريعت څخه خلاف نه وي ، د دوی پوره کول واجب او کومې چې دشريعت خلاف وي ، ددغو دوهم فريق ته اطلاع ورکول او ختمول يې واجب دي ، دکومې وعدې پوره کول چې واجب دي او کوم فريق چې دغه پوره نه کړل نوبل ته حق سته چې عدالت ته رجوع وکړي او په پوره کولو يې مجبوره کړي ، د وعدې حقيقت دا دی چې د دوو فريقو په مينځ کې ديو کار پر کولو يا نه کولو وعده وسي او کوم سړی چې ديوه طرفه وعده کوي چې زه به تاته فلاني شی درکړم يا به زه ستا سره په فلاني وخت ملاويږم يا به ستا فلاني کار کوم ، ددی پوره کول هم واجب دي او ځينو حضراتو دا هم دوعدې په دې معنی کې داخله کړې ده ، ليکن دفريقينو د وعدې په صورت کې که يو فريق د بل فريق سره څه خلاف ورزي وکړي نو بل فريق دي دعدالت په ذريعه د وعدې پر پوره کولو مجبوره کړل سي ، مګر يو طرفه وعده دعدالت په ذريعه باندې نه سي پوره کولای ، البته بغير دشرعي عذرڅخه که چاڅپله وعده پوره نه کړه نو شرعاً په ګناهکار وي ، په حديث شريف کې يې دې ته عملي نفاق ويلی دی .
ددې آيت په آخر کې ارشادفرمايي ، إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا : يعني په قيامت کې به چې څنګه دنورو فرضو او واجباتو اوداللهﷻ داحکامو دپوره کولويانه پوره کولو سوال وي ، دغسې به ديوبل په مينځ کې دمعاهدو متعلق هم سوال وي ، دلته يې صرف دومره وويل او خبره يې پريښوولې چې ددې پوښتنه به کيږي ، مخته د پوښتنې څخه وروسته به څه کيږي ، ددې په مبهم پريښوولو کې دخطرې دلوی والي طرف ته اشاره ده .
يولسم حکم دلين دين په معاملو کې دناپ اوتول پوره کولو هدايت او په دې کې دکمې کولو ممانعت دی چې ددې پوره تفصيل په سورة مطففين کې ذکر دی .
مسئله: فقهاؤ حضراتو فرمايلي دي چې په آيت کې دناپ اوتول دکمې چې کوم حکم دی ددې مطلب دا دی چې دچاڅومره حق وي ، دهغه څخه کم ورکول حرام دي ، په دې وجه دې کې دا هم داخله ده چې يو نوکر په خپلو فرضواومقرره کار کې کمې کوي يا څومره وخت چې ورکول وي ، دهغه څخه کم ورکړي يا يو مزدور په خپله مزدورۍ کې کار غلا کړي .

(په ناپ اوتول کې دکمې کولو ممانعت)

مسئله: وَأَوْفُوا الْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ : په تفسير بحرمحيط کې ابو حيان فرمايي چې په دې آيت کې د ناپ او تول دپوره کولو ذمه واري پر خرڅونکي غورځول سوې ده ، ددې څخه معلومه سوه چې دناپ کولو اوتول کولو ذمه وار خرڅونکی دی .

د آيت په آخر کې دناپ اوتول پوره کولومتعلق فرمايي ، ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا: په دې کې دناپ اوتول د صحيح او برابر کولو متعلق دوې خبرې فرمايي يو دا چې په دې کې خير دی ، ددې مطلب دا دی چې

Maktaba Tul Ishaat.com

داسې کول په خپل ذات کې ښه او غوره دي دشريعت څخه علاوه په عقلي او طبعي طور باندې هم يو شريف انسان دناپ او تول کمی ته ښه نه واښي ، دوهمه خبره دا فرمايي چې ددې انجام ښه دی چې په دې کې د آخرت انجام ، ثواب پيدا کيدل او جنت ته په کې دا خل دی ، ددې سره ددنيا د انجام ښه والی ته په کي هم اشاره ده ، چې يو تجارت تر هغه وخته پوري ترقی نه سی کولی ، ترڅو چې په بازار کې يې اعتبار قائم نه وي او هغه بغير ددې تجارتي دیانتداري څخه نه سی کيدی .

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ ۚ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ

او مه جه کیږه په هغه خبره چې تاته علم نه وي باندې ، بیشکه غوږونه او سترګی او زړه ددې ټولو څخه به ددې

مَسْئُولًا ﴿٣٦﴾ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ الْجِبَالَ

پوښتنه کیږي ، او مه ځه په مځکه باندې په تکبر سره ، نه به ته څیری کړی مځکه او نه به ورسیږي غرونو ته

طُولًا ﴿٣٧﴾ كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُ عِندَ رَبِّكَ مَكْرُوهًا ﴿٣٨﴾

په اوږدوالی ، دا ټولې خبرې چې دی په دې ټولو کې ناکاره شی دی ستا درب بیزاری .

لنډتفسير: او دکومې خبري چې حقيقت تاته نه وي معلوم په دې عمل مه کوه (ځکه چې) دغوږونو ، سترګو او زړه دهر سړي څخه به ددې ټولو (دقيامت په ورځ) پوښتنه کيږي (چې غوږونه او سترګی دي په کومو کومو کارونو کی استعمال کړي دي ، دغه کارونه ښه وه او که بد او دبې دليله خبري خيال دي په زړه کې ولې ځان کړی وو) او پر مځکه په لويې کولو سره مه ګرځه (ځکه چې) ته خو (پر مځکه په زوره په پښو اينبوولو) نه مځکه څيرلی سی او نه (دخپل بدن په راکشولو سره) د غرونو لوړوالی ته رسيدی سی (نو ستا دا لويي عبث ده) دا ټول (چې ذکر سوه) بد کارونه ستا درب په نزد (بالکل) ناخوښه دي .

معلومات او مسئلي: په دې آيتونو کی دوه حکمونه دولسم (۱۲) او ديارلسم (۱۳) د عام معاشرت متعلق دي په دولسم (۱۲) حکم کې بغير دحقيق څخه په يو خبره دعمل کولو ممانعت فرمايلی دی .

دلته دا خبره مخته اينبوول ضروري دی چې دتحقيق درجې مختلفې وی يو داسې تحقيق چې دکامل يقين درجي ته ورسيږي، دمخالف جانب هيڅ شک په کښې پاته نه سی ، دوهم دا چې دغالب ګمان په درجه کی راسی ، که څه هم دمخالف جانب احتمال په کښې هم موجود وي ، دغه ډول احکام هم دوه قسمه دي ، يو قطعی او يقينی دی ، لکه عقيدي او اصول ددين ، په دې کې د اولی درجي تحقيق مطلوب دی ، ددې څخه بغير عمل کول جائز نه دی ، دوهم ظنيات چې په ګمان سره وي ، لکه د فروعی عملونو متعلق احکام، ددې تفصيل څخه وروسته د آيت مقتضی دا ده چې په قطعی او يقينی احکام کی تحقيق هم د اولی درجي وي، يعنی دقطعيت او کامل يقين درجې ته ورسيږي او ترڅو پوری چې داسې نه وي ، په عقيدو او اصولو د اسلام کی ددې تحقيق اعتبار نسته ، ددې په مقتضی عمل جائز نه دی ، او په ظنی او فروعی کی د دوهمې درجي يعنی دغالب ګمان د درجې کافی دی (بيان القرآن)

(دغوږونو سترګو او زړه متعلق دقیامت په ورځ سوال)

إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا : په دی آیت کی یی ښوولی ده چی دقیامت په ورځ په د غوږونو ، سترګو او زړه څخه سوال کول کیږي ، مطلب دا دی چی دغوږونو څخه به پوښتنه کیږي چی تاسی په عمر کی څه څه اوریدلی دی ؟ دسترګو څخه به پوښتنه چی تاسی په عمر کی څه څه لیدلی دی ؟ د زړه څخه به پوښتنه کیږي چی په ټول عمر کی دي کوم کوم خیالات پاخه کړي دي او په کومو کومو شیانو دي یقین کړی دی؟ که په غوږونو یی داسی خبرې اوریدلی وي، دکومو اوریدل چی شرعاً جائز نه وو ، لکه دچاغیبت یاحرامي غزلی او ګاني وغیره یا په سترګو یی داسی شیان لیدلی وي چی لیدل یی شرعاً حلال نه وه لکه نامحرمه ښځه یا سپین مخی هلک ته په بد نظر سره کتل وغیره یا یی په زړه کی څه داسی عقیده ځای کړی وی چی دقرآن او سنت څخه خلاف وی یا د چامتعلق یې په خپل زړه کی بی دلیله څه الزم قائم کړی وي نو ددی پوښتنی په نتیجه کی به په عذاب کی ګرفتار وي .

دقیامت په ورځ به دالله ﷻ دټولو ورکولو سوو نعمتونو پوښتنه کیږي ، لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ : یعنی ستاسی څخه به دقیامت په ورځ دالله ﷻ دټولو نعمتونو پوښتنه کیدی سی ، غوږونه، سترګي او زړه په دی نعمتونو کی دټولو څخه زیات اهم دی ، ځکه یی دلته په خصوصیت سره ددوي ذکر وفرمایی .

په تفسیر قرطبی اومظهري کی ددی دا مطلب هم بیان سوی دی چی ددی څخه په مخکی جمله کی چی کوم دا ارشاد راغلی دی چی ، وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ : یعنی دکوم شی چی تاسی ته تحقیق اوعلم نه وي ، په دی عمل مه کوي ، ددی سره متصل دغوږونو ، سترګو او زړه څخه دسوال مطلب دا دی چی کوم سړي بی تحقیقه مثلاً پر چا څه الزام ولګوي او بی تحقیقه یی په څه خبره عمل وکړي ، که دغه دداسی شی متعلق وي کوم چی په غوږونو سره اوریدل کیږي نو دغوږونو څخه به سوال کیږي او که دسترګو دلیدو شی وي نو دسترګو څخه او که د زړه دپوهی شی وي، نو دزړه څخه به سوال کیږي، چی دا سړي په خپل الزام او په زړه کی په پرځای کړي خیال کی رښتینی دی یا دروغجن، پردی به د انسان د اندامونه په خپله شاهدي ادا کوي، کوم چی به دحشر په میدان کی دبی تحقیقه الزام لګوونکو او په بی تحقیقه خبرو د عملو کوونکو دپاره د لویی رسوایی سبب جوړسی ، لکه چی په سورة یس کی دی ، الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَىٰ أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ (۶۵) یعنی نن دقیامت په ورځ به مونږ دمجرمانو پر خلو مهر ولګوي او د دوی لاسونه به خبرې کوي اوخلی به یی شاهدي ادا کوي چی دوی په دی اندامونو سره څه څه کارونه ښه یا بد کړي دي .

دلته دغوږونو او سترګو او زړه تخصیص شاید پردی بنا سوی دی چی الله ﷻ انسان ته دا حواس او د زړه شعور او ادراک په دی وجه سره ورکړی دی، چی کوم خیال یا عقیده په زړه کی راسی او په دی حواسو ادراک سره هغه ته سوچ وکړي ، که صحیح وي نو عمل باندی وکړي او که غلطه نو ځان ورڅخه وساتي کوم سړي چی ددی څخه د کار اخیستو څخه بغیر په بی تحقیقه خبرو پسی کیږي ، ده دالله ﷻ ددی نعمتونو ناشکري وکړه .

یا هغه حواس دکومو په ذریعه چې انسان مختلف شیان معلوموي، پنځه دي، غوږونه، سترګې، پزه، ژبې قوتونه او په ټول بدن کې هغه احساس په کوم سره چې د یو شي یخوالی ګرموالی وغیره معلوموي مګر عادتاً زیات معلومات انسان ته د غوږونو یا سترګو ځخه کیږي، د پزې د بویولو او د ژبې د چښلو یا د لاسو وغیره په مسه کولو چې دکومو شیانو علم حاصلیږي دغه د اوریدو او لیدو دعلم په نسبت ډیر کم دی، دلته د حواس خمسه وو ځخه صرف د دوو په ذکر باندې اکتفا کول شاید په دی وجه سره وي، بیا په دوی کې هم غوږونه یې پر سترګو مخکې کړل او دقرآن کریم په نورو مواقعو کې هم چې کوم ځای ددی دواړو شیانو ذکر راغلی دی، په دغو کې یې غوږونه مخکې کړي دي، ددی سبب هم غالباً دا دی چې د انسان په معلوماتو کې دټولو ځخه لویه حصه په غوږو سره د اوریدل سوو شیانو ده، په سترګو لیدل سوي شیان ددی په نسبت ډیر کم دی.

د ذکر سوو آیتونو په دوهم آیت کې دیارلسم حکم دا دی چې په مځکه باندې په لویی کولو سره مه ګرځه یعنی په داسې ډول مه چلیږه چې تکبر او فخر او غرور ورځخه ښکاره کیږي، چې دا د احمقانو کار دی، ګویا پر مځکه په داسې تللو سره دي مځکه څیرول غواړي کومه چې دده په وس کې نه ده او په لوړ تللو سره دی لوړیدل غواړي خو د الله ﷻ غرونه دده ځخه ډیر لوړ دي، تکبر په اصل کې د انسان په زړه سره متعلق سخته کبیره ګناه ده، د انسان په چال چلن کې چې کوم شیان پر تکبر دلالت کوونکی دي، دغه هم ناجائزه دي، په متکبرانه انداز سره تلل برابره خبره ده که پر مځکه باندې په زور سره نه ځي او ځان لوړ نه جوړ وي، بهرحال انداز د تکبر ناجائز دی، دتکبر معنی خپل ځان د نورو ځخه ښه او اعلی ګڼل او نور د ځان ځخه کم او سپک ګڼل دي، په حدیث کې پردی باندې ډیري سختې دعذاب وعدې راغلې دي.

امام مسلم په روایت دحضرت عیاض بن عمار ﷺ نقل کړی دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلې دي چې الله ﷻ ماته په ذریعه دوحی دا حکم رالیږلی دی چې تواضع او عاجزي اختیار کړه، یو سړی دي پر بل باندې فخر او د خپلې لوړې طرز نه اختیار وي او څوک دي په چا باندې ظلم نه کوي (مظهري)

اوحضرت عبد الله بن مسعود ﷺ فرمايي چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دي چې په جنت کې به دا خل نه سی هغه سړی دچا په زړه کې چې د ذرې برابر هم تکبر وي (مظهري په حواله دصحیح مسلم)

اوپه یو حدیث قدسي کې په روایت دحضرت ابو هریره ﷺ ذکر دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې الله ﷻ فرمايي چې لویی زما څادر دی او برایی زما جامه ده، کوم سړی چې دا زما ځخه راکښول غواړي، زه به دی جهنم ته دا خل کړم، دڅادر او جامې ځخه مراد لباس دی، او الله ﷻ خو جسم نه دی چې دهغه دپاره لباس په کار وي، په دی وجه ددی ځخه مراد دلته دالله ﷻ دلویی صفت دی، کوم سړی چې په دی صفت کې دالله ﷻ سره شریکیدل غواړي، هغه دوږخی دی.

اوپه یوحدیث کې دی نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې دقیامت په ورځ به تکبر کوونکي دکوچنیو میږیو په شان وي چې هرقسم ذلت اوخواري به باندی رااوریږي دوی به دجهنم دیوي جیل خانې طرف ته شړل کیږي چې نوم یې بولس دی په دی کې به دټولو اورونو ځخه زیات تیز اوروي او دچښلو دپاره به دوی ته ددوږخیانو دبدن ځخه وتلې وینې زوې ورکول کیږي (ترمذي په روایت دعمر بن شعیب عن ابیه عن جده، مظهري)

Maktaba Tul Ishaat.com

او حضرت عمر فاروق اعظم ﷺ په منبر خطبه ورکوله او وي وفرمایل چې ما د نبي کریم ﷺ څخه اوریدلي دي چې کوم سړی تواضع اختیار وي الله ﷻ دي لوړ وي ، نو دی خو په خپل نزد کوچنی وي، مګر د ټولو خلقو په نظر کې لوی وي ، او څوک چې تکبر کوي الله ﷻ هغه ذلیل کوي نو دی په خپل نظر کې خولوی وي مګر د خلقو په نظرونو کې د سپي او خنزیر څخه هم بدتر وي (مظهري)

د ذکر سوو احکامو د تفصیل بیانولو څخه وروسته په آخري آیت کې فرمایي.

كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُ عِندَ رَبِّكَ مَكْرُوهًا : یعنی دا ټول بد کارونه د الله ﷻ په نزد مکروه او ناخوښه دي.

په ذکر سوو احکامو کې چې کوم محرمات او منع سوي کارونه دي ، د دوی ناکاروالی او ناخوښوالی خو ښکاره دی ، مګر په دې کې څه احکام ، او امر هم دي ، لکه د مور او پلار او خپلوانو حقونه ادا کول ، وعده پوره کول وغیره ، په دې کې هم چونکه د دوی د خلاف څخه ځان ساتل دي چې د مور او پلار د ازار څخه ، د قریبانو د قطع د صله رحمی څخه او د وعدي ماتولو څخه ځان ساتی ، دا شیان ټول حرام او ناخوښه دي ، په دې وجه یې ټولو ته په جمع مکروه وویل (بیان القرآن)

خبرداری : په ذکر سوو پنځلسو آیتونو کې چې کوم احکام بیان سوي دي دغه په یو حیثیت سره د هغه سعی او عمل تشریح ده کومه چې د الله ﷻ په نزد مقبوله وي د کومي ذکر چې د اتلسو ایتونو څخه مخته راغلی دی، وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا : چې په دې کې دا ښوول سوي ده چې هر سعی او عمل د الله ﷻ په نزد مقبول نه وي ، بلکې صرف هغه کوم چې نبی کریم ﷺ د سنتو او تعلیم مطابق وي، په دې آیتونو کې چې کوم احکام دي دا د دغه مقبولي سعی د مهمو بابونو ذکر دی چې اول په کې د حقوق الله او بیا د حقوق العباد بیان دی.

(د پنځلس آیتو څخه د ټول تورات خلاصه ده)

حضرت عبد الله ابن عباس ﷺ فرمایي چې د ټول تورات احکام د سورة بنی اسرآئیل په پنځلسو آیتونو کې جمع سوي دي (مظهري)

ذَٰلِكَ مِمَّا أَوْحَىٰ إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ ۗ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ

دا دی دهغو خبرو څخه کومی چې په وحی لیږي ستا رب تاته د عقل د کارونو څخه ، او مه ګرځوه د الله سره

فَتُلْقَىٰ فِي جَهَنَّمَ مَلُومًا مَّدْحُورًا ﴿٣٩﴾ أَفَأَصْفَاكُمْ رَبُّكُم

بل څوک معبود بیا به ولویږې په دوږخ کې ملامت کړل سوی وردیکه سوی ، ایا تاسی غوره کړي دی ستاسی رب

بِالْبَنِينَ وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِنَاثًا ۚ إِنَّكُمْ لَتَقُولُونَ قَوْلًا

په زامنو سره او دځان د پاره یې ملائکی لوڼی کوري کړي دي؟ تاسی وایاست دیره لویه خبره

عَظِيمًا ﴿٤٠﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ لِيَذَّكَّرُوا وَمَا يَزِيدُهُمْ

، او بار بار بیانوو مونږ په دې قرآن کې چې دوی سوچ وکړي او د دوی زیاتیږي

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَّا نُفُورًا ﴿٤١﴾ قُل لَّوْ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذًا لَّٱبْتَغَوْا۟

هم دغه ترهيدل ، ووايه که چيرې وی دهغه سره بل معبود لکه چی دوی وايی نولتولی به يی وه

إِلَىٰ ذِى ٱلْعَرْشِ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوًّا

صاحب دعرش طرف ته لار ، هغه پاك دی اولوی دی د دوی دخبرو څخه بی نهايته

كَبِيرًا ﴿٤٣﴾ تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبْعُ وَٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ

، دهغه پاکی بيانوی او وه اسمانونه او مځکه او څه چی په دوی کی دی

وَإِن مِّن شَىْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ

او نسته يو شی چی نه وايی تسبيح دده ، ليکن تاسی نه پوهيږي د دوی په تسبيح ويلو

إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤٤﴾

بيشکه هغه دی برد باره بخښنی والا

تفسير: (ای محمد ﷺ) دا خبرې (يعنی دا ذکر سوی احکام) دهغه حکمت نه دی کوم چی خدای ﷻ پر تا د وحی په ذريعه راليږلی دی (او ای مخاطبه) دالله ﷻ بر حق سره بل معبود مه جوړوه کنه نو ته به ملامت سوی او ورشړل سوی جهنم ته وغورځول سی (د ذکر سوو احکامو شروع يی هم دتوحيد دمضمون څخه کړی وه اوختم يی هم پردی وکي او مخته هم دتوحيد دمضمون بيان دی چی هرکله لوړ دشرک قباحت او باطلوالی دی واوريدی) نو آيا (بيا هم دداسی خبرو قائل کيږي کوم چی دتوحيد څخه خلاف دی مثلاً دا چی) ستاسی رب تاسی په زامنو سره خاص کړی ياست او په خپله يی فرښتی (خپلی) لونی جوړي کړي دي، بلکه چی دعربو جاهلانو به ملائکو ته دخدای پاک لونی ويلی کوم چی په دوو وجهو سره باطله ده اول خو دالله ﷻ دپاره اولاد مقررول، بيا اولاد هم انجلی کومی چی خلق دځان دپاره نه خوښوي اوبدي يی گڼي، په دی سره دالله ﷻ طرف ته ديو بل نقص نسبت کيږي) بيشکه تاسی لويه خبره کوی او (افسوس خو دا دی چی ددی مضمون دتوحيد او دشرک باطلوالی) موږ په دی قرآن کی په قسم قسم سره بيان کړی دی چی په ښه شان سره باندی پوه سی (او په مختلفو طريقو سره دبار بار توحيد په ثابتولو او دشرک دباطلولو باوجود د توحيد څخه) دوی ته نفرت زياتيږي ته (دشرک دباطلولو دپاره دوی ته) وفرمايه چی که چيرې دده (معبود برحق) سره نور معبودان هم (شريک) وی ، لکه چی دا خلق وايی ، نو په دی حالت کی به دعرش والا (حقيقی خدای) ته دوی (يعنی دی نورو معبودانو يوځای) لار لټولی وه (يعنی کوم چی تاسی دالله ﷻ سره په خدايی کی شريک گڼی ، که دوی واقعي دهغه شريک وی نو پر

Maktaba Tul Ishaat.com

عرش والا خدای ﷻ باندی به یې حمله کړی وای او لار به یې ورته لټولی وای او کله چې په خدایانو کې جنګ جوړ سوی وای، نو ددنیا نظام به څنګه چلیدلی وای ، کوم چې دیو خاص محکم نظام سره چلیدل هرسړی وینی ، نو په دی وجه دنظام عالم په صحیح طور سره چلیدل په خپله ددی دلیل دی چې دیو خدای څخه ما سوا څوک بل دهغه سره شریک نسته ددی څخه ثابته سوه چې) دا خلق چې څه وایی الله ﷻ ددی څخه پاک او ددی څخه ډیر زیات بالا او برتر دی (هغه داسی پاک دی چې) ټول اووه آسمانونه او مځکې اوځومره (فرښتې ، بنیادم، پیریان) چې په دی کی (موجود) دي (ټول په ژبه سره یا په حال سره) دهغه پاکي بیانوي او (دتسبیح دعقل والا انسان او پیری سره خاصه نه ده، بلکې په مځکه او آسمان کی) هیڅ شی داسی نسته کوم چې دثنا سره دهغه پاکی نه بیانوي لیکن تاسی خلق د دوی په تسبیح (پاکی بیانولو) باندی نه پوهیږي، بیشکه هغه لوي بردباره لوي بخښونکی دی .

معلومات او مسئلې: دتوحید کوم دلیل چې په آیت ، اذًا لابتغوا: کی بیان فرمایلی دی چې که دټولو کائناتو دعالم خالق مالک اومتصرف صرف یو ذات دالله ﷻ نه وی بلکه دده سره په خدایی کی نور هم شریکان وی ، نو ضروري ده چې په دوی کی به کله اختلاف هم وای او د اختلاف په صورت کی به ټول نظام دعالم برباد سی څکه چې په دی ټولو کی همیشه صلح کیدل اوهمیشه دغه صلح باقی پاته کیدل عادتًاممتنع دی دادلیل دلته که څه هم په امتناعی اندازکی بیان سوی دی مګر دعلم کلام په کتابونوکی ددی دلیل برهانی والی او منطقی والی هم په وضاحت سره بیان سوی دی ، عالمان دي هلته وګوري .

(دمځکې آسمانونو او په دی کي دموجودو شیانو دتسبیح کولو مطلب)

په دی شیانو کی دټولوفرښتو او د انسانانو او پیریانو کوم چې مومنان دي د دوی تسبیح ویل خو بدیهي دي او هرڅوک باندی پوهیږي کافران، مؤمنان او پیریان کوم چې په ښکاره تسبیح نه کوي ، دغه ډول د عالم نور شیان کومو ته چې ویل کیږي چې په دوی کی عقل او شعور نسته د دوی دتسبیح ویلو مطلب څه دی ؟ ځینی علماء فرمایی چې د دوی دتسبیح څخه مراد تسبیح حال یعنی د دوی دحالاتو شهادت دی ، څکه چې دالله ﷻ څخه ماسوا دهر شي مجموعي حال دا ښیی چې دوی نه په خپل وجود کی مستقل دی نه په خپل باقي پاته کیدو کی دوی د یو لوي قدرت تابع چلیږي دا شاهدي د دوی دحال تسبیح ده .

مګر دنورو اهل تحقیقو قول دا دی چې تسبیح اختیاري خو صرف په فرښتو اومومنانو پیریانو او انسانانو پوری خاص ده ، مګر په تکوینی طور سره الله ﷻ کائناتو ذره ذره خپله تسبیح خوا نه جوړه کړي ده ، کافران هم اول خو په عام طور سره خدای ﷻ مني او دده دلویي قائل دي اوکوم ماده پرست دهریان یا دنن صبا کمیونستان چې دخدای د وجود په ښکاره قائل نه دي ، مګر د دوی دوجود هر جز په جبري طور د الله ﷻ تسبیح کوي لکه درختی دبري خاوري وغیره ټول شیان دحق په تسبیح کی مشغول دي ، مګر د دوی دا تسبیح چې جبري او تکوینی ده ، عام خلق نه اوري ، دقرآن کریم ارشاد ، وَلَٰكِنْ لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ : په دی باندی دلالت کوي ، چې ددی هري ذري دا تکوینی تسبیح یو داسی شی دی په کوم چې عام انسانان نه پوهیږي تسبیح حالی خو هوښیاران او پوه خلق پیژني، ددی څخه معلومه سوه چې دا تسبیح صرف حالی نه ده ، حقیقي ده، مګر زموږ دفهم او ادراک څخه بالاتر دی (قرطبی)

Maktaba Tul Ishaat.com

په حدیث کی کومه چی نبی کریم ﷺ دامعجزه ذکر ده چی ددوی په موټ کی ددبروتسبیح کول اصحابو ﷺ په غوږونو سره واوریده ، ددی خو معجزه کیدل ښکاره دی ، لیکن په خصائص کبری کی شیخ جلال الدین سیوطي رحمه الله فرمایی چی د ډبرو تسبیح ویل دحضور ﷺ معجزه نه ده، دغه خو چی هرڅای وي تسبیح وایی بلکه معجزه ددوی داده چی ددوی لاس ته راغلی نوتسبیح یی په غوږونو سره واوریدل سو، امام قرطبی داتحقیق راجح ګڼلی دی اوپه دی یی دقرآن اوسنت ډیر دلیلونه پیش کړي دي ، مثلاً په سورة ص کی دحضرت داود ﷺ متعلق اشاد دی ، إِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ : یعنی مونږ غرونه ده ته مسخر کړی وه چی دوی به دحضرت داود ﷺ سره سهار ماښام تسبیح کوله اوپه سورة بقره کی دغرونو ډبرو متعلق ارشاد دی ، إِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ (یعنی دغرونو خینی ډبري دالله ﷻ دبیري څخه لاندی رالویږي) چی په دی سره په ډبرو کی دشعور ادراک او دخدای دبیري کیدل ثابت سوه ، اوپه سورة مریم کی دنصاراؤ دحضرت عیسی ﷺ ته دخدای دزوي ویلو په تردید کی فرمایی : وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ۝ أَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدًا : یعنی دا خلق دالله ﷻ دپاره زوی تاکي د دوی ددی کفر په کلمه سره په غرونو بیره راځی اوهغه را ولیږي او ښکاره ده چی دا بیري د دوی دشعور او ادراک په ورکوي او دشعور او ادراک څخه وروسته تسبیح کول څه لیري خبره نه ده.

اوحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ فرمایی چی یوغر بل غر ته وایی چی ای فلانیه په تا لوږخوک داسی سړی تیر سوی دی کوم چی دالله ﷻ یادونکی وي که هغه ووایی چی هوا نو دا غر په دی سره خوشحاله سی، په دی د استدلال دپاره حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ دا ایت ووایه ، وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَٰنُ وَلَدًا : او بیایی وفرمایل ، چی هرکله ددی آیت څخه دا ثابته سوه چی غر هم دکفر په کلمو اوریدو متاثره کیږي او پر دوی بیره راځی نو آیا ستاسی دا خیال دی چی دوی باطل کلمات اوري نو حقه خبره او دالله ﷻ ذکر به نه اوري او ددی څخه به نه متاثره کیږي (قرطبی په حواله درقائق ابن مبارک)

اونبی کریم ﷺ فرمایی چی یو پیري او انسان او درختهٔ او ډبره او لوټه داسی نسته کومه چی دموذن اواز اوري او دقیامت په ورځ دده دایمان او نیک کیدو شاهدي نه ورکوي (موطا امام مالک وسنن ابن ماجه په روایت د ابی سعید خدري ﷺ)

امام بخاري په روایت دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ نقل کړی دی چی مونږ به دغلی دتسبیح اواز اوریدی کله چی به خوړل کیده او په یو بل روایت کی دی چی مونږ به کله دنبی کریم ﷺ سره خوراک خوړی نو د خوراک د تسبیح اواز به مونږ اوریدی

په صحیح مسلم کی په ورایت دحضرت جابر بن سمره ﷺ ذکر دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی زه د مکی مکرمی هغه ډبره پیژنم کومه چی به دنبوت څخه مخکی ماته سلام کوي او زه اوس هم هغه پیژنم خینی حضرات فرمایی چی ددی څخه مراد حجر اسود دی ، والله تعالی اعلم

امام قرطبی رحمه الله فرمایی چی دحدیثو روایتونه په داسی معاملو کی ډیر دی او د اسطوانه حنانه قصه خو دهرچا پر ژبه ده ، دکومی د ژړا اواز چی اصحابو کرامو ﷺ واریدی ، کله چی نبی کریم ﷺ دخطبی په وخت کی دا پریښووله او پر منبر یی خطبه ورکول شروع کړل .

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی روایتونو څخه وروسته په دی کی څه لیري والی پاته کیږي چی دمځکي او آسمان په هر شي کی شعور او ادراک سته اوهر شی په حقیقي طور سره دالله ﷻ تسبیح کوي او ابراهیم رحمه الله فرمایی چی دا تسبیح عام دی ، په روح لرونکو شیانو کی هم ، اوپه بی روحه شیانو کی هم تردی چی د دروازې د زنځیرونو په اوازونو کی هم تسبیح ده .

امام قرطبی رحمه الله فرمایی چی که دتسبیح څخه مراد تسبیح حالی وي ، نو په ذکر سوي آیت کی بیا دحضرت داود علیه السلام څه تخصیص وو ، تسبیح حالی خو هر ذی شعوره انسان دهر شی څخه معلومولی سی ، په دی وجه ښکاره دا ده چی دا تسبیح قولی وه ز انتهی .

راو لکه څنګه چی په حواله دخصائص دکبری لوړ نقل سوی دی ، چی د ډبرو تسبیح کول معجزه نه ده ، دا خو په هرځای ، هرحال کی او هر وخت کی عامه ده ، دنبی کریم ﷺ معجزه دا وه چی د دوی مبارکو لاسونو ته د راتلو څخه وروسته د دوی تسبیح عامو خلقو په غوږونو سره واوریدی ، دغه ډول دغرونو تسبیح هم دحضرت داود علیه السلام معجزه په دی حیثیت سره ده چی د دوی په معجزه سره دغه تسبیح په غوږونو سره د اوریدو قابله سوه . والله تعالی اعلم .

وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ حِجَابًا

اوکله چی ته قرآن وایی نوموږ وګرځوو په مینځ ستا او دهغو خلقو کی چی ایمان نه راوړی په آخرت باندی یوه پرده

مَّسْتُورًا ﴿٤٥﴾ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ وَإِذَا

پټه سوی ، او کېښېږدو موږ په زړونو د دوی باندی پردی چی پوهه وړباندی نه سی اوپه غوږونو د دوی کی

ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْآنِ وَحْدَهُ وَلَّوْا عَلَىٰ أَدْبَارِهِمْ نُفُورًا ﴿٤٦﴾

کونوالی دی او کله چی ته ذکر کوی دخپل یو رب په قرآن کی تنښتی په شاګانو خپلو سره نفرت کوونکی .

نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِ إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ وَإِذْ هُمْ

او موږ ته ښه معلوم دی ، په کومه واسطه چی دوی یی اوری څه وخت چی غوږونه ایږدی تاته ، او هر کله چی

نَجْوَىٰ إِذْ يَقُولُ الظَّالِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴿٤٧﴾

دوی مشوری کوی کله چی وایی دابی انصافان دکوم په ویناچی تاسو چلیږي دی نه دی مګر یو سړی دی چی جادو

انظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا لَكَ الْأَمْثَالَ فَضَلُّوا فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا ﴿٤٨﴾

وړباندی سوی دی وګوره څنګه جوړوی په تاپوری مثالونه نودوی ګمراه سول نو دوی لارنه سی پیدا کولی

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسير: په تيرو آيتونو کی دا ذکر وه چی دتوحيد مضمون په قرآن کريم کی په مختلفو عنواناتو او مختلفو دليلونو سره دبار بار ذکر کيدو باوجود دا بد نصيبه مشرکان دا نه منی ، په دی آيتونو کی د دوی دنه منلو وجه ښوول سوي ده چی دوی په دی آيتونو کی غور او فکر نه کوي بلکی ددی څخه نفرت کوي او مسخري درپوری کوي ، په دی وجه دوی دحقيقت دعلم څخه رانده سوي دي ، لنډ تفسيردا دی .
اوهرکله چی ته «دتبليغ دپاره» قرآن وايی نو مونږ ستا او ددی خلقو په مينځ کی يوه پرده حائله کړو کوم چی په آخرت باندی ايمان نه راوړي «او دغه پرده دا ده چی» مونږ د دوی پر زړونو باندی پردی واچوو ددی دپاره چی دوی په دی «دقرآن مقصد» پوه نه سی او د دوی په غوږونو کی دروندوالی راولو «ددی څخه چي دوی يی دهدايت دپاره وا وري ، مطلب دا دی چی دغه پرده د دوی دناپوهی او ددی ده چی دوی دپوهيدو اراده نه کوي چی په دی سره دوی ستا دنبوت شان وپيژنی» او هرکله چی ته په قرآن کی صرف دخپل رب «د صفتونو او کمالونو» ذکر کوي «او دا خلق دکومو معبودانو عبادت چی کوي، په هغوي کی دغه صفتونه نسته نو دغه خلق دخپلی ناپوهی بلکي دکوږ فهمی په سبب ددی څخه» نفرت کوونکی پر شا واپس کيږي «مخته د دوی پردی باطل عمل باندی دعذاب وعده ده چی» څه وخت دا خلق ستا طرف ته غوږونه ايږدي نو مونږ ښه پيژنو چی په کوم غرض سره دوی «قرآن» اوري «چی دغه غرض محض اعتراض طعن او نکته چينی ده» او څه وخت چی دا خلق «د قرآن اوريدو څخه وروسته» ديو بل سره پټي مشوري کوي «مونږ په دغه هم ښه پوه يو» هرکله چی دا ظالمان داسی وايی چی تاسی خلق «يعنی د دوی دبرداری څخه چی کوم خلق دنبی کريم ﷺ سره سوي دي» محض دداسی سړي سره ملګري سوي ياست پر کوم چی دجادو «خاص» اثر «يعنی ليونتوب» سوی دی «يعنی دی چی کومی دا عجيبه خبري کوي دا ټول د ماليخوليا دي ، ای محمد ﷺ لږ څه» ته وګوره چی دا خلق ستا دپاره څنګه القاب ټاکي نو دا خلق «بالکل» ګمراه سول نو «اوس د حق» لار نه سي پيدا کوی «ځکه چی داسی عناد او ضد او بيا دالله ﷻ درسول سره داسی معامله ، په دی سره د انسان دفهم او هدايت استعداد سلب کيږي»

معلومات او مسئلي: (په پيغمبر د جادو اثر کيدی سي)

په يو پيغمبر او نبی دجادو اثر کيدل داسی ممکن دی لکه دناجوړي اثر کيدل ځکه چی انبياء عليهم السلام دبشري خواصو څخه جلا نه وي لکه دوی ته زخم لګيدی سی ، تبه او درد ورته راتلی سی ، داسی ورته دجادو اثر هم کيدی سی ځکه چی دغه هم دخاص طبعی اسبابو پيريانو وغيره د اثر څخه کيږي او په حديث کی ثابت هم دي چی يو وار په نبی کريم ﷺ دسحر اثر سوی وو ، په آخري آيت کی چی کوم کفارو ده ته مسحور ووېل او قرآن ددی رد وکي ، ددی مطلب هغه دی ، دکوم طرف ته چی په لنډتفسيرکی اشاره سوي ده چی د دوی مراد په حقيقت کی دمسحور څخه مجنون ويل وو په دی وجه يی قرآن ترديد وکي نو د سحر حديث ددی څخه خلاف او متعارض نه دی په ذکر سوو ايتونو کی په اول او دوهم آيت کی چی کوم مضمون راغلی دی دهغه يو خاص شان نزول دی کوم چی قرطبی دسعيد بن جبير څخه نقل کړی دی چی کله په قرآن کريم سورة ، تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ نازل سو چی په دی کی د ابولهب دښځی هم مذمت ذکر دی نو دده ښځه دنبی کريم ﷺ مجلس ته ولاړه، دغه وخت ابوبکر صديق رضی الله عنه په

Maktaba Tul Ishaat.com

مجلس کی موجود وو ، دا يی د ليري څخه وليده او نبی کريم ﷺ ته يی عرض وکي چی که تاسی ددی ښځه ليري سی نو ښه ده ځکه چی دا ښځه بد زبانه ده ، دا به داسی خبري وکري چی تاسی ته به تکليف ورڅخه ورسيږي ، دوی وفرمايل چی داسی نه ده ، ددی او زما په مينځ کی به الله ﷻ پرده حائله کري ، نو دا ښځه مجلس ته راغله ، مگر نبی کريم ﷺ يی ونه ليدی ، نو صديق اکبر ؓ ته وويل چی ستا ملگري زمونږ هجوه کري ده ، صديق اکبر ؓ وفرمايل چی په خدای قسم دی ، هغه خو څه شعرونه نه سی ويلای او هجوي خو په شعرونو کی کيدی سی هغی دا وويل ولاړه چی تاسی هم دهغه تصديق کوونکی سواست ، ددی دتلو څخه وروسته صديق اکبر ؓ عرض وکي چی آيا دغه ښځی تاسی نه ليداست ؟ نو حضرت ﷺ وفرمايل چی ترڅو پوري هغه دلته وه يوی فرښتی زما او ددی په مينځ کی فرده کوله .

(دښمنانو دنظر څخه دپټيدو يو عمل)

حضرت کعب ؓ فرمايی چی نبی کريم ﷺ به هرکله دمشرکانو دسترگو څخه پټيدل غوښتل ، نو دقرآن کريم دري آيتونه به يی ويل ، ددی په اثر سره به کفارو ده ﷺ نه سو ليدلی ، هغه دري آيتونه دا دی ، يو آيت په سورة کهف کی دی يعنی ، إِنَّا جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَنْ يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا : دوهم په سورة نحل کی دی ، أُولَٰئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَأَبْصَارِهِمْ : اودريم آيت په سورة جاثيه کی دی ، أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِ وَقَلْبِهِ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِ غِشَاوَةً .

حضرت کعب ؓ فرمايی چی دنبی کريم ﷺ دامعامله ما دشام په ملک کی يو سري ته بيان کره دی په څه ضرورت سره د روميانو ملک ته تلی ، هلته چی ولاړی او يوه زمانه هلته پاته سو ، بيا روميانو ده ته ازار ورسوی نو دی دهغه ځای څخه وتښتيدی ، دا خلق په ده پسي سول ، دی سري ته دغه روايت يادسو او ذکر سوي دری سره آيتونه يی وويل ، قدرت د دوی په سترگو باندی داسی پرده واچوله ، چی پر کومه لاره باندی دی تلی ، په دغه لاره باندی دښمنان تيريدل مگر هغوی دي ونه ليدلی سو .

امام ثعلبی وايی چی دحضرت کعب ؓ څخه کوم روايت نقل سوی دی ، مادري اوسيدونکی يو سري ته وښووی ، اتفاقاً د ديلم کفارو دی گرفتار کي ، څه زمانه د دوی په بند کی وو ، بيايوه ورځ يی موقع پيدا کره وتښتيدی ، دغه خلق په ده پسی را ووتل مگر دی سري هم دا دري سره آيتونه وويل ، ددی اثر دا سو چی الله ﷻ د دوی په سترگو داسی پر دی واچولی چی دی يی ونه ليدی ، حال دا دی چی دده سره يوځای روان وو کپری يی دده د کپرو سره لگيدلی .

امام قرطبی رحمه الله فرمايی چی ددی درو وارو آيتونو سره چی دسورة يٰس هغه آيتونه هم يوځای سی کوم چی نبی کريم ﷺ دهجرت په وخت کی ويلی وه ، کله چی دمکی مشرکانو دده ﷺ کورمحاصره کری ور، ده ﷺ دا آيتونو وويل او د دوی دمينځ څخه ووتی ولاړی ، بلکی د دوی په سرونو يی خاوري اچولی او تلی په دوی کی هيچاته پته هم ونه لگيده ، دغه آيتونه د سورة يٰس دا دی .

يٰس (١) وَالْقُرْآنِ الْحَكِيمِ (٢) إِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ (٣) عَلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (٤) تَنْزِيلَ الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ (٥) لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَا أُنْذِرَ آبَاؤُهُمْ فَهُمْ غَافِلُونَ (٦) لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلَىٰ أَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ (٧) إِنَّا جَعَلْنَا فِي

Maktaba Tul Ishaat.com

اعناقهم اغلالًا فهي إلى الأذقان فهم مقمحون (٨) وجعلنا من بين أيديهم سدًّا ومن خلفهم سدًّا فأغشيناهم
فهم لا يبصرون .

امام قرطبی فرمایی چی ماته په خپله په خپل ملک اندلس کی قرطبی ته نژدی په قلعه منثورکی دا واقعه راپیښه سوه چی زه ددښمن څخه وتښتیدم او پر یوه ډبره کښینستم دښمن دوه تنه پر آسونو سپاره په ما پسی را ولیږل او زه بالکل پر ډاګ میدان باندی وم ، هیڅ حای دپناه کیدو نه وو ، مګر ما سورة یس دا آیتونه وویل ، دا دواړه سپاره زما په خوا کی تیر سول او بیا یی دا خبره وکړه بیرته راوګرځیدل چی دا سړی یو شیطان دی ځکه چی مونږ یی نه وینو ، الله ﷻ زما څخه رانده کړل (قرطبی)

وَقَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا

او وایی چی ایا هرکله چی مونږ هډوکی اوذری ذری سو نو ایا بیابه پورته کړل سو نو

جَدِيْدًا ﴿۴۹﴾ قُلْ كُوْنُوْا حِجَارَةً اَوْ حَدِيْدًا ﴿۵۰﴾ اَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ

پیدا سوی ، ته ووایه تاسی سی ډبری او یا وسپنه ، یا څه خلقت کوم چی مشکل ګنی

فِيْ صُدُوْرِكُمْ ۚ فَسَيَقُوْلُوْنَ مَنْ يُّعِيْدُنَا ۭ قُلِ الَّذِيْ فَطَرَكُمْ

په خپلو زړونو کی پس اوس به ووایی څوک به بیرته راولی مونږ؟ او وایه چا چی پیدا کړاست په اول

اَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَيُنْغِضُوْنَ اِلَيْكَ رُءُوْسَهُمْ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هُوَ ۭ

وار ، پس وبه ښوروی تا ته خپل سرونه او وبه وایی چی کله به دا ؟

قُلْ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ قَرِيْبًا ﴿۵۱﴾ يَوْمَ يَدْعُوْكُمْ فَتَسْتَجِيْبُوْنَ بِحَمْدِهٖ

ته ووایه چی شاید نژدی وی ، په کومه ورځ چی تاسی را وبولی نو راځی به د هغه حمد کوونکی

وَتَظُنُّوْنَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۵۲﴾

او ګمان به کوی چی درنګ نه دی تیر کړی تاسی مګر لږ.

تفسیر: دا خلق وایی چی کله مونږ (مړه) هډوکی (او هډوکی هم) ذره ذره (یعنی ریزه ریزه) سو نو آیا (ددی څخه وروسته په قیامت کی) په مونږ دنوي سر څخه پیدا او ژوندی کړل سو ؟ (یعنی اول خو دمړګ څخه وروسته ژوندی کیدل مشکل دی چی په جسم کی د ژوند صلاحیت پاته نه وي ، بیا چی دغه جسم هم ذره ذره سی او اجزاء یی خواره واره سی نو دده ژوندی کیدل څوک منلی سی) ته (د دوی په جواب کی)

Maktaba Tul Ishaat.com

وفرمایه چی (تاسی دهډوکو ژوندی کیدل بعید ګنی او مونږ وایو چی) تاسی ډبري یا اوسپنه یا یو بل مخلوق شی. داسی چی ستاسی په ذهن کی (د ژوند دصلاحیت څخه) ډیر لیري وي (بیا وګوری چی ژوندی کیږي اوکه نه او ډبره او اوسپنه خو دحیات یعنی ژوند څخه لیري مقررول څکه ښکاره دی چی په دوی کی هیڅ وخت هم حیوانی ژوند نه راځي ، په خلاف دهډوکو څخه چی په دوی کی خو اول تر دغه وخته پوری ژوند پاته شوی دی ، نوهرکله چی ډبره او اوسپنه الله ﷻ ته ژوندی کول مشکل نه دی نو انسانی اندامونو ته دوباره ژوند ورکول به څه مشکل وي ، او په آیت کی لفظ د: کُوْنُوْا: کوم چی صیغه د امر ده ، ددی څخه مراد دلته امر نه دی ، بلکه یوتعلیق اوشرط دی ، چی که تاسی بالفرض ډبري او اوسپنه هم سی خو الله ﷻ بیا هم دوباره ستاسی پر ژوندی کولو باندی قادر دی ، په دی باندی) دوی به پوښتنه وکړي چی هغه څوک دی کوم چی دوباره به مونږ ژوندی کړي ، ته ووایه چی هغه ، ذات دی چا چی تاسی اول وار پیدا کړی واست (اصل خبره دا ده چی د یو شي په وجود کی د راوستو دپاره دوه شیان په کار وي ، یوه ماده او په محل کی دوجود قابلیت ، دوهم ده لره په وجود کی د راوستو دپاره قوت فاعله ، اولنی سوال دمحل دقابلیت متعلق وو چی دغه دمرګ څخه وروسته ژوند قابل پاته نه سو، ددی جواب یی وکړو او دمحل قابلیت یی ثابت کړو ، نو دا دوهم سوال دفاعلیه متلعق وسو چی داسی کوم قوت اوقدرت والا دی چی په خپل قوت فاعلی سره دا عجیبه کار وکړي ددی په جواب کی یی وفرمایل چی چا اول تاسی دداسی مادی څخه پیدا کړی واست په کومه کی چی دحیات قابلیت دهیچا په ګمان کی هم نه وو نو ددی دوباره پیدا کول څه مشکل دی او هرکله چی دا قابل او فاعل د دواړو سوال حل سو نو اوس دا خلق ددی دواقع کیدو دوخت دتحقیق دپاره) تاته په سر وښوروی وبه وایي (چی ښه ده دا ووایه چی) دا (ژوندی کیدل) به کله وي ؟ ته ووایه چی عجیبه نه ده چی دا نژدی راغلی وي (مخته دهغو حالاتو بیان دی کوم چی ددغه ژوند څخه راپیښیږي) دا به په هغه ورځ وي چی الله ﷻ تاسی (د ژوندی کولو او په میدان دحشر کی دجمع کولو دپاره فرښتي په ذریعه) راوبولی او تاسی (ناچاره) دهغه حمد کوونکی دحکم تعمیل کوئ (یعنی ژوندی به هم سی اوپه میدان دحشر کی به جمع هم سی) او (ددغه ورځی بیره او هیبت چی ووینی نو ستا سی به دا حال سی چی ددنیا دټول عمر اوپه قبر کی دپاته کیدو دټولی مودي په نسبت) تاسی به دا خیال کوئ چی تاسی ډیر کم (وخت په دنیا کی) پاته سوي واست (څکه چی په دنیا او په قبر کی دنن دهیبت په مقابله کی بیاهم څه نا څه راحت وو او د راحت زمانه انسان ته په مصیبت کی د پریوتلو په وخت کی ډیره لنډه معلومیږي)

معلومات او مسئلي: يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِ : لفظ د ، يَدْعُوكُمْ : ددعاء څخه مشتق دی چی معنی یی اواز کول ، رابلل دي او معنی یی دا ده چی په کومه ورځ الله ﷻ تاسی ټول دمحشر طرف ته راوبولی او دا بلل به په واسطه دفرښتی اسرافیل ﷺ وي چی هرکله هغه په دوهمه شپیلۍ کی پُف کړي نو ټول مړي به ژوندي سی او په میدان دحشر کی به جمع سی او دا هم کیدی سی چی د ژوندی کیدو څخه وروسته ټولو ته په میدان دحشر کی دجمع کیدو دپاره اواز وکړل سی (قرطبی)

په يو حديث کې نبي کريم ﷺ فرمايي چې دقيامت په ورځ به تاسي ستاسي اوستاسي دپلار په نوم باندي بلل کيږي، په دې وجه خپل نومونه ښه ايږدئ، دعبثو نومونو څخه ځانونه وساتئ. (قرطبي)

(په محشر کې به کفار هم دحمد او ثنا سره پورته کيږي)

فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِ: داستجابت معنی د چا په بللو باندې دحکم منل او حاضريدل دي، معنی يې دا ده چې په ميدان دحشر کې کله تاسي راوبلل سی، نو تاسي ټول به ددغه اواز منونکې سی اوجمع به سی، بِحَمْدِهِ دا د تَسْتَجِيبُونَ دضمير دفاعل حال دی، په معنی د، حَامِدِينَ: مراد دا دی چې دی ميدان ته دراتلو په وخت کې به تاسي ټول دالله ﷻ حمد او ثنا کوونکې حاضريږي.

ددې آيت دښکاره څخه دا معلوميږي چې دغه وخت به دمومنانو او کافرانو ټولو دا حال وي چې دالله ﷻ حمد کوونکې به پورته کيږي ځکه چې په دې آيت کې اصل خطاب کفارو ته دی، د دوی متعلق دا بيان کيږي چې ټول به حمد کوونکې پورته کيږي، دتفسير په امامانو کې حضرت سعيدبن جبير فرمايي چې کفار به هم دخپلو قبرونو څخه دپورته کيدو په وخت کې، سُبْحَانَكَ بِحَمْدِكَ: الفاظ وايي را پورته کيږي به مگر ددغه وخت حمد او ثنا کول به دوی ته هيڅ نفع ورنه کړي (قرطبي) ځکه چې دا خلق دمرگ څخه وروسته ژوند ويني نو په غير اختياري طور به د دوی په ژبو سره دالله ﷻ دحمد اوثنا الفاظ ووزي دغه به څه داسي عمل نه وي چې پر دې څه جزاء مرتبه سی.

او ځيني تفسير ليکونکو حضراتو دا حال دمومنانو سره مخصوص ښوولی دی د دوی دليل دا دی چې د کفارو متعلق خو په قرآن کريم کې دا دی چې هرکله دوی ژوندي کړل سی، نو دوی به وايي، يَا وَيْلَنَا مَنْ بَعَثَنَا مِنْ مَرْقَدِنَا: (ای افسوس! مونږ چا دخپلو قبرونو څخه راپورته کړو) او په بل آيت کې دي چې دوی به وايي، يَا حَسْرَتَا عَلَى مَا فَرَّطْتُ فِي جَنْبِ اللَّهِ (يعنی ای حسرت او افسوس په دې باندې چې ما دالله ﷻ په معامله کې لويه کوتاهي کړي ده)

ليکن حقيقت دا دی چې په دې دواړو خبرو کې څه تعارض نسته، کيدی سی چې په شروع کې ټول حمد کوونکې پورته سی، وروسته چې هرکله کافران د مومنانو څخه جلا کړل سی، لکه چې دسورة يٰس په آيت کې دی، وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ (ای مجرمانو تاسي نن جلا سی جمع سی) دغه وخت به د دوی دخُلو څخه دغه کلمات هم ووزي کوم چې په ذکر سوو ايتونو کې راغلي دي او دا خبره دقرآن اوسنت د بې شميره تصريحاتو څخه ثابته او معلومه ده چې دمشحر موقفونه به مختلف وي، په هر موقف کې به دخلقو حال مختلف وي، امام قرطبي فرمايي چې په حشر کې به دپورته کيدو ابتداء هم دحمد څخه وي، ټول په حمد کوونکې پورته کيږي او دټولو معاملاتو خاتمه به هم پر حمد باندې وي لکه چې ارشاد دی، وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيلَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ: (يعنی دټول اهل محشر فيصله به دحق مطابق وسی او دا به وويل سی چې ثناء او شکر دی دالله رب العالمين)

Maktaba Tul Ishaat.com

وَقُل لِّعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ

او وایه زما بندګانو ته چي خبره هغه کوي چي غوره وي ، شیطان ښنسته راولي د دوی په مینځ کي شیطان دی

لِلْإِنسَانِ عَدُوًّا مُّبِينًا ﴿٥٣﴾ رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِكُمْ ۖ إِن يَشَأْ يَرْحَمْكُمْ

دانسان ښکاره دښمن ، ستاسی رب ښه پوهه دی که وغواړي په تاسی به رحم وکړي

أَوْ إِن يَشَأْ يُعَذِّبْكُمْ ۚ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ﴿٥٤﴾ وَرَبُّكَ

او که وغواړي تاسی به عذاب کړي ، او ته نه یی لیږلی مونږ په دوی باندی ذمه وار ، او ستا رب

أَعْلَمُ بِمَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۗ وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيِّينَ

ښه پیژني هغه کوم چي په اسمانونو کی کی دی او په مځکه کی او مونږ غوره کړی دی ځینی پیغمبران

عَلَىٰ بَعْضٍ ۖ وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُورًا ﴿٥٥﴾

دځینو څخه او ورکړی دی مونږ داود ته زبور .

تفسیر: او ته زما (مسلمانانو) بندګانو ته ووایه چي (که کفارو ته جواب ورکوي نو) داسی خبره کوي کومه چي (د اخلاقو په اعتبار سره) ښه وي (یعني ښکنځل سپکي سپوري سختي او غصه کول نه وي څکه چي) شیطان (په سختو خبرو کولو سره) په خلقو کی فساد غورځوي ، واقعی شیطان د انسان ښکاره دښمن دی (او وجه ددی تعلیم دا ده چي په سختی سره څه فائده نه سی کیدی او هدایت او ګمراهی خو د ازلی مشیت تابع دی) ستاسی دټولو حال ستاسی پروردګار ته ښه معلوم دی (چي څوک دڅه قابل دی بس) که هغه غواړي نو په تاسی (کی په چا) به رحمت وفرمایی (یعني چاته به هدایت وکړي) یا که هغه وغواړي نو په تاسی (چاته) په عذاب ورکړي (یعني ده ته به توفیق او هدایت ورنه کړي) او مونږ ته پر دوي (دهدایت) ذمه وار کړی نه دی (او هر کله چي سره دنبوت څخه ته ذمه وار نه یی جوړسوی نو دنورو څه مجال دی ، په دی وجه په چا پسي کیدل او سختي کول بي فائدی دی) او ستا رب ښه پیژنی هغه (هم) کوم چي په آسمانونو کی دی او (هغه هم کوم چي) په مځکه کی دی (د آسمان والاو څخه مراد فرښتي او دمځکي والاو څخه مراد انسانان او پیریان دي ، مطلب دا دی چي مونږ ښه پوه یو چي په دوي کی دکمو نبی او رسول جوړول مناسب دی او دکومو نه ، په دی وجه که مونږ ته نبی جوړ کړی نو په دی کی دتعجب څه خبره ده) او دغه ډول که مونږ تاته پر نورو باندی (فضیلت درکړی دی نو تعجب څه دی څکه چي) مونږ (مخکی هم) ځینی نبیانو لره پر ځینو فضیلت ورکړی دی (او دغه ډول که مونږ تاته قرآن درکړی نو دا دتعجب څه خبره ده څکه چي ترتا مخکی) مونږ داود ﷺ ته زبور ورکړی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات او مسئلي، بدزباني او سخت کلامي دکفارو سره هم جائز نه ده)

په اول آيت کي چي يې کوم مسلمانان دکافرانو سره دسخت کلامي څخه منع کړي دي ، ددې څخه مراد دا دي چي بې ضرورته سختي کول نه دي په کار او که ضرورت وي نو بيا خو قتل هم جائز دي .

که بې حکم شرع آب خوردن خطاب است — وگر خون بفوى بريزى روا است

يعني دشريعت دحکم څخه بغير او به څښل ناروا دي او که په شرعي حکم سره وينې توي کړي نو هم جائز دي دقتل او قتال په ذريعه دکفرشوکت او د اسلام مخالفت ختميږي په دې وجه دهغه اجازه سته په ښکنځول او سخت کلامي سره نه څه قلعه فتح کيدې سي او نه چاته هدايت کيدې سي په دې وجه ددې څخه منع سوي ده امام قرطبي رحمه الله فرمايي چي دا آيت دحضرت عمر رضي الله عنه په يوه واقعه کي نازل سو ، ددې صورت دا وو چي يو سړي حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه ته ښکنځل وکړل ، ددې په جواب کي دوى هم هغه ته سخت جواب ورکى او دده دقتل اراده يې وکړه ، ددې په نتيجه کي داخطره پيدا سوه چي د دوو قبيلو په مينځ کي په جنګ ومنبلي ، پردې باندې دا آيت نازل سو .

او دقرطبي تحقيق دا دي چي په دې آيت کي مسلمانانو ته په خپل مينځ کي دخطاب کولو متعلق هدايت دي چي ديو بل سره داختلاف په وخت کي سخت کلامي دي نه کوي ، چي په دې سره شيطان د دوى په مينځ کي جنګ او فساد پيدا کوي .

وَآتَيْنَا دَاوُدَ زَبُورًا : دلته په خاص طور سره د زبور ذکر شايد څکه سوى دى چي په زبور کي دنبي کريم ﷺ متعلق دا خبر ورکړل سوى دى ، چي دوى به رسول او پيغمبر کيدو سره دملک او حکومت مالک هم وي لکه چي په قرآنکريم کي دي ، وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ : او په موجوده زبور کي هم ځيني حضراتو ددې ذکر ثابت کړى دى (تفسير حقاني)

امام بغوي رحمه الله په خپل تفسير کي دلته ليکلي دي چي زبور دالله ﷻ کتاب دى کوم چي په حضرت داود عليه السلام نازل سوى دى ، په دې کي يو سل وپنځوس سورتونه دي او ټول سورتونه صرف پردعا او حمد او ثنا باندي مشتمل دي ، په دې کي دحلالو حرامو ، فرضو او حدودو بيان نسته .

قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُونِهِ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا ﴿٥٦﴾

ووايه راوبولي کوم چي تاسو ګڼي دهغه څخه ماسوا دوى اختيار نه لري چي ليري کړي تکليف تاسي څخه

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ

اونه بدلولي سي ، دغه خلق کوم چي دوى رابولي لټوي خپل رب ته وسيله چي کوم بنده ډير نژدي دى

وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ

او اميد لري دده دمهرباني او ويريږي دده دعذاب څخه ، بيشکه ستا درب عذاب

Maktaba Tul Ishaat.com

مَحْذُورًا ﴿۵۷﴾ وَإِنْ مِّنْ قَرْيَةٍ إِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوهَا قَبْلَ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ

دبیری شی دی ، او نسته یو کلی چې مونږ به یې خراب نه کړو دقیامت څخه مخکې

أَوْ مُعَذِّبُوهَا عَذَابًا شَدِيدًا ۚ كَانَ ذٰلِكَ فِي الْكِتٰبِ مَسْطُورًا ﴿۵۸﴾

یا به یې عذاب نه کړو په عذاب سخت سره دا ده په کتاب کې لیکل سوی.

تفسیر: ته (دی خلقو ته) ووایه چې کوم تاسي دخدای څخه ماسوا (معبودان) مقرروي (لکه ملائکې او پیریان لږ دوی (دخپل تکلیف لیري کولو دپاره) راوبولی نو صحیح ده نو دغه نه ستاسي څخه دتکلیف لیري کولو اختیار لري او نه یې دبدلولو (مثلاً که تکلیف بالکل لیري نه کړي نو چې لږ سپک خو یې کړي) دا خلق کوم چې مشرکان (دخپل حاجت روایي یا مشکل کشایي دپاره) رابولي هغوي په خپله دخپل رب طرف ته (درسیدو) ذریعه لټوي چې په دوی کې کوم زیات مقرب جوړیږي (یعنی دوی په خپله په طاعت او عبادت کی مشغوله دي چې دالله ﷻ قرب ورته حاصل سي اوغواړي چې دنژدیکت درجه یې نوره زیاته سي) او هغوی دهغه رحمت امیدوار دي او دهغه دعذاب څخه (دنافرمانی په صورت کی) بیریږي واقعي ستا درب عذاب دی دبیري شی (مطلب دا دی چې کله دوی په خپله عبادت کوي نومعبودان څنګه کیدی سی ، اوکله چې دوی په خپله په خپلو ضرورتونو کی اوتکلیف لیري کولو کی دالله ﷻ مجتاج دي نو دوی دنورو حاجت روایي اومشکل کشایي څنګه کولی سی) او (دکفارو) داسې یو کلی نسته کوم چې مونږ د قیامت څخه مخته هلاک نه کړي (یا دقیامت په ورځ) ددې اوسیدونکو ته (دوږخ) سخت عذاب ورنه کړي داخبره په کتاب (یعنی لوح محفوظ) کی لیکل سوي ده (نو که یو کافر دلته دهلاکیدو څخه محفوظ سی نو دقیامت په ورځ به دلوی آفت څخه نه ساتل کیږي او په طبعی مرګ سره هلاکیدل خو دکفارو سره مخصوص نه دی ټول مري ، په دی وجه دکلو په هلاکیدو سره دلته مراد دا دی چې دځه عذاب او آفت په ذریعه هلاک سی نو لنډه دا سوه چې پر کفارو کله خو په دنیا کی عذاب راڅیږل کیږي او د آخرت عذاب به ددی څخه علاوه وي اوکله داسي هم کیدی سی چې په دنیا کی څه عذاب رانه سی نود آخرت دعذاب څخه خو په هیڅ حال کی نجات نسته)

معلومات او مسئلې: يَبْتَغُونَ إِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ : دلفظ دوسیله معنی هرهغه شی دی ، کوم چې بل ته درسیدو ذریعه جوړه کړل سی او دالله ﷻ دپاره وسیله دا ده چې په علم اوعمل کی دالله ﷻ مرضی هر وخت په نظر کی ساتي اودشریعت داحکامو پابندي کوي ، مطلب دا دی چې دا ټول حضرات دخپل نیک عمل په ذریعه دالله ﷻ دنژدیکت په طلب کی لګیدل دي .

وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ : حضرت سهل بن عبدالله فرمایي چې رجا اوخوف یعنی دالله ﷻ درحمت امید وارکیدل هم اوبیره ورڅخه هم کول دا د انسان دوه مختلف حالتونه دي ، هرکله چې دا دواړه په برابره درجه کی وي نو انسان په صحیح لاره روان وي اوکه چیري په دوی کی یو کمزوری سی نو په دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

مقدار سره د انسان په حالاتو کی خرابی راځی (قرطبی)

وَمَا مَنَعَنَآ اَنْ نُّرْسِلَ بِالْاٰيٰتِ اِلَّآ اَنْ كَذَّبَ بِهَا الْاَوَّلُوْنَ ؕ

او مونږ په دی وجه نخښی لیږل بند کړل چی درواغجنی کړی دی او لنیو

وَاٰتَيْنَا ثَمُوْدَ النَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوْا بِهَا ؕ وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ

او مونږ ورکړی وه ثمودیانو ته اوښه دپوهولو دپاره پس ظلم یی وکی په هغه او نخښی چی مونږ لیږو

اِلَّا تَخْوِيْفًا ﴿۵۹﴾ وَاِذْ قُلْنَا لَكَ اِنَّ رَبَّكَ اَحَاطَ بِالنَّاسِ ؕ وَمَا جَعَلْنَا

دبیرولو دپاره ، او کله چی وویل مونږ تاته چی ستا رب راګیرکړی دی خلق او هغه کتنه

الرُّءْيَا الَّتِيْٓ اَرَيْنٰكَ اِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ فِي

چی مونږ تاته وښودله پس دپاره دازمائش دخلقو ، او داسی هغه درخته په کومه چی لعنت دی ،

الْقُرْاٰنِ ؕ وَنُخَوِّفُهُمْ ۙ فَمَا يَزِيْدُهُمْ اِلَّا طُغْيَانًا كَبِيْرًا ﴿۶۰﴾ ع

په قرآن کی او مونږ دوی بیرو پس د دوی زیاتیږی لوی شرارت.

تفسیر: او مونږ ته دخاص (فرمائشی) معجزو دلیږلو څخه صرف دا خبره مانعه ده چی مخکی خلقو د دوی (هم جنسو دفرمائشی معجزو) درواغجن والی کړی دی (اومزاج او طبیعتونه دټولو کافرانو یو شان دی نو ښکاره دا ده چی دوی به یی هم درواغجنی کړي) او (دنمونی په طور یوه قصه هم واوره چی) مونږ قوم دثمود ته (د دوی دفرمائش مطابق دحضرت صالح ﷺ دمعجزي په طور) اوښه ورکړی وه (کومه چی په عجیبه طور سره پیدا سوی وه او) کومه چی (دمعجزه کیدو په سبب فی نفسه) دپوهیدو ذریعه وه نو دغو خلقو (ددغه څخه پوهه حاصله نه کړه بلکی) ددی سره یی ظلم وکي (چی دا یی قتل کړه نو ښکاره خبره ده چی که ددی موجوده خلقو دا فرمائشی معجزي وښوول سی نو دوی به هم داسی وکړي) او مونږ داسی معجزي صرف (ددی خبري څخه) د بیرولو دپاره رالیږو (چی که چیري دا فرمائشی معجزه وويني هم او ایمان را نه وړي نو فوراً به هلاک سی او داسی سوی هم دي چی کومو خلقو ته فرمائشی معجزي ښوول سوي دي هغوي ایمان ګرسره راوړی نه دی ، دا معامله د دوی دهلاکت اوعام عذاب سبب جوړ سو او دالله ﷻ دحکمت تقاضا دا ده چی دا خلق اوس هلاک نه کړل سی ، په دی وجه د دوی فرمائشی معجزي نه ښوول کیږي ، ددی تائید ددی واقعی څخه کیږي کومه چی دی خلقو ته مخکی ورپیښه سوي ده ، چی ذکر یی دا دی چی) ته هغه وخت یاد کړه کله چی مونږ تاته وویل چی ستا رب (په خپل علم سره)

Maktaba Tul Ishaat.com

تولو خلقو (ظاهر او باطن موجوده او راتلونكي تول حالات) گير كړي دي (او په راتلونكو حالاتو كې د دوى د ايمان نه راوړل هم الله ﷻ ته معلوم دي چې يو دليل د دوى دا واقعه ده چې) مونږ (په واقعه دمعراج كې) كومه تماشا (په حالت دبيدارۍ كې) تاته ښوولې وه او كومې درختې چې په قرآنكريم كې بدوالى بيان سوى دى (يعني زقوم كوم چې دكفارو خوراك دى) مونږ دا دواړه شيان ددى خلقو دپاره موجب دگمراه كيدو كړل (يعني دى خلقو دا دواړې خبرې واوريدې او درواغجني يې كړې ، معراج خو يې په دې بنا سره درواغجن كې چې دشپې په لږ موده كې شام ته تلل او بيا آسمان ته تلل د دوى په نزد ممكن نه وو او دزقوم د درختې درواغجن والى يې په دې وه وكړو چې ددغه په دوږخ دننه كيدل وايي او په اور كې درخته څنگه پاته كيدى سي او كه وي هم نو وبه سوزي ، حال دا دى چې نه په يوه شپه كې دومره اوږد سفر كيدى سي او نه آسمان ته تلل ممكن دى او په اور كې دننه د درختې وجود دا خو گرسره د دوى په خيال كې را نغى ، حال دا دى چې هيڅ محاله خبره نه ده چې ديوې درختې مزاج الله ﷻ داسې جوړ كړي چې هغه د اوبو پرځاى په اور سره پرورش پيدا كړو ، بيا فرمايي) او مونږ دا خلق بيروو ، ليكن د دوى لويه سركښي زياتيږي (دزقوم په درخته پورې به دې خلقو مسخري هم كولې چې بيان يې سره دزيات تحقيق څخه په سورة صافات كې راځي)

معلومات او مسئلې: وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْيَا الَّتِي أَرَيْنَاكَ إِلَّا فِتْنَةً لِلنَّاسِ : يعني دمعراج په شپه چې كومه تماشه مونږ تاته ښوولې وه ، دغه دخلقو دپاره يوه فتنه وه ، لفظ دفتنې په عربي ژبه كې په ډيرو معانيو سره استعماليږي ، ددې يوه معنى هغه ده كومه چې په لنډ تفسير كې را اخيستل سوي ده يعني، گمراهي ، او يوه معنى يې د ازمائش هم راځي ، يوه معنى يې دهنگامې او فساد پورته كيدو هم راځي ، دلته ددې ټولو معانيو احتمال سته حضرت عائشې ؓ او معاويه ؓ او حسن او مجاهد وغيره دتفسير امامانو دلته د فتنې څخه مراد دا آخري معنى اخيستې ده او فرمايي چې دا فتنه دمرتد كيدو وه چې هركله نبي كريم ﷺ په شپه دمعراج كې دبيت المقدس او دهغه ځاى څخه آسمانونو ته دتلو او سهار دبيرته راتلو ذكر وكي نو ډير نوي مسلمانان خلق چې ايمان په كښې لا راسخ سوى نه وو ، دا كلام يې درواغجن كي او مرتد سول (قرطبي)

ددې واقعې څخه دا هم ثابته سوه چې لفظ د رُؤْيَا په عربي ژبه كې كه څه هم دخوب په معنى كې هم راځي ليكن دلته ورڅخه دخوب قصه مراد نه ده ځكه چې كه داسې وي نو دخلقو دمرتد كيدو هيڅ وجه نه وه ، خوب خو هر سړى هسې هم وويني ، بلكې دلته مراد د رُؤْيَا څخه يوه عجيبه واقعه په حالت دبيدارۍ كې ښوول دي ، د ذكر سوي آيت په تفسير كې ځينو حضراتو دا دمعراج دواقعې څخه علاوه پر نورو واقعاتو هم محمول كړي ده ، مگر په مجموعي اعتبار سره دلته نه تطبيق كيږي ، په دې وجه جمهورو دا واقعه پر معراج باندې محمول كړي ده (لكه قرطبي يې تفصيل كړي دى)

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰئِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ قَالَ ءَأَسْجُدُ لِمَنْ

دهركله چې مونږ وويل ملائكو ته چې سجده وكړئ آدم ؑ ته نو سجده يې وكړه بغير د ابليس څخه ، وې ويل چې

Maktaba Tul Ishaat.com

خَلَقْتَ طِينًا ﴿٦١﴾ قَالَ أَرَءَيْتَكَ هَٰذَا الَّذِي كَرَّمْتَ عَلَيَّ لَئِنْ

ایا زه سجده وکړم داسی سړی ته چی تا د ختو څخه جوړکړی؟ وې ویل آیا وینی ته دا سړی کوم چی تا زما څخه زیات کړی

أَخَّرْتَنِ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَٰمَةِ لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٦٢﴾ قَالَ

که تا مهلت را کی ماته تر قیامت دورځی پوری نو زه به قابو کړم او لاد دده مګر ډیر لږ نه ، وې فرمایل

اذْهَبْ فَمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُورًا ﴿٦٣﴾

پس زه خوك چی تا پسی لاړه سو د دوی څخه پس دوزخ دی ستا د ټولو سزا پوره بدله

وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُم بِصَوْتِكَ وَأَجْلِبْ عَلَيْهِم

او وبیره په دوی کی کوم چی ته بیرولی سی په خپل اواز سره او را وله په دوی باندی

بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَٰلِ وَالْأَوْلَٰدِ وَعِدْهُمْ

خپل سپاره او پیاده او شریك جوړ یږه د دوی ، په مالونو کی او په اولاد کی او وعده ورکوه

وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿٦٤﴾ إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ

دوی ته او وعده نه ورکوی دوی ته شیطان مګر دوکه ، هغه چی زما بندګان دی نسته تا لره په هغوی باندی

سُلْطَٰنٌ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ وَكِيلًا ﴿٦٥﴾

حکومت ، او ستا رب کافی دی کار جوړونکی.

لنډتفسیر: او (هغه وخت دیادولو قابل دی) کله چی مونږ فرښتو ته وویل چی ادم ﷺ ته سجده وکړی نو دی ټولو سجده وکړه مګر ابلیس (ونه کړه او) وي ویل ایا زه داسی سړي ته سجده وکړم کوم چی تا دخاوري څخه جوړکړی دی (په دی مردود سو ، دغه وخت) وي ویل چی دی سړي ته کوم چی تا پر ما باندی ورته لويي ورکړي ده (او په دی بنا دی ده ته دسجدي کولو حکم ماته کړی دی) نو ښه ده دا خو وښیه چی (په ده کی څه داسی فضیلت دی چی دهغه په وجه زه مردود سوم) که تا (زما د درخواست مطابق) ماته دقیامت تر وخته پوري (دمرګ څخه) مهلت راکي نو زه به (هم) بغیر دلږو خلقو (چی مخلصین به وي باقی) به دده ټول اولاد په خپل واک کی کړم (یعني ګمراه به یی کړم) ارشاد ورته وسو چی څه (څه چی ستا په وس کیدی سی کوه یی) کوم سړی چی په دوی کی ستا سره سو نو ستاسی دټولو

سزا جهنم دی پوره سزا ، او په دوی کی چی پر چا ستا واک چلیږي په خپلو چیغو سره (یعنی په غولولو او وسوسو سره) دده قدم (دسیده لاري څخه) اروه او په دوی خپل سپاره او پیاده را ولیږه (چی ستا تول لښکر یو سی په گمراه کولو کی ښه زور ولگوي) او د دوی په مال او په اولاد کی خپله حصه جوړه (یعنی مال او اولاد دگمراهي ذریعه جوړه لکه چی ولیدل سوه) او د دوی سره (د درواغ) وعدي کوه (چی په قیامت کی به په گناه باندی سزا نه وي او دا ټولی خبري شیطان ته په طور د زجر او زورني یی ویل سوي دي) او شیطان ددغو خلقو سره بالکل درواغ وعدي کوي (دا په طور دجملی معترضی وه ، مخته بیا شیطان ته خطاب دی) زما پر خاصو بندگانو باندی ستا واک نه چلیږي ، او (ای محمده ! صلی الله علیه وسلم دده واک به پر مخلصانو څنگه وچلیږي چی) ستا رب (د دوی) پوره کار ساز دی .

معلومات او مسئلي: لَاَحْتَنِكَنَّ ، د احتناک معنی ده دیو شي استیصال او فنا کول یا په پوره شان سره پرده غالب را تلل (قرطبی)

وَاسْتَفْزِزْ ، د استفزاز اصل معنی قطع کول دي ، مراد ورڅخه دلته دحق څخه قطع کول دي ، بِصَوْتِكَ صوت په معنی د اواز معلوم دی او دشیطان اواز څه دی ؟ ددی متعلق حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایی چی د غزلو اوسرودونو اوازونه او دلهو اولعبو اوازونه دا دشیطان اوازونه دي چی په دی سره دي خلق دحق څخه قطع کوي (قرطبي)

ددی څخه معلومه سوه چی تیینگ ټکور، سرودونه او موسیقی حرام دی . (قرطبي)

ابلیس حضرت آدم علیه السلام ته دسجدي نه کولو په وخت کی دوي خبري کړي وي ، اول دا چی حضرت ادم علیه السلام د خاورې څخه پیدا سوی دی او زه د اور څخه پیدا یم، تا خاوري ته پر اور باندی ښه والی او فضیلت ورکړی دا سوال دالله جل جلاله دحکم په مقابله کی دحکم دحکمت معلومولو سره متعلق وو ، چی ددی هیڅ یو مامور ته حق نسته ، دالله جل جلاله دطرف څخه یو مامور ته دطلب دحکمت به څه حق وي چی په خپله په دنیا کی انسان خپل نوکر ته دا حق نه ورکوي چی دی ورته دڅه کار ووایی نو خادم دهغه کار کولو پرځای پوښتنه وکړي چی په دی کی څه حکمت دی په دی وجه دده دا سوال ناقابل جواب مقرر سو، دلته یی جواب ورنه کړل سو ددی څخه علاوه ښکاره جواب دا دی چی یو شی ته پر بل شي باندی دفوقیت ورکولو حق هغه ذات دی کوم چی دی پیدا کوي او پالنه یی کوي ، هغه چی څه وخت یو شی پر بل شي باندی ښه کړي ، هغه ښهٔ شی، دوهمه خبره یی دا کړی وه چی که ترقیامته پوری د ژوندون راکول کیدو درخواست زما قبول سی ، نوزه به د آدم ټول اولاد بغیر دلږو څخه گمراه کړم، په ذکر سوي آیت کی الله جل جلاله ددی جواب ورکړي چی زما خاص بندگان کوم چی مخلصان دي ، پر دوی خو ستا واک نه شي چلیدی که څه هم ته خپل ټول لښکر را ولی او پوره زور خرڅ کړي ، پاته سوه غیر مخلص نو که دغه ستا واک کی راغلل نو دهغوی به هم هغه حال وي کوم چی ستا دی چی دجهنم په عذاب کی به تاسی ټول گرفتار سی ، په دی کی په ، وَأَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ : کی چی کوم دشیطانی لښکر دسپرو او پیاده وو ذکر دی ، ددی څخه دا نه لازمیږي چی په واقع کی به هم دشیطان څه افراد سپاره وي څه پیاده ، بلکي دا محاوره ده چی دپوره لښکر او پوره طاقت استعمالولو دپاره ویل کیږي اوکه په واقع کی داسی وي چی

Maktaba Tul Ishaat.com

خيني شيطانان سپاره وي او خيني پياده ، نو په دی کی هم څه وجه د انکار نسته ، اوحضرت ابن عباس ﷺ فرمايي چې هر څومره افراد هم دکفر او معصيت دامداد دپاره جنګيدو ته ځي ، دغه سپاره او پياده ټول دشيطان سپاره او پياده لښکر دي ، پاته سوه دا معامله چې شيطان ته دا څنګه معلومه سوه چې دی به دحضرت آدم ﷺ د اولاد پر بې لاري او ګمراه کولو باندی قادر سی چې ددی په بنا باندی ده دا دعوی وکړه ، نو ممکنه ده چې د انسان اجزايي ترکيبي ده ليدلی وي او ددی څخه پوه سوی وي ، چې په ده کی به دنفساني خواهشاتو غلبه وي ، په دی وجه دده په غولولو کی به ګرانوالی نه وي او په دی کی هم څه ليری والی نسته چې دا دعوی يې هم محض درواغ وي .

وَشَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ: دخلقو په مالونو او اولاد کی دشيطان دشرکت مطلب حضرت ابن عباس ﷺ دا بيان کړی دی چې په مالونو کی چې کوم مال په ناجائزو او حرامو طريقو سره حاصل سی يا په حرامو کارونو کی خرخ کړل سی ، دا دشيطان په دی کی شرکت دی ، او په اولاد کی دشيطان شرکت د اولاد په حرامي کيدو سره هم کيږي او په دی سره هم چې د اولاد نوم په مشرکانه طور سره کښيږدي يا يې دحفاظت دپاره مشرکانه رسمونه ادا کړي يا د دوی دپرورش دپاره د ادنی حرامی ذريعی اختيار کړي (قرطبي)

رَبُّكُمُ الَّذِي يُزْجِي لَكُمُ الْفُلْكَ فِي الْبَحْرِ لِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ إِنَّهُ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٦٦﴾ وَإِذَا

ستاسی رب هغه دی کوم چې چلوی ستاسی دپاره کشتی په دریاب کی چې تلاش کړی دهغه فضل هغه دی په تاسی

مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُونَ إِلَّا إِيَّاهُ فَلَمَّا نَجَّاكُمْ

باندی مهربان ، اوکله چې راسی په تاسی افت په دریاب کی ، هرسی کوم چې تاسی بلل دالله څخه ماسوا بیا چې

إِلَى الْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ وَكَانَ الْإِنْسَانُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾ أَفَأَمِنْتُمْ أَنْ يَخْسِفَ

وساتي تاسی وچې ته نو واپس سی ، او دی انسان لوی ناشکره ، ایا تاسی بې فکره سوی ددی څخه چې ننباسر

بِكُمْ جَانِبَ الْبَرِّ أَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوا لَكُمْ

تاسی ، دمځکی په یوه برخه کی یا راولیږی په تاسی دهوا څخه دبری اورونکی بیا به نه کی پیدا خپل څوک

وَكِيلًا ﴿٦٨﴾ أَمْ أَمِنْتُمْ أَنْ يُعِيدَكُمْ فِيهِ تَارَةً أُخْرَى فَيُرْسِلَ

ساتونکی ، ایا بې فکره سوی ددې څخه چې دوباره بوزی تاسی دریاب ته په بل وار ، بیا راولیږی

عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِنَ الرِّيحِ فَيُغْرِقَكُمْ بِمَا كَفَرْتُمْ ثُمَّ لَا تَجِدُوا

په تاسو یوه سخته سیلی بیا دوب کړی تاسی ، په بدله ددې ناشکرئ کی بیا به نه کی پیدا

Maktaba Tul Ishaat.com

لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِ تَبِيعًا ﴿٦٩﴾ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ اٰدَمَ وَحَمَلْنٰهُمْ فِى الْبَرِّ

دخپل طرف څخه په مونږ د دې څوك پوښتنه كوونكى او مونږ عزت وركړى دى اولاد دادم ، او سپاره كړى دى مونږ

وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ

دوى په وچه او په درياب كى او رزق وركړى دى مونږ دوى ته ، د پاكو شيانو څخه ، او فضيلت وركړى دى مونږ

خَلَقْنَا تَفْضِيْلًا ﴿٧٠﴾ ع

دوى ته ، په ډيرو هغو كوم چى پيدا كړى دى مونږ په فضيلت سره

تفسیر: (په تيرو آيتونو كى دتوحيد اثبات او دشرك باطلوالى وو ، په دى ذكر سوو آيتونو كى هم دغه مضمون په يو خاص انداز سره بيان سوى دى ، ددى خلاصه دا ده چى دالله ﷻ بى شميره عظيم الشانه نعمتونه كوم چى پر انسانانو هر وخت اوريږي ، ددى بيان كوي او ښيي چى ددى ټولو نعمتونو دركوونكى بغير دالله ﷻ څخه بل څوك نه سى كيدى او ټول نعمتونه دهغه دي نو دهغه سره بل څوك شريك ګڼل لويه ګمراهي ده ارشاد فرمايي چى) ستاسى رب داسى (منعم) دى چى ستاسى د (نفع د) پاره كښتى په درياب كى چلوي چى تاسى ددى په ذريعه رزق تلاش كړىء (په دى كى اشاره ده چى د درياب سفر دتجارت دپاره په عام طور سره دلوي نفعى سبب وي) بيشكه هغه ستاسى پر حال لوى مهربانه دى اوهركله چى تاسى ته په درياب كى څه تكليف رسيږي (مثلاً د درياب دڅپو او دهوا دطوفان څخه دغرقيدو خطره) نو بغير د خداى څخه او نور چى دچا عبادت تاسى كوئ ټول غائب سى (چى نه تاسى ته په خپله دغه وخت د دوى خيال راځي او نه يى را وبولئ او كه وي بولئ هم نو دهيڅ امداد ورڅخه د يوى ذري برابر هم توقع نسته ،دا خو په خپله په عملى طور سره ستاسى دطرف څخه دتوحيد اقرار او شرك ابطال دى) بيا كله چى تاسى وچي ته خلاص كړى راولى نو تاسى بيا دهغه څخه مخ اړوئ او انسان دى لوي ناشكره (چى دومره ژر د الله ﷻ انعام او خپل فرياد او زارى هير كړي او تاسى چى وچى ته ورسيږئ دهغه څخه مخ اړوئ) نو آيا تاسى ددى خبري څخه بي فكره سى چى تاسى وچي ته د راوستو سره په مځكه كى تباه سى (مطلب دا دى چى د الله ﷻ په نزد په درياب او وچه كى هيڅ فرق نسته ، هغه چى څنګه په درياب كى غرقول كول كيږي ، د غسى په مځكه كى هم دننه كول او غرقول كول كيږي) يا پر تاسى يوه داسى سخته هوا راوليږي كومه چى ډبري اوروي (لكه چى عاديان د داسى هوا په طوفان سره هلاك سوى وه) بيا به تاسى څوك خپل كار ساز د خداى څخه ماسوا نه كړي پيدا يا تاسى ددى څخه بى فكره سواست چى خداى ﷻ بيا تاسى درياب ته دوباره بوزي بيا پر تاسى د هوا طوفان راوليږي بيا تاسى ستاسي دكفر په سبب غرق كړي ، بيا په دى خبره (يعنى په غرقولو) څوك زمونږ څخه پوښتنه كوونكى هم تاسى ته در نه كول كيږي (چى زمونږ څخه ستاسى بدله واخلى) او مونږ اولاد د ادم عليه السلام ته

Maktaba Tul Ishaat.com

(په خاصو صفتونو ورکولو سره) عزت ورکړی دی او مونږ دوی په اوچه او په دریاب کی (پر حیواناتو، کښتیو باندی) سپاره کړل او پاکیزه اونفیس شیانو مو دوی ته ورکړل او مونږ دوی ته پر خپل ډیر مخلوقات باندی فوقیت ورکړی.

معلومات او مسئلې: (د انسان فضیلت پر اکثرو مخلوقاتو په څه وجه دی؟)

په آخري آیت کی پر اکثرو مخلوقاتو باندی د ادم ﷺ د اولاد ښه والی ذکر دی، په دی کی دوي خبر د فکر قابلي دي اوله دا چی دا ښه والی په کومو صفتونو او کومو وجهو سره دی، دوهمه دا چی په دی کی یی فضیلت ورکول په اکثرو مخلوقاتو باندی بیان کړی دی ددی څخه څه مراد دی؟

د اولی خبري تفصیل دا دی چی الله ﷻ انسان ته په مختلفو حیثیتونو سره داسی خصوصیات ورکړی دی کوم چی په نورو مخلوقاتو کی نسته، مثلاً د صورت ښائست دبدن اعتدال، دمزاج اعتدال، دقد او قامت اعتدال کوم چی انسان ته ورکړل سوی دی، بل یو حیوان ته نه دی ورکړل سوی، ددی څخه علاوه په عقل اوشعور کی ده ته خاص امتیاز ورکړل سوی دی چی ددی په ذریعه دی دټولو سفلی اوعلوی کائناتو څخه خپل کار اخیستی سی، ده ته الله ﷻ ددی قدرت ورکړی دی چی دالله ﷻ دمخلوقاتو څخه داسی مرکبات او مصنوعات تیار کړي کوم چی دده په اوسیدو اونقل اوحرکت او اطعام او لباس کی دده په مختلفو کارونو کی ښکاره سی.

دخبرو اترو د افهام او تفهیم کومه ملکه چی ده ته ورکړل سوي ده، هغه بل حیوان ته نه ده ورکړل سوی، د اشارو په ذریعه دخپل زړه خبره نورو ته ښوول دخط اوکتابت په ذریعه دخپل زړه خبره نورو ته رسول، دا ټول د انسان امتیازات دی، ځینی علماء فرمایی چی دلاسونو دګوتو په ذریعه خوراك هم دانسان خاص صفت دی، دده څخه ما سوا نور ټول حیوانات په خپلو خُلو سره خوراک کوي، خپل خوراک د مختلفو شیانو څخه دمرکب کولو او خوندناک او فائده مند جوړولو کار هم انسان کوي، باقي ټول حیوان مفرد شیان خوري، ځیني کچه غوښه خوري، ځینی وابښه میوه وغیره بهر حال ټول مفرد شیان خوري، انسان د خپل خوراک دپاره ددی ټولو شیانو څخه مرکبات تیار وي او دټولو څخه لوی فضیلت د عقل او شعور دی چی په دی سره دی خپل خالق او مالک وپیژني او دهغه رضا او نارضا معلومه کړي، درضایی تابعداري وکړي او د نارضا څخه یی ځان وساتي او دعقل او شعور په اعتبار سره دمخلوقاتو تقسیم داسی دی چی په عامو حیواناتو کی شهوات او خواهشات سته، عقل او شعور نسته، په فرښتو کی عقل او شعور سته، شهوات او خواهشات نسته، په انسان کی دا دواړه شیان جمع دي، عقل او شعور هم او شهوات او خواهشات هم دي، په دی وجه هرکله چی دي شهوات او خواهشات په عقل او شعور سره مغلوبه کړي او د الله ﷻ دناخوښو شیانو څخه به ځان محفوظ کړی نو دده مقام د ډیرو فرښتو څخه هم لوړ سی.

دوهم خبره دا چی اولاد د ادم ﷺ ته پر اکثرو مخلوقاتو باندی دفضیلت ورکولو څه مطلب دی؟ په دی کی خو هیڅ ته د اختلاف ګنجائش نسته چی ددنیا پر ټولو مخلوقاتو علوی او سلفی او ټولو حیواناتو باندی د آدم ﷺ اولاد ته فضیلت حاصل دی دغه شان پیریان چی په عقل او شعور کی د انسان په شان

Maktaba Tul Ishaat.com

دی، پر دوي هم د انسان ښه والی د ټولو په نزد مسلم دی، اوس صرف معامله دفرښتو پاته سوه چې په انسان او په فرښتو کې کوم افضل دی، په دی کی تحقیقی خبره دا ده چې په انسانانو کی عام مومنان صالحان لکه اولیاء الله دوی دعامو فرښتو څخه ښه دي، مګر خواص دملائکو لکه جبرائیل، میکائیل وغیره دوی د عامو صالحانو څخه افضل دی او خواص دمومنانو لکه انبیاء علیهم السلام دوی دخواصو ملائکو څخه هم افضل دی، باقی پاته سول کافران فاجران انسانان دغه خو ظاهره ده چې دفرښتو څخه به څه افضل سی دوی خو دحیواناتو څخه هم په اصل مقصد د فلاح او نجات کی افضل نه دي، د دوی متعلق خو دقرآن فیصله دا ده، أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ: یعنی دوی خو دحیواناتو په شان دي بلکه ددوي څخه هم زیات ګمراه دي (تفسیر مظهري) والله تعالی اعلم

يَوْمَ نَدْعُوا كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ ۖ فَمَنْ

په کومه ورځ چې را وغواړو ټول هره فرقه د دوی دسردارانو سره

أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ فَأُولَٰئِكَ يَقْرَءُونَ كِتَابَهُمْ وَلَا يُظْلَمُونَ

پس چاته چې ورسیدل دده عملنامه، په رسته لاس دده کی، نو دغه خلق به وایی خپله عملنامه او ظلم به نه وی

فَتِيلًا ﴿٧١﴾ وَمَنْ كَانَ فِي هَٰذِهِ أَعْمَىٰ فَهُوَ فِي الْآخِرَةِ أَعْمَىٰ

په دوی دیوی ذری په قدر، او څوك چې پاته سو په دی جهان کی ړوند پس هغه به په آخرت کی هم ړوند وی

وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٧٢﴾

او ډیر لیری ولاړی دلاری څخه.

تفسیر: (دهغه ورځې یادول په کار دي) په کومه ورځ چې مونږ ټول انسانان د دوی دعملنامو سره (په میدان دحشر کې) را وبلو (او دغه عملنامې دباندی راوالوزول سی بیا به دچاپه راسته لاس او دچاپه چپه لاس کې راسي) بیا دچاعملنامه چې دده په راسته لاس کی ورکړل سی (او دا به ایماندار خلق وي) نو داسی خلق به خپله عملنامه (په خوشحالی) ووایی او د دوی به یوه ذره نقصان ونه سی (یعنی دوی ته به د ایمان او عملونو پوره پوره ثواب ورکول کیږي، یوه ذره به کم نه وي برابره خبره ده که زیات ورکړل سی او دعذاب څخه خلاص هم سی اوبرابره خبره که په اوله کی یادګناهونو دسزا څکولو څخه وروسته) او کوم سړی چې په دنیاکی (دلاري دنجات دلید وڅخه) ړوند سو نو دغه به په آخرت کی هم (منزل دنجات ته درسید وڅخه) ړوند وي او (بلکی هلته به د دنیا څخه هم) زیات بی لاري به وي (ځکه چې په دنیا کی خو دګمراهی علاج ممکن وو، هلته به دا هم نه سی کیدی دا به هغه خلق وي چاته چی عملنامه د دوی په

چپه لاس کې ورکړل سي)

معلومات او مسئلې: يَوْمَ نَدْعُو كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ : په دې آيت کې لفظ دامام په معنی دکتاب دی ، لکه چې په سورة يٰس کې دی ، وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُبِينٍ : په دې کې دامام مبين څخه مراد واضح کتاب دی اوکتاب ته امام ځکه ويل کيږي چې دهيريدو او اختلاف په وخت کې دکتاب طرف ته رجوع کول کيږي، لکه د امام او مقتدا طرف ته چې رجوع کيدی سی (قرطبی)

اوترمذي دحديث په روايت دحضرت ابو هريره ﷺ څخه هم (کوم ته چې يې حسن غريب ويلی دی) دا معلوميږي چې د امام څخه مراد په دې آيت کې کتاب دی ، الفاظ دحديث دا دی .

يَوْمَ نَدْعُوا كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ قَالَ يُدْعَى أَحَدُهُمْ فَيُعْطَى كِتَابَهُ بِيَمِيْنِهِ . الحديث بطوله

د ايت ، يَوْمَ نَدْعُو كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ : په تفسير کې په خپله نبی کريم ﷺ فرمايلی دی چې يو سړی به را وبلل سی او ده ته به عملنامه په راسته لاس ورکول سی .

ددې حديث څخه دا هم متعينه سوه چې امام په معنی دکتاب دی او دا هم معلومه سوه چې دکتاب څخه مرادعملنامه ده ، په دې وجه په لنډتفسير دبيان القرآن کې يې ددې ترجمه په عملنامه سره کړې ده .

اوحضرت علي ﷺ اومجاهدوغيره مفسرين دلته دلفظ دامام معنی پيشوا اومقتداء وايی ، چې هر سړی ته به دده دپيشوا اومقتدانوم اخيستل کيږي اوبلل کيږي به ، برابره خبره ده که دغه مقتداء اوپيشوا انبياء عليهم السلام او د دوی نائبان وي ، يادګمراهی اومعصيت طرف ته دعوت ورکوونکی پيشوايان وي (قرطبی)

ددې معنی په لحاظ سره مطلب د آيت به دا وي چې په ميدان دحشر کې به هر سړی دده دمقتداء او پيشوا په نوم سره بلل کيږي او ټول به يوځای ته جمع کول کيږي ، مثلاً تابعداري کوونکی دحضرت ابراهيم ﷺ اوتابعداري کوونکی دحضرت موسی ﷺ اوتابعداري کوونکی دحضرت محمد ﷺ بيا تردې لاندې ممکنه ده چې ددې تابعداري کوونکی بې واسطې دپيشوايانو څخه نوم هم اخيستل کيږي .

عملنامه: دقرآن کريم د ډيرو آيتونو څخه معلوميږي چې په چپه لاس کې به صرف کافرانو ته عملنامه ورکول کيږي لکه چې په يو آيت کې دی ، إِنَّهُ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ : اوپه يو بل آيت کې دی ، إِنَّهُ ظَنَّ أَنْ لَنْ يَحُورَ : په اولنی آيت کې صراحةً د ايمان نفی سوې ده اوپه دوهم کې دآخرت دانکار ذکر دی اودغه هم کفر دی ، ددې دواړو دمقابلې څخه معلومه سوه چې په راسته لاس کې به عملنامه صرف مومنانو ته ورکول کيږي برابره خبره ده که متقی وي يا ګناهګار ، مومن په خپله عملنامه په خوشحالی سره ووايی ، بلکې نورو ته به يې هم ووايی ، دا خوشحالی به د ايمان او د ابدي عذاب څخه دنجات وي که څه په ځينو عملونو به سزا هم وي .

اوپه قرآن کريم کې دعملنامې په راسته اوچپه لاس کې د ورکولو کيفيت ذکرنه دی ليکن په ځينو احاديثو کې د ، تَطَايُرُ الْكُتُبِ : لفظ راغلی دی (روايت يې کړی دی احمد دعائشی ﷺ څخه مرفوعًا) اوپه ځينو روايتونو دحديث کې دی چې ټولی عملنامې به دعرش لاندې وي ، بيا به يوه هوا راسی چې ټولی

Maktaba Tul Ishaat.com

به راوا لوزوي او دخلقو لاسونو ته به يي ورسوي ، دچا راسته لاس ته دچا چپه لاس ته ، (را ایستلی دي
دا حدیث عقیلي د انس ﷺ څخه مرفوعاً (بیان القرآن د روح المعانی څخه)

وَإِن كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِي أَوْحَيْنَا

او دغه خلق خو غواړي چې واړوي تا دهغه څه څخه چې وحی یې رالیږلې

إِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ ۖ وَإِذًا لَّاتَّخَذُوكَ خَلِيلًا ﴿٧٣﴾ وَلَوْلَا

تا ته چې جوړ کړې په مونږ بغیر دهغه څخه ، او دغه وخت به جوړ کړي تا ته ، دوست ، او که نه

أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلًا ﴿٧٤﴾ إِذًا لَّأَذَقْنَاكَ

مونږ مضبوط کړی نه وی نو ته به دوی طرف ته مائله سو وای لږ اندازه ، بیا به خامخا مونږ څکولی وو

ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا ﴿٧٥﴾

تا ته دوچند (عذاب) په ژوند کی او دوچند په مرگ کی بیا به نه وای پیدا کړی تادخان دپاره په مونږ مدد کونکی

وَإِن كَادُوا لَيَسْتَفِزُّونَكَ مِنَ الْأَرْضِ لِيُخْرِجُوكَ مِنْهَا ۖ وَإِذًا

او دوی خوغوښته چې چې وبیروی تا ددی مځکی څخه چې وباسی تا ددې ځای څخه او

لَّا يَلْبَثُونَ خِلَافَكَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٧٦﴾ سُنَّةَ مَن قَدْ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ

دغه وخت به نه وو پاته سوی دوی هم ستا څخه وروسته مگر لږ ، دا دستور را روان دی دهغو رسولانو کوم چې تا

مِن رُّسُلِنَا ۖ وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيلًا ﴿٧٧﴾

څخه مخکې مونږ لیږلی دی ، دخپلو رسولانو څخه ، او بیا به نه کی پیدا ته زمونږ ددستور بدلیدل

تفسیر: او دا کافران خلق (د خپلو قوی تدبیرونو په ذریعه) ستا ددی شی څخه په اړولو لگیدلی وه، کوم چې مونږ تاته په ذریعه دوحی لیږلی دی (یعنی په دی کوشش کی لگیدلی وه چې په تاباندی دالله ﷻ دحکم څخه خلاف کار وکړي او) ددی دپاره چې ته ددی (حکم الهی) څخه ماسوا زمونږ طرف ته (عملاً) دغلطی خبري نسبت وکي (څکه چې دنبی کار دشریعت څخه خلاف کیدی نه سی ، په دی وجه نعوذ بالله که ستا څخه څه کار وسی نو ددی څخه به دا خبره لازمه سی چې دا دشریعت څخه خلاف کار

Maktaba Tul Ishaat.com

ګویا دالله ﷻ طرف ته منسوب کوي) او په داسې حالت کې به یې ته خالص دوست جوړ کړی وای او (د دوی دا شرارت داسې سخت وو چې) که مونږ ته ثابت قدم نه وای جوړ کړی (یعنی معصوم کړی مونه وای) نو ته به د دوی طرف ته څه ناڅه مائله کیدو ته نژدې سوی وای (او) که داسې سوی وای (چې ستا څه میلان دوی طرف ته سوی وای) نو مونږ په تاته (په دې وجه چې دبارګاه د مقربانو مقام ډیر لوړ دی) په حالت د ژوند کې هم او وروسته د مرګ څخه هم دوه چنده عذاب څکلی وای بیا به تا زمونږ په مقابله کې څوک مددګار نه وای پیدا کړی (مګر چونکې ته مونږ معصوم او ثابت قدم جوړ کړی یې، په دې وجه دوی طرف ته یوه ذره هم میلان ونه سو او ددې عذاب څخه محفوظ سوې) او دا (کافران) خلق ددې مځکې (مکې یامدینې څخه ستا په ایستلو باندې) لګیدلی وه چې تا ددې ځای څخه وباسي او که داسې سوی وای نو ستا څخه وروسته به دوې هم ډیر کم (دلته) پاته سوی وای، لکه چې دهغو پیغمبرانو په باره کې (زمونږ) قاعده پاته سوې ده کوم چې ستا څخه مخکې مونږ رسولان رالیږلي وه (چې کله د دوی قوم دوی دوطن څخه ایستل نو بیا ددغه قوم هم هلته پاته کیدل نه دي نصیب سوي) او ته به زمونږ په قاعده کې بدلون نه کړې پیدا.

معلومات او مسئلې: په ذکر سوو ایتونو کې اولنی دري آیتونه دیوي خاصې واقعې سره تعلق لري په تفسیر مظهري کې ددې واقعې دتعین متعلق څو روایتونه نقل سوي دي چې په هغه کې په اشاراتو دبیان القرآن اقرب او مؤید دا واقعه ده، کومه چې ابن ابی حاتم را ایستلې ده، په روایت دجبیر ابن نضر رضی الله عنه نقل کوي چې دمکې د قریشو یو څو سرداران دنبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سوه او عرض یې وکړي چې که ته واقعي زمونږ طرف ته رالیږل سوی یې نو دخپل مجلس څخه دا غریبانان بدحاله خلق لیری کړه دکومو سره چې کښېنستل زمونږ دپاره سپکوالی دی نو مونږ به هم بیا ستا اصحاب او دوستان سو، د دوی په دې خبره باندې درسول کریم ﷺ څه خیال پیدا سو چې د دوی خبره که پوره سي نو شاید چې دوی مسلمانان سي نو په دې دا آیتونه نازل سول.

په دې آیتونو کې نبي کریم ﷺ خبر سو چې د دوی خبره فتنه ده، د دوی دوستي هم فتنه ده ته د دوی خبره مه منه، او بیا ارشاد فرمایي چې که زمونږ دطرف څخه ستا دتربیت او ثابت قدم پاته کیدو اهتمام نه وای نو څه لیری خبره نه وه چې ته د دوی خبري ته مائله سوی او لږ نژدې سوی وای.

په تفسیر مظهري کې دي چې ددې آیت څخه دا خبره په واضح طور سره معلومیدی سي چې دکافرانو قریشو ددې عبث خبري طرف ته دنبي کریم ﷺ دمیلان څو هیڅ احتمال نه وو، البته میلان ته دنژدې کیدو څخه معمولي غوندې امکان وو، لیکن الله ﷻ معصوم جوړ کي او ددې څخه یې هم محفوظ کي، که فکر وسي نو دا آیت دانبیاء علیهم السلام پر اعلی ترین پاکیزه خلق او طبیعت باندې لوی دلیل دی چې که پیغمبرانه عصمت هم نه وای، بیا هم دنبي فطرت داسې وو چې دکفارو دلغوو خبرو طرف ته میلان کیدل د دوی څخه ممکن نه وو، البته میلان ته څه نژدې دلږ څه قدر احتمال وو کوم چې پیغمبرانه عصمت هغه ختم کي.

Maktaba Tul Ishaat.com

إِذًا لَّأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ : یعنی که بفرض محال ته د دوی دغلط روش میلان طرف ته نژدی سوی وای ، نوستاعذاب به په دنیاکی هم دوه چنده وای او دمرگ څخه وروسته به په قبر یا آخرت کی هم دوه چنده وای څکه چی دمقربینو دبارگاه معمولی غلطی هم ډیره لویه گڼل کیږي او دامضمون تقریباً هغه دی کوم چی دپاکو بیبیانو متلعق په قرآن کریم کی راغلی دی ، يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُضَاعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ : یعنی ای دنبی بیبیانو که په تاسی کی چا ښکاره د بي حیایی کار وکي نو هغه ته به دوه چنده عذاب ورکول سی ، وَإِن كَادُوا لَيَسْتَفِزُّونَكَ : د استفزاز لفظی معنی دقطع کولو ده ، دلته مراد نبی کریم ﷺ ته دخپل ځای د اوسیدو مکی یامدینی څخه ایستل دي اومعنی د آیت دا ده چی نژدی وه چی دا کفار تا دخپلی مځکی څخه وباسی او که دوی داسی کړی وای ، نو ددي سزا به دوی ته دا ورکول سوی وای چی دوی به هم تر تا وروسته ډیر وخت په دی کی نه وای پاته ، دا د یوي دوهمی واقعی بیان دی او ددی په تعین کی هم دوه روایتونه نقل دي ، یوه واقعه دمدینی طیبی ده چی دمدینی یهود یوه ورځ دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سول او عرض یی وکي چی ای ابو القاسم ﷺ که ته دخپل نبوت په دعوی کی رښتینی یی نو تاته په کار دي چی شام ته ولاړ سی او هلته واوسیږي ، ځکه چی شام دمحشر مځکه ده او دغه د انبیاء علیهم السلام مځکه ده، په نبی کریم ﷺ باندی ددی خبري څه اثر وسو او دتبوک د غزا په وخت کی کوم چی دشام سفر وو ، د دوی اراده دا وه چی شام خپل یو داوسیدو ځای جوړ کړي مگردا آیت نازل سو ، وَإِن كَادُوا لَيَسْتَفِزُّونَكَ :چی په دی کی دی ﷺ ددی ارادي څخه منع کړل سو ، مگر ابن کثیر دا روایت دنقل کولو څخه وروسته ناقابل اطمینان گرځولی دی .
او ددی آیت مصداق یی یوه بل واقعه ښوولی ده کومه چی په مکه مکرمه کی پیښه سوی وه او ددی سورة مکی والی ددی دپاره قوي قرینه ده اوهغه واقعه دا ده چی یو واري دقریشو کافرانو دنبی کریم ﷺ دمکی مکرمی څخه دایستلو اراده وکړه ، په دی باندی الله ﷻ دا آیت نازل کي ، وَإِن كَادُوا لَيَسْتَفِزُّونَكَ : او په دی کی دمکي کفارو ته پردی باندی خبرداري ورکړل سوي دی چی که دوی نبی کریم ﷺ دمکی څخه وباسی نو بیا به په خپله هم په مکه مکرمه کی تر ډیر وخته پوري په آرام سره پاته نه سی ، ابن کثیر دا واقعه د آیت راجع مصداق گرځولی ده او بیا یی ښوولی ده چی دقرآن کریم دعذاب دا وعده هم دمکی کفارو په ښکاره سترگو ولیده چی هرکله نبی کریم ﷺ دمکی مکرمی څخه هجرت وفرمایی نو دمکي خلق یوه ورځ هم په مکه کی په آرام پاته نه سول، صرف یونیم کال وروسته الله ﷻ دوی دبدر په میدان کی جمع کړل کوم ځای چی د دوی اویا ۷۰ سرداران مړه سول او د دوی قوت مات سو ، بیا د أحد د غزا په آخري نتیجه کی پر دوی زیات هیبت راوغوړول سو او د احزاب آخري غزا خو د دوی ملا ماته کړه او دهجرت په اتم کال دنبی کریم ﷺ تول مکه فتح کړه .
سُنَّةَ مَن قَدْ أَرْسَلْنَا : په دی آیت کی دا ښوول سوي ده چی د الله ﷻ عام سنت اوقاعده د اول څخه دا راروانه ده ، چی کله یو قوم خپل نبی دوطن خپل څخه وباسی یا یی په ایستلو مجبوره کړي نو بیا دغه قوم هم هلته باقی نه سی پاته کیدی پر دوی دخدای ﷻ عذاب راځی .

أَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلٰى غَسَقِ الَّيْلِ وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ ۖ إِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ

قائموه لمونځ دختو څخه دلمر ترشپې دتیارې پورې او قرآن وواپه دسهار ، بیشکه قرآن ویل دسهار

مَشْهُودًا ﴿۷۸﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ ۖ عَسٰى أَنْ يَّبْعَثَكَ

مخامخ وي ، او دشپې څه وخت بیدار اوسه دقرآن سره دا زیات دي ستادپاره ، نژدي ده چې ودروي تا

رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا ﴿۷۹﴾ وَقُلْ رَّبِّ أَدْخِلْنِيْ مُدْخَلَ صِدْقٍ

ستا رب په مقام محمود کې ، او وواپه ای ربه! داخل کړې ما په رښتني داخلولو سره

وَّأَخْرِجْنِيْ مُخْرَجَ صِدْقٍ وَّاجْعَلْ لِّيْ مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطَانًا نَّصِيْرًا ﴿۸۰﴾

او وباسې ما په رښتوني ایستلو سره او را کړې ماته دخپل طرف څخه دحکومت مدد .

وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ۚ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا ﴿۸۱﴾

او وایه راغلل رښتیا او وتښتیدل باطل (دروغ) بیشکه دروغ دي تښتیدلو والا .

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ وَلَا يَزِيْدُ

او مونږ نازلوو دقرآن څخه په کوم چې شفاکیدی سی او رحمت دایماندار دپاره او ګناهګاروته

الظّٰلِمِيْنَ إِلَّا خَسَارًا ﴿۸۲﴾

خو په دي نقصان زیاتیږي .

لنډتفسیر: دلمر ختو څخه تر شپې دتیارې کیدو پورې لمونځونه ادا کوه (په دی کی دماپښین، ماځیګر، ماښام، ماخستن څلور لمونځونه راغلل لکه چې په حدیث کی ددی اجمال تفصیل بیان سوی دی) او د سهار لمونځ هم (ادا کوي) بیشکه دسهار لمونځ (د فرښتو) دحاضریدو وخت دی (دسهار وخت چونکی د خوب څخه دبیداریدو وخت دی چې په دی کی دسستی بیره وه په دی وجه یی دا جلا کي او په اهتمام سره یی ددی بیان وکي او دده یو زیات فضیلت یی دا هم بیان کي چې په دی وخت کی فرښتی جمع کیږي ، ددی تفصیل دحدیث څخه دا معلوم سو چې د انسان دحفاظت او دده دعملونو لیکونکی فرښتی د ورځی جلا او د شپې جلا دي ، دسهار په لمانځه کی دواړي ډلی دفرښتو جمع کیږي ، دشپې فرښتی خپل کارختم کړي او د ورځی فرښتی دخپل کار سنبالولو دپاره جمع سی ، دغه شان دماخیګر په لمانځه کی دواړي ډلی جمع کیږي او ښکاره ده چې دفرښتو اجماع دبرکت باعث ده) او څه قدر دشپې په حصه

Maktaba Tul Ishaat.com

(دپنځو لمونځونو څخه علاوه) یو زیات شی دی (ددی زائد څخه مراد دخپنو په نزد یو زیات فرض دی کوم چی خاص په نبی کریم ﷺ باندی فرض سوی دی او دنورو زائد څخه مراد نفل اخیستی دی) امید (یعنی وعده) دی چی ستا رب به تاته په مقام محمود کی ځای درکړي (دمقام محمود څخه مراد دشفاعت کبری مقام دی کوم چی به په محشر کی دټولو انسانانو دپاره نبی کریم ﷺ ته ورګول سی) او ته دا دعا کوه چی ای زما ربه (دمکی دتلو څخه وروسته) زما (کوم ځای ته چی بیول وي) په خوبی (یعنی راحت) سره ورسوي او (کله چی دمکی څخه بیول وي نو) ما په خوبی (یعنی راحت) سره بوزي او ماته دخپل طرف څخه (پردی کفارو) داسی غلبه راکړي چی ورسره (ستا) نصرت (او مدد) وي (چی دغه غلبه باندی پائیداره او ترقی پذیره وي، کنه نو عارضی غلبه خو کله کافرانو ته هم کیدی سی، مګر ددی سره دالله ﷻ نصرت نه وي په دی وجه پائیداره نه وي) او ووایه چی (پس اوس دین) حق (غالبیدو ته) راغی او باطل ولاړی ختم سو، واقعی باطل سی هم دغسی ځی راځی (دهجرت څخه وروسته مکه فتح سوه نو دا تولی وعدي پوره سوي) او مونږ داسی شی یعنی قرآن نازلوو چی دغه د ایماندارو په حق کی خو شفا او رحمت دی (ځکه چی دغه خلق دا منی او په دی عمل کوي چی په دی سره پر دوی رحمت کیږي او د باطلو عقیدو او فاسدو خیالاتو څخه شفا وي) او ظالمانو ته په دی سره چپه نقصان زیاتیږي (چی کله دغه خلق دا نه منی نو دالله ﷻ دقهر اوعذب مستحق سی)

معلومات او مسئلي: (ددښمنانو دمکر اوفریب څخه دبچ کیدو علاج لمونځ دی)

په تیرو آیتونو کی داسلام ددښمنانو مخالفت اونبی کریم ﷺ په مختلف قسم تکلیفونو کی د اخته کولو تدبیرونه او دهغه دجواب ذکر وو، ددی څخه وروسته په دی ذکر سوو آیتون کی نبی کریم ﷺ ته دلمانځه قائمولو په حکم کولو کی دی طرف ته اشاره ده چی ددښمنانو دمکر اوفریب او ازارونو څخه د بچ کیدو ښه علاج دلمانځه قائمول دي، لکه چی دسورة حجر په آیت کی ددی څخه په زیاتو واضحو الفاظو کی دا ارشاد دی، وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ (۹۷) فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِنَ السَّاجِدِينَ: یعنی مونږ پوهیږو چی دکفارو په زړه ازاروونکو خبرو به ستا زړه تنګیږي خو ته دالله ﷻ دحمد سره تسبیح کوه او دسجدي کوونکو څخه سه (قرطبی)

په دی آیت کی ددښمنانو د ازارونو علاج دالله ﷻ ذکر، حمد اوتسبیح اوپه لمانځه کی مشغولیدل مقرر سوی دی، دالله ﷻ ذکر اولمونځ خاصکر ددی علامه ده او دا هم ښه لیري خبره نه ده چی ددښمنانو د ازارونو څخه بچ کیدل دالله ﷻ پر مدد باندی موقوف دی، او دالله ﷻ دمدد حاصلولو دټولو څخه ښه او بهترینه ذریعه لمونځ دی، لکه چی دقرآن کریم ارشاد دی، وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ (یعنی مدد حاصل کړی په صبر او په لمانځه سره)

(دپنځه وخته لمونځونو حکم)

جمهورو امامانو دتفسیر دا آیت دپنځو لمونځو دپاره جامع حکم مقرر کړی دی ځکه چی د، دلوک: لفظ که څه په اصل کی دمیلان په معنی کی راځی اومیلان دلمر دزوال څخه شروع کیږي اولویدلی لمر ته هم

Maktaba Tul Ishaat.com

وايي ، ليکن جمهورو اصحابو او تابعينو دلته دلفظ د : د لوک معنی د لمر زوال اخيستی دی (لکه چی تفصيل يی قرطبي ، مظهري او ابن کثير کړی دی)

اِلٰی غَسَقِ الَّيۡلِ : دلفظ دغسق معنی دشپی د تياري مکمل کيدل دي امام مالک دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دغسق دا تفسير نقل کړی دی .

دغه دول په ، د لُوۡكِ الشَّمۡسِ اِلٰی غَسَقِ الَّيۡلِ : کی څلور لمونځونه را غلل دماپښين ، ماخيګر، ماښام، ماخستن ، اوپه دی کی يی د دوو لمونځونو اولنی وختونه هم وښوول چی دماپښين وخت د زوال دلمر څخه شروع کيږي او دماخستن وخت د : غَسَقِ لَيۡل څخه ، يعنی څه وخت چی دشپی تياره مکمله سی ، په دی وجه امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله دماخستن دوخت ابتداء دهغه وخت څخه شروع وايی کله چی دسور شفق څخه وروسته سپين شفق هم ولويږي دا هر چاته معلومه ده چی دلمر لويدو څخه وروسته مغرب طرف ته افق باندی يوه سرخی ښکاره سی او ددی سرخی څخه وروسته يو قسم سپينوالی پر افق باندی خپور په نظر باندی راځي ، بيادغه سپينوالی هم پريوزي ، دابنکاره خبره ده چی دشپی تياره هغه وخت مکمله سی، کله چی دغه سپينوالی پريوزی ، په دی وجه په دی لفظ کی د امام ابو حنيفه رحمه الله دمسلک طرف ته اشاره پيدا کيدی سی، نورو امامانو دسور شفق په پريوتلو دماخستن دلمانځه اولنی وخت مقرر کړی دی او دا يی دغسق ليل تفسير ګرځولی دی .

وَقُرۡاٰنَ الۡفَجۡرِ : دلته يی لفظ دقرآن ووايه ، مراد ورڅخه لمونځ دی ځکه چی قرآن دلمانځه اهم جزء دی ، اکثرو امامانو دتفسير ، ابن کثير، قرطبي، مظهري وغيره دا معنی ليکلی ده ، په دی وجه دآيت معنی دا سوه چی د ، د لُوۡكِ الشَّمۡسِ اِلٰی غَسَقِ الَّيۡلِ : په الفاظو کی دڅلورو لمونځونو بيان وو، دا دسهار دپنځم لمونځ بيان دی ددی لمونځ په جلا بيانولو کی دده دخاص اهميت اوفضيلت طرف ته اشاره ده .

كَانَ مَشۡهُوۡدًا : دا لفظ د شهادي څخه مشتق دی چی معنی يی ده حاضريدل په دی وخت کی دصحيحنو د احاديثو دوضاحت مطابق د شپي او ورځی دواړو دفرښتو دلی لمانځه ته حاضريږي ، په دی وجه ده ته مشهود ويل سوه په دی آيت کی دپنځو لمنځونو حکم په اجمال سره راغلی دی ، چی مکمل تفصيل او تشريح يی نبی کريم ﷺ په خپل قوم اوفعل سره ښوولی اوترڅو چی په دی تشريح عمل ونه سی ، يو سړی د سره لمونځ ادا کولی نه سی، معلومه نه ده چی کوم خلق په قرآن بغير د احاديثو او دبيان درسول څخه د پوهيدو دعوی کړي ، دوی به لمونځ څنګه کوي ، دغه شان په دی آيت کی په لمانځه کی دننه دقرآن د قرآئت ذکر هم اجمالاً راغلی دی ، ددی تفصيل دنبی کريم ﷺ دقول اوعمل څخه دا ثابته سوه چی دسهار په لمانځه کی په قدر دطاقت اوږد قرائت وويل سی او په ماپښين اوجمعه کی ددی څخه کم او په ماخيګر او ماخستن کی متوسط او په ماښام کی ډير مختصر په ماښام کی د اوږد قرائت او په سهار کی دلنډ چی په څينو روايتونو کی راغلی دی ، هغه عملاً متروک دي ، امام قرطبی دصحيح مسلم هغه روايت په کوم کی چی دماښام په لمانځه کی دسورة اعراف اومرسلات وغيره اوږدو سورتونو ويل يا دسهار په لمانځه کی صرف په معوذتينو اکتفاء کول نقل دي ددی دنقل کولو څخه وروسته فرمايي ،

Maktaba Tul Ishaat.com

لَمَتْرُوْكٌ بِالْعَمَلِ وَالْاِنْكَارِهِ عَلٰى مَعَاذِالتَّطْوِيْلِ وَبِاَمْرِهِ الْاَئِمَّةَ بِـالتَّخْفِيْفِ : يعني دااتفاقي واقعات په مانبام کې داوږدقرآئت اوپه سهارکې دلنډ دنبي کريم ﷺ په دائمي عمل سره دا رنګه په زباني ارشاداتو سره متروک دي (قرطبي)

(دتهجد دلمانځه وخت او ددې احکام او مسئلې)

وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْبِهٖ :لفظ دتهجد دهجودڅخه مشتق دي اودالفظ د دوومتضادمعانيودپاره استعماليږي دبيده کيدو په معنی هم راځي او دبيداريدو په معنی هم دلته د ، وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ : معنی دا ده چې د شپې په يوه برخه کې دقرآن سره بيدار اوسه ځکه چې د ، بِهٖ : ضمير دقرآن طرف ته راجع دي (مظهري) دقرآن سره دبيدار اوسيدو مطلب لمونځ ادا کول دي ، دې دشپې لمانځه ته دشريعت په اصطلاح کې د تهجد لمونځ وايي اوپه عام طورسره ددې مطلب دا اخيستل سوی دی ، چې دڅه خوب کولو څخه وروسته چې پاځي اولمونځ کوي دغه دتهجدلمونځ دی ليکن په تفسيرمظهري کې دي چې مطلب ددې آيت دومره دی چې دشپې په يوه حصه کې دلمانځه دپاره خوب پريږده اودامطلب چې څنګه دڅه وخت دپاره په خوب کولو اوبيا ولاړيدلو اولمونځ کولو باندې صادق راځي ، دغه شان دشروع څخه پر خوب وروسته کولو او لمونځ کولو باندې هم صادق دي ، په دې وجه دتهجد دپاره د اول خوب کولو شرط دقرآن مدلول نه دی ، بيا دځينو روايتونو دحديث څخه هم دتهجد په دې عامه معنی باندې يې استدلال کړی دی .

او امام ابن کثير دحضرت حسن بصري رحمه الله څخه دتهجد دلمانځه چې کوم تعريف نقل کړی دی هغه هم پردې عموم باندې شاهد دی ، دهغه الفاظ دا دي .

قَالَ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ هُوَمَاكَانَ بَعْدَ الْعِشَاءِ وَيُحْمَلُ عَلٰى مَاكَانَ بَعْدَالنَّوْمِ (ابن اکثير)

حسن بصري رحمه الله فرمايي چې دتهجد لمونځ پر هر هغه لمونځ باندې صادق دی کوم چې دماخستن څخه وروسته کول کيږي البته دعمل کولو په وجه دا دخوب څخه وروسته پر لمونځ باندې محمول کول کيږي ددې خلاصه دا سوه چې دتهجد په اصل مطلب کې دخوب څخه وروسته کيدل شرط نه دی او په الفاظو د قرآن کريم کې هم دا شرط موجود نه دی ، ليکن په عام طور سره په عمل دنبي کريم ﷺ او اصحابو کرامو رضي الله عنهم کې دا پاته سوې ده ، چې لمونځ به يې دشپې په آخره حصه کې دبيداريدلو څخه وروسته کوي ، په دې وجه ددې به صورت به دا وي .

(دتهجد لمونځ فرض دی که نفل ؟)

نَافِلَةً لَّكَ : دلفظ دنفل اونافله لغوی معنی دزياتوب ده ، په دې وجه هغه لمونځ اوصدقي خيرات وغيره ته نفل وايي کوم چې شرعاً واجب نه وي چې په کولو يې ثواب دی او په نه کولو کې يې نه څه ګناه سته او نه څه بدوالی ، په دې آيت کې دلمونځ دتهجد سره د ، نَافِلَةً لَّكَ : د الفاظو څخه ظاهراً دا ګڼل کيږي چې لمونځ دتهجد په خصوصيت دنبي کريم ﷺ دپاره نفل دی حال دا دی چې ددې په نفل والي کې نبي کريم ﷺ او ټول امت شريک دی په دې وجه ځينې تفسيرليکونکي حضرات دلته نافلة دفريضة صفت مقرر وي ، معنی داسې کوي چې په عام امت خو صرف پنځه وخته لمونځونه فرض دي ، مګر پر نبي کريم ﷺ تهجد هم يو زيات فرض دی نو دلته نافله په معنی د زياتو فرضو دی ، دعامو نفلو په معنی کې نه دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

اوصحیح تحقیق ددې معاملې دا دی چې داسلام په ابتداء کې کله چې سورة مزمل نازل سو، نودغه وخت پنځه لمونځونه خو نه وه فرض سوي، صرف دتهجد لمونځ پر ټولو فرض وو، ددې فرضو ذکرپه سورة مزمل کې دی، بیا د معراج په شپه پنځه لمونځونه فرض سول نو دتهجد فرضیت دعام امت څخه خو په اتفاق سره منسوخ سو او په دې کې اختلاف پاته دی چې دنبي کریم ﷺ څخه هم ددې فرضیت منسوخ سو یا دا په خاص طور سره د دوی پر ذمه فرض پاته سو او په دې آیت کې د، نَافِلَةً لَّكَ: دا معنی ده چې لمونځ د تهجد ستاپر ذمه یو زیات فرض دی، مګر په تفسیر قرطبي کې دي چې دا په څو وجهو سره صحیح نه ده، اول دا چې دفرضو په نفلو سره دتعبیر کولو هیڅ وجه نسته، که وویل سي چې مجاز دی نو دا به یو داسې مجاز وي چې هیڅ حقیقت به یې نه وي، بله دا چې په صحیح احادیثو کې صرف دپنځو لمونځونو دتعین سره دفرض کیدو ذکر دی اوپه یو حدیث کې ددې په آخر کې دا هم ذکر دي چې دمعراج په شپه چې اول پنځوس لمونحونه فرض سوه، بیا په کښې کمې وسوه او پنځه سوه نوکه څه هم شمیر یې کم سو خو ثواب به یې دپنځوسو ورکول کیږي او بیا فرمایي، لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ: یعنې زما قول نه بدلیږي، هرکله چې د پنځوسو حکم یې ورکړی وو، نوثواب به یې دپنځوسو ورکول کیږي که څه هم په عمل کې کمي وکړل سوه.

ددې روایتونو خلاصه دا ده چې پرعام امت اوپه خپله پر نبي کریم ﷺ دپنځو لمونځونو څخه ماسوا بل لمونځ فرض نه دی، بوه وجه دا هم چې دنافله لفظ که دلته دزیاتو فرضو په معنی کې وي، نو ددې څخه وروسته لفظ د: لَكَ، به، عَلَيْكَ، په کار وو کوم چې په وجوب باندې دلالت کوي لفظ د: لَكَ: خو صرف د جواز او اجازه دپاره استعمالیږي.

دغه شان په تفسیر مظهري کې یې صحیح دا ګڼلې ده چې هرکله دتهجد فرضیت دامت څخه منسوخ سو نو دنبي کریم ﷺ څخه هم منسوخ سو او دټولو دپاره نفل پاته سو، مګر په دې صورت کې دا سوال پیدا کیږي چې بیاپه دې کې دنبي کریم ﷺ خصوصیت څه دی؟ نفل والی خو دټولو دپاره ثابت دی، بیا د: نَافِلَةً لَّكَ: فرمایلو به څه مطلب وي؟ جواب دا دی چې د احادیثو دوضاحت مطابق دټول امت نفل اوټول نفلي عبادتونه د دوی دګناهونو کفاره اوپه فرض لمونځونو کې چې کومه کوتاهي پاته سي، دهغه دمکمل کولو کار ورکوي، مګر نبي کریم ﷺ دګناهونو څخه هم معصوم دی او دلمانځه په ادبو کې دکوتاهي څخه هم، په دې وجه د دوی په حق کې نفلي عبادت بالکل زیات دی، چې دڅه کوتاهي تدارک نه دی، بلکې محض د زیات نژدیکت ذریعه ده (قرطبي او مظهري)

(دتهجد لمونځ نفل دی او که سنت موکده ؟)

دسنت مؤکده دپاره چې د فقهاؤ کومه عامه قاعده ده چې په کوم کار نبي کریم ﷺ عملاً همیشوالی فرمایلی وي اوبغیر دمجبوري یې نه وي پریښی، هغه سنت موکده دی، بغیر ددې څخه چې په څه شرعي دلیل سره دا ثابته سي چې دا کار دنبي کریم ﷺ دپاره مخصوص وو، دعام امت دپاره نه وو، ددې قاعدې تقاضا په ښکاره دا ده چې دتهجد لمونځ هم دټولو دپاره سنت مؤکده مقرر سي نه چې صرف نفلي ځکه چې په دې لمونځ دنبي کریم ﷺ همیشوالی په سنت متواتره ثابت دی او دخصوصیت څه دلیل

Maktaba Tul Ishaat.com

یی نسته په دی وجه دعام امت دپاره هم سنت موکده په کار دی ، په تفسیر مظهری کی یی دا مختاره او راجع گنلی دی او ددی په مؤکدوالی باندی یی دحضرت ابن مسعود ﷺ ددی حدیث څخه هم دلیل نیولی دی ، په کوم کی چی نبی کریم ﷺ دهغه سړي په باره کی کوم چی اول به یی تهجد کوي بیا یی پرینبوو دی ، دا ارشاد وفرمایی چی دده په غوږکی شیطان تشی بولی کړی دی ، داسی دعذاب زورنه او خبرداروول صرف په نفلو کی نه سی کیدی ، ددی څخه معلومه سوه ، چی دا سنت مؤکده دی .

او کوم حضراتو چی تهجد صرف نفل گنلی دی ، هغوی داهمیشوالی دنبی کریم ﷺ خصوصیت گنی او د تهجد کوونکی دتهجد په پرینبوولوچی یی کوم دزورنی الفاظ ارشاد فرمایلی دی دغه په اصل کی په مطلق پرینبوولو باندی نه دی بلکی اول دعادت جوړولو څخه وروسته پر پاته کولو دی ، ځکه چی بنده د کومو نفلو عادت جوړ کړی دامت په اتفاق سره ده ته په کار دی ، چی همیشوالی پر کوی که عادت جوړولو څخه وروسته یی پریږدي نو دملامت قابل به وي ځکه چی دعادت څخه وروسته بی عذره پرینبوول یو قسم د اعراض نخښه ده او کوم چی دشروع څخه عادت نه وي پرده ، څه ملامتیا نسته (والله تعالی اعلم)

(دتهجد درکعتونو شمیر)

په صحیح بخاري اومسلم کی دحضرت عائشی ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ په رمضان یاغیر رمضان کی هیڅکله د یوولس رکعتونو څخه زیات نه دی کړی په دی یوولس رکعتونو کی د احنافو په نزد دری رکعاتو د وترو وه ، باقي اته د تهجد .

او دصحیح مسلم په یو روایت کی دصدیقی عائشی ﷺ دا الفاظ نقل دی چی نبی کریم ﷺ به په شپه کی دیارس رکعتونه کول چی وتر په کښی هم شامل دی او دوه رکعتونه سنت دسهار هم (مظهری)

دسهار سنت دشپی په لمانځه کی درمضان په وجه شمار سوی دی ، ددی روایتونو څخه معلومه سوه چی عام عادت دنبی کریم ﷺ دا وو چی دتهجد لمونځ به یی اته رکعاتونه کول .

لیکن دحضرت عائشی ﷺ دیو روایت څخه دا هم ثابت دی چی کله کله به یی ددی شمیر څخه کم په څلورو یا شپږو رکعاتونو هم اکتفاء وفرمایله ، لکه په صحیح بخاري کی ددې ﷺ څخه دا نقل دی چی حضرت مسروق دحضرت صدیقی ﷺ څخه دتهجد دلمانځه متعلق پوښتنه وکړه نو وي فرمایل چی اووه (۷) نهه (۹) او یوولس (۱۱) رکعتونه به وه ، علاوه دسنتو دسهار څخه (مظهری عن البخاری)

د احنافو دقاعدي مطابق دري رکعاتونه د وترو سره نو د اوو (۷) څخه څلور ، دنهو (۹) څخه شپږ د یوولسو (۱۱) څخه اته (۸) دتهجد رکعاتونه باته کیږي .

(دتهجد دلمونځ کیفیت)

کومه چی دعامو روایتونو دحدیثو څخه ثابته ده هغه دا ده چی په ابتداء کی دوه رکعاتونه په لنډ قرآئت سره ، بیا په باقي رکعتونو کی به قرآئت هم اوږد او رکوع اوسجده هم اوږده وه او دا اوږدوالی به اکثره دیر زیات وو کله به څه کم وو (داخلاصه دهغو روایتونو دحدیث ده کوم چی دلته په تفسیر مظهري کی نقل سوی دی)

Maktaba Tul Ishaat.com

(مقام محمود)

دنبی کریم ﷺ سره په دی آیت کی دمقام محمود وعده سوي ده او دا مقام په ټولو انبیاؤ کی دنبی کریم ﷺ دپاره مخصوص دی ، ددی په تفسیر کی اقوال مختلف دي ، مگر صحیح هغه دی کوم چی په صحیح احادیثو کی په خپله دنبی کریم ﷺ څخه نقل دی ، دا مقام دشفاعت کبریٰ دی چی په میدان دحشر کی څه وخت ټول انسانان جمع سی او هر نبی او پیغمبر ته دشفاعت درخواست وکي نو ټول انبیاء علیهم السلام به عذر وکړي ، صرف نبی کریم ﷺ ته به د اشرف عطآء سی چی دټولو انسانانو شفاعت به وفرمایی ، ددی تفصیل دحدیث په روایتونو کی اورد دی کوم چی دلته په ابن کثیر او تفسیر مظهري کی لیکلی دی .

(دانبیاؤ او نیکانو دامت شفاعت به مقبول وي)

په اسلامی فرقو کی خوارج اومعتزله دشفاعت دانبیاؤ څخه منکر دي ، دوی وایی چی گناه کبیره دهیچا په شفاعت سره نه سی معاف کیدی ، مگر احادیث متواتره پردی شاهد دی چی دپیغمبرانو بلکي دصالحانو د امت به هم دگناهگارو په حق کی شفاعت مقبول وي ، ددیرو خلقو گناهونه به په شفاعت سره معاف کړل سی .

په ابن ماجه او بیهقی کی په روایت دحضرت عثمان ﷺ منقول دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی دقیامت په ورځ به اول انبیاء ﷺ دگناهگار شفاعت کوي ، بیا به عالمان ، بیا به شهیدان ، او دیلمی په روایت د ابن عمر ﷺ نقل کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی عالم ته به وویل سی چی ته دخپلو شاگردانو شفاعت کولای سی که څه هم د دوی شمیر د آسمان دستورو برابر وي .

او ابو داود او ابن حبان په روایت د ابی دردآء ﷺ مرفوعاً نقل کړی دی چی دشهید شفاعت به دده دخاندان د اویا ۷۰ کسانو متعلق قبول سی .

مسند احمد ، طبرانی اوبیهقی په صحیح سند سره دحضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی زما د امت دیو سړي په شفاعت دقبیله ربیعه اومضر د ټولو خلقو څخه زیات سړي جنت ته داخل کړل سی .

(یو سوال او جواب)

دلته دا سوال پیدا کیږي چی کله په خپله نبی کریم ﷺ شفاعت وفرمایی او د دوی په شفاعت سره یو مومن به دوږخ کی پاته نه سی نو بیابه د امت د صالحانو اوعالمانو شفاعت څه دپاره اوڅه رنگه وي ؟ په تفسیر مظهري کی دی چی غالباً صورت به یی دا وي ، چی عالمان اوصالحان دامت چی دکومو خلقو شفاعت کول وغواړي نو دوی به خپل شفاعت دنبی کریم ﷺ په خدمت کی پیش کړي او بیا به نبی کریم ﷺ دالله ﷻ په دربار کی شفاعت وفرمایی .

فائده: په یو حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی «شَفَاعَتِيْ لِأَهْلِ الْكَبَائِرِ مِنْ أُمَّتِيْ» یعنی زما شفاعت زما دامت دهغو خلقو دپاره به وي کوموچی کبیره گناهونه کړی وي ، ددی څخه په ښکاره دا معلومیږي چی دکبیره گناهونو شفاعت به دنبی کریم ﷺ سره مخصوص وي ، هیڅ فرښته یا د امت یو فرد به د اهل کبائرو شفاعت نه سی کولای ، بلکی دصالحانو د امت شفاعت به دصغیره گناه کوونکو دپاره وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

(دتهجد لمونځ دشفاعت په مقام حاصلولو کي خاص دخل دی)

حضرت مجددّ الف ثانی رحمه الله فرمايي چې په دې آیت کې نبی کریم ﷺ ته اول دتهجد دلمانځه حکم ورکول سو ، بیا دمقام محمود یعني شفاعت کبریٰ وعده ورسره وسوه ، ددې څخه معلومیږي چې دتهجد لمانځه ته دشفاعت په مقام حاصلیدو کی خاص دخل دی .

وَقُلْ رَّبِّ أَدْخِلْنِي : الاية په تیرو آیتونو کی اول دمکی دکفارو د ازارونو او د دوی دتدبیرونو ذکر وو ، کوم چې به دوی نبی کریم ﷺ ته دتکلیف رسولو دپاره کول ، ددې سره دا ذکر هم وو چې د دوی دا تدبیرونه به کامیاب نه سی او د دوی په مقابله کی نبی کریم ﷺ ته د اصل تدبیر په درجه کی خو صرف دپنځه وخته لمونځ قائمولو او دتهجد کولو تلقین وفرمایی ددې څخه وروسته په آخرت کی دﷺ ته دټولو پیغمبرانو څخه د اعلی مقام یعني مقام محمود ورکولو وعده وفرمایله کومه چې په آخرت کی به پوره سی ، په ذکر سوي آیت کی وَقُلْ رَّبِّ أَدْخِلْنِي : الخ حق تعالی په دې دنیا کی اول دوی ته دکفارو دمکرونو او ازارولو څخه دنجات ورکولو تدبیر په صورت دهجرت دمدینی ارشاد وفرمایی او ددې څخه وروسته یې دمکی د فتحي زیری په ، وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ : کی ارشاد فرمایلی دی .

په جامع ترمذی کی دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ په مکه معظمه کی وو بیا دوی ته دمدینی منوري طرف ته دهجرت حکم وسو ، په دې باندی دا آیت نازل سو ، وَقُلْ رَّبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ : په دې کی لفظ د ، مُدْخَلَ او ، مُخْرَجَ ، دداخلیدو او خارجیدو دځای اسم ظرف دی او ددې سره دصفت دصدق دزیاتولو څخه مراد دا دی چې دا وتل او داخلیدل به ټول دالله ﷻ دمرضی مطابق په خیر او خوبی سره وي ، ځکه چې لفظ دصدق په عربی ژبه کی دهر داسی کار دپاره هم استعمالیږي کوم چې په ښکاره او باطن سره درست او ښه وي ، په قرآن کریم کی د ، قَدَمَ صِدْقٍ ، او ، لِسَانَ صِدْقٍ ، او مَقْعَدِ صِدْقٍ ، الفاظ په دې معنی کی استعمال سوی دی .

دداخلیدو دځای څخه مرادمدینه منوره او دخارجیدو دځای څخه مرادمکه مکرمه ده مطلب دادی چې یاالله په مدینه کی دې زماداخله په خیراوخوبی سره وسی چې هلته خلاف طبع او ناخوښه صورت پیښ نه سی اودمکی مکرمی څخه زماوتل په خیر اوخوبی سره وسی چې دوطن اوکورکلی محبت می په زړه کی نا خوښی پیدا نه کړي ، ددې آیت په تفسیر کی څه نور اقوال هم راغلی دی ، مګر دا تفسیر دحضرت حسن بصری رحمه الله او قتاده رحمه الله څخه نقل دی ، ابن کثیر دا اصح الاقوال ګرځولی دی ، ابن جریر رحمه الله هم دا اختیار کړی دی ، دترتیب تقاضا دا وه چې اول دمخرج اوبیا دمدخل ذکر وای ، مګر دلته په مدخل مقدم کولو اومخرج وروسته کولو کی شاید دې طرف ته اشاره وي چې دمکی مکرمی څخه وتل په خپله څه مقصود نه وو بلکه دبیت الله پرېښوول انتهایی دتکلیف شی وو ، البته داسلام او مسلمانانو دپاره د امن ځای تلاش کول مقصد وو ، دکوم چې مدینی منوري ته په داخلیدو سره د حاصلیدو امید وو .

فائده: دمقصدونو دمهم دپاره مقبوله دعا : دمدینی دهجرت په وخت کی حق تعالی نبی کریم ﷺ ته ددې دعا تلقین وفرمایی چې دمکی څخه وتل او بیا مدینی ته رسیدل دواړه په خیر خوبی اوعافیت سره دي

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی دعا اثر وو چی دهجرت په وخت کی دتعاقب کوونکو کفارو دپيد اکيدو څخه الله ﷻ پر هر قدم باندی وساتل اومدينی طيبه يی ظاهراً او باطناً د دوی او دټولو مسلمانانو دپاره سازګاره جوړه کړه په دی وجه ځينی علماء فرمايي چی دا دعا هر مسلمان ته دخپلو ټولو مقصدونو په شروع کی ياد ساتل په کار دی ، او دهر مقصد دپاره دا دعا فائده مند ده ، ددی دعا دمکمل کولو دپاره او وروسته جمله ده ،

وَاجْعَل لِّي مِن لَّدُنكَ سُلْطَانًا نَّصِيرًا : حضرت قتاده ؓ فرمايي چی نبی کريم ﷺ ته دا معلومه وه چی درسالت دمنصب د فرضو ادا کول او ددښمنانو چاپيريال کی کار کول دخپل وس کار نه دی ، په دی وجه دالله ﷻ څخه د غلبی اونصرت دعا يی وغوښتله کومه چی قبوله سوه او نخښی يی ټولو خلقو وليدی .

وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ : دا آيت دهجرت څخه وروسته دمکی دفتح په باره کی نازل سو ، حضرت ابن مسعود ؓ فرمايي چی دمکی دفتح په ورځ نبی کريم ﷺ مکی ته دا خل سو ، نو دغه وخت د بيت الله څخه چاپيره ددري سوه شپيته بتانو مجسمی ولاړي وي ځينی عالمانو ددی خاص شمير وجه دا ښودلی ده چی دمکی مشرکانو دټول کال د ورځو دپاره دهري ورځی بت جلا ايښی وو ، په دغه ورځ به يی دهغه عبادت کوی (قرطبی) حضور ﷺ چی کله دغه ځای ته ورسيدی نو دا آيت د دوی پر ژبه مبارکه وو ، جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ : او خپله لکړه به يی يو يو بت را ايله کوي او تلی به (بخاری او مسلم) په ځينو روايتونو کی دی چی دغه لکړی ته د اوسپنی لاسدی لګيدلی وو ، کله چی به نبی کريم ﷺ د يو بت سينی ته وروا چوله نو هغه به نسکور رالويدی ، تردی چی دا ټول بتان يی را واچول او بيا يی دماتو حکم وکي (قرطبی په حواله دقاضی عياض او قشيری)

(دشرک کفر اوباطل رسمونه او نښانات ماتول واجب دی)

امام قرطبی رحمه الله فرمايي چی په دی آيت کی ددی دليل دی چی دمشرکانو بتان او نوری مشرکانه نخښی ماتول واجب دی او ټول هغه باطل الات کوم چی صرف په ګناه کی استعماليږي ، دهغو ماتول هم په دی حکم کی دی ، ابن منذر رحمه الله فرمايي چی تصويرونه اومجسمی کومی چی دلرګی پيتلو وغ.. څخه جوړيږي ، هغه هم دبتانو په حکم کی دی ، نبی کريم ﷺ هغه پرده څيري کړه په کومه چی په نقش.. رنګ سره تصويرونه جوړ سوی وه ، ددی څخه دعامو تصويرونو حکم معلوم سو ، حضرت عيسی ؑ به په اخره زمانه کی تشريف را وړي نو دصحيح حديث مطابق به صليبونه مات کړي او خنزير به قتل کړي ، دا ټول کارونه ددی دليل دی چی دشرک او کفر او باطلو الاتو ماتول او ضائع کول واجب دی .

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ : قرآن کريم د زړونو دپاره شفاء کيدل دشرک کفر او رذيلو اخلاقو اوباطنی مرضونه دنفسونو دنجات ذريعه کيدل خو ښکاره خبره ده اوټول امت په دی متفق دی او دځينی عالمانو په نزد قرآن لکه څنګه چی دباطنی مرضونو شفا ده ، د ظاهري مرضونو هم شفا ده چی دقرآن ايتونه ويل پر مريض باندی دمول ، تعويذ ليکل اوپه غاړه کول دظاهري مرضونو دپاره هم شفا کيږي ، دحديث روايتونه پردی شاهد دی ، چی په ټول کتابونو دحديثو کی د ابو سعيد خدري ؓ دا حديث موجود دی چی د صحابه کرامو ؓ يوه ډله په سفر وه ، ديوکلی سردار لړم چيچلی وو ، خلقو دصحابه کرامو ؓ

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه پوښتنه وکړه چې په تاسې کې څوک دده علاج کولای سي؟ دوی ﷺ اووه واره سورة فاتحه وویل او دم یې کړه اومریض باندې جوړ سو، بیا یې دنبي کریم ﷺ په مخکې ددې ذکر وکړ نو دوی دصحابه کرامو ﷺ دا عمل جائز وګرځوي.

دغه شان دنورو ډیرو روایتونو دحدیثو څخه په خپله دنبي کریم ﷺ معوذتین ویل اودمول ثابت دی او داصحابو او تابعینو څخه دمعوذاتو او نورو سورتونو او آیتونو دقرآن په ذریعه دمریضانو علاج کول او لیکل په غاړه ثابت دی، کوم چې ددې آیت لاندې قرطبي په تفصیل سره لیکلي دي.

وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إِلَّا خَسَارًا: ددې څخه معلومه سوه چې قرآن هرکله په ادب عقیده او احترام سره وویل سي نو ددې شفاء کیدل لکه څنګه چې ښکاره او ثابته ده، دغه شان ددې څخه انکار یا بې ادبي دخساري او افتونو ذریعه هم ده.

وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنسَانِ أَعْرَضَ وَنَأَىٰ بِجَانِبِهِ ۖ وَإِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ كَانَ يَئُوسًا ﴿٨٣﴾

اوکله چې مونږ آرام ولیږو په انسان باندې نومخ واړوي اوپه طرف وګرځي اوکله چې ورسیږي ده ته بدي نوسي ناامیده

قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِ فَرَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ أَهْدَىٰ سَبِيلًا ﴿٨٤﴾

ته ووایه هر یو کار کوي په خپل شان سره، پس ستا سې رب ښه پوهه دی په هغه چاچې ښه یې پیدا کړه لاره.

لنډتفسیر: او(ځینو) خلقو (یعنی کافرانو) ته چې هرکله مونږ نعمتونه ورکوو (زمونږ څخه او زمونږ حکمونو څخه) مخ اړوي او پر طرف ګرځي اوهرکله چې ده ته څه تکلیف ورسیږي نو (بالکل درحمت څخه) نا امیده سي (او دا دواړه حالتونه دلیل دي دالله ﷻ څخه دبې تعلقي اودغه بنیاد دی دهرکفر اوګمراهي) ته ووایه چې (مومنان او کافران او اخیار او اشرار هریو) هر سړی په خپله طریقه کار کوي (یعنی په خپل خپل عقل صحیح باندې مقیم او دعلم یا جهل پر بنیاد مختلف قسم کارونه کوي) نو ستا رب ښه پیژني هغه کوم چې په زیاته سمه او برابره لار وي (دغه شان پر سمه لاره نه وي هغوي هم پیژني او هر یوه لره به دده دعمل موافق جزا یا سزا ورکړي، داسې نه ده چې دچا زړه غواړي بې دڅه دلیل څخه ځان پر سمه لاره وګڼي)

معلومات اومسئلې: قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِ: دلفظ: شَاكِلَتِهِ: په تفسیرکې دتیرو امامانو مختلف اقوال نقل دي، طبیعت، عادت، جبلت، نیت، طریقه وغیره اوحاصل دټولو دادی چې دهرانسان دخپل ماحول اوعاداتو اورسمونو او رواجونو په اعتبار سره یو عادت او طبیعت ثانیه جوړیږي، دده عمل ددې تابع وي (قرطبي)

په دې کې یې انسان په دې خبردار کړی دی چې دبد ماحول، بد صحبت او بدو عادتونو څخه ځان وساتي، دنیکو خلقو صحبت او ښو عادتونو سره مینه اختیار کړي (جصاص)

څکه چې دخپل ماحول اوصحبت او رسم او رواج څخه دانسان یو طبیعت جوړیږي دده هرعمل ددې تابع چلیږي، امام جصاص رحمه الله دلته د شاکله یوه معنی هم شکل هم کړې ده، ددې معنی په لحاظ سره د

Maktaba Tul Ishaat.com

آیت مطلب به داسی چی هر سړی دخپل مزاج مطابق سړی سره الفت نیسي نیک سړي دنیک سره او
شریر د شریر سره مانوسه کیږي اوپر طریقه یې ځي او ددي په تصدیق کی دالله ﷻ داقول دی ، اَلْخَبِيْثٰتُ
لِلْخَبِيْثِيْنَ وَالْخَبِيْثُوْنَ لِلْخَبِيْثٰتِ وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ : یعنی خبیثی ښځی دخبیثو سړیو دپاره او پاکی ښځی
دپاکو سړیو دپاره دي ، مراد دا دی چی هر یو دخپل مزاج مطابق دسړي او ښځی سره مانوسه کیږي او
حاصل مطلب ددی هم پردی خبره خبرداری ده چی انسان ته په کار دی چی دخراب صحبت اوخراب عادت
څخه دځان ساتلو اهتمام وکړي .

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ ۖ قُلِ الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّيْ وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا

او پوښتنه کوی ستا څخه دروح ، ته ورته ووایه روح دی زما درب په حکم سره او تاسی ته علم درکړل سوی دی لږ

قَلِيْلًا ﴿۸۵﴾ وَلَئِنْ شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ

او که مونږ وغواړو نو لیری به کړو کوم چی مونږ یې تاته وحی لیږلی ده بیا به ته پیدا نه کی

لَكَ بِهٖ عَلَيْنَا وَكِيْلًا ﴿۸۶﴾ اِلَّا رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ۭ اِنَّ فَضْلَهٗ كَانَ

دهغه دراوړو دپاره دځان دپاره په مونږ څوك ذمه وار مګر په مهربانی سره ستا درب ، د هغه بخشش په تاباندی

عَلَيْكَ كَبِيْرًا ﴿۸۷﴾ قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا

لوی دی ، ووایه که جمع سی انسانان او پیریان په دی چی راوړی

بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لَا يَاْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ

داسی قرآن هرګزبه را نه وړل سی داسی قرآن ، که څه هم مدد وکړی دیو بل

ظَهِيْرًا ﴿۸۸﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ۡ فَاَبٰٓى

او مونږ باربار پوهه کړل خلق په دی قرآن کی په هر مثل سره ،

اَكْثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿۸۹﴾

پس نه پاته کیږي ډیر خلق بغیر دناشکری کولو .

لنډتفسیر: او دا خلق ستا څخه (د امتحان په طور) د روح (دحقیقت) پوښتنه کوي ، ته (په جواب کی)
وفرمایه چی (د) روح (متعلق بس دومره اجمالاً پوه سه چی دغه یو شی کوم چی) زما رب په حکم سره جوړ

Maktaba Tul Ishaat.com

دی او (باقي ددی دمفصل حقيقت خو) تاسی ته ډير لږ علم (په قدر ستاسی دپوهی او ضرورت) درکول سوی دی (او د روح حقيقت معلومول څه ضروري شی نه دی او نه ددی حقيقت په عام طور سره په پوره کی راځی ، په دی وجه قرآن ددی حقيقت نه بيانوی) او که مونږ وغواړو نو څومره چی مونږ پرتا وحی ليږلی دی (او ددی په ذريعه مو تاته علم درکړی دی) ټول سلب کړو بيا به ددی (دوحی دبيرته راوړو دپاره) تاته زمونږ په مقابله کی څوک حمايتی هم درنه کول سی ، مګر (دا) ستا درب رحمت دی (چی داسی يی ونه کړل) بيشکه پر تا دده لوی فضل دی (مطلب دا دی چی انسان ته د روح وغيره دحقيقت علم به څه وي ، ده ته چی کوم لږ څه علم په ذريعه د وحی د الله ﷻ دطرف څخه ورکول سوی دی ، دغه هم دده څه شخصی نه دی که الله ﷻ وغواړي نو د ورکولو څخه وروسته يی هم سلب کولی سی ، مګر دی په خپل رحمت سره داسی کوي نه وجه دا ده چی پر تا دالله ﷻ ډير لوی فضل دی) ته ووايه چی که ټول انسانان او پيريان په جمع ددی خبري دپاره جمع سی چی داسی قرآن جوړ کړی خو بيا هم داسی به ونه سی که څه هم ديو بل مددګار هم جوړ سی (يعنی په دوی کی که هر يو جلا جلا کوشش کوي نو څه به کامياب سی که ټول ديو بل په مدد سره کار وکړي ، هم دقرآن مثل نه سی جوړولی) او مونږ دخلقو (دپوهولو) دپاره په دی قرآن کی دهرقسم مضمون په شان سره بيان کړی دی ، بيا هم اکثره خلق بی د انکار څخه پاته نه سول .

معلومات او مسئلي: په دی آيتونو کی په اولنی آيت کی دکفارو طرف څخه د روح متعلق يو سوال او دالله ﷻ دطرف څخه دهغه جواب ذکر دی ، لفظ د روح په لغاتو او محاوراتو کی دا ډول په قرآنکريم کی په ډيرو معانيو استعماليږي او مشهوره معني خو يی هغه ده کومه چی په عام طور سره په لفظ باندی پيژندل کيږي يعنی (جان) پر کوم چی حيات او ژوند قائم دی ، په قرآنکريم کی دا لفظ دجبرائيل امين ﷺ دپاره هم استعمال سوی دی ، نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ (۱۹۳) عَلَىٰ قَلْبِكَ : او دحضرت عيسیٰ ﷺ دپاره هم په څو آيتونو کی استعمال سوی دی ، او په خپله قرآن کريم او وحی ته هم روح ويل سوی دی ، أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا .

(د روح څخه مراد څه دی ؟)

په دی وجه دلته په اولنی آيت کی دفکر طلب خبره دا ده چی سوال کوونکو د روح سوال په کومه معنی سره کړي دی ځينی تفسير ليکونکی حضرات دسياق او سباق په رعايت سره دا سوال دوحی او دقرآن يا وحی راوړونکی فرښتی جبرائيل امين متعلق مقرر کړی دی ځکه چی ددی څخه مخکی هم په ، وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ :کی دقرآن ذکر وو ، او په وروسته آيتونو کی بيا دقرآن ذکر دی ، ددی په مناسبت دا ګنی چی په دی سوال کی هم د روح څخه مراد ، وحی او قرآن ، او يا جبرائيل دی او مطلب د سوال به دا وي چی پر تاوحيه څنګه راځي او څوک يی را وړي ؟ قرآنکريم ددی په جواب کی په دی اکتفا وکړه چی دالله ﷻ په حکم سره وحی راځي . تفصيلات او کيفيات دکومو دپاره چی سوال وو ، هغه يی ونه ښوول .

ليکن په صحيح مرفوعو احاديثو کی چی کوم ددی آيت شان نزول ښوول سوی دی ، هغه په دی باره کی صريح دی چی سوال کوونکو د روح حيوانی سوال کړی وو او مقصد دسوال د روح حقيقت معلومول وو

Maktaba Tul Ishaat.com

چې هغه څه شی دی، د انسان په بدن کې څنګه ځي راځي او څنګه په دې سره حیوان او انسان ژوندی وي؟ په صحیح بخاري اومسلم کې دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې زه یوه ورځ دنبي کریم ﷺ سره دمدینې په شاړه حصه کې روان وم دنبي کریم ﷺ په لاس مبارک کې دخرما یوه لکړه وه ، دوی پر یو څو تنو یهودیانو باندې راغلل، دې خلقو پخپل مینځ کې وویل چې محمد (ﷺ) را روان دی چې دده څخه د روح متعلق پوښتنه وکړه، نورو منع کړل، لیکن سوال کوونکو سوال وکړ چې دا سوال یې وکړ نو نبي کریم ﷺ لرګي تکیه ووهله خاموش ودریدی چې په دې سره زه په دې اندازه پوه سوم، چې پر دوی وحی نازلیدونکې دی څه وخت وروسته وحی نازله سوه نو دوی دا آیت ووایه، وَیَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ: دلته ښکاره ده چې قرآن یا وحی ته روح ویل دا دقرآن یو خاص اصطلاح وه، ددې خلقو سوال پردې محمول کول ډیره لیرې خبره ده، البته دحیواني یا انساني روح معامله داسې ده چې ددې سوال دهر سړي په زړه کې پیدا کیږي په دې وجه جمهور تفسیر لیکونکي، ابن کثیر، ابن جریر، قرطبي، بحر محیط او روح المعاني ټولو دا صحیح ګڼلې ده چې سوال د روح حیواني دحقیقت معلومولو وو، پاته سوه دا معامله چې په سیاق او سباق کې ذکر د قرآن روان دی، په مینځ کې یې د روح سوال او جواب بې جوړه دی، نو ددې جواب واضح دی چې ددې څخه مخکې آیتونو کې دکفارو اومشرکانو دمخالفت او دنارامه سوالونو ذکر راغلی چې په دې باندې یې درسالت په باره کې دنبي کریم ﷺ څخه امتحان اخیستل غوښتل، دا سوال هم ددې سلسلې یوه کړۍ ده، په دې وجه بې جوړه نه دی، خاصکر دشان نزول متعلق په یو بل صحیح حدیث کې نقل دی چې په دې کې دا خبره زیاته په وضاحت سره راغلې ده چې دسوال کوونکو مطلب دنبي کریم ﷺ درسالت امتحان اخیستل وو.

چنانچې په مسند احمد کې دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې دمکې قریشو به کوم ځای بې ځایه سوالونه دنبي کریم ﷺ څخه کول دوی ته خیال پیدا سو چې یهود علم والا دي، دوی ته دتیرو کتابونو هم علم دی چې د دوی څخه څه سوالونه حاصل کړه او په هغو دنبي کریم ﷺ څخه امتحان واخلو په دې وجه قریشو دیهودو څخه دپوښتنې کولو دپاره خپل سړي ولیږل، هغوي وویل چې تاسې دده څخه دروح متعلق پوښتنه وکړئ (ابن کثیر)

او دحضرت ابن عباس ﷺ څخه ددې آیت په تفسیر کې دا هم نقل دی چې یهودو نبي کریم ﷺ ته په خپل سوال کې دا هم ویلي وه چې ته مونږ ته دا وښیه چې پر روح عذاب څنګه وي؟ تر دغه وخته پورې پر نبي کریم ﷺ په دې باره کې څه خبره نه وه نازله سوې، په دې وجه دغه وخت یې فوراً جواب ورنه کې، بیا جبرائیل امین دا آیت راوړی نازل سو، قُلِ الرُّوحُ مِنۡ أَمۡرِ رَبِّي (ابن کثیر)

(دسوال واقعه په مکه کې پېښه سوه که په مدینه کې؟)

ددې څخه مخته دلته یوه بله خبره دنظر قابله ده، چې دشان نزول متعلق کوم دوه حدیثونه د ابن مسعود ﷺ او ابن عباس ﷺ څخه لوړ نقل سوي دي، په دې کې د ابن مسعود ﷺ د روایت مطابق دا واقعه دسوال په مدینه کې پېښه سوې ده، په دې وجه ځیني تفسیر لیکونکو دا آیت مدني مقرر کړی دی، که څه هم اکثره حصه دسورة بني اسرائیل مکي ده او دابن عباس ﷺ دروایت تعلق دمکې مکرمې دواقعې سره دی

Maktaba Tul Ishaat.com

، ددې مطابق دا آيت هم دپوره سورة په شان مکی باقي پاتـه کيږي ، په دې وجه ابن کثير دا احتمال راجح مقرر کړی دی او دابن مسعود ﷺ د روايت جواب يې دا ورکړی دی چې دا ممکنـه ده چې ددې ايت نزول په مدينه کې دويم وار سوی وی ، لکه چې دډيرو آيتونو دقرآن نزول مکرر دټولو عالمانو په نزد منل سوی دی ، او تفسر مظهري د ابن مسعود ﷺ روايت راجح مقرر کړی دی او واقعه يې دمدينی او ايت يې مدنی ګرځولی دی ، ددې يې دوې وجهې ښوولی دی، يوه داچې دا روايت په صحيحنو کې دی او دده سند د ابن عباس ﷺ د روايت څخه زيات قوي دی دوهم دا چې په دې کې په خپله صاحب دواقعي ابن مسعود ﷺ خپله واقعه بيانوي ، په خلاف د روايت د ابن عباس ﷺ څخه چې په دې کې ښکاره دا ده چې ابن عباس ﷺ دا خبره دچا څخه اوريدلې وي .

(دذکر سوي سوال جواب)

قرآنکريم دا ورکړی دی ، قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي ددې جواب په تشريح کې دتفسير ليکونکو حضراتو کلمې او تعبيرونه مختلف دي ، په دې کې دټولو څخه زيات اقرب اوواضح هغه دی کوم چې په تفسير مظهری کې حضرت قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله اختيار کړی دی هغه دا دی چې په دې جواب کې څومره خبره ښوول ضروري وه او کومه چې دعامو خلقو په خيال کې دراتلو قابله وه صرف هغه يې وښووله او د روح مکمل حقيقت دکوم چې سوال وو ، هغه يې څکه ونه ښووی چې دغه د عوامو دپوهې څخه دباندې هم وو او د دوی ضرورت ددې پر پوهيدو باندې موقوف هم نه وو ، دلته نبی کريم ﷺ ته دا حکم وسو چې ته د دوی په جواب کې دا ووايه چې روح زما دپروردګار په حکم سره دی، يعنی دغه دعام مخلوقات په شان نه دی کوم چې دمادی دتصوراتو او توالد او تناسل په ذريعه په وجود کې راځي، بلکې بلاواسطه دحق تعالی دکن په حکم سره پيدا کيدونکې شی دی ، دی جواب خو دا واضحه کړه چې روح پر عامو ماديا‌تو باندې نه سی قياس کيدی چې په دې سره هغه ټولې شبهې رفع سوې کومې چې د روح په عامو ماديا‌تو باندې دقياس کولو په نتيجه کې پيدا کيږي او د انسان دپاره دومره علم د روح متعلق کافي دی ، ددې څخه دزيات علم سره دده څه دينی يا دنيوی کار بند نه دی ، په دې وجه دغه حصه دسوال فضول اولاً يعنی مقرره سوه ، دهغه څه جواب يې ورنه کي، خاصکر کله چې ددې حقيقت پيژندل دعوامو دپاره څه کوي د لويو لويو حکماؤ او عاقلانو دپاره هم اسان نه دی .

(دهر سوال جواب ورکول ضروری نه دی دمخاطب سوال کوونکي ددينې مصلحت رعايت لازمي دی)

امام جصاص ددې جواب څخه دا مسئله را ايستلې ده چې دمفتی اوعالم دپاره دا ضروری نه ده چې د مسئلو دهر سوال او ددې دهر ارخ خامخا ورکړی ، بلکې ددينی مصلحتونو مدنظر جواب ورکول په کار دی ، کوم جواب چې دمخاطب دفهم څخه لوړ وي يا دده په غلط فهمی کې دراتلو بيره وي ، نو دهغه جواب نه دی ورکول په کار، دغه ډول بې ضرورته دلا يعنی سوالونو جواب نه دی ورکول په کار البته کوم سړی ته چې يوه داسې واقعه وړپيښه سی دکوم متعلق چې ده ته څه عمل کول په کار دي او په خپله دوی عالم نه وي نو مفتي اوعالم ته دخپل علم مطابق ده ته جواب ورکول ضروری دی (جصاص)

امام بخاری رحمه الله په کتاب العلم کې ددې مسئلې يو مستقل ترجمه الباب ايښی دی او ښوولی يې دی

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دکوم سوال په جواب سره په غلطۍ کې د پرېوتو خطره وي دهغه جواب نه دی ورکول په کار.

(د روح دحقیقت علم چاته کیدی سي او که نه ؟)

قرآنکریم ددی سوال جواب دمخاطب دفهم دضرورت مطابق ورکړی او حقیقت د روح یې بیان نه کي، مګر ددی څخه دا نه لازمیږي چې د روح په حقیقت باندی یو انسان نه سي پوهیدی او دا چې په خپله نبي کریم ﷺ ته هم ددې حقیقت معلوم نه وو، صحیح خبره دا ده چې دا آیت نه ددی نفی کوي نه اثبات، که یو نبي یا رسول ته دوحی په ذریعه یا ولي ته دکشف او الهام په ذریعه ددی حقیقت معلوم سي نو ددی آیت څخه خلاف نه ده، بلکې دعقل او فلسفې په وجه سره هم پر دی څه بحث او تحقیق وسي نو فضول او لایعني خوبه ورته ویل کیږي مګر ناجائز ورته نه سي ویل کیدی، په دی وجه ډیرو پخوانیو عالمانو او وروستنیو د روح متعلق مستقل کتابونه لیکلي دي، په آخري دور کي زمونږ استاد محترم شیخ الاسلام حضرت مولانا شبیراحمد عثماني رحمه الله په یوه لنډه رساله کی دا مسئله په بهتري انداز سره لیکلې ده او په دی کی چې په څومره حقیقت باندی پوهیدل د عام انسان دپاره ممکن دی هغه حقیقت یې ښوولی دی، چې په دغه باندی تعلیمیافته انسان قناعت کولی سي او دشبهو او اشکالونو څخه بچ کیدی سي.

فائده: امام بغوی دلته دحضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه یو مفصل روایت داسی نقل کړی دی چې دا آیت په مکه مکرمه کی نازل سوی دی، کله چې دمکې دقریشو سرداران جمع سول او مشوره یې وکړه چې محمد (ﷺ) په مونږ کی پیدا سو او ځوان سو، دده په امانت او رښتنوالی کی هیڅکله دچا څه شک نه دی راغلی او چیري پرده د دروغو ویلو تهمت هم چا نه دی لګولی، اوددي باوجود اوس چې کومه دعوی دنبوت دی کوی زمونږ په خیال کی نه راځي، په دی وجه داسی وکړي چې خپل یو وفد دمدینی عالمانو ته ولیږي او دهغوي څخه ددی په باره کی تحقیقات وکړي، چنانچې دقریشو یو وفد مدینی ته دیهودو په عالمانو پسی ولاړی، دیهودو عالمانو دوی ته مشوره ورکړه چې مونږ تاسی ته دري شیان ښیو تاسی دده څخه ددي دري سره وو پوښتنه وکړی که ده د دري سره جواب درکي نو دی نبي نه دی، دغه ډول که په دری سره وو کی یې دیو هم جواب درنه کي نو بیا هم نبي نه دی او که د دوو جواب یې درکي او د دریم شي جواب یې درنه کي نو پوهه سی چې دغه نبي دی [دا تفصیل دمعالم التنزیل ص ۱۳۴ ج ۴ مطابق دی] هغه دري سوالونه یې ورته دا وښوول چې یو خو دده څخه دهغو خلقو پوښتنه وکړه کوم چې په تیره زمانه کی د شرک څخه دځان ساتلو دپاره په یو غار کی پټ سوی وو، څکه چې د دوی واقعه عجیبه ده، دوهم دهغه سري دحال پوښتنه ورڅخه وکړه کوم چې دمشرق او مغرب سفر وکړي چې دهغه واقعه څه ده؟ دریم ورڅخه د روح متعلق پوښتنه وکړی.

دا وفد بیرته راغلی او دري سره سوالونه یې نبي کریم ﷺ ته پیش کړل، ده ﷺ وفرمایل چې زه به ددی جواب تاسی ته صبا درکړم، مګر په دی یې انشاء الله ونه ویل، ددی نتیجه دا سوه چې ترڅو ورځو پوري دوحی سلسله بنده سوه، د دولسو پنځلسو څخه واخله تر څلویښتو ورځو پوري مختلف روایتونه دي چې دوحی سلسله په کښې بنده وه، دمکی قریشو ته دخبرو کولو او بدو ردو ویلو موقع په لاس ورله چې صبا یې د جواب ورکولو دپاره یې ویلې وه نن دومره ورځې وسوی جواب ورنه کړل سو، نبي

کریم ﷺ هم پریشانه سو بیا حضرت جبرائیل امین دا آیت راوړی نازل سو، وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا (۲۳) إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ : په دی کی یی ده ﷺ ته ښوونه کړي ده چی آئنده دځه کار دکولو وعده کوي نو انشآء الله وایه او ددی ځخه وروسته یی د روح متعلق دا آیت واوریدی کوم چی لوړ ذکر سو او د اصحاب کهف واقعه او دمشرق ځخه مغرب ته دسفر کوونکی ذوالقرنین واقعه کوم چی په سورة کهف کی راتلونکی ده ، ددی آیتونه نازل سول چی د اصحاب کهف او ذوالقرنین قصی په کښی په تفصیل سره په جواب کی بیان سوي دي او د روح متعلق چی دکوم حقیقت سوال وو دهغه جواب یی ورنه کي (چی په دی سره دیهودو دهغه ښوول سوي نخښی دنبوت دربښتینوالی ثبوت وسو) دا واقعه ترمذي هم په لنډه بیان کړي ده (مظهری)

دسورة حجر آیت ۲۹ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي : لاندی د روح اونفس وغیره دحقیقت متعلق یو تحقیق په حواله دتفسیر مظهري ته تیر سوی دی ، چی په دغه کی د روح اقسام او دهر یو حقیقت تر کافی حده پوری واضح سوی دی .

وَلَئِنْ شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ : په تیر آیت کی د روح دسوال په قدر دضرورت جواب ورکړل سو د روح دحقیقت معلومولو دکوشش ځخه یی دا وویل اومنع یی وکړه چی د انسان علم که هر څومره زیات سی مگر دشیانو دحقیقت د راګیرولو په اعتبار سره کم وي ، په دی وجه په غیر ضروري بحثونو او تحقیقونو کی بوختیدل خپل وخت ضائع کول دي ، په آیت ، وَلَئِنْ شِئْنَا : کی دی طرف ته اشاره ده چی انسان ته چی څومره علم ورکړل سوی دی دغه هم دده ذاتی کمال نه دی ، الله ﷻ که وغواړي نو دغه ورځخه هم لیري کولی سی ، په دی وجه ده ته په کار دی چی پر موجوده علم دالله ﷻ شکر ادا کړي ، او په فضول اولا یعنی تحقیقاتو کی وخت نه ضائع کوي خاصکر هرکله چی مقصود تحقیق کول هم نه وي ، بلکی دبل امتحان اخیستل یا یی سپکول مقصود وي که ده داسی وکړل نو څه لیری نه ده چی دده دکجروي په نتیجه کی چی کوم علم ده ته حاصل وي ، هغه ورځخه تول واخیستل سی ، په دی آیت کی خطاب که څه هم نبی کریم ﷺ ته دی ، مگر اصل اوړول یی امت ته مقصود دی ، چی هرکله درسول علم هم دده په اختیار کی نه دی نو دنورو به څه وایاست ؟!

قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ : دا مضمون دقرآن مجید په څو آیتونو کی راغلی دی چی په دی کی ټولی انسانی دنیا ته خطاب سوی دی او دا دعوی یی کړي ده چی که تاسی قرآن دالله ﷻ کلام نه منی بلکی دیو انسان جوړ سوی یی منی ، نو بیا تاسی هم انسانان یاست ، ددی په مثل جوړ کړی وښیاست ، په دی آیت کی یی ددی دعوی سره دا هم فرمایلی دی چی صرف انسانان نه پیریان هم دځان سره یوځای کړی او بیا تاسی ټول یو سی نو دقرآن یو سورة بلکی دیو آیت مثال هم نه سی جوړولی .

ددی مضمون په دی ځای اعاده کول ممکنه ده چی ددی ښوولو دپاره وي چی تاسی کوم زمونږ درسول ځخه مختلف قسم سوالونه د روح وغیره متعلق دده درسالت اونبوت د ازمائش دپاره کوي ، نو په دی فضولو قصو پسی ولی سوي یاست ؟ په خپله قرآن کریم ته وګوري نو د دوی په رسالت اونبوت کی

Maktaba Tul Ishaat.com

دهيڅ قسم شک اوشبهې ګنجائش نه پاته کيږي ، ځکه چې هرکله دټولی دنيا پيريان اوانسانان ددې ادنی غونډي مثال نه سی پيش کولی او ورځنه عاجزه دي نو دده په کلام الهی کيدوکی څه شبهه پاته کيږي اوهرکله چې په دې تقرير سره دا ثابته سوه چې قرآن کريم دالله ﷻ کتاب دی ، نو ستا په نبوت اورسالت کی دځه شک اوشبهې ګنجائش پاته سو .

په آخري آيت ، وَلَقَدْ صَرَّفْنَا: کی يې دا وښووله چې که څه هم دقرآن کريم معجزه دومره ښکاره ده چې ددې ځخه وروسته دځه سوال اوشک او شبهې ګنجائش نه پاته کيږي ، مګر کيږي داسی چې خلق دالله ﷻ د نعمتونوشکرنه اداکوي، دقرآن دنعمت قدريې هم ونه پيژندی، په دې وجه په ګمراهی کی سرګردانه ګرځی .

وَقَالُوا لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الْاَرْضِ يَنْۢبُوْعًا ﴿٩٠﴾ اَوْ تَكُوْنَ

او وايي مونږ نه منو ستا خبره ترڅو چې جاری نه کړې مونږ دپاره دمځکی ځخه يوه چينه ، ياسی ستا

لَكَ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْاَنْهٰرَ خِلٰلَهَا تَفْجِيْرًا ﴿٩١﴾ اَوْ تُسْقِطَ السَّمَآءَ كَمَا

دپاره يوباغ دخرماوو اودانګورو پس روان سی ددې په مينځ کی نهرونه په بهيدو سره ، يارا وغورځوی په مونږ

زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا اَوْ تَاْتِيَ بِاللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ قَبِيْلًا ﴿٩٢﴾ اَوْ يَكُوْنَ

اسمان لکه چې ته وايې ټوټې ټوټې يارا اولی الله او ملائکی مخامخ ، يا سی ستا

لَكَ بَيْتٌ مِّنْ زُخْرُفٍ اَوْ تَرْقٰى فِي السَّمَآءِ ۭ وَلَنْ نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ

دپاره يو کور دسرو زرو يا وخيژې ته اسمان ته ، او مونږ نه منو ستا ختل

حَتّٰى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ ۭ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّيْ هَلْ كُنْتُ اِلَّا

ترڅوچی نازل نه کړې په مونږ يو کتاب چې مونږ يې وايو ، ته ووايه پاک دی رب زما زه څوک يم مګر

بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿٩٣﴾ وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰٓى

يو سړی يم رالیږلی سوی ، او خلق نه دی منع کړی د ايمان راوړو ځخه کله چې ورسيدې دوی ته هدايت

اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَبَعَثَ اللّٰهُ بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿٩٤﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ فِي الْاَرْضِ

مګر دی خبری چې وايي ايا الله را وليږی سړی پيغمبر ؟ ووايه که وی په مځکه کی

Maktaba Tul Ishaat.com

مَلٰٓئِكَةٌ يَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا ﴿۹۵﴾

ملائکی چی گرځیدی اوسیدی نو مونږ به نازل کړی وای په دوی داسمان څخه ملائکه پیغمبر

تفسیر: په تیرو آیتونو کی دکفارو څو سوالونه او دهغو جوابونه ذکر وه په دی ذکر سوی آیتونوکی د دوی یوڅو عنادي سوالونه او دبی سر او پښو فرمائشونو ذکر او دهغو جواب دی (اخرجه ابن جریر عن ابن عباس ﷺ) او دا خلق (سره ددی چی دمعجز قرآن په ذریعه ستا دنبوت اورسالت پوره او واضح ثبوت دوی ته ورکول سو، بیا هم دعناد په وجه ایمان نه راوړي او دا بهانی کوي چی) وایی چی مونږ په تاهیڅکله ایمان نه راوړو ترڅو چی ته زمونږ دپاره د(مکی د) مځکی څخه یوه چینه جاري نه کړي یاخاص ستا دپاره د خرما او انګورو یو باغ نه وي، بیا ددی باغ په مینځ مینځ کی ځای په ځای دیر نهرونه ته جاري کړي یالکه ته چی وایی ته پر مونږ د آسمان توټی را ونه غورځوي (لکه چی دقرآن په دی آیت کی ارشاد دی، إِنْ نَّشَأْ نَخْسِفْ بِهِمُ الْأَرْضَ أَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ: یعنی که مونږ وغواړو نو دوی به په مځکه کی دننه ننباسو او یا پر دوی د آسمان توټي راوغورځوو) یا ته الله ﷻ او فرښتی (زمونږ) مخته رانه ولی (چی مونږ یی په ډاګه ووینو) یاستا سره دسرو زرو جوړسوی کور نه وي یا ته آسمان ته (زمونږ په مځکی) ونه خیژي او مونږ خو به ستا (آسمان ته) په ختلو هیڅ کله هم یقین ونه کړو ترڅو چی (دهغه ځای څخه) ته مونږ ته یو کتاب رانه وړي کوم چی مونږ ووایو هم (او په دی کی ستا آسمان ته درسیدو تصدیق په طور درسیدو لیکلی وي) ته (ددی ټولو خرافاتو په جواب کی) وفرمایه چی پاک دی الله ﷻ زه بغیر ددی څخه چی انسان یم (مګر) پیغمبر یم بل څه یم (چی دا فرمائشونه پوره کول زما په قدرت کی وي، دا قدرت مطلقه خو صرف د الله ﷻ خاص صفت دی، بشریت خو په خپله په خپل ذات کی دعجز او بی اختیاري مقتضی ده، پاته سوه، درسالت معامله نو هغه هم ددی مقتضی نه ده چی دالله ﷻ رسول ته دی دهرشی مکمل اختیار وي، بلکی دنبوت او رسالت دپاره خو دومره خبره کافی ده چی درسالت څه صفا او واضح دلیل راسی، داسی چی دعاقلانو باندی اعتراض نه وي اوهغه دلیل دقرآن اعجاز او دنورو معجزو په صورت کی دیر واره پیش سوی دی، په دی وجه دنبوت اورسالت دپاره ددی فرمائشونه مطالبه محض عبث ده، ها الله ﷻ ته د هرڅه قدرت سته، هغه هر څه کولی سی، مګر دهغه دچا دمطالبی حق نسته، کوم شی چی هغه دحکمت مطابق وینی اوظاهر وي یی هم، مګر دا ضروري نه ده چی ستاسی ټول فرمائشونه پوره کړي) او څه وخت چی دی خلقو ته هدایت (یعنی درسالت صحیح دلیل په مثل د اعجاز دقرآن) ورسیدی دغه وخت دوی ته د ایمان راوړلو څخه بغیر ددی بل څه (دنظر قابله) خبره نسته منع کوونکی چی دوی (بشریت درسالت منافی وګڼی، په دی وجه وایی) آیا الله ﷻ بشر رسول جوړوي رالیږي (یعنی داسی نه سی کیدی) ته (په جواب کی زمونږ د طرف څخه) وفرمایه چی که پر مځکه فرښتی (اوسیدلی) وای چی پردی ګرځیدی اوسیدی نو مونږ به خامخا پر دوی د آسمان څخه فرښته رسول جوړوله رالیږله.

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات او مسئلي: (دبي سر او بي پښو عنادي سوالونو پيغمبرانه جواب)

په ذکر سوو آيتونوکی چی کوم سوالونه اوفرمائشونه دنبی کریم ﷺ څخه دخپل ایمان راوړلو شرط مقرر کړی دی ، هغه ټول داسی دی چی هر انسان چی دا واوري نو دیو قسم مسخرو او ایمان نه راوړو دعبث بهانو څخه ماسوا به یی نور هیڅ نه سی ګڼلی ، دداسی سوالونو په جواب کی انسان ته فطرتاً غصه ورځی، اوجواب بیا هم په دغسی انداز سره ورکوي ، مګرپه دی آیتونوکی چی د دوی دبی هوده سوالونو کوم جواب چی حق تعالی خپل رسول الله ﷺ ته ښوولی دی ، دغه دنظر قابل او د امت د اصلاح کوونکو دپاره همیشه دیاد ساتلو او دخپل لائحه عمل جوړولو شی دی ، چی ددی ټولو په جواب کی یی نه د دوی دبی وقوفی اظهار وکي او نه یی د دوی دعنادونو او شرارتونو ، او نه یی دوی ته څه خبره واوروله ، بلکی په ډیر ساده الفاظو کی یی اصل حقیقت واضح کي ، چی تاسی خلق شاید داسی ګڼی چی کوم سړی دخدای رسول سی ، هغه به دټولو خدایی اختیاراتو مالک او په هر شی قادر په کار وي ، دا خیال غلط دی ، د رسول کار صرف دالله ﷻ پیغام رسول دي ، الله ﷻ دده درسالت ثابتولو دپاره ډیري معجزي هم رالیږي ، مګر دغه ټولي محض دالله ﷻ په قدرت او اختیار سره وي ، رسول ته خدایی اختیارات نه سی حاصلیدی هغه یو انسان وي او د انسانی قوت او قدرت څخه وتلی نه وي ، بغیر ددی چی الله ﷻ دده د امداد دپاره خپل قوت قاهره ښکاره وفرمایی .

(دالله ﷻ رسول انسان کیدی سي ملائکي دانسانانو طرف ته رسولاني کیدی نه سي)

دعامو کفارو اومشرکانو خیال وو چی بشر یعني بنده دالله ﷻ رسول نه سی کیدی، ځکه چی دی خو زمونږ په شان د انسانی حاجتونو عادی وی ، بیا ده ته پر مونږ باندی څه فوقیت حاصل دی چی مونږ دی دالله ﷻ رسول وګڼو اوخپل مقتدا یی جوړ کړو، د دوی ددي خیال جواب په قرآن کریم کی په څو ځایونو کی په مختلفو عنواناتو سره راغلی دی ، دلته په آیت ، مَا مَنَعَ النَّاسَ : چی کوم جواب ورکړی دی ددی خلاصه دا ده چی دالله ﷻ رسول چی کومو خلقو ته لیږل کیږي دهغه د دوی دجنس څخه کیدل ضروری دی که دوی انسانان وی نو رسول هم انسان په کار دی ، ځکه چی دمختلفو جنسو والا دیو بل سره مناسبت نه وي او بی دمناسبت څخه درشد او هدایت فائده نه حاصلیږي ، که انسانانو ته فرښته رسول را ولیږي چی نه لوږه پیژنی ، نه تنده ، نه جنسی خواهشات ، نه ورته دیخ او ګرمی احساس وي ، نه کله په پر محنت ستړي کیږي ، نوهغه به د انسانانو څخه هم دغه ډول توقع لري ، د دوی دکمزوری اومجبوری احساس به ورته نه وي ، دغه ډول انسان ته چی دا معلومه وي چی دا فرښته ده نو ویل به یی چی مونږ ددی په شان کارونه کله کولای سو نو څه تابعداري به یی ورته کړی وه ، دا د اصلاح او رشد اوهدایت فائده صرف په دی صورت کی کیدی سی ، چی دالله ﷻ رسول دجنس دبشر څخه وي کوم چی دټولو انسانی جذبانو او خواهشاتو په خپله هم لرونکی وي ، مګر ددی سره ده ته یو شان دملکیت هم حاصل وي چی دعامو انسانانو او فرښتو په مینځ کي دواسطی اورابطی کار کوي ، دوحی راوړونکو فرښتو څخه یی حاصلوی اوخپلو همجنسو انسانانو ته یی رسوي .

په دی تقریر سره دا شبه هم لیري سوه چی هرکله انسان دفرښتو څخه فیض نه سی حاصلولی نو بیا رسول

Maktaba Tul Ishaat.com

سره ددې چې انسان دی ، څنګه دفرښتې څخه فیض حاصلولی سي؟
پاته سوه دا شبهه چې هرکله په رسول او امت کې جنسیت شرط دی نو بیا نبی کریم ﷺ دپیریانو رسول څنګه جوړ کړل سو ، پیریان خو د انسانانو همجنس نه دي نو جواب دا دی چې رسول صرف د انسان نه بلکې په ده کې یو شان دملکیت هم وي ، په دې وجه دجناتو هم دده سره مناسبت کیدی سي .
په آخري آیت کې دا ارشاد فرمایي چې تاسې چې سره ددې دا مطالبه کوئ چې زمونږ رسول ملائکه په کار ده ، دا مطالبه نامعقوله ده ، البته که په دې مځکه ملائکې آبادې وای او دوی ته درسول لیږلو ضرورت وای ، نو فرښته به ورته رسول راتلی ، په دې کې چې کوم په مځکه د اوسیدونکې فرښتو دا صفت ذکر سوی دی چې ، يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ : یعنی دغه فرښتې پر مځکه مطمئنې ګرځیدی راګرځیدی ، ددې څخه معلومه سوه چې فرښتو ته دفرښتو رسول جوړولو ضرورت به په هغه وخت کې وای کله چې دمځکې فرښتې په خپله آسمان ته نه سوای تللی ، بلکې په مځکه ګرځیدی راګرځیدی ، کنه نو که دوی په خپله آسمان ته د تللو قدرت لري ، نو په مځکه درسول لیږلو ضرورت به یې نه وای .

قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًۢا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۚ اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ

ووایه الله کافي دی حق ثابتونکی په مینځ زما او ستاسې کې ، هغه دی په خپلو بندګانو

خَبِيْرًۢا بَصِيْرًا ﴿۹۶﴾ وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَنْ

خبردار لیدونکی ، او چاچې لا ربنائي الله هغه دی لار پیدا کونکی او څوک چې ګمراه کړی ، بیا به

تَجِدَ لَهُمْ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِهٖ ۚ وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى

نه کې پیدا ته د دوی دپاره ، څوک ملګری دالله څخه ماسوا ، او پورته به کړو مونږ دوی په ورځ دقیامت

وُجُوْهِهِمْ عُمْيًا وَّبُكْمًا وَّصُمًّا ۚ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۚ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنٰهُمْ

نسکور روان ړانده او ګونګیان او کاڼه ، ځای د دوی دوزخ دی ، کله چې سړیږي بیا به یې ګرموی

سَعِيْرًا ﴿۹۷﴾ ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا وَقَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا

دوی ته ، دا د دوی سزا ده ، په دې وجه چې دوی منکر سوي دي دایتونو زمونږ څخه او وایي چې ایا سو مونږ

عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِيْدًا ﴿۹۸﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ

هډوکي او ذره ذره ایا مونږ به بیرته پورته سو ، نوي جوړ سوي ، ایا دوی نه ګوري

Maktaba Tul Ishaat.com

اَللّٰهَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ قَادِرٌ عَلٰٓی اَنْ یَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ

چې الله پیدا کړی دی اسمانونه او مځکه هغه قادر دی په دې چې جوړ کړي د دوی مثل

وَجَعَلَ لَهُمْ اَجَلًا لَّا رَیْبَ فِیْهِ ۭ فَاَبَی الظّٰلِمُوْنَ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿۹۹﴾ قُلْ

او مقرر کړی یې دی د دوی دپاره یو وخت چې شك په کی نسته پس انکار نه کوی ظالمان مګر ناشکری کوی

لَّوْ اَنْتُمْ تَمْلِكُوْنَ خَزَاۗىِٕنَ رَحْمَةِ رَبِّیْٓ اِذًا لَّاَمْسَكْتُمْ خَشْیَةَ

ووایه که ستاسی په لاس کی وی خزانی درحمت درب زما نوخامخا به بندی کړی وای تاسی دبیری

الْاِنْفَاقِ ۭ وَكَانَ الْاِنْسَانُ قَتُوْرًا ﴿۱۰۰﴾ ع

دخرخ کیدو څخه او دی انسان زره تنګی

تفسیر: (هرکله چې دا خلق دنبوت او رسالت دواضحو دلیلونو راتلو او تولو شکونو لیري کیدو څخه وروسته بیا هم نه مني نو) ته (آخری خبره) ووایه چې الله ﷻ زما او ستاسی په مینځ کی (د اختلاف) پوره شاهد دی (یعني خدای پوه دی چې زه په واقع کی دالله رسول یم څکه چې) هغه (حالات د) خپلو بندګانو ښه پیژني ښه ویني (ستاسی عناد هم ویني) او الله ﷻ چې څوک پر لاری کړي، هغوی په لاري وي او څوک چې بې لاري کړي نو دخدای څخه ماسوا به ته د دوی دپاره څوک مددګار پیدا نه کړي (او دکفر په وجه دوی د خدای دمدد څخه محرومه دي، مطلب دا دی چې ترڅو پوری دخدای ﷻ دطرف څخه کومک نه وي نو نه هدایت کیدی سی اونه دعذاب څخه نجات وي) او مونږ به دقیامت په ورځ دوی رانده ګونګیان او کانه پر مخی روان کړو، د دوی ځای دوزخ دی (چې داحال به یې وي چې) دغه (یعنی د دوزخ اور) هرکله لږ کمزوری سی، دغه وخت به یې مونږ د دوی دپاره نور تیز کړو، دا ده د دوی سزا په دی سبب سره چې دوی زمونږ د آیتونو څخه انکار کړی وو، او داسی به یې ویل چې آیا مونږ هډوکی او (هغه هم بالکل ذره ذره سو نو آیا مونږ به دنوی سره دوباره پیدا کړي (دقبرونو څخه) پورته سو، آیا دی خلقو ته دومره معلومه نه ده چې کوم الله ﷻ آسمانونه او مځکه پیدا کړل، هغه په دی خبره (په درجه اولی) قادر دی چې هغه د دوی په شان انسانان دوباره پیدا کړي او (انکار کوونکو ته شاید دا وسوسه وي چې په زرګونو لکونو مړه سول مګر تر اوسه خو دا وعده د دوباره ژوندي کیدو اوپورته کولو پوره نه سوه نو ددی وجه دا ده چې) د دوی د (دوباره پیدا کولو) دپاره یو میعاد مقرر سوی دی چې په دی میعاد (مقرر) کی ذره هم شک نسته، پردی هم ظالمان خلق بې انکار کولو پاته نه سول، ته وفرمایه چې که تاسی خلق زما درب درحمت (یعنی نبوت) دخزانو (یعنی کمالاتو) اختیار مند وای (چې چاته مو غوښتی ورکولی مو چاته چې مو نه غوښتی نه مو ورکولی) نو په دی صورت کی به تاسی (ددی) دخرخ کیدو دبیري څخه

ضرور لاسونه منع کړي وای (هیڅکله به مو چاته نه وای ورکړی حال دا دی چی دا شیان دچا په ورکړو کمیږي هم نه) او انسان دي ډیر تنګ زړه (چی نه کمیدونکی شي هم د ورکولو څخه منع کوي چی ددی وجه د رسولانو سره دښمنی او دبخل څخه علاوه شاید دا هم وي چی که څوک نبی او رسول جوړکړي نو بیا به دده د احکامو پابندي کول وي ، لکه یو قوم چی اتفاق وکړي چی څوک خپل بادشاه جوړکړي نو ګویا جوړکړی دوی دي ، لیکن هرکله چی هغه بادشاه جوړ سی نو دهغه به بیا اطاعت کول په کار وی)
معلومات اومسئلي : په آخری آیت کی چی کوم دا ارشاد دی چی که تاسی خلق دالله ﷻ دخزانو مالکان سی نو بخل به کوی چاته به نه یی ورکوی ، ددی بیري څخه چی که چاته یی ورکي نو ختم به سی ، که څه هم چی درب درحمت خزانه ختمیدونکی نه ده مګر انسان په خپل طبیعت سره تنګ زړه اوکم حوصله وي ، دی په فراخی سره خلقو ته د ورکړو حوصله نه لري ، په دی کی دخزانو درحمت درب په لفظ سره عامو تفسیر لیکونکو دمال او دولت خزانی مراد اخیستی دی ، او ددی ربط دتیر سره دا دی چی دمکی کفارو ددی فرمائش کړی وو چی که ته واقعی حق نبی یی نو ته دمکی په دی وچ ریګستان کی نهرونه جاري کړه اوپه شنو باغونو یی بدل کړه ، لکه دشام ملک چی دی ، ددی جواب مخکی تیر سوی دی چی تاسی ګوایا زه خدای ومنلم چی دخدای اختیاراتو مطالبه زما څخه کوی ، زه خو صرف یو رسول یم ، خدای نه یم چی څه غواړم نه کوم به یی ، دا آیت هم که ددی متعلق مقرر سی نو مطلب به داسی چی که دمکی مخکه نهری او دشین چمن جوړولو فرمائش زما دنبوت او رسالت د امتحان دپاره وي نو ددی دپاره دقرآن د اعجاز معجزه کافي ده ، د نورو فرمائشونو ضرورت نسته ، اوکه دخپل قومی اوملکی ضـ ـرت رفع کولو دپاره وي نو یاد ساتی چی که تاسی دفرمائش مطابق تاسی ته دمکی په مخکه کی هرڅه درهم کړل سی اوتاسی دخزانو مالکان جوړسی نو ددی انجام به هم قومي او دملک دعوامو خوشحالی نه وي ، بلکی دانسانی طبیعت مطابق دچاپه قبضه کی چی دا خزانی راسی هغه به دمار په شان باندی کښینی او دختمیدو دبیري څخه به یی په عوامو نه خرڅ کوي ، په دی صورت کی به بغیر ددی چی دمکی یو څو سرداران نور زیات امیران او خوشحاله سی ، عوامو ته به هیڅ فائده نه وي ، اکثرو تفسیر لیکونکو ددی آیت دا مطلب بیان کړی دی .
حضرت تهانوی په بیان القرآن کی دلته درب درحمت څخه مراد نبوت اورسالت او درحمت دخزانو څخه مراد کمالات دنبوت اخیستی دی ، ددی تفسیر مطابق ددی ربط دتیر آیت سره به داسی چی تاسی کوم د نبوت اورسالت دپاره بی سر او پښو عبث مطالبی کوي ، ددی مطلب دا دی چی زمانبوت منل نه غواړي نو آیابیاستاسی خواهش دادی چی دنبوت نظام ستاسی په لاس نوکی درکول سی چی څوک تاسی غواړي نبی یی جوړوي ، که داسی وسی نو دهغه نتیجه به دا وي چی تاسی به هیچاته هم نبوت اورسالت ورنه کړی او بخل به کوی حضرت ددی تفسیرنقل کولو څخه وروسته فرمایی چی داتفسیر دمواهب الهیه څخه دی ، چی دمقام سره زیات مطابق دی ، په دی کی نبوت په رحمت سره تعبیر کول به داسی وی لکه په آیت ، اَهُمْ يَقْسِمُوْنَ رَحْمَةَ رَبِّكَ کی چی په اجماع سره درحمت څخه مراد نبوت دی ، والله تعالی اعلم بالصواب .

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى تِسْعَ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ فَسْـَٔلْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِذْ جَآءَهُمْ فَقَالَ لَهٗ فِرْعَوْنُ

او مونږ ورکړي موسی ته نه (۹) نخښې واضحه بیا پوښتنه وکړه د بني اسرائیلو څخه کله چې هغه راغی دوی ته نو

اِنِّيْ لَاَظُنُّكَ يٰمُوْسٰى مَسْحُوْرًا ﴿۱۰۱﴾ قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ اَنْزَلَ هٰٓؤُلَآءِ

وویل ده ته فرعون زما په گمان خوای موسی په تا جادو سوی دی وي ویل چې ته پوه سوي يې چې نه دي نازل کړي

اِلَّا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ بَصَآئِرَ ۚ وَاِنِّيْ لَاَظُنُّكَ يٰفِرْعَوْنُ

دا شیان مگر رب د اسمانونو او د مځکې، پوهولو د پاره، او زما گمان دی چې ای فرعونه ته

مَثْبُوْرًا ﴿۱۰۲﴾ فَاَرَادَ اَنْ يَّسْتَفِزَّهُمْ مِّنَ الْاَرْضِ فَاَغْرَقْنٰهُ وَمَنْ

لوټ کیدل غواړي، بیایي وغوښتل چې بني اسرائلو ته ارام ورنه کړي په دغه مځکه کې بیا ډوب کړل مونږ دی

مَّعَهٗ جَمِيْعًا ﴿۱۰۳﴾ وَّقُلْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ لِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اسْكُنُوا

او دده ملگري ټوله، او وویل مونږ دده څخه وروسته بني اسرائیلو ته چې ابادوسی تاسی

الْاَرْضَ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيْفًا ﴿۱۰۴﴾ وَبِالْحَقِّ

په مځکه کې بیا چې هر کله راسي وعده د آخرت رابه ولو مونږ تاسي راټول کړي، او په حقه سره

اَنْزَلْنٰهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ۗ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿۱۰۵﴾

نازل کی مونږ دا قرآن او په حق سره نازل سو، او ته چې مونږ رالیږلی یې نو زیری ورکوونکی او بیرونکی

وَقُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ وَّنَزَّلْنٰهُ تَنْزِيْلًا ﴿۱۰۶﴾

او دویلو وظیفه کړي ده مونږ قرآن جلاجلا کړي چې ووایی ته دا پر خلقو په کراره کراره او مونږ دی لږلږ نازل کی

قُلْ اٰمِنُوْا بِهٖٓ اَوْ لَا تُؤْمِنُوْا ۭ اِنَّ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهٖٓ اِذَا

ووایه چې تاسی مني او که یې نه مني، کوموته چې علم ورکړل سوی دی، دده څخه مخکې هر کله

يُتْلٰى عَلَيْهِمْ يَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ سُجَّدًا ﴿۱۰۷﴾ وَّيَقُوْلُوْنَ سُبْحٰنَ رَبِّنَآ

چې دوی ته دا وایی پریوزي په زنو باندی سجده کوونکي، او وایي پاک دی رب زمونږ،

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُولًا ﴿۱۰۸﴾ وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَ

بيشكه زمونږ درب وعده خامخا كيدونكى ده ، او لويږي په زنو باندي ژړاكوونكى

يَزِيدُهُمْ خُشُوعًا ﴿۱۰۹﴾ السجدة

او زياتيږي د دوی عاجزی.

تفسير : او مونږ موسی (ﷺ) ته ښكاره نهه (۹) معجزي وركړي (چی ذكر يی دنهمی پاری په شپږمه ركوع كی په اولنی آيت كی دی) كله چی دی بنی اسرائيلو ته راغلی وو ، نو ته دبنی اسرائيلو څخه (كه غواړي) پوښتنه وكړه (اوچونكی دی دفرعون طرف ته هم ليږل سوی وو او دفرعون او دآل فرعون په ايمان نه راوړلو سره عجيبه معجزي ښكاره سوی وی، په دی وجه حضرت موسی ﷺ فرعون ته د ايمان را وړلو دپاره ورياد كړل او په دغو واضحو آيتونو سره يی وبيروی) نو فرعون ته وويل ای موسی ﷺ! زما په خيال كی خو خامخا په تا چا جادو كړی دی (چی په هغه سره ستا عقل خراب سوی دی او داسی د ليونو خبري كوي) موسی (ﷺ) وفرمايل ته (په زړه كی) ښه پوه يی (كه څه هم په ژبه سره دشرم په وجه اقرار نه كوي) چی دا عجائبات خاص د آسمانونو او مځكو پروردګار راليږلی دی كوم چی دپوهيدو دپاره (كافی) ذريعی دی او زما په خيال كی خامخاستا دكم بختی ورځی راغلی دي (او يا خو د فرعون دا حال وو چی دحضرت موسی ﷺ په درخواست يی هم بنی اسرائيلو ته دمصر څخه د تلو اجازه نه وركوله او) بيا (دا وسوه چی) ده (په دی احتمال سره چی هسی نه بنی اسرائيل دحضرت موسی ﷺ په اثر سره قوت ونه نيسی په خپله يی) وغوښتله چی دبنی اسرائيلو قدم ددی مځكی څخه پورته كړی (يعنی دوی دښار څخه وباسی) نو مونږ (مځكی ددی څخه چی دی كامياب سی په خپله) دی او كوم چی دده سره وه ټول غرق كړل او د دوی (د غرقيدو) څخه وروسته مونږ بنی اسرائلو ته وويل چی (اوس) تاسی پردی مځكه (دكوم ځای څخه چی يی تاسی ايستلاست مالكان سواست تاسی په دی) كی اوسی (برابره خبره ده كه په قوت سره وي يا په فعل سره مګر دا مالكيت ددنيا تر ژوند پوری دی) بيا چی هركله د آخرت وعده راسی نو مونږ په ټوله جمع كړو (دقيامت په ميدان كی به يی مملوكانه محكومانه) حاضر كړو (دا به په اوله كی وي بيا به مومن او كافر، نيک او بد جلا سی) او (لكه څنګه چی مونږ موسی ﷺ ته معجزي وركړي دي ، دغه شان تاته هم ډيري معجزي دركړل سوي چی په دی كی عظيم الشانه معجزه قرآن دی چی) مونږ دا قرآن په حق سره خو نازل كړی او دغه په حق سره (پرتا) نازل سو (يعنی لكه څنګه چی دكاتب دخوا څخه راغلی وو ، هم دغه شان مكتوب اليه ته ورسيدی او په مينځ كی په كښی څه تغير تبدل او تصرف نه دی سوی نو سراسر حق او رښتيا دی) او (لكه څنګه چی مونږ موسی ﷺ پيغمبر جوړ كړی وو او هدايت دده په اخيتار كی نه وو دغه شان) مونږ ته (هم) صرف (پر ايمان دثواب) خوشخبري وركوونكی او (پر كفر دعذاب څخه) بيرونكی راليږلی دی (كه څوک ايمان نه راوړي نو غم مه كوه) او په

Maktaba Tul Ishaat.com

قرآن (كې دصفت دحقوالى سره په مقتضاء درحمت نور هم دداسې صفتونو رعايت ساتلى دي چې ددې څخه هدايت زيات اسان سي چنانچې يوه خو دا چې په دې) كې مونږ (د آيتونو وغيره) ځاى پرځاى فاصلې جوړې كړي چې ته يې خلقو ته لږ لږ ووايې (چې دوې په ښه ډول سره باندې پوه سي ځكه چې اوږد مسلسل تقرير اكثره نه يادېږي) او (دوهمه دا چې) مونږ دي په نازلولو كې هم (د واقعاتو مطابق) په درجه درجه نازل كړى (چې معنى يې ښه واضه سي اوس ددي ټولو كارونو مقتضا دا وه چې دې خلقو ايمان راوړى واى ليكن كه په دې هم ايمان رانه وړي نو ته څه پرواه مه كوي بلكه صفا) ووايه چې كه تاسې په دې قرآن ايمان راوړئ او كه نه راوړئ (زما هيڅ پرواه نسته، په دوو وجهو سره اول خو دا چې ماته څه نقصان نسته دوهم دا چې كه تاسې ايمان نه راوړئ نو مه راوړئ نور خلق به ايمان راوړي چنانچې) كومو خلقو ته چې دقرآن (دنزول) څخه مخكې (ددين) علم وركول سوى دى (يعنى منصفان عالمان د اهل كتابو) دا قرآن چې كله د دوى په مخكې ويل كيږي نو پر زنگنو نسكور پر سجده پريوزي او وايي چې زمونږ رب (دوعده خلافى څخه) پاک دى ، بيشكه زمونږ درب وعده خامخا پوره كيدونكې دهٔ (نو دكوم كتاب چې يې پر كوم نبي دنازلولو وعده په تيرو كتابونو كې كړې وه هغه يې پوره كړه) او پر زنگنو نسكور (چې) پريوزي (نو) ژاړي (پريوزي) او دا قرآن (يعنى اوريدل يې) د دوى (د زړه) خشوع نوره زياتوي (ځكه چې دښكاره او باطن دموافقت كيفيت ښه قوي كوي)

معلومات او مسئلې: وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَىٰ تِسْعَ آيَاتٍ : په دې كې حضرت موسى ﷺ ته دنهو واضحو معجزو وركولو ذكر دى ، دآيت لفظ دمعجزي په معنى كې هم راځي او دقرآن د آيتونو يعنى دالله ﷻ دحكمونو په معنى كې هم ، دلته د دواړو معانيو احتمال دى ، په دې وجه دمفسرينو يوجماعت دآيتونو څخه مراد معجزې اخيستې دي ، او دنهو په شمير سره دا ضرورى نه ده چې دنهو څخه دې زياتې نه وي ، مگر دلته ذكر دنهو ديو خاص اهميت پربنا باندې سوى دى ، حضرت عبدالله ابن عباس ؓ دا نهه معجزې داسې شميرلې دي (۱) عصا دموسى چې اژدها به جوړيده (۲) يد بيضاء چې دگريوان څخه به يې راوايستې نو بربښيدى به (۳) په ژبه كې يې تتوالى وو هغه ليرې سو (۴) په درياب كې دپورې وتو دپاره يې بني اسرائيلو ته لار وركړه (۵) دملخانو عذاب يې باندې راوليږى (۲) طوفان يې باندې راوليږى (۷) دچنگښو عذاب يې پر مسلط كې چې دهر خوراک چښاک په شي كې به چنگښې راتلې (۸) دبدن په كالو كې يې بې بحده سپږې پيدا سوې (۹) د وينې عذاب يې باندې راوليږى چې په هر يوه لوښي او خوراک او چښاک كې به يې وينه وه .

او ديو صحيح حديث دمضمون څخه دا معلوميږي چې دلته د آيتونو څخه مراد احكام الهيه دي ، داحديث په ابو داود ، نسائي ، ترمذي ، ابن ماجه كې په صحيح سند سره دحضرت صفوان بن عسال ؓ څخه نقل دى هغه فرمايي چې يو يهودي خپل ملگري ته وويل چې راځه ما دې نبي ته بوزه ، ملگري ورته وويل چې نبي مه وايه كه هغه خبر سي چې مونږ هم ده ته نبي وايو ، نو دده به څلور سترگې سي يعنى دفخر او خوشحالي موقع به وركړل سي ، بيا دا دواړه دنبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضر سول او پوښتنه يې وكړه چې موسى ﷺ ته چې كوم نهه ۹ آيتونه بينات وركول سوي وه هغه څه دي ؟ نبي كريم ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com

وفرمایل (۱) دالله ﷻ سره څوک مه شریکوئ (۲) غلا مه کوئ (۳) زنا مه کوئ (۴) کوم تن (جان) چې الله ﷻ حرام کړی دی ، هغه ناحقه مه قتلوی (۵) پر یو چا بې ګناه د درواغو الزام مه لګوئ او دقتل دپاره یې مه پیش کوئ (۲) جادو مه کوئ (۷) سود مه کوئ (۸) پر پاکدامني ښه باندې دبد کاری تهمت مه تړی (۹) دجهاد دمیدان څخه مه تښتئ او ای یهودو خاصکر ستاسې دپاره دا هم حکم دی چې دشنبې د ورځې کوم خاص احکام چې یې تاسې ته درکړي دي دهغه خلاف ورزی مه کوی.

دنبي کریم ﷺ څخه چې یې دا خبره واوریده نو دواړو دنبی کریم ﷺ لاسونه او پښې مچ کړل او وي ویل چې مونږ شاهدي ورکوو چې ته دالله ﷻ نبی یې ، ده ﷺ وفرمایل ، بیا تاسې زما دتابعداري کولو څخه کوم شی منع کوئ ؟ هغوی وویل چې حضرت داؤد ﷺ دخپل رب څخه دا دعا کړی وه چې دده په اولاد کی دی همیشه نبي وی او مونږ بیریږو چې که مونږ ستا تابعداري شروع کړه نو یهود به مونږ قتل کړي.

چونکه داتفسیرپه صحیح حدیث سره ثابت دی، په دی وجه ډیروتفسیر لیکونکو دی ته ترجیح ورکړي ده

یَبْكُونَ وَیَزِیدُهُمْ خُشُوعًا : په تفسیر مظهری کی دی چې دقرآن دتلاوت په وخت کی ژړل مستحب دی ، د حضرت ابو هریره ؓ څخه روات دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې جهنم ته به نه ځی هغه سړی کوم چې دالله ﷻ دبیري څخه وژاړي ترڅوچې لوشل سوي شیدې دوباره غولانځی ته بیرته ولاړي نه سی (یعنی لکه څنګه چې دانه سی کیدی چې دغولانځی څخه اخیستل سوي شیدې دوباره غولانځی ته بیرته ورواچول سی دغه ډول داهم [illegible] چې دالله ﷻ دبیري څخه ژړیدونکی دوږخ ته ولاړسی) اوپه یوه روایت کی دی چې الله ﷻ [illegible] دوږخ اورحرام کړي دی یوه هغه کومه چې دالله ﷻ دبیري څخه وژاړي دوهمه هغه چې داسلامی سرحد دحفاظت دپاره شپه بیداره تیره کړي (بیهقی وحاکم وصححه) او حضرت نضر بن سعد ؓ فرمایی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دي ، په کوم قوم کی چې یو څوک دالله ﷻ دبیري څخه ژړیدونکی وي نو الله ﷻ به دغه قوم ته دده په وجه د اور څخه نجات ورکړي (روح عن الحکیم الترمذي) نن دټولو څخه لوی مصیبت کوم چې په مسلمانانو راغلی دی، دهغه وجه دا ده چې په دوی کی دخدای ﷻ دبیري څخه ژړیدونکی ډیر کم پاته دي ، روح المعانی پردی موقع دخدای ﷻ دبري څخه د ژړیدو د فضیلتونو داحادیثو دبیانولو څخه وروسته فرمایی ، وَيَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ ذٰلِكَ حَالَ الْعُلَمَاءِ : یعنی داسی حال ددین دعالمانو په کار دی ، څکه چې ابن جریر رحمه الله ، ابن منذر رحمه الله وغیره دعبدالاعلی تیمی رحمه الله دا مقوله نقل کړي ده ، د کوم سړي علم چې دی نه ژړوي نو پوه سه چې ده ته علم نافع نه دی ورکول سوی.

قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ ۭ اَيًّا مَّا

ووایه چې الله وایاست بلی یې او که رحمان وایاست بلی یې په کوم نوم سره چې

تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَاۗءُ الْحُسْنٰى ۚ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا

یې بلی پس هغه لره دی ښه ښه نومونه ، او په زوره مه وایه خپل لمونځ او مه

تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١١٠﴾ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ

يې پټ وايه اولتوه ددې په مينځ کې لار ، او وايه ټول صفتونه الله لره دي

لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهُ شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ

کوم چې نه لري اولاد او نه څوک دهغه سره شريك سته په حکومت کې او نه څوک دهغه

لَّهُ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا ﴿١١١﴾

مددگار دی د ذلت په وخت کې او دهغه لويي کوه لوی ئې گڼه .

لنډتفسير: ته ووايه چې برابره خبره ده که الله وايا ست رابولې يې او يا رحمان وايا ست رابولې يې په کوم نوم سره يې چې هم رابولې (نو ښه ده ځکه چې) دهغه ډير ښه ښه نومونه دي (او ددې دشرک سره هيڅ واسطه نسته ځکه چې ديو ذات په څو نومونو کيدو سره دهغه په توحيد کې څه فرق نه راځي) او خپل جهري لمونځ مه ډير په زوره باندې وايه (چې مشرکين يې واوري او خرابې خبرې وکړي او په لمانځه کې زړه پريشانه سي) او مه يې بالکل په پټه وايه (چې لمونځ کوونکي مقتديان يې هم وانه وري ، ځکه چې په دې سره د دوی په تعليم او تربيت کې کمی راځي) او د دواړو په مينځ کې يوه (متوسطه) طريقه اختيار کړه (چې مصلحت فوت نه سي او ضرر پيښ نه سي) او (پر کفارو در د کولو د پاره علی الاعلان) ووايه چې ټول صفتونه خاص الله ﷻ لره دي ، چې نه اولاد لري نه دده سره څوک شريکان په حکومت کې سته او نه دکمزورۍ په وجه څوک دده مددگار سته او دده ښه لويي بيانوه .

معلومات او مسئلې: دا دسورة بني اسرائيل اخري آيتونه دي ددې سورة په شروع کې هم دالله ﷻ دپاکی او توحيد بيان وو ، دا آخري آيتونه هم په دې باندې ختميږي ، ددې ايتونو نزول دڅو واقعو پر بنا باندې سوی دی ، اول دا چې نبی کريم ﷺ يو وار په دعا کې يا الله يا رحمن وويل ، نو مشرکانو داسې وګڼله چې دی خو دوه خدايان رابولي او وې ويل چې مونږ ته خو وايي چې ديو خدای څخه ماسوا نور مه بولی او په خپله دوه معبودان بولی ، ددې جواب د اولنی آيت په اوله حصه کې ورکول سو چې دالله ﷻ دوه نه نور هم ډير ښه ښه نومونه دي ، په هر يو نوم چې بلل کيږي . مراد هم دغه يو خدای دی ، ستاسی وهم غلط دی ، دوهمه قصه دا ده چې هرکله په مکه مکرمه کې نبی کريم ﷺ به په لمانځه کې په لوړ آواز سره تلاوت دقرآن پاک فرمايی نو مشرکانو به مسخری او ټوکې کولې او دقران کريم او جبرايل امين او په خپله دحق تعالی په شان کې به يې بې باکه خبرې کولې ددې په جواب کې ددې آيت اخري حصه نازله سوه چې په دې کې يې دجهر او اخفاء په مينځ کې د درميانه لارې اختيارولو تلقين فرمايلی دی ، چې ضرورت خو په درميانه اواز سره پوره کيدی سی او په لوړ اواز سره چې مشرکانو ته د ازار رسولو موقع ورکول کيده ددې څخه به نجات حاصل سی .

Maktaba Tul Ishaat.com

دریمه قصه دا ده چې یهودو او نصاراؤ به الله پاک لره اولاد مقرر وی اوعربو به بتان دخدای پاک سره شریکول او صابیانو او مجوسیانو به ویل چې که دالله ﷻ مخصوص مقرب نه وی نو په قدر اوعزت کې به یې کمی راسی ددی دري سره فرقو په جواب کې آخري آیت نازل سو چې په دی کې یې ددی دري سره شیانو نفی ذکر کړي دہ.

په دنیاکې چې دچاخخه چاته څومره قدرقوت رسیدی سی، هغه کله ترخان دکوچنی څخه وی لکه اولاد، او کله دخپل برابر څخه وی لکه شریک اوکله تر خان دلوی څخه وی لکه حمایت کوونکی او مددګار، الله ﷻ په دی آیت کې په ترتیب سره د دری سره نفی وفرمایله.

مسئله: په ذکرسوي آیت کې یې په لمانځه کې دننه دتلاوت کولو دا ادب وښوولوچې نه دی په ډیر لوړ اواز سره وي اونه په دومره کرار اوازسره چې مقتدی یې هم نه اوری داحکم ښکاره خبره ده چې دجهرلمونځونو سره خاص دی، دماپښین اوماخیګر لمونځونه خو به بالکل پټ کول په متواترو سنتو سره ثابت دی.

په جهری لمونځ کې دماشام ماخستن اوسهار لمونځونه فرض هم دا خل دی اودتهجد لمونځ هم لکه چې په یوحدیث کې دی چې یو وار نبی کریم ﷺ دتهجد دلمانځه په وخت کې دصدیق اکبر ﷺ اوفاروق اعظم ﷺ په خوا کې تیر سو نوصدیق اکبر ﷺ تلاوت کرار کرار کوی اوفاروق اعظم ﷺ په لوړ اواز سره تلاوت کوی، نبی کریم ﷺ حضرت صدیق اکبر ﷺ ته وفرمایل چې تا دومره کرار تلاوت ولی کوي؟ صدیق ﷺ عرض وکی چې ماچاته اوروی هغه اوریدی څکه چې الله ﷻ دهر پټ څخه پټ اواز اوري، دوی ورته وفرمایل چې لږ په لوړ اواز یې وایه، بیا یې فاروق ﷺ ته وفرمایل چې تا په دومره لوړ اواز ولی وایه، هغه عرض وکی چې زه دخوب او شیطان ددفع کولو دپاره په لوړ اواز سره تلاوت کوم، دوی ورته دا حکم وکی لږ په کرار اواز سره یې وایه (ترمذی از مظهری)

په لمانځه اوپه غیر لمانځه کې دقرآن دتلاوت په جهر او اخفاء سره د اداکولو متعلقه مسئلې په سورة اعراف کې بیان سوی دی، د آخری آیت، قُلِ الْحَمْدُ، متعلق په حدیث کې دی چې آیت دعزت دا آیت دی اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ الخ (رواه احمد والطبرانی عن معاذ الجهنی کذا فی المظهری)

په دی آیت کې داهدایت هم دی چې یوانسان که څومره دالله ﷻ عبادت تسبیح اوتحمید کوي، خپل عمل دده دحق په مقابله کې کم ګڼل او دقصور اعتراف کول دده دپاره لازم دی (مظهري)

اوحضرت انس ﷺ فرمایی چې په بنی عبدالمطلب کې به کله چې یو بچې دژبی خلاصولو قابل سو نو ده ته به یې دا آیت وښووی، وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ لَمْ یَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ یَكُنْ لَّهٗ شَرِیْكٌ فِی الْمُلْكِ وَلَمْ یَكُنْ لَّهٗ وَلِیٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِیْرًا : (مظهری)

اوحضرت ابوهریره ﷺ فرمایی چې یوه ورځ زه دنبی کریم ﷺ سره دباندې ووتلم داسی چې زما لاس دهغوی په لاس کې وو، دوی پر یو داسی سړي باندې را غلل چې ډیر شکسته او پریشان حال وو، ده ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه چې ستا دا حال ولی دی؟ دی سړي عرض وکی چې ناجوړي او تنګدستی می دا حال کړی دی ده ﷺ ورته وفرمایل چې تاته یو څو کلمې ښیم هغه وایه نو ستا ناجوړي او تنګدستی به

Maktaba Tul Ishaat.com

ختمه سی هغه کلمي دا وي ، تَوَكَّلْتُ عَلَى الْحَيِّ الَّذِیْ لَايَمُوْتُ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا : ددی څخه خو ورځی وروسته بیایی پردغه طرف تشریف یو وړی نو په ښه حال یی ولیدی او خوشحاله سو ، هغه عرض وکي چی دکله څخه تاسی ما ته دا کلمی ښوولی دي زه یی په پابیندي سره وایم (ابو یعلی وابن سنی از مظهری)

تمام سو سورة بنی اسرائیل بعون الله وحمده

(دمؤلف دحال بیان)

نن ۲۹ شعبان سنه ۱۳۹۰ هـ د هفتی په ورځ بحمد الله دمعارف القرآن پر مسوده باندی نظر ثانی هم مکمل سو اوس دنصف قرآن کریم تفسیر حق تعالی په خپل فضل اوکرم سره پوره کي دکوم چی په بنکاره د اسبابو څه امید نه وو ، څکه چی درمضان سنه ۱۳۸۸ هـ په آخر کی دا ناکاره په داسی مختلفو مرضونو کی راګیرسو چی تقریباً یو کال خو هم پر بستره باندی دمرګ او ژوند په کشمکش کی تیر سو ، دغه وخت د مجبوری اومعذوری په حالت کی به می بار بار دا ارمان وو چی دځینو تصنیفاتو مسودی چی مکمل کیدو ته نژدی وی ، کاشکی چی ددی تکمیل سوی وای ، دمعارف القرآن په نوم سره چی کوم درس قرآن د ډیري مودی څخه د ریډوي پاکستان څخه نشر کیدی ، د ډیرو دوستانو په تقاضا سره پردی باندی نظر ثانی او په مینځ کی دباقی پاته سوو ایتونو دتفسیر دمکمل کیدو چی کومه سلسله چلیده ، په څه طریقه ددی تکمیل سوی وو ، دغه ډول سیدی حضرت حکیم الامت تهانوي رحمه الله دقران کریم د دو منزلونو پنځم او شپږم احکام القرآن په عربی ژبه کی دلیکلو دپاره احقر ماموره کړی وو ، دمرګ او ژوند کشمکش د ناستی پاستی څخه هم دمعذوری په حالت کی شاید ددی نیمګری ارمان اواز درب العزت په درګاه کی واوریدل سو او دا خیال غالب راغی چی څومره کیدی سی ، هغومره کار دی وسی او دا فکر دی پرښوول سی چی که څه پاته سو دهغه به څه کیږي ، دي خیال دیو پخی ارادی صورت اختیار کي ، پر بستره باندی په پروته می په تفسیر باندی دنظر ثانی او داحکام القرآن دتکمیل کار شروع کي دقدرت دعجائبو څخه دی چی د ناجوړي په دی زمانه کی کار دومره په تیزی سره وسو چی په روغتیا کی هم دا رفتار نه وو او بیا شاید هم ددی په برکت سره حق تعالی ددی معذور او مجبوره کولو مرضونو څخه شفاهم وفرمایله اوتریوحده روغ صورت حاصل سو ، نو اوس می دوخت قدر وپیژندی او دی کارونو ته مي دطاقت مطابق وخت ورکي ، دا محض دالله ﷻ فضل او انعام وو چی د احکام القران دوارو منزلونه هم مکمل سول اوهم په دغه موده کی دا دواړه چاپ او شائع سول ، او د تفسیر معارف القرآن دوه جلدونه تر سورة نساء پوری چاپ او شائع سول ، دریم جلد تر سورة اعراف پوری تر طباعت لاندی دی او نن دنصف قران پر مسوده باندی نظر ثانی هم مکمل سو (فلله الحمد اوله وآخره)

دا وخت چی دا سطور زیر تحریر دی ، داحقر ناکاره عمر پنځه اویا ۷۵ کاله پوره سو او ، ۲۱ شعبان سنه ۱۳۹۰ هـ دعمر شپږ اویایم منزل شروع سو ، په مختلفو مرضونو کی اخته ، طبعی کمزوری اوبیا په دی باندی دمشغولو اوفکرونو ډیروالی دی ، اوس مخته دڅه تصنیف اوتالیف توقع لرل دوهمی امید څخه زیات هیڅ نسی کیدی لیکن دقرآن دخدمت په نوم لکیل چی څومره هم ناقص تر ناقص خدمت وي خو بیا

Maktaba Tul Ishaat.com

هم دلیکلو والا د پاره سعادت دی ، دی خیال په دی اماده کړم چی د سورة کهف تفسیر هم په نوم دخدای
شروع کړم او په باقی عمر کی چه څه کیدی سی دا غنیمت وګڼل سی ځکه چی مقصد د قرآن ختمول نه
دی ، بلکی په قرآن کی عمر او توانایی ختمول دی ، والله الموفق والمعین

سوره بني اسرائيل ختم سو

سورة الکهف

سُوۡرَةُ الۡکَهۡفِ مَکِّیَّةٌ وَّهِیَ مِائَةٌ وَّعَشۡرُ اٰیَاتٍ وَّ اثۡنَا عَشَرَ رُکُوۡعًا بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سورة الکهف په مکه کی نازل سوی دی او په دی کی یوسل (۱۱۰) لس ایتونه او دولس (۱۲) رکوع ګانی دی .

شروع کوم دالله په نوم سره چی بی حده مهربان نهایت رحم والا دی .

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡۤ اَنۡزَلَ عَلٰی عَبۡدِهِ الۡکِتٰبَ وَلَمۡ یَجۡعَلۡ لَّهٗ

تول صفتونه الله لری دی چاچی نازل کی په بنده خپل باندی کتاب او نه یی دی جوړ کړی په

عِوَجًا ۟ؕ قَیِّمًا لِّیُنۡذِرَ بَاۡسًا شَدِیۡدًا مِّنۡ لَّدُنۡهُ وَیُبَشِّرَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ

دی کی څه کوږوالی ، صحیح یی نازل کی چی بیره واوروی دیو آفت دالله دطرف څخه او خوشخبری واوروی

الَّذِیۡنَ یَعۡمَلُوۡنَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمۡ اَجۡرًا حَسَنًا ۟ۙ مّٰکِثِیۡنَ فِیۡهِ

ایماندارو ته کوم چی کوی نیکی چی د دوی د پاره ښه بدله ده ، چی او سیږی به په کی

اَبَدًا ۟ۙ وَّیُنۡذِرَ الَّذِیۡنَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۟ٙ مَا لَهُمۡ بِهٖ مِنۡ

همیشه ، او او بیره واوری هغوته چی وایی الله تعالی لری اولاد ، نسته دوی لره په دی خبره باندی

عِلۡمٍ وَّلَا لِاٰبَآئِهِمۡ ؕ کَبُرَتۡ کَلِمَةً تَخۡرُجُ مِنۡ اَفۡوَاهِهِمۡ ؕ اِنۡ

څه علم او نه د دوی پلار نیکه ته ، څه لویه خبره وزی د دوی دخلو څخه ، تول

یَّقُوۡلُوۡنَ اِلَّا کَذِبًا ۟ فَلَعَلَّکَ بَاخِعٌ نَّفۡسَکَ عَلٰۤی اٰثَارِهِمۡ اِنۡ لَّمۡ

دروغ دی چی دوی یی وایی ، پس ته هلا کوی خپل ځان سره په دوی پسی که دوی

یُؤۡمِنُوۡا بِهٰذَا الۡحَدِیۡثِ اَسَفًا ۟ اِنَّا جَعَلۡنَا مَا عَلَی الۡاَرۡضِ زِیۡنَةً

ونه منی دا خبره په افسوس کولو سره ، موږ جوړ کړی دی څه چی په ځمکه دی د دی ښائست

Maktaba Tul Ishaat.com

لِنَبْلُوَهُمْ اَيُّهُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ۝ وَاِنَّا لَجٰعِلُوْنَ مَا عَلَيْهَا

چي ازمائش وكړى دخلو چي څوك په دوى كي ښه كاركوي، او مونږ ګرځوو څه چي په دى باندى دى.

صَعِيْدًا جُرُزًا ۝۸

ميدان خالي.

(دسورة كهف خصوصيات او فضيلتونه)

په مسلم، ابوداود، ترمذى، نسائي او مسند احمد كي دحضرت ابى درداء ؓ څخه يو روايت دى چي كوم سړى دسورة كهف اولني لس آيتونه يادكړل دى به ددجال دفتني څخه محفوظ وى او په دى ذكر سوو كتابونو كي دحضرت ابو درداء ؓ څخه يو بل روايت ددى مضمون دسورة كهف دآخرى لس ايتونو متعلق نقل دى.

او په مسند احمد كي په روايت دحضرت سهيل بن معاذ ؓ نقل دى، چي نبى كريم ﷺ فرمايلي دي چي كوم سړى دسورة كهف اولني او آخرى آيتونه ووايى، دده دپاره به دده دقدمونو څخه ترسره پوري نور سى او څوك چي ټول سورة ووايى نو دده دپاره به دمځكي څخه تر آسمانه پورى نور سى.

په ځينو روايتونو كي دي چي كوم سړي دجمعي په ورځ دسورة كهف تلاوت وكړي، دده دقدمونو څخه تر آسمانه پورى به نور سى، كوم چي دقيامت په ورځ به ده ته رڼا وركوى او دتيري جمعي څخه ددى جمعي پورى به دده ټول ګناهونه معاف سى (امام ابن كثير دى روايت ته موقوف ويلي دى)

او حافظ ضياء الدين مقدسى په خپل كتاب مختاره كي دحضرت على ؓ څخه روايت نقل كړى دى چي نبى كريم ﷺ فرمايلي دى چي كوم سړى دجمعي په ورځ سورة كهف ووايى هغه به تر اتو ورځو پورى دهرى فتني څخه وساتل سى، كه دجال راووزي نو ددى فتني څخه به هم وساتل سى (دا ټول روايتونو د ابن كثير څخه را اخيستل سوي دي)

په روح المعاني كي دديلمي څخه په روايت دحضرت انس ؓ نقل دى چي نبى كريم ﷺ فرمايلي دى چي سورة كهف ټول پوره په پوره په يو وخت نازل سو او اويا زره (۷۰۰۰۰) فرښتي دده سره راغلي چي په دى سره دده لوى شان ښكاره كيږي.

(شان نزول)

امام ابن جرير طبرى په روايت دحضرت ابن عباس ؓ نقل كړى دى چي هركله په مكه مكرمه كي دنبى كريم ﷺ دنبوت اواز خپره سوه او دمكى قريش په دى باندى پريشانه سول نو دوى خپل دوه سړى نضربن حارث او عقبه بن ابى معيط لره مدينى منورى ته ديهودو په عالمانو پسى وليږل، چي دغه خلق دتيرو كتابونو تورات او انجيل عالمان دي چي هغوى دده ﷺ په باره كي څه وايى؟ ديهودو عالمانو دوى ته وښوول چي تاسى دده څخه درى سوالونه وكړي كه ده ددى صحيح (يعنى كوم جواب چي دوى له وركول

په کار دی هغه يې ورکي (او دروح په باره کی د دوی صحیح جواب به دا وی چی ددې په حقیقت هم الله تعالی ښه پوهه دی) نودی دپاره دا روایت کوم چی په تفسیر طبری ص ۱۹۱ ج ۱۵ کی نقل دی، ددې روایت منافی نه دی کوم چی وروسته هم ددې جلد په صفحه ۵۲۸ دسورة بنی اسرائل ایت نمبر لاندی تیرسوی دی) جواب درنه کي نو پوه سی چی دغه دالله ﷻ بنی او رسول دی اوکه جواب یی درنه کی نو پوهه سی چی دا خبري جوړونکی دي، رسول نه دی، یو خو دده ځخه دهغو ځوانانو دحال پوښتنه وکړي کوم چی په تیره زمانه کی دخپل ښار ځخه ووتل چی د دوی واقعه څه ده؟ ځکه چی دا واقعه عجیبه ده، دوهم دده ځخه دهغه سړي دحال پوښتنی وکړی کوم چی ددنیا دمشرق او مغرب او ټولی مځکی سفر وکړي دده واقعه څه ده؟ دریم دده ﷺ ځخه د روح متعلق پوښتنه وکړی چی دغه څه شی دی؟

دا دواړه قریشیان مکي مکرمی ته بیرته را غلل اوخپلو خلقو ته وویل چی مونږ یو فیصله کوونکی حال راوړی دی او دیهودو عالمانو پوره قصه یی ورته واوروله بیا دا خلق دنبی کریم ﷺ په خدمت کی ددی سوالونو سره حاضر سول، ده ﷺ واوریدل نو وی فرمایل چی زه به ددی جواب سبا درکړم، مگر دده ﷺ دغه وخت انشاء الله ویل هیر سو، دا خلق بیرته ولاړل اونبی کریم ﷺ دوحی په انتظار کی وو، چی ددی سوالونو جواب به دوحی په ذریعه وښوول سی، مگر دوعدي مطابق ترصبا پوري نه، بلکی تر پنځلسو ورځو پوری وحی رانغله او نه جبرائیل امین راغی، دمکی قریشو مسخري شروع کړي اونبی کریم ﷺ ته په دی سخت غم او خفگان ورسیدی، پنځلس ورځی وروسته جبرائیل امین دسورة کهف سره نازل سو (چی په دی کی دوحی دتاخیر وجه هم بیان سوي ده چی آئنده که دځه کار کولو وعده کوي نو انشاء الله وایه، په دی واقعه کی چونکه داسی ونه سوه نو پردی دخبردار کولو دپاره په وحی کی تاخیر وسو، په ډی سورة کی ددی معاملی متعلق دا ایتونه مخته راځی، وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا: او په دی سورة کی دځوانانو واقعه هم په پوره تفصیل سره راغلی ده کومو ته چی اصحاب کهف وایی او دمشرق او مغرب سفر کوونکی ذوالقرنین واقعه هم په تفصیل سره راغلی ده او د روح دسوال جواب هم دی (قرطبی اومظهري په حواله دابن جرير) (مگر د روح دسوال جواب اجمالاً په مقتضا دحکمت سره وو، دغه یی د سورة بنی اسرائیل په آخرکی جلا بیان کړی اوپه دی سبب سره یی سورة کهف دسورة بنی اسرائیل ځخه وروسته کښیښووی لکه چی داسی سیوطی ذکر کړی دی)

لنډتفسیر: ټول صفتونه هغه الله لره ثابت دی چاچی په خپل (خاص) بنده (محمد ﷺ) باندی دا کتاب نازل کړی اوپه دی (کتاب) کی (هیڅ قسم) یوه ذره هم کوږوالی نسته (نه لفظی چی دفصاح بلاغت ځخه خلاف وي اونه معنوي چی څه حکم یی دحکمت ځخه خلاف وی بلکی دایی) بالکل په استقامت سره موصوف جوړ کړی (اونازل یی ځکه کی) چی دغه (کتاب کافران عموماً) دیو سخت عذاب ځخه دالله ﷻ دطرف ځخه (چی دوی لره به په آخرت کی وي) وبیروي او ایماندارو لره چی نیک کارکوونکی دی دا خوشخبري ورکړی چی دوی ته (په آخرت کی) به ښه اجر ورکول سی چی دوی به همیشه په کښې اوسی اوچی (په کفارو کی په خاص طور) هغه خلق (دعذاب ځخه) وبیروي کوم چی داسی وایی چی (نعوذ بالله) الله تعالی اولاد لري (او د اولاد عقیده لرونکی کافران یی دنورو کافرانو ځخه ځکه جلا بیان کړل چی په دی باطله

Maktaba Tul Ishaat.com

عقيده كې دعربو عام خلق مشركان، يهود، نصارا ټول اخته وه) نه ددې څه دليل د دوې سره سته اونه د دوې ډيلرونو نيكه ګانو سره وو، ډيره لويه خبره ده كومه چې د دوې دخلو څخه وزي (او) دغه خلق بالكل درواغ عبثيات كوي (كوم چې عقلاً هم نامكنه ده، ديو ادنى عقل والا هم ددې نه سې قائل كيدى اوته چې كوم ددې خلقو په كفر او انكار دومره غم كوې چې) شايد چې ته په دوې پسې كه دا خلق په دې مضمون (قرآني) ايمان را نه وړې نو خپل روح به وركړې (يعنى دومره غم مه كوه چې هلاكت ته دې نژدې كړې، وجه دا ده چې دنيا د امتحان ځاى دى په دې كې د ايمان او كفر او خير او شر دواړو مجموعه به وې ټول نه سي مومنان كيدى، نو ددې امتحان دپاره) مونږ پر مځكه لوړ شيان ددې (مځكې) دپاره ښائست جوړ كړي دي چې مونږ (ددې په ذريعه) دخلقو ازمائش وكړو چې په دوې كې زيات ښه عمل څوك كوي (دا امتحان كول دې چې څوك ددې دنيا په ښائست او رونق باندې مين كيږي دالله ﷻ او د آخرت څخه غافله كيږي او څوك داسې نه كيږي غرض دا چې دا امتحان ګاه ده، تكويناً به په دې كې څوك مومن وي او څوك به كافر وي، نو بيا هم غم بې كاره دى، ته خپل كار كوه او د دوې دكفر دنتيجې په دنياكې دښكاره كيدو انتظار مه كوه ځكه چې دغه زمونږ كار دى، په يو مقرر وخت باندې به وي، چنانچې يوه ورځ به هغه راسې چې) مونږ به پر مځكه لوړ ټول شيان يو صفا ميدان كړو (چې نه به پردې څوك اوسيدونكى پاته سې، نه څه او نه غر او نه څه كور او آبادي، لنډه دا ده چې ته خپل كار دتبليغ كوه دمنكرانو دبد انجام دومره غم مه كوه)

معلومات او مسئلي : وَلَمْ يَجْعَلْ لَهُ عِوَجًا ۞ قَيِّمًا : دلفظ دعوج معنى يو قسم كوږوالى او يو طرف ته كږيدل دي، قرآنكريم په خپل لفظى او معنوى كمال كې ددې څخه پاک دى، نه دفصاحت بلاغت په لحاظ سره په كښې په هيڅ ځاى كې كمى يا كوږوالى كيدى سې، نه دعلم او حكمت په لحاظ سره كوم چې يې په معنى د لفظ، وَلَمْ يَجْعَلْ لَهُ عِوَجًا : سره په يو منفى صورت كې ښوولى دى، بيايې دتاكيد دپاره دا مضمون په مثبت طور په لفظ د: قيماً سره واضح كړى دى، ځكه چې د: قيماً معنى ده مستقيماً او مستقيم هغه وي په كوم كې چې څه ادنى كوږوالى او ميلان يو جانب ته هم نه وي او دلته دقيم يوه بله معنى هم كيدى سې، يعنى نګران او محافظ، ددې معنى په لحاظ سره به ددې لفظ مطلب دا وي چې قرآنكريم لكه څنګه چې په خپل اذت كې كامل مكمل او دهر قسم كوږوالى افراط او تفريط څخه پاک دى، دغه ډول دى دنورو هم پر استقامت لرونكى او دبندګانو دټولو مصلحتونو حفاظت كوونكى دى، اوس خلاصه ددې دواړو لفظونو به داسې چې قرآنكريم په خپله هم كامل او مكمل دى او دخداى دمخلوق لره هم كامل او مكمل جوړونكى دى (مظهرى)

إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِينَةً لَّهَا : يعنى په مځكه كې چې كوم مخلوقات حيوانات نباتات، جمادات او مځكې دننه دمختلفو شيانو كانونه موجود دي هغه ټول دمځكې دپاره ښائست او رونق جوړسوى دى، پردې دا شبهه نه سې كول كيدى چې دمځكې په مخلوقاتو كې خو مار، لړم، درنده، حيوان او ډير مضر او مهلک شيان هم سته، دوى ته دمځكې ښائست او رونق څنګه ويل كيږي؟ ځكه چې څومره شيان په

Maktaba Tul Ishaat.com

دینا کی مضر او مهلک او خراب گڼل کیږي ، دغه په یو اعتبار سره بیشکه چی خراب دی ، مګر دمجموعه عالم په اعتبار سره یو شی هم خراب نه دی ، ځکه چی دهر بد څخه بد شی کی هم په نورو حیثیتونو سره ډیري فائدي الله ﷻ ایښی دي ، ایا دزهري حیوانانو او درندګانو څخه په زرګونو انسانی ضرورتونه علاجونه وغیره نه پوره کیږي ؟ په دی وجه چی کوم شیان که په یو حیثیت سره بد هم وي ، لیکن دمجموعه عالم دکارخانی په لحاظ سره دغه هم بد نه دی ، یوچا څه ښه ویلی دی .

نهی هی چیز نکمی کوئی زمانی می کوئی بر نهی قدرت کی کارخانی می

په دنیاکی هیڅ یوشی بی کاره نه دی پیدا سوی اوقدرت په دی کارخانه دعالم کی هیڅ شی هم بدنه دی .

أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحٰبَ الْكَهْفِ وَالرَّقِيْمِ ۙ

ایا ته خیال کوی چی د غار او دغرو سیدونکی

كَانُوْا مِنْ اٰيٰتِنَا عَجَبًا ۝٩ إِذْ أَوَى الْفِتْيَةُ إِلَى الْكَهْفِ فَقَالُوْا رَبَّنَآ

زموږ دقدرتونو څخه عجیبه خبره وه ، هرکله چی راغلل کښینستل هغه خوانان دغره په غار کی بیا وویل

اٰتِنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً وَّهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا ۝١٠ فَضَرَبْنَا عَلٰٓى

دوی ای زموږ ربه ! موږ ته راکړی دخپل طرف څخه بخشش اوپوره کړی زموږ دکار برابر والی ، بیابند کړل موږ

اٰذَانِهِمْ فِي الْكَهْفِ سِنِيْنَ عَدَدًا ۝١١ ثُمَّ بَعَثْنٰهُمْ لِنَعْلَمَ أَيُّ

د دوی غوږونه په دی غار کی څو کلونه دشمیر ، بیا موږ دوی پورته کړل چی معلوم کی چی

الْحِزْبَيْنِ أَحْصٰى لِمَا لَبِثُوْٓا أَمَدًا ۝١٢

په دوو فرقو کی چا یاده ساتلی ده چی څومره موده پاته سوی دی .

(دلغاتو تشریح)

کَهف ، دغره غارکوم چی پراخ وي ، هغه ته کهف وایی اوکوم چی پراخ نه وي دی ته غار وایی ، رَقِیم ، په لفظی اعتبار سره په معنی دَمَرقُوم دی ، یعنی لیکل سوی شی ، په دی مقام کی ددی څخه څه مراد دی؟ په دی کی دتفسیرلیکونکو قولونه مختلف دي ضحاک رحمه الله ، سدي رحمه الله اوابن جبیر رحمه الله په روایت د ابن عباس رضی الله عنه ددی معنی یوه لیکل سوی تختی مقرروي ، پرکومه چی ددغه وخت بادشاه داصحاب کهف نومونه کنده کړي وه ، د غار په خله کی یی ځړولی وو ، په دی وجه اصحاب کهف ته اصحاب الرقیم هم ویل کیږي ، دقتاده ، عطیه ، عوفی ، مجاهد رحمهم الله قول دا دی چی رقیم ددغه غره لمنی ته وایی په

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم کی چی داصحاب کهف غار وو، خینو په خپله دی غره ته رقیم ویلی دی، حضرت عکرمه ﷺ فرمایي چي ما دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دا خبره اوریدلی ده چي ماته نه ده معلومه چي رقیم دیوی لیکل سوی تختی نوم دی یا دیو کلی، کعب احبار، وهب بن منبه دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دا روایت کوي چي رقیم ایله یعني دعقبه په خواه کی دیو ښار نوم دی کوم چي د روم په کلیو کی واقع دی.

فِتْيَةٌ: د فتی جمع ده چي معنی یی ده نوجوان.

فَضَرَبْنَا عَلَىٰ آذَانِهِمْ: لفظی معنی یی غوږونه بندول دي دغفلت دخوب دپاره په دی الفاظو سره تعبیر کیږي څکه چي دخوب په وخت کی اول سترګی بندیږي، مګر غوږونه خپل کار کوي اواز اوري، کله چي خوب مکمل او غالب سی نو غوږونه هم خپل کارپاته کړي او بیا په ویښېدونکی دتولو څخه اول غوږونه خپل کار شروع کوي چي په اواز سره بیده پوه سی بیا ویښ سی.

تفسیر: ایا ته دا خیال کوي چي غار والا او غره والا (دا دواړه نومونه دیو جماعت دی) زمونږ دعجائباتو (دقدرت) څخه څه دتعجب شی وو (لکه چي یهودو ویلی وه، چي د دوی واقعه عجیبه ده یا په خپله سوال کوونکو قریشو کافرانو دا عجیبه وګڼله او سوال یی وکي، په دی کی یی نبی کریم ﷺ مخاطب کړی دی، او رول یی نورو ته مقصود دی، چي دا واقعه هم که څه هم عجیبه خامخا ده، مګر دالله ﷻ دنورو عجائباتو دقدرت په مقابله کی دومره دتعجب قابله نه ده، لکه چي دی خلقو ګڼلی ده، څکه چي دمځکی او آسمان اولمر سپوږمی او ټول کائنات دمځکی او آسمانونو دعدم څخه وجود ته راوړل اصل عجائبات دي، دیو څو څوانانو د اوږدي زمانی پوري بیده کیدل بیا بیداریدلو ددی په مقابله کی څه عجیبه نه ده ددی ابتدائی بیان څخه وروسته یی د اصحاب کهف قصه داسی بیان فرمایلی ده) او هغه دیادلو قابل دی، هرکله چي دی څوانانو (دیو بی دین بادشاه دګرفت څخه تېښته وکړه) په دی غار کی (چي قصه یی مخته راځی) ولاړل پناه یی واخیسته بیا (دالله ﷻ څخه یی داسی دعا وغوښتله چي) وي ویل ای زمونږ پروردګاره! مونږ ته دخپل طرف څخه درحمت اسباب راکړي او زمونږ په (دی) کار کی دبرابرکیدو اسباب تیار کړي (غالباً درحمت څخه مراد مقصد حاصلیدل دي او د اسباب دبرابریدو څخه مراد هغه اسباب او مقدمات دي کوم چي دمقصد دحاصلیدو دپاره عادتاً ضروري دی، الله ﷻ د دوی دعاقبوله کړه او د دوی دحفاظت او د ټولو پریشانیو څخه دنجات ورکولو صورت داسی بیان فرمایی چي) مونږ د دوی پر غوږونو په دی غار کی ترکلونو پوری دخوب پرده واچوله، بیا مونږ دوی (دخوب څخه) پورته کړل چي مونږ (په ښکاره طور هم) معلومه کړو چي (په غار کی د پاته کیدو په موده کی په بحث او اختلاف کوونکو کی) کومه ډله د دوی د پاته کیدو د مودي څخه زیاته خبره ده (دخوب څخه دبیداریدو څخه وروسته په دوی کی د یوي ډلی قول خو دا وو چي مونږ پوره ورځ یا څه برخه دیوي ورځیی بیده سوي یو، دوهمی ډلی وویل چي الله ﷻ پوه دی چي تاسی څومره ورځی بیده واست په آیت کی اشاره دی طرف ته چي دا دوهمه ډله زیاته حقیقت پیژندونکی وه کومی چي دمودی تعین الله تعالی ته حواله کړو څکه چي ددی هیڅ دلیل نه وو)

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات او مسئلې: (د اصحاب كهف اورقيم قصه)

په دې قصه كې څو بحثونه دي ، اول دا چې اصحاب كهف او اصحاب رقيم ديو جماعت دوه نومونه دي يا دا چې دوه جلا جلا جماعتونه دي ، كه څه هم په څه صحيح حديث كې د دې هيڅ وضاحت نشته ، مګر امام بخاري په خپل كتاب صحيح كې د اصحاب كهف او اصحاب الرقيم دوه جلا جلا سرخې وركړې دي ، بيا يې د اصحاب الرقيم لاندې هغه مشهوره قصه د درو سړيو په غار كې كتابونو كې د دعاګانو په ذريعه د لارې خلاصيدو ذكر كړې دى ، كومه چې د حديثو په ټولو كتابونو كې په تفصيل سره موجوده ده ، د امام بخاري د دې قسم كار كولو څخه دا ګڼل كيږي چې د ده په نزد اصحاب كهف جلا جماعت دى او اصحاب الرقيم يې هغو درو كسانو ته ويلې دي كوم چې په يوه زمانه كې په غاركې پټ سوي وو ، بيا دغره يوه لويه تږه د دې غار په خُله باندې راولويده چې غار بالكل باندې بند سو ، د دوى دوتو لاره بنده سوه نو دې درو واړو دخپلو خپلو خاصو نكيونو عملونو واسطه الله ﷻ ته وركړه او دعايي وكړه چې دا كار كه مونږ خالص ستا درضا دپاره كړى وو نو خپل فضل سره زمونږ لارخلاصه كړى ، د اولنى سړي په دعاسره ډېره څه وښوريده او رڼا په كښې راغله ، د دوهم سړي په دعاسره نوره زياته وښوريده ، بيا د دريم په دعا سره لار بالكل خلاصه سوه .

ليكن افظ ابن حجر دبخارې په شرح كې دا واضحه كړې ده چې د احاديثو دروايتونو په بنا سره د دې هيڅ واضح دليل نشته چې اصحاب رقيم د دې ذكر سوو درې سړيو نوم دى ، خبره صرف دومره ده چې دغار د واقعې ديو راوې حضرت نعمان بن بشير ﷺ په روايت كې ځينو روانانو دا اضافه نقل كړې ده چې حضرت نعمان بن بشير ﷺ فرمايي چې ما دنبي كريم ﷺ څخه درقيم ذكر واوريدى ، دوى په غار كې دبند سوو درو سړيو واقعه بيانوله ، دا اضافه يې په فتح البارى كې دبزار او دطبرانى په روايت سره نقل كړې ده ، مګر اول خو د دې حديث دعامو راوايانو په روايتونو كې كوم چې په صحاح سته او دحديثو په نورو كتابونو كې په تفصيل سره موجود دي ، په دوى كې يوه هم دحضرت نعمان بن بشير ﷺ داجمله نه ده نقل كړې ، په خپله دبخارې روايت هم د دې جملې څخه دى ، بيا په دې جمله كې هم د دې وضاحت نشته چې نبي كريم ﷺ په غاركې بند سوو دې درو سړو ته اصحاب رقيم ويلې دي ، بلكې الفاظ دا دي چې دوى درقيم ذكر وفرمايى ، په دې مينځ كې يې د دې درو كسانو ذكر وفرمايى ، درقيم دلفظ دمراد متعلق چې د اصحابو او تابعينو او عامو تفسير ليكونكو كې كوم اختلاف دقولونو چې لوږ نقل سوي دى ، دغه په خپله د دې دليل دى چې دنبي كريم ﷺ څخه درقيم دمراد متعين كولو په باره كې څه روايت دحديث څخه وو ،ورنه څنګه كيدى سوه چې نبي كريم ﷺ ديو لفظ مراد په خپله متعين كړى او بيا اصحاب، تابعين اونور تفسير ليكونكي د دې خلاف يو قول اختيار كړى ، په دې وجه حافظ ابن حجر رحمه الله شارح د بخارى رحمه الله د اصحاب كهف اورقيم دواړو جلا جلا جماعتونو كيدو څخه انكار كړى دى او صحيح يې دا ګرځولې ده چې دا دواړه ديو جماعت نوم دى ، په غاركې دبنديدونكو درې سړو ذكر درقيم دذكر سره را غلى وي ، د دې څخه دا نه لازميږي چې دا درې سړي اصحاب الرقيم وه .

حافظ ابن حجر دلته دا هم واضحه كړه چې قرآنكريم كومه قصه د اصحاب كهف بيان كړې ده ، د دې

Maktaba Tul Ishaat.com

راتلونكي بيان په خپله دا واضح كوي چي اصحاب كهف او رقيم يو جماعت دى ، دا وجه ده چي جمهور تفسير ليكونكي او محدثين ددى دواړو پر يو والي متفق دي.

دوهمه مسئله دلته په خپله ددى قصى دتفصيلاتو ده چي ددى دوې برخې دي ، يوه هغه كومه چي ددې قصى روح او اصل مقصود دى چي په دى سره ديهودو دسوال جواب هم كيږي او دمسلمانانو دپاره هدايتونه او نصيحتونه هم دي ، دوهمه برخه هغه ده ، دكوم تعلق چي ددى قصى صرف دتاريخي او جغرافيايي حيثيت سره دى ، په مقصودي بيان كي ددى هيڅ دخل نسته مثلاً دا قصه په كومه زمانه كي ، په كوم ښار اوكوم كلي كي پيښه شوه ، دكوم كافر بادشاه څخه چي وتښتيدل او دى خلقو په غاركي پناه اخيستى وه هغه څوك وو؟ دهغوى څه عقيدى او خيالات وه اوده ددى خلقوسره ښه معامله وكړه چي دوى په تښتيدو او په غاركي په پټيدو مجبوره سول بيادا چي ددې خلقو شمير څومره وو او بيا تر اوږدې زماني پورى د دوى دبيده كيدو زمانه څومره وه او بيا دا خلق تراوسه پورى ژوندى دى اوكه مړه دى؟

قرآنكريم دخپل حكيمانه اصولو اوخاص اسلوب لاندى په ټول قرآن كي يوه قصه دحضرت يوسف ﷺ پوره په تفصيل سره بيان كړې ده ، ددى څخه ماسوا بله يوه قصه يې هم په پوره تفصيل اوترتيب سره نه ده بيان كړې ، كومه چي دعامو تاريخي كتابونو طريقه ده ، بلكي دهرې قصى يې صرف هغه اجزاء موقع په موقع بيان كړې دى دكومو سره چي دانساني هدايتونو او تعليماتو تعلق ؤ «دحضرت يوسف ﷺ قصه ددى اسلوب څخه دمستثنٰى كولو وجه دسورة يوسف ﷺ په تفسير كي تيره سوې ده»

داصحاب كهف په قصه كي هم دا طريقه اختيار سوې ده چي په قرآن كي ددى صرف هغه اجزاء بيان سوي دي ، كوم چي د اصل مقصود سره متعلق وه ، باقي اجزاء كوم چي خالص تاريخي ياجغرافيايي وه دهغه څه ذكر يې نه دى فرمايلى د اصحاب كهف د شمير او د دوى دبيده كيدو دزماني دمودى سوالونه خو يې ذكر كړل او دجواب طرف ته يې اشاره هم وفرمايله ، مگر ددى سره يې دا هدايت هم وكي چي په داسى مسئلو كي دزيات فكر او بحث او تكرار ضرورت نسته دغه خداى ته حواله كول په كار دى.

دا وجه ده چي نبي كريم ﷺ دچاچي منصبي فرض دقرآن دمعانيو بيانول دي ، ده ﷺ هم په يوحديث كي د قصى دا اجزاء نه دي بيان كړي او مشرانو اصحابو ﷺ او تابعينو رحمهم الله ددى قرآني اسلوب په بنا په داسى معاملاتو كي قاعده دكار دا مقرره كړې ده چي.

ابهموا ما ابهمه الله: «اتقان للسيوطى رحمه الله» يعني كوم غير ضروري شى چي الله ﷻ مبهم پاته كړى دى تاسى يې هم مبهم پاته كړئ «چي په دى كي بحث او تحقيق څه فائده نه كوې»

دمشرانو اصحابو ﷺ او تابعينو رحمهم الله ددى طرز عمل مقتضى دا وه چي په دى تفسير كي هم دقصى هغه اجزاء نظر انداز كړل سى كوم چي قرآن اوحديث نظر انداز كړى دى ، ليكن دا زمانه هغه ده په كوم كي چي تاريخي اوجغرافيايي انكشافات دټولو څخه لوى كمال گڼل سوي دى او وروستنيو عالمانو دتفسير په دى وجه كم او زيات هغه اجزاء هم بيان كړې دى . په دى جه په زير نظر تفسير كي دقصى هغه اجزاء كوم چي په خپله په قرآنكريم كي ذكر دى دهغه بيان خو به دقرآن دآيتونو تر تفسير لاندى راسى ، باقي تاريخي او جغرافيايي اجزاء دقصى دلته په قدر دضرورت بيانيږي او دبيانولو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

وروسته هم آخري نتيجه به دا وي چې په دې معاملو کې قطعي فيصله ناممکنه ده ، ځکه چې په اسلامي او بيا په مسيحي تاريخونو کې ددې متعلق چې څه ليکل شوي دي ، هغه په خپله دومره مختلف او متضاد دي چې که يو مصنف دخپل تحقيقه او رايه پر بنا دقرينو او مقدمو په مدد سره يوشي متعين کوي ، نو دوهم دغه ډول بل صورت ته ترجيح ورکوي .

(ددين دحفاظت دپاره په غارونو کې دپناه اخيستونکو واقعات په مختلفو ښارونو او ملکونو کې بې شميره سوي دي)

دتاريخ دانانو داختلافاتو يو لويه وجه دا هم ده چې دحضرت عيسی عليه السلام په دين کې چونکې رهبانيت ددين لوی کارګنل سوی وو ، نو په هره مځکه او هرملک کې داسې واقعات بې شميره سوي دي چې ځينې خلق به دالله ﷻ دعبادت دپاره په غارونو کې پناه ګزين کيدل او هلته به يې عمرونه تيرول اوس چې کوم کوم ځای داسې واقعه پيښه سوي ده ، پردې دتاريخ ليکونکو داصحاب کهف ګمان کيدل څه ليري نه وه .

(داصحاب کهف ځای او ددوی زمانه ؟)

دتفسير امام قرطبي رحمه الله الاندلسي په خپل تفسير کې دلته څو واقعات څه د اوريدو او څه دليدو نقل کړي دي ، کوم چې دمختلفو ښارونو سره تعلق لري ، قرطبي دټولو څخه اول څو دضحاک د روايت څخه دا نقل کړي دي چې رقيم د روم ديو ښار نوم دی چې ددی په يو غار کې يوويشت (۲۱) سري پراته دي ، داسې معلوميږي چې دا بيده دي ، بيا يې دتفسير د امام ابن عطيه رحمه الله څخه نقل کړی دی چې ما د ډيرو خلقو څخه اوريدلي دي چې په شام کې يو غار دی چې په کښې څه کسان مړه پراته دي ، دهغه ځای مجاوران دا وايي چې دا خلق اصحاب کهف دي او ددې غار په خوا کې يو جمات او کور اباد دي چې رقيم ورته وايي او ددغه مړو سره ديو مړ سپي ډانچه موجوده ده .

او دوهمه واقعه يې د اندلس دغرناطي دښار نقل کړي ده ، ابن عطيه رحمه الله وايي چې په غرناطه کې ديو لوشه نومې کلي په خوا کې يو غار دی چې په دې کې څه مړه لاشونه دي او د دوی سره يو مړ سپی هم موجود دی ، په دوی کې د اکثرو لاشونو څخه غوښه تللې ده ، صرف دهډوکو ډانچې دي او پر ځينو لا تر اوسه غوښه او څرمن موجودي دي ، په دې باندې صدۍ تيري سوی ، ليکن په صحيح سند سره د دوی هيڅ حال معلوم نه دی ، ځينې خلق وايي چې دا اصحاب کهف دي ، ابن عطيه رحمه الله وايي چې دا خبره مې واوريده نو زه په خپله په سنه ۵۰۴ هـ کې هلته ولاړم نو واقعي چې دا مړه پر دغه حالت باندې وه او د دوی په خوا کې يو جماعت هم دی او يوه د رومي زماني ابادي هم ده ، کومې ته چې رقيم وايي ، داسې معلوميږي چې په تيره زمانه کې به يو عاليشان محل وو ، تر دې وخته پورې هم دده ځينې ديوالونه موجود دي او دا په يو غير اباد ځنګل کې دي .

او فرمايي چې دغرناطي په لوړه حصه کې ديو پخواني ښار نخښې او نښانې پيدا کيږي ، کوم چې د روميانو دطرز دی ، ددې ښار نوم رقيوس بنوول کيږي ، مونږ ددې په کنډرو کې ډير عجائبات او قبرونه ليدلي دي ، قرطبي رحمه الله کوم چې د اندلس اوسيدونکی دی ، ددې ټولو واقعاتو نقل کولو څخه وروسته هم چاته په يقيني طور سره د اصحاب کهف دويلو څخه ګريز کړی دی او په خپله ابن عطيه رحمه الله هم

Maktaba Tul Ishaat.com

دخپلو لیدو باوجود دا په کلکه نه دی ویلی چی دا خلق اصحاب کهف دي ، محض عام شهرت یی نقل کری دی ، مگر بل اندلسی تفسیرلیکونکی ابوحیان رحمه الله چی په اوممه صدی سنه ۷۵۴ هـ کی خاص په غرناطه کی پیدا سوی اوهلته پاته سوی دی ، هغه هم په خپل تفیسر بحرمحیط کی دغرناطی ددی غار داسی ذکر کوی څنګه چی قرطبی کری دی او ابن عطیه رحمه الله دخپلو لیدو دذکر څخه وروسته لیکی چی کله مونږ په اندلس کی وو (یعنی قاهری ته دمنتقل کیدو څخه مخکی) نو ډیر خلق به ددی غار دزیارت دپاره تلل اودابه یی ویل چی که څه هم دغه مړه تر اوسه دلته موجود دی او زیارت کوونکی یی شماري هم، مگر همیشه د دوی په شمیرکی غلطی کوي ، بیافرمایی چی ابن عطیه رحمه الله چی دکوم ښار رقیوس ذکر کری دی اوکوم چی د غرناطی څخه دقبلی طرف ته واقع دی نودی ښارته زه په خپله ډیر واره تللی یم اوپه کښی می لویی غیر معمولی دبري لیدلی دی، ددی څخه وروسته وایی ، وَيَتَرَجَّحُ كَوْنُ أَهْلِ الْكَهْفِ بِالْأَنْدُلُسِ لِكَثْرَةِ دِيْنِ النَّصَارٰى بِهَاحَتّٰى هِيَ بِلَادُمُمْلَكَتِهِمُ الْعُظْمٰى (تفسیر بحر محیط ص ۱۰۲ ج ۲) یعنی داصحاب کهف په اندلس کی د کیدو دترجیح دپاره دا هم قرینه ده چی هلته دنصرانیت غلبه ده ، تر دی چی داخطه د دوی دټولو څخه لوی مذهبی مملکت دی ، په دی کی دا خبره واضحه ده چی د ابو حیان په نزد د اصحاب کهف په اندلس کی کیدل راجح دی (تفسیر قرطبی ص ۳۵۲-۳۵۷ ج ۹)

دتفسیر امام ابن جریر رحمه الله او ابن ابی حاتم رحمه الله په روایت دعوفی دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه نقل کری دی چی رقیم دیوي کندی نوم دی کوم چی دفلسطین څخه لاندی ایله (عقبه) ته نژدي ده، او ابن جریر ابی حاتم اویوڅو نورو محدثینو دحضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه څخه نقل کری دی چی دوی فرمایی چی ماته نه ده معلومه چی رقیم څه شی دی ، لیکن ما دکعب احبار څخه پوښتنه وکړه نو دوی وویل چی رقیم دهغه کلی نوم دی ، په کوم کی چی اصحاب کهف غار ته دتللو څخه مخکی دیره وه (روح المعاني)

ابن ابی شیبه ، ابن المنذر، ابن ابی حاتم دحضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت کری دی ، دی فرمایی چی مونږ دحضرت معاویه رضی الله عنه سره د رومیانو په مقابله کی یو جهاد وکړو کوم ته چی غزوة المضیق وایی ، په دی موقع زمونږ گذر پر هغه غار باندی وسو په کوم کی چی اصحاب کهف دي دکومو ذکر چی الله ﷻ په قرآن کریم کی فرمایلی دی ، حضرت معاویه رضی الله عنه اراده وکړه چی غارته دننه ولاړ سی او د اصحاب کهف لاشونه ووینی، مگر ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل چی داسی نه دي کول په کار څکه چی الله ﷻ د دوی دلیدو څخه هغه هستی هم منع کري ده، کومه چی ستا څخه ښه وه ، یعنی نبی کریم ﷺ څکه چی الله ﷻ په قرآن کریم کی فرمایی ، لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَّلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا : یعنی که ته دوی ووینی نوته به د دوی څخه وتښتی او هیبت به درباندی راسی .

مگرحضرت معاویه رضی الله عنه دابن عباس رضی الله عنه داخبره څکه قبوله نه کړه چی شاید قرآن کریم چی د دوی کوم حالت بیان کری دی، داهغه دی کوم چی د دوی د ژوند په وخت کی وو ، دا څه ضروری ده چی اوس دی هم هغه حالت وي ، په دی وجه څه سړي یی دلیدو دپاره ولیږل ، دوی غار ته ورسیدل ، مگرکله چی یی غار ته دننه کیدل وغوښتل نو الله ﷻ پر دوی یوه سخته هوا راولیږله کوم چی دوی ټول دغار څخه راویستل (روح ص ۲۲۷ ج ۱۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

ددي ذکر سوو روايتونو او قصو څخه دومره خبره ثابته سوه چي دمفسرينو حضراتو څخه کومو حضراتو چي د اصحاب کهف دغار دځاى پته ورکړي ده ، د دوى قولونه د درى ځايونو پته ورکوي، يو دخليج فارس ساحل عقبه (ايله) ته نژدي دحضرت ابن عباس ﷺ دير روايتونه ددي په تائيد کى دى ، لکه چي په ذکر سوو روايتونو کى تير سوى دى .

د ابن عطيه دليدو او د ابو حيان دتائيد څخه دا راجحه معلوميږي چي دا غار په غرناطه اندلس کى دى ، ددي دواړو ځايونو څخه په عقبه کى ديو ښار يا ديوخاص عمارت نوم رقيم هم ښوول سوى دى ، دغه ډول په غرناطه کى دغارمتصل دعظيم الشانه ورانى ابادي کرى چي دا غار د اصحاب کهفو غاردى، بلکه د دواړو قسمه روايتونو مدار په مقامى شهرت او اوريدولو روايتونو باندى دى، او تقريباً ټول تفسيرونه قرطبي،ابوحيان، ابن جريروغيره په خپلو روايتونوکى داصحاب کهف داوسيدودپخوانى ښارنوم افسوس او اسلامى نوم طرطوس ښوولى دى ، تاريخدانان دا ښار د ايشيايى کوچک په مغربى غاړه باندى منى، ددى څخه معلوميږي چي دا غار هم په ايشيايى کوچک کى دى په دى وجه يوه ته په قطعي طور سره صحيح اوباقى ته دغلط ويلو هيڅ دليل نسته ، احتمال د درو واړو ځايونو کيدى سى، بلکى ددى احتمال هم څه نفى نه سى کيدى چي ددى غارونو واقعات دصحيح کيدو باوجود هم دا دهغو اصحاب کهف غار نه وي ، دکوم ذکر چي په قرآنکريم کى راغلى دى ، هغه دى يو بل ځاى وي او دا هم ضرورى نه ده چي رقيم ددغه ځاى ديو ښار يا آبادي نوم وي ، بلکى ددى احتمال نفى هم نه سى کيدى چي دريم څخه مراد هغه کتبه وي پرکومه چي د اصحاب کهف نومونه کنده کړى دى او دغار پر خُله باندى يه بادشاه لګولى وي .

(د نورو تاريخدانانو تحقيق)

ددى زمانى ځينو تاريخدانانو اوعالمانو دمسيحي تاريخونو او ديورپيانو خلقو دتاريخونو په مدد سره د اصحاب کهف دغار دځاى او دزمانى متعين کولو دپاره کافى بحث اوتحقيق کړى دى .

ابو الکلام صاحب ازاد د اَيله (عُقبه) په خوا کى موجوده ښار تپرا کوم ته چي عرب تاريخ دانان بطرا ليکى، دا پخوانى ښار رقيم ګڼلى دى او دموجوده تاريخونو څخه ده دخوا په غره کى ديو غار نخښى هم ښوولى دي ، چي ددى سره ديو جماعت د ابادى نخښي هم ښوول کيږي ، ددى په شاهدى کى يى ليکلى دي چي د بائبل په کتاب يشوع (باب ۱۸ آيت ۲۷)کى چي يى کوم ځاى ته رقم يا راقم ويلى دى داهغه مقام دى کوم چي اوس تپرا ويل کيږي، مګر په دى داشبهه سوي ده، چي په کتاب يشوع کى درقم يا راقم ذکر دبنى بن يمين دميراث په سلسله کى راغلى دى او دا علاقه د دريايى اردن او بحر لوط په مغرب کى واقع وه ، په دى کى دتپرا ښار هيڅ امکان نسته په دى وجه ددى زمانى د اثار قديمه تحقيق کوونکو ددى خبري په منلو سخت تامل کړى دى چي تپرا او راقم يو شى دى (انسائيکلوپيډيا برټانيکاطبع سنه ۱۹۴۹ جلد ۱۷ ص ۲۵۸)

او عام مفسيرين د اصحاب کهف ځاى شهر افسوس ګڼى چي د ايشيايى کوچک په مغربى غاړه باندى د روميانو دټولو څخه لوى ښار وو، دکوم کنډرونه چي اوس هم دموجوده ترکى د ازمير ښار (سمرنا) څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

شل ۲۰ پنځه ویشت ۲۵ میله جنوب طرف ته پیدا کیدی سی .
حضرت مولانا سید سلیمان صاحب ندوی رحمه الله هم په ارض القرآن دتېر اد ذکر سره په قوسونو کی دنته «رقیم» لیکلی دی ، مګر ددی څه شاهدي یی نه ده پیش کړی چی دتېرا ښار پخوانی نوم رقیم وو .
مولانا حفظ الرحمان سهواروی په خپل کتاب قصص القرآن کی دا اختیار کړي ده او ددی په شهادت کی د تورات سفر عدد او صحیفه سعیا په حواله سره یی د تېرا ښار نوم راقمه بیان کړی دی «ماخوذ از دائرة المعارف عرب»
د اردن په حکومت کی عمان ته نژدی په یو ګڼ ځنګل کی دیو غار پته ولګیده نو دحکومت د اثارقدیمه محکمی په سنه ۱۹۶۳ کی دغه ځای دکیندلو کار شروع کړی نو په دی کی دخاورو راووتل او دغار په جنوبی ارخ کی په دبرو کنده سوی څه نقشونه هم پیدا سول کوم چی په بزنطینی ژبه کی دی ، ددی ځای د خلقو خیال دا دی چی دلته رقیم دی ، دکوم په خوا کی چی د اصحاب کهف دا غار دی ، والله اعلم
حضرت سیّدی حکیم الامت تهانوی رحمه الله په بیان القرآن کی دتفسیر حقانی په حواله سره د اصحاب کهف دځای او مقام تاریخی تحقیق دا نقل کړی دی چی ظالم بادشاه دکوم دبیري څخه چی وتښتیدل او اصحاب کهف په غار کی پناه واخیسته ، ددی زمانه سنه ۲۵۰ وه بیا تر دری سوه (۳۰۰) کاله پوری دغه خلق بیده وه ، نو مجموعه سنه ۵۵۰ سوه او دنبی کریم ﷺ ولادت په ۵۷۰ کی وسو ، په دی وجه دنبی کریم ﷺ دپیدائش څخه شل کاله مخکي دبیداریدو واقعه پیښه سوي ده او په تفسیر حقانی کی هم د دوی مقام د افسوس یا طرسوس ښار مقرر کړی دی ، کوم چی په ایشیایی کوچک کی وو ، اوس ددی کنډرات موجود دي ، والله تعالی اعلم بحقیقة الحال
دا ټول تاریخی اوجغرافیایی تفصیلات دی کوم چی دپخوانیو مفسرینو د روایتونو او بیا دنوو مورخینو دبیانونو څخه پیش کړل سوی دی ، دی احقر مخکی دا عرض کړی وو چی نه په یو آیت دقرآن پوهیدل پردی باندی موقوف دی او نه ددی مقصد څه ضروری حصه ددی سره متعلق ده دکوم دپاره چی قرآنکریم دا قصه بیان کړي ده ، بیا روایتونه اوقصی او ددی نخښی اوقرینی دومره مختلفی دي چی دټول تحقیق اوکړاؤ نه وروسته هم ددی څه قطعي فیصله ممکنه نه ده، صرف ترجیحات او رجحانات کیدی سی ، لیکن نن صبا په تعلیمیافته طبقه کی دتاریخی تحقیقاتو ذوق دیر زیات سوی دی ، د دوی دتسکین دپاره دا تفصیلات ولیکل سوه ، چی ددی څخه نژدی نژدی او په اندازه سره دومره معلومیږي چی دا واقعه دحضرت عیسی علیه السلام څخه وروسته دنبی کریم ﷺ زمانی ته نژدی پیښه سوي ده او دیر روایتونه ددی د افسوس یا طرسوس ښار ته پر نژدی کیدو باندی متفق دي ، والله تعالی اعلم
اوحقیقت دا دی چی ددی ټولو تحقیقاتو څخه وروسته مونږ هم هغه ځای ولاړیو دکوم ځای څخه چی روان سوی وو ، چی دمقام متعین کولو نه څه ضرورت سته او نه ددی تعین په څه یقینی ذریعه سره کول کیږي ، دتفسیر اوحدیث امام ابن کثیر ددی متعلق دا فرمایلی دي چی .

فَقَدْ أَخْبَرَنَا اللهُ تَعَالَىٰ بِذٰلِكَ وَأَرَادَ مِنَّا فَهْمَهُ وَتَدَبُّرَهُ وَلَمْ يُخْبِرْنَا بِمَكَانِ هٰذَا الْكَهْفِ فِي أَيِّ الْبِلَادِ مِنَ الْأَرْضِ إِذْ لَا فَائِدَةَ لَنَا فِيهِ وَلَا قَصْدَ شَرْعِيَّ «ابن کثیر ص ۷۵ ج ۳»

Maktaba Tul Ishaat.com

يعني الله ﷻ موږ ته د اصحاب کهف دهغه حالاتو خبر راکړی دی دکومو چی په قرآن کی دي چی موږ په دی پوه سو اوپه دی کی فکر وکړو او ددی خبر یی نه دی راکړی چی دغه غار په کومه مځکه اوپه کوم ښارکی دی ځکه چی په دی کی زموږ څه فائده نسته اونه څه شرعی مقصد په دی پوری تړل سوی دی.

(دا صحاب کهف واقعه په کومه زمانه کي پیښه سوه او په غار کي دپناه اخیستو اسباب څه وه ؟)

دقصی داتکره هم هغه ده په کوم چی نه قرآن په یو آیت باندی پوهیدل موقوف دي نه یی دقصی په مقصد پوری څه خاص اثر سته اونه په قرآن اوحدیث کی ددی څه بیان سته ، صرف تاریخی قصی دی، په دی وجه ابو حیان په تفسیر بحر میحط کی فرمایی.

وَ الرُّوَاةُ مُخْتَلِفُوْنَ فِيْ قِصَصِهِمْ وَكَيْفَ كَانَ اجْتِمَاعُهُمْ وخُرُوْجُهُمْ وَلَمْ يَأْتِ فِيْ الْحَدِيْثِ الصَّحِيْحِ كَيْفِيَّةُ ذٰلِكَ وَلَافِيْ الْقُرْآن (بحيرمحيط ص ١٠١ ج ٢)

د دوی په قصه کی دراویانو سخت اختلاف دی او په دی کی چی دوی په دی خپل پروګرام څنګه متفق او څنګه ووتل ، نه په څه صحیح حدیث کی ددی کیفیت ذکر دی او نه په قرآن کی.

خوبیاهم دموجوده طبیعتونو ددلچسپی دپاره لکه چی لوړ داصحاب کهف دمقام متعلق څه معلومات لیکل سوي دي ددی دزمانی دواقع کیدواوداسبابو دواقع کیدو متعلق هم لنډ څه معلومات دتفسیری او تاریخی روایتونو څخه نقل کیږي، داقصه په پوره تفصیل اوراګیرولوسره حضرت قاضی ثناء الله پانی پتی ؒ په تفسیر مظهری کی دمختلفوروایتونو څخه نقل کړي ده، مګردلته صرف هغه لنډه واقعه لیکل کیږي کومه چی ابن کثیر دمخکنیو او وروستنیو ډیرو تفسیرونو په حوالو سره پیش کړي ده ، هغه فرمایی.

اصحاب کهف دبادشاهانو اولاد اودخپل قوم سرداران وه ، قوم بت پرست وو یوه ورځ د دوی قوم دخپلی څه مذهبی میلې دپاره دښارڅخه بهر وتلی وو ، کوم ځای چی به د دوی کلنۍ اجتماع کیده، هلته به تلل دي خلقو به دخپلو بتانو عبادت کوي او د دوی دپاره به یی حیوان قربان کوی، د دوی بادشاه یو جبار ظالم دقیانوس نوم یی وو ، چاچی به قوم پر دي بت پرستی مجبوری، په دغه کال هرکله چی ټول قوم په دی میله کی جمع سو نو د اصحاب کهف ځوانان هم هلته ولاړل او هلته یی دخپل قوم داحرکتونه ولیدل چی په خپلو لاسونو جوړکړی دبرو ته خدایان وایی اوعبادت یی کوي اوقربانی ورکوي ، دغه وخت الله ﷻ دوی ته دا روغ عقل ورکړی ، چی دقوم ددی بی وقوفه حرکت څخه د دوی نفرت پیدا سو او دعقل څخه یی کار واخیستی، نو د دوی په خیال کی را غله چی داعبادت خو صرف دهغه ذات په کار دی چاچی مځکه او آسمان اوټول مخلوقات پیدا کړي دي، داخیال په یووخت کی ددی څو ځوانانو په زړه کی راغی ، اوپه دوی کی هریو دقوم ددی بی عقلی دعبادت څخه دځان ساتلو دپاره ددغه ځای څخه لیري کیدل شروع کړل، په دوی کی دټولو څخه اول یو ځوان ددغه جمعی څخه لیرې ولاړی اوتریوي درختی لاندی کښینستی ددی څخه وروسته یوبل راغی اوهغه هم تردی درختی لاندی کښینستی، دغه ډول بیادریم اوڅلورم راتلل او ددی درختی لاندی کښینستل، مګر په دوی کی یو نه بل پیژندی او نه ددی څخه خبر وو چی دی ولی دلته راغلی دی، مګر دوی په حقیقت کی هغه قدرت دلته جمع کړی وو چاچی د دوی په زړونو کی ایمان پیدا کي.

(دقومیت او اجتماعیت اصلي بنیاد)

ابن کثیر رحمه الله ددی نقل کولو څخه وروسته فرمایي چې خلق خو دباهمي اجتماع سبب قومیت او جنسیت ګڼي، مګر حقیقت هغه دی کوم چې دصحیح بخاري په حدیث کې دی چې په حقیقت کې یوکیدل اوجلا کیدل اول په ارواحانو کې پیدا کیږي ددی اثر ددی عالم پر جسمونو پریوزي، دکومو روحونو په مینځ کې چې په ازل کې مناسبت او اتفاق پیدا وي هغوی به دلته هم دیو بل سره تړل سوی وي او دیوجماعت شکل به اختیاروي او په کوموکې چې دا مناسبت اوموافقت نه وي، بلکې هلته جلا پاته سوي وي، هغوی به دلته هم جلا وي، ددی واقعي مثال ته وګوري چې څنګه جلا جلا دهر سړي په زړه کې یو خیال پیدا سو او دی خیال دا ټول په غیر شعوري طوګه سره یوځای ته جمع کړل.

لنډه دا چې دا خلق یوځای خو جمع سول، مګر هر یوه خپله عقیده دنورو څخه خکه پټوله چې هسې نه دوی ولاړ سي اوبادشاه ته مخبري وکړي او زه ګرفتار سم، څه وخت دخاموشي په عالم کې دپاته کیدو څخه وروسته په دوی کې یوسړي وویل چې وروڼو! زمونږ دټولو دقوم څخه جلا دی ځای ته دراجمع کیدو څه سبب خامخا سته، مناسبه دا ده چې مونږ ټول دیوبل دخیال څخه خبر سو، په دی باندی یوسړي وویل چې حقیقت دا دی چې زه خپل قوم چې پر کوم مذهب دین اوعقیده باندی وینم، زمایقین راغلی دی چې دا باطله عقیده ده عبادت خو صرف دالله ﷻ په کار دی دچاچې دکائناتو په پیدائش کې څوک شریک او حصه دار نسته، اوس خو نورو ته هم موقع ورکول سوه او په دوی کې هر یوه اقرار وکي چې دا هم عقیده اوخیال دی کوم چې زه دقوم څخه جلا کړم او دلته یې راورسولم.

اوس دا دیوخیال جماعت دیو بل ملګري او دوستان سول او دوی خپله یوه جلا عبادتګاه جوړه کړه چې په هغه کې به جمع کیدل او دخدای واحد عبادت به یې کوی.

مګر داسې کیده چې د دوی خبر په ښارکې خپور سو اوچغل خورو بادشاه ته د دوی خبر ورسوی، بادشاه ددی ټولو دحاضریدو حکم وکي، دا خلق په دربارکې حاضر سول نو بادشاه د دوی دعقیدی او طریقې متعلق پوښتنه وکړه الله ﷻ دوی ته همت ورکي، دوی بغیر دڅه بیری اوخطری څخه خپله عقیده د توحید بیان کړه اوپه خپله بادشاه ته یې هم ددی دعوت ورکي، ددی بیان دقرآن کریم په آیت کې داسې راغلی دی، وَرَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَن نَّدْعُوَ مِن دُونِهِ إِلَٰهًا لَّقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا ۞ هَٰؤُلَاءِ قَوْمُنَا اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ آلِهَةً لَّوْلَا يَأْتُونَ عَلَيْهِم بِسُلْطَانٍ بَيِّنٍ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا.

هرکله چې دی خلقو بادشاه ته بې دڅه بیری څخه په زړورتیا سره د ایمان دعوت ورکي نوبادشاه ددی څخه انکار وکي اوپه دوی یې بیره تیره کړه او د دوی دبدن څخه یې هغه ښائسته جامې چې ددی شهزادګانو په بدن باندی وې ویستلې، چې دا خلق په خپله معامله فکر وکړي او دفکر کولو دپاره یې ورته څو ورځې مهلت ورکي، دایې ورته وویل چې تاسې ځوانان یاست زه ستاسې په قتلولو ځکه تلوار نه کوم چې تاسې ته دفکر کولو موقع درکړل سي اوس هم که تاسې دخپل قوم دین اومذهب ته راغلاست نو په خپل حال به اوسی کنه نو قتل به سی.

Maktaba Tul Ishaat.com

دا دالله ﷻ لطف اوکرم په خپلو مومنانو بندگانو باندې وو چې دې مهلت دې خلقو ته د تيښتې لار اسانه کړه او دا خلق ددې ځاى څخه وتښتيدل او په يو غار کې پټ سول .

دمفسرينو عام روايتونه پردې متفق دي چې دا خلق پر دين مسيحي ﷺ باندې وه ، ابن کثير او نورو تولو مفسرينو دا ذکر کړې دى ، که څه هم ابن کثير دا ځکه نه ده قبوله کړې چې که دا خلق پر مسيحي دين باندې وي، نو دمدينې يهودو به د دوى سره ددښمنى په وجه ددې واقعې پوښتنه نه کوله اودى ته به يې اهميت نه ورکوى مگر دا يو داسې بنياد نه دى چې په وجه سره تول روايتونه رد سى ، دمدينې يهودو خو محض د واقعې دعجيبه والى په حيثيت سره ددې پوښتنه وکړه ، لکه د ذوالقرنين سوال هم پردې بنا باندې دى چې په داسې سوالاتو کې ديهوديت اونصرانيت دتعصب په مينځ کې نه راتلل ښکاره خبره ده .

په تفسير مظهرى کې په روايت ابن اسحاق يې دا خلق په هغو موحدينو کې شمار کړې دى کوم چې د مسيحى دين دختميدو څخه وروسته ددې حق پرست خلق خال خال پاته سوى وه کوم چې په صحيح دين مسيح اوتوحيد باندې قائم وه دابن اسحٰق په روايت کې هم ددې ظالم بادشاه نوم دقيانوس ښوول سوى دى اوپه کوم ښار کې چې دا ځوانان په غار کې دپټيدو څخه مخکې اوسيدل دهغه نوم يې افسوس ښوولى دى .

دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ په روايت کې يې هم واقعه داسې بيان کړې ده او دبادشاه نوم يې دقيانوس ښوولى دى ، د ابن اسحٰق په روايت کې دا هم دي چې د اصحاب کهف دبيداريدو په وخت کې چې پر ملک ددين مسيح عليه السلام پابند دکومو خلقو قبضه سوى وه ، دهغوى دبادشاه نوم بيدوسيس وو .

دتولو روايتونو څخه دا خبره خو په غالب گمان ثابتيږي چې اصحاب کهف په صحيح دين مسيح ﷺ باندې وه او د دوى زمانه وروسته دمسيح عليه السلام څخه ده او دکوم بادشاه مشرک څخه چې تښتيدلى وه ، دهغه نوم دقيانوس وو ، درى سوه نهه (۳۰۹) کاله وروسته دبيداريدو په وخت کې چې دکوم نيک مومن بادشاه حکومت وو ، د ابن اسحٰق په روايت کې يې دده نوم بيدوسيس ښوولى دى ، ددې سره چې د موجوده زمانې تاريخونه يوځاى سې او وکتل سي نو په اندازتاً اوتقريباً د دوى زمانه متعينه کيدى سى ، ددې څخه زيات تعين ته نه ضرورت سته او نه يې دعلم اسباب موجود دي .

(اصحاب کهف اوس هم ژوندي دي؟)

په دې معامله کې صحيح اوښکاره دا ده چې دوى وفات سوى دي په تفسير مظهرى کې دابن اسحٰق په مفصل روايت کې دي چې داصحاب کهف دبيداريدو او په ښار کې د دوى دشهرت کيدو او ددغه وخت بادشاه بيدوسيس ته درسيدو او دملاقات څخه وروسته چې اصحاب کهف دده څخه رخصت واخيستى نو درخصت اوسلام څخه وروسته يې هغه ته دعا وکړه اولا بادشاه پردغه ځاى موجود وو چې دوى خپل د پريوتو ځايونو ته ولاړل ، پريوتل او دغه وخت الله ﷻ دوى ته مرگ را وستى او مړه سول .

اوحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ دارزوايت ابن جرير ابن کثير وغيره تولو تفسيرليکونکو نقل کړې دى چې

قَالَ قَتَادَةُ غَزَا ابْنُ عَبَّاسٍ مَعَ حَبِيْبِ ابْنِ مَسْلَمَةَ فَمَرُّوْا بِكَهْفٍ فِيْ بِلَادِ الرُّوْمِ فَرَاَوْا فِيْهِ عِظَامًا فَقَالَ قَائِلٌ هٰذِهِ عِظَـامُ

Maktaba Tul Ishaat.com

أَهْلِ الْكَهْفِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ﷺ لَقَدْ بَلِيَتْ عِظَامُهُمْ مِنْ أَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثِمِائَةِ سَنَةٍ (ابن كثير)
قتاده وایی چی ابن عباس ﷺ د حبیب ابن مسلمه سره یو جهاد وکي نو د روم په ملک کی دوی پر یو غار تیرسول چی د مړو هډوکی په کښی وه چا وویل چی دا د اصحاب کهف هډوکی دی ، نو ابن عباس ﷺ وفرمایل چی د دوی هډوکی د نن څخه دری سوه (۳۰۰) کاله مخکی خاوری سوی دی.
دا ټول د دغه تاریخی قصی هغه اجزاء وه کوم چی نه قرآن بیان کړي دي نه په حدیثوکی رسول الله ﷺ اونه ددی واقعی څه خاص مقصد یا د قرآن په څه آیت پوهیدل پردی موقوف دی اونه په تاریخی روایتونو سره ددی شیانو څه قطعی فیصله کید سی، باقی پاته سول د قصی هغه اجزاء د کوموچی په خپله قرآنکریم ذکر کړی دی ، د هغو تفصیل تر دی آیتونو لاندی راځی ، تر دی ځای پوری قرآنکریم ددی قصی اجمالی ذکر کړی وو ، مخته اوس تفصیل راځی.

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُم بِالْحَقِّ ۚ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى ﴿١٣﴾ وَرَبَطْنَا

مونږ اورو تاته د دوی حال په حقه سره دا یو څو ځوانان دی چی ایمان یی راوړی دی په خپل رب او زیاته کړه مونږ د دوی

عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

پره ، او تړل مونږ د دوی زړونه هرکله چی دوی ودریدل بیا یی وویل زمونږ رب دی د اسمانونو او د مځکی

لَن نَّدْعُوَ مِن دُونِهِ إِلَٰهًا ۖ لَّقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا ﴿١٤﴾ هَٰؤُلَاءِ قَوْمُنَا

نه بولو مونږ د ده څخه ماسوا بل معبود که نه وای نو مونږ به وو ایو خبره د عقل څخه لیری دا زمونږ قوم دی

اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ آلِهَةً ۖ لَّوْلَا يَأْتُونَ عَلَيْهِم بِسُلْطَانٍ بَيِّنٍ ۖ

چی جوړ کړی یی دی د الله څخه ماسوا نور معبودان ، ولی نه راوړی په دوی باندی څه سند ښکاره ،

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا ﴿١٥﴾ وَإِذِ اعْتَزَلْتُمُوهُمْ

بیا د ده څخه لوی ګناهګار څوک دی چاچی وتړل په الله پوری درواغ ، او هرکله چی تاسی منعه وکړه د دوی څخه

وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ فَأْوُوا إِلَى الْكَهْفِ يَنشُرْ لَكُمْ رَبُّكُم مِّن

او د هغو څخه چی دوی یی عبادت کوی د الله څخه ماسوا پس اوس ولاړسی دی غار ته فراخه به کی په تاسی ستاسی رب

رَّحْمَتِهِ وَيُهَيِّئْ لَكُم مِّنْ أَمْرِكُم مِّرْفَقًا ﴿١٦﴾

د خپل رحمت څخه او جوړ به کړی تاسی د پاره په کار ستاسی کی ارام.

لنډتفسير: مونږ دا واقعه تاته صحيح صحيح بيانوو (په دې کې يې اشاره وکړه چې ددې خلاف هرڅه چې
په دنياکې مشهوره دې هغه صحيح نه دې) هغه خلق (اصحاب کهف) يو څو ځوانان وه کومو چې په خپل
رب (دهغه زماني ددين عيسوي مطابق) ايمان راوړی وو او مونږ د دوی په هدايت کې نوره ترقي وکړه
(چې د ايمان صفتونه ، ثابت قدمي، پر بلاګانو صبرو ددنيا څخه مخ اړول دآخرت فکر وغيره مو ورته هم
ورکړي ، دايمان اوهدايت په دې صفتونوکې يوه خبره دا وه چې) مونږ د دوی زړونه مضبوط کړل هرکله
چې دوی پاڅه سول (په خپل مينځ کې يا دمخالف بادشاه په مخکې) وي ويل چې زمونږ رب خو هغه دی
کوم چې د آسمانونو اومځکو رب دی ، مونږ هغه نه پريږدو دبل معبود عبادت نه کوو (ځکه چې خدای
مه کړه مونږ داسې وکړل) نو په دې صورت کې به مونږ يقيناً ډيره بې ځای خبره وکړه او دا چې کوم زمونږ
قوم دی دوی خدای پريښي دی او نور معبودان يې مقرر کړي دي (ځکه چې د دوی قوم او ددغه وخت
بادشاه ټول بت پرست وه نو) دا خلق دخپلو معبودانو (په معبود کيدو) باندې څه ښکاره دليل ولې نه
راوړي (لکه چې موحدين په توحيد باندې واضح او يقيني دليل لري) دده څخه زيات به څوک ظالم وي
کوم چې په الله ﷻ د دروغ تهمت لګوي (چې دده څوک ملګري او شراکتي هم سته) او بيا (په خپل مينځ
کې يې وويل چې) هر کله تاسې ددې خلقو څخه په عقيده کې جلا سواست او د دوی دمعبودانو
(دعبادت) څخه هم (جلا سواست) مګر دالله څخه (نه ياست جلا سوی بلکې دده په وجه مو ټول پريښي
دي) نو اوس (مصلحت دا دی چې) تاسې په (فلاني) غار کې (کوم چې په مشوره سره مقرر سوی وو) ولاړ
سي پټ سي (چې په امن او په بې فکري سره دالله ﷻ عبادت وسی) پر تاسې به ستاسې رب خپل رحمت
راخپور کړي او ستاسې دپاره به په دې کار کې دکاميابي اسباب برابر کړي (دالله ﷻ څخه په دې اميد
اوتوقع غارته دتللو په وخت دوی دټولو څخه اول دا دعا وکړه چې ، رَبَّنَا آتِنَا مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا
مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا .

معلومات او مسئلې: اِنَّهُمْ فِتْيَةٌ : دفتي جمع ده دنوجوان په معنی کې راځي ، دتفسير عالمان وايي چې په
دې لفظ کې دا اشاره پيداسوه چې دعملونو او اخلاقو داصلاح او رشد اوهدايت زمانه دځواني عمر دی
، په زړوالي کې تير عملونه او اخلاق داسې پاخه سي چې که هر څومره ددې خلاف حق واضح سي خو
ددې څخه وتل مشکل وي په اصحابو کې په نبي کريم ﷺ باندې ايمان راوړونکي اکثره ځوانان خلق وه
(ابن کثير، ابو حيان)

وَرَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ : د ابن کثير رحمه الله په حواله سره دواقعي کوم صورت چې لوړ بيان سوی دی ، ددې
څخه معلومه سوه چې دالله ﷻ دطرف څخه د دوی د زړونو دمضبوطولو واقعه هغه وخت وسوه هرکله
چې بت پرست ظالم بادشاه دا ځوانان په خپل دربار کې حاضر کړل او پوښتنه يې ورڅخه وکړل ، ددې
مرګ او ژوند په کشمکش او دقتل او بيري باوجود الله ﷻ د دوی پر زړونو دخپل محبت او هيبت او
لويي داسې مسلطه کړه چې ددې په مقابله کې دقتل اومرګ اوهر مصيبت برداشت کولو دپاره تيار سول
او دخپلې عقيدې يې صفا صفا اظهار وکړ چې دوی دالله ﷻ څخه ماسوا دبل هيچا عبادت نه کوی او

Maktaba Tul Ishaat.com

آئنده به یې هم ونه کړي، کوم خلق چې د الله ﷻ د پاره د څه کار پخه اراده کوي نو د الله ﷻ د طرف څخه د دوی داسې امداد کیدی سی.

فاوا إلى الكهف: ابن کثیر رحمه الله فرمایي چې اصحاب کهف کوم صورت اختیار کړي چې په کوم ښار کې دوی اوسیدل په هغه کې د الله ﷻ عبادت نه سو کیدی نو دغه یې پرېښودی او په غار کې یې پناه واخیسته دا سنت دی د ټولو انبیاؤ چې د داسې ځاینو څخه هجرت کوي او هغه ځای اختیار وي کوم ځای چې عبادت کولی سی.

وَتَرَى الشَّمْسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَاوَرُ عَن كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت تَّقْرِضُهُمْ

او ته به وینې لمر کله چې راخیژي بېځي د دوی د غار څخه راسته طرف ته او کله چې ولوېږي نو په

ذَاتَ الشِّمَالِ وَهُمْ فِي فَجْوَةٍ مِّنْهُ ۚ ذَٰلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ ۗ مَن

څنګ کیږي چپه طرف ته او دوی په میدان کې دی ددې څخه، دا دی د الله تعالی د قدرتونو څخه، کوم چې

يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۖ وَمَن يُضْلِلْ فَلَن تَجِدَ لَهُ وَلِيًّا

الله په لاره کړی هغه په لاره وی، او څوک چې هغه ګمراه کړی پس بیا به نه کې پیدا ته د ده لره څوک ملګری په

مُّرْشِدًا ﴿١٧﴾ وَتَحْسَبُهُمْ أَيْقَاظًا وَهُمْ رُقُودٌ ۚ وَنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ

لار کوونکی، او ته به ګڼې چې هغوی وینښ دی او هغوی بیده دی او اړوو موږ

الْيَمِينِ وَذَاتَ الشِّمَالِ ۖ وَكَلْبُهُم بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيدِ ۚ

دوی راسته او چپه طرف ته، او سپی د دوی خوری کړی دی متی خپلې په درشل

لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا ﴿١٨﴾

که ته را ښکاره سی وګوری دوی ته نو په شا به وتښتې د دوی څخه او رعب به در باندی غالب سی.

لنډتفسیر: او ای مخاطبه! (هغه غار په داسې وضع باندې واقع سوی دی چې) هر کله چې لمر راخیژي تو ته به هغه وینې چې د غار څخه رسته طرف ته بېځ کیږي (یعنی د غار د دروازې څخه راسته طرف ته اوړي) او هر کله چې پرېوزي نو (د غار) چپه طرفته پرڅنګ کیږي (یعنی دغه وخت هم غار ته دننه لمر نه ځي د دې د پاره چې دوی ته د لمر د تاو څخه تکلیف ونه رسیږي) او هغه خلق د دې غار په یو پراخ ځای کې وه (یعنې په داسې غارونو کې کوم چې عادتاً په یو ځای کې تنګ او یو ځای کې پراخ وي، نو دوی د دې غار په داسې ځای باندې وه کوم چې پراخ وو چې هوا ورته هم رسیږي او د ځای د تنګوالي څخه یې زړه

Maktaba Tul Ishaat.com

هم نه بيريږي) دا د الله ﷻ دنښانو څخه ده (چې دښکاره اسبابو څخه خلاف يې د دوی دپاره د آرام اسباب تيار کړل، نو معلومه سوه چې) چاته الله ﷻ هدايت وکړي هغه هدايت پيدا کړي او څوک چې هغه ګمراه کړي، نو ته به دده دپاره څوک مددګار لارښوونکی پيدا نه کړي (دغار کوم حالت چې ښوول سوی دی چې په دې کې نه دلمر ختلو په وخت کې سهار غرمه دننه څي، نه ماښام د پريوتلو په وخت کې داپه داسې صورت کې کيدی سي چې غار شمالاً جنوباً وي، ځکه چې که رسته چپه جانب ته په غار کې داخليدونکي مراد وی نو دغار مخته د شمال طرف ته وي او که رسته چپه جانب ته دغار څخه وتونکي مراد وي نو دغار مخ به دجنوب طرف ته وي.

او ای مخاطبه! (ته که دغه وخت کوم وخت چې دوی غار ته ولاړه او مونږ باندی خوب مسلط کي دوی ووينې نو) په دوی به دې ګمان دوينبوکولو حال دا دی چې دوی بيده وه (ځکه چې دالله ﷻ قدرت دوی د خوب د اثر او نښانو څخه محفوظ کړی وو، لکه دساه اخيستو تغير، دبدن سست والی، سترګې که څه بندی هم وی خو دخوب علامه باندی نه وه) او ددی خوب په اوږده زمانه مونږ دوی (کله) راسته طرف ته او (کله) چپه طرف ته په اړخ اړول (او په دی حالت کې) د دوی سپی (کوم چې په يو وجه د دوی سره را غلی وو دغار) پر درشل خپل دواړه لاسونه خپاره کړی (ناست) وو (او د دوی) دخدای ورکړی رعب او هيبت دا حالت وو چې که چيري (ای مخاطبه) تا دوی ته کتلی وای نو په شا به ورڅخه تښتيدلی وای او پر تا به يې رعب او هيبت غالب سوی وای (په دې آيت کې عامو مخاطبو ته خطاب دی، په دی آيت سره دنبي کريم ﷺ مرعوب کيدل نه لازميږي، او دا ټول اسباب الله ﷻ ددی خلقو دحفاظت دپاره جمع کړی وه، ځکه چې پر وينښ سړی باندی حمله کول اسانه نه وي او دخوب په اوږده زمانه کې که يې اړخ نه بدليدی نو خاورو به يې يو طرف خوړلی وای او دغار پر خوله باندی دسپی کښينستل هم دحفاظت د اسبابو نښکاره خبره ده)

معلومات او مسئلې: په دې آيتونو کې الله ﷻ داصحاب کهف دری حال ښوولی دی او دری سره عجيبه دی کوم چې ددی حضراتو په کرامت سره په طور دخرق عادت ښکاره سول.

اول تر اوږدی زمانې پوری پرله پسې باندی دخوب مسلط کيدل او په دی کې بغير دڅه خوراک وغيره څخه ژوندی پاته کيدل دټولو څخه لوی کرامت او خرق عادت دی، ددی تفصيل خو به په مخکې آيتونو کې راسي دلته يې ددوی ددی اوږدخوب په حالت کې ددوی يو حال خو دا ښوولی دی چې الله ﷻ دوی په غار کې دننه داسې محفوظ ساتلی وه چې سهار او ماښام به غرمه ددوی په خواکې تيريدل مګر په غار کې دننه د دوی په جسمونو به نه پريوتل، په خواکې دتيريدو فائدی دژوند دنښانو قائموالی، دهوا او ديخ ګرمی اعتدال وغيره وو او د دوی په جسمونو دغرمو نه لويدو سره د دوی دبدنونو او دکالو حفاظت هم وو،

دغرمو په دوی دننه پريوتو دا صورت دغار دڅه خاص جوړښت پر بنا هم کيدی سي چې دده دروازه دجنوب يا شمال طرف ته داسې جوړه وي چې غرمه په طبعي او عادي طور ده ته دننه نه رسيږي، ابن قتيبه دده د خاص جوړښت دمتعين کولو دپاره دا تکليف وکړی چې درياضي داصولو او قاعدو په روسره يې ددغه ځای طول بلد او عرض او دغار رخ متعين کړو (مظهري)

Maktaba Tul Ishaat.com

او ددې په مقابله کې زجاج رحمه الله وویل چې دغرمو په دوی نه پریوتل دځه وضع او هیئت په بنا باندې نه دی ، بلکه د دوی په کرامت سره په طور دخرق عادت وو ، او ددې آیت په آخرکې چې کوم دا ارشاد دی ، ذٰلِکَ مِنۡ اٰیٰتِ اللّٰہِ : دا هم په ښکاره پردې دلالت کوي چې دغرمو ځځه دحفاظت دا اسباب دغار دځه خاص وضع او هیئت نتیجه نه وه ، بلکې دالله ﷻ دکامل قدرت یوه نښانه وه (قرطبی)

او صفا خبره دا ده چې الله ﷻ د دوی دپاره داسې اسباب برابر کړې وه چې غرمه د دوی پر بدنونو پرې نه وزي ، برا بره خبره ده که دا اسباب دغار دخاص هیئت او وضع په ذریعه سره وي او یا ځه وریځ وغیره به غرمو ته حائله کیده یا یې سیده په سیده د لمر پلوشې د دوی ځخه په طور دخرق عادت لیرې ساتلی ، په آیت کې دا ټول احتمالات سته ، پر یوه خبره باندې د زور ورکولو ضرورت نسته .

(اصحاب کهف د اوږد خوب په زمانه کې په داسې حالت وه چې لیدونکې یې بیدار ګڼې)

دوهم حال یې دا ښوولی دی چې په اصحابو کهف د دومره اوږدې زمانې پورې دخوب مسلط کولو باوجود د دوی پر بدنونو دخوب نښانې نه وې ، بلکې په داسې حالت کې وو چې لیدونکې یې داسې ګڼې چې دوی ویښ وي ، عام مفسرین فرمایي چې د دوی سترګې غړیدې او بدن یې دخوب سست والی نه وو ، په ساه اخیستو کې چې کوم دخوب په وجه بدلون وي هغه نه وو په کښې ، ښکاره دا ده چې دا حالت هم غیر معمولي او یو قسم کرامت ؤ ، چې په ښکاره د دوی دحفاظت حکمت په کښې وو چې ځوک یې بیده ونه ګڼي او حمله باندې ونه کړي یا کوم اسباب چې د دوی سره وه دغه ورځځه پټ نه کړي او د ارخ په بدلولو سره به هم لیدونکو دبیدارو باندې خیال کوي ا و دا مصلحت په کښې هم وو چې خاوره یې یو ارخ ونه خوري .

(د اصحاب کهف سپي)

دلته یو سوال خو دا پیدا کیږي ، چې په صحیح حدیث کې راغلي دي چې په کوم کور کې سپی یا تصویر وي هغه کور ته فرښتې نه داخلیږي ، او دصحیح بخاري په یو حدیث کې په روایت د ابن عمر رضی الله عنه ذکر دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې کوم سړی دښکار دسپي یا ځاروي ساتونکې سپي ځځه علاوه بل سپی ساتي نو هره ورځ دهغه په اجر کې دوه قیراطه کمیږي (قیراط د یو کوچنې وزن نوم دی) او دحضرت ابو هریره رضی الله عنه په روایت کې د یو دریم قسم سپي هم استثناء راغلي ده یعنې کوم چې دفصل دحفاظت دپاره ساتل سوی وي .

دحدیثو د روایتونو په بنا دا سوال پیدا کیږي چې دې بزرګانو خدایي خلقو دځان سره سپی ځنګه بوتلی ؟ ددې یو جواب خو دا کیدی سي چې دسپي دپالنې دممانعت حکم دشریعت محمدي حکم دی ، پردې د حضرت مسیح علیه السلام په شریعت کې منع نه وه ، دوهمه دا هم قیاس ته نژدې ده ، چې دا خلق دځاروي او جائیدان خاوندان وه ، ددې دپاره به یې سپی ساتلی وي او دسپي وفاداري خو مشهوره ده ، دوی چې کله د ښار ځځه تلل ، نو دی هم ورسره سو ز

(دنیک صحبت برکتونه چې دسپي یې هم اعزاز زیات کې)

ابن عطیه رحمه الله فرمایي چې زما پلار صاحب ویل چې ما دابو الفضل جوهری رحمه الله یو وعظ په سنه

Maktaba Tul Ishaat.com

۴۲۹ هـ کې دمصر په جامع مسجد کې واوریدې چې دوی پر منبر فرمایل چې کوم سړی دنیکو خلقو سره محبت کوی دهغوی دنیکۍ برخه ده ته هم ورکول کیږي ، وګورې داصحاب کهف سپی ته چې د دوی سره یې محبت وکړی او ورسره سو نو الله ﷻ په قرآنکریم کې دده ذکر وفرمایی .

قرطبی رحمه الله په خپل تفسیر کې د ابن عطیه رحمه الله د روایت نقل کولو څخه وروسته فرمایی چې کله یو سپی دصالحانو او اولیاؤ په صحبت سره دامقام پیداکي نو تاسی اندازه وکړی چې مومنان موحدین کوم چې د اولیاء الله او صالحانو سره محبت ساتی دهغوی مقام به څومره لوړ وي؟ بلکې په دې واقعه کې د هغو مسلمانانو دپاره تسلي اوخوشخبري ده دکومو چې خپل عملونه خو کم دی ، مګر دنبی کریم ﷺ سره پوره محبت ساتی ، په صحیح بخاری کې په روایت دحضرت انس رضی الله عنه ذکر دی چې زه دنبی کریم ﷺ سره یوه ورځ دجمات څخه ووتم ، دجمات په دروازه کې یو سړی دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې قیامت به کله راځی ؟ ده ﷺ ورته وفرمایل چې تا ورته څه تیاری کړی دی (چې دومره یې د راتلو تلوار کوی) په دې خبره اوریدو سره دا سړی په زړه کې څه شرمنده غوندې سو او بیا یې عرض وکې چې ما دقیامت دپاره ډیر لمونځونه، روژې او صدقی خو نه دی جمع کړي ، مګر زه دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ سره محبت ساتم ده ﷺ وفرمایل چې که داسی وي نو (واوره چې) ته به (په قیامت کې) دهغوی سره یې دچا سره چې محبت ساتی، حضرت انس رضی الله عنه فرمایی چې مونږ دا جمله مبارکه دنبی کریم ﷺ څخه واوریده نو دومره خوشحاله سو چې د اسلام راوړو څخه وروسته دومره خوشحالی کله هم مونږ ته نه وه حاصله او ددې څخه وروسته حضرت انس رضی الله عنه وفرمایل چې (الحمد لله) زه دالله ﷻ سره، دهغه درسول ﷺ سره او د ابوبکر رضی الله عنه عمر رضی الله عنه سره محبت ساتم، په دې وجه ددې امید کوم چې د دوی سره به یم (قرطبی)

(اصحاب کهف ته الله ﷻ داسي رعب او جلال ورکړی وو چې چا به لیدل دهیبت څخه به یې تښتیدل)

لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ، ښکاره دا ده چې په دې کې خطاب عامو خلقو ته دی ، په دې وجه ددې څخه دا نه لازمیږي چې داصحاب کهف رعب پر نبی کریم ﷺ باندی هم غالب کیدی ، عامو مخاطبینو ته یې فرمایلی دی چې که تاسی دوی ته ورښکاره سی او وګوری نو دهیبت څخه به وتښتی او د دوی رعب اوهیبت به پرتاسی غالب سی .

دا رعب او هیبت په څه بنا او په څه اسبابو باندی وو؟ په دې کې بحث کول فضول دی او په دې وجه قرآن او احادیثو یې بیان نه دی کړی حقیقت دا دی چې الله ﷻ د دوی دحفاظت دپاره داسی حالات پیداکړی وه چې د دوی په بدن غرمه نه پریوزی او لیدونکی دوی بیدار ګڼی او چې دوی ته وګوری نو هیبت باندی راځی ، سم ورته کتلی هم نه سی، دا حالات دخاص طبعی اسبابو په لاری سره هم ممکن دی اوپه طور د کرامت خرق عادت سره هم هرکله چې قران او حدیث ددې څه خاص وجه نه ده متعین کړی نو خالی په قیاسونو او انداز سره په دې باندی بحث کول بی کاره دی ، تفسیر مظهری دې ته ترجیح ورکړي ده ، اوپه تائید کې یې د ابن ابی شیبه، ابن المنذر، ابن ابی حاتم په سند سره دحضرت ابن عباس رضی الله عنه دا واقعه نقل کړي ده ، چې حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایی ، مونږ د روم په مقابله کې دحضرت معاویه رضی الله عنه سره جهاد وکې کوم چې دغزوة المضیق په نوم سره مشهوره ده ، په دې سفر کې مونږ پرهغه غار تیر سو په کوم کې

Maktaba Tul Ishaat.com

چې اصحاب کهف دی ، حضرت معاویه ﷛ اراده وکړه چې د اصحاب کهف دتحقیق او لیدو دپاره غار ته ولاړ سی، حضرت ابن عباس ﷛ منع کی او ورته یی وویل چې الله ﷻ ستا څخه لویه او ښه هستی یعنی نبی کریم ﷺ د دوی دلیدو څخه منع کړي ده او دا آیت یی ووایه لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ ددی څخه معلومه سوه چې د حضرت ابن عباس ﷛ په نزد د لَوِ اطَّلَعْتَ خطاب نبی کریم ﷺ ته وو، مگر حضرت معاویه ﷛، دحضرت ابن عباس ﷛ رایه قبوله نه کړه (غالباً وجه به یی دا وه چې دوی د آیت مخاطب دنبی کریم ﷺ په ځای به عام مخاطبین مقرر کړی وي ، یا دا چې دا حالت یی قرآن دهغه وخت بیان کړی دی. کوم وخت چې اصحاب کهف ژوندی وه او بیده وه، اوس خو زمانه بدله سوي ده ی هغوی وفات سوي دي ، ضروري نه ده چې اوس دي هم هغه رعب او هیبت موجود وي په هرحال) حضرت معاویه ﷛ دحضرت ابن عباس ﷛ خبره قبوله نه کړه او یو څو سړی یی دتحقیق او لیدو دپاره ولیږل، هرکله چې دا خلق غار ته دا خل سول نو الله ﷻ پر دوی یو سخته گرمه هوا راولیږله چې ددی په وجه دوی هیڅ ونه لیدلی سول (مظهري)

وَكَذٰلِكَ بَعَثْنٰهُمْ لِيَتَسَآءَلُوْا بَيْنَهُمْ ؕ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ

دا رنګ دوی وبیښ کړل مونږ چې دیوبل څخه پوښتنه وکړی یو تن وویل په دوی کی څومره

لَبِثْتُمْ ؕ قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ؕ قَالُوْا رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا

وخت ستاسی وسو ؟ وې ویل وخت وسو زمونږ یوه ورځ یا دورځی څخه کم ، وې ویل چې ستاسی رب ښه پوه

لَبِثْتُمْ ؕ فَابْعَثُوْۤا اَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖۤ اِلَى الْمَدِيْنَةِ فَلْيَنْظُرْ

دی چې څومره وخت تاسی پاته سوی یاست ، اوس ولیږي خپل یو تن په دی خپلو روپو سره دی ښار ته بیادی

اَيُّهَاۤ اَزْكٰى طَعَامًا فَلْيَاْتِكُمْ بِرِزْقٍ مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ

وګوری چې کوم خوراك پاك دی پس را دی وړی تاسوته ددې څخه خوراك او نرمی دی کوی او چې خبرنه کړی

بِكُمْ اَحَدًا ﴿۱۹﴾ اِنَّهُمْ اِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوْكُمْ اَوْ يُعِيْدُوْكُمْ

په تاسی یو تن ، دغه خلق که خبر سی په تاسی باندی په کاڼو به مړه کړی تاسی اویا به بیرته

فِىْ مِلَّتِهِمْ وَلَنْ تُفْلِحُوْۤا اِذًا اَبَدًا ﴿۲۰﴾

واپس کړی تاسی خپل دین ته او فلاح به بیانه کی پیدا تاسی هیڅ کله.

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسير: او (څنګه چې مونږ په خپل قدرت کامله سره دوی تر دومره اوږدی زمانی پوری بیده کړل) دغه ډول (ددی اوږد خوب څخه وروسته) مونږ دوی راویښ کړل چې دوی په خپل مینځ کی پوښتنه وکړي (چې د یو بل سره دسوال جواب څخه وروسته دوی ته دالله ﷻ قدرت ښکاره سی چنانچې) په دوی کی یو ویونکی وویل چې (ددی خوب په حالت کی) تاسی څومره پاته سوی یاست (په جواب کی) ځینو وویل چې (غالباً) یوه ورځ یا د ورځی څخه هم څه کم پاته سوی یاست نورو وویل چې (ددی تفتیش څه ضرورت دی) ددی خو (صحیح صحیح) ستاسی رب ته خبر دی، چې تاسی څومره (بیده) پاته سوي یاست اوس (دا فضول بحث پریږدی ، ضروری کار کول غواړي هغه دا چې) په خپلو کی یو تن ته دا روپی (کوم چې د ویونکی سره وي څکه چې دوی دتلو په وخت کی دځان سره څه روپی هم وړي وي ، غرض دا چې یو چاته دا روپی) ورکړي ښار ته یی ولیږي بیا (چې دی هلته ولاړ سی) تحقیق دی وکړي چې کوم خوراک حلال دی (دلته دلفظ د، أزْکَی : تفسیر په روایت د ابن جریر دحضرت سعید بن جبیر ﷺ څخه دا نقل دی چې مراد ددی څخه حلال خوراک دی او ددی ضرورت څکه پیښ سو چې د دوی بت پرست قوم به اکثره دبتانو په نوم ذبح کوله او په بازار کی به زیاته دغه حرامه غوښه خرڅیده) نو هغه دی ددغه څخه ستاسی دپاره څه خوراک راوړي او کار دی په ښه تدبیر سره کوي (چې په داسی طریقه ولاړ سی چې څوک یی ونه پیژني او دخوراک په تحقیق کی دي هم دا نه ښکاره کوي چې ګوندی دي دبت دنوم ذبحه حرامه ګڼي) اوچې څوک ستاسی څخه خبر نه کړي (څکه چې) که دغه خلق (یعنی دښار خلق کوم چې دوی په خپل خیال دخپلی زمانی مشرکان ګڼل) ستاسی څخه خبر سی نو تاسی به یا په ډبرو وولی او مړه به مو کړي یا (جبراً) به تاسی په خپل مذهب کی بیا داخل کړی او که داسی وسوه نو تاسی به هیڅکله فلاح نه کړی پیدا .

معلومات او مسئلي: كَذٰلِكَ : دا لفظ دتشبیه اوتمثیل دپاره دی ، مراد ورڅخه دلته د دوو واقعو دیو بل سره تشبیه بیانول دي ، یوه واقعه د اصحاب کهف د اوږد خوب او تر ډیري زمانی پوری دبیده پاته کیدو ده چې ذکر یی دقصی په شروع کی را غلی دی ، فَضَرَبْنَا عَلَى آذَانِهِمْ فِي الْكَهْفِ سِنِينَ عَدَدًا: دوهم واقعه دغه اوږدی زمانی دخوب څخه وروسته صحیح سالم او سره ددی چې خوراک ورته نه رسیدی دقوي او تندرست پورته کیدلو او دبیداریدلو ده ، دا دواړه دالله ﷻ دقدرت په نښانوکی یو ډول دی ، په دی وجه یی په دی آیت کی کوم چې د دوی دبیداریدو ذکر فرمایی نوپه لفظ د: كَذٰلِكَ یی اشاره وکړه چې لکه څنګه چې د دوی خوب دعامو انسانانو دعادتی خوب په شان نه وو، دغه شان د دوی بیداریدل هم دعام طبعي عادت څخه هم ممتازه وه ، او ددی څخه وروسته چې کوم ،لِيَتَسَاءَلُوا: فرمایی چې ددی معنی ده چې دا خلق دیو بل څخه پوښتنه وکړي چې دخوب څومره زمانه سوی ده ، دا د دوی دبیداریدو علت نه دی بلکه په عادتی طور سره دپیښدونکی یوی واقعی ذکر دی ، په دی وجه ددی لام ته مفسرینو حضراتو دلام دعاقبت یا دلام دصیرورت نوم ورکړی دی (ابو حیان، قرطبی)

لنډه داده چې لکه څنګه چې ددوی اوږدخوب دقدرت یوه نښانه وه دغه ډول په سوونو کاله وروسته بغیر دڅه خوراک څخه قوي اوتندرست بیداریدل اوکښینستل هم دکامل قدرت نښانه وه اوچونکی قدرت ته

Maktaba Tul Ishaat.com

داهم منظوره وه چې په خپله دی خلقو ته هم یوحقیقت ښکاره سی چې په سوونو کاله بیده پاته سول نو ددی ابتداء دیوبل سره په سوالونو وسوه، او انتهاء یې په دی واقعه وسوه دکوم ذکرچې په راتلونکی آیت کی، وَكَذٰلِكَ اَعْثَرْنَا : کی را غلی دی، چې دښار پر خلقو د دوی راز ښکاره سو، او د مودی په تعین کی داختلاف باوجود تر اوږدی زمانی پوری په غار کی دبیده پاته کیدو تولو ته یقین وسو.

قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ : دقصی په شروع کی چې کومه خبره اجمالاً ویل سوی وه، چې په غار کی دپاته کیدو متعلق د دوی دیو بل سره اختلاف رایه وسوه په دوی کی دیوجماعت قول صحیح وو، دا دهغه تفصیل دی چې په اصحاب کهف کی یوسړی سوال را پورته کي چې تاسی څومره بیده واست؟ نو څینو جواب ورکي چې یوه ورځ یا د ورځی یوه حصه، ځکه چې دا خلق دسهار په وخت کی غارته داخل سوی وه او د بیداریدو وخت یې دماښام وخت وو، په دی وجه یې دا خیال سو چې دا هغه ورځ ده، په کومه کی چې مونږ غار ته دا خل سوی وو او دبیدیدو موده تقریباً یوه ورځ ده، مګر په دوی کی نورو خلقو ته څه داسی احساس وسو چې شاید دا هغه ورځ نه ده په کومه کی چې مونږ دا خل سوی وو، بیامعلومه نه ده چې څومره ورځی وسوی، په دی وجه یې ددی علم خدای ته حواله کی.

قَالُوا رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ : او دا بحث یې غیر ضروری وګڼی او د اصل کار طرف ته یې توجه وکړه چې د ښار څخه دڅه خوراک راوړلو دپاره څوک ولیږی.

اِلَى الْمَدِيْنَةِ : ددی لفظ څخه خو دومره معلومه سوه چې دغار خوا ته یو لوی ښار وو، کوم ځای چې دا خلق اوسیدول ددی ښاردنوم متعلق ابوحیان په تفسیر بحرمحیط کی فرمایی چې په کومه زمانه کی اصحاب کهف ددی ځای څخه وتلی وه دغه وخت ددی ښارنوم افسوس وو او اوس دهغه نوم طرسوس دی، قرطبی په خپل تفسیرکی فرمایی چې دبت پرستو په دی ښار دغلبی او دجاهلیت په زمانه کی ددی نوم افسوس وو کله چې په دغه زمانه کی مسلمان یعنی مسیحی په دی غالب سول نونوم یې طرسوس پرکښی ښووی.

د، بِوَرِقِكُمْ : څخه معلومه سوه چې دی حضراتو غارته دراتلو په وخت کی دخپل ځان سره څه رقم، روپی او پیسی هم راوړي وي، ددی څخه معلومه سوه چې دضرورت نفقی اهتمام کول دزهد او توکل څخه خلاف نه دی (بحر محیط)

اَيُّهَا اَزْكٰى طَعَامًا : د اَزْكٰى دلفظی معنی پاک صفا ده، مراد ددی څخه د ابن جبیر ؓ دتفسیر مطابق حلال خوراک دی او ددی ضرورت یې ځکه محسوس کړی چې په کومه زمانه کی دا خلق دښار څخه وتلی وه، هلته به دبتانو په نوم ذبحه کیده اوهم هغه به په بازارونو کی خرڅیده، په دی وجه یې دا تاکید وکي چې ددی خبري تحقیق وکړی او خوراک راوړی چې دا خوراک حلال هم دی او که نه؟

مسئله: ددی څخه معلومه سوه چې په کوم ښار یا بازار یا هوټل کی اکثریت دحرامو خوراکونو وي، هلته بغیر دتحقیق څخه خوراک کول جائز نه دی.

يَرْجُمُوْكُمْ : دَرَجْم معنی سنګسار کول دي، بادشاه چې غارته دتلو څخه مخکی دوی ته کوم اخطار ورکړی وو چې خپل دین نه پریږدي نو قتل به سی، ددی آیت څخه معلومه سوه چې د دوی په نزد ددین

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه د ګرځیدو سزا دقتل په صورت کې سنګسار وه، چې ټول خلق په دې کې شریک وي او ټول قوم دخپلې غصې او غضب اظهار باندې وکړي قتل یې کړي.
شاید چې په اسلامي شریعت کې دوا ده سوي سړي او ښځې د زنا سزا هم کومه چې د سنګسار کولو او قتل کولو تجویز سوې ده، ددې هم دا منشاء وي چې کوم سړي دحیا ټولې پردې مات کړي او دا قبیح کار یې کړی دی دده قتل په داګه د ټولو خلقو په شرکت سره په کار دی چې دده رسوایي هم پوره وسي او ټول مسلمانان باندې عملاً دخپل غضب او غصې اظهار وکړي، چې آئنده په قوم کې داسې حرکت څوک دوباره ونه کړي.
فَابْعَثُوٓا اَحَدَكُمْ: په دې واقعه کې د اصحاب کهف جماعت په خپلو کې یو سړی ښارته دلیږلو دپاره منتخب کې او رقم یې ده ته حواله کې چې دې خوراک واخلي او راییې وړي.
څو مسئلې: اول دا چې په مال کې شرکت جائز دی، ځکه چې دا رقم دټولو مشترک وو، دوهم دا چې په مال کې وکالت جائز دی، چې په مشترک مال کې یو سړی په حیثیت دوکیل د نورو په اجازه سره تصرفات کولی سی دریم دا چې څو ملګري په خوراک کې شرکت کوي، دا جائز دی، که څه هم دخوراک مقدار ونه عادتاً مختلف وي، څوک کمه خوري څوک زیاته خوري.

وَكَذٰلِكَ اَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوٓا اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيْهَا ۚ اِذْ

او دا رنګ خبره ښکاره کړه مونږ ددوی چې خلق پوه سي چې د الله وعده حقه ده او دقیامت په راتلو کې شك نسته

يَتَنَازَعُوْنَ بَيْنَهُمْ اَمْرَهُمْ فَقَالُوا ابْنُوْا عَلَيْهِمْ بُنْيَانًا ۭ رَبُّهُمْ

هرکله چې دوی جګړه کوله په خپل مینځ کې په خپله خبره باندې، بیایې وویل چې جوړه کړی په دوی باندې یوه

اَعْلَمُ بِهِمْ ۭ قَالَ الَّذِيْنَ غَلَبُوْا عَلٰٓي اَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِمْ

آبادي، د دوی رب ښه پوه دی د دوی په حال وویل هغو خلقو دکومو کار چې غالب وو، مونږ جوړوو د دوی په دی

مَّسْجِدًا ﴿۲۱﴾

ځای عبادت خانه.

لنډتفسیر: او (مونږ لکه ځنګه چې په خپل قدرت سره دوی بیده کړل او ویښ کړل دغه ډول مونږ (په خپل قدرت او حکمت سره ددغه زماني) خلق (په حال) د دوی باندې خبر کړل ددې دپاره چې (منجمله دنورو فائدو څخه یوه فائده په کښې دا سوه چې) دغه خلق (په دې واقعه سره دلیل ونیسي) په دې خبره یقین (زیات یقین) وکړي چې د الله ﷻ وعده رښتینې ده او هغه دا چې په قیامت کې هیڅ شك نسته (دې خلقو که دمخکې څخه په قیامت کې په ژوندي کیدو ایمان درلودی نو په دې واقعه سره یې یقین زیات سو،

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکه د قیامت څخه منکر وه نو اوس ورته یقین حاصل سو، دا واقعه خو د اصحاب کهف په ژوندی کیدو کی پیښه سوه، بیا دغه صاحبانو دغه ځای په غار کی وفات پیدا کي، نو د دوی په باره کی ددغه وخت په خلقو کی اختلاف پیدا سو چی مخته یی بیانوي چی) هغه وخت هم دیادولو قابل دی هرکله چی ددغه زمانی خلقو په خپل مینځ کی جګړه کوله (او دغه معامله ددغه غار خُله بندول وو چی د دوی جسمونه محفوظ پاته شي، یا د دوی یادګار قائمول وو) نو دغو خلقو وویل چی د دوی (دغار) په خوا کی یوه ابادی جوړه کړي (بیا اختلاف جوړ سو چی دغه ابادی دي څه وي؟ په دوی کی رایی مختلفی سوی نو د اختلاف په وخت کی) د دوی رب (مختلف حالات د) دوی ښه پیژندل (آخر) کوم خلق چی په کارغالب وه (یعنی د حکومت خاوندان کوم چی دغه وخت پرحق دین باندی وه) دوی وویل چی مونږ خو د دوی په خواکی یو جمات جوړوو (ددی دپاره چه جمات ددی خبري هم ښنانه وي چی دا خلق په خپله عابدان وه، معبودان نه وه او په نورو ابادیو کی دا احتمال وو چی مخته راتلونکی خلق د دوی څخه معبودان جوړ نه کړي) ________

معلومات او مسئلې: وَكَذَٰلِكَ أَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ: په دی آیت کی د اصحاب کهف راز دښار پر خلقو ښکاره کیدل او ددی حکمت، د آخرت او قیامت عقیده چی ټول مړی به بیرته ژوندی سی په دی ایمان او یقین حاصلیدل بیان فرمایی، په تفسیر قرطبی کی د دوی لنډه قصه داسی ذکر ده.

(د اصحاب کهف حال د ښار په خلقو ښکاره کیدل)

د اصحاب کهف دوتلو په وخت کی چی کوم ظالم او مشرک بادشاه دقیانوس پردی ښار مسلط وو هغه مړ سو اوصدی پر تیري سوي، تردی چی دغه ښار حق پرستو خلقو قبضه کي، د دوی بادشاه یو نیک صالح سړی وو (چی نوم یی په تفسیر مظهری کی دتاریخی روایتونو په حواله بیدوسیس لیکلی دی) دده په زمانه کی اتفاقاً دقیامت او په هغه کی دمړو په ژوندی کیدو کی څه اختلاف خپور سو، یوه فرقه ددی څخه منکره سوه چی دبدن دخاوري کیدو او ذره ذره کیدو او په ملک کی دخپریدو څخه وروسته به بیا څنګه ژوندی سی؟ دبیدوسیس بادشاه سره ډیر فکر پیدا سو چی څنګه به د دوی شکونه او شبهی لیری سی، هرکله چی هیڅ تدبیر جوړ نه سو نو ده دټاټ کپړي واغوستلې او د ایرو پر ډیري باندی کښینستی او الله ﷻ ته یی فریاد او زاری شروع کړي چی یا الله ته خپل داسی یو صورت پیدا کړی چی ددی خلقو عقیده صحیح سی او دوی پر سیده لاره سی، دیوی خوا دا بادشاه په دعاګانو، ژړا او فریاد کی مشغول وو بل طرف ته الله ﷻ دده دعا قبلیدو دا اسباب تیار کړل چی اصحاب کهف بیداره سول او دوی خپل یو سړی (چی نوم یی تملیخا ښوول سوی وو) د دوی بازار ته ولیږی، دی دخوراک اخیستو دپاره دکان ته ورسیدی، او دری سوه کاله مخکی ددقیانوس بادشاه زمانی سکه یی په قیمت دغلی کی پیش کړه، نو دکاندار حیران سو چی دا سکه دکومه راغله او دکومی زمانی سکه ده او دبازار نورو دکاندارانو ته یی وښووله، ټولو دا وویل چی دی سړی یو ځای دپخوانی زمانی خزانه پیدا کړي ده، دا یی دهغه څخه راوړی ده، ده انکار وکی چی نه ما ته خزانه راکړل سوي ده او نه می دڅه ځای څخه راوړی دی، دا زما خپله روپی ده.

دبازار خلقو دی ونیوی او بادشاه ته پیش کی ، دا بادشاه لکه چی لوړ بیان سوی دی ، یو نیک صالح دینداره وو او ده دحکومت په پخوانی خزانه اثار قدیمه کی یو ځای هغه تختی هم لیدلی وه ، په کومه چی د اصحاب کهف نومونه او د دوی دتښتیدو واقعه هم لیکل سوی وه ، دځینو په نزد په خپله ظالم بادشاه دقیانوس دا تختی لیکلی وه چی دا اشتهاری مجرمان دی چی نومونه او پتی یی محفوظی وی که چیري پیدا سی چی گرفتار کړل سی ، را وستل سی او په ځینو روایتونو کی دی چی په شاهی دفتر کی ځینی داسی مومنان هم وه کومو چی په زړه سره بت پرستی بده گڼله او اصحاب کهف یی په حقه گڼل ، مگر د ښکاره کولو همت په کښنی نه وو ، دوی دا تختی په طور دیادگار لیکلی وه ، ددغه تختی نوم رقیم دی چی په دي وجه اصحاب کهف ته اصحاب رقیم هم وایی .

غرض داچی دی بادشاه ته ددی واقعی څه علم وو اودغه وخت هغه په دی دعاکی مشغول وو چی په څه ډول ددی خلقو په دی خبره یقین راسی چی مړه جسمونه بیرته ژوندی کول دالله ﷻ دکامل قدرت په مخکی څه بعیده خبره نه ده .

په دی وجه یی دتملیخاً څخه دهد دحالاتو تحقیق وکړی نو دده اطمینان وسو چی دی دهغو خلقوڅخه دی اوده وویل چی ماخو دالله ﷻ څخه سوال کوی چی ما دغو خلقوسره یو ځای کړی کوم چی ددقیانوس څخه د خپل ایمان محفوظ کولو دپاره تښتیدلی وو ، بادشاه په دی خوشحاله سو او وي ویل چی شاید الله ﷻ زما دعاقبوله کړی ده په دی کی دخلقو دپاره شاید څه دا سی دلیل وی چی د دوی دجسمونو په بیرته پیدا کولو یقین راسی ، دا یی وویل او بیا یی دی سړی ته وویل چی ما هغه غار ته بوزه دکوم څخه چی ته راغلی یی .

بادشاه سره د ډیرو خلقو دښار غار ته ورسیدی ، هرکله چی غارته نژدی سو نوتملیخا وویل چی تاسی لږ ودریږی چی زه ولاړ سم اوخپل ملگری دحقیقت څخه خبر کړم چی اوس بادشاه مسلمان اوموحد دی اوقوم هم مسلمان دی ، هغوی دلیدلو دپاره راغلی دی ، هسی نه چی د اطلاع څخه مخکی تاسی ووینی او هغوی داسی وگڼی چی دا زمونږ دښمن بادشاه راغلی ، نو تملیخا مخکی ولاړی اوملگری یی دټولو حالاتو څخه خبر کړل نو دوی ډیر خوشحاله سول او دبادشاه استقبال یی په تعظیم سره وکی ، بیا دوی خپل غار ته بیرته ولاړل اوپه اکثرو روایتونوکی داسی دي چی څه تملیخا ملگرو ته دا قصه واورله ، نو دغه وخت ټول وفات سول او بادشاه سره یی ملاقات ونه سو ، په بحر محیط کی ابوحیان دا روایت نقل کړی دی چی دملاقات څخه وروسته دغار خلقو بادشاه او دښار خلقو ته وویل چی اوس مونږ رخصت غواړو او غار ته دننه ولاړل ، دغه وخت الله ﷻ دوی ټول وفات کړل ، والله تعالی اعلم بحقیقة الحال

په هرحال اوس دښار دخلقو په مخکی دا عجیبه واقعه دالله ﷻ دقدرت ښکاره نښانه سوه نو دټولو یقین وسو چی دکوم ذات په قدرت کی دا داخله ده چی تر دری سوو کاله پوری ژوندی انسانان بغیر دڅه خوراک او د ژوند د اسباب څخه ژوندی ساتی او په دومره اوږده زمانه کی دوی په خوب کی دساتلو څخه وروسته بیا صحیح سالم قوي او تندرست پورته کوي ، دهغه دپاره داڅه مشکله ده چی دمرگ څخه وروسته بیا هم دا جسمونه ژوندي کړي ، په دی واقعه سره د دوی دانکار وجه لیری سوه کومه چی

Maktaba Tul Ishaat.com

بی د حشر په میدان کی د انسانانو بدنونه دبیرته ژوندی کیدو څخه انکار کوی ، او دایی دقدرت څخه بعید ګڼله اوس معلومه سوه چی دمالك الملکوت قدرت دانسانانو په قدرت قیاس کول په خپله جهالت دی .

دغه ډول په دی آیت کی یی اشاره وفرمایله ﴿لِيَعْلَمُوا أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَأَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيهَا﴾ : یعنی مونږ اصحاب کهف د ډیري زمانی دخوب څخه وروسته ویښ کړل چی خلق پوه سی چی دالله ﷻ وعده یعنی په قیامت کی دټولو مړو د دوباره ژوندي کولو وعده رښتینی ده او دقیامت په راتلو کی څه شبهه نسته .

(داصحاب کهف دوفات څخه وروسته په خلقو کي اختلاف رایه)

داصحاب کهف دبزرګی اوپاکی خو ټول قائله سول ، د دوی دوفات څخه وروسته دټولوخیال سو چی د غار په خوا کی څه آبادی په طور دیادګار جوړه کړل سی ، د آبادی په باره کی اختلاف رایه جوړ شو ، دځینو روایتونو څخه معلومیږي چی په ښار کی دغه وخت هم ځینی بت پرست خلق موجود وه ، هغوی به هم د اصحاب کهف زیارت ته را تلل ، دی خلقو دآبادی په جوړولو کی دا رایه ورکړه چی درفاه عامه څه آبادی دی باندی جوړه سی ، مګر دحکومت خلق اوبادشاه مسلمانان وه او د دوی غلبه وه ، د دوی رایه دا سوه چی دلته مسجد جوړکړل سی ، کوم چی به یادګار هم پاته سی او آئنده دبت پرستی څخه دبچ کیدو سبب به هم سی ، دلته داختلاف رایه دذکر کولو په مینځ کی دقرآن کریم دا جمله ده ، ﴿رَبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ﴾ : یعنی د دوی رب د دوی حالات پوره پیژنی .

په تفسیر بحر محیط کی په دی جمله کی یی د دوو معانیو احتمال ذکر کړی دی یو دا چی دا قول ددغو حاضرینو دښار دخلقو دی څکه چی د دوی دوفات څخه وروسته کله چی د دوی دیادګار جوړولو رایه وسوه ، نولکه چی په عام طور سره په یادګاری ابادیو کی ددغو خلقو نومونه اوخاص حالات پرکتبه لیکل کیږي دکومو یادګار چی تعمیر سوی وي ، نو د دوی دنسب اوحالاتو په باره کی مختلفی خبری شروع سوی هرکله چی څه حقیقت ته ونه رسیدل نو په خپله دوی په آخر کی عاجزه سول ، وي ویل ﴿رَبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ﴾ او ددی ویلو څخه وروسته په اصل کار یعنی یادګار جوړولو کی مشغوله سول ، کوم خلق چی غالب وه ، د هغوی په رایه باندی مسجد جوړ کړل سو .

دوهم احتمال دا هم دی چی دا کلام دالله دطرف څخه دی چی په دی کی یی ددغه زمانی جګړه کوونکی او اختلاف کوونکی خبرکړی دی چی هرکله تاسی ته دحقیقت علم نسته او ددی ذریعی هم ستاسی سره نسته نو ولی په داسی بحث کی وخت ضائع کوی اوممکنه ده چی دنبی کریم ﷺ په زمانه کی چی یهود و وغیره کومو چی په دی واقعه کی داسی بی اصله خبری اوبحثونه کول ، د دوی خبرداروِل مقصود وي ، والله سبحانه وتعالی اعلم

مسئله: ددی واقعی څخه دومره معلومه سوه چی د اولیاؤ او صالحانو دقبرونو سره لمونځ کول مسجد جوړول څه ګناه نه ده ، اوپه کوم حدیث کی چی دانبیاؤ پر قبرونو باندی دمسجد په جوړوونکو لعنت راغلی دی ددی څخه مراد په خپله قبرونو ته سجده ګاه جوړول دی کوم چی په اتفاق سره شرک اوحرام دی

Maktaba Tul Ishaat.com

سَيَقُولُونَ ثَلٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ

اوس به دوی وایی چی هغه دری دی څلورم یی سپی دی او دا به هم ووایی چی هغوی پنځه دی شپږم یی

كَلْبُهُمْ رَجْمًا بِالْغَيْبِ ۚ وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ وَّثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ قُلْ رَّبِّيٓ

سپی دی په نالیدلی نښانه ویشتلو، او دا به هم ووایی چی هغه اووه (۷) دی اتم یی سپی دی، ته ووایه چی

اَعْلَمُ بِعِدَّتِهِمْ مَّا يَعْلَمُهُمْ اِلَّا قَلِيْلٌ ۵ فَلَا تُمَارِ فِيْهِمْ اِلَّا مِرَآءً

زما رب ښه پوه دی ، د دوی په شمیر خبر نه لری د دوی څخه مګر ډیر لږ خلق ، پس جګړه مه کوه د دوی په خبره کی

ظَاهِرًا ۖ وَّلَا تَسْتَفْتِ فِيْهِمْ مِّنْهُمْ اَحَدًا ﴿۲۲﴾ ع

مګر سر سری جګړه ، او تحقیق مه کوه دهغوی دحال په دوی کی دهیچا څخه .

تفسير: (څه وخت چی د اصحاب کهف قصه بیانوی نو) ځینی خلق به ووایی چی هغه دری دی ، څلورم یی سپی دی او ځینی به وایی چی هغه پنځه دی شپږم یی سپی دی (او) دا خلق بی تحقیقه خبری چلوی او ځینی به ووایی چی هغه اووه دی اتم د دوی سپی دی ته ﷺ (دی اختلاف کوونکو ته) ووایه چی زما رب ته د دوی شمیر ښه (صحیح صحیح) معلوم دی (چی په دی مختلفو خبرو کی یوه خبره صحیح هم ده که ټولی غلطی دی د) دوی (شمیر صحیح صحیح) ډیر کم خلق پیژنی (او چونکه په تعداد متعین کولو کی څه خاص فائده نه وه ، په دی وجه یی په آیت کی څه واضحه فیصله ونه فرمایله ، لیکن په روایتونو کی دحضرت ابن عباس ﷺ او ابن مسعود ﷺ څخه دا نقل دی چی دوی فرمایی ، اَنَا مِنَ الْقَلِيْلِ كَانُوْا سَبْعَةً : یعنی زه هم په هغو لږو خلقو کی دا خل یم د کومو په باره کی چی قرآن فرمایی چی لږ خلق پوهیږي ، هغوي اووه ۷ وه ، لکه چی دا ډول په در منثور کی دی ، د ابن ابی حاتم وغیره څخه ، او په آیت کی هم ددی قول دصحت اشاره پیدا کیږي ، ځکه چی ددی قول دنقل کولو څخه وروسته یی ددی رد نه دی کړی په خلاف د اولنیو دواړو قولونو څخه چی د دوی په تردید کی یی رجماً بالغیب فرمایلی دی ، والله اعلم) نو (پردی باندی هم که دغه خلق د اختلاف څخه منع نه سوه) ته ﷺ د دوی په معامله کی بغیر د سرسري بحث څخه زیات بحث مه کوه (یعنی په لنډه طریقه سره خو د دوی دخیالاتو رد په قرآنی آیتونو کی راغلی دی ، کوم چی په ، رَجْمًا بِالْغَيْبِ ، او ، قُلْ رَّبِّيٓ اَعْلَمُ : سره بیان سوی دی ، نو سرسری بحث دا دی چی پردی باندی اکتفاء کوه ، د دوی د اعتراضونو په جواب کی ددی څخه زیات مشغولیدل او دخپلی دعوی په اثبات کی زیات کوشش کول مناسب نه دی چی په دی بحث کی څه خاص فائده نسته) او ته ددی (اصحاب کهف) په باره کی په دی خلقو کی دچا څخه پوښتنه مه کوه (لکه ځنګه چی ته ﷺ د دوی په اعتراض او جواب کی د زیات کوشش څخه منع کړل سوی یاست ، دغه ډول ددی هم منع فرمایی چی اوس

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې معاملې متعلق دچا څخه سوال یاتحقیق وکړې، ځکه چې څومره خبره ضروري وه هغه په وحې کې راغله، غیر ضروري سوالونه او تحقیقونه د نبوت دشان څخه خلاف دي)

معلومات او مسئلې (په اختلافي بحثونو کې دخبرو آداب)

سَيَقُولُونَ: یعنې دغه خلق به وایې چې دغه ویونکې کوم خلق وه؟ په دې کې دوه احتماله دي، یو داچې ددې مراد هغه خلق وي دکومو چې په خپل مینځ کې اختلاف د اصحاب کهف په زمانه کې د دوی په نوم نسب وغیره کې راغلې وو چې ذکر یې ددې څخه په مخکې آیت کې تیر سوی دی، په دې خلقوکې ځینو د ضمیر متعلق اولنیو ځینو دوهم، ځینو دریم قول اختیار کړی وو (ذکره في البحر عن الماور دي)

او دوهم احتمال دا دی چې د، سَيَقُولُونَ ضمیر دنجران دنصاراؤ طرف ته وي کومو چې دنبی کریم ﷺ سره د دوی دضمیر متعلق مناظره کړې وه، د دوی درې فرقې وې، یوه فرقه ملکانیه وه دوی دضمیر متعلق اولنی قول ویل یعنی درې یې بنوول، دوهمه فرقه یعقوبیه وه، دوی دوهم قول یعنی دپنځو اختیارکړی وو، او دریمه فرقه نسطوریه وه، دوی دریم قول یعنی اووه تنه ویل او ځینی وایې چې دا دریم قول د مسلمانانو وو او آخر چې دنبی کریم ﷺ په خبر او دقرآن په اشاره سره د دریم قول صحیحوالی معلوم سو، (بحر محیط)

وَثَامِنُهُمْ: دلته دا نکته دفکرقابله ده چې داصحاب کهفو په شمیرکې درې قولونه نقل سوي دي، درې، پنځه او وه او دهر یوه څخه وروسته د دوی سپی شمار سوی دی، لیکن په اولنیو دوو قولونو کې د دوی او دسپی دشمار په مینځ کې واو عاطفه نسته، ثَلَاثَةٌ رَابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ، او، خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ، بغیر د واو عاطفه څخه راغلی، او په دریم قول کې دسَبْعَةٌ، څخه وروسته د واو عاطفه سره وَثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ، فرمایلي دي.

ددې وجه تفسیر لیکونکو حضراتو دا لیکلې ده چې دعربو په خلقوکې به د اکائی عدد تر اووه ۷ پورې وو، د اوو(۷) څخه وروسته چې به کوم شمیر راتلی هغه جلا شمیر به ګڼل شو لکه نن صبا چې دنهو عدد ددې په ځای چې تر نهو پورې یو یز دی بیا دلس څخه لسیز شروع کیږي، یو جدا ډول عدد وي، په دې وجه د درو څخه تر اوو پورې چې به یې کم شمیر کوی په دې کې به یې واو دعطف نه راوړې، او د اوو څخه وروسته چې به کوم عدد بنوول وو د واو دعطف سره به یې جلا بنو وي او په دې وجه دې واو ته به یې واو ثمان ویل (مظهري وغیره)

(د اصحاب کهف نومونه)

اصل خبره خو دا ده چې په یو صحیح حدیث سره د اصحاب کهف نومونه صحیح صحیح ثابت نه دي، په تفسیري او تاریخي روایتونو کې مختلف نومونه بیان سوي دي، په دوی کې اقرب هغه روایت دی کوم چې طبرنی په معجم اوسط کې په صحیح سند سره دحضرت عبدالله ابن عباس ؓ څخه نقل کړی دی چې ددوی نومونه دادي، مَكْسَلْمِينَا، تَمْلِيخَا، مَرْطُونَسْ، سَنُونَسْ، سَارِينُونَسْ، ذُونُوَاسْ، كَعَسْطَطِيُونَسْ.

فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ إِلَّا مِرَاءً ظَاهِرًا وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِمْ مِنْهُمْ أَحَدًا.

Maktaba Tul Ishaat.com

یعني ته ﷺ د اصحاب کهف د شمیر وغیره متعلق د دوی سره په بحث او مباحثه کې کوشش مه کوه ، بلکه سرسري بحث کوه او د دی خلقو څخه په خپله هم د دی متعلق څه سوال مه کوه .

(په اختلافي معاملو کي د اوږدو بحثونو څخه ځانونه ساتي)

په دی دواړو جملو کی نبی کریم ﷺ ته چی کوم تعلیم ورکول سوی دی ، دغه په حقیقت کی د امت دعالمانو دپاره مهم رهنما اصول دي چی هرکله په یوه مسئله کی اختلاف پیښ سی نو څومره قدر خبره چی په کښی ضروري وي هغه دي واضحه سی او بیان دی سی ، د دی څخه وروسته هم که خلق په غیر ضروري بحث کی ومښلی نو د دوی سره دی بحث په سرسري خبرو کولو باندی ختم کړي ، دخپلی دعوي په اثبات کی کوشش او دبل دخبري په تردید کی دی د ډیر زور لګولو څخه پرهیز وسی چی د دی څه خاص فائده خو سته نه ، په زیات بحث او تکرار کی وخت هم ضائع کیږي او په خپل مینځ کی دتریخوالی پیدا کیدو خطره هم ده .

دوهم هدایت یی په دوهمه جمله کی دا ورکړی دی چی دالله ﷻ په ذریعه د اصحاب کهف دقصی څومره معلومات درکړل سوی دی ، په دی قناعت وفرمایه چی دا بالکل کافی دی ، دزیات تحقیقاتو او دخلقو څخه په پوښتنو پسی مه کیږه ، او د نورو څخه دپوښتنو یو اړخ دا هم کیدی سی چی د دوی دجهالت یا ناپوهی ښکاره کولو دپاره پوښتنه وسی ، دا هم د انبیاؤ د اخلاقو څخه خلاف ده ، په دی وجه دنورو خلقو څخه دواړه قسمه سوالونه کول ممنوع سو ، یعنی دزیات تحقیق دپاره وي او که دمخاطب دجهالت ښکاره کولو او رسوا کولو دپاره وي .

وَلَا تَقُولَنَّ لِشَايْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا ﴿٢٣﴾ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ ۚ وَاذْكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ وَقُلْ

اومه وایه دیوکار دپاره چی زه به یی صبا وکړم ، مګر داچی الله تعالی یی وغواړي او یاد وه خپل رب هرکله چی دی

عَسَىٰ أَن يَهْدِيَنِ رَبِّي لِأَقْرَبَ مِنْ هَٰذَا رَشَدًا ﴿٢٤﴾ وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ

هیر سی ، ووایه امید دی چی زمارب ماته وښیی ددې زیاته نژدی لاردنیکی ، او وخت تیر کی دوی په غار خپل کی

ثَلَاثَ مِائَةٍ سِنِينَ وَازْدَادُوا تِسْعًا ﴿٢٥﴾ قُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا ۖ لَهُ

دری سوه کلونه او په دی سربیره نه (۹) ، ته ووایه چی الله ته ښه علم دی چی څه موده په دوی تیره سوه

غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ أَبْصِرْ بِهِ وَأَسْمِعْ ۚ مَا لَهُم مِّن دُونِهِ

دهغه سره دی پټ رازونه داسمانونو او دمځکی ، څه عجیبه وینی او اوری نسته بندګانو لره ماسوا دده څخه

مِن وَلِيٍّ وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا ﴿٢٦﴾

څوک مختار او نه شریکوی په خپل حکم کی هیڅوک .

Maktaba Tul Ishaat.com

لنډتفسير: (اوكه خلق ستاڅخه دداسې خبرې پوښتنې وكړي چې دهغه جواب وركول غواړي اوته دجواب وركولو وعده كوې نو ددې سره انشاء الله ﷻ يا ددې هم معنې څه لفظ خامخا يوځاى كوه، بلكې دوعدې هم تخصيص نسته په هر كاركې ددې لحاظ ساته چې) ته دڅه كار په نسبت داسې مه وايه چې زه به دا (مثلاً) صبا كوم مګركه خداى وغواړي (ددې سره) يوځاى كوه (يعنې انشاء الله وغيره هم ورسره وايه او چې آئنده داسې ونه سې لكه په دې واقعه كې چې وسوه چې ستا څخه خلقو د روح او اصحاب كهف او ذو القرنين متعلق پوښتنه وكړه، بيا تر پنځلسو ورځو پورې وحې نازله نه سو اوته ډير غمجن سوې، ددې جواب دركړم، ددغو خلقو سوال جواب هم نازل سو (لكه چې داسې په لباب كې دابن عباس ﷺ څخه) او هركله چې ستا څخه (اتفاقاً انشاء الله ويل) هير سي (اوبيادې دا په ياد سې) نو (دغه وخت انشاء الله ووايه) دخپل رب ذكر وكړه او (دې خلقو ته دا هم) ووايه چې زما اميد دى چې زمارب ما ته (دنبوت ددليل جوړيدو په اعتبار سره) ددې (قصې) څخه هم زياته نژدې خبره وښيې (مطلب دا دى چې تاسې زما دنبوت د امتحان اخيستو دپاره د اصحاب كهف وغيره دقصې پوښتنه وكړه، كومه چې الله ﷻ دوحې په ذريعه ماته وښووله اوستاسې اطمينان يې وكى، مګر اصل خبره دا ده چې ددې قصو سوال جواب دنبوت داثبات دپاره څه لوى دليل نه سي كيدى، دا كار خوځوك غير نبي هم چې ددنيادتاريخ څخه خبر وي، هغه يې هم كولى سي مګر ماته خو الله ﷻ زما دنبوت دثابتيدو دپاره ددې څخه هم لوى قطعي دليلونه اومعجزې راكړې دي چې په دې كې دټولو څخه زيات لوى په خپله قرآن دى، چې دده د يو مثل راوړلو څخه هم ټوله دنيا عاجزه سوه)

ددې څخه علاوه دحضرت آدم ﷺ څخه واخله ترقيامته پورې هغه واقعات دوحې په ذريعه ماته ښوول سوى دي، كوم چې دزمانې په اعتبار سره هم په نسبت دواقعې داصحاب كهف او ذوالقرنين څخه زيات ليرې دي، اوددغوعلم هم چاته بغير دوحې څخه نه سي ممكن كيدى، لنډه دا ده چې تاسې داصحاب كهفؑ او ذوالقرنين واقعات دټولوڅخه زيات عجيبه ګڼې او دا دنبوت د امتحان دپاره تاسې په سوال كې پيش كوى، مګر الله ﷻ ماته ددې څخه هم زيات دعجيبه عجيبه شيانو علمونه راكړي دي) او (لكه څنګه چې ددې خلقو داصحاب كهف په شميركې اختلاف دى، دغه ډول د دوى دبيده كيدو په وخت كې هم ډير اختلاف دى، مونږ په دې كې صحيح خبر ښيو چې) دغه خلق په خپل غاركې (دخوب په حالت كې) درې سوه كاله پاته سول اونه كاله باندې سربيره نور دي (اوكه ددې صحيح خبرې داوريدو څخه وروسته هم دغه خلق اختلاف كوى نو) ته ووايه چې خداى ﷻ د دوى د (بيديدو) پاته كيدو موده (ستاسې څخه) زياته پيژنى (په دې وجه چې هغه څه وښوول نوهغه صحيح دي او ددې واقعې څه تخصيص دى، دده شان خو دا دى چې) دټولو آسمانونو او مځكو دغيبو علم هغه ته دى هغه څنګه څه ليدونكى، څنګه څه اوريدونكى دى، د دوى دخداى تعالى څخه ما سوا هيڅوك مددګار نسته اونه الله ﷻ څوك په خپل حكم كې شريكوى (لنډه دا ده چې نه دده څوك مزاحم سته نه شريك، دداسې عظيم ذات دمخالفت څخه ډيره بيره په كار ده)

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات او مسئلې: په ذکر سوو څلورو آیتونو باندې د اصحاب کهف قصه ختمیږي، په دې کې په اولنیو دوو آیتونو کې نبی کریم ﷺ او د دوی امت ته دا تعلیم ورکړل سوی دی چې په آئنده زمانه کې د څه کار د کولو وعده یا اقرار کول وي، نو د دې سره د انشاء الله تعالی کلمه یوځای کوي ځکه چې د راتلونکي وخت حال چاته معلوم دی چې ژوندی به وي او که نه؟ او که ژوندی پاته هم سي نو چې دغه کار به وسي او که نه؟ په دې وجه مومن ته په کار دی چې په زړه کې هم په الله ﷻ بروسه کوي او په ژبه سره د دې اقرار وکړي چې د راتلونکي وخت د څه کار کولو ورته وویل سي نو داسې دې ووایي چې که الله ﷻ وغوښتل نو زه به دا کار وکړم، یعنی دا معنی ده د انشاء الله د کلمې.

په دریم آیت کې د دې اختلافي بحث فیصله سوې ده په کوم کې چې د اصحاب کهف د زمانې په باره کې د خلقو رایې مختلفې سوې وې او د موجوده زمانې د یهودو او نصاراو اقوال هم مختلف وه، یعنی په غار کې د بیده کیدو په موده کې، په دې آیت کې وښوول سوه چې هغه دری سوه (۳۰۹) نه کاله وه، ګویا دا د هغه اجمال بیان دی، کوم چې د قصې په شروع کې بیان سوی و، ﴿فَضَرَبْنَا عَلَىٰ آذَانِهِمْ فِي الْكَهْفِ سِنِينَ عَدَدًا﴾ د دې څخه وروسته په څلورم آیت کې بیا د دې اختلاف کوونکو ته خبرداری ورکړی دی چې د حال د حقیقت تاسې ته خبر نسته په دې پوه هغه الله ﷻ دی کوم چې د آسمانونو او مځکو په ټولو غیبو باندې پوه او ریدونکی او لیدونکی دی ده چې کومه موده د دری سوه نهو کالو وښوله په دې مطمئن کیدل په کار دي.

(په آئنده کار کولو باندې انشاء الله ویل)

په لباب کې د حضرت عبدالله ابن عباس ؓ څخه د اولنیو دوو آیتونو د شان نزول متعلق دا نقل کړی دی چې کله د مکې خلقو د یهودو د تعلیم مطابق د نبی کریم ﷺ څخه د اصحاب کهف وغیره د قصو متعلق پوښتنه وکړه نو دوی ورسره صبا د جواب ورکولو وعده بغیر د انشاء الله ویلو څخه کړې وه، د دربار مقربانو ته په ادنی کوتاهی باندې هم خبرداری ورکول کیږي، په دې وجه تر پنځلسو ورځو پورې وحی رانغله او نبی کریم ﷺ ډیر غمجن سو او د مکې مشرکانو ته د خندا او مذاق کولو موقع پیدا سوه د پنځلسو ورځو د وقفې څخه وروسته چې هر کله په دې سورة کې د سوالونو جواب پیدا سو نو د دې سره دا دوه آیتونه د هدایت کولو د پاره نازل سو چې که آئنده د څه کار کولو د پاره اقرار کوی نو وایه چې هر کار د الله ﷻ په اراده او مشیت باندې موقوف دی دا دواړه آیتونه یې د اصحاب کهف د قصې په ختمیدو باندې راوړي دي.

مسئله: د دې آیت څخه یوه خو دا معلومه سوه چې په داسې صورت کې انشاء الله ویل مستحب دي، دوهم دا معلومه سوه چې که په هیره د دې کلمې ویل پاته سوه نو کله چې یاد سي و دې وایي، دا حکم د دې مخصوصې معاملې د پاره دی د کومې متعلق چې دا آیتونه نازل سوي دي یعنی محض د تبرک او اقرار د بندګی د پاره دا کلمه ویل مقصود وي څه تعلیق یا شرط لګول مقصود نه وي، په دې وجه د دې څخه دا نه لازمیږي چې د بیع او شراء په معاملوکې او وعدو کې چې کوم ځای شرطونه لګول کیږي او شرط لګول د طرفینو د پاره مدار د وعدې وي هلته هم که د وعدې په وخت کې څه شرط لګول هیر سی نو بیا چې کله یاد سي څه چې غواړي شرط دې ولګوي په دې مسئله کې د ځینو فقهاؤ اختلاف هم دی چې تفصیل یې د فقه په کتابونو کې دی.

په دریم آیت کی کوم چی په غار کی دبیدیدو وخت دری سوه نه کاله ښوولی دی دقرآن ظاهر بیان څخه دا ده چی دمودي دا بیان دحق تعالی دطرف څخه دیو ابن کثیر دا دجمهورو مفسرینو تیرو او وروستو قول ګڼلی دی ، ابوحیان اوقرطبی وغیره هم دا اختیار کړی دی ، مګر دحضرت قتاده وغیره څخه یی په دی کی یو بل قوم داهم نقل کړی دی ، چی دا د دری سوه نهو کالو قول هم ددی اختلاف کوونکو څخه دځینو قول دی ، او دالله ﷻ قول صرف هغه دی کوم چی وروسته فرمایی یعنی ، اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا :څکه چی که دغه قول ددري سوه او نهو کالو دمتعین کولو دالله ﷻ کلام وي نو ددی څخه وروسته د ، اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا : ویلو موقع نه وه، مګر جمهور مفسرین فرمایی چی دا دواړي جملی دالله ﷻ کلام دی ، په اول کی دواقعی د حقیقت بیان دی او په دوهمه کی ددی اختلاف کوونکو دخبرداولو بیان دی چی هرکله دالله ﷻ دطرف څخه دمودی بیان راغی نو اوس ددی منل لازمی دی ، هغه پوه دی ، محض په تخمینو او رایو باندی ددی مخالفت بی عقلی ده .

دلته یو سوال دا پیدا کیږي چی قرآن دمودی په بیان کی اول د دری سوه کلونو بیان وکړی ، ددی څخه وروسته یی وفرمایل چی په دی دری سوو نهه ۹ نور زیات سول د اول څخه یی دری سوه نه ۳۰۹ ونه فرمایل ، ددی سبب مفسرینو حضراتو دا لیکلی دی، چی په یهودو او نصاراو کی چونکی دشمسی کال رواج وو ، نو په دی حساب سره دري سوه کاله دی او په اسلام کی دقمری کال رواج دی او په قمری حساب کی په هر سل کاله پسی دری کاله زیاتیږي ، په دی وجه په دری سوه کاله شمسی باندی په قمری حساب سره نه کاله زیات سول ، ددی دواړو کلونو د امتیاز ښوولو دپاره عنوان دتعبیر دا اختیار سو .

یو سوال دا پیدا کیږي ، چی د اصحاب کهف په معامله کی په خپله د دوی په زمانه کی او بیان په عهد نبوی ﷺ کی په یهودو او نصاراو کی په دوو خبروکی اختلاف وو ، یو داصحاب کهفو په شمیر کی ، دوهم په غار کی د دوی دبیدیدو په موده کی ، قرآنکریم بیان خو د دواړو وکړی ، مګر په دی فرق سره چی د شمیر بیان په واضحو الفاظوکی را نغی او داشاری په طور راغی چی کوم قول صحیح وو دهغه تردید یی ونه کی او دمودی تعین یی په صفا او واضحه الفاظوکی وښووی ، وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ ثَلَاثَمِائَةٍ سِنِينَ وَازْدَادُوا تِسْعًا : وجه دا ده چی قرآن په خپل دی اسلوب سره دی طرف ته اشاره وفرمایله چی دشمیر بحث خو بالکل فضول دی ددی سره دڅه دینی یادنیوی مسئلی تعلق نسته ، البته تر اوږدي مودی پوری د عادت انسانی څخه خلاف بیدیدل او بغیر دخوراک څخه صحیح اوتندرست پاته کیدل بیا دومره زمانه وروسته روغ جوړ پورته کیدل دحشر او نشر یو مثال دی ، په دی سره دقیامت په مسئله اوپه آخرت باندی استدلال کیدی سی ، څکه یی دا په وضاحت سره بیان کړه .

کوم خلق چی دمعجزو اوخوارق عاداتو څخه یامنکر دی یا دنن صبا مستشرقین دیهودو اونصاراو د اعتراضاتو څخه مرعوب سوی دی ، هغوی په دی آیت کی هم دحضرت قتاده دتفسیر په تکیه د دری سوو نهو کالو موده یی ددغو خلقو قول مقرر کړی دی او رد یی پر کړی دی، مګر په دی یی فکر نه دی کړی چی دقرآن په ابتدایی جمله کی چی کوم لفظ د ، سِنِينَ عَدَدًا : راغلی دی ته ماسوا دالله ﷻ څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

دبل چاقول نه سی ویل کیدی ، دخرق عاداتو او کراماتو دثبوت دپاره دومره هم کافی ده چی په کلونو
خوک بیده وي او بیا صحیح تندرست ژوندی پورته سی ، والله اعلم

وَاتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنْ كِتَابِ رَبِّكَ ۖ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ وَلَنْ تَجِدَ مِنْ دُونِهِ مُلْتَحَدًا ﴿٢٧﴾

او وایه کوم چی وحی کیږي تاته ستادرب دکتاب څخه هیڅ بدلیدل نسته، دهغه دخبرو او بیابه نه کی پیدا ته دهغه

وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ

څخه ماسوا دپناه ځای ، او بندساته خپل دهغو سره چی بولی خپل رب سهار او ماښام

يُرِيدُونَ وَجْهَهُ ۖ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ

طلب کوی دهغه رضا او نه دی اوړی ستا سترګی د دوی څخه چی تلاش کړی بنائست دژوند

وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ

ددنیا او مه منه خبره دهغو چی غافله کړی دی مونږ زړونه دهغو دخپلو یادو څخه او وریسی دی په خپلو خواهشاتو

فُرُطًا ﴿٢٨﴾ وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكُمْ ۖ فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ

او دی کارد دوی دحد څخه تجاوز، او وایه چی حق ستاسی درب دطرف څخه دی بیا چی خوک غواړی او دی منی

فَلْيَكْفُرْ ۚ إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ۚ وَإِنْ

او خوک چی غواړی نه دی منی ، مونږ تیار کړی دی ګناهګارو دپاره اور چی ګیر به کړی دوی دهغه پردی ، او که

يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ ۚ بِئْسَ الشَّرَابُ

فریاد کوی نو ملاویږي به ورته اوبه په شان د زوو چی کبابوی به ورته مخونه څه ناکاره چیښل دی

وَسَاءَتْ مُرْتَفَقًا ﴿٢٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ

او څه ناکاره ارام دی ، بیشکه کوم خلق چی یقین وکړی او نیکی وکړی مونږ نه ضائع کوو بدله دهغه

مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا ﴿٣٠﴾ أُولَٰئِكَ لَهُمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهِمُ

چا چی نیک کار وکی ، ددا سی خلقو دپاره باغونه دی داوسیدو چی بهیږي به ددې څخه لاندی

Maktaba Tul Ishaat.com

الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا

نهرونه اغوستل کیږي دوی ته هلته بنګړي د سرو زرو او اغوستل کیږي به دوی ته کپړې

خُضْرًا مِنْ سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ ۚ نِعْمَ

شنې باریکې او دغتو وریښمنو تکیه ته به یې ښنګ وهلی په دې کې په تختونو

الثَّوَابُ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ﴿٣١﴾

څه ښکلی بدله ده او څه ښه آرام.

تفسیر: او (ستا کار صرف دومره قدر دی چې) تاته چې کوم ستا درب کتاب دوحی په ذریعه راغی دغه (خلقو ته) اوروه (ددی څخه زیات په دی فکر کی مه کیږي چې ددنیا لوی خلق که داسلام مخالفت کوي نو دین به ترقی څنګه وکړي څکه چې ددی الله ﷻ په خپله وعده فرمایلی ده او) دده خبري (یعنی وعدي) څوک نه سی بدلولی (یعنی توله مخالفه دینا که یو هم سی، الله ﷻ دوعدي پوره کولو څخه نه سی منع کولی او الله ﷻ په خپله که څه هم په تبدیلی باندی قدرت لري، مګر هغه به یی بدله نه کړي) او (که تا ددی لویو خلقو دزړه ساتنه په داسی ډول سره وکړه چې په دی سره دالله ﷻ حکمونه پاته سی نو بیا) ته به دخدای څخه ماسوا هیڅ پناه نه کی پیدا (که څه هم دالله ﷻ دحکمونو پرېښوول دنبی کریم ﷺ څخه په شرعی دلیلونو سره محال دی دلته دمبالغی اوتاکید دپاره په فرض محال دا ویل سوی دی) او (لکه څنګه چې د کفارو درئیسانو او امیرانو څخه تاته دخان بی پرواه کولو حکم درکړل سوی دی، دغه شان دفقیرانو مسلمانانو په حال تاته دزیاتی توجه حکم دی نو) ته خان دهغوي سره (په کښېنستو کی) بندساته کوم چې سهار ماښام (یعنی همیشه) دخپل رب عبادت محض دهغه درضا حاصلولو دپاره کوي (څه ددنیا غرض یی په کښی نه وي) او ددنیا د ژوند دښائست په خیال سره ته خپلی سترګی (یعنی توجهات) د دوی څخه وانه وړی (ددنیا دښائست څخه مراد دا دی چې رئیسان خلق مسلمانان سی نو داسلام رونق به زیات سی، په دی آیت کی یی دا وښوولہ چې د اسلام رونق په مال متاع سره نه دی، بلکی په اخلاص اواطاعت سره دی دغه که په غریبانو اوفقیرانو خلقوکی وي نوهم داسلام رونق زیاتیږي) او دداسی سړي خبره (دغریبانو د مجلس څخه دلیری کولو متعلق) ونه منی دکوم زړه چې موږ (دده دعناد په سزا کی) دخپلو یادو څخه غافله کړی دی او دی دخپل نفس په خواهش باندی چلیږي او دده دا حال (یعنی دخواهش تابعداري یی) دحد څخه زیات سوي ده اوته (دکفارو دی رئیسانو ته صفا) ووایه چې (دا دین) حق ستاسی درب دطرف څخه (راغلی) دی نو دچا زړه چې غواړي ایمان دي راوړی او دچا زړه چې غواړي کافر دی پاته سی (زموږ هیڅ نفع اونقصان نسته په خپله دده دي، چې بیان یی دا دی چې) بیشکه موږ دداسی ظالمانو دپاره (د دوږخ) اور تیارکړی دی چې ددغه اورلمبو به دوی راګیر کړی

Maktaba Tul Ishaat.com

وي (چې دغه د اور) لمبې به دوی تاو وي (لکه چې په حدیث دي چې دا خلق به ددغه ګیرې څخه نه سي وتلی) اوکه چیرې (دتندی څخه) فریاد وکړي نو په داسې اوبو سره به د دوی فریاد رسی کول کیږي کومې چې (په بد صورتی کی) به دتیلو دبیخ دخیرې په شان وي (او دومره تیزې ګرمې به وي) چې (خُلی ته د راوړلو سره به) د دوی مخونه کباب کړي (تردې چې د مخونو څخه به غرمن ووزي وبه لویږي ، لکه چې په حدیث کی دي) څه ناکاره اوبه به وي او دغه دوږخ به څنګه ناکاره ځای وي (داخودایمان نه راوړونکو ضرر سو اودایمان راوړونکو فائده دا ده چې) بیشکه کوم خلق چې ایمان راوړي اوهغوی نیک کار وکړي نو مونږ دداسې خلقو اجر نه ضائع کوو ، کوم چې نیک کار وکړي ، دداسې خلقودپاره دهمیشه اوسید وباغونه دي د دوی (داوسید ودځایونولاندې به) نهرونه بهیږي ، دوی ته به هلته دسرو زروبنګړي په لاس سي اوشین رنګې کپړې دباریکو اوغټوورېښمو به اغوندي (او) هلته به په تختونو تکیه لګولې ناست وي څه ښه بدله ده او (جنت) څه ښه ځای دی (یاالله ﷻ زمونږ یې نصیب کړې آمین)

معلومات او مسئلې: (ددعوت اوتبلیغ خاص اداب)

وَاصْبِرْ نَفْسَكَ : ددې آیت په شان نزول کی څو واقعات ذکر دي ، کیدی سی چې دغه ټول ددې ارشاد سبب جوړسوی وي ، بغوی رحمه الله نقل کړی دی چې عیینه بن حصن فزاری دمکې رئیس دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو ، دحضور صلی الله علیه وسلم سره حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه ناست ؤ ، کوم چې په فقیرانو اصحابو کی وو ، دده کپړې زړې او هیئت یې فقیرانه وو ، نورهم دغه ډول څه فقیران غریبان په مجمع کی ناست وو ، عُیَیْنه وویل چې مونږ تاته د راتلو او ستاسې دخبرې اوریدو څخه دا خلق منع کوي ، دداسې خراب حاله خلقو سره مونږ نه سو کښینستلی ته دوی دخپل مجلس څخه لیرې ساته ، یا کم از کم زمونږ دپاره جلا مجلس جوړ کړه او د دوی دپاره جلا جوړ کړه .

ابن مردویه روایت دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نقل کړی دی چې امیه بن خلف جمحی نبی کریم ﷺ ته دا مشوره ورکړه چې غریبان فقیران او بدحاله مسلمانان ته دځان سره مه ساته ، بلکې دمکې او دقریشو سرداران د ځان سره کړه ، دا خلق چې ستا دین قبول کړي نو دین به دې ترقی وکړي .

په داسې واقعاتو باندې دا ارشاد ربانی نازل سو چې په دې کی د دوی دمشورې دقبلولو څخه یې په سختۍ سره منع کړې ده او صرف دا نه چې دوی دخپل مجلس څخه مه لیرې کوه ، بلکې حکم یې دا ورکړی چې ، وَاصْبِرْ نَفْسَكَ : یعنی خپل ځان ددې خلقو سره تړلی ساته ، ددې دا مطلب نه دی چې هیڅ وخت مه ورڅخه جلاکیږه ، بلکې مراد دا دی چې تعلقات اوتوجهات ټول ددې خلقو سره ساته ، په معاملوکی د دوی سره مشورې کوه ، د دوی په امداد اواعانت سره کار کوه ، او ددې وجه اوحکمت یې په دې الفاظو سره ښوولې دی چې دا خلق سهار ماښام یعنی په هرحال کی الله ﷻ بولی اودهغه ذکر کوی ، د دوی چې کوم عمل دی ، دغه خالص دالله ﷻ درضا حاصلولو دپاره دی او دا ټول حالات هغه دي کوم چې دالله ﷻ نصرت او امداد راکښوی دالله ﷻ مدد داسې خلقو دپاره راځی ، دیو څو ورځو دبدحالی څخه بیرېږې نه ، آخر فتح اونصرت به د دوی ته حاصل وي .

او دقریشو د سردارانو دمشورې دنه قبولو وجه یې هم په آخر آیت کی دا وښووله چې د دوی زړونه دالله

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ دیادو څخه غافله دی او د دوی ټول کارونه دنفساني خواهشانو تابع دي او دا حالات دالله ﷻ درحمت او نصرت د دوی څخه لیری کوونکی دی.

دلته دا سوال کیدی سی چی د دوی دامشوره خو قابل عمل وه چی د دوی دپاره یی یو جلا مجلس جوړ کړی وای چی دوی ته داسلام په دعوت رسولو کی او ددی خلقو په قبلولو کی اساني وي، مګر په داسی قسم تقسیم کی دسرکښو مالدارو یو خاص اعزاز وو چی په دی سره دغریبو مسلمانانو دل شکنی او یا حوصله شکنی کیده، الله ﷻ دا خوښه نه کړه او ددعوت او تبلیغ اصول یی دا مقرر کړل چی په دی کی دچا څه امتیاز نه دی په کار. والله اعلم

(دجنتیانو دپاره کالي)

یُحَلَّوْنَ فِیْهَا: په دی آیت کی دجنتیانو سرو ته هم دسرو زرو دبنګړو اغوستولو ذکر دی، په دی دا سوال کیدی سی چی دبنګړو اچول خو د سړو سره ښایی هم نه او د سړو ښائست او ډول هم نه دی نو په جنت کی که دوی ته بنګړي واچول سی نو دا خو به د دوی سره بد ښکاري.

جواب دا دی چی ډول او ښائست دعرف او رواج تابع دی، په یو ملک او علاقه کی چی کوم شی ښائست او ډول ګڼل کیږي، په نورو ملکونو او علاقو کی ډیر کله هغه قابل نفرت ګڼل کیږي او دغه شان ددی برعکس هم ده، دغه شان په یوه خاصه زمانه کی یو خاص شی ډول وي، په بله زمانه کی هغه عیب سی، په جنت کی دسړو دپاره به هم کالی او وریښمنی کپړي ښائست او ډول مقرر کړل سی نو هلته به په دی سره چاته د ناآشنا والی احساس نه وي، دا صرف ددنیا قانون دی چی دلته سړو ته دسرو زرو کالی، تردی چی ګوتمۍ او ډګړۍ (ساعت) زنځیر (بند) هم د سرو زرو استعمالول جائز نه دی، دغه ډول وریښمنی کپړي دسړو دپاره جائز نه دی، دجنت قانون به داسی نه وي، هغه ددی ټول جهان څخه جلا یو بل عالم دی، هغه ددی دنیا په یو شی قیاس کول نه دي په کار.

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا رَّجُلَيْنِ جَعَلْنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ مِنْ أَعْنَابٍ وَحَفَفْنٰهُمَا بِنَخْلٍ وَّجَعَلْنَا

اوبیان کړه دوی ته مثال د دوو سړو چی یوه ته په کی موږ دوه باغونه کړي وه: انګورو او چاپیره یی خرماګانی وی

بَيْنَهُمَا زَرْعًا ﴿٣٢﴾ كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ اٰتَتْ أُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِمْ مِّنْهُ شَيْئًا ۙ وَّفَجَّرْنَا

اوکړی وو موږ ددواړو په مینځ کی فصل دواړو باغونو راوړه خپله میوه او نه یی کمول په دي کی څه شی، او جاری

خِلٰلَهُمَا نَهَرًا ﴿٣٣﴾ ۙ وَّكَانَ لَهٗ ثَمَرٌ ۚ فَقَالَ لِصَاحِبِهٖ وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ

کړی وو موږ د دواړو په مینځ کی نهرونه، او وه ده لره میوه، پس وویل ده خپل ملګری ته کله چی یی ورسره

أَنَا أَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَّأَعَزُّ نَفَرًا ﴿٣٤﴾ وَدَخَلَ جَنَّتَهٗ وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ

خبری کولی، زما سره زیات دی ستا څخه مال او عزتمند خلق، او داخل سو خپل باغ ته او ده بد کول دځان سره،

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ مَآ أَظُنُّ أَن تَبِيدَ هَٰذِهِۦٓ أَبَدًا ﴿٣٥﴾ وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةً

وي ويل چې گمان نه کوم چې خراب سي دا باغ کله ، او خيال نه کوم چې قيامت قائميدونکې دی

وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّى لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنقَلَبًا ﴿٣٦﴾ قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ

او که چيری واپس سوم زه خپل رب ته بيا به پيدا کړم بنه ددی څخه هلته په رسيدو ، وويل ده ته ملګری دده

وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَكَفَرْتَ بِٱلَّذِى خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ

چې خبری يې ورسره کولې ايا ته منکر سوی دهغه څخه چې پيدا يې کړی ته دخاورو څخه بيا د قطری څخه

ثُمَّ سَوَّىٰكَ رَجُلًا ﴿٣٧﴾ لَّٰكِنَّا۠ هُوَ ٱللَّهُ رَبِّى وَلَآ أُشْرِكُ بِرَبِّىٓ أَحَدًا ﴿٣٨﴾ وَلَوْلَآ

بيايې برابر کړی ته سړی ،بيازه خو دا وايم چې هغه الله دی زمارب اونه منم شريک خپل رب لره زه هيڅوک اوهر کله

إِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَآءَ ٱللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِ ۚ إِن تَرَنِ أَنَا۠

چې ته راغلی خپل باغ ته ولی دی نه ويل چې څه غواړی الله ، طاقت نسته مګر کوم چې ورکړی الله ، که څه هم

أَقَلَّ مِنكَ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٣٩﴾ فَعَسَىٰ رَبِّىٓ أَن يُؤْتِيَنِ خَيْرًا مِّن جَنَّتِكَ

ته وينی ماچې کم يم ستا څخه په مال کې اوپه اولاد کې ، نو اميد دی چې زمارب را کړی ماته ستادباغ څخه غوره

وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا حُسْبَانًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَتُصْبِحَ صَعِيدًا زَلَقًا ﴿٤٠﴾ أَوْ

او ليږی په دی باندی يوه ګرمه څپه داسمان څخه بياپاته سی سهار ميدان صفا ، يا

يُصْبِحَ مَآؤُهَا غَوْرًا فَلَن تَسْتَطِيعَ لَهُۥ طَلَبًا ﴿٤١﴾ وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِۦ فَأَصْبَحَ

سهارته راسی دده اوبه وچې بيايې ته په تلاش سره پيدا نه کړی ، اورا ونغښتل سوه دهغه توله ميوه بيا

يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ عَلَىٰ مَآ أَنفَقَ فِيهَا وَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَيَقُولُ

سهارته يې لاسونه مروړل په هغه مال پسی چې يې لګولی ووباندی اوهغه لويدلی ووپه خپلو چتونو او وې ويل

يَٰلَيْتَنِى لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّىٓ أَحَدًا ﴿٤٢﴾ وَلَمْ تَكُن لَّهُۥ فِئَةٌ يَنصُرُونَهُۥ مِن

څه به بنه وی که ماشريک نه جوړولی دخپل رب هيڅوک ، او دده دله داسی نه سوه چې دده مدد يې کړی وای.

Maktaba Tul Ishaat.com

دُوۡنِ اللّٰهِ وَمَا كَانَ مُنۡتَصِرًا ﴿۴۳﴾ هُنَالِكَ الۡوَلَايَةُ لِلّٰهِ الۡحَقِّ هُوَ

دالله څخه ماسوا، او نه دی په خپله داسې سو چې خپل مدد وکړی دلته تول اختیار دالله تعالی دی په حقه، د

خَيۡرٌ ثَوَابًا وَّخَيۡرٌ عُقۡبًا ﴿۴۴﴾

دهغه انعام غوره دی او ښه ده دهغه ورکړل سوی بدله

تفسیر: اوته (ددنیا بی ثباتي او د آخرت پائیداري ښکاره کولو دپاره) د دوو سړو حال (دکومو چې دیو بل سره دوستي یا خپلولي وه) بیان کړه (چې دکفارو خیال باطل سي او د مسلمانانو تسلي وسي) په دی دوو سړو کې یوه لره (کوم چې بې دینه وو) مونږ دوه باغونه د انګورو ورکړي وه، او په دواړو (باغونو) د خرما شپول تاو وو او ددی دواړو (باغونو) په مینځ کې فصل هم سوی وو (او) دواړو باغونو به خپله میوه پوره ورکوله او دیوه په میوه کی به ذره هم کمی نه راتلله (په خلاف دعامو باغونو چې کله په یوه درخته کې او کله په تول باغ کی میوه کمه سي) او ددی دواړو (باغونو) په مینځ کی نهر بهیدی او ددی سړي سره نور هم دمالداري اسباب وو، نو (یوه ورځ یې د) خپل دی (دوهم) ملګری سره یوې خوا او بلې خوا خبري کولې، وې ویل چې زه ترتا په مال کی هم زیات یم او جمع هم زما زبردسته ده (مطلب یې دا وو چې ته زما طریقی ته باطله او دالله ﷻ په نزد ناخوښه وایې نو اوس ته وګوره چې څوک ښه دی که ستا دعوی صحیح وي نو معامله برعکس وه، څکه چې ددښمن پالنه څوک نه کوي او دوست ته څوک نقصان نه رسوي) او هغه (خپل دا ملګری دځان سره کړی) په خپله ځان دجرم (کفر) ثابتوونکی خپل باغ ته ورسیدل (او) وې ویل چې زما خو خیال نه دی چې دا باغ (زما په ژوند کی) کله هم برباد سي (ددې څخه معلومه سوه چې دغه د خدای دوجود او په هرشي دده دقدرت قائل نه وو نو دحفاظت ظاهري اسباب یې ولیدل او دا خبري یې وکړي) او (دغه دول) زه خیال نه کوم چې قیامت به راسي او که چیري (به فرض محال قیامت راهم سی او) زه خپل رب ته ورسول سم (لکه چې ستا عقیده ده) نو خامخا ددی باغ څخه به هم ډیر زیات ښه ځای ماته راکړل سي (څکه چې دجنت دځایونو ددنیا څخه ښه والی خوته هم اقرار کوي او دا هم ته منی چې جنت به د خدای ﷻ مقبولو بندګانو ته ورکول کیږي او زما دمقبولیت نښې نښانې خو په دنیا کی لیدل کیږي، که زه د الله ﷻ په نزد مقبول نه وای نو دا باغونه به ولې را ته راکول کیدل، په دی وجه ستا داقرار اوتسلیم مطابق به ماته هلته ددی څخه هم ښه باغونه راکول کیږي، دا خبري چې واوریدې نو ده ته) دده دی ملاقاتی (کوم چې غریب او دینداره سړی وو) په جواب کی وویل چې آیا ته (دتوحید اوقیامت څخه انکار کوي) هغه (پاک) ذات سره کفر کوي چا چې ته (اول) دنطفی څخه (کومه چې ستا نژدې ماده ده په رحم دمورکی جوړ کړی) بیا یې ته صحیح سالم جوړ کړی (ددی باوجود ته دتوحید اوقیامت څخه انکار کوي او کفر کوي، نو کوه یې) لیکن زه خو دا عقیده لرم چې هغه (یعنی) الله ﷻ زمارب (حقیقی) دی او زه دهغه سره هیڅوک نه شریکوم (اوهر کله چې

Maktaba Tul Ishaat.com

دالله ﷻ توحید اوقدرت مطلقه پر هر څه باندې ثابت دی او ددی په نتیجه کی داڅه لیری نه ده چی ستا دباغ دترقی اوحفاظت ستا ټول اسباب او اسباب څه وخت هم بی کاره اومعطل سی او باغ برباد سی ، په دی وجه پرتا باندې لازمه ده چی په مسبب الاسباب دې نظر ساتلی، نوته چی څه وخت خپل باغ ته ورسیدی نو تا داسی ولی نه ویل چی څه الله ﷻ ته منظور وي هغه کیږي (او) بغیر دخدای ﷻ د مدد څخه (په چاکی) هیڅ قوت نسته (ترڅو پوری چی الله ﷻ وغواړي دا باغ به قائم وي اوکله چی غواړي نو خراب به سی) که ته ما په مال او په اولاد کی کمتر ګنی (اوپه دی سره تاته ځان مقبول ښکاري) نوماته هغه وخت نژدی معلومیږي چی زمارب ماته ستا تر باغ ښه باغ راکړی (برابره خبره ده که په دنیاکی وي یا په آخرت کی) اوپه دی (ستاپه باغ) څه تقدیري آفت دآسمان څخه (یعنی بی دڅه طبعی اسبابو څخه) راولیږي چی په دی سره دغه باغ په یوان کی یو صفا (خالي) میدان پاته سی یا دده څخه دده اوبه (کوم چی په نهر کی جاري دي) بالکل دننه (په مځکه کی) ننباسي (وچی یی کړي) بیا خوبه ته (دوباره) ددغو (د راایستو) کوشش هم ونه کړل سی (دلته دغه دیندار ه ملګري ددغه بی دینه دباغ جواب خو ورکي ، مګر د اولاد متعلق یی څه ورنه کړه ، شاید وجه دا وي چی د اولاد ډیروالی هلته ښه معلومیږي کله چی د دوی د پرورش دپاره مال موجود وي کنه نو دغه خو چپه وبال جان جوړیږي ، خلاصه ددی خبري دا سوه چی ستا د بدعقیده کیدو سبب دا وو چی تاته په دنیا کی الله ﷻ دولت درکړی نو دغه تا دخپل مقبولیت نښانه وګڼله او زما سره دولت نسته نو زه دی غیر مقبول وګڼلم نو ددنیا دولت او مالداري دالله ﷻ په نزد دمقبولیت مدار ګڼل لویه دوکه اوغلطی ده ، ددنیا نعمتونه خو رب العالمین مارانو ، لړمانو ، شرمښانو او بدکارانو ټولو ته ورکوي ، اصل مدار دمقبولیت د آخرت پر نعمتونو دی کوم چی همیشه باقی پاته کیدونکی او ددنیا نعمتونه ټول زوال کیدونکي دي) او (ددی خبرو څخه ورروسته واقعه داسی پیښه سوه چی) ددی سړي ټول اسباب خو آفت را ګیرکړی نو ده چی څه په باغ خرڅ کړی وه ، په هغو پسی یی لاسونه مروړل او هغه باغ په خپلو چتونو نړیدلی وو او وي ویل څه په ښه وای که ما دخپل رب سره څوک نه وای شریک کړی (ددی څخه معلومه سوه چی پر باغ د آفت راتللو څخه دي پوه سه چی د اوبال دکفر اوشرک په سبب سره راغلی دی ، که کفر می نه وای کړی نو اول خو دا آفت شاید چی نه وای راغلی اوکه راغلی هم وای نو بدله به یی راته په آخرت کی راکول سوی وای، اوس خو په دنیا او آخرت دواړوکی تاوان دی، مګر صرف په دومره حسرت او افسوس سره دده ایمان نه سو ثابتیدی ځکه چی دا حسرت او پښیمانتیا خو ددنیا د نقصان په وجه سره وسوه مخته دالله ﷻ دتوحید اوقیامت اقرار ترڅو پوري چی ثابت نه وي، ده ته مومن نه سی ویل کیدی) او دده سره څه داسی مجمع نه وه کومه چی دخدای څخه ماسوا دده مدد یی کړی وای (دده په خپله مجمع او اولاد باندې ناز وو هغه هم ختم سو) او نه هغه په خپله (زمونږ څخه) بدله واخیستل سوه ، په داسی موقع باندې مدد کول خو دالله ﷻ بر حق کار دی (او په آخرت کی هم) ددی ثواب دټولو څخه ښه دی او (په دنیا کی هم) ددی نتیجه دټولو څخه ښه ده (یعنی دمقبولینو که څه نقصان کیږي نو په دواړو جهانونو کی ددی میوه نیکه ورکول کیږي ، په خلاف دکافر څخه چی بالکل په خساره کی پاته سو)

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات او مسئلې، وَكَانَ لَهُ ثَمَرٌ : لفظ دثمر د درختو میوو ته هم ویل کیږي او مطلق مال او زر ته هم ، دلته د حضرت عباس ﷺ، مجاهد او قتاده څخه دا دوهمه معنی نقل ده (ابن کثیر) په قاموس کی دی چی دثمر لفظ د درختو میوو او په قسمونو مال او زر ټولو ته ویل کیږي ، ددی څخه معلومه سوه چی دده سره صرف باغونه او فصلونه بلکه سره سپین او ټول اسبابو نه دعیش نور هم موجود وه ، په خپله ده کوم الفاظ چی قرآن نقل کړی دی ، په دی کی، اَنَا اَكْثَرُ مِنْكَ مَالاً ، هم دا معنی ادا کوي (ابن کثیر)

مَاشَآءَ اللّٰهُ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ : په شعب الایمان کی د حضرت انس ﷺ په روایت سره ذکر دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی چی کوم سړی یوشی ووینی او دهغه خوښ شی نو که ده دا کلمه وویله، ماشآء الله لاقوة الابالله نو ده ته به هیڅ شی نقصان ونه رسولی سی (یعنی دغه ښه او محبوب شی به محفوظ وی) او په ځینو روایتونو کی دی چی که چا یو خوښ شی ولیدی او دا کلمه یی وویله ، نو دغه شی ته به بد نظر ونه لګیږي

حُسْبَانًا : ددی لفظ تفسیر حضرت قتاده رحمه الله په مطلق عذاب سره کړی دی او حضرت ابن عباس ﷺ په اور سره، او ځینو په کانو وورولو سره ، ددی څخه وورسته کوم چی په قرآن کی راغلی دی ، اُحِيطَ بِثَمَرِهِ : په دی کی ښکاره دا ده چی دده په باغ او ټول مال او زر او عیش یو لوی آفت راغی چی ټول هر څه یی برباد کړل قرآن په وضاحت سره دڅه خاص آفت ذکر ونه کړی،ښکاره داده چی څه آسمانی اور راغی چی ټول هر څه یی وسوزل،لکه چی دلفظ دحسبان په تفسیر کی د حضرت ابن عباس ﷺ څخه هم اور نقل دی. والله اعلم

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ

اوبیان کړه دوی ته مثال ددنیا دژوند لکه

اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ فَاَصْبَحَ هَشِيْمًا

اوبه چی نازلی کړی مونږ د اسمان څخه پس ددې په خلطیدو سره دمځکی څخه وابنه را وخیژی ، پس صباته به

تَذْرُوْهُ الرِّيٰحُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا ۝۴۵ اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ

سی وچه ذره ذره په هوا کی الوتی ، او الله دی په هر څه باندی قدرت لرونکی ، مال او اولاد ښائست دی ددنیا په

زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا

په ژوند کی ، او دباقی پاته کیدونکو نیکو غوره ده ستا درب په نزد باندی بدله

وَّخَيْرٌ اَمَلًا ۝۴۶ وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْاَرْضَ بَارِزَةً ۙ وَّحَشَرْنٰهُمْ

اوغوره یی دی امید ، او په کومه ورځ چی روان کی مونږ غرونه او ته به ووینی مځکه ډاګه میدان او را ټول کړو

فَلَمۡ نُغَادِرۡ مِنۡهُمۡ اَحَدًا ﴿٤٧﴾ وَعُرِضُوۡا عَلٰى رَبِّكَ صَفًّا

مونږ دوی بیا به پاته نه کړو په دوی کی یو تن ، او مخامخ به سی ستا رب ته په صفونو

لَقَدۡ جِئۡتُمُوۡنَا كَمَا خَلَقۡنٰكُمۡ اَوَّلَ مَرَّةٍۭ بَلۡ زَعَمۡتُمۡ اَلَّنۡ نَّجۡعَلَ

را ورسیداست تاسی مونږ ته لکه پیدا کړی وی مونږ په اول وار باندی داسی نه ده تاسی خو به ویل چی مقرر

لَكُمۡ مَّوۡعِدًا ﴿٤٨﴾ وَوُضِعَ الۡكِتٰبُ فَتَرَى الۡمُجۡرِمِيۡنَ مُشۡفِقِيۡنَ مِمَّا

به نه کړو مونږ ستاسی د پاره څه وعده او کښینودل به سی د حساب کاغذ ، بیا به ته ووینی گناهګاران چی بیرېږی

فِيۡهِ وَيَقُوۡلُوۡنَ يٰوَيۡلَتَنَا مَالِ هٰذَا الۡكِتٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيۡرَةً وَّلَا

به د هغه څخه کوم چی په کی لیکلی دی او وایی به های خرابی ده څنګه دی دا کاغذ نه ده پاته سوی ددي څخه کوچنک

كَبِيۡرَةً اِلَّاۤ اَحۡصٰهَا‌ ۚ وَوَجَدُوۡا مَا عَمِلُوۡا حَاضِرًا‌ ؕ وَلَا يَظۡلِمُ رَبُّكَ اَحَدًا ﴿٤٩﴾

او نه غټه چی په دی کی نه ده راغلی او بیا به پیدا کړ څه چی یی کړی وی مخامخ او ستا رب ظلم نه کوی په هیچا باندی

تفسیر: (ددی څخه مخکی یی ددنیا د ژوند او ددی د اسبابو دناپائیداري بیان دیو سړی او دجزوی مثال په ذریعه سره بیان کړی وو اوس دا مضمون په یو عام او کلی مثال سره واضحه کړل کیږي) او ته ﷺ دی خلقو ته ددنیا د ژوند حالات بیان کړه چی هغه داسی دی لکه مونږ چی دآسمان څخه اوبه اوورولی ، بیا په دی (اوبو) سره د مځکی شین گیاه ښه گڼه راشنه سی ، بیا دغه (وروسته ددی څخه چی تر او تازه وي وچ سی) ذره ذره چی هوا یی الوزوی (دا حال ددنیا دی چی نن تر او تازه په نظر راځی، صبا ددی نوم او نښانه هم پاته نه سی) او الله ﷻ په هر شی باندی پوره قدرت لرونکی دی (لکه چی غواړي پیدا یی کړي او ترقی ورکړي او کله چی غواړي فنایی کړي اوهر کله چی ددنیا د ژوند دا حال دی او) مال او اولاد ددنیا د ژوند یو رونق دی (نو بیا مال او اولاد خو په خپله هم ډیر ژر زائل کیدونکی دی) او کوم نیک عملونه (چی همیشه همیشه) باقی پاته کیدونکی دی ، دغه ستا درب په نزد (یعنی په آخرت کی ددی دنیا څخه) دثواب په اعتبار سره هم (په هزار درجو) ښه دی او د امید په اعتبار سره هم (په زرګونو درجو) ښه دی (یعنی دنیکو عملونو سره چی کوم امیدونه تړل سوي وي ، هغه به په آخرت کی خامخا پوره کیږي او ددی په امید سره به هم زیات ثواب ورکول کیږي په خلاف ددنیا د اسباب څخه چی په دی سره په دنیا کی هم انسانی امیدونه نه پوره کیږي او په آخرت کی خو یی څه احتمال نسته) او هغه ورځ یادول په کار دی په کومه ورځ چی مونږ غرونه (دخپل ځای څخه) پورته کړو (دا به په اول کی وي بیا به دغه ذره ذره سی) او ته به مځکه ووینی چی یو ډاګ میدان پروت دی (ځکه چی غرونه درختی کورونه هیڅ به باقی

Maktaba Tul Ishaat.com

پاته نه سي) اومونږ به دوی ټوله (دقبرونو څخه راپورته کړو په ميدان دحساب کې به يې) جمع کړو او د دوی څخه به هيڅوک هم پاته نه کړي (چې هلته به رانه وستل سي) اوټول به ستا درب په مخکې (يعني په موقف دحساب کې) برابر ودرول سي ، پيش به سي (دا احتمال به نه وي چې ګوندي څوک په يوه پناه ګاه کې پټ سوي دی ، او په دوی کې چې کومو دقيامت څخه انکار کوي، دوی ته به وويل سي چې) وګوری چې آخر تاسي مونږ ته (دوباره پيدا سوی) راغلاست هم، لکه چې څنګه تاسي په اول وار (يعني په دنيا کې) پيدا کړي واست (مګر تاسي داولنيو پيدا کولو ليدلو باوجود ددی دوهم پيداښت قائل نه سواست) بلکې تاسي دا ګنله چې مونږ به ستاسي (د دوباره پيدا کولو) دپاره څه وعده سوی وخت را نه ولو او عملنامې به (برابره خبره که ښه راسته لاس يا په چپه لاس کې ورکړی د دوی په مخکې ښکاره) کښيښوول سي (لکه چې په نورو آيتونوکې دي ، وَنُخْرِجُ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كِتَابًا يَلْقَاهُ مَنْشُورًا : نوته په مجرمان ووينې چې په دې کې څه) ليکلي وي (هغه به ووينې) ددې څخه (يعنی د سزا څخه يې) به بيريږي او وايي به چې هاي زمونږ کم بختي ددې عملنامې څو عجيبه حالت دي چې بې دليکلو څخه څو په کښې نه کوچنی ګناه پاته ده او نه لويه اوڅه چې دوی (په دنيا کې) کړی وه هغه به ټول (ليکلي) موجود پيدا کړي اوستا رب به پر هيچا ظلم نه کوي (چې نه کړي ګناه به وليکي يا کړي نکې چې په شرطونو سره پوره وي ، هغه ونه ليکي)

معلومات او مسئلې: وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ : مسند احمد ، ابن حبان او حاکم په روايت دحضرت ابوسعيد خدري ﷺ نقل کړی دی چې نبی کريم ﷺ فرمايي چې باقيات صالحات دزياتو څخه زيات جمع کړی ، عرض ورته وسو چې هغه څه دي؟ ده ﷺ وفرمايل ،سُبْحَانَ اللهِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ الْحَمْدُ لِلّٰهِ اللهُ أَكْبَرُ وَلَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ : ويل ، حاکم دی حديث ته صحيح ويلی دی اوعقيلی دحضرت نعمان بن بشير ﷺ په روايت سره نقل کړی دی چې نبی کريم ﷺ فرمايي چې ، سُبْحَانَ اللهِ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ: دا باقيات صالحات دی، دامضمون طبرانی په روايت دحضرت سعدبن عباده هم روات کړی دی،اوصحيح مسلم، ترمذی په روايت دحضرت ابو هريره ﷺ نقل کړی دی چې نبی کريم ﷺ فرمايي چې داکلمه يعنی ،سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ: زما په نزد دهغو ټولو شيانو څخه زيات محبوب دی پر کوموچې دلمر رڼا لګيږي يعنی دټول جهان څخه .

اوحضرت جابر ﷺ فرمايي چې ، وَلَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ : ډير واياست، څکه چې دا يو کم سل ۹۹ بابونه د ناجوړي اوتکليف ليري کوي په کوموکې چې دټولو څخه دکمې درجې تکليف هم، يعنی فکر اوغم دی ، په دی وجه په دی آيت کی دلفظ دباقيات صالحات تفسير حضرت ابن عباس ﷺ عکرمه، مجاهد رحمهم الله دا کړی دی چې مراد ددی څخه دا کلمې ويل دي اوحضرت سعيد بن جبير ﷺ، مسروق رحمه الله او ابراهيم رحمه الله فرمايي چې دباقيات صالحات څخه مراد پنځه لمونځونه دي .

اوحضرت ابن عباس ﷺ څخه په يو بل روايت کې دی چې په دی آيت کی دباقيات صالحات څخه مراد مطلق نيک عملونه دي چې داکلمې ذکر سوی په کښې هم داخلې دی ، پنځه لمونځونه هم، اونورټول

نیک عملونه هم، دحضرت قتاده ؒ څخه هم دا تفسیر نقل دی (مظهری)
دقرآن دالفاظو مطابق هم دا ده ، ځکه چی ددی الفاظو لفظی مطلب هغه نیک عملونه دي کوم چی باقی پاته کیدونکی دی او دا ښکاره ده چی نیک عملونه ټول دالله ﷻ په نزد باقی او قائم دی ، ابن جریر، طبري او قرطبی دی تفسیر ته ترجیح ورکړي ده .
حضرت علی کرم الله وجهه فرمایی چی فصل پر دوه قسمه وي ، ددنیا فصل خو مال او اولاد دی او د آخرت فصل باقیات صالحات دي ، حضرت حسن بصري ؒ فرمایی چی باقیات صالحات دانسان نیت او اراده ده چی دنیکو عملونو قبولیت پردی باندی موقوف دی .
اوعبیده ابن عمر ؓ فرمایی چی باقیات صالحات نیکی لونی دي ، چی دوی دخپل مور او پلار دپاره د ټولو څخه لویه ذخیره دثواب دی ، پردی دحضرت عائشی صدیقی ؓ یو روایت دلالت کوي کوم چی دنبی کریم ﷺ څخه نقل دی چی دوی فرمایی مادخپل امت یو سړي ولیدی چی ده ته دجهنم دبیولو حکم ورکړل سو ، نو دده نیکانی لونی په ده پوری ومونښتلی او په ژړا او په شور سوی، اوالله ﷻ ته یی فریاد وکی چی یا الله ده په دنیا کی پر مونږ لوی احسان کړی دی او زمونږ پالنه یی په محنت سره کړي ده ، نوالله ﷻ په ده رحم وفرمایی او ویی بخښی (قرطبی)
وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَادَىٰ كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ : دقیامت په ورځ به ټولو ته خطاب وي چی نن تاسی داسی خالی لاسونه بغیر دڅه ساز او اسباب څخه زمونږ مخ ته راغلاست داسی لکه چی د اول پیدائش په وخت کی واست ، په بخاری مسلم او ترمذی کی په روایت دحضرت ابن عباس ؓ ذکر دی چی یو وار نبی کریم ﷺ خطبه ورکړه چی په هغه کی یی وفرمایل ای خلقو! تاسی به دقیامت په ورځ دخپل رب مخ ته پښی ابله لغړ بدن او پیاده راځی او دټولو څخه اول چی چاته کپړی اغوستل کیږي ، هغه به حضرت ابراهیم ؑ وي چی دا یی واوریدل نو حضرت عائشه صدیقه ؓ پوښتنه وکړه، یا رسول الله ! آیا ټول سړی او ښځی به لغړ وي او یو بل ته به ګوري؟ ده ﷺ وفرمایل چی په دغه ورځ به هر یو په داسی شغل او فکر کی ګیروي ، چی چاته به دچا طرف ته دکتلو موقع هم نه ورکول کیږي دټولو سترګی به په پورته ختلی وي .
قرطبی فرمایی چی په یوحدیث کی چی کوم راغلی دی چی مړی به برزخ کی په خپلو کفنونو کی ملبوس د یو بل ملاقات کوي ، هغه ددی حدیث منافی نه دی ځکه چی دغه معامله د برزخ ده ، دا دمیدان دحشر ده او دحدیث په ځینو روایتونو کی کوم دا نقل دی چی مړی به په خپله هغه کپړه کی په میدان دحشر کی پورته کیږی په کومه کی چی یی دی دفن کړی وي ، حضرت فاروق اعظم ؓ فرمایی چی خپلو مړو ته ښه کفنونه جوړ وی ځکه چی دوی به دقیامت په ورځ په دی کفن کی پورته کیږی، دا ځینو حضراتو پر شهیدانو باندی محمول کړي ده ، ځینی وایی چی کیدی سی چی په محشر کی ځینی خلق په کپړو کی پورته کیږي ځینی لغړ، دغه ډول دواړه قسمه روایتونه جمع کیدی سی (مظهری)

(جزاء عین عمل دی)

وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا : یعنی ټول اهل محشر به خپل کړی عملونه حاضر پیدا کړي ، ددی مطلب په عام طور باندی مفسرینو حضراتو دا بیان کړی دی چی دخپلو کړو عملونو جزاء به حاضره او موجوده

۲۱

Maktaba Tul Ishaat.com

پیدا کړي، زمونږ استاد حضرت مولانا سید محمد انور کشمیری رحمه الله به فرمایل چی ددی د تاویل کولو ضرورت نسته ، د احادیثو بی شمیره روایتونه پردی شاهد دی چی ددنیا دا عملونه به د آخرت جزاء او سزاء جوړیږي ، د دوی شکلونه به هلته بدلیږي ، نیک عملونه به دجنت دنعمتونو شکل اختیار کړي او بد عملونه به دجهنم اور، ماران او لړمان جوړ سی .

په حدیث شریف کی دی چی د زکوٰة نه ورکوونکو مال به په قبر کی دیو لوی مار په شکل کی راسی دی به چیچی او وایی به ، آنَا مَالُکَ، زه ستا مال یم، نیک عمل به دیو ښکلی انسان په شکل کی دقبر دیوازي والی دبیري لیري کولو دپاره راځی ، دقرباني څاروی به په پل صراط سپرلی جوړیږي ، د انسان گناه به په محشر کی دبار په شکل کی د هر یوه پر سر باندی بار کړل کیږي .

په قرآنکریم کی دیتیمانو مال په ناحقه دخوړلو په باره کی دی چی ، اِنَّمَا یَاْكُلُوْنَ فِیْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا: دا خلق په خپلو گیډو کی اور اچوي دا ټول آیتونه او روایتونه عموماً په مجاز محمول کیږي او که دا تحقیق واخیستل سی ، نو په دی کی په هیڅ ځای کی دمجاز ضرورت نه پاته کیږي، ټول په خپل حقیقت باندی پاته کیږي. قرآنکریم دیتیم مال ته اور ویلی دی نو حقیقت دا دی چی دغه دا وخت هم اور دی ، مگر ددی د اثر محسوس کولو دپاره ددی دنیا څخه تیریدل شرط دی لکه څوك چی د اورلگیت دبی ته اور ووایی نو صحیح ده مگر ددی د اور کیدو دپاره موږل شرط دی ، دغه ډول که څوک پټرولو ته اور ووایی نو صحیح به گڼل کیږي که څه هم ددی سره دلږ څه اور اتصال شرط دی .

ددی خلاصه دا سوه چی انسان کوم نیک یا بدعمل په دنیا کی کوي ، دغه عمل به په آخرت کی د جزا او سزا شکل اختیار کړي ، دغه وخت به ددی آثار او علامی ددی دنیا څخه جلا نوری سی . والله اعلم

وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِیْسَ ؕ

او کله چی مونږ وویل ملائکو ته سجده وکړی ادم علیه السلام ته نو سجده یی وکړه مگر ابلیس (ونه کړه)

كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ ؕ اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّیَّتَهٗٓ اَوْلِیَآءَ

وو پیریانو د قسم څخه پس ووتی د خپل رب د حکم څخه ، پس ایا اوس تاسی نیسی دی او دده اولاد ملگری

مِنْ دُوْنِیْ وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ؕ بِئْسَ لِلظّٰلِمِیْنَ بَدَلًا ﴿۵۰﴾ مَآ اَشْهَدْتُّهُمْ

زما څخه ماسوا او دوی ستاسی دښمنان دی ، ناکاره په لاس ورغلل بی انصافو ته په بدله کی ، نه وو حاضر کړی

خَلْقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَا خَلْقَ اَنْفُسِهِمْ ۪ وَمَا كُنْتُ مُتَّخِذَ

ما دوی پیدائش دا سمانونو او دمځکی ته او پیدائش په خپله د دوی ته او زه هغه نه یم چی جوړ کړم گمراه

Maktaba Tul Ishaat.com

الْمُضِلِّينَ عَضُدًا ﴿٥١﴾ وَيَوْمَ يَقُولُ نَادُوا شُرَكَائِيَ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ

کوونکو لره خپل مددګاران ، او په کومه ورځ چی ووایی را بولی زما شریکانو لره کومو چی تاسی منل

فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ مَوْبِقًا ﴿٥٢﴾ وَرَأَى الْمُجْرِمُونَ

نو را وبه بلی پس هغوی به جواب ورنه کړی دوی ته ، او جوړ به کړو مونږ د دوی په مینځ کی د مرګ ځای ، او

النَّارَ فَظَنُّوا أَنَّهُمْ مُوَاقِعُوهَا وَلَمْ يَجِدُوا عَنْهَا مَصْرِفًا ﴿٥٣﴾ وَلَقَدْ

وبه وینی ګناهګاران ، اور پس پوه به سی چی دوی په کی لویدونکی دی او نه سی بدلیدی د دوی ځخه لار او

صَرَّفْنَا فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ لِلنَّاسِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ۚ وَكَانَ الْإِنْسَانُ أَكْثَرَ

بیشکه بیا بیا پوهوو مونږ په دی قرآن کی خلق په هر یو مثال او دی انسان دهرشی ځخه زیات

شَيْءٍ جَدَلًا ﴿٥٤﴾ وَمَا مَنَعَ النَّاسَ أَنْ يُؤْمِنُوا إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدَىٰ وَيَسْتَغْفِرُوا

جنجالی ، اوخلق چی کوم منع کړی دی ددې خبری ځخه چی یقین وکی کله چی راغی دوی ته هدایت او بخښنه وغواړی

رَبَّهُمْ إِلَّا أَنْ تَأْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا ﴿٥٥﴾

درب خپل ځخه پس دی انتظار چی وسی د دوی سره کار پخوانیو یا راسی دوی ته عذاب مخامخ ،

وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ ۚ وَيُجَادِلُ الَّذِينَ

او مونږ چی کوم رسولان لیږو پس خوشخبری کوونکی او بیرونکی او جګړه کوی

كَفَرُوا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ ۖ وَاتَّخَذُوا آيَاتِي وَمَا أُنْذِرُوا

کافران دروغ جګړه چی ورانه کړی په دی حقه خبره او نیولی دی دوی زما کلام او کومه چی ورته بیره

هُزُوًا ﴿٥٦﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ

واوروِل سی توقه ، او دهغه ځخه زیات ظالم څوك دی څوك چی پوه کړل سی دده درب په کلام سره بیا ورځخه مخ وا ړوی او هیر به کړی .

Maktaba Tul Ishaat.com

مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ۚ إِنَّا جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِي

کوم چی مخکې لیږلی وی دده لاسونو ، مونږ اچولی دی د دوی په زړونو پردې چی پوه نه سی باندی او

آذَانِهِمْ وَقْرًا ۖ وَإِن تَدْعُهُمْ إِلَى الْهُدَىٰ فَلَن يَهْتَدُوا إِذًا أَبَدًا ﴿٥٧﴾

د دوی په غوږونو کی دروندوالی او که ته بلی دوی لاری ته نو هرگز نه راځی لاری ته دغه وخت

وَرَبُّكَ الْغَفُورُ ذُو الرَّحْمَةِ ۖ لَوْ يُؤَاخِذُهُم بِمَا كَسَبُوا لَعَجَّلَ لَهُمُ

کله ، او ستا رب لوی بخښنی والا دی رحمت والا ، که دوی ونیسی د دوی په عمل نو ژر به وغورځیږي په دوی

الْعَذَابَ ۚ بَل لَّهُم مَّوْعِدٌ لَّن يَجِدُوا مِن دُونِهِ مَوْئِلًا ﴿٥٨﴾ وَتِلْكَ

عذاب ، بلکه د دوی دپاره وعده ده چی چیری به بیا نه کی پیدا دهغه څخه ځای دلیری کیدو ، او دا تول

الْقُرَىٰ أَهْلَكْنَاهُمْ لَمَّا ظَلَمُوا وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِم مَّوْعِدًا ﴿٥٩﴾ ع

کلي دي کوم چی مونږ هلاک کړي دي کله چی دوی ظالمان سول او مقرر کړي وه مونږ د دوی دهلاکت یوه وعده

تفسیر: او (هغه وخت هم دیادولو دی) کله چی مونږ ملائکوته حکم (وکړی چی آدم ﷺ ته سجده وکړئ نو تولو سجده وکړه مگر د ابلیس څخه چی دی دپیریانو څخه وو ده دخپل رب دحکم څخه تجاوز وکی (ځکه چی غالب عنصر دپیریانو دکوم څخه چی پیدا سوی دی، اور دی او د اور خاصیت دا دی چی پابندي نه خوښوي، مگر ددی پیدائشی خاصیت په وجه به ابلیس معذور نه سی گڼل کیدی ځکه چی ددی پیدائشی تقاضا دخدای په بیره سره مغلوبه کیدی سوه) نو آیا بیا هم تاسی دی او دده اولاد (او تابعداران) دوستان جوړ وی او ماپریږدی (یعنی زما اطاعت پریږدی او دهغه په وینا پسی ځی) حال دا دی چی هغه (ابلیس او دده ړله) ستاسی دښمنان دي (چی هر وخت تاسی ته دضرر رسولو په فکر کی وي) دا (د ابلیس او دده ړلی دوستی) دظالمانو دپاره ډیره ناکاره بدله ده (بدله یی ورته ځکه وویل چی دوست جوړول خو زما په کار وو لیکن دوی زما په بدله کی شیطان دوست جوړکي ، بلکی دوست هم نه ، دی یی په خدایی کی شریک هم ومنی حال دا دی چی) ماخونه دی دآسمان او مځکی دپیداکولو په وخت کی (خپل مددیا مشوری ته رابللی دی) او نه می په خپله د دوی دپیداکولو په وخت کی (راوبلی یعنی دیوه دپیداکولو په وخت کی می بل نه دی رابللی) او زه داسی (عاجزه) نه وم چی (یوځوک بیاخاصکر) گمراه کوونکی (یعنی شیطانان) خپل (لاس او) متی جوړوم (یعنی دمدد ضرورت خو هغه ته وي کوم چی په خپله قادر نه وي) او (تاسی دلته ده ته په خدایی کی شریک گڼئ ، په قیامت کی به حقیقت معلوم سی) هغه ورځ یاده کړی چی حق تعالی (مشرکانو ته) وفرمایی چی کوم تاسی زما سره شریک جوړول، هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

(دخپل امداد دپاره) را وبولي نو دوی به یې راوبلي نوهغوی به دوی ته جواب ورنه کړي او مونږ به د دوی په مینځ کې یوه پرده وکړو (چې په دې سره به دوی بالکل مایوسه سي کنه نو بغیر د پردې کولو خخه هم د دوی مدد کول ممکن نه وو) او مجرمان به دوږخ ووینې، بیا به یقین وکړي چې دوی په دې کې لویدونکي دي او ددې څخه د محفوظ کیدو هیڅ لار به پیدا نه کړي او مونږ په دې قرآن کې د خلقو (دهدایت) دپاره هرقسم عمده مضامین په قسم قسم سره بیان کړي دي او (پردې سربیره هم منکران انسان په جګړه کې دټولو څخه زیات دي (په پیریانو او حیواناتو کې که څه هم شعور او ادراک سته، مګرهغوی داسې جنګ او جګړه نه سي کولي) اوخلقو ته وروسته ددې چې هدایت ورسیدی (چې تقاضا یې دا وه چې ایمان یې راوړی وای) د ایمان راوړو څخه او دخپل پروردګار څخه (پرکفر او نافرمانۍ دبخښنې غوښتو څخه بل هیڅ کارمانع نه دی بغیر ددې څخه چې دوی ددې انتظارکوي چې دمخکې خلقو په شان معامله (دهلاکت او عذاب) دوی ته هم ورپیښه سي یا دا چې عذاب دوی ته مخامخ راسي ودریږي (مطلب دا دی چې ددې حالاتو څخه دا معلومیږي چې دوی دعذاب انتظارکوي کنه نو نور ټول حجتونه خوتمام سوي دي) او رسولان خو صرف خوشخبري ورکوونکي او بیرونکي رالیږل کیږي (چې ددې دپاره دمعجزاتو وغیره په ذریعه کافي دلیلونه د دوی سره کیږي ، ددې څخه ماسوا نور فرمائشونه د دوی څخه غوښتل جهالت دی) اوکافران خلق ناحقه خبري نیسي، جګړې جوړوي چې ددې په ذریعه حقه خبره خرابه اودوی زماآیتونه اودکوم (عذاب) څخه چې دوی بیرول سوي وه، خندا یې ورڅخه جوړه کړي ده او دهغه څخه به زیات ظالم څوک وي کوم ته چې دده د رب په آیتونو سره نصیحت وسي بیا هغه ددې څخه مخ واړوي او څه چې یې په خپلو لاسونو (ګناهونو) کړي وي (نتیجې د) هغوی هیرې کړي، مونږ په دې (حقه خبره) دپوهیدو څخه د دوی پر زړونو پردې اچولې دي (او ددې داوریدو څخه) د دوی په غوږونو کې دروند والی دی (په دې وجه د دوی حال دا دی چې) که ته دوی سیده لارې ته راوبولې نو هیڅکله هم په لاره نه راځي (ځکه چې په غوږونو سره دحق دعوت نه اوري ، په زړونو باندې نه پوهیږي په دې وجه ته غم مه کوه) او (دعذاب د وروسته کیدو په وجه سره کوم چې د دوی دا خیال راغلی دی چې عذاب دسره راځي نه نو ددې وجه دا ده چې) ستا رب لوی مغفرت کوونکی لوی رحمت والا دی (په دې وجه یې مهلت ورکړی دی چې که اوس دوی پوه سي او ایمان راوړي نو د دوی مغفرت به وسي کنه نو د دوی عملونه خو داسې دي چې) که د دوی دعملونو په وجه د دوی نیول وکړي نو فوراً به عذاب واقع کړي (مګر داسې نه کوي) د دوی د (عذاب) دپاره یو معین وخت (مقرر سوی) دی (یعنې دقیامت ورځ) چې دهغه څخه دې خوا (یعنې مخکې) هیڅ دپناه ځای نه سي پیداکولي (یعنې چې ددغه وخت دراتلو څخه مخکې یوځای دپناه ځای ته ولاړ سي پټ سي اومحفوظ سي ورڅخه) او (داسې کار د مخکې کفاروسره سوی دی چنانچې) دا کلي (دکومو چې قصې مشهوري اوذکردي) هرکله چې دوی (یعنې د دوی اوسیدونکو) شرارت وکړی نو مونږ دوی هلاک کړل اومونږ د دوی دهلاکیدو دپاره وخت معین کړی وو (دغه دول ددې موجوده خلقو دپاره هم وخت معین دی)

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومات او مسئلې: (د ابلیس اولاد او لمسي کړوسي، هم سته)

وَذُرِّيَّتَهُ: ددې لفظ څخه معلومیږي چې د ابلیس اولاد او لمسي کړوسي وغیره سته، او ځینې حضرات فرمايي چې دلته د ذریت څخه مراد مدد ګاران او معینان دي، دا ضروري نه ده چې د شیطان صلبي اولاد دې هم وي، مګر یو صحیح حدیث کوم چې حمیدي په (کتاب الجمع بین الصحیحین) کې د حضرت سلمان فارسي ﷺ څخه روایت کړی دی، په دې کې دي چې نبي کریم ﷺ ده ته دا نصیحت وفرمایې چې ته د هغو خلقو څخه مه جوړیږې کوم چې د ټولو څخه اول بازار ته داخلیږي یا د هغو خلقو څخه کوم چې د ټولو څخه آخر د بازار څخه وزي، ځکه چې بازار داسې ځای دی په کوم چې د شیطان هګۍ بچي راوړي، ددې څخه معلومیږي چې د شیطان اولاد دده د هګیو څخه خپریږي، قرطبي ددې روایت نقل کولو څخه وروسته فرمایي چې د شیطان مددګار او لښکرې کیدل خو په قطعي دلیلونو سره ثابت دي او د صلبي اولاد متعلق یې او س لوړ صحیح حدیث تیر سو. والله اعلم

وَكَانَ الْإِنسَانُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا: په تمام مخلوقات کې د ټولو څخه زیات جګړالو انسان واقع سوی دی، ددې په شاهدۍ کې یو حدیث د حضرت انس ﷺ څخه نقل دی چې نبي کریم ﷺ فرمایي چې د قیامت په ورځ به یو سړی د کفارو څخه پیش سي دده څخه به پوښتنه وسي چې مونږ کوم رسول در لیږلی وو، د هغه متعلق تا څه عمل کړی دی؟ دی به ووایي چې ای زما ربه! ما خو په تا هم ایمان راوړو ستا په رسول مې هم او په عمل کې مې د هغه اطاعت کړی دی الله ﷻ به وفرمایي چې دا ستا عملنامه مخکې پرته ده په دې کې خو داهیڅ هم نسته داسړی به ووایي چې زه خو دا عملنامه نه منم الله ﷻ به وفرمایي چې دا زمونږ فرښتې ستا نګراني کوونکې وي، دوی ستا خلاف شاهدي ادا کوي، دی به ووایي چې زه د دوی شاهدي هم نه منم او نه دوی پیژنم او نه ما دوی د خپل عمل په وخت کې لیدلي دي، الله ﷻ به وفرمایي چې دا لوح محفوظ مخامخ دی، په دې کې هم ستا دا حال لیکل سوی دی، دی به ووایي چې زما ربه! تا خو د ظلم څخه پناه ماته راکړې ده او که نه ده؟ الله ﷻ به وفرمایي چې بیشکه د ظلم څخه ته زما په پناه کې یې، نو اوس به دی ووایي، چې زما به زه داسې غیبي شهادتونه څنګه ومنم کوم چې ما لیدلي کتلي نه وي، زه خو داسې شاهدي منلی سم کوم چې زما د نفس د طرف څخه وي، د غه وخت به دده په خُله مهر ولګول سي او دده لاسونه او پښې به دده په کفر شاهدي ادا کړي، ددې څخه وروسته به دی ازاد سي او جهنم ته به وغورځول سي، (ددې روایت مضمون په صحیح مسلم کې په روایت د حضرت انس ﷺ نقل سوی دی، (قرطبي)

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَاهُ لَا أَبْرَحُ حَتَّىٰ أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا ۝٦٠

او هر کله چې وویل موسی ﷺ خپل خوان ته زه نه وایس کیږم ترهغه چې ورسیږم هغه ځای ته کوم ځای چې یو ځای کیږي دوه دریابونه یا ولاړ سم په ډیروزمانو.

فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ

بیا چې ورسیدل دواړه یو ځای کیدو د دریابونو ته هیر یې کې خپل ماهي بیا هغه خپله لار ونیوه په دریاب کې

سَرَبًا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتٰىهُ اٰتِنَا غَدَآءَنَا ۡ لَقَدْ لَقِيْنَا مِنْ سَفَرِنَا

سرنګ کوونکی ، بیا چی کله وړاندی ولاړل وویل موسی ؑ خپل ځوان ته ، راوړه مونږ ته زمونږ خوراك ، مونږ

هٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾ قَالَ اَرَءَيْتَ اِذْ اَوَيْنَآ اِلَى الصَّخْرَةِ فَاِنِّيْ نَسِيْتُ الْحُوْتَ ۡ

پیدا کی په خپل دی سفرکی، تکلف ، وویل هغه وګوره کله چی مونږ ځای ونیوی دډبری په خوا کی نوماهیرکی ماهی

وَمَآ اَنْسٰىنِيْهُ اِلَّا الشَّيْطٰنُ اَنْ اَذْكُرَهٗ ۚ وَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ فِي الْبَحْرِ ۖ

اودا هیرکی زما څخه شیطان چی زه یی ذکر وکړم اوهغه ونیوه خپله لاره په دریاب کی

عَجَبًا ﴿٦٣﴾ قَالَ ذٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ ۖ فَارْتَدَّا عَلٰٓى اٰثَارِهِمَا قَصَصًا ﴿٦٤﴾

عجیبه شان ، وې ویل دا دی کوم چی مونږ غوښتل ، بیا واپس سو دخپلو پښو په نښانو معلومولو باندی ،

فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ اٰتَيْنٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا وَعَلَّمْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّا

بیایی پیدا کی یو بنده زمونږ دبندګانو څخه کوم ته چی ورکړی وو مونږ رحمت دخپل طرف څخه او ښوولی وو مونږ

عِلْمًا ﴿٦٥﴾ قَالَ لَهٗ مُوْسٰى هَلْ اَتَّبِعُكَ عَلٰٓى اَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ

دخپل رب طرف څخه یو علم ، وویل ده ته موسی اجازه تا سره پاته سم په دی خبره چی ماته وښیی څه چی تاته ښودل

رُشْدًا ﴿٦٦﴾ قَالَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٦٧﴾ وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلٰى مَا

سوی دی نیکه لار؟ وې ویل، ته صبر نه سی کولی ما سره، او څنګه به صبر وکړی په داسی شی چی ستا په قبضه کی

لَمْ تُحِطْ بِهٖ خُبْرًا ﴿٦٨﴾ قَالَ سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ صَابِرًا وَّلَآ اَعْصِيْ

نه وی دهغه پوهه ، وې ویل ته به پیدا کی ما ، که دالله رضا سی صبر کوونکی او نافرمانی به نه کوم

لَكَ اَمْرًا ﴿٦٩﴾ قَالَ فَاِنِ اتَّبَعْتَنِيْ فَلَا تَسْـَٔلْنِيْ عَنْ شَيْءٍ حَتّٰٓى اُحْدِثَ

ستا دیو حکم ، وې ویل پس که زما سره پاته کیږې نو پوښتنه مه کوه زما څخه دڅه شی ترڅو چی زه شروع نه کړم

لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا ﴿٧٠﴾ ع

ستا په مخکې دهغه ذکر.

Maktaba Tul Ishaat.com

تفسیر: او هغه وخت یاد کړه کله چې موسی (علیه السلام) خپل خادم ته (چې نوم یوشع وو، رواه البخاري) وفرمایل چې زه (په دې سفر کې) به په مخه ځم تردې چې هغه موقع ته ورسیږم کوم ځای چې دوه دریابونه سره یوځای دي او یا به هم دغسې تر ډیرې زمانې پورې روان یم (او وجه ددې سفر دا سوې وه چې یو وار حضرت موسی (علیه السلام) بنی اسرائیلو ته وعظ کوي نو یو چا پوښتنه ورڅخه وکړه چې دا وخت په انسانانو کې د ټولو څخه لوی عالم کوم سړی دی؟ دوی وفرمایل، زه، مطلب یې دا وو چې په هغو علمونو کې کوم چې الله ﷻ ته نژدې کوونکي دي، زما برابر په کښې څوک نسته او دا فرمایل د دوی صحیح وه، په دې وجه چې دوی نبي اولو العزم وو، د دوی دومره دا علم نوروته نه وو، لیکن په ښکاره لفظ مطلق وو، په دې وجه الله ﷻ ته منظوره سوه چې ده ته په خبرو کولو کې داحتیاط کولو تعلیم ورکړل سي نو ارشاد ورته وسو چې یو زمونږ بنده په مجمع البحرین کې تر تا زیات علم لري، مطلب دا وو چې په ځینو علمونو کې هغه زیات دی که څه هم دغو علمونو ته دالله ﷻ په نژدیکت کې دخل نه وي لکه چې ډیر ژر به واضحه سي لیکن پردې بنا باندې تا لره نه وي په کار چې ځان ته دې اعلم وویل، غرض دا چې دحضرت موسی (علیه السلام) شوق پیدا سو چې دې ووینې نو پوښتنه وکړې چې ده ته درسیدو به څه طریقه وي؟ نو ارشاد ورته وسو چې یو مړ ماهي د ځان سره واخله، سفر کوه کوم ځای چې هغه ماهي ورک سو دغه سړی به هلته وي.

(دغه وخت حضرت موسی (علیه السلام) یوشع (علیه السلام) دځان سره کې او دا خبره یې وفرمایله) نو هرکله چې (په تللو تللو کې) د دوو دریابونو دجمع کیدو ځای ته ورسیدل (هلته د یوې ډبرې خواته کښېنستل او بیده سول او دغه ماهي دالله ﷻ په حکم سره ژوندی ولاړی په دریاب باندې ورننوتی، حضرت یوشع (علیه السلام) چې بیداره سو نو ماهي یې نه کې پیدا، اراده یې وکړه چې حضرت موسی (علیه السلام) ویښ سي نو ده ته به یې ذکر وکړم، مگر دده بالکل په یاد نه سو، شاید د اهل او عیال او دوطن دیادیدو خیالات به باندې زور سوي وو څکه یې یاد نه سو، گڼې داسې عجیبه خبره هیریدل خو ډیر کم وي، لیکن کوم سړی چې هر وخت معجزې وینې دهغه د ذهن څخه د ادنی درجې عجیبه خبره وتل دڅه خیال په غلبه سره عجیبه نه ده او دحضرت موسی (علیه السلام) یې هم دپوښتنې کولو خیال ونه سو، په دې شان سره) دا خپل ماهي دواړو هیر کې او ماهي (ددغه ځای څخه) په دریاب کې یې خپله لار ونیووله ولاړی، بیا چې کله دواړه (ددغه ځای څخه مخکې ولاړل (اولیرې ووتل) نو موسی (علیه السلام) خپل خادم ته وفرمایل چې زما ناشته راوړه مونږ ته خو په دې سفر (یعنې په دې نني مزل) لوی تکلیف ورسیدی (او ددې څخه په مخکې مزلونو خونه وو ستړي سوي، چې ددې په ښکاره دا وجه وه چې دوی دمقصودي ځای څخه مخکې تللی وه) خادم وویل چې واخله وگوره (عجیبه خبره وسوه) هرکله چې مونږ دهغه ډبرې خواته ناست وو (او بیده سوي وو، هغه وخت دهغه ماهي خو یوه عجیبه قصه سوې ده، او زما تاته د ذکر کولو اراده وسوه لیکن زه په یو بل خیال کې سوم) نو ما دهغه ماهي (ذکر کول) هیر کړل او شیطان زما څخه هیر کړل چې ما دهغه ذکر کړی وای او (هغه قصه داسې وسوه چې) دغه ماهي (دژوندی کیدو څخه وروسته) په دریاب کې په عجیبه طور سره خپله لار ونیوله (یو خو په عجبه طور دده په خپله ژوندی کیدل دي دوهم په عجیبه طور دا چې هغه ماهي په

Maktaba Tul Ishaat.com

دریاب کې په کوم ځای چې تیر سوی وو، هلته او به په طور د خرق عادت داسې د سُرنګ په طور سوي وې، غالباً بیا به یو ځای سوې وي) موسیٰ ﷺ چې داقصه واوریده) وې وفرمایل چې هم دا هغه موقع ده د کوم چې مونږ کوشش کوي (هلته واپس کیدل په کار دي) نو دواړه دخپلو پښو دنښانو په لیدو ولاړل (غالباً دغه لار د سرک نه وه په دې وجه یې د پښو نښاني لټولې) نو (هلته چې ورسیدل) د وی زمونږ په بندګانو کې یو بنده (یعني خضر ﷺ) پیدا کي کوم ته چې مونږ خپل خاص رحمت (یعني مقبولیت ورکړی وو (دمقبولیت په معنی کې دولایت او نبوت دواړو احتمال دی) او مونږ ده ته دخپل طرف څخه (یعني بې د واسطې دکسب کولو د اسبابو څخه) یو خاص طور علم ښوولی وو (مراد ددې څخه علم دکونیه اسرار و دي، لکه چې دراتلونکو واقعاتو څخه به معلومه سي او ددې علم د الله ﷻ په نژدیکت حاصلولو کې هیڅ دخل نسته، کوم علم ته چې د الله ﷻ سره په نژدیکت کې دخل دی هغه علم د اسرار الهیه دي په کوم کې چې موسیٰ ﷺ لوی وو غرض دا چې) موسیٰ (ﷺ ده ته سلام وکي او ده ته یې) وفرمایل چې زه ستا سره پاته کیدل غواړم (یعني ماته دځان سره دپاته کیدو اجازه راکړه) په دې شرط چې کوم مفید علم تاته (دالله ﷻ د طرف څخه) ښوول سوی دی په دې کې ته ماته هم وښیه، دغه بزرګ جواب ورکي ته که زما سره پاته سې (نو زما په کارونو) به صبر ونه کړل سې (یعني مابه منع کوي او په استاد چې د تعلیم متعلق د شاګرد منع کول وي نو ملګرتیا یې ګرانه وي) او پر داسې کارونو به (د منع څخه) ته څنګه صبر وکړي کوم چې ستا دپوهې داحاطې څخه بهر دي (یعني په ښکاره کې به دغه کارونه چې منشاء یې تاته معلومه نه وي، خلاف شرع به در ته ښکاري او ته به پر خلاف شرع کارونو څنګه چپ پاته سې؟) موسیٰ (ﷺ) وفرمایل چې (داسې نه ده) انشآء الله ته به زما صبر کوونکی (یعني ضابط پیدا کړي او زه به هیڅ خبره کې ستا د حکم څخه خلاف نه کوم (یعني که دمنع څخه مې منع کوی نو زه به تانه منع کوم او دغه شان به بله خبره کې هم خلاف نه کوم) دې بزرګ وفرمایل چې (ښه ده) که زما سره پاته کیدل غواړي نو (دومره خیال کوه چې) زما څخه د څه خبرې په نسبت به هیڅ پوښتنه نه کوي، ترڅو چې دهغه متعلق زه په خپله اول ذکر ونه کړم.

معلومات او مسئلې: وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَاهُ: په دې واقعه کې د موسیٰ څخه مراد مشهور پیغمبر حضرت موسی بن عمران ﷺ دی، نوفل بکالي چا چې دبل موسیٰ طرف ته ددې واقعې نسبت کړی دی، په صحیح بخاري کې د حضرت ابن عباس ﷛ د طرف څخه په ده سخت رد نقل دی.

او د، فَتىٰ: لفظي معنی د نوجوان ده، هرکله چې دا لفظ دیو خاص سړي د پاره استعمال سي نو خادم ورڅخه مراد وي، څکه چې خدمتګار اکثره قوي ځوان ساتل کیږي چې هرکار کولی سي او نوکر یا خادم د ځوان په نوم سره بلل د اسلام دیر ښکلی ادب دی چې نوکرانو ته هم په غلامانو یا مرئیانو ویلو سره اواز مه کوی، بلکې په ښکلي لقب سره ورته اواز کوی، دلته د فتیٰ نسبت حضرت موسیٰ ﷺ ته دی، څکه چې مراد ورڅخه د حضرت موسیٰ ﷺ نوکر دی او د حدیث په روایتونو کې دی چې دا خادم یوشع بن نون بن افرائیم بن یوسف ﷺ وو په ځینو روایتونو کې دی چې دا د حضرت موسیٰ ﷺ د خور زوی وو، مګر په دې کې څه قطعي فیصله نه سي کیدی، د صحیح روایتونو څخه د ده نوم یوشع بن نون ثابت دی،

Maktaba Tul Ishaat.com

دباقي صفتونو او حالاتو ثبوت يې نسته.
دمجمع البحرين لفظي معنى هرهغه ځاى دى كوم ځاى چي دوه دريابونه يوځاى كيږي او دا ښكاره ده چي داسي ځايونه په دنيا كي بې شميره دي، دلته دمجمع البحرين څخه كوم ځاى مراد دى؟ چونكي په قرآن او حديث كي يې ددى معين ځاى نه دى ښوولى، په دى وجه د اثارو او قرائنو په اعتبار سره دتفسير ليكونكو اقوال په دى كي مختلف دي حضرت قتاده وايي چي دبحر فارس او بحر روم ديوځاى كيدى ځاى دى، ابن عطيه رحمه الله د آذربائيجان په خواكي يوځاى وايي، ځيني دبحر اردن او بحر قلزم ديوځاى كيدو ځاى وايي ځيني وايي دامقام په طبخه كي دى، د ابى بن كعب رضي الله عنه څخه نقل دى چي دا به افريقه كي دى، سدّي رحمه الله ارمينيه ښيي، ځيني وايي چي دبحر اندلس او بحر محيط ديوځاى كيدو ځاى دى. والله تعالى اعلم

په هرحال دومره خبره ښكاره ده چي الله جل جلاله حضرت موسى عليه السلام ته دا مقام معين كړى او ښوولى وو، دكوم طرف ته چي دده سفر واقع سوى دى (قرطبي)

(دحضرت موسى او خضر عليهم السلام قصه)

ددى واقعي تفصيل په صحيح بخاري او مسلم كي په روايت د ابى بن كعب رضي الله عنه داسي راغلى دى چي نبى كريم ﷺ فرمايي چي يو وار حضرت موسى عليه السلام خپل قوم بني اسرائيلو ته دخطبي وركولو دپاره وريدى نو خلقو داپوښتنه ورڅخه وكړه چي په تمامو انسانانو كي دټولو څخه زيات علم والا څوك دى؟ (دحضرت موسى عليه السلام په علم كي دځان څخه زيات علم والا څوك نه وو، په دى وجه) يې وفرمايل چي، زه دټولو څخه زيات علم والا يم، (الله جل جلاله خپل د دربار مقربينو ته خاص تربيت وركوي، په دى وجه دا خبره يې خوښه نه سوه، بلكي د ادب مقتضى دا وه چي دا خبره يې دالله جل جلاله علم حواله كړى واى، يعني داسي يې ويلي واى چي الله جل جلاله پوه دى چي په ټول مخلوق كي زيات عالم څوك دى) دحضرت موسى عليه السلام په دى جواب باندي الله جل جلاله زورنه وركړه، په حضرت موسى عليه السلام باندي وحى راغله چي زما يو بنده په مجمع البحرين كي دى هغه تر تا زيات عالم دى (حضرت موسى عليه السلام ته چي هركله دامعلومه سوه نو الله جل جلاله ته يې درخواست وكى چي هركله هغه زما څخه زيات عالم دى نو ماته دهغه څخه دفائدى اخيستو دپاره سفر كول په كار دى، په دى وجه عرض يې وكى چي ياالله! ما ته دهغه نښانه او پته وښيي، الله جل جلاله ورته وفرمايل چي يو ماهي دځان سره په زمبيل كي واخله او دمجمع البحرين طرف ته سفر كوه، كوم ځاى چي دا ماهي درڅخه ورك سو، بس دغه ځاى زما ددغه بنده ديوځاى كيدو دى، حضرت موسى عليه السلام دحكم مطابق يو ماهي په زمبيل كي كښېښووى او روان سو، ده سره دده خادم يوشع بن نون هم وو، دسفر په دوران كي يوې ډبرې ته ورسيدل، هلته يې دمه وكړه، په ډبره يې سره كښېښووى، دلته ناڅاپه دى ماهي حركت وكى او دزمبيل څخه ووتى او درياب ته ولاړى او (دماهي ژوندى كيدو او درياب ته د تللو سره يو بله معجزه دا وسوه چي) په كومه لاره چي دغه ماهي په درياب كي تلى الله جل جلاله په هغه لاره د اوبو بهيدل بند كړل او په دغه لاره د اوبو دننه يو سرنګ جوړ سو (يوشع بن نون دا عجيبه واقعه ليدله او حضرت موسى عليه السلام بيده وو) هركله چي بيداره سو نو ديوشع بن نون څخه دماهي داعجيبه واقعه هيره

Maktaba Tul Ishaat.com

سوه چی ده ته یی بیان کړي او ددی ځای څخه بیا روان سو او پوره ورځ او شپه نور سفر یی وکی ، هرکله چی بله ورځ سهار سو نو حضرت موسی ؑ خپل ملګري ته وویل چی زما ناشته راوړه ځکه چی په دی سفر سره ډیر ستړی سو ، نبی کریم ﷺ فرمایی چی (دقدرت په تقدیر سره) حضرت موسی ؑ ته ددی څخه مخکی ستړي والی هم محسوس نه سو ، تردی چی کوم ځای ته رسیدلی وو ، دهغه څخه مخ ته ولاړل نو ستړی سو) هرکله چی حضرت موسی ؑ ناشته وغوښته نو یوشع بن نون ته دماهی واقعه وریاده سوه او دخپلو هیریدو عذر یی وکی ، چی شیطان زما څخه هیر کړی وو چی هغه وخت می ته ددي واقعی څخه خبر نه کړي او بیا یی ورته وویل چی هغه مړ ماهی ژوندی سو او په دریاب کی په یوه عجیبه طریقه سره ولاړی ، حضرت موسی ؑ وویل چی هم دغه ځای زمونږ مقصد وو (یعنی منزل مقصود هم دغه ځای وو کوم ځای چی ماهی ژوندی سو او ورک سو)

نو دغه وخت بیرته را روان سو او خاص په هغه لاره بیرته ولاړی په کومه چی راغلی وو چی هغه ځای پیدا کړي اوس چی کله دغه ډبری ته را ورسیدل نو وي لیدل چی د ډبري په خوا کی یو سړی د سر څخه تر پښو پوری ځان په خادر کی پټ کړی بیده دی ، حضرت موسی ؑ ورته په دی حال کی سلام وکی نو حضرت خضر ؑ وویل چی په دی غیر آباد ځنګل کی سلام دکومه څخه راغی نو حضرت موسی ؑ وویل چی زه موسی یم نو حضرت خضر ؑ سوال وکړی چی دبنی اسرائیلو موسی ؟ نو ده ؑ جواب ورکی چی هو ! زه موسی ؑ دبنی اسرائیلو یم ، ددی دپاره راغلی یم چی ته ماته هغه خاص علم وښیی کوم چی الله ﷻ تاته درکړی دی .

حضرت خضر ؑ ورته وویل چی ته زما سره صبر نه سی کولی ای موسی ! زما سره یو علم دی کوم چی الله ﷻ ماته راکړی دی هغه ستاسره نسته او یو علم یی تاته درکړی دی چی زه نه باندی پوهیږم ، حضرت موسی ؑ وفرمایل چی انشآء الله ته به ما صبر کوونکی پیدا کړی او زه به په هیڅ کار کی ستا مخالفت نه کوم .

حضرت خضر ؑ وفرمایل چی که ته زما سره تلو ته تیار یی نو دیوي معاملی متعلق به هم زما څخه پوښتنه نه کوي ترڅو پوری چی زه په خپله تاته دهغه حقیقت ونه ښیم .

دایی وویل او دواړه حضرات د دریاب په غاړه غاړه روان سول ، ناڅاپه یوه کښتی راغله نو دکښتی والاوو سره دسپریدو خبره اتره وکړه ، دغه خلقو حضرت خضر ؑ وپیژندی او ټول یی بغیر دکرایی او اجرت څخه سپاره کړل چی په کښتی کی سپاره سول نو حضرت خضر ؑ په یو تبرګی سره دکښتی څخه یوه تخته وایستله ، دحضرت موسی ؑ صبر ونه سو ، وي وویل چی دی خلقو مونږ بغیر دکرایی څخه په کښتی کی سپاره کړو او تا دهغه بدله دا ورکړه چی دهغوی کښتی دی ماته کړه چی دا ټول غرق سی دا خو تا ډیره بده خبره وکړه .

حضرت خضر ؑ ورته وویل چی ما تاته اول ویلی وه چی ستا به زما سره صبر ونه کړل سی ، نو حضرت موسی ؑ په دی باندی عذر وکی چی زما څخه خپله وعده هیره سوی وه ، په دی هیره باندی ما مه نیسه نبی کریم ﷺ چی دا واقعه نقل کوي نو وي فرمایل چی حضرت موسی ؑ اولنی اعتراض په حضرت خضر ؑ په هیره سره وکړی او دوهم په طور دشرط او دریم قصداً (په دی وخت کی یوه چوغکه راغله او

Maktaba Tul Ishaat.com

دکښتۍ پرژۍ (ځنډه) کښېنسته او د درياب څه يې په مشوکه کې اوبه واخيستې، نو حضرت خضر ﷺ حضرت موسی ﷺ ته وويل چې زما علم او ستا علم چې دواړه يو سی هم نو دالله ﷻ دعلم په مقابله کې دومره حيثيت نه لري لکه څومره چې ددې چوغکې دمشوکې اوبه ددې سمندر په مقابله کې څه حيثيت نه لري.

بيا دکښتۍ څخه کښته سول او په غاړه روان سول، ناڅاپه حضرت خضر ﷺ يو هلک وليدی چې دنورو هلکانو سره يې بازی کولې، حضرت خضر ﷺ په خپل لاس د دغه هلک سر دهغه دبدن څخه جلا کې، هلک مړ سو، حضرت موسی ﷺ وويل چې چې تاخو يو معصوم روح بغير د څه جرم څخه قتل کې دا خو تا لوی په گناه وکړه، حضرت خضر ﷺ ورته وويل چې آيا ماتاته مخکې نه وه ويلي چې ته زما صبر نه سې کولی، حضرت موسی ﷺ وليدل چې دا معامله د اولی معاملې څخه زياته سخته ده په دې وجه يې وويل چې که ددې څخه وروسته ما ستا څخه د څه خبري پوښتنه وکړه نو ته بيا ما دخان څخه جلا کړه، ته زما د طرف څخه دعذر حد ته ورسيدی.

ددې څخه وروسته بيا روان سول تردې چې يو کلی ته راغلل دوی دکلي خلقو ته درخواست وکی چې مونږ د خان سره ميلمانه کړي، هغوی انکار وکی، په دې کلی کې دوی يو ديوال وليدی چې نړېدو ته نژدې وو، حضرت خضر ﷺ دغه ديوال په خپلو لاسونو سره سيده کی، حضرت موسی ﷺ په تعجب سره وويل چې مونږ ددې خلقو څخه ميلمستيا وغوښته هغوی انکار وکی او تا دومره لوی کار وکی، تا چې دا کار کوی نو ددی کار اجرت خو به دې ورڅخه اخيستی وای؟ نو حضرت خضر ﷺ وفرمايل چې، هَٰذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ (يعنی اوس شرط پوره سو په دې وجه زما او ستا د جدايی وخت راغلی دی)

ددې څخه وروسته حضرت خضر ﷺ ددرې واړو واقعاتو حقيقت موسی ﷺ ته ښکاره کی، وې ويل چې ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا: يعنی دا حقيقت دهغو واقعاتو دی په کومو چې ستا صبر ونه سو، نبی کريم ﷺ ددی پوره واقعې ذکر کولو څخه وروسته وفرمايل چې زړه غواړي چې حضرت موسی ﷺ لږ نور صبر کړی وای نو ددی دواړو به څه نور خبرونه هم معلوم سوی وای (انتهی)

دصحيح بخاری او مسلم دا اوږد حديث داسی راغلی دی چې په دې کی دحضرت موسی ﷺ دبنی اسرائيلو موسی کيدل او دځوان ملگري نوم يوشع بن نون کيدل او دکوم بنده طرف ته چې حضرت موسی ﷺ مجمع البحرين ته ليږل سوی وو، دهغه نوم خضر په صراحت سره ذکر دی، مخ ته دقرآن د ايتونو تفسير او تشريح سره دا آيتونو وگوری.

(دسفر ځينې ادب او دپيغمبرانه عزم يوه نمونه)

لَا أَبْرَحُ حَتَّىٰ أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا: داجمله حضرت موسی ﷺ دخپل سفر ملگری يوشع بن نون ته وويل چې ددی مطلب دخپل سفر رخ او منزل مقصود خپل ملگری ته ښودول وو، په دې کی هم حسن ادب دی چې دسفر دضروری خبرو څخه ملگري او خادم هم خبرول په کار دی، متکبره خلق خپل خادمان او نوکران نه قابل خطاب گڼي او نه دخپل سفر متعلق دوی ته څه ښيي.

Maktaba Tul Ishaat.com

حُقُبًا : دحُقْبَةٌ جمع ده ، اهل لغت وایي چي داتیا (۸۰) کالو موده ده ، ځینی ددی څخه زیات ته حقبه وایی ، صحیح دا ده چي اوږدي زماني ته وایي ، څه حد اوتعین یې نسته حضرت موسی ﷺ خپل ملګری ته دا خبره وښووله چي زه به مجمع البحرین ته ځان رسوم دکوم ځای دپاره چي الله ﷻ حکم کړی دی او عزم چي دا دی که هر څومره زمانه په سفر کی تیره سی ، ترڅو پوری چي دغه منزل مقصود ته ونه رسیږم سفر به جاري وي، د الله ﷻ حکم په تعمیل کی پیغمبرانه عزم هم داسی وي .

(د حضرت موسي ﷺ دحضرت خضر ﷺ څخه ښه والي دحضرت موسي ﷺ خاص تربیت او دده معجزي)

فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا : دقرآن اوسنتو دتصریحاتو څخه واضحه ده چي حضرت موسی ﷺ ته د انبیاء علیهم السلام په جماعت کی هم یوخاص امتیازحاصل دی الله ﷻ دخبرو خاص شرف د دوی مخصوص فضیلت دی او دحضرت خضر ﷺ خو په نبوت کی هم اختلاف دی اوکه نبوت یې هم ومنل سی نو درسالت مقام خو ورته حاصل نه دی ، نه دده څه کتاب سته ، نه څه خاص امت په دی وجه په هرحال حضرت موسی ﷺ دحضرت خضر ﷺ څخه په ډیرو درجو ښه دی ، لیکن الله ﷻ دخپلو مقربینو دمعمولی شان کمی اوکوتاهی اصلاح کوي ، د دوی دتربیت دپاره په ادنی کوتاهی هم سخت عتاب کیږي، ددی تدارک هم د دوی څخه په دی پیمانه باندی کول کیږي ، داټوله قصه په دی خاص انداز سره دتربیت مظهر دی دده دژبی څخه داکلمه وتلی وه ، چی زه دټولو څخه زیات علم والایم، دحق تعالی دا خبره خوښه نه سوه نو دده دخبرداولو دپاره یې دخپل یو داسی بنده ده ته پته ورکړه دکوم سره چي دالله ﷻ یوخاص علم ووکوم چی دحضرت موسی ﷺ سره نه وو که څه هم دحضرت موسی ﷺ علم دده دعلم څخه په درجه کی ډیر لوی وو ، مګر په هرحال هغه حضرت موسی ﷺ ته حاصل نه وو ، دی خوا حضرت موسی ﷺ ته الله ﷻ ته دعلم دطلب یوه داسی جذبه ورکړی وه ، چی هرکله ورته دا معلومه سوه چي یوځای بل هم داسی علم سته کوم چي ماته حاصل نه دی ، نو ددی دحاصلولو دپاره دطالب علمی سفر کولو ته تیار سو ، او دالله ﷻ څخه یې ددغه بنده (حضرت خضر ﷺ) دپتې پوښتنه وکړه اوس دلته داخبره دفکرقابله ده که الله ﷻ غوښتلی نو دحضرت خضر ﷺ سره به یي دحضرت موسی ﷺ ملاقات دلته په اسانی سره کړی وای یا دا چي په حضرت موسی ﷺ باندی یې دطالب علمی سفر کوی نوځای به یی ورته صفا ښوولی وای چي هلته په رسیدو به ده ته پریشانی نه پیښیده، مګر وسوه داسی چي پته یی داسی مبهمه وښووله چي دغه ځای ته په رسیدو به مړ ماهی ژوندی سی او ورک به سی ، نو هلته به زمادغه بنده وي .

دصحیح بخاري دحدیث څخه ددی ماهی متعلق دومره معلومه سوه چي دالله ﷻ دطرف څخه داحکم سوی ووچی یوماهی په خپل زمبیل کی کښیږده ، ددی څخه ماسوا نورڅه معلوم نه دی چی ددی ماهی د خوراک دپاره دخان سره د ایښوولوحکم سوی وو ، یادخوراک څخه علاوه دواړه احتمال سته په دی وجه په تفسیرلیکونکوکی ځینی وایي چي داوریت سوي ماهی دخوراک دپاره ایښوول سوي وو او ددی سفر دواړو ملګرو دسفرپه دوران کی ددی څخه خوراک کوي هم ددی څخه نیمه حصه خوړل سوی وه وددی څخه وروسته په طور دمعجزي کباب سوی او نیم خوړل سوی ماهی دوباره ژوندی سو او دریاب ته ولاړی .

Maktaba Tul Ishaat.com

ابن عطیه رحمه الله او ځینی نورو خلقو دا هم بیان کړی دی چی دا ماهی په طور د معجزی بیا په دنیا کی باقی هم پاته سو او ډیرو خلقو لیدلی هم دی، چی ددی ماهی صرف یو اړخ دی، بل اړخ یی خوړل سوي دی، ابن عطیه رحمه الله دا هم بیان کړی دی چی ما په خپله لیدلی دی (قرطبی)

او ځینی مفسرین وایی چی دخوراک څخه علاوه په یو جلا زمبیل کی دماهی د ایښوولو حکم سوی وو او ددی مطابق یی ایښی وو، په دی کی هم دومره خبره خو متعینه ده چی ماهی مړ وو، ژوندی کیدل او په دیاب کی تلل یی یوه معجزه وه.

په هرحال دحضرت خضر علیه السلام پته یی دومره مبهمه ورکړه چی په اسانۍ سره ځای متعین نه وو، ښکاره دا ده چی دا هم دحضرت موسی علیه السلام ازمائښ او امتحان وو، په دی سربیره یی زیات دامتحان صورت دا پیدا کی چی هرکله عین موقعی ته دا خلق ورسیدل نو ماهی هیر سو، دقرآن په آیت کی یی هم ددی هیری نسبت حضرت موسی علیه السلام او ده ملګری دواړو ته کړی دی، نَسِيَا حُوتَهُمَا، لیکن دبخاری دحیدث څخه چی کومه قصه ثابته سوه، ددی څخه معلومیږي چی څه وخت دماهی دژوندي کیدو او دریاب ته دتلو وخت راغی نو حضرت موسی علیه السلام بیده وو صرف یوشع بن نون دا عجیبه واقعه ولیده او اراده یی کړی وه چی حضرت موسی علیه السلام بیداره سی نو ده ته به ووایم، لیکن دبیدارید و څخه وروسته الله ﷻ په ده باندی هیر مسلطه کړل او هیر یی سول، نو دلته د دواړو طرف ته دهیریدو نسبت داسی سو لکه چی په قرآن کی په يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ: دخوږ او تریو دریاب دواړو څخه دملغلرو او مرجانو وتل راغلی دی، حال دا دی چی ملغلری او مرجان صرف دتریخ دریاب څخه وزي، مګر په محاورو کی غالباً داسی لیکل یوه عامه خبره ده او دا هم کیدی سی چی دَدلته څخه دمخ ته سفر کولو په وخت کی خو ماهی دځان سره وړل د داوړو بزرګانو څخه هیر سوی وي، په دی وجه یی د داوړو طرف ته دهیریدو نسبت وکی.

په هرحال دا یو دوهم ازمائښ وو چی منزل مقصود ته په رسیدو دماهی په ژودی کیدو او په اوبو کی په ورکیدو سره حقیقت ښکاره کیږي او مقام متعین کیږي مګر لا وس هم ددی حق طلب کوونکی څخه څه نور امتحان اخیستل وو، په دی وجه په دواړو باندی هیره مسلطه سول، او پوره دیوی ورځی او یوی شپی دسفر کولو څخه وروسته ورته دلوږی اوستړی کیدو احساس وسو، دا دریم امتحان وو څکه چی عادتاً د لوږی اوستړی کیدو احساس ورته ددی څخه مخکی کیدل په کار وو، که هلته یی ماهی یادسوی وای نو د دومره اوږد سفر کولو زیات تکلیف به ورته نه وای پیښ سوی، مګر الله ﷻ ته دا منظوره وه چی څه نور تکلیف تیر کړي، د دومره اوږد سفر کولو څخه وروسته ورته دلوږی تندی احساس وسو او هلته یی ماهی یاد سو او دا ورته معلومه سوه چی مونږ دمقصود څخه ډیر مخ ته راغلی یو، په دی وجه بیا دپښو په چاپونو باندی بیرته شاته راغلل.

دماهی په دریاب کی دتلو ذکر اول وار خو دسَرَبًا په لفظ سره راغلی دی، دسَرَبَ معنی دسُرنګ ده کوم چی په غرونو کی دلاري جوړولو دپاره کیندی یا په ښارونو کی تر مخکی لاندی دلارو جوړولو دپاره کیندل کیږي، ددی څخه معلومه سوه چی دا ماهی کله دریاب ته ولاړی نو کوم طرف ته چی به ټلی په

Maktaba Tul Ishaat.com

اوبو کې به یو سُرنګ جوړیدی، دی په په کښې روان وو چې دده د تلو لار د اوبو څخه خالي وي لکه چې دصحیح بخاري دروایت څخه واضحه سوه، دوهم وار چې کله یوشع بن نون حضرت موسی ﷺ ته ددې واقعې ذکر د اوږد سفر څخه وروسته وکی نوهلته یې په، وَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عَجَبًا : الفاظ سره دا واقعه بیان کړه، په دې دواړو کې څه تضاد نسته ځکه چې د اوبو دننه سرنګ جوړول او تلل په خپله یوه عجیبه واقعه خرق عادت وه.

(دحضرت خضر ﷺ سره ملاقات او دده دنبوت مسئله)

په قرآنکریم کې که څه هم ددې واقعې دصاحب نوم ذکرنه دی بلکه عَبْدًا مِنْ عِبَادِنَا: یې ویلی دی، مګر د صحیح بخاري په حدیث کې دده نوم خضر ښوول سوی دی، دخضر لفظي معنی ده سرسبزه، دده دخضر د نوم وجه عامو مفسرینو دا ښوولی ده چې دی به کوم ځای کښینستی نو که هرڅنګه مځکه چې به وه، هلته به وابنه وسوه او مځکه به شنه سوه، قرآنکریم دا نه ده واضحه کړې چې حضرت خضر ﷺ پیغمبر وو او که دالله ﷻ ولي وو لیکن دجمهورو عالمانو په نزد دده نبي والی په خپله په قرآن کریم کې دذکر سوو واقعاتو څخه ثابت دی، ځکه چې حضرت خضر ﷺ څخه خومره واقعات چې په دې سفر کې ثابت دي په دې کې ځینې په قطعي طور سره دشریعت څخه خلاف دي او دشریعت دحکم څخه استثناء بغیر دوحي الهي څخه نه سي کیدی کومه چې په نبي او پیغمبر پورې مخصوصه ده، ولی ته هم په کشف یا الهام سره څه شیان معلومیدی سی، مګر دغه څه حجت نه وي، په دې بنا دشریعت څه ښکاره حکم نه سي بدل کیدی، په دې وجه دا متعینه کیږي چې حضرت خضر ﷺ دالله ﷻ نبي او پیغمبر وو، ده ته په ذریعه دوحي الهي ځینې خاص احکام هغه ورکړل سوي وو کوم چې دښکاره شریعت خلاف وه، دوی چې څه وکړل تردې استثنایي حکم لاندې یې وکړل، په خپله ددې اظهارهم دقرآن په دې جمله کې وسو، وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي: (یعنی ما چې څه وکړل دخپل طرف څخه مې ونه کړل، بلکه دالله ﷻ په امر سره مې کړي دي)

لنډه دا چې دجمهور امت په نزد حضرت خضر ﷺ هم نبي او پیغمبر دی، مګر ده ته څه تکویني خدمتونه د الله ﷻ دطرف څخه سپارل سوي وه، دهغه علم ورکول سوی وو او حضرت موسی ﷺ ته ددې اطلاع نه وه، په دې وجه یې په ده اعتراض وکی، په تفسیر قرطبي، بحر محیط او اکثرو تفسیرونو کې دا مضمون په مختلفو عنواناتو سره ذکر دی.

(یو ولي ته دشریعت دښکاره حکم څخه خلاف ورزی حلاله نه ده)

ددې څخه دا خبره هم معلومه سوه چې ډیر جاهلان غلط کاري، تصوف بدنام کوونکي صوفیان کوم چې وایي چې شریعت جلا شی دی او طریقت جلا شی دی، ډیر شیان په شریعت کې حرام وي، مګر په طریقت کې جائز دي، په دې وجه که یو ولي په ښکاره په ګناه کبیره کې اخته ولیدل سو، خو اعتراض نه سي باندې کیدی، دا ښکاره زندیقت او باطل دی، په حضرت خضر ﷺ باندې ددنیا یو ولي نه سي قیاس کیدی او نه دشریعت دښکاره څخه خلاف دده څه کار ته جائز ویل کیدی سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

(په شاګرد د استاد تابعداري لازمه دی)

هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَى أَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا : په دی کی حضرت موسی ﷺ سره ددی چی نبی او رسول او اولو العزم پیغمبر دی ، حضرت خضر ﷺ ته یی په تعظیم اوتکرم سره درخواست وکی چی زه ستاځخه ستا دعلم زده کولو دپاره ستا سره تلل غواړم ، ددی څخه معلومه سوه چی دعلم حاصلولو ادب دا دی چی ساګرد دخپل استاد تعظیم تکریم او اتباع کوي ، که څه هم شاګرد دخپل استاد څخه افضل او اعلی هم وي (قرطبی او مظهری)

(دشریعت عالم ته جائز نه دی چی دشریعت څخه په خلاف کار صبر کوي)

إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا (٦٧) وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَى مَا لَمْ تُحِطْ بِهِ خُبْرًا : حضرت خضر ﷺ حضرت موسی ﷺ ته وویل چی ته زماسره صبر نه سی کولی اوڅنګه به ستا صبر وکړل سی چی هرکله ته په حقیقت باندی خبرنه یی مطلب یی دا وو چی ماته کوم علم را کول سوی دی ، ددی نوعیت ستا دعلم څخه مختلف دی ، په دی وجه به تاته زما کارونه د اعتراض قابل ښکاري هرکله چی زه دهغوی دحقیقت څخه تاخبرنه کړم ، ته به دخپلو منصبی فرضو په بنا پردی اعتراض کوي .

حضرت موسی ﷺ ته چونکی په خپله دالله ﷻ دطرف څخه دده خواته دتلو او دده دعلم حاصلولو حکم سوی وو ، په دی وجه مطمئن وو چی دده هیڅ کار به په حقیقت کی دشریعت څخه خلاف نه وي که څه هم په ښکاره په خیال کی نه راځی په دی وجه دصبر کولو وعده یی وکړه که نه وي نو داسی وعده کول هم دیو عالم دین دپاره جائز نه دی ، لیکن بیا دشریعت په باره کی ددینی غیرت دجذبی څخه مغلوبه سو او دا وعده یی هیره کړه .

اوله واقعه خو زیاته سنګینه هم نه وه ، صرف دکښتی والاوو مالی نقصان دغرقیدو صرف بیره وه کومه چی وروسته رفع سوه ، لیکن په وروسته واقعاتو کی حضرت موسی ﷺ داوعده هم ونه کړه چی زه به اعتراض نه کوم اوهرکله چی دهلک دقتل واقعه یی ولیده نو په سختی سره یی اعتراض وکی او په خپل اعتراض یی څه عذرهم پیش نه کی صرف دومره یی وویل چی که آئنده می اعتراض وکی نوتاته به حق وي چی ما دځان څخه لیری کړي ، ځکه چی دیو نبی اوپیغمبرڅخه دا برداشت نه سی کیدی چی دشریعت څخه خلاف کار وويني اوصبر باندی وکړي ، البته چونکی بل طرف ته هم پیغبر وو په دی وجه آخر دحقیقت اظهار داسی وسو چی دا جزئی واقعات دحضرت خضر ﷺ دپاره دعامو قاعدو دشریعت څخه مستثنا کړل سوه ، دوی چی څه وکړل دوحی الهی مطابق یی وکړل (مظهری)

(په علم موسوی اوعلم خضري کي یو بنادی فرق اوپه دواړوکي دښکاره تضاد حل)

دلته په طبعی طورسره یوسوال پیدا کیږي چی دحضرت خضر ﷺ دوضاحت مطابق ده ته چی کوم علم ورکول سوی وو ، ددی نوعیت دحضرت موسی ﷺ دعلم څخه مختلف وو ، مګرهرکله چی دا دواړه علمونه دالله ﷻ دطرف څخه ورکول سوی وه ، نوددی دواړوپه احکامو کی تضاد اواختلاف ولی وسو ، ددی تحقیق په تفسیرمظهری کی حضرت قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله کوم چی لیکلی دی هغه اقرب الی الصواب اوزړه ته لګیدونکی دی دده دتقریر مطلب کوم چی زه باندی یو ، یم دهغه خلاصه دا ده چی

Maktaba Tul Ishaat.com

الله ﷺ کومو حضراتو ته چي خپله وحي او نبوت ورکوي، هغوی په عام طور سره هغه حضرات وي کوموته چي د خلقو د اصلاح خدمت سپارل سوی وي پر دوي کتاب او شریعت نازلیږي په کومو کي چي د خدای د مخلوق د هدایت او اصلاح اصول، او قاعدي وي، د خومره پیغمبرانو ذکرچي په قرآن کریم کي په وضاحت د نبوت او رسالت سره راغلی دی هغوی ټول داسي وه کوموته چي تشریعي او اصلاحي خدمتونه سپارل سوي وه ، په دوی چي کومه وحي راتله هغه به هم ټوله ددی متعلق وه، مګر بل طرف ته څه تکویني خدمتونه هم دي دکومو دپاره چي په عام طور سره ملائکي مقرر دي ، مګر د انبیاء علیهم السلام په ټولو کي هم الله ﷻ بعضوته ددی تکویني خدمتونو دپاره مخصوص کړي دي حضرت خضر ﷺ په دی زمره کي دی ، تکویني خدمتونه دجزئي واقعاتو سره متعلق دي چي فلاني دبیدونکی سری دی وساتل سی یا فلاني دی هلاک سی، فلاني ته دی ترقي ورکول سی، فلاني دی لاندی سی ددی معاملونه دعامو خلقو سره تعلق وي او نه ددی احکام دعوامو سره تعلق لري په داسي جزئي واقعاتو کي ځیني هغه صورتونه هم پیښیږي چي دیو سړي هلاکول دشریعت دقانون څخه خلاف وي، مګر په تکویني قانون کي داخاص واقعه دعام شریعتي قانون څخه مستثنا کړي او ددی سړي دپاره یي جائزه کړي وي کوم چي یي په دی تکویني خدمت باندی مامور کړی وي په داسي حالاتو کي دشرعي قوانینو عالمان ددی استثنایي حکم څخه خبر نه وي اوهغوی دی ته په حرامو ویلو باندی مجبوره وي او کوم سړی چي یي په تکویني طورسره ددی قانون څخه مستثنا کړی وي ، هغه په خپل ځای په حقه باندی وي .

لنډه دا ده چي کوم ځای دا تضاد په نظر راځي ، هغه په حقیقت کي تضاد نه وي ځیني جزئي واقعات دعام قانون دشریعت څخه مستثنا وي، ابوحیان په بحر محیط کي فرمایي ، اَلْجُمْهُوْرُ عَلٰی اَنَّ الْخِضْرَ نَبِیٌّ وَّکَانَ عِلْمُهٗ مَعْرِفَةُ بَوَاطِنَ قَدْ اُوْحِیَتْ اِلَیْهِ وَعَلِمَ مُوْسٰی الْاَحْکَامَ وَالْفُتْیَا بِالظَّاهِرِ (بحر محیط ص ۱۴۷ ج ۲) په دی وجه دا هم ضروري ده چي دا استثناء په ذریعه دوحي دنبوت وي ، دیو ولي کشف او الهام دداسي استثناء کولو دپاره هیڅکله کافي نه دی، په دی وجه دحضرت خضر ﷺ هلک په ښکاره ناحقه قتل کولو په ښکاره شریعت کي حرام وو، لیکن حضرت خضر ﷺ په تکویني طور سره ددی قانون څخه مستثنا کړي ا و مامور کړل سوی وو، په دی باندی غیر نبي کشف او الهام قیاس کول ، یو حرام حلال ګڼل ، لکه چي په ځینو جاهلانو صوفیانو کي مشهوره ده ، بالکل بي دیني او د اسلام څخه بغاوت دی .

ابن ابي شیبه ﷺ دحضرت ابن عباس ﷺ دا واقعه نقل کړي ده چي نجده حروري (خارجي) ابن عباس ﷺ ته خط ولیکی چي حضرت خضر ﷺ نابالغ هلک څنګه قتل کی ، هرکله چي نبي کریم ﷺ دنابالغ قتل منع کړی دی ، حضرت ابن عباس ﷺ په جواب کي ولیکل چي هرکله د یو کوچني متعلق تاته هغه علم حاصل سي کوم چي دحضرت موسی ﷺ استاد ته حاصل سوی وو (یعني حضرت خضر ﷺ ته) نوستا دپاره به هم دنابالغ قتل جائز سي ، مطلب یي دا وو چي حضرت خضر ﷺ ته خو دنبوت دوحي په ذریعه ددی علم سوی وو، دغه اوس چاته نه سي کیدی ځکه چي نبوت ختم سوی دی ، دحضور ﷺ څخه وروسته هیڅوک نبي نه سي کیدی کوم ته چي په ذریعه دوحي دداقسم واقعاتو متعلق دخدای پاک په حکم سره دمستثنا کولو علم وسي (مظهري)

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی واقعي ښخه هم دا حقيقت واضح سو چي يو سړی ديوحکم شرعي ښخه دمستثنا کولو دنبي صاحب وحي ښخه ماسوا بل چاته حق نسته.

فَانْطَلَقَا ۫ حَتّٰۤى اِذَا رَكِبَا فِى السَّفِيْنَةِ خَرَقَهَا ؕ قَالَ

بیا دواړه روان سول، تردي چي وختل کښتی ته هغه يي څيری کړه موسی وويل

اَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ اَهْلَهَا ۚ لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا اِمْرًا ﴿۷۱﴾ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ

ایا تا دا څیر کړه چي دوب سي ددې خلق؟ خامخا تا وکی يوشی درونډ ، وې ويل ما نه ويلي؟

اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِىَ صَبْرًا ﴿۷۲﴾ قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِىْ بِمَا نَسِيْتُ وَ

چي ته زما سره صبر نه سی کولی وې ويل چي ته ما مه نيسه زما په هيره

لَا تُرْهِقْنِىْ مِنْ اَمْرِىْ عُسْرًا ﴿۷۳﴾ فَانْطَلَقَا ۫ حَتّٰۤى اِذَا لَقِيَا غُلٰمًا فَقَتَلَهٗ ۙ

اومه غورخوه په ما زما په کارکی ګرانوالی، بیا دواړه روان سول، تردي چي ورسيدل يو هلك ته نو هغه يي مړکی

قَالَ اَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً ۢ بِغَيْرِ نَفْسٍ ؕ لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُّكْرًا ﴿۷۴﴾

موسی عليه السلام وويل ایا تا مړکی يونفس پاك بغير دبدلي دنفس ښخه؟ بيشکه تا يوشی نامعقوله وکی

تفسير: (غرض دا چي د دواړو په مينځ کي قول او اقرار وسو) بیا دواړه (يو طرف ته) روان سول (غالبًا د دوی سره يوشع عليه السلام به هم وو مګر دی دحضرت موسی عليه السلام تابع وو، په دی وجه يي ذکر د دوو وکی) تردي چي (په تلو تلوکي يو داسې مقام ته ورسيدل کوم ځای چي په کښتی کي سپريدو ته ضرورت وو) کله چي دواړه په کښتی کي سپاره سول نو دی بزرګ ددی کښتی (يوه تخته ويسته او دا) يي څيري کړه، موسی (عليه السلام) وفرمايل آيا تا داکښتی ځکه څيری کړه چي په دی کي ناست خلق غرق کړی تا ډيره لويه (دخطري) خبره وکړه دی بزرګ وويل ايا ما نه وو ويلي چي ته زما سره صبر نه سی کولی (آخرهم هغه وسوه، ته په خپل قول باندي ټينګ پاته نه سوی) موسی عليه السلام وفرمايل چي (زما هير سوی وه) ته زما په هيريدو باندی ما مه نيسه او زما په دی معامله (دمتابعت) کي په ما زياته تنګی مه اچوه (چي زما هيره هم نه معاف کوي، خبره وه راغله ولاړه) بیا دواړه (دکښتی ښخه کښته سول مخ ته) روان سول تردي چي کله ديو (کوچني) هلك سره يوځای سول نو دی بزرګ هغه مړ کی، موسی (عليه السلام وبيريدی) وي ويل، تا يو بي ګناه روح هلاك کی (اوهغه هم) بغير دبدلي ديو روح ښخه، بيشکه تا لوی بی ځايه حرکت وکی (چي اول خو دا دنابالغ قتل دی دکوم چي په قصاص کي هم قتل کول جائز نه دی، بياده خوځوک قتل کړی هم

Maktaba Tul Ishaat.com

نه دي ، داكار دمخكې كار څخه هم ډير سخت دی ځکه چې په هغه کې يقيني نقصان خو صرف د مال وو ، دناسترو خلقو دغرقيدو خطره که څه هم په کښې وه ، مگر ددې انسداد وسو ، بيا نابالغ هلک خو د هرې گناه څخه بری (پاک) وو.

معلومات (ومسئلې): فَخَرَقَهَا قَالَ أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا . د صحيحينو په حديث کې دی چې حضرت خضر علیه السلام د تبرگې په ذريعه دكښتې يوه تخته ايستلې وه چې په دې وجه په کښتۍ کې داوبو راتلو او دغرقيدو ويره پيدا شوه په دې وجه حضرت موسى علیه السلام په ده اعتراض وکړ . مگر په تاريخي روايتونو کې دي چې اوبه دې كښتۍ ته دننه ورننوتلې برابره خبره ده كه په دې وجه چې حضرت خضر علیه السلام بيا ددې كښتۍ څه جوړول وکړی لکه بغوي رحمه الله په يو روايت کې نقل کړي دي چې ددې تختې په ځای حضرت خضر علیه السلام يوه چيته لگولې وه يا په طور دمعجزې اوبه کښتۍ ته رانغلې ، دومره خبره خو دقرآن كريم دسياق څخه معلوميږي ، چې دې کښتۍ ته دغرقيدو هيڅ حادثه وړپېښه نه شوه ، چې په دې سره ددې روايتونو تائيد کيږي

حَتَّى إِذَا لَقِيَا غُلَامًا : لفظ دغلام دعربې ژبې په اعتبار سره نابالغ هلک ته ويل كيږي ، داهلک کوم چې حضرت خضر علیه السلام قتل کړ ، دده متعلق حضرت ابن عباس رضی الله عنه او اکثرو تفسير ليكونكو دا ويلي دي چې نابالغ وو او مخ نه چې دده متعلق کوم راغلي دي ، نَفْسًا زَكِيَّةً ددې څخه هم دده دنابالغوالي تائيد كيږي ، ځکه چې دزکيه معنی دگناهونو څخه دپاکې ده او دا صفت يا دپيغمبر كيدی سی يا دنابالغ کوچنی چې دی په خپلو عملونو نه سی نيول كيدی په عملنامه کې يې هيڅ گناه نه ليکل کيږي

بنخلسمه پاره ختمه سوه

وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَلَمِينَ

تفسير معارف القران د نصير احمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com